امین الفتاوی

از افادات

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

جمع و ترتیب

ابو خالد لائق احمد غزنوی

۲



مکتبہ محمدیہ

امین الفتاوی

افادات

فضیلة الشیخ علامه ابو محمد امین الله پیشاوری حفظه الله

جمع وترتیب

ابوخالد لایق احمد غزنوی

دویم جلد

ناشر

کانال تلگرام مکتبة منهاج السنة

(@Mbmenhajsa96)



کتاب العقیدة

د ((اختلاف امتی رحمة)) روایت تحقیق او تخریج

سوال : اختلاف امتی رحمه : ددی روایت متعلق معلومات راکړئ چی دا صحیح دی که ضعیف یا موضوع ؟

جواب : ددی روایت متعلق محدثینو لیکلی چی دا هیڅ اصل نه لری، صحیح او ضعیف کیدل خو لری خبره ده۔

شیخ البانی رحمه الله په (سلسلة الأحادیث الضعیفة : ۱٤۱/۱) کښی لیکی :

لا أصل له، قد جهد المحدثون فی أن یقفوا له علی سندٍ، فلم یوفقوا... ونقل المناوی عن السبکی أنه قال : لیس بمعروفٍ عند المحدثین، ولم أقف له سند صحیح، ولا ضعیف، ولا موضوع، وأقره الشیخ زکریا الأنصاری فی تعلیقه علی تفسیر البیضاوی : ۹۲/۲، ثم إن معنی هذا الحدیث مستنکر عند المحققین من العلماءِ.

(ددی حدیث هیڅ اصل نشته، محدثینو ډیر کوشش کړی چی ددی روایت څه سند پیدا کړی، خو هغوئ په دی کښی پاتی راغلی، مناوی د سبکی نه نقل کړی چی هغه ویلی : دا روایت د محدثینو په نیزد غیر معروف دی، او ماته ددی هیڅ قِسم صحیح، ضعیف او موضوعی سند معلوم نه دی)۔

شیخ زکریا الأنصاری رحمه الله هم د بیضاوی په تعلیق کښی دا خبره غوره کړی۔ددی روایت د عدم ثبوت سره سره د محققینو علماؤ په نیز ددی معنیٰ هم صحیح نه

ده۔(سلسلة الضعيفة : ١٤١/١، رقم الحديث : ٥٧).

د شیخ ابن باز رحمه الله نه په فتاوی اسلامیه کښې سوال شوی :

س : ما مدیٰ صحة حديث : اختلاف أمتی رحمة ؟ ج : ليس بصحيح هذا أنكره بعض السلف وليس بحديث.

د مزید تفصیل لپاره وګوره :

(الأسرار المرفوعة، ص : ٥٠٦، تنزيه الشريعة : ٤٠٢/٢، السلسلة الضعيفة : ١٤١/١، رقم : ٥٧، فتاوی الشبكة الإسلامية للدكتور عبد الله الفقيه، فتاوی الأزهر : ٢٠٩/٨، فتاوی اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والإفتاءِ، بترتيب احمد بن عبد الرزاق الدويش، المقاصد الحسنة، ص : ٢٦، للسخاوی، كشف الخفاء : ٦٤/١، للعجلونی).

یو بل حدیث بیهقی په خپله رساله، او السنن الکبری (١٤٧/١) کښې په دی الفاظو د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړی چی رسول الله ﷺ وفرمایل :(اختلاف أصحابی لكم رحمة).

شیخ البانی رحمه الله لیکی : أخرجه الخطيب فی الكفاية فی علم الرواية، ص : ٤٨، ومن قبله أبو العباس الأصم فی الثانی من حديثه رقم : ١٤٢، من نسختی، وعنه البيهقی فی المدخل رقم ١٥٢، ١٦٢/١، والديلمی : ٧٥/٤، رقم : ٦٤٩٧، وابن عساكر : ٣٥٩/٢٢، من طريق سليمان ابن أبی كريمة عن جويبر عن الضحاك عن ابن عباس مرفوعًا.

لیکن دا حدیث هم ثابت نه دی، ددی حدیث په باره کښی شیخ البانی رحمه الله لیکی :

موضوع : سلسلة الأحاديث الضعيفة رقم : ٥٨، ٥٩، ٦١، صفة الصلاة للألبانی، ص : ٤٩، تذكرة الموضوعات للفتنی، ص : ٤٠، المقاصد الحسنة للسخاوی : ٦٩/١، كشف الخطاء ومزيل الإلباس عما اشتهر من الأحاديث على ألسنة الناس، تخريج لأحاديث إحياءِ علوم الدين : ٢٥/١، للغزالی).

دا خو د سند خبره شوه، دا روایت د نورو صحیحو احادیثو هم خلاف دی، لکه حدیث کښې راغلی: ((الجماعۃ رحمۃ والفرقۃ عذاب)) اخرجه احمد٢٧٨/٤ والبیهقی،و المنذری فی الترهیب و الترغیب،و ابن ابی الدنیا.

وګوره دلته خو اختلاف ته د الله رسول ﷺ عذاب ویلی۔

دا روايت د معنى په لحاظ هم نه صحيح كيږي لكه علامه ابن حزم رحمه الله په (الإحكام فى أصول الأحكام : ٦٤/٥).كښې هم په دى روايت ردّ كوى، بلكه هغه فرمائى : كه اختلاف رحمت شى نو بيا خو ددى معنىٰ دا شوه چى اتفاق كول عذاب شو۔

په فتاوى اسلاميه كښى دا هم راغلى چى ددى حديث معنىٰ هم ثابته نه ده، ځكه په قرآن كښى الله تعالىٰ فرمائى : ﴿ ولا يزالون مختلفين إلا من رحم ربك، ولذلك خلقهم ﴾ الآية، فجعل الله تعالىٰ الاختلاف من صفة غير المرحومين.

(دا خلك به هميشه په اختلاف كښى وى مګر په چاچى الله تعالىٰ رحم كړى وى نو هغه به ددى اختلاف نه بچ وى، په دى آيت كښى اختلاف كول د هغه چا صفت ښودلى شوى چى هغوئ د الله د رحمت نه محروم دى)

علماءِ امتي كأنبياءِ بني اسرايل

سوال : د ډيرو مقررينو نه مو آوريدلى چى حديث كښى راځى : ((علماءُ أمتى كأنبياءِ بنى إسرايل)) آيا دا حديث صحيح دى ؟

جواب : دا حديث هيڅ ثبوت نه لرى، دا چا د ځانه جوړ كړى، امام البانى رحمه الله ددى روايت متعلق ليكى : لا أصل له باتفاق العلماء، وهو مما يستدل به القاديانية الضالة على بقاءِ النبوة بعده ﷺ، ولو صح لكان حجة عليهم، كما يظهر بقليل من المتأمل.

(په اتفاق د علماؤ ددى حديث هيڅ اصل اوثبوت نشته، دا هغه روايت دى چى قاديانيان ئى د قاديانى ملعون د نبوت په ثبوت كښى پيش كوى، كه بالفرض دا ثابت هم شى نو بيا خو په خپله په دى كښى په دوئ رد دى)۔(سلسلة الضعيفة : ٦٧٩/١).

په فيض القدير (٥٤٠/٤) كښى علامه مناوى رحمه الله ليكى :

فائدة : سئل الحافظ العراقى عما اشتهر على الألسنة من حيث : علماء أمتى كأنبياءِ بنى إسرايل، فقال : لا أصل له بهذا اللفظ.

(حافظ عراقى رحمه الله نه ددى حديث په باره كښى چى د خلقو په ژبو مشهور دى علماء امتى الخ تپوس وشو، هغه وفرمايل : دا الفاظ هيڅ اصل او سند نه لرى)۔

ملا على قارى په مرقات شرح مشكات باب مناقب على رضى الله عنه كښى ليكى :

وأما حديث علماء امتی كأنبياءِ بنی إسرايل فقد صرح الحفاظ كالزركشی والعسقلانی والدميری والسيوطی أنه لا أصل له.

(او هر چی حدیث دَ علماء امتی کأنبیاءِ بنی اسرایل دی، نو دَ زرکشی رحمه الله، عسقلانی رحمه الله، دمیری رحمه الله او سیوطی رحمه الله غوندی حفاظو په دی خبره تصریح کړی چی ددی هیڅ بنیاد نشته)۔ ٢٦٧٩، کښی علامه سیوطی، علامه ابن الجوزی، علامه ذهبی رحمه الله دی ټولو ورته غیر ثابت ویلی۔

﴿ أقرب الناس من درجة النبوة أهل العلم والجهاد ﴾ (إحياء العلوم : ١/١٠).

دا ضعیف روایت حافظ عراقی ویلی : أخرجه ابو نعيم فی فضل العالم العفيف من حديث ابن عباس بإسنا دضعيفٍ.

علامه سخاوی رحمه الله په المقاصد الحسنه کښی لیکی : ولأبی نعيم فی فضل العالم العفيف بسندٍ ضعيفٍ عن ابن عباس رفعه : أقرب الناس من درجة النبوة أهل العلم والجهاد.

دارنګه وګوره : تذكرة الموضوعات للفتنی، الفوائد المجموعة للشوكانی رقم : ٤٧ .

په الفقيه والمتفقه : (٣٥/١) .**۔کښی ئی دا دَ اسحاق بن عبد الله بن ابی فروه قول ګڼلی۔**

دا روایت په المحیط البرهانی، حاشیه الطحاوی علی مراقی الفلاح او نورو بعضو فقهی کتابونو کښی راغلی، لیکن دا غریبانان خو دَ صحیح او غیر صحیح فرق نه کوی، هر وچ او لامدهٔ سره راجمع کوی، نو د دوی نقلونوته هیڅ اعتبار نشته، لأن الإسناد من الدين. **پدی معنی بل روایت داسی راغلی:**

﴿ العلماء أمناء الرسل ﴾ ضعيف : (السلسلة الضعيفة والموضوعة : ١٨٨/٦، رقم : ١٧٢١

علامه شوکانی رحمه الله په الفوائد المجموعة رقم : ٦٠، بتحقيق المعلمی **کښی لیکی :**

قيل : هو موضوع، وفی إسناده مجهول، ومتروك، وورد فی هذا المعنى أشياء لا تصح.

(دا موضوع دی، ځکه په ددی سند کښی مجهول او متروك راویان دی، او په دی مضمون باندی یو څو روایتونه نور هم راغلی چی هغه ټول صحیح نه دی)۔

البته د علماؤ په فضیلت کښی ډیر صحیح احادیث راغلی چی یو دَ هغی نه دا دی :

العلماء ورثة الأنبياءِ.

(أخرجه أبوداود رقم : ٣٦٤١، والترمذی رقم : ٢٦٨٢، وابن ماجه رقم : ٢٢٣، وابن حبان فی

صحيحه : ۲۸۹/۱، رقم : ۸۸، والبزار والبيهقي في شعب الإيمان : ۲۶۲/۲، رقم : ۱۶۵۱، ۱۶۵۵، والطبراني في مسند الشاميين : ۱۲۰۰، والطحاوي في مشكل الآثار : ۴۶۵/۲، وابن عساكر : ۳۱۸/۳۸، وأحمد : ۱۹۶/۵، رقم : ۲۱۷۶۳، والدارمي، كما في المجمع ۱۲۶/۱، ۵۲۳، وأسنى المطالب في أحاديث مختلفة المراتب، رقم : ۹۳۷، والتلخيص الحبير في تخريج أحاديث الرافعي الكبير، رقم : ۱۶۲۵، وكنز العمال رقم : ۲۸۸۲۳، ۲۸۶۷۹، ۲۸۷۴۶، وتذكرة الموضوعات للفتني، والتعليق الرغيب : ۵۳/۱، ۲/، والصحيحة : ۳۰۲۴، والسلسلة الضعيفة والموضوعة : ۱۹۸/۶، و الآداب للبيهقي وجمع الجوامع أو الجامع الكبير للسيوطي وغيرهم).

آيا ((وجد، يا تواجد)) څه اصل لري؟

سوال : صوفيان بعضې وخت دَ ذكر كولو په وخت كښې يو قِسم حركت كوي، او ديته دَ وجد او تواجد نوم وركوي۔ آيا د ذكر كولو په وخت په انسان باندې دَ ((وجد، يا تواجد)) كيفيت راتلې شي اوكه نه ؟ دې باره كښې موږ آوريدلي چې علماؤ په دې رد كړي، تاسو كه د هغوئ څه حوالې موږ ته رانقل كړې الله تعالى به ډيراجر دركړي۔

جواب : دَ ((وَجد)) په نوم چې كوم حركات كيږي، دا ټول حرام او ناروا كارونه دي، علماؤ هر وخت په دغه ناكاره عملونو رد كړي چې يو څو حوالې ئې دادي :

۱ – دَ فقه حنفي په معتبرو كتابونو كښې راځي :

وما يفعله الذين يدعو الوجد والمحبّة لا أصل له.

(كوم خلق چې دَ وجد او محبت دعوى كوي ددې خبرې هيڅ بنياد نشته)۔

(فتاوى هندية : ۳۱۹/۵، كتاب الكراهية، يا : ۳۵۲/۵ باختلاف الطبع، ومثله في رد المحتار حاشية ابن عابدين : ۳۴۹/۱، كذا في السراجية).

۲ – وأما الرقصُ والتواجدُ فأول من أحدثه أصحاب السامري، لما اتخذوا العجل، فهذه الحالة هي حالة عُبّاد العجل وإنما كان النبي ﷺ مع أصحابه في جلوسه كأنما على رؤسهم الطير مع الوقار والسكينة – فينبغي لولاة الأمر والفقهاءِ أن يمنعوهم من الحضور في المساجد وغيرها، ولا يحل لأحد يؤمن بالله واليوم الآخر أن يحضر معهم على باطلهم، هذا مذهب الشافعي وأبي حنيفة ومالك وأحمد بن حنبل. (المستطرف : ۲۵۴/۲، بلوغ المرام ص :

۲۱۸، للمولوی عبد العلی، سابق مفتی إمارت اسلامی أفغانستان).

۳ – په ضیاء النور (ص: ۲۱۹) د شیخ القرآن محمد طاهر رحمه الله کښې راځی:

أول من رقص: قال فی المدخل: أما الرقص والتواجد فأول من أحدثه أصحاب السامری الخ، وانظر: الإبداع فی رمضار الابتداع للشیخ علی المحفوظ، ص: ۳۲۲).

(هر چې ګډا او نڅا او په وجد کښې راتلل دی، نو دَ ټولو نه مخکښې دا کار دَ سامری ملګرو را پیدا کړی).

٤ – وسئل ابن سیرین رحمه الله عن أقوام یصعقون عند سماع القرآن فقال: میعاد بیننا وبینهم أن یجلسوا علی حائطٍ فیقرأ علیهم القرآن من أوله وآخره فإن صعقوا فهو کما قالوا.

(مستطرف: ۲۲۵/۱، وکذا فی بلوغ المرام فی تعلیم الإسلام، لعبد العلی القندهاری، ص: ۲۱۷).

(د ابن سیرین رحمه الله نه دَ هغه خلقو په باره کښې تپوس وشو چې دَ قرآن کریم د تلاوت په وخت بیهوشه کیږی، نو هغه وفرمایل: دوئ دی په دیوال باندی کینی او قرآن دی په دوئ باندی دَ اول نه تر آخره پوره ولوستلی شی، که چیری بیهوشه شو، نو دَ دوئ خبره به صحیح وی).

۵ – أول من أحدث هذا الفعل أصحاب السامری الخ. (بزازیه علی هامش العالمکیریة: ۳٤۹/٦).

(دَ ټولو نه اول دا کار دَ سامری ملګرو ایجاد کړی وو).

٦ – فتاوی اللجنة الدائمة للبحوث العلمیة والإفتاء: ۲۷۲/۲) کښې دی.

وما یفعله الصوفیة من رقصٍ وغناءٍ.. لانعلم له أصلاً شرعیاً یعتمد علیه وقد ثبت من رسول الله ﷺ أنه قال: من أحدث فی أمرنا مالیس منه فهو ردّ.

(او صوفیه (پیران، مریدان) چې کومه ګډا او نڅا (قوالی) کوی نو ددی په شریعت کښې هیڅ ثبوت نشته، حال دا چې رسول الله ﷺ په صحیح حدیث کښې فرمایلی دی چې: څوك زمونږ په دی دین کښې یو داسی کار رامینځ ته کړی چې هغه ددی نه نه وی، نو هغه مردود دی).

۷ – دارنګه: (الإعتصام للشاطبی: ۲۱۲/۱، ۲۱۸، ۲۷۳، ۲۷۸ – ۲۸۵، ۲۰٦، کښې ډیر مفید بحثونه د تصوف، وجد، سماع وغیره متعلق ذکر دی، طبع بیروت.

دارنګه وګوره : بلوغ المرام فی تعلیم الاسلام لمفتی عبد العلی د اسلامی امارت مفتی اعظم، فتاوی حقانیه : ۱۰۲/۲، ۲۵۰)۔

۸ – دارنګه دا کتابونه وګوره : المدخل لابن الحاج : ۱۰۰/۳، تلبیس إبلیس، ص : ۲۲۲، ۲۵۰، الأمر بالاتباع للسیوطی ص : ۹۹، اللمع للترکمانی : ۷۶/۱، أدب الطلب للشوکانی وغیره).

د تصوف په باره کښې چې کوم کتابونه لیکل شوی، هغه دادی او د هغی کتل پکار دی : (۱) مدارج السالکین : ۱۱۷/۳، (۲) ربانیة لا رهبانیة : للشیخ أبی الحسن علی الندوی (۳) موقف أئمة حرکة السلفیة من التصوف والصوفیة (٤) طبقات الشافعیة للسبکی ۱٤۰/۵ (۵) مجموعة الفتاوی لعبد الحی اللکهنوی : ۲۰۸/۳، ۱۹۵/۲، (٦) بلغة السالك لأقرب المسالك : للشیخ أحمد بن محمد الصاوی المالکی (۷) بحث التصوف والصوفیة فی مجموعة الفتاوی لابن تیمیة : ۱۷۵/۳٦، ۲۱۳، (۸) تلبیس إبلیس لابن الجوزی (۹) وجد وسماع لابن تیمیة، کتاب مستقل طبع الهلال بك ایجنسی فاروق کنج لاهور، (۱۰) تفسیر القرطبی تفسیر سورة طه آیت : ۹۰، تفسیر : ۲۳۸/۱۱، الجواب : وأما الرقص والتواجد فأول من أحدثه أصحاب السامری الخ، (۱۱) فتاوی الدین الخالص : إن الطرق الأربعة لا یستحب اتباعها، بل ذلك بدعة : ۱۱۱/۱.(۱۲)

البته په مومنانوباندی قرآن کریم تاثیرکوی ،چی وجل (ویره او خوف) دی، د قران په اوریدلو سره ئی غونی اودرېږی۔ الله تعالی د مومنانو صفت داسی بیانوی :

﴿ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ ﴾ ﴿ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ﴾

آیا اجماع حجت دی؟

سوال : اجماع حجت دی اوکه نه ؟ بعضی خلق وائی چی اهلِ حدیث اجماع نه منی ؟ دی باره کښې مونږ ته مدلل او تفصیلا جواب راکړئ، چی آیا اجماع حجت دی اوکه نه ؟

جواب : دَ اجماع متعلق داسی عقیده او نظریه ساتل ضروری دی چی : اجماع څه مستقل شی نه دی چی ګڼی په مستقل طور سره دَ خپل ځانه یو شرعی حکم ثابت کړی، د اجماع مطلب دادی چی په یوه داسی مسئله باندی دصحابه کرامو یا د امت د ټولو علماوو اتفاق چی ددی آیت یا حدیث معنیٰ،مطلب، یا فهم پدی ډول دی،چی هغه مسئله په قرآن او سنت کښې په عبارت النص ، اشارت النص ، دلاله النص،یا اقتضاء

النص سره ذکر شوی وی، ـمثلا دیو آیات یا حدیث نه ټولوصحابه کرامو یا ورستنوعلماوو یوه مسئله فهم کړی وی، یا د ټولو علماوو نه نقل وی چی ددی آیات یا حدیث مطلب دادی۔

په موسوعة الفقه الإسلامی : ۱۰۰/۳، إرشاد الفحول ص : ۵۷، او د اصولو په نورو کتابونوکښی راغلی:

جمهور أهل المذاهب على أن الإجماع لا بد له من مستندٍ، لأن أهل الاجماع ليس لهم الاستقلال باثبات الأحكام، فوجب أن يكون عن مستندٍ.

(دَ جمهوروعلماؤ په نیز په اجماع کښی دا خبره ضروری ده چی دَ هغی لپاره به یو شرعی مستند (او دلیل) موجود وی۔ ځکه اهلِ اجماع نشی کولی چی مستقل طور سره دَ خپل ځان له طرفنه یو شرعی حکم ثابت کړی)۔

اجماع حجت دی خو چی کله په هغی کښی واقعی هغه شرطونه راشی کوم چی د اجماع د صحیح کیدو لپاره ضروری دی۔کله چی په اجماع کښی خپل شرطونه پوره شی نو بیا دا ډول اجماع یقینی حجت دی۔ددی خلاف قطعا جائز نه دی۔ (الإحكام للآمدی : ۲۸٦/۱، موسوعة الفقه الإسلامی : ٦٤/۳).

ددی قِسم واقعی اجماع اهلِ حدیث هم قائل دی۔

دَ اِجماع په حُجیت باندی ډیر دلائل دی۔ دلته یو څو ذکر کولی شی۔

۱ – قال الله تعالى : ﴿ومن يشاقق الرسول من بعد ما تبين له الهدى ويتبع غير سبيل المؤمنين نوله ما تولى ونصله جهنم وسائت مصيرًا﴾ النساء : ۱۱۵.

ددی آیت په تفسیر کښی راځی :

فيلزم أن يكون اتباع غير سبيل المؤمنين محرمًا لأنه لو لم يكن حرامًا لما جمع بينه وبين المحرم الذی هو المشاقة فی الوعيد، فإنه لا يحسن الجمع بين الحلال والحرام فی وعيدٍ بإن نقول مثلا : إن زنيتَ وشربت الماءَ عاقبتك، وإذا حرّم اتباع غير سبيل المؤمنين وجب اتباع سبيلهم لأنه لا مخرج عنهما أی لا واسطة بينهما. ويلزم من وجوب اتباع سبيلهم كون الاجماع حجةً، دون سبيل الشخص ما هو يختاره من القول أو الفعل أوالإعتقاد.

(موسوعة الفقه الإسلامی : ٦۵/۳، الرسالة للإمام الشافعی).

(یعنی : ددی آیت نه دا خبره معلومه شوه چی دَ مؤمنانو د لاری او طریقی نه علاوه بله لاره اختیارول حرام دی، ددی وجه داده چی که دا حرامه نه وی نو دابه ئی د هغه حرام کار سره نه جمع کولی کوم چی د رسول الله ﷺ مخالفت دی، ځکه دا خو صحیح نه ده چی حلال او حرام دواړه ځیزونه په یو وعید کښی راجمع کړی شی، لکه ته یو سړی ته اووائی : که تا زنا وکړه او اوبه دی وڅکلی نو سزا به درکړم۔ نو کله چی د مؤمنانو نه سیوا د بلی لاری اختیارول صحیح نه شو نو د مؤمنانو په لاره او طریقه باندی تلل واجب شو، نو دا خبره ورسره لازمه شوه چی اجماع حجت دی)۔

۲ - ﴿ و کذلك جعلناکم أمة وسطًا لتکونوا شهداء علی الناس ﴾ الآیة.

ددی آیت نه هم د اجماع حجیت معلومیږی، او هغه دا چی په دی آیت کښی الله تعالیٰ دی أمت ته (وسط) یعنی عادلان ویلی او ددی وجه داده چی دوی شهداء (ګواهان) دی نو شاهد خو به ضرور عادل وی، د اصولو په کتابونو کښی مذکوره آیت د اجماع په حجیت باندی په دلیل کښی ذکر شوی، لکه هغوئ لیکلی :

وجه الإستدلال : أن الله تعالی عدل هذه الأمة لأن الله تعالی جعلهم وسطًا، والوسط من کل شئ أعدله کما فی آیة آخری : قال اوسطهم : أی أعدهم. و کذلك جعلناکم وسطًا : أی عدولاً، وقد علل الله تعالی جعلهم وسطاً بأن یکونوا شهداء علی الناس، والشاهد لا بد أن یکون عدلاً، وهذا التعدیل الحاصل للأمة وإن لزم منه تعدیل کل فردٍ منها بالضرورة، لکون نفیه عن واحدٍ یستلزم نفیه عن المجموع، لکنه لیس المراد تعدیلهم فیما ینفرد به کل واحدٍ منهم، لأنا نعلم بالضرورة خلافه، فتعین تعدیلهم فیما یحتجون علیه وحینئذٍ فتجب عصمتهم عن الخطأ قولاً وفعلاً، صغیر و کبیر لأن الله تعالی یعلم السر والعلانیة فلا یعدلهم مع ارتکابهم بعض المعاصی، بخلاف تعدیلنا فإنه قد لا یکون کذلك لعدم اطلاعنا علی الباطن.

(موسوعة الفقه الإسلامی : ۶۶/۳، شرح الإسنوی علی المنهاج : ۴۷۳/۳، شرح المنار : ۱۰۹/۲، الإحکام للآمدی : ۳۰۲/۱).

۳ - علماؤ د اجماع د حجیت لپاره دا آیت هم ذکر کړی۔

﴿ واعتصموا بحبل الله جمیعًا ولاتفرقوا ﴾.

وجه الاحتجاج بها : أنه تعالیٰ نهی عن التفرق ومخالفة الاجماع تفرق لکان منهیاً عنه، ولا

معنى لكون الاجماع حجة سوى النهى عن مخالفته.

(موسوعة الفقه : ٦٦/٣).

(ددی آیت نـه د اجماع په حجیت دلیل داسی دی چی الله تعالیٰ د تفرق نه منع کړی او دَ اجماع نه مخالفت په خپله تفرق دی)۔

٤ – ﴿كنتم خير امة أخرجت للناس تأمرون بالمعروف وتنهون عن المنكر﴾.

ددی آیت نـه هم د اجماع حجیت معلومیږی ځکه الله تعالیٰ ددی امت نه دا خبر ورکړی چی د دوئ صفت به امر بالمعروف او نهی عن المنکر وی، نو که چیری ټول امت مثلا په یـوه مسئـلـه کښـی خطاء شی نو په دی وخت کښی به دوئ آمرین بالمنکر او ناهین عن الـمعروف شی۔او دا خو نشـی کیـدی، ځـکـه الله تـعالیٰ د دوئ بل شان صفت کړی، نو معلومه شوه چی ټول امت په یو څه راجمع شی نو دا کار به خامخا صحیح وی۔

ارشاد الفحول للشوکانی ص : ۷۴، شرح المنار : ۱۰۹/۲، وغیره کښی راځی :

فـفـى الآية خبـر بـأنهـم يأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر، والألف واللام للعموم لأنها داخـلة على اسم جنس فهم إذن يأمرون بكل معروفٍ، وينهون عن كل منكرٍ، فمن خالف فيما أمـروا به ونهوا عنه فقد خالف طريقتهم، فيكون مبطلاً وضالاً. وأيضاً : لو أجمعوا على الخطأ لكانوا آمرين بالمنكر وناهين عن المعروف وهو خلاف المنصوص.

د اجماع په حجیت باندی د احادیثونه دلیل

١ – إن الله قد أجار أمتى من أن تجتمع على ضلالةٍ.

(رواه ابن أبى عاصم كما فى الصحيحة : ١٣٣١، ٣١٩/٣).

(بیشکه الله تعالی زما امت ته ددی نه پناه ورکړی چی ټول په ګمراهئ راجمع شی)۔

٢ – إن الله تعالى لا يجمع أمتى على ضلالة ويد الله على الجماعة.

(رواه الترمذى وغيره).

٣ – وعـن ابـن عمر رضى الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : لا يجمع الله أمتى على ضلالةٍ أبدًا، ويد الله على الجماعة (وسنده صحيح).

(رسـول الله ﷺ فـرمـائـی : الله تـعـالیٰ قـطـعـا زما امت په ګمراهئ نه راجمع کوی، او دَ

جماعت سره د الله لاس دی)۔

وعن ابن مسعودٍ موقوفًا : عليكم بالجماعة فإن الله لا يجمع أمة محمد ﷺ على ضلالةٍ.

(رواه الطبراني وسنده صحيح).

د مذكوره احاديثو نه دَ اجماع په حجيت باندی دليل داسی نيول كيدی شی چی په يوه مسئله باندی ټول مومنان راجمعه وی، نو دا به ددی دليل وی چی دا كار جائز اوصحيح دی۔ ځكه كه دا كار صحيح نه وی، بلكه غلط او خطاء وی، نو ټول مسلمانان به ددی په جواز يا كولو باندی متفق نه وو۔دارنګه حديث كښی دی :

لا تزال طائفة من أمتی ظاهرين على الحق حتی تقوم الساعة. (الصحيحة : ۳۷۰).

(زما دَ امت نه به هميشه لپاره يوه ډله تر قيامته پوری په حق (دين) باندی عمل كونكی وی)۔بل حديث كښی دی۔

لا تزال عصابة من أمتی يقاتلون على أمر الله قاهرين لعدوهم لا يضرهم من خالفهم حتی تأتيهم الساعة، وهم على ذلك. (والحديث صحيح كما فی الصحيحة : ۱۱۰۸).

(زما د امت نه به هميشه لپاره يوه ډله تر هغه وخته پوری د الله په دين باندی جنګيږی تر څو چی قيامت راشی)۔

ددی احاديثو نه هم استدلال داسی دی چی څوك دا نشی كولی (لكه موجوده جماعت المسلمين رجسټرډ وغيره) چی دا خبره وكړی چی دا فلانئ مسئله داسی ده، كه څوك ورته ووائی چی كه داسی معنیٰ ئی وی، نو ستاسو نه مخكښی په دی عقيده ولی څوك نه وو ؟ نو دوئ وائی : هغه ټول په ټول ګمراه وو۔(والعياذ بالله)۔

نو ددی احاديثونه په دوئ باندی داسی رډ كيږی چی ټول امت خو په ګمراهئ باندی نه راجمع كيږی۔ هميشه به يوه ډله تر د الله په دين باندی ولاړ وی تر څو چی قيامت راشی۔نو معلومه شوه چی ستاسو نه مخكښی هم صحيح مؤمنان موجود وو، او ستاسو عقيده غلطه ده۔

د تفصيل لپاره دا كتابونه وګوره : (الأحكام للآمدی، إرشاد الفحول للشوكانی، الإحكام و مراتب الاجماع لابن حزم، موسوعة الفقة الإسلامی، الرسالة للشافعی، تنشيف الأسماع بمسائل الاجماع للسيوطی، اعلام الموقعين ج ۲ ص ۲۳۷)۔

دَ مدینی طیبی فضائل

سوال: آیا په صحیح احادیثو کښی دَ مدینی څه فضیلت راغلی ؟ که راغلی وی نو مونږ ته ئی یو څو فضائل ولیکئ ؟ وجزاکم الله خیرا۔

جواب: مدینه طیبه خو ډیر د برکت او فضیلت ځای دی، د مدینی سره د رسول الله ﷺ محبت وو، نو په دی وجه د مدینی طیبی سره محبت کول هم یو مسنون عمل دی، لکه امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښی د انس رضی الله عنه نه حدیث راوړی :

أن النبی ﷺ کان إذا قدم من سفر فنظر إلی جدرات المدینة أوضع راحلته، وإن کان علی دابة حرکها من حبها.

(نبی ﷺ به چی کله د سفر نه راغی او د مدینی دیوالونه به ئی ولیدل نو خپله اوښه به ئی تیزه کړه، اوکه چیری به په اس سپور وو، نو هغه به ئی وخوزول، دا هر څه به ئی د مدینی دَ محبت له وجی کول)۔

۱ – په صحیح احادیثو کښی د مدینی طیبی ډیر فضائل بیان شوی، دلته د هغو نه صرف یو څو ذکر کولی شی۔ په مدینه کښی مسجد نبوی دی چی دا داسی ځای دی چی په دی کښی لمونځ کول ډیر غوره عمل دی۔ په دی کښی یو لمونځ د نورو ځایونو دَ زرو لمونځونو سره برابر دی، لکه حدیث کښی دی۔

صلاة فی مسجدی هذا أفضل من ألف صلاةٍ فیما سواه إلا المسجد الحرام. (البخاری ومسلم).

(زما په دی مسجد کښی یو لمونځ کول د نورو مسجدونو د زرو لمونځونو نه غوره دی، سیوا د مسجد حرام (بیت الله) نه (ځکه په هغه کښی یو لمونځ په یو لك لمونځونو حسابیږی)۔

په یو بل حدیث کښی راځی :

عن عبد الله بن عثمان بن الأرقم عن جده الأرقم أنه قال : جئت رسول الله ﷺ فقال لی : أین ترید ؟ فقلت : إلی بیت المقدس، فقال : إلی تجارةٍ ؟ فقلت : لا، ولکن أردت أن أصلی فیه، فقال : صلاة ههنا – یرید المدینة – خیر من ألف صلاة ههنا – یرید إیلیاء –.

(د عبد الله بن عثمان نیکه ارقم رحمه الله وائی : زه رسول الله ﷺ ته راغلم، نو هغه ماته وفرمایل : چیرته دی دَ تللو اراده کړی ؟ ماورته وویل بیت المقدس ته۔وی فرمایل : د څه تجارت لپاره ځی ؟ ماورته وویل : نه، بلکه زما دا اراده ده چی په هغه کښی لمونځ وکړم۔رسول الله ﷺ راته وفرمایل : دلته په مدینه کښی یو لمونځ کول د هغه ځای یعنی بیت المقدس د زرو لمونځونو نه غوره دی)۔

شیخ البانی رحمه الله په سلسلة الصحیحة : ۹٤٦/٦، کښی لیکی :

(أخرجه الطحاوی فی مشکل الآثار : ۲٤۷/۱، والحاکم : ۵۰٤/۳، والطبرانی فی المعجم الکبیر : ۲۸۵/۱، ۹۰۷، ومن طریقه أبو نعیم فی المعرفة : ۳۸۱/۲، ۱۰۰٦، وأورده الهیثمی فی المجمع : ٤/۵).

مسئله : راجح داده چی دا فضیلت صرف د فرض لمانځه لپاره راغلی، اګرکه بعضی علماء ئی د نوافلو فضیلت هم داسی ګڼړی۔کما فی فضل المدینة وآداب سکناها وزیارتها.

لیکن غوره داده چی دا فضیلت صرف تر فرض لمانځه پوری خاص دی۔لکه یو حدیث کښی راځی یو صحابی فرمائی :

سألت رسول الله ﷺ عن الصلاة فی بیتی والصلاة فی المسجد ؟ فقال : ألا تری إلی بیتی ما أقربه من المسجد، فلأن أصلی فی بیتی أحب إلی من أنأصلی فی المسجد إلا أن تکون صلاة مکتوبة.

(ما دَ رسول الله ﷺ نه په کور کښی د لمانځه او په مسجد کښی دَ لمانځه تپوس وکړو، نو راته وی فرمایل :

زما کور ته، ته نه ګوری چی څومره جومات ته زیات نزدی دی، لیکن زه په کور کښی (نفل) لمونځ وکړم، نو دا ماته ډیر خوښ دی ددی نه چی په مسجد کښی لمونځ وکړم، مګر دا چی فرض لمونځ وی)۔

(أخرجه ابن خزیمة وأحمد : ۳٤۲/٤، وابن ماجه :۱۳۷۸، والطحاوی (شرح المعانی) : ۳۳۹/۱، وابن أبی عاصم فی الأحادیث والمثانی : ۱٤۵/۲ ۸٦۵، وابن قانع فی معجم الصحابة : ۹۳/۲، وأبو نعیم فی الحلیة : ۵۱/۹، والبیهقی : ٤۱۱/۲، والخطیب فی موضح الأوهام : ۱۱۰/۱، والضیاء فی الأحادیث المختارة : ۹/۹۰٤۰/۳۸۵ : ۳۸۸).

دارنګه په صحیح البخاری (۱۳٤/۱) کښی راځی :

عن زيد بن ثابت أن رسول الله ﷺ اتخذ حجرة من حصير في رمضان، فصلى فيها ليالي، فصلى بصلاته ناس من أصحابه، فلما علم بهم جعل يقعد فخرج إليهم، فقال : قد عرفتُ الذي رأيت من صنيعكم فصلوا أيها الناس في بيوتكم، فإن أفضل صلاة المرءِ في بيته إلا المكتوبة.

(زید بن ثابت رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ په رمضان کښی دَ پوزکی یوه حُجره جوړه کړه، په هغی کښی ئی یو څو شپی لمونځ وکړ، نو دَ هغه په اقتداء کښی دَ هغه ملګرو هم لمونځ وکړو، کله چی نبی ﷺ ته دد ی حال معلوم شو، نو بهر را ووتل او وی فرمایل : تاسو چی څه وکړل، زه پدی پوهه شوم ، خو ای خلقو! تاسی په خپلو کورونو کښی لمونځونه کوئ، ځکه د سړی هغه لمونځ ډیر غوره دی کوم چی په کور کښی کوی، سیوا د فرض لمونځ نه)۔

(النبذة اللطيفة في فضائل المدينة الشريفة للشيخ أبو محمد أحمد شحاته السكندري).

۲ – په مسجد نبوی کښی د جنت د باغچو نه یوه باغچی ده چی دا هم دمدینی خصوصیت او فضیلت دی ،حدیث کښی راغلی رسول الله ﷺ فرمائی :

ما بين بيتي ومنبري روضة من رياض الجنة. (رواه البخاري ومسلم).

(زما د منبر او کور ترمینځه ځای د جنت د باغیچو نه یوه باغیچی ده)۔

۳ – دارنګه د مدینی بل فضیلت دادی چی په دی کښی مسجد قباء دی، او مسجد قباء هم ډیر مبارك او د فضیلت مسجد دی، په احادیثو کښی د مسجد قباء هم ډیر فضائل راغلی، لکه حدیث کښی راځی۔

عن سهل بن حنيفٍ قال : قال رسول الله ﷺ : من خرج حتى يأتي مسجد قباءٍ، فصلى فيه صلاةً، كان له كعدل عمرة. وفي رواية : من تطهر في بيته ثم أتى مسجد قباء.

(سهل بن حنیف ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چی د کوره ووتل تردی چی مسجد قباء ته راغی او په هغه کښی ئی لمونځ وکړو، نو دَ عُمری هومره ثواب به ئی اوشی۔ او په یو بل روایت کښی دی۔ چاچی په خپل کور کښی اودس وکړو او بیا مسجد قباء ته راغی۔۔تر آخره پوری)۔

(حسن صحيح : أخرجه أحمد : ٤٨٧/٣، والبخاري، التاريخ الكبير : ٩٦/١، ٢٦٦، وعمر بن شبة، تاريخ المدينة : ٣٢/١، ١٢٩، والنسائي، الكبرى : ٢٥٨/١، ٧٧٧، والمجتبى : ٣٧/٢، وابن ماجه

:۱٤۱۲، والطبرانی فی الکبیر : ۷٤/٦، والحاکم : ۱۲/۳، والبیهقی، شعب الإیمان : ٤۱۹۱/٤۹۹/۳).

په بل حدیث کښې دی :

عن اسید بن ظهری الأنصاری عن النبی ﷺ قال : صلاة فی مسجد قباء کعمرة.

(په مسجد قباء کښې لمونځ کول دَ عمرې سره برابر دی)۔

(أخرجه ابن أبی شیبة : ۱٤۹/۲، ٤۱٦/٦، وابن سعد، الطبقات : ۲٤٥/۱، والبخاری، التاریخ : ٤۷/۲، والترمذی : ۳۲٤، وابن ماجه : ۱٤۱۱، وابن ابی عاصم فی الآحاد والمثانی : ٤۳/٤، وأبو یعلی : ۱۱۷/۱۳، والطبرانی فی الکبیر : ۲۱۰/۱، والحاکم ٤۷۸/۱، والبیهقی فی الکبری : ۲٤۸/٥، وشعب الإیمان : ٤۹۹/۳، والمقدسی فی المختارة : ۲۸۲/٤، والمزی فی تهذیب الکمال : ٥۲۸/۹).

دارنګه د سعد بن ابی وقاصؓ نه نقل دی چې هغه فرمائی : لأن أصلی فی مسجد قباء أحب إلیّ من أن أصلی فی بیت المقدس.

(په مسجد قباء کښې ماته لمونځ کول، په بیت المقدس کښې د لمونځ کولو نه زیات غوره ښکاری)۔

(صحیح : أخرجه ابن ابی شیبة : ۱٤۹/۲، عن أبی خالد الأحمر، والحاکم : ۱۲/۳، والبیهقی : ۲٤۹/٥، وعمر بن شبة فی تاریخ المدینة : ۱۳۳/۳۳/۱).

٤ – دَ مدینې طیبې خلق ویرول هم ډیره لویه ګناه ده، لکه حدیث کښې راځی :

اللهم من ظلم أهل المدینة وأخافهم، فأخفه وعلیه لعنة الله والملائکة والناس أجمعین لا یقبل منه صرف ولا عدل. (صحیح).

(ای الله ! چا چې په د مدینې په خلکو ظلم وکړ، یائې وویرول نو ته هغه وویروی، او په هغه دی د الله، ملائکو او د ټولو خلکو لعنت وی، د هغه نه به نه فرض قبول کړی شی اونه نفل)۔

(قال الألبانی فی السلسلة الصحیحة : ٦۲۰/۱ : رواه الطبرانی فی الأوسط : ۲/۱۲٥/۱، والکبیر کما فی المجمع : ۳۰٦/۳، وصحیح الترغیب والترهیب للألبانی).

بل حدیث کښې راځی : من أخاف أهل المدینة أخافه الله.

(څوك چې د مدینې خلك ویروی، الله به هغه ویروی)۔

(قال الألبانی فی الصحیحة : ۳۸۲/٥ : أخرجه ابن حبان : ۱۰۳۹، وابن النجار فی ذیل تاریخ بغداد :

۴/۱۰، وابن عساکر : ۲/۲۴۰/۱٦).

په بل روایت کښې دی راځی :

من أخاف أهل المدینة فقد أخاف مابین جنبی، أخرجه أحمد.

(چاچی د مدینی خلك وویرول نو په تحقیق سره هغه زما دَ دواړو اړخونو ترمینځه – زړه – وویرول).

۵ – د مدینی بل فضیلت دادی چی نبی کریم ﷺ ددی د محبت دعاء کړی، دارنګه دیته ئی د برکت دعاء کړی. حدیث کښی راځی :

اللهم حبب إلینا المدینة کحبنا مکة أو أشد، وصححها وبارك لنا فی صاعها ومدها وانقل حماها فاجعلها بالجحفة.

(ای الله ! لکه څرنګه چی تا مونږ ته مکه محبوبه جوړه کړی، نو همدغه شان بلکه ددینه زیاته راته مدینه محبوبه جوړه کړی، او دا زمونږ لپاره صحیحه کړی او ددی په صاع (پیمانه) او پاؤ کښی راته برکت کیدی، او ددی تبه جُحفی ته نقل کړی.(چی هغه وخت هلته یهودیان اوسیدل).

(رواه البخاری ۲۲۴/۲، ومسلم : ۱۱۹/۴، ومالك ۸۷/۳، وابن حبان : ۳۷۱٦/۱۵/٦).

بل روایت کښی دی :

اللهم بارك لنا فی ثمرنا، وبارك لنا فی مدینتنا، وبارك لنا فی صاعنا، وبارك لنا فی مدنا.

(رواه مسلم).

(ای الله ! مونږ ته زمونږ په میوه، زمونږ په ښاریه، زمونږ په صاع (پیمانهٔ) او پاؤ کښی برکت واچوی).

دارنګه د علی رضی الله عنه په روایت کښی دا الفاظ دی:

اللهم إن إبراهیم کان عبدك وخلیلك دعاك لأهل مکة بالبرکة وأنا محمد عبدك ورسولك أدعوك لأهل المدینة أن تبارك لهم فی مدهم وصاعهم مثلی ما بارکت لأهل مکة مع البرکة برکتین. (تحقیق ألبانی، صحیح ترمذی).

(یا الله! ابراهیم علیه السلام ستا بنده او دوست وو، هغه ستانه دَ مکی د اوسیدونکو لپاره دَ برکت سوال کړی وو، او زهٔ هم ستا بنده او رسول یم، زهٔ ستانه دَ مدینی د اوسیدونکو

لپاره دعاء غواړم چې تهٔ دوئ له د دوئ په پاؤ او پیمانه کښې دوه چنده هغه برکت ورکړې، کوم چې تا دمکې اوسیدونکوته ورکړې وو، چې دَ هر برکت سره دوه برکته وي)۔

۶ – دَ مدینې طیبې بل فضیلت دادی :

إن الإيمان ليأرز إلى المدينة كما تأرز الحية إلى جحرها. (بخاری، مسلم عن أبی هريرة).

(بیشکه چې مدینې ته به ایمان داسې پناهي یوسی، لکه حڅنګه چې مار خپلې سوړې ته پناهي وړي)۔

یعنې ایمان به د مدینې طرفته متوجه شي او په هغې کښې به وي۔او مسلمانان به دَ هغې قصد کوي او هلته به ورځي۔ چې ایمان او د دغه مبارکې ځمکې محبت به دوئ لره هلته بوځي۔

۷ – دَ مدینې بل فضیلت دا هم راغلې چې مدینه هم دَ مکې مکرمې پشان حَرم لري، لکه حدیث کښې راځي، رسول الله ﷺ فرمائي :

المدينة حرم مابين عَيرٍ إلى ثور، مَن أحدث فيها حدثًا أو آوى محدثًا فعليه لعنة الله والملائكة والناس أجمعين، لا يقبل الله منه صرفًا ولا عدلاً. (رواه البخاری ومسلم).

(مدینه د عَیر (غر) نه تر ثور پورې حرم لري۔ چا چې په دې کښې څه نوې کار پیدا کړو، یائې په کښې مجرم او بدعتي ته ځائې ورکړ، نو په دهٔ دې دَ الله او ملائکو او ټولو خلکو لعنت وي، الله به ددهٔ نه نهٔ فرض قبول کړي او نهٔ نفل)۔

بل روایت کښې دي :

إن إبراهيم حرم مكة وإني حرمت مابين لابيتها – يريد المدينة. عن رافع بن خديج، بتحقيق الألباني، الصحيحة : ٣٢٣٤).

(ابراهیم علیه السلام مکه مکرمه حرَم ګرځولې وه، اوما مدینه د دواړو طرفونو (خوړونو) ترمنځ حرم وګرځوله)۔

إن إبراهيم حرّم بيت الله وأمنه وإني حرمت المدينة مابين لابيتها، لا يقلع عضاها، ولا يصاد شوكها. (تخريج السيوطی م، عن جابر تحقيق الألباني، صحيح).

(ابراهیم علیه السلام دَ بیت الله شریف دَ حرم او امن جوړولو دعاء کړې وه اوما دَ مدینې دَ دواړو طرفونو دَ حرم ګرځولو دعاء کړې۔ چې ددې ونې به نشي پریکولې او نهٔ به ددې

ښکار، ښکار کولی شی)۔

إنها حرم آمن، إنها حرم آمن – يعنى المدينة – (تخريج السيوطى : احمد، عن سهل بن حنيف، تحقيق الألبانى : صحيح).

المدينة حرم ما بين عَير إلى ثور. (بخارى، مسلم).

تنبیه : دَ حرمِ مدنی مختلف حدود ښودلی شوی، دَ دواړو خوړونو مینځونه علاقه، یا د دوه غرونو ترمینځ، یا دَ عَیر او ثور ترمینځه علاقه۔ چی ددی اندازو ترمنځ هیڅ تضاد او منافات نشته، ځکه چی وړوکی علاقه په غټه علاقه کښی داخله ده۔

بل روایت کښی دی :

إنى أحرم مابين لابتى المدينة أن يقطع عضاها اؤ يقتل صيدها، المدينة خير لهم لو كانوا يعلمون، لا يدعها أحد رغبة عنها إلا أبدل الله من هو خير منه، ولا يثبت أحد على لأوائها وجهدها إلا كنت له شفيعًا أو شهيدًا يوم القيامة، ولا يريد أحد أهل المدينة بشر إلا أذابه الله فى النار ذوب الرصاص أو ذوب الملح فى الماءِ. (تخريج السيوطى : احمد ،ابويعلى عن سعد. تحقيق الألبانى : صحيح).

(نبی کریم ﷺ فرمائی : زهٔ دَ مدینی دواړه طرفونه حرم ګرځوم چی ددی ونی به نشی پریکولی، ښکار به ئی نشی وژلی۔ مدینه خلکوته ډیره ښه ده خوکه دوئ پو هیږی۔
څوك چی دَ اعراض لهَ وجی دا پریږدی نو الله تعالیٰ به په دی کښی ددهٔ په ځای نور غوره خلك راولی۔ او ددی په سختئ او تکلیف باندی چی څوك صبر وکړی، نو دَ قیامت په ورځ به زهٔ ددهٔ لپاره شفاعت یا ګواهی کونکی یم۔ او څوك چی د مدینی اوسیدونکو ته څه تکلیف رسول غواړی، نو الله به ئی په اور کښی داسی ویلی کړی لکه څرنګه چی قلعی په اور کښی یا مالګه په اوبو کښی ویلی کیږی)۔

۸ – نو دا د مدینی عجیب فضیلت دی چی نبی کریم ﷺ فرمائلی:

((څوك ددی په سختئ او تکلیف باندی صبر کوی، زهٔ به هغوئ لپاره دَ قیامت په ورځ ګواهی یا شفاعت کونکی یم))۔

بل روایت کښی داسی الفاظ دی :

((دَ مدینی په سختئ او تکلیف باندی چی څوك صبرکوی زهٔ به د هغهٔ لپاره شفاعت

کونکی یم))۔بل روایت کښې دی :

((زما په امت کښې چې څوك هم دَ مدینې په سختئ او تکلیف باندې صبر وکړي، نو دَ قیامت په ورځ به زهٔ دهغهٔ لپاره شفاعت کونکی یا ګواهي ورکونکی یم)۔(احمد : ۳۹۷/۲، مسلم : ۱۵۲/۹، ابو یعلیٰ : ۳۷۲/۱۱، ابو نعیم، المسند المستخرج : ٤٦/٤).

لغات : أواء : سختي، مشقت او معیشت تنګیدل۔

شدیٰ : فضاء ګرانیدل او تنګي او سختي راتلل۔

۹ – دَ مدینې طیبې بل خصوصیت او فضیلت دادی چې دیته به دجال نهٔ داخلیږي۔ حدیث کښې دی :

ویأتی المسیح من قبل المشرق وهمته المدینة حتی إذا جاء دبر أحدٍ تلقته الملائکة فضربت وجهه قبل الشام هنالك یهلك هنالك یهلك. (صحیح، قال الألبانی فی السلسلة الصحیحة : ۳۷۲/٤ : أخرجه الترمذی : ۲۳۸/۳، تحفة، وأحمد : ٤۰۷/۲، ٤۵۷).

(دجال به دَ مشرق نه را ووځي چې مدینې ته به را روان وي، خوکله چې دَ احُد شاته را ورسي، ملائك به دَ هغهٔ مخې ته را ووځي او دَ هغهٔ مخ به د شام طرفته واړوي، نو په همدغه ځائې کښې به دجال هلاکیږي)۔

بل روایت کښې دی :

لا یدخل المدینة رعب المسیح الدجال، لها یومئذٍ سبعة أبواب علی کل باب ملکان. (بخاری : ۷٦/٤، احمد : ٤۳/۵، ٤۷).

(مدینې ته به دَ دجال ویره نهٔ داخلیږي، پدغه وخت(زمانه)کښې به دهغې اووه دروازې وي چې په هره یوه دروازه به دوه ملائك ولاړ وي)۔

إن الدجال یطوی الأرض کلها إلا مکة والمدینة فیأتی المدینة فیجد بکل نقب من أنقابها صفوفًا من الملائکة فیأتی سبخة الجرف فیضرب رواقة ثم ترجف المدینة ثلاث رجفات فیخرج إلیه کل منافق ومنافقة.

۱۰ – دَ مدینې بل فضیلت دا هم دی چې الله تعالیٰ ددې په خورماوو کښې دا تاثیر ایښې چې څوك ددې نه اووهٔ (۷) دانې وخوري نو په دغه ورځ به ورته جادو او زهر ضرر نهٔ ورکوي۔ حدیث کښې دی :

عن عائشة أن رسول الله ﷺ قال : فی عجوة العالیة شفاء، وإنها تریاق أول البکرة. (أخرجه ابن أبی شیبة : ۳۷/۵، وأحمد ۱۵۲، ومسلم ۳/۱۴، نووی، والنسائی فی الکبری ۱۶۵۴).

بل روایت کښی دی : عن سعد بن أبی وقاص أن رسول الله ﷺ قال : من أکل سبع تمرات مما بین لابتی المدینة حین یصبح، لم یضر سمّ.(أخرجه مسلم ۲/۱۴، والبیهقی فی شعب الإیمان : ۸۶/۵)

(چاچی دَ مدینی دَ دواړو خوړونو ترمینځه ولاړو وُنو نه اووهٔ خورماوی په سهار کښی وخوړی نو زهر به ورته ضرر ورنهٔ کړی).

من أکل سبع تمرات عجوة مابین لابتی المدینة علی الریق لم یضره یومه ذلك شئ حتی یمسی قال : وأظنه قال : وإن أکلها حین یمسی لم یضره شئ حتی یصبح.

(وسنده جید فی الشواهد).

(څوك چی دَ مدینی په خوړونو کښی دَ راختونکو عجوه خورماوو نه اووهٔ دانی په نهاره ووخوړی، نو تر بیګاه پوری به په دغه ورځ ورته هیڅ شی ضرر ورنهٔ کړی.راوی وائی : زما خیال دی چی داسی ئی هم وویلی چی که بیګاه کښی ئی وخوړلی نو تر صبا پوری به ورته هیڅ شی ضرر ورنهٔ کړی).

(دَ خورماوو دَ فائدو لپاره : کشف المستور عن منافع الالبان والتمور – په نوم رساله وګوره).

۱۱ – دَ مدینی بل فضیلت : دجنګ لپاره وسله ګرځول په کښی منع دی :

عن جابر رضی الله عنه قال : سمعت النبی ﷺ یقول : لا یحل لأحد یحمل فیها السلاح لقتال – یعنی المدنیة. (قال الألبانی فی السلسلة الصحیحة : ۱۰۵۲/۶ : أخرجه أحمد فی المسند ۳۴۷/۳، کما فی المجمع : ۳۰۴/۳).

۱۲ – مدینی ته طابه او طیبه نومونه کیښنول شوی دی.حدیث کښی دی :

إن الله أمرنی أن أسمی المدینة طیبة. (تخریج السیوطی طب عن جابر بن سمرة، تحقیق الألبانی : صحیح).

(الله ماته حکم کړی چی زهٔ مدینی ته طیّبه نوم کیدم).

دَ مدینی ډیر زیات فضائل راغلی، ددی دَ فضائلو په باره کښی دا کتابونه کتلی شئ :

(۱) الأحادیث الواردة فی فضائل المدینة جمعًا ودراسةً، للشیخ الدکتور صالح بن حامدالرفاعی

(۲) فضل المدينة وآداب سُكناها وزيارتها، تأليف عبد المحسن بن حمد العباد البدر (۳) النبذة اللطيفة فى فضائل المدينة الشريفة، للشيخ أبو محمد أحمد شحاته السكندرى (٤) فضائل المدينة، لأبى سعيد المفضل بن محمد بن إبراهيم الجَندى المتوفى سنة ۳۰۸ هـ (٥) زيارة المدينة النبوية المشروع فيها والممنوع، تاليف فهد عبد الله محمد الحبيشى).

د یو حدیث تخریج

سوال: حدیث کښې راځي چې: (المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده) .او په بل حدیث کښې دي: (المسلم من سلم الناس من لسانه ويده).

(مسلمان هغه څوك دى چې نور مسلمانان – او په بل روايت کښې دي: نور خلك – ددۀ دَ ژبې او لاس نه محفوظ او په امن وي).

په (الناس) کښې خوکافر هم داخل دي.ددې حديث تخريج او تشريح راته وکړئ؟ (قاری حنيف).

جواب: اولنى حديث بخارى او مسلم روايت کړی.ددې په صحت کښې خو هيڅ شك نشته.البته دويم روايت (من سلم الناس) داهم صحيح حديث دى.د ډيرو صحابه کرامو نه روايت شوى، لکه ددې تفصيل داسې دى:

عن فضالة بن عبيد قال: قال رسول الله ﷺ: ألا أخبركم بالمؤمن؟ من أمنه الناس على أموالهم وأنفسهم، والمسلم من سلم الناس من لسانه ويده، والمجاهد من جاهد نفسه فى طاعة الله، والمهاجر من هجر الخطايا والذنوب.

(رواه أحمد ۲۱/٦، كما فى الصحيحة ۸۱/۲، ٥٤۹ وقال الألبانى: وهذا إسناد صحيح).

دې باره کښې په لاندينو کتابونو کښې دَ عبد الله بن عمر، او ابو هريره رضى الله عنهما نه هم روايتونه راغلي.: (سنن النسائى: ٤۹۰۹، مسند أحمد ٦٤٦٤، السنن الكبرى للبيهقى ٥۳۰/٦، المعجم الكبير للطبرانى ٤٥٤/۱٥، شعب الإيمان للبيهقى ۱۰٦۷۸، صحيح ابن حبان ۳٦۲، مسند ابى يعلى ۳۸۰٥، مسند عبد الله بن مبارك ۳۰/۱، كما فى المجمع).

او دَ ((الناس)) نه مراد مسلمانان دي، ځکه بل حديث کښې په دې تصريح راغلې. حافظ ابن حجر رحمه الله ليکلي: والمراد من الناس هنا المسلمون، كما فى الحديث الموصول،

فهم الناس حقيقة عند الإطلاق، لأن الإطلاق يحمل على الكامل، ولا كمال فى غير المسلمين، فتح البارى.

علامه سندهی رحمه الله دَ سنن النسائی په حاشیه لیکی :

قيل الألف واللام فيه للكمال نحو زيد الرجل أى الكامل فى الرجولية.

دویم جواب : داچی دَ (الناس) نه کافران هم مراد شی، لیکن په دی وخت کښی به(د نورو دلائلو په وجه) یو شرط ورسره ملحوظ وی هغه داچی (مګر په حق باندی)۔لکه څرنګه چی د مسلمان باره کښی هم دا شرط ملحوظ دی۔ مطلب داچی کوم شرعی احکام او قوانین دی نو هغه به وړباندی جاری کولی شی، هسی د شریعی حق نه غیر ضرورنه به ورته نۀ ورکول کیږی۔

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : ويمكن حمله على عمومه على إرادة شرط وهو إلا بحق مع أن إرادة هذا الشرط متعينة على كل حال لما قدمته من استثناءِ إقامة الحدود على المسلم، فتح البارى : (٤٥/١).

د یو حدیث مطلب

سوال : ددی حدیث څه مطلب دی : (نعم العبد صهيب، لولم يخف الله لم يعصه) ؟
او ددی حدیث سند څرنګه دی ؟ (یوه خور، مدرسه عائشه للبنات،مسجدحمزه)۔

جواب : د سند په لحاظ دا موضوع (یعنی دَ ځانه جوړ شوی) حدیث دی۔شیخ البانی رحمه الله په سلسلۃ الاحادیث الضعیفۃ والموضوعۃ رقم (١٠٠٦) کښی لیکی : لا أصل له، ددی هیڅ اصل نشته۔

علامه سیوطی رحمه الله په الدر المنتشرۃ فی الاحادیث المشتهرۃ ص (٢٠) کښی لیکی : لا اصل له۔امام عجلونی په کشف الخفاء کښی لیکی : اشتهر فى كلام الأصوليين وأصحاب المعانى وأهل العربية من حديث عمر وبعضهم يرفعه إلى النبى ﷺ، وذكر البهاء السبكى أنه لم يظفر به بعد البحث.

(یعنی دا حدیث ډیر مشهور شوی، اصولیان، اهلِ معانی او عربیت والائی په خپلو خبرو کښی راوړی۔ چی دَ عمر رضی الله عنه نقل کولی شی، او څوك ئی مرفوع کړ،

سبکی ویلی : ما د ډیر تالاش نه پس هم ددی سندی پیدا کړی۔(کشف الخفاء للعجلونی).
په تذکرۃ الموضوعات کښی هم دیته بی بنیاده حدیث ویل شوی۔

الغرض : دا حدیث هسی یو موضوعی روایت دی۔نو کله چی موضوعی شو، نو ددی په مطلب پوهیدل هم ضروری نۀ دی۔البته که څوك ئی مطلب غواړی نو امام قتیبه رحمه الله ویلی چی ددی مطلب دادی چی صهیب رضی الله عنه د الله سره دومره محبت لری او د الله نه دومره حیاء کوی که د الله د عذاب ویره نۀ وی نو بیابه هم دۀ د الله نافرمانی نۀ کوله۔(السلسلة الضعیفة : ۱۰۰٦).

۱۸/جمادی الأولیٰ ۱٤۲۸هـ

آیا انسانان شیطانان او پیریان لیدی شی؟

سوال : آیا انسانانو لپاره دا کیدی شی چی شیطانان او پیریان ووینی ؟

جواب : د شیطانانو او پیریانو لیدل ممکن دی، قرآن، حدیث او زمونږ ستاسو تجربه او مشاهده هم په دی ګواه ده۔په دی خبره دلائل دادی :

۱ – وعن أبی بکرة أنه کان له ...... من تمر فکان ینقص فحرسته ذات لیلة، فإذا هو بدابةٍ شبه الغلام المحتلم فسلم علیه فردّ علیه السلامَ فقال : ما أنتِ جنیّ أم إنسی ؟ قال : جنی، قال : فناولنی یدك فناوله یده فإذا یده ید کلب وشعره شعر کلب... الحدیث. (صحیح الترغیب والترهیب : ۱٦۱/۱، ۸۹/۲، ورواه النسائی والطبرانی وابن حبان).

پدی حدیث کښی دا خبره ذکر شوی چی ابوبکره رضی الله عنه پیری لیدلی،خبری ئی هم ورسره کړی، دده غه پیری داسی لاسونه وولکه د سپی پنجه(پښه)۔

۲ – وعن أبی هریرة رضی الله عنه مرفوعًا : إن عفریتًا من الجن تفلت البارحة لیقطع علیّ الصلاة، فأمکننی الله منه .... وأردت أن أربطه إلی ساریة من سواری المسجد حتی تصبحوا وتنظروا إلیه. (متفق علیه).

پدی حدیث کښی دا خبره ذکر شوی چی نبی کریم ﷺ د شیطان تړلو اراده کړی او غوښتل ئی چی د مدینی خلك ئی ووینی۔

۳ – وعن أبی سعید رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : إن نفرًا من الجن أسلموا

بالمدينة فإذا رأيتم أحدًا فاحذروه ثلاث مراتٍ.

(رواه أحمد كما فى صحيح الجامع ٢٢٤١، وسنده صحيح).

پدی حدیث کښی ((فإذا رأيتم)) پدی خبره دلیل دی چی پیریان لیدل کیدی شی۔

٤ – وعن عائشة رضى الله عنها مرفوعًا : إنى لأنظر إلى شياطين الجن والإنس قد فروا من عمر. (رواه الترمذى وسنده صحيح كما فى صحيح الجامع ٢٤٩٦، والكامل لابن عدى، مشكاة : ٦٠٤٠).

پدی حدیث کښی دی رسول الله ﷺ خپله شیطانان لیدلی چی د عمر رضی الله عنه نه منډی وهی۔

٥ – وقال رسول الله ﷺ : رصوا صفوفكم وقاربوا بينهما وحاذوا بالأعناق، فو الذى نفسى بيده : إنى لأرى الشيطان يدخل من خلل الصف كأنها الحذف – يعنى أولاد الضأن الصغار– (رواه النسائى وابن خزيمة وابن حبان ونحوه فى رواية أبى داود وأحمد ١٣٧٦١، وسنده صحيح).

پدی حدیث کښی داخبره ذکر شوی چی رسول الله ﷺ فرمائی زه شیطان وینم چی د لماڅه د صفونو تر مینځ ننه وځی۔

٦ – وعن أبى هريرة رضى الله عنه قال : وكلنى رسول الله ﷺ بحفظ زكاة رمضان فأتانى آتٍ فجعل يحثو من الطعام فأخذته فقلت : لأرفعنك إلى رسول الله ﷺ... فقص الحديث، فقال : إذا أويت إلى فراشك فاقرأ آية الكرسى لم يزل معك من الله حافظ، ولا يقربك الشيطان حتى تصبح، فقال النبى ﷺ : صدقك وهو كذوب، ذاك شيطان.

(رواه البخارى فى فضاء القرآن : ٥١٠، ونحوه فى (٣٢٧٥).

وفى رواية أخرى : تعلم من تخاطب مذ ثلاث ليال يا أباهريرة ؟ قال : لا، قال : ذاك شيطان.

(كتاب الوكالة للإمام البخارى، ورواه ابن خزيمة وغيره أيضًا).

پدی حدیث کښی داخبره ذکر شوی چی ابو هریره رضی الله عنه شیطان لیدلی، هغه ئی رانیولی، خبری یی هم ورسره کړی۔

٧ – وعن ابن مسعود رضى الله عنه : إن الشيطان ليتمثل فى صورة الرجل فيأتى القوم فيحدثهم بالحديث من الكذب، فيتفرقون فيقول الرجل منهم : سمعت رجلاً أعرف وجهه ولا أدرى ما اسمه يحدث. (رواه مسلم فى المقدمة، كمافى المشكاة رقم : ٤٨٦٣).

د ابن مسعود رضی اللـه عنه نه روایت دی چی شیطان کله د انسان په شکل شی څه خلکوته راشی هغوی ته د دروغو بیان او خبری وکړی، خلك لاړشی نو په هغوی کښی یوکس ووایی ما د یو سړی نه واوریدل شکل یی پیژنم لیکن نوم یی راته ندی معلوم ،داسی خبری یی کولی۔

٨ – وعن عبد الله بن عمرو قال : قال رسول الله ﷺ : يخرج الدجال في أمتي فيلبث فيهم أربعين... قال : فيتمثل الشيطان فيقول : ألا تستجيبون ؟ فيأمرهم بالأوثان فيعبدونها... الحديث. (رواه أحمد : ٦٥٥٥، والحديث صحيح على شرط مسلم كما قال شعيب الأرناووط).

یعنی د جال چی کله راووځی شیطان به د انسان په شکل شی خلکو ته به وایی دده خبره ولی نه منئ۔

د مذکوره صحیح احادیثو نه معلومه شوه چی پیریان او شیطانان پخوا هم لیدل شوی او اوس هم لیدل کیږی، او په راتلونکی وخت کښی به هم لیدل کیږی۔ کوم خلق چی وائی چی پیریان او شیطانان نه لیدل کیږی، نو هغوئ ددغه صحیحو احادیثو نه هم خلاف کوی او دَ مشاهدی نه هم۔

دی باره کښی مونږ ته بی شماره صحیح واقعات معلوم دی۔ چی په هغی کښی پیریان لیدل شوی۔ احادیث او آثار السلف رحمه الله خوپه دی باره کښی بی شماره دی۔

څوك چی د قرآن کریم ددی آیت نه د پیریانو په نۀ لیدلو استدلال کوی : ﴿ انهم يراكم من حيث لا ترونهم ﴾ نو هغوئ ددی آیت تفسیر په خپل ناقص عقل سره کوی۔ د شرعی نورو دلائلو ته نۀ ګوری او نۀ ئی تطبیق کولی شی۔ او د دغه مذکوره دلائلو او واقعاتو نه انکار کوی او یا په کښی د تاویل په نوم تحریف کوی۔

په آیت کښی مقصد دادی چی تاسی دوئ په خپلو اصلی شکلونو باندی نشئ لیدلی۔ اوکله چی هغوئ دَ انسانانو یا حیواناتو وغیره شکلونه اختیار کړی – څرنګه چی دَ مذکوره حدیثونو نه معلومه شوه – نو بیا لیدل کیږی۔

البته په آخرکښی ددی خبری وضاحت هم پکار دی چی دی باره کښی اکثره خلك ډیر افراط کوی ، دوی هرکش ته د پیریانو نوم ورکوی، خصوصا دم ګرو او تعویذګرو خو د خپلی دوکاندارئ لپاره د وهم پرستئ بازار ګرم کړی ، په کور کلی کښی هر داسی کاریا

واقعه په پیریانو تعبیروی کومه چی معمولی شان، خلاف عادت وی یا ئی په سبب کښی څه باریکی وی۔
الله تعالیٰ دی مونږ د هر قِسم افراط او تفریط نه په خپل فضل او کرم سره وساتی، آمین

عبد الحنان نوم کیښودل

سوال : عبد الحنان نوم ایښودل څه حکم لری ؟ ځینی ملګری وائی چی حنان په اسماء حُسنیٰ کښی نشته، مهربانی وکړئ دی باره کښی تفصیلا فتویٰ راکړئ۔دارنګه دَ حنان معنیٰ هم ذکر کړئ۔جزاکم الله خیرا۔

جواب : دَ انس رضی الله عنه نه روایت دی : کنت جالسًا مع النبی ﷺ فی المسجد ورجل یصلی، فقال : اللهم إنی أسألك بأن لك الحمد لا إله إلا أنت الحنان المنان، بدیع السموات والأرض، یا ذا الجلال والإكرام، یا حیُّ یا قیّومُ اسألك، فقال النبی ﷺ : دعا الله باسمه الأعظم الذی إذا دعی به أجاب، وإذا سئل به أعطی. (احمد : ۱۵۸/۳، ابن حبان : ۱۷۵/۳).
(ددی دواړو په تعلیق کښی شعیب الأرناؤوط لیکی : اسناده قویّ).
(ومثله فی جلاء الأفهام دَ ابن القیم رحمه الله (۱/۱۵۲، بتعلیقه)۔
(ددی دواړو نه علاوه دا حدیث په مسند الحارثی، زوائد الهیثمی ۲/۹۶۰، کنز العمال : ۱/۶۸۰، اسد الغابہ ۱/۱۲۲۴، الکامل فی الضعفاء ۳/۳۶۸، المجروحین لابن حبان ۳/۱۳۲، طبع دار الحلب وغیره کښی هم راغلی)۔

په فتح القدیر دَ شوکانی (۲/۳۹۰، در منثور : ۳/۶۱۴، معارج القبول وغیره) کښی دا هم راغلی چی : وقد اخرج الطبرانی وابن ابی الدنیا کلاهما فی الدعاء، یعنی دا حدیث طبرانی او ابن ابی الدنیا دواړو په کتاب الدعاء کښی راوړی)۔

دا حدیث مشکوٰۃ (۲۲۹۰) کښی هم راغلی او حواله ئی په ترمذی، ابوداود، نسائی او ابن ماجه ورکړی۔لیکن په مذکوره کتابونو کی دَ (حَنان) لفظ نشته۔

په کنز العمال (۲/۲۶۰، ۳۹۴۴، کښی دا حدیث د ابو طلحه رضی الله عنه په روایت مرفوعا هم ذکر شوی۔

۲ – دَ ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی :

إن لله تسعة وتسعين اسمًا من أحصاها كلها دخل الجنة : أسأل الله الرحمن الرحيم الإله الرب الملك القدوس، السلام المؤمن المهيمن العزيز الجبار المتكبر، الخالق البارئ المصور الحكيم العليم السميع البصر، الحيّ القيوم الواسع الطيف الخبير الحنان المنان.. الحديث).

مذکوره حدیث امام حاکم په المستدرك : ١/ ٦٢ (٤٢) الهندی په کنز العمال (١/ ٦٧٦، بیهقی په الاعتقاد (١/ ٥١)، ابو الشیخ اصفهانی او ابن مردویه په خپل تفسیر کښې راوړی۔دارنګه امام سیوطی په جامع الصغیر کښې نقل کړی۔

خو دا حدیث ضعیف دی، ددی په سند کښې (عبد العزیز) راغلی، ددهٔ په باره کښې اګرکه حاکم په المستدرك کښې لیکلی چی (ثقی) لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله وربانـدی رد کوی فرمائی : متفق علیه علی ضعفه وهّاه الشیخان وابن معین۔(ددهٔ په ضعف باندی اتفاق دی، بخاری، مسلم او ابن معین ورته ضعیف ویلی۔

علامه ذهبی رحمه الله لیکی : بل ضعفوه، علماؤ ورته ضعیف ویلی، ثقه نهٔ دی۔

امام البانی رحمه الله هم دی حدیث ته ضعیف ویلی، وګوره ضعیف الجامع رقم (٤٧٥٦)۔

٣ – په مسند ابو حنیفه کښې یو حدیث په دی سند سره راوړی :

وبه عن حماد عن إبراهيم عن علقمة عن عبد الله بن مسعود قال : جاء رجل إلى رسول الله ﷺ فقال : يا رسول الله ! هل يبقى أحد من الموحدين في النار ؟ قال : نعم، يبقى رجل في قعر جهنم ينادي بالحنان المنان، ويرفع صوته بهما.. الحديث.

(د رسول الله ﷺ نه یو کس تپوس وکړو، آیا په جهنم کښې به دَ موحدینو نه څوك پاتی کیږی ؟ ورته وی فرمایل : هو، یو کس به دَ جهنم په بیخ کښې وی، الله تعالیٰ ته به په یا حنان یا منان سره چغی وهی۔(چی الله به ئی وروسته په دی دعاء سره را وباسی)۔

دَ مذکوره حدیث سند هم ضعیف دی، ځکه مسند ابو حنیفه دَ سره ثابت نهٔ دی۔بلکه چا دَ ځانه امام ابو حنیفه رحمه الله ته منسوب کړی۔

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په مجموعیٔ الفتاوی (١٦/ ٣١٧) کښې هم دَ حنان نوم د الله تعالیٰ صفت شمارلی۔امام قرطبی رحمه الله په خپل تفسیر (١١/ ٨٣) ﴿ وحنانا من لدنا ﴾، تفسیر روح المعانی ٩/ ١٢٢، ١٦/ ٧٢، الاعتقاد للبیهقی : ١/ ٦٧، ٣٧٧،

کښې هم (حنان) د الله تعالیٰ صفت ګڼلی۔
حاصل د مسئلی داشه چی (حنان) د الله تعالیٰ صفت دی چی الله تعالی حنان یعنی د مهربانی ښښتن دی، ولی په ((اسماء حسنیٰ)) کښې داخل ندی۔ په روایاتو کښې د اختلاف له وجې عبدالحنان نوم ایښودل ندی پکار۔ حنان چی په کومو روایتونو کښې راغلی نو اول خو د هغو په ثبوت کښې اختلاف دی که چیرته ثابت شی نو هلته هم د صفت په طریقه ذکر شوی۔ علماء پدی خبره پوهیږی چی د صفت او نوم ترمینځ فرق شته۔

د معاویه رضی الله عنه، شان (فضائل)

سوال: آیا دَ معاویه بن ابی سفیان – رضی اللہ عنهما – په فضیلت کښې څهٔ روایتونه راغلی؟
جواب: دَ امیر معاویه رضی اللہ عنه خو دا فضیلت کافی دی چی هغه دَ رسول اللہ ﷺ صحابی دی، هغه په خپلو سترګو د رسول اللہ ﷺ د صحابیت شرافت او فضیلت حاصل کړی۔ کوم بی شماره فضائل چی رسول اللہ ﷺ دخپلو صحابه کرامو متعلق بیان کړی نو هغه معاویه رضی الله عنه هم شامل دی۔
لیکن دَ جناب امیر معاویه رضی الله عنه په باره کښې خصوصی فضائل هم راغلی، لکه د عبد الرحمن بن ابی عمیره – رضی اللہ عنه – نه روایت دی چی نبی کریم ﷺ دَ معاویهؓ باره کښې وفرمایل: اللهم اجعله هاديًا مهديًّا واهد به.
(ای اللہ! دی هدایت کونکی، هدایت کړی شوی وګرځوه، او ددهٔ په ذریعه بل چاته هم هدایت وکړی)۔
(الترمذی ۳۸٤۲، البخاری فی التاریخ الکبیر: ۲٤۰/۵، ابن سعد فی الطبقات: ٤۸۷/۷، ابن أبی عاصم فی الآحاد والمثانی: ۳۵۸/۲، رقم: ۱۱۲۹، احمد فی المسند ۲۱٦/٤، رقم: ۱۷۸۹۵، وسنده صحیح کما فی الصحیحة ۱۹٦۹).
۲ – د ابن عباس – رضی اللہ عنهما – نه روایت دی چی ما دَ ماشومانو سره لوبی کولی چی په دی دوران کی رسول اللہ ﷺ راغی، زهٔ پو هه شوم چی رسول اللہ ﷺ ماته راغی،

نـو په دی وجه زهٔ د دروازی شاته پټ شوم۔رسول الله ﷺ زهٔ یی په ملا باندی ووهلم او راته وی فرمایل : اذهب فادع لی معاوية، وكان يكتب الوحى. الحديث.

(لاړ شه ماته معاویه را وغواړه، او معاویه (رضی الله عنه) به وحیه لیکله)۔

(دلائل النبوی للبیهقی : ۲۴۳/۲، وسنده صحیح ومثله فی صحیح مسلم ۲۶۰۴)۔

۳ – پـه یو بل حدیث کښی دی : قـدم عيينـة بن حصن والأقرع بن حابس على رسول الله ﷺ فسألاه فأمر معاوية فكتب لهما ما سألا.

(الترغيب والترهيب : ۸۰۵، وسنده صحيح، كما فى صحيح الترغيب والترهيب).

(عیینـه بـن حـصـن او اقـرع بن حابس (رضی الله عنهما) رسول الله ﷺ ته راغلل چی دویٔ د څهٔ شیٔ سوال ترینه وکړو، نورسول الله ﷺ معاویهؓ ته امر وکړو چی دویٔ څه شی غوښتلی دی هغه ورته ورکړه، نو معاویهؓ ورته دا لیکل وکړل)۔

ددی دواړو حـدیثـونـو نـه مـعـلـومـه شوه چی معاویه – رضی اللّٰہ عنه – ته اللّٰہ تعالیٰ دا سعادت ورکړی وو، چی دهٔ به دَ رسول الله ﷺ لپاره وحیه لیکله۔

حـافـظ ابـن عساکر په تاریخ دمشق (۳۸/۶۲) کښی د معاویه – رضی اللّٰہ عنه – په باره کښی لیکی :

خال المؤمنين، وكاتب وحى ربّ العالمين، أسلم يوم الفتح.

(دَ مـؤمـنـانـو مـامـا، دَرب العالمین دَ وحیی لیکونکی، دهٔ دَ مکی دَ فتح په ورځ اسلام قبول کړی)۔

٤ – دَ عـربـاض بـن ساریه، ابن عباس، عبد الرحمن بن ابی عمیرۂ المزنی او مسلمۂ بن خالد – رضی اللّٰہ عنهم اجمعین – نه روایت دی چی رسول الله ﷺ دَ معاویهؓ په باره کښی فرمایلی : اللهم علّم معاوية الكتاب والحساب، وقه العذاب.

(یا اللّٰہ ! معاویه ته حساب، کتاب ور زده کړی، او دَ عذاب څخه ئی وساتی)۔

(ابـن خـزيـمة ۱۹۳۸، ابن حبان ۲۲۷۸، احمد ۱۲۷/٤، فضائل الصحابة ۱۷٤۸، البزار ۲۷۲۳،ابن عسـاكـر فـى تـاريـخ دمشـق ٦٨۲/١٦، ابـن عـدى فـى الـكامل ٤۰٦/٦، ١٦۲/٥، البخارى فى التاريخ ۳۲۷/٤، الذهبى فى السير ۳۸/۸، وسنده صحيح، كما فى سلسلة الأحاديث الصحيحة : ۳۲۲۷).

٥ – عبـد اللّٰہ بن ابی ملیکۂ المکی رحمه الله نه روایت دی چی معاویه – رضی اللّٰہ عنه

- د ماخوستن نه پس یو رکعت وتر وکړو، بیادا خبره چا ابن عباس رضی الله عنه ته وکړه چی معاویه - رضی الله عنه - خو یورکعت وتر وکړو؟ ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل : أصاب إنه فقیه.

(دهٔ (یعنی معاویه - رضی الله عنه -)صحیح کار کړی، ځکه چی دی فقیه دی)۔(صحیح البخاری،باب ذکر معاویه رضی الله عنه : ۳۷٦۵).

٦ - عبد الله بن عباس - رضی الله عنهما - به فرمایل :

ما رأیتُ رجلًا أخلقَ - یعنی للملك - من معاویة.

(ما دَ امارت لپاره - دَ خلفاءِ راشدینوؓ نه پس - دَ معاویه - رضی الله عنه - نه علاوه بل هیڅوك زیات مناسب نهٔ دی لیدلی)۔

(تاریخ دمشق ۱۲۱/٦۲، عبد الرزاق ٤۵۳/۱۱، رقم : ۲۰۹۸۵، وسنده صحیح).

۷ - دَ امام معافی بن عمران موصلی المتوفیٰ ۱۸۵ هـ رحمه الله نه دَ امیر معاویه رضی الله عنه په باره کښی تپوس وشو ؟ نو هغهٔ وفرمایل : دَ رسول الله ﷺ دَ صحابه کرامورضی الله عنهم سره هیڅوك هم نشی برابریدی۔معاویه - رضی الله عنه - دَ رسول الله ﷺ صحابی، دَ ام المؤمنین ام حبیبی رضی الله عنها ورور، دَ رسول الله ﷺ کاتب، او دَ الله تعالیٰ دَ وحی (دَ لیکلو) امین دی۔

(تاریخ بغداد : ۲۰۹/۱، تاریخ دمشق : ۱٤۳/٦۲، وسنده صحیح).

۸ - امیر معاویه - رضی الله عنه - ته الله تعالیٰ دا فضیلت هم ورکړی وو چی رسول الله ﷺ فرمایلی : اوّلُ جیشٍ من أمتی یغزون البحرَ قد أوجبوا.

(زما په امت کښی چی اول لښکر په سمندر کښی جهاد کوی، نو هغو (مجاهدینو) دَ خپل ځانونو لپاره جنت واجب کړو)۔(صحیح البخاری : ۲۹۲٤).

دا جهاد دَ سیدنا معاویه - رضی الله عنه - په دورِ خلافت کښی شوی، وګوره :صحیح بخاری ٦۲۸۲، ٦۲۸۳).

او په دی مبارك جهاد کښی سیدنا امیر معاویه - رضی الله عنه - شامل وو۔ (صحیح بخاری : ۲۷۹۹).

په مسند دَ بقی بن مخلد کښی دَ سیدنا معاویهؓ نه یو سل او دری شپیتهٔ (۱٦۳)

حدیثونه روایت کړی شوی۔وګوره : أعلام النبلاء ۱٦٢/۳ .

دَ جناب امیر معاویه – رضی الله عنه – په فضیلت کښی نور ډیر احادیث او آثار راغلی چی مونږ په دی باندی اکتفاء کوو۔

دَ صحابه کرامو– رضی الله عنهم –په مینځ کښی چی کوم اجتهادی اختلافات او جنګونه شوی، نو هغوئ په دی کښی معذور او مأجور دی۔ مونږ ته په دی باره کښی په مکمل طورسره سکوت پکار دی۔

امام احمد رحمه الله فرمائی :

من تنقص أحدًا من أصحاب رسول الله ﷺ فلا ينطوى إلا على بليةٍ، وله خبيئة سوءٍ إذا قصد إلى خير الناس وهم أصحاب رسول الله ﷺ.

(کوم کس چی د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو– رضی الله عنهم–کښی د یو صحابی تنقیص کوی، نو دا کس په خپل ځان کښی مصیبت را نغاړی او ددهٔ په زړهٔ کښی پټه بدی پرته ده، ځکه چی دی په بهترینو خلکو – چی دَ رسول الله ﷺ صحابه دی – حمله کوی)۔

(السنة للخلال : ٤٧٧/٢، رقم : ٧٥٨، وإسناده صحيح).

دَ ابراهیم بن میسری الطائفی رحمه الله نه روایت دی چی عمر بن عبد العزیز رحمه الله هیڅ انسان په دُرو باندی نهٔ دی وهلی، سیوا دَ هغه یو انسان نه چی چابه معاویه رضی الله عنه ته کنځلی کولی، هغه به ئی اتیا دُری وواهٔ۔ (تاريخ دمشق : ١٤٥/٦٢، وسنده صحيح). (دَ نور تفصیل لپاره مجلیِ الحدیث ص : ٦٠، رقم : ٢٩، رمضان المبارک ١٤٢٧، ته رجوع وکړه)۔

الله تعالیٰ دی زمونږ په زړونو کښی دَ صحابه کرامو – رضی الله عنهم – سره مینه پیدا کړی، او الله تعالیٰ دی مونږ دَ هغوئ تابعدار جوړ کړی)۔

﴿ ربنا اغفر لنا ولاخواننا الذين سبقونا بالايمان ولا تجعل فى قلوبنا غلا لّلذين آمنوا ﴾

١٤٢٧ هـ رمضان المبارک : ٨۔

//////

دَ ایصال ثواب مسئله

سوال : مړو ته دَ ایصال ثواب څه حکم دی؟

جواب : مړی ته دَ اِیصالِ ثواب په باره کښی اول د مقدمی په ډول دا خبره یاد ساتل پکار دی چی دی باره کښی به مونږ د الله تعالیٰ او د هغهٔ دَ رسول ﷺ د حکم او اِجازی مطابق چلیږو، پدی کښی د خپله ځانه یا دَ خپل عقل او رائی مطابق عمل کول مردود دی۔ دَ الله تعالیٰ په حضور کښی د اشان عمل برباد اوضائع وی۔

من عمل عملاً ليس عليه أمرنا فهو ردّ.

فمن رغب عن سنتي، فليس مني (بخاری وغيره).

(مړی ته چی د کومو شیانو فائده او ثواب رسیږی نو هغه په لاندی ډول دی :

۱ – **دعاء :** دَ دعاء په باره کښی حکم دادی چی که مړ شوی کس کافر او مشرك نهٔ وی، نو هغهٔ ته دعاء کول مسنون او غوره عمل ده۔ د دعاء اجر او فائده مړی ته رسیږی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ والذين جاؤا من بعدهم يقولون : ربنا اغفر لنا ولإخواننا الذين سبقونا بالإيمان ولا تجعل في قلوبنا غلاً للذين آمنوا ربنا إنك رؤف رحيم ﴾.

(او هغه خلك چی دَ صحابه کرامو – رضی الله عنهم – نه روسته راغلل چی دوئ وائی : ای زمونږ ربه ! مونږ ته او زمونږ هغه ورونو ته مغفرت وکړی چی هغوئ زمونږ نه په ایمان کښی وړاندی والی کړی، او زمونږ په زړونو کښی دَ مومنانو لپاره حسد او کینه مهٔ راولی، ای ربه! تهٔ شفقت کونکی مهربان یی)۔

په دی آیت کښی دَ ژوندو له طرفه مړو ته د مغفرت دعاء شوی۔

دارنګه حدیث کښی راځی چی کله نجاشی (دَ حبشی بادشاه اصحمه) مړ شو، نو رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته وفرمایل :استغفروا لأخيكم.

(بخاری، کتاب الجنائز ۱۳۲۷، النسائی : ۲۰٤۱، وغیرهما).

(دخپل مسلمان ورور لپاره دَ بخښنی دعاء وغواړئ)۔

دارنګه دعائشی رضی الله عنها نه روایت دی :

إن النبي ﷺ كان يخرج إلى البقيع فيدعو لهم فسألته عن ذلك فقال : إني أمرت أن أدعو

لهم. (مسند أحمد : ٦/٢٥٢).

(چې نبي كريم ﷺ به بقيع (هديرى) ته وتلو او مړو ته به ئې دعاء غوښتله، ماورنه ددې په باره كښې پوښتنه وكړه، نو وى فرمايل : ماته - د الله له طرفه - حكم شوى چې زه د دوئ لپاره دعاء وغواړم).

دارنګه په ګڼرو احاديثو كښې دَ زيارۀ القبور دعاء راغلې، چې په هغې كښې مړو ته د استغفار او بخښنې غوښتنه شوې.

ليكن كافر او مشرك ته دعاء كول او يا د دعاء مطالبه كول قطعاً صحيح نۀ ده.الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ ما كان للنبي والذين آمنوا أن يستغفروا للمشركين ولو كانوا أولي قربى من بعدما تبين لهم أنهم أصحاب الجحيم ﴾. (التوبة : ١١٣).

(د پيغمبر ﷺ او مؤمنانو لپاره دا جائز نۀ دى چې دوئ دې د مشركانو لپاره دَ بخښنې دعاء وغواړى اګر كه خپلوان ئې ولې نۀ وى، پس ددې نه چې دوئ ته واضحه شي چې دغه خلق دوزخيان دي - يعنى مشركان، كافران - دي).

۲ - صدقه جاريه:

مړى چې دده لهَ مرګه پس اجر او ثواب رسيږى نو هغه صدقه جاريه ده.

صدقه جاريه ډيرشيان جوړيدى شي، مثلاً دۀ په خپل ژوند كښې چاته علم وربښودلى وى، يائې نيك اولاد پريښې وى چې هغۀ ورته دعاء كوى، قرآن كريم په ميراث كې پريښودل، مسجد جوړول، مسافر خانه جوړول، نهر او كوهى جوړول، ونې بوټې كرل، مړۀ شوى سنت بيا را ژوندى كول، په جهاد كښې دَ پهرې په حالت كښې وفات كيدل، او داسې نورعملونه شو. چې دا ټول نيك اعمال دي چې انسان ته ئې دَ مرګ نه پس هم اجر او ثواب رسيږي.

لكه حديث كښې راغلي : عن أبي هريرة قال : قال رسول الله ﷺ : إن مما يلحق المؤمن من عمله وحسناته بعد موته علمًا علمه ونشره، وولدًا صالحًا تركهى، ومصحفًا ورّثهُ، أو مسجدًا بناه، أو بيتًا لابن السبيل بناه، أو نهرًا أجراه، أو صدقةً أخرجها من ماله فى صحته وحياته : يلحقه بعد موته.

(رواه ابن ماجة باب ثواب معلم الناس الخير ٢٤٢، وابن خزيمة ٢٤٩٠، والبيهقى ٣٤٤٨، كما

في صحيح الجامع للإمام الألباني (٢٢٣١).

وعن فضالة بن عبيد أن رسول الله ﷺ قال : كل ميتٍ يختم على عمله إلا المرابط، فإنه ينمو له عمله إلى يوم القيامة، ويؤمّن من فتّان القبر.

(أبوداود كتاب الجهاد، باب فضل الرباط ٢٥٠٠، ترمذي، ابن حبان، حاكم).

په يو بل حديث کې راځي :

إذا مات الإنسان انقطع عملهُ إلا من ثلاثةٍ : إلا من صدقةٍ جاريةٍ، أو علمٍ ينتفع به، أو ولدٍ صالح يدعو له. (رواه مسلم وأحمد والترمذي وغيرهم).

(کله چې انسان مړ شي نو دَ هغهٔ عمل بند شي، البته دَ دريوشيانو ثواب هغهٔ ته دغسې ور روان وي : صدقه جاريه، يا نفع مند علم او يا نيك عمله بچې چې هغه ورته دعاء کوي).

٣۔ دَ مړي دَ ولي له طرفه د خپل مړي لپاره د روژو قضائي راوړل : که په يو مړ شوي کس باندې روژې وي، نذري يا قضائي بنا بر اختلاف، نو ددهٔ اولياء ئې ددهٔ له طرفه نيولې شي۔ حديث کښې دي :

من مات وعليه صيام، صام عنه وليُّه. (بخاري، مسلم).

(څوك چې مړ شي او دَ هغهٔ په ذمه روژې وي نو ددهٔ له طرفه دې ددهٔ ولي (نزدې خپلوان) روژه ونيسي).

په يو بل حديث کې راځي : عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمائي :

جائت امرأة إلى رسول الله ﷺ فقالت : يا رسولَ الله ! إن أمي ماتت وعليها صوم نذر، أفأصوم عنها ؟ قال : أرأيتِ لو كان علىٰ أمِّكِ دين فقضيته أكان يؤدّىٰ ذلك عنها ؟ قالت : نعم، قال : فصومي عن أمُّكِ. (رواه البخاري ومسلم).

(يوه ښځه رسول الله ﷺ ته راغله او عرض ئې وکړو، يا رسول الله ! زما مور په داسې حال کښې مړه شوه چې په هغې باندې نذري روژې وي ، آيا زهٔ د هغې له طرفه روژې نيولې شم؟ وي فرمايل : آيا تا په دې خبره سوچ کړې چې که ستا په مور باندې چيرته قرض واى او هغه تا اداء کړې وي، نو آيا دابه دَ هغې له طرفه اداء کيدې؟ هغې وويل : هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : نو بيا دَ خپلې مور له طرفه روژې

ونیسه)۔
پدی هکله دَ ابن عباس، عائشی - رضی الله عنهما - او نور محققینو علماؤ مذهب دادی چی صرف نذری روژی ورنه نیولی شی، او فرض قضائی روژی اولیاء نشی نیولی۔
(إعلام الموقعین: ٥٥٤/٣، کتاب الجنائز للألبانی).
٤ - **د مړی له طرفه صدقه کول**:
دَ مړی اولیاء - (نزدی خپلوان) - دَ خپل مړی له طرفه صدقه هم ورکولی شی۔ حدیث کښی راځی: عن عائشة رضی الله عنها أن رجلًا قال للنبی ﷺ: إن أمی افتتلت نفسها وأراها لو تکلمت تصدقت، أفأتصدق عنها؟ قال: نعم، تصدّق عنها. (متفق علیه).
(عائشه رضی الله عنها فرمائی: یو سړی نبی کریم ﷺ ته عرض وکړو، زما مور ناڅاپه وفات شوه، او زما خیال دی چی که هغی خبری اتری کړی وی نو دَ صدقی حکم به ئی کړی وو۔ آیا زهٔ د هغی له طرفه صدقه ورکولی شم؟ وی فرمایل: هو، دَ هغی له طرفه صدقه ورکړه)۔
بل حدیث کښی دی: عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی:
إن رجلًا قال لرسول الله ﷺ: إن أمَّهُ توفیت أینفعها إن تصدقتُ عنها؟ قال: نعم، قال: فإن لی مخرافًا فأنا أشهدك أنی قد تصدقت به عنها. (بخاری، کتاب الوصایا).
دارنګه دَ ابو هریره - رضی الله عنه - نه روایت دی:
إن رجلًا قال للنبی ﷺ: إن أبی مات وترك مالًا ولم یوص وهل یکفر عنه إذا أتصدق عنه؟ قال: نعم. (یو سړی نبی کریم ﷺ ته عرض وکړو، زما پلار مړ شو او مال ئی پریښود او هیڅ وصیت ئی اونهٔ کړو، نو آیا که زهٔ دَ هغهٔ له طرفه صدقه ورکړم نو دَ هغهٔ له طرفه به دا کفاره جوړه شی؟
رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هو۔(مسلم، نسائی، بیهقی، احمد، ابن ماجه)۔
یو بل روایت کښی راځی چی: ((عاص بن وائل وصیت کړی وو چی ددهٔ له طرفه دی سل غلامان آزاد کړی شی، نو ددهٔ زوی هشام پنځوس غلامان آزاد کړل، لیکن ددهٔ بل زوی عمرو اراده وکړه چی باقی پنځوس هم آزاد کړی، نو هغه دی باره کښی د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه، چی زما پلار د سلو غلامانو آزادولو وصیت کړی چی په هغی کی

پـنځوس غلامان (زما ورور) هشام آزدا کړی، لیکن پنځوس پاتی دی، آیا زهٔ ئی د هغه له طرفه آزاد کړم ؟

نبی کـریـم ﷺ ورتـه وفـرمـایـل : کـه چیـری هغه مسلمان وای او تاسو دَ هغهٔ له طرفه غـلامـان آزاد کـړی وی یـا مو دَ هغهٔ له طرفنه صدقه ورکړی وای یا مو تری حج کړی وای، نو هغهٔ ته به ددی ثواب رسیدلی وو)۔

په ابوداود (۳۸۸۳، بیهقی ۲۷۹/٦، احمد : ۱۸۲/۲، کښی راځی :

أما أبوك فلو كان أقر بالتوحيد فصمت وتصدقت عنه نفعه ذلك.

(کـهٔ ستـا پـلار د تـوحیـد اقـرار کـړی وای او تـاسـو د هـغـهٔ لـه طرفـه روژی نیولی وی یا موصدقه کړی وای، نو دی کار به هغهٔ ته فائده ورکړی وی)۔

ددی احادیثو نه معلومه شوه چی دَ اولاد له طرفه دَ مور پلار لپاره صدقه ورکول، ددوی مور پلار ته فائده ورکوی۔ په دی شرط چی مور پلار یی مسلمانان وی۔

خو پـدی ټـولـو احـادیثـو کښـی دَ اولاد له طرفه خپل مور پلار ته صدقه راغلی، دَ پردو خـلـکو لپاره صدقی او خیراتونه ورکول چی هغویَ ته ئی ثواب ورسیږی، دا کار بی دلیله دی، پـه قـرآن او حـدیـث کښـی داسـی هیڅ دلیل نشته چی دَ بل چا لپاره په کښی صدقه ورکړی شوی وی۔

قاضی شوکانی رحمه الله لیکی :

وأمـا غيـرُ الـولـدِ فـالظاهر من العمومات القرآنية أنه لا يصل ثوابه إلى الميت، فيوقف عليها حتى يأتي دليل يقتضي تخصيصها. (نيل الأوطار : ١٠٥/٤، باب وصول ثواب القرب إلى الموتى).

٤ - **دَ مړی له طرفه حج کول** :

کـه چـا حـج نـهٔ وی کـړی یـائـی پـه ځان حج نذر کړی وی، نو ددهٔ خپلوان ئی ددهٔ له طرفه کولی شی : حدیث کښـی راځی :

عـن ابن عباس أن امرأةً من جهينة جائت إلى النبي ﷺ فقالت : إني أمي نذرت أن تحجَّ فلم تـحُـجَّ حتـى مـاتت أفأحجُّ عنها ؟ قال : نعم، حُجِّيْ عنها، أرأيتِ لو كان على أمِّكِ دين أكنتِ تـقـضيـه ؟ اقـضـوا الله فالله أحقُّ بالوفاءِ. (بخاری، ۱۸۵۲، نسائی، مسند احمد). یـوه ښـځه رسـول الله ﷺ تـه راغـلـه او عـرض ئـی وکـړو، یا رسول الله ! زما مور په خپل ځان حج نذر

منلی وو داسی حال کښی مړه شوه چی په هغی باندی حج پاته شو ، آیا زهٔ د هغی له طرفه حج کولی شم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : هو دهغی له طرفه حج وکړه آیا تا په دی خبره سوچ کړی چی کـه ستا په مور باندی چیرته قرض وای نو هغه به تا اداء کول؟ د الله قرض اداء کړئ ، الله تعالی ددی ډیر حقدار دی چی د هغه د نذر پوره والی دی وشی ۔

د الله عزوجل لپاره د ((خدای)) نوم استعمالول

سوال : دَ الله تعالیٰ لپاره د ((خدای)) لفظ استعمالول څه حکم لری ؟

جواب : دی باره کښی پدی خبره پوهیدل پکاردی چی د الله رب العزت نومونه توقیفی دی، د توقیف مطلب دادی چی د شارع نه به زده کولی شی، د ځانه به په الله باندی نوم نه کیښودل کیږی۔کوم اسماء او نومونه چی شارع خپل ځان ته ایښی وی، صرف او صرف هغه به دَ الله عز وجل لپاره اخستل کیږی۔ځکه د الله ټول اسمونه حُسنیٰ دی۔الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ولله الأسماء الحسنی، فادعوه بها ﴾.

(او د الله ډیر ښائسته نومونه دی، نو تاسو په هغوسره الله رابلئ)۔

او زمونږ عقلونه ددی ادراك نشی کولی چی الله لره کوم نوم مناسب دی اوکوم مناسب نهٔ دی، لهذا دَ الله په نومونو کښی به توقف کولی شی۔ چی کوم نومونه الله خپل ځان ته ایښودلی وی هغه به الله ته مونږ اخلو۔الله فرمائی :

﴿ ولا تقف ما لیس لك به علم ﴾.

(دَ کومی خبری علم چی تاته نهٔ وی، هغی پسی مهٔ روانیږه)۔

او فرمائی : ﴿ وأن تقولوا علی الله مالا تعلمون ﴾.

(او دا – ئی هم حرام کړی – چی تاسو په الله باندی هغه خبری جوړی کړئ دَ کومو چی تاسو ته علم نشته)۔

نو دا آیتونه دلیل دی په دی خبره چی دَ الله نومونه توقیفی دی، او الله ته به دَ ځانه نومونه نهٔ کیښودلی کیږی۔

ملا علی قاری رحمه الله فرمائی : لأن أسماء الله توقیفیة، ثم قال : وفی المعالم عند قوله تعالی : ﴿ وذروا الذین یلحدون فی أسمائه، الإلحاد فی أسماالله تسمیته بمالا ینطق به کتاب

ولا سنة. (المرقاة : ٧٣/٥).

(ځکه د الله نومونه توقیفی دی، بیا فرمائی :

په معالم التنزیل کښی دَ الله تعالیٰ ددی قول : وذروا الذین یلحدون الخ په تفسیر کښی لیکلی چی : دَ الله په نومونو کښی الحاد دادی چی هغهٔ ته هغه نوم کیښودلی شی کوم چی په کتاب او سنت کښی نهٔ وی راغلی۔

معالم التنزیل (٢١٨/٢) کښی دی : قال أهل المعانی : الإلحاد فی أسماءِ اللّٰه تسمیته بمالم یتسم به ولم ینطق به کتاب ولا سنة رسول اللّٰه ﷺ وجملته أن أسماءَ اللّٰه تعالیٰ توقیفیة، فإنه یسمی جوّادًا ولا یسمّٰی سخیًّا وإن کان فی معنی الجواد ویسمّٰی عالمًا ولا یسمی عاقلاً.

(مفسرینو ویلی دی چی د الله په نومونو کښی الحاد دادی چی الله ته هغه نوم کیښودلی شی کوم چی په کتاب اوسنت کښی نهٔ وی راغلی، لنډه دا چی دَ الله تعالیٰ نومونه توقیفی دی، ځکه چی الله ته جوّاد ویلی کیږی، لیکن سخی ورته نهٔ ویلی کیږی، اګرکه سخی هم په معنیٰ د جوّاد سره دی۔دارنګه عالم ورته وائی او عاقل ورته نهٔ ویلی کیږی)۔

شیخ محمد بن صالح العثیمین رحمه الله فرمائی :

ولأن تسمیته تعالی بمالم یسمّ به نفسه أو إنکار ما سمی به نفسه جنایة فی حقه تعالیٰ، فوجب سلوك الأدب فی ذلك والإقتصار بما جاء به النصُّ.

(ځکه چی الله تعالیٰ ته هغه نوم کیښودل کوم ئی چی خپل ځان ته نهٔ دی ایښی، یا دَ الله تعالیٰ دَ هغه نوم نه انکار کول کوم ئی چی خپل ځان ته ایښی دی، دا دواړه کارونه دَ الله په حق کښی جنایت کول دی، لهذا دی باره کښی الله سره دَ ادب سلوك کول پکار دی، او صرف په هغه څه اکتفاء پکار ده کوم چی په نص کښی راغلی)۔

القواعد المثلیٰ له ص : ١٣، وشرح أسماء اللّٰه الحسنی ١٤، لسعید بن علی القحطانی).

په تیسیر العزیز الحمید ص (٦٣٧) کښی دی :

وکذلك سائر أسماءِ اللّٰه تعالیٰ یجری علی نفسه أکملها وأحسنها ولا یقوم غیره مقامه، فأسماؤه أحسن الأسماءِ، کما أن صفاته أکمل الصفات، فلا نعدل عمّا سمّٰی به نفسه إلی غیره، کما لا یتجاوز عمّا وصف به نفسه ووصفه به رسوله ﷺ إلی ما وصفه به المبطلون

وهـنـا يتبيـن لك خطأ مَن أطلق عليه اسم الصانع والفاعل والمربى ونحوهما، لأن اللفظ الذى أطلقه سبحانه على نفسه وأخبر به عنها أتمُّ من هذا وأكمل وأجل شأنًا.. الخ.

(یعنی : دَ الله ټول نومونه کامل او ښائسته دی، او ددی نومونو په ځای بل نوم نهٔ قائمیږی، ځکه چی دَ الله نومونه په ټولو نومونو کښی ښائسته دی لکه څرنګه چی دَ هغهٔ صفات دَ هر چا دَ صفاتو نه کامل ترین دی، ددی وجی نه هغهٔ چی کوم نومونه ځان ته ایښی دی، مونږ د هغی نه نورو نومونو ته اعراض نهٔ کوو، دارنګه کوم صفتونه چی هغهٔ دخپل ځان لپاره بیان کړی یا دَ هغهٔ رسول ﷺ بیان کړی، دا نومونه پریښودل او باطل پرستو چی کوم نومونه هغهٔ ته ایښی دی هغه ورته ایښودل، دا کار مونږ نهٔ کوو۔

دی نه به تاته دَ هغه چا خطاء معلومه شی چی هغوئ الله ته صانع، فاعل او مربی او داسی نور نومونه ایښی دی۔ ځکه کوم الفاظ چی الله تعالیٰ دخپل ځان لپاره استعمال کړی، هغه ډیر زیات کامل، شاندار او پوره دی)۔

علامه دکتور شمس الدین رحمه الله په (موقف الماتریدیہ : ٢/٤٠٢) کښی فرمائی :

خامسًا : أسماء اللّٰه تعالىٰ توقيفية فلا يجوز تسمية اللّٰه تعالىٰ إلا بما ورد فى الكتاب والسنة.

(دَ الله تعالیٰ نومونه توقیفی دی، الله تعالیٰ ته په کتاب او سنت کښی دَ راغلو نومونو نه علاوه نور نوم کیښودل جائز نهٔ دی)۔

نو دا ټول دلائل ددی خبری دی چی الله لره به هغه نومونه ایښودلی شی چی هغهٔ دخپل ځان لپاره ایښی وی۔ نو ((خدا)) یا ((خدای)) نومونه الله تعالیٰ خپل ځان ته نهٔ دی ایښی۔ نو مونږ ته هم جائز نهٔ دی چی الله ته ((خدا)) یا ((خدای)) ووایو۔

پاته شوه دا خبره چی ((اسرایل)) کښی (یل) دَ الله نوم دی، او حال دا چی دا اسماء حسنیٰ نهٔ دی، نو ددی دوه جوابه دی :

١ – اول دا چی دا چا ویلی چی دا اسماء حسنیٰ نهٔ دی، ممکنه ده چی ددی نومونو ویلو حکم هغوئ ته شوی وی، خو مونږ ئی ځکه الله ته نهٔ اخلو چی مونږ ته الله او د هغهٔ رسول ﷺ نهٔ دی ویلی۔

٢ – هغه ((شرع دَ مَن قبلنا)) ده، او په هغی باندی مونږ نه یو مأمور شوی۔ او دَ الله رب العزت ډیر زیات نومونه دی، په یو کښی هم لفظِ ((خدای)) نشته۔ لهذا ددی لفظ نه ځان

ساتل پکار دی، او ددی پهِ ځای د ((اللّٰه)) لفظ ویل پکار دی۔
بـلـه دا چـی : د ((خـدای)) لـفـظِ یـو عـجـمی، اِیرانی لفظ دی۔او بل طرفته د ((اللّٰه)) لفظِ قـرآنـی لفظ دی۔په دی کښی څلور حرفونه دی۔نو ددی په ویلو باندی انسان ته څلویښت نیـکـئ ورکړی کیـږی ۔نـو پـه دی نیـکیـو کښـی بی رغبتـی کـول او یـو عـجـمی لفظ استعمالول دَ بدقِسمتئ نه علاوه بل هیڅ نهٔ دی۔
دا مسـئـلـه فـضیـلیۀ الشیـخ ابـو مـحـمـدامیـن الـلـه حـفظه الله ورعاه په الدین الخالص ۷/۵، ۳۳کښی تفصیلا لیکلی چی زیات تفصیل ئی هلته وګورئ ۔
شبعان ۱۱/ ۱۳۲٤ هـ

دَ سورت الفیلۀ یو غلط تفسیر

سوال : (دَ قـرآن پـلـوشی) پـه نوم تفسیر کښی مو دَ سورت الفیل تفسیر ولوستهٔ، په دی کښـی ددی مشهور تفسیر نه سیوا په بله طریقه تفسیر شوی،لکه په دی تفسیر کښی لیـکلی چی ابرهه د مرغانو په واسطه نهٔ دی هلاك شوی، بلکه دَ ابرهه سره قریشو جنګ کـړی۔ قـریشـو ورتـه کـمیـن نیـولـی وو، دَ چـریکی (ګوریلا) جنګ په طریقه ئی ابرهه ته شکست ورکړو۔
دا مـفِسـر لیـکـی چـی مرغان صرف د دوئ د غوښو خوړلو لپاره راغلی وو۔ اوکوم چی مشهور تفسیر دی چی دوئ د مرغانو په واسطه هلاك شول او مرغانو په مښوکو او پنجو کښـی کاڼی راوړل او په دوئ ئی ورګذار کړل، په دی تفسیر کښی دی چی دا تفسیر کول په یو څو وجو سره ضعیف دی۔
۱ – ددی څه سـنـد نشتـه او کـوم سندونه چی راغلی نو هغه ضعیف دی ځکه واقدی وغیره روایت کړی۔
۲ – په قرآن کریم کښی (حجارۀ) ذکر شوی او (حجارۀ) غټو کاڼو ته وائی۔او مرغان خو غټ کاڼی په مښوکو او پښو کښی نشی وړلی۔(حصاۀ) خو ندی ذکر شوی !!
۳ – دا خبره دَ عـقـل نه لری ده چی نور قبائل دی د ابرهه سره جنګ کوی او قریش چی اصلاً دوئ دَ مکی متولیان وو، دوئ دی جنګ نهٔ کوی!!۔

٤ – دا تفسیر د قرآن کریم ددی آیت سره هم نهٔ لګیږی چی : ﴿ ولولا دفع الله الناس بعضهم ببعض ﴾ - (یعنی د الله قانون دادی چی د بعضو خلکو مخ نیوی د بعضی نورو خلقو په واسطه کوی)۔ نو دلته که د مرغانو په واسطه هلاکول راشی نو د (بعضهم ببعض) په واسطه خو دفاع اونشوه !!

دَ مذکوره تفسیر په باره کښی مونږ ته تفصیلاً وضاحت راکړئ۔او دا خبره هم واضحه کړئ چی بل چا هم داسی تفسیر کړی اوکه نه ؟ الله تعالی دی ستاسو په عمر کښی برکت واچوی۔

جواب : دَ هر څه نه مخکی دا خبره یاد لرل پکار دی چی د قرآن کریم تفسیر په خپله رائ سره کول، په قرآن او حدیث کښی قیاسونه او عقلیات جنګول ډیر زیات بد انجام لری۔مونږ مؤمنان یو، ایمان بالغیب لرو، ((ایمان بالغیب)) زمونږ د ایمان مرکزی رکن دی۔

مذکوره تفسیر مونږ کتلی، دا تفسیر زمونږ د علم مطابق په ټول امت کښی سیوا د یو څو غیرمعتبرو کسانو نه بل هیچا نهٔ دی کړی۔

(۱) د سورت الفیل د دغه مشهور تفسیر نه خلاف دا شان تفسیر، مشهور منکرِ حدیث غلام احمد پرویز (ملعون) په خپل کتاب مفهوم القرآن ص (١٤٨٤) کښی لیکلی۔دهٔ لیکلی چی ای قریشو! تاسو غرونو ته وختلئ او په دوئ مو کانړی ویشتل شروع کړل۔او ابرهه غوښتل چی په یوه پټه لار راشی، ددی لپاره چی هغه پټاسو ناڅاپی حمله وکړی، خو مونږ دَ دوئ دا تدبیر ناکام کړو، او د دوئ له پاسه مو مرغان را والوزول، نو په دی سره دوئ رسوا او ښکاره شوه . . . (مفهوم القرآن ص : ١٤٨٤)۔

(۲) دویم کس : جاوید احمد غامدی دی : چی دا هم یو سرکاری آلهٔ کار، او دَ قرآن او سنت دَ فهم نه عاری مُلا ده۔دهٔ هم دَ سورتِ فیل همدا شان تفسیر کړی۔

(۳) دریم کس : د تفسیر فراهی مصنف دی۔

(٤) څلورم کس حکمتیار صاحب دی، ده په خپل تفسیر (دَ قرآن پلوشی) کښی دا تفسیر لیکلی۔او استدلالات ئی همغه دی، کوم ته چی تاسو اشاره کړی۔

د قرآن پلوشی په مجموعی لحاظ ښهٔ تفسیر دی، البته ددی سورت تفسیر ئی ډیر خطاء

او غلط کړی۔ددی د خطائی او غلطۍ ډیر وجوهات دی۔دَ سند، تاریخ، سیرت او دَ عربی ګرامر ،ددی هرڅه په لحاظ غلط دی چی ددی تفصیل داسی دی :

دوئ لیکلی : ﴿ ترمیهم ﴾ . ۔تا ویشتل، یعنی دَ (ترمیهم) فاعل ئی مرغان نهٔ دی ګرځولی۔نو دا تفسیر په څو وجو غلط دی :

١ – رسول الله ﷺ کله اصحاب الفیل ویشتلی ؟ دا واقعه خو دَ هغهَ دَ پیدائش نه مخکی راپیښه شوی وه۔

اوکهٔ څوك ووایی چی رسول الله ﷺ خو لیدلی هم نهٔ دی، نو بیا څرنګه ورته (الم تر) ویلی شوی !؟

جواب : دا قیصه دومره مشهوره او متواتره وه چی علم وربانْدی دَ رؤیت (لیدنی کتنی) درجی ته رسیدلی وو۔عربو د ډیر شهرت په وجه دا کال ((مبدأ تاریخ)) ګرځولی وو۔(ولد فلان عام الفیل) او داسی نوری خبری به ئی کولی۔(کما فی کتب السیری)۔

دَ قرآن کریم په بی شماره ځایونو کښی (رؤیت) دَعلم په معنیٰ کښی استعمال شوی۔

﴿ ألم تر إلى الذين خرجوا من ديارهم وهم ألوف حذر الموت ﴾. (بقره : ٢٤٣).

﴿ ألم تر إلى الملأ من بنى إسرايل من بعد موسىٰ ﴾. (بقره : ٢٤٦).

﴿ ألم تر إلى الذى حاج إبراهيم فى ربه ﴾. (بقره : ٢٥٨).

﴿ ألم تر كيف ضرب الله مثلاً ﴾. (إبراهيم : ٢٤).

﴿ ألم تر كيف فعل ربك بعادٍ ﴾. (فجر : ٨٩).

الغرض : رؤیت دَعلم په معنیٰ راځی۔لیکن دَ ویشتلو نسبت ورته څرنګه شوی ؟!!

که هغوئ وائی چی ویشتل قریشو کړی، خو نسبت ئی رسول الله ﷺ ته کړی۔جواب : مونږ وایو ددی وجه څه ده ؟ اوکه دَ قریشو ویشتل مراد وی نو بیا خو (ترمون) (تاسو ویشتل) ویل پکار وو۔بل دا چی قریشو چیرته جنګ کړی ؟ په کوم صحیح تاریخ کښی دی ؟ ځکه تاریخ کښی خو دا دی چی قریشو جنګ نهٔ ده کړی، عبد المطلب خپل اوښان غوښتل !!

نو چی کله دا روایت ثابت نهٔ شو ځکه واقدی روایت کړی ؟ نو ددهٔ (دَ قرآن دپلوشی د لیکونکی)دا روایت په کوم صحیح سند روایت شوی چی قریشو جنګ کړی، په کوم

صـحیـح سیـرت کښـی راغـلـی ؟ دَ سیرت او تاریخ تپول کتابونه وګوره، په یو کښی هم دا نشتـه چی قـریشـو جـنـګ کړی۔اوکه څوك دعویٰ لری نو هغه دی خپله خبره په صحیح سند سره ثابته کړی او یا دی معتمد سیرت او تایخ پیش کری۔

کـه بـالـفـرض دوئ څه حواله پیش کړی نو بیابه ددی صحیح تاریخ سره څه کوو چی په هغه کښی دا راغلی چی قریشو جنګ نۀ دی کړی او ویشتل مرغانو کړی؟ دا خو یواځی ددوی دعویٰ ده چی دا روایتونه ثابت نۀ دی۔

پـاتـی شـوه دا خبره چی حـکـمتیـارصـاحب وائـی : دا کـیـدی نشـی چی نور قبائل دی جنګیدلی وی او قریش دی جنګ نۀ کوی!!۔

جـواب دادی : چی ددی دَ ناممکن کیدو وجه څه ده ؟ دویم دا چی : تپول قبائل خو دَ ابرهه سره نۀ دی جنګیدلی بلکه بعضو ورسره جنګ کړی، او بعضو ورسره مدد کړی۔

بـل سـوال دادی چی ستا د خبری مطابق قریش کوم ځای ذکر دی؟ دارنګه پدی صورت کښـی بـه(تـرمیهـم) پـه تـرکیب کښی څۀ واقع کیږی ؟ ده خو (رمی) د قریشو صفت واقع کړی او حال دا چی دا د مرغانو صفت دی۔

د قرآن کریم اعراب کونکو لیکلی چی :

﴿ ترمیهم ﴾ فی موضع النصب علی النعت لطیرٍ أو علی الحال منها.

(ترمیهم : جمله صفت ثانیه ده لپاره دَ (طیر)، او یا حال ده)۔

مـطـلـب : دی تپولو اعراب کونکو (رمی) صفت د مرغانو ګرځولی۔او هیچا هم (رمی) صفت دَ رسول الله ﷺ او یا د قریشو نۀ ګرځولی۔وګوره :

(١) الفرید فی إعراب القرآن المجید للهمدانی :٧٣٠/٤، (٢) الجدول فی إعراب القرآن وصرفه :٣٤٦/١٣، لمحمد صافی. (٣) التبیان فی إعراب القرآن ١٣٥/٢، ابو البقاء العبکری. (٤) مشکل إعراب القرآن ٨٤٤/٢، لأبی محمد علی بن أبی طالب العیسی. (٥) الروض الریان فی أسئلة القرآن ٦٣٠/٢، لـلشیـخ شـرف الـدیـن الـحسینـی بن سیلمان بن الریان. (٦) إعراب القرآن الکریم وبیانه :٥٨٧/١٠، لمحی الدین الدرویش. (٧) الترکیب المفصل لکتاب الله المرتل).

الـغـرض : پـه تـرکـیـب کښـی هـم (رمی) صفت د مرغانو ګرځول شوی، لکه د اعراب د معتبرو کتابونو حوالی موذکر کړی۔

نوکه (رمی) یعنی ویشتل قریشو کړی وی نو بیا دَ (ترمیهم) اعراب به څرنګه وی ؟ که ځوك څه خودساخته ترکیب وکړی نو پدی وخت کی دده نه زموږ سوال دادی چیدا اعراب کوم معتبر عالم کړی ؟ پکار ده چی حواله ذکر کړی شی ؟!

بله دا چی : په تاریخ او سیرت کښی راغلی چی قریشو جنګ ونۀ کړو او مرغانو وربا ندی کانی ور وویشتل۔ددی تاریخ سره به څه کوو ؟ دا خو د تاریخ او سیرت یو کتاب، دوه کتابه نۀ دی، بلکه دا خو په لسګونو کتابونو کښی ذکر ده۔او مقابل کښی ئی هیڅ نشته، اوکه چیری وی هم نو هغه به ضعیف او خطاء وی۔

دَ تاریخ او دَ سیرت دَ کتابونو حوالی په مختصر ډول دادی :

(١) دلائل النبوة للبيهقي : ١١٥/١. (٢) دلائل النبوة لأبي نعيم ص ١٠٠. (٣) السيرة النبوية لابن هشام : ٤٩/١. (٤) البداية والنهاية لابن كثير : ١٧٠/٢. (٥) السيرة النبوية فيضوءِ القرآن والسنة : ١٦٧/٢. (٦) المنتظم في تاريخ الأمم والملوك ١٢١/٢، لابن الجوزى. (٧) الكامل فى التاريخ لابن الأثير ٤٤٢/١. (٨) تاريخ ابن خلدون : ٧١/٢، لعبد الرحمن بن خلدون. (٩) تاريخ مكة المكرمة ص : ٢٠٢. (١٠) الروض الأنف فى تفسير السيرة النبوية لابن هشام ٦٤/١، (١١) السيرة النبوية للإمام أبى محمد عبد الملك بن هشام المعافرى : ٧٤/١. (١٢) المواهب اللدنية بالمنح المحمدية : ٩٩/١، للقسطلانى. (١٣) الطبقات الكبرى لابن سعد : ٩١/١. (١٤) أخبار مكة للأزرقى تفصيلًا، ص : ١٣٤).

نو دا ټول تاریخ دان او اهلِ سیرت لیکی چی قریشو جنګ نۀ دی کړی۔نو اوس مونږ څرنګه دَ یو تفسیر (فراهی) په خوله پسی روان شو ؟ دا کوم انصاف دی ؟

تاریخ پوهانو، مفسرینو اوسیرت پوهانو لیکلی چی دا قیصه دَ تواتر حد ته رسیدلی۔ وهذا خبر متواتر وشهرته تغنى عن الإسناد.

وګوره : تفسير القاسمى : ٢٥٧/١٧، روح البيان : ٥١٠/١٠، وجميع التفاسير۔

بلکه شیعه مفسرینو هم لیکلی : اجمع الرواى۔(الميزان فى تفسير القرآن : ٣٦٢/٢٠، مصنفه شیعی)۔

او عجیبه خو داده چی دا ډول غلط تفسیر کونکی نوره ټوله تاریخی قصه منی او نقل کوی ئی هم،لیکن دا یو خبری پکښی نه منی، حال دا چی په همدغه تاریخ کښی ورسره دا هم ذکر دی چی قریشو جنګ نۀ دی کړی۔نو که دا روایت ثابت نشی نو بیا نوره

قیصه څرنګه نقل کوی ؟ بیا خو دویته پکار دی چی صرف دَ (اصحاب الفیل) ترجمه کوی، نور اخوا به دا نۀ وائی چی اصحاب الفیل بیت الله ورانوله۔یوی قبیلی جنګ وکړو، بیا بلی، بیا بلی......

د سیرت، تاریخ، او تواتر سره سره مونږ ددی واقعی **سندونه** هم راغونډ کړی چی تفصیل ئی دادسی دی :

١ – قال أخبرنا محمد بن عمرو بن واقد الأسلمی، أخبرنا عبد الله بن عثمان بن أبی سلیمان عن أبیه قال : حدثنا محمد بن عبد الرحمن بن البیلمانی عن أبیه قال : وحدثنا عبد الله بن عمرو بن زهیر الكعبی عن أبی مالك الحمیری عن عطاء بن یسار قال وحدثنا محمد سعید الثقفی عن یعلی بن عطاء عن وکیع بن عُدس عن عمه أبی رزین العقیلی قال : وحدثنا سعید بن مسلم عن عبد الله بن کثیر عن مجاهد عن ابن عباس.. فذکر القصة.
(الطبقات الکبری لابن سعد : ٩٠/١).

٢ – حدثنا ابو الولید قال : حدثنی جدی قال : حدثنا سعید بن سالم عن عثمان بن ساج عن محمد بن إسحاق قال : کان من حدیث الفیل فیما ذکره بعض أهل مکة عن سعید بن جبیر وعکرمة عن ابن عباس ... (أخبار مکة وما جاء فیها من الآثار للفاکهی ص : ١٣٤).

٣ – أخبرنا أبو زکریا العنبری، ثنا محمد بن سلام، ثنا إسحاق بن إبراهیم أنبانا جریر، عن قابوس بن أبی ظبیان عن أبیه عن ابن عباس رضی الله عنهما قال : أقبل أصحاب الفیل... (هذا حدیث صحیح الإسناد ولم یخرجاه، المستدرك للحاکم : ٥٨١/٢، وقال فی التلخیص : صحیح، قاله مصطفی عبد القادر عطاء).

٤ – أخبرنا أبو عبد الله الحافظ قال : حدثنا ابو العباس محمد بن یعقوب قال : حدثنا أحمد بن عبد الجبار العطاردی، قال : حدثنا یونس بن بکیر عن محمد بن إسحاق بن یسار قال : فذکر القصة تفصیلًا. (دلائل النبوة للبیهقی : ١١٥/١).

٥ – وقد حدثنا محمد بن عبد الله الحافظ، إملاءً قال : حدثنا ابو زکریا العنبری قال : حدثنا محمد بن عبد السلام قال : حدثنا إسحاق بن إبراهیم قال : حدثنا جریر، عن قابوس بن أبی ظبیان عن أبیه عن ابن عباس قال : أقبل أصحاب الفیل... (دلائل النبوة للبیهقی : ١٢٢/١).

٦ – وأخبرنا علی بن محمد بن عبدان قال : حدثنا أحمد بن عبید قال : حدثنا ابو عمران

التستری قال : حدثنا عبد اللّٰه بن معاویة الحمصی قال : حدثنا ثابت بن یزید قال : حدثنا هلال بن خباب عن عکرمة عن ابن عباس قال : جاء أصحاب الفیل.. (دلائل النبوة للبیهقی : ١/١٢٤).

٧ - حدثنا أبو زرعة حدثنا عبد اللّٰه بن محمد بن أبی شیبة، حدثنا ابو معاویة عن الأعمش عن ابی سفیان عن عبید بن عمیر اللیثی قال : لما أراد اللّٰه أن یهلك أصحاب الفیل بعث علیهم طیرًا. (الحدیث) تفسیر ابن ابی حاتم : ١٠/٣٤٦٦٦).

٨ - قال الطبری : حدثنا به ابن حمید قال : حدثنا سلمة بن المفضل قال : حدثنا ابن إسحاق.. أن أبرهة.. (تفسیر الطبری : ٢٤/٦٣٥).

نودا واقعه مختلف سندونه لری، یوائې واقدی نۀ ده روایت کړې چې هغه کذاب دی۔ بله خبره دا هم یاد لره چې واقدی په تاریخ کښې منل شوی شخص دی۔په احادیثو کښې د احتیاط په بناء دده روایت قبول نۀ دی۔

دا رنګه د ابن عباس رضی الله عنهما نه هم په صحیح سندونو سره نقل شوی۔

(کما قال ابن کثیر والحاکم وصححه الذهبی والحافظ ابن حجر فی التلخیص والبیهقی والإمام الطبری رحمهم اللّٰه).

دوئ دا هم لیکی چې دا څرنګه کیدی شی چې نور قبائل دی دَ ابرهه سره جنګ کوی او قریش دی ورسره جنګ نۀ کوی ؟!!

جواب : دا کیدی شی اوکه نشی کیدی خو دلته قریشو داسی کړې۔کوم قبائل چې دَ قریشو نه غیر وو نو ابرهه او اصحاب الفیل سره چا جنګ کړې او چا ورسره مدد کړې۔لیکن قریشو ورسره نۀ جنګ کړې اونۀ ئې ورسره د بیت الله په ورانولو کښې مدد کړې۔ بلکه هغوئ چې کله د جنګ کولو نه عاجز شو نو دوه نور کارونه ئې وکړل :

١ - اصحاب الفیل ته ئې دَ مال ورکولو پیش کش کړې چې مونږ به دومره مال درکړو، لیکن تاسو بیت الله مۀ ورانوئ۔(لکه په تاریخ کښې دی :

فعرضوا علی ابرهة ثلث أموال تهامة علی أن یرجع ولا یهدم البیت - السیرة النبویة لابن کثیر : ١/٣٤، المنتظم فی تاریخ الأمم والملوك لابن الجوزی، وغیره)۔

٢ - دوئ د الله تعالی څخه ئې د بیت الله د حفاظت او د ابرهه او د هغۀ د لښکرو د هلاکت لپاره ډیری سختی دعاګانی غوښتلی۔لکه سیرت او تاریخ کښې دا هم راغلی

چې عبد المطلب او نور کسان راغلل او د بیت الله په دروازه او غلاف (پردو) پورې ئې ځان اونښلول او ډیر عجیبه عجیبه الفاظ ئې په دعاء کښې وویل چې هغه ټول په تاریخ کښې ذکر دی۔

نو په دعاګانو کښې هم ډیر زور دی، خصوصا چې کله په داسې وخت کښې اوشي چې انسان مغلوبه اوکمزوری شي، او مظلوم هم وي۔

نو دا هیڅ بعیده نۀ ده چې کله د الله تعالیٰ کور بالکل د مینځه وړل کیږي، د الله د کور بالکل نام او نښان ختمیږي (مسلمانان یا هر هغه څوك چې د الله کور ساتي) د کفارو د جنګ نه عاجزه شي، د هغوئ په بله طریقه هم د مخنوی کوشش اوکړي شي، کله ډیر مال ورته پیش کړي شي چې د الله کور مۀ ورانوئ۔ کله هغوئ ته ښیرې وکړي شي، د الله د کور د حفاظت لپاره دعاګانې هم وکړي شي۔ او کافران دغسې په خرمستئ کښې په خپل ضد کلك ولاړ وي، نو دا بعیده نۀ ده چې الله ئې په یو داسې عذاب آخته کړي چې د نورو خلکو لپاره ئې عبرت وګرځوي او په یو داسې فوج سره ئې تباه او برباد کړي چې هغه خپله ډیر کمزوری وي لکه مرغان، ماشي او داسې نور۔

دوئ لیکي: چې دا دَ ﴿ ولولا دفع الله الناس ﴾ سره نۀ لګیږي!!

جواب: بالکل لګیږي هیڅ ضدیت ورسره نۀ لري۔ او دا هیڅ بعیده نۀ ده چې یو قوم دومره په خرمستئ اوضد کښې راشي څه کسان ورسره جنګ هم وکړي – لکه دا خبره دوئ په خپله هم لیکلې او تاریخ او سیرت هم ورنه ډك دی – چې دَ اصحاب الفیل سره نور بعضې قبائل جنګیدلي۔ چې ددې نه پس ئې په خپل نورو مخلوقاتو ووهي۔

لکه بدر ته ملائك راغلي وو، هغوئ جنګ کړې وو۔ ډیرو احادیثو کښې راغلي چې د رسول الله ﷺ حفاظت په بعضې ځایونو کښې ملائکو کړې۔ دَ بعضې نورو مؤمنانو حفاظت هم الله بغیر دَ (الناس) نه کړې وي، یعنې کله چې عاجزه شوي وي، نو بیائې الله تعالیٰ په خپله حفاظت کړي۔

دا سوال خو بیا دَ موسیٰ علیه السلام په قیصه هم کیږي چې هلته خو دَ بني اسرایلو دفع په (بعضهم ببعض) سره نۀ ده شوې۔ بلکه هغوئ تیښته کړې۔ فرعون او دَ هغه فوج چې کله نه قراریدل او ضد ئې کولو نو په (بعضهم ببعض) باندې هلاك او تباه نشو، بلکه

پدی صورت کښی د الله تعالیٰ بیا یو بل قانون هم شته چی هغه دَ هغهٔ غضب او خپله غصه ده، په دغه قانون هلاك او تباه کیږی ـ
دارنګه دَ نوح علیه السلام قوم دَ الله په عذاب هلاك شوی۔
دارنګه قومِ صالح، قوم ثمود، قوم لوط، اصحاب الایکه، قوم تبع په څه سره هلاك شوی ؟ عیسی علیه السلام اود هغه ملګرو د خپل کافرقوم سره څه کړی ؟ هغوئ ولی ورسره ترمرګه پوری ونهٔ جنګیدل ؟ حال دا چی عیسی علیه السلام الله پاك ژوندی آسمان ته پورته کړو۔
مطلب دا چی دا ضروری نهٔ ده چی خامخا به جنګ کوی اګرکه هیڅ وسع او طاقت د مقابلی ئی هم نه وی۔کله چی دَ (بعضهم ببعض) سره کار ونشی نوبیا د الله غضب،انتقام او قدرت خو چیرته نهٔ دی تللی۔
دارنګه دوئ لیکلی چی : دلته (حجاری) (کانی) ذکر شوی او (حصای) یعنی تیکرکی نهٔ دی ذکر شوی۔نوددی دوه جوابه دی :
۱ – جواب : حجاره جنس دی په غټ او وړوکی کانی ئی اطلاق کیږی۔لکه حدیث کښی دَ موسیٰ علیه السلام په واقعه کښی دی : فانطلقت الصخرة بثيابه. (مسند أحمد : ۲۹۲/۲). فوضع ثيابه على صخرة. (مسند أحمد :۳۳٤/۲).
او بل حدیث کښی راځی : ففرّ الحجر بثوبه. (بخاری، مسلم، ترمذی، مسند أحمد : ۳۱۵/۲).
نو دلته غټ ګټ ته حجر ویلی شوی، او کله په وړوکی باندی دَ (صخری) اطلاق کیږی۔
الغرض : ددی ډیر مثالونه شته چی دَ (حجَر) اطلاق په غټ کانی باندی راغلی۔دارنګه د (حجَر) اطلاق کله په وړوکو کانړو (حصای) باندی هم راغلی، او وړوکو کانړو ته هم (حجر) ویلی شوی۔لکه حدیث کښی دی : عن عبد الرحمن بن يزيد قال : كنت مع عبد الله – يعنى ابن مسعود رضى الله عنه – حتى انتهى إلى جمرة العقبة فقال : ناولنى أحجارًا، قال : فناولته سبعة احجارٍ... الحديث.
دلته وړوکو کانړو ته (احجار) ویل شوی۔ځکه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه هم دَ (حصای) په ځای (احجار) ذکر کړو، او دَ هغهٔ شاګرد هم وړوکو کانړو ته (حجاری) وویل۔او دا په حج کښی دَ جمرو(شیطانانو) دَ ویشتلو واقعه ده۔ (مسند أحمد : ۴۲۷/۱، الفتح الربانی

شرح مسند أحمد ١٧٨/١٢).

تردى چې لږ غټ وى هغې ته هم احجار ويل شوى.لکه حديث کښې دى : فأمرنى أن آتيه بثلاثة أحجارٍ. (بخارى، مسلم).

يعنى په کومو کانړو چې استنجاء کولی شی نو هغو ته هم احجار ويل شوى.

دريم داچې : که دلته دَ (حجارۍ) نه وارۀ کانى مراد نشى بلکه لږ غټ کانى چې په مچلوغه کښې راځى يا دومره چې استنجاء وربادى کيدلى شى، نو دا هم صحيح ده.

ځکه هيڅ بعيده نده چې مرغانو دومره اندازه کانى راختستى وى چې هغه دَ (حصاۍ) نه لږ غټ وى.ځکه مرغان خو ددى نه ډير درانۀ شيان هم اوچتولى شى.خصوصاً کوم مرغان چې دلته پدى واقعه کى ذکر دى چې دا داسى مرغان وو چې د دوئ پنجى داسى وى لکه د سپى پنجى، اوږدى مرئ ئى وى، غټ غټ وو.

اګرکۀ دا تعيين دَ مرغانو ضرورى نۀ دى چې څومره مرغان وو، څرنګه رنګ ئى لرلو، کما قال السيد قطب رحمه الله فى ظلال القرآن، اونۀ د کانړو تعيين ضرورى دى چې څومره کانى وو.

قرآن کريم کښې صرف مرغان ذکر شوى، د هغوئ اندازه نۀ ده ذکر شوى، او تاريخ او سيرت کښې هم مختلف قِسم ښودل شوى.

د قريشو ددى قول نه معلوميږى چې دا مرغان غالباً غټ وو:

قيل لعبد المطلب : هل تعرفها ؟ قال : والله لا أعرفها ماهى بنجديةٍ ولا تهاميةٍ، ولا عربيةٍ ولا شاميةٍ. (تفسير خازن : ٤٠٩/٤، تفسير ماوردى : ٣٤١/٦، وغيرهما).

(عبد المطلب نه پوښتنه وشوه ، تۀ دا مرغان پيژنى ؟ هغۀ وويل : قسَم په الله ! زۀ ئى نۀ پيژنم، نۀ دا نجدى او حجازى مرغان دى، اونۀ عربى او شامى دى).

نو مرغان ډير اقسام لرى د الله ډير عجيبه مخلوقات دى، د مرغانو تفصيل او غټ والى ، وړوکوالى که غواړى چې عجيبه مرغان ووينى نو د مرغانو (سى، ډى) وګوره.داسى مرغان شته چې ماشومان بى تکلفه وچتولى شى.نو کانى ورته څه دى ؟

ليکن مفسرينو اودَ سيرت ماهرينو ليکلى چې دا اصلاً تُول د الله تعالى د يو عجيب قدرت نندارە وه.کنى مرغان څرنګه خلق وپيژنى ؟ بيا څرنګه وربادى هلاك شول ؟ دا

تول د الله قدرت وو۔او دا هرڅه ناشنا وو۔

دَ سورت الفیل تفسیر

دَ تفاسیرو، سیرت، تاریخ او نحوی ترکیب په رڼا کی

(۱) ابن جرير (۲) نظم الدرر فی تناسب الآيات والسور لأبی الحسن إبراهيم البقاعی (۳) فتح البيان لأبی الطيب صديق حسن خان (٤) المستدرك للحاكم تفسير سورة الفيل حديث رقم ٤٠٧، ٣٩٥/٣، أثر ابن عباس (٥) تفسير الماوردی (٦) أضواء البيان للشنقيطی (٧) فی ظلال القرآن (٨) تفسير الجامع لأحكام القرآن للإمام القرطبی (٩) تفسير روح المعانی للإمام الآلوسی (١٠) تفسير السراج المنير (١١) فتح القدير للشوكانی (١٢) معالم التنزيل للبغوی (١٣) زاد المسير فی علم التفسير (١٤) الكتاب تفسير للقرآن الكريم للدكتور محمد عثمان– اردو (١٥) أحكام القرآن لأبی بكر بن العربی (١٦) تفسير الخازن (١٧) تفسير النسفی (١٨) تفسير ابن كثير (١٩) الإتقان فی علوم القرآن (٢٠) تفسير أحسن الكلام للشيخ عبد السلام (٢١) تفسير كابلی (٢٢) معارف القرآن لمفتی محمد شفيع (٢٣).

غرض دا چی: په سوونو تفسیرونو کښی چی کوم تفسیر ددی سورت شوی، نو هغه همدا دی چی قریشو جنګ نهٔ دی کړی او الله تعالیٰ ابرهه او دَ هغهٔ فوجونه دَ مرغانو په ذریعه تباه کړی۔

موږ پدی هکله دَ (۹۱) تفسیرونو او تاریخ او سیرت کتابونو حوالی راجمع کړی،دلته پدی باندی اکتفاء کوو۔

د جواب حاصل دادی چی دغه څلورو کسانوکوم شاذ تفسیرکړی نو د پورتنی تحقیق له وجی دا خطاء او غلط دی۔

لمر کومو کومو کسانو ته ودریدلی؟

سوال: د یوشع علیه السلام په باره کښی چی راغی چی هغه ته لمر ودریدلی وو، دا حدیث چیرته دی؟ او صحیح دی، که نه؟ دارنګه د لمر دریدو روایتونه چی د سلیمان علیه السلام، یا د رسول الله ﷺ، یا د علی رضی الله عنه په باره کښی راغلی، د هغوڅه

حیثیت دی ؟ دی باره کښې تفصیلا وضاحت وکړئ۔

جواب : د یوشع علیه السلام په باره کښې راغلې روایت داسې دی :

عن أبی هریرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : إن الشمس لم تحبس علی بشرٍ إلا لیوشع لیالی سار إلی بیت المقدس.

(رواه أحمد وسنده صحیح، صححه الشیخ الألبانی فی الصحیحة : ۳۹۳/۱، والشیخ شعیب الأرناووط فی تعلیق مسند أحمد : ۳۲۵/۲، ۸۲۹۸، والدیلمی فی مسند الفردوس : ۴۵۳/۳، ۵۳۹۹، وعبد الرزاق : ۲۴۲/۵، ۹۴۹۲، وأبوعوانة : ۲۷۷/۴، ۶۶۰۴، وانظر : جلالین : ۱۴۱/۱، روح المعانی : ۱۹۳/۲۳، فتح الباری : ۲۲۱/۶، طبع بیروت دار المعرفة، تاریخ بغداد : ۳۴/۷، فیض القدیر : ۴۳۹/۵، مجموعة الفتاوی لشیخ الإسلام : ۳۱۶/۱۱، منهاج السنة : ۱۶۹/۸، تفسیر قرطبی : ۱۲۴/۶، تفسیر الصنعانی : ۱۳۸/۱، کشف الخفاء للعجلونی : ۲۵۶/۱، رقم : ۶۷۰).

دی باره کښې لنډ قانون یان کړئ چې د یوشع علیه السلام په باره د لمر دریدلو روایت بلکل صحیح دی ، البته د هغه نه سیوا د بلچا متعلق چې د لمر دریدلو روایتونه راغلی نو هغه یو هم ثابت ندی ، لکه ددی تفصیل په لاندی ډول دی:

اول په مخکنی صحیح حدیث کښې ذکر شو چې ((إن الشمس لم تحبس علی بشرٍ، إلا لیوشع– علیه السلام)) یعنی د یوشع علیه السلام نه سیوا بل هیچاته لمر ندی دریدلی، اوس که بالفرض د بلچا لپاره لمر دریدلی وی نو د ((إن الشمس لم تحبس علی بشرٍ، إلا لیوشع– علیه السلام)) مطلب څه شو؟!!

۲– د علی رضی الله عنه په باره کښې یو موضوعی روایت داسې راغلی:

((عن اسماء بنت عمیس قالت؛ کان رسول الله صلی الله عله وسلم یوحی الیه وراسه فی حجر علی فلم یصل العصر حتی غربت الشمس فقال رسول الله صلی الله عله وسلم: –صلیت یاعلی؟قال؛ لا!!– فقال رسول الله صلی الله عله وسلم: اللهم انکان علیا فی طاعتك و طاعة رسولك فاردد علیه الشمس قالت اسماء فرئیتها غربت و رئیتها طلعت بعد ما غربت))(اخرجه الطحاوی فی مشکل الآثار ،والطبرانی فی معجم الکبیر)

دا موضوع یعنی له ځانه جوړشوی روایت دی، ددی تفصیل امام البانی رحمه الله په سلسلۂ الاحادیث الضعیفه کښې ۳۹۵۲ رقم((۹۷۱)) ذکر کړی۔

٣- د موسی علیه السلام په باره کښې چې راغلي چې هغه ته د یوسف علیه السلام دهډوکو نقلولو په وخت کښې لمر دریدلی، نوپدې روایت کښې تفصیل دادی چې د د یوسف علیه السلام دهډوکو نقلولو روایت صحیح دی (کمافی روه الحاکم فی المستدرك ٢/ ٥٧١-٥٧٢)۔

البته دده په باره کښې د لمر دریدلو روایت ((اسرائیلی روایت)) دی۔وګوره: سلسلۃ الاحادیث الصحیحۃ رقم ٣٥٢٣ ((٢٠٢))۔

٤- دداود علیه السلام په باره کښې چې د لمر دریدلو روایت راغلي نو هغه ((ضعیف جدا)) روایت دی۔وګوره: سلسلۃ الاحادیث الصحیحۃ ٣٥٢/٣ رقم ((٢٠٢))۔

٥- د سلیمان علیه السلام په باره کښې چې د لمر دریدلو روایت راغلي نو هغه د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی ، لیکن ددی ثبوت د ابن عباس رضی الله عنه نه په صحیح سند سره چیرته نده راغلي۔وګوره: سلسلۃ الاحادیث الصحیحۃ ٣٥٤/٣ تحت رقم ((٢٠٢))۔

زمونږ دګران رسول صلی الله علیه وسلم په باره کښې هم راغلي چې هغهﷺ ته هم

٦- د خندق په ورځ د مازدیګر دلمانځه لپاره لمر دریدلی۔

٧- دارنګه د معراج په شپه سهار لمر راختل دریدلی،لیکن داروایتونه هم ثابت ندی ۔د تفصیل لپاره وګوره : سلسلۃ الاحادیث الصحیحۃ ٣٥٤/٣ تحت رقم ((٢٠٢))۔

آدم علیه السلام په کوم جنت کې وو؟

سوال : آدم علیه السلام له کوم جنت نه راایستل شوی ؟ آیا دا په دنیا کښې یو باغ وو۔اوکه دَ آخرت جنت وو ؟ دی باره کښې موږ ته تفصیلا جواب راکړئ۔

جواب : په مسئله کښې د بحث کولو نه مخکښې اول داخبره یاد ساتل پکار دی چې په قرآن، حدیث اوعقل کښې ددی خبری هیڅ ممانعت نشته چې آدم علیه السلام دی دهغه جنت نه رابښکته شوی وی کوم ته چې به مؤمنان د مرګ نه پس داخلیږی، د مرګ نه مخکښې هم دغه جنت ته داخلیدل ممکن دی، بلکه د آدم علیه السلام د زمانی په نسبت سره، د نن نه لږه زمانه مخکښې جنت ته په ژوندینی حقیقی انسان داخل شوی

چې هغه زمونږ ګران حبیب محمد مصطفیٰ ﷺ دی۔
د معراج په شپه د هغه جنت ته داخلیدل خو هر چاته معلوم دی۔ د مثال په ډول یو حدیث واوره:
عن جابر عن النبی ﷺ قال: (دخلت الجنة فرأیتُ فیها دارًا او قصرًا فقلتُ لمن هذا؟ فقالوا لعمر بن الخطاب، فأردت ان ادخل، فذکرتُ غیرتَك) فبکی عمر وقال: أی رسول اللّٰه أو علیك یغار؟ (صحیح مسلم).
نو دی باره کښې صحیح او حقه خبره داده چې آدم علیه السلام د هغه جنت نه راایستل شوی، د کوم جنت وعده چې د مؤمنانو سره شوی۔دی باره کښې قرآن، حدیث، عقل او نقل ټول دلیل دی بلکه ډیرو مفسرینو په دی باندی دَ مسلمانانو اجماع نقل کړی چې دا هغه رشتینی جنت وو، دا دَ دنیا کوم باغ وغیره نۀ وو۔
موږ دی باره کښې مختصریو څو **دلائلو** ته اشاره کوو۔
قرآن کریم کښې راځی: ﴿ ویا آدم اسکن انت وزوجك الجنة ﴾. (أعراف: ۱۹).
په الجنۃ کښې الف لام عهدی دی چې ددی نه معهود او معلوم جنت مراد دی۔او معهود جنت نۀ دی مګر همدغه اصلی جنت، نه دَ دنیا کوم باغ!!۔
بل دا چې قرآن کریم کښې چې کوم وخت دَ دنیا کوم باغ ذکر شوی نو هغه ټول کله ((نکره)) او کله ((مقید)) په یو صفت سره ذکر شوی، کوم ځای کښې چې ((مطلق)) جنت ذکر شوی نو هغه همدغه ((دار الخلد)) مراد وی۔
دارنګه اللّٰه تعالیٰ د هغه جنت صفت آدم علیه السلام ته داسی کړی:
﴿ ان لك أن لاتجوع فیها ولاتعری وانك لا تظمأ فیها ولا تضحك ﴾. (طه: ۱۱۸، ۱۱۹).
پدی آیتونو کی چې د جنت کوم صفات ذکر شوی نو دا صفات یواځی او یواځی د هغه اصلی او رشتینی جنت کیدی شی د بل جنت نه!۔
ددی جنت یو بل صفت آدم علیه السلام ته داسی شوی: ﴿ و کلا منها رغدًا ﴾.
یو بل آیات کښې راځی: ﴿ ولکم فی الارض مستقر ومتاع الی حین ﴾.
دارنګه یو بل آیت کښې راغلی:
﴿ قال فیها تحیون وفیها تموتون ومنها تخرجون ﴾. (اعراف: ۲۵).

دا آیتونه په دی خبره دلیل دی چی دویٔ مخکی په داسی ځای کښی نۀ وو چی هلته دویٔ ژوند هم تیر کړی او هلته مړۀ شی او د هغه ځای نه د دویٔ بعث(پاڅون) وشی۔
دارنګه آدم علیه السلام ته الله تعالیٰ داسی فرمائی :(اهبطوا)۔۔
هبوط د پورته نه ښکته تللو ته وائی، او دا صفت د دنیا د باغ په باره کښی غالبا نۀ راځی۔ صرف احتمال قدری دی چی د دنیا د باغ نه کوزیدل مراد شی لکه : ﴿ اهبطوا مصرًا﴾ .۔لیکن مونږ ځکه د دنیا جنت ورنه نۀ اخلو چی په احادیثو کښی راځی:
ما اهبط الله تعالیٰ الی الأرض منذ خلق آدم إلی أن تقوم الساعة، فتنة أعظم من فتنة الدجال وقد قلت فیه قولاً لم یقله أحد قبلی : إنه آدم جعد ممسوح عین الیسار علی عینه ظفرة غلیظة وإنه یبرئ الاکمه والأبرص ویقول : أنا ربکم، فمن قال : ربی الله فلا فتنة علیه ومن قال : أنت ربی، فقد افتتن یلبث فیکم ما شاء الله ثم ینزل عیسیٰ ابن مریم مصدقًا بمحمد ﷺ علی ملته إمامًا مهدیًا وحکمًا عدلًا فیقتل الدجال. فکان الحسن یقول : ونری ذلك عند الساعة.
(رواه الطبرانی فی الکبیر والأوسط ۲۷/۵، رقم : ٤۵۸۰، ورجاله ثقات کما فی مجمع الزوائد (۳۳٦/۷).
وعن أبی هریرة قال : قال رسول الله ﷺ : احتج آدم وموسیٰ علیهما السلام عند ربهما فحج آدم موسیٰ قال موسیٰ : أنت آدم الذی خلقك بیده ونفخ فیك من روحه وأسجد لك ملائکته وأسکنك فی جنته ثم أهبطت الناس بخطیئتك الی الأرض فقال آدم : أنت موسی الذی اصطفاك الله برسالته وبکلامه وأعطاك الألواح فیها تبیان کل شئ وقربك نجیًا فبکم وجدت الله کتب التوراة قبل أن أخلق موسی بأربعین عامًا قال آدم : فهل وجدت فیها ﴿ وعصیٰ آدم ربه فغوی ﴾ قال : نعم، قال : أفتلومنی علی أن عملت عملاً کتبه الله علیّ أن أعمله قبل أن یخلقنی بأربعین سنة قال رسول الله ﷺ فحج آدم موسیٰ. رواه مسلم.
عن أبی أمامة الباهلی قال : قال رسول الله ﷺ : لم یکن شرك منذ أهبط آدم من السماءِ إلی الأرض إلا کان بدؤه التکذیب بالقدر، وما أشرکت أمة إلا بتکذیب بالقدر ، وإنکم ستبتلون به أیتها الأمة، فإذا لقیتموهم فکونوا أنتم سائلین، ولاتمکنوهم من الملة، فیدخلوا علیکم الشبهات. (المعجم الأوسط للطبرانی).
وعن عبد الله بن مغفل قال : قال رسول الله ﷺ : إن یوم الجمعة سید الأیام وأعظمها عند الله وهو أعظم عند الله من یوم الأضحیٰ ویوم الفطر فیه خمس خلال : خلق الله فیه آدم،

وأهبـط اللّٰه فيـه آدم إلـى الأرض، وفيه توفى اللّٰه آدم وفيه ساعة لا يسأل اللّٰه فيها العبد شيئًا إلا أعـطـاه إيـاه مـالـم يسـأل حرامًا وفيه تقوم الساعة وما من ملك مقرب ولا سماء ولا أرض ولا ريـاح ولا جبـال ولا بـحر إلا وهو يشفق من يوم الجمعة أن تقوم فيه الساعة. (حـم، هـ) عن أبى لبابة بن عبد المنذر، قال الشيخ الألباني : حسن، انظر حديث رقم : ۲۲۷۹، فی صحيح الجامع).

لما أهبط اللّٰه آدم من الجنة علمه صيغة كل شئ وزوده من ثمار الجنة فثماركم هذه من ثمار الـجنة غير أن ثمرتكم تتغير وثمار الجنة لا تتغير (البـزار،والطبرانى عن أبى موسى، أخرجه البزار : ۴۵/۸، رقم : ۳۰۲۹، قال الهيثمى : ۱۹۷/۸، رواه البزار والطبرانى، ورجاله ثقات، وأخرجه أيضًا : الحاكم ۵۹۲/۲، رقم : ۳۹۹۶، وقال : صحيح الإسناد.

وعـن ابـن عبـاس رضـى اللّٰه عنهما : فتلقى آدم من ربه كلمات فتاب عليه قال : أى رب ألم تـخـلـقـنـى بيدك ؟ قال : بلى، قال : أى رب، ألم تنفخ من روحك ؟ قال :بلى قال :أى رب، ألم تسـكـنى جنتك ؟ قال :بلى، قال : أى رب ألم تسبق رحمتك غضبك ؟ قال : بلى، قال : أرأيت إن تبـت وأصـلـحـت أراجعى أنت الى الجنة ؟ قال : بلى، قال : فهو قوله : ﴿ فتلقى آدم من ربه كـلـمـات ﴾. (هـذا حـديـث صحيح الإسناد ولم يخرجاه، قال الألبانى وهو كما قالا : (انظر التوسل أنواعه وأحكامه للألبانى).

عـن أبـى بـن كـعب قال : قال رسول اللّٰه ﷺ : قال آدم عليه السلام : أرأيت يا رب إن تبت ورجـعتُ، أعابدى إلى الجنة ؟ قال : نعم، قال : فذلك قوله : فتلقى آدم من ربه كلمات (تفسير ابن أبى حاتم).

ددی ټولو روایتونو نه صفا معلومیږی چی دا ددنیا کوم جنت نوو۔

علامه قرطبی لیکلی : ولا التفات لما ذهبت إليه المعتزلة والقدرية من أنه لم يكن فى جنة الخلد وإنما كان فى جنة بأرض عدن. واستدلوا على بدعتهم.

پـه تفسیر حقی کښی رائحی : وهـى دار الثـواب بـإجماع المفسرين خلافا لبعض المعتزلة والـقـدرة حيث قالوا : المراد بالجنة بستان كان فى أرض فلسطين أو بين فارس و كرمان خلقه اللّٰه تعالىٰ امتحانًا لآدم.

په فتاوىٰ الأزهر کښی رائحی :

والـصـحـيـح وهـو ظـاهر القرآن أن الجنة التى أسكنها آدم هى جنة الخلد التى فى السماءِ لأن

الألف واللام فی (الجنة) هی للعهد وقوله تعالی : ﴿ قلنا اهبطوا منها ﴾ دلیل علی أنها فی السماءِ فالإطلاق یقتضی ما یتبادر إلی الذهن وهی جنة الخلد.

قصة آدم علیه السلام، لفضیلة الشیخ الدکتور : یاسر برهامی.

بلکه دا دَ شیعه وو مذهب دی لکه په الفصول المهمی فی أصول الائمی ص : ۱۲٤، کښې ئی دا خبره لیکلی۔

بلکه څوك چی د دنیا دَ کوم باغ نه راکوزیدل ګڼی نو دوئ په دا په اصل کښې دَ نصاریٰ وو د بائیبل نه نقل کوی، ځکه په بائیبل کښې دا راغلی چی آدم علیه السلام د دنیا په یو باغ کښې وو، لکه هغه لیکی : ((له دی ورسته خدای په عدن کښې چی په ختیځی سیمی کښې پروت دی یو باغ پیدا کړو......))۔

د ﴿ عبس وتولی ﴾ شانِ نزول څه وو؟

سوال : دَ جماعی المسلمین (رجسټرډ) کراچئ مشر مسعود احمد (بی، ایس، سی) لیکلی چی دَ ﴿ عبس وتولی ﴾ شانِ نزول او فاعل رسول الله ﷺ نهٔ دی، بلکه دا آیت د یو کافر په باره کښې نازل شوی۔ هغه دا هم لیکلی چی دلته ټولو مفسرینو خطائی کړی، چی هغوئ د (عبس وتولی) فاعل رسول الله ﷺ ګرځولی–

زمونږ سوال دادی چی آیا واقعی ددی آیت شان نزول د یو کافر په باره کښې شوی ؟ دی باره کښې مدلل جواب راکړئ۔

جواب : مسعود (بی ایس سی)، د نوروغلطواو شاذو مسئلو په شان دلته هم ددی آیت غلط تفسیر کړی او دا تفسیر ئی د شیعګانو نه نقل کړی، هغوئ دا وائی چی ددی شان ورود دَ یو کافر په باره کښې شوی۔

دی باره کښې دا خبره واورئ چی دَ رسول الله ﷺ په ادب او احترام کښې به مونږ د الله او د هغهٔ د رسول ﷺ نه نهٔ مخکښې کیږو، مثلا اَلله تعالیٰ دخپل رسول ﷺ په باره کښې څهٔ ووائی ؟ یائی رسول الله ﷺ د خپل ځان په باره کښې څهٔ وائی او مونږ ته په خپلو ناقصوعقلونو کښې نامناسبه ښکاره شی، نو په دی کښې بی ځایه او غلط تاویلونه شروع کړو۔ دا کار په حقیقت کښې د الله او د هغهٔ د رسول ﷺ نه ځان مخکښې کول

دی۔

اوس راشه دی باره کښی صحیح دلائل وګوره چی ددی سورت شان نزول دَ رسول الله ﷺ په باره کښی نازل شوی:

١ - عن عائشة قالت: أنزل (عبس وتولى) فی ابن أم مکتوم الأعمی أتی رسول الله ﷺ فجعل يقول: يا رسول الله! أرشدنی وعند رسول الله ﷺ رجل من عظماءِ المشركين فجعل رسول الله ﷺ يُعرض عنه ويقبل على الآخر، ويقول: أترى بما أقول بأسًا فيقال: لا، ففى هذا أنزل. قال أبو عيسىٰ: هذا حديث حسن غريب.

تحقيق الألبانی صحيح الإسناد.

(رواه الترمذی ٣٣٣١، ومالك فی الموطأ وأبو يعلى فی مسنده مسند عائشة رقم: ٤٧٢٣، كما فی مسند الصحابة فی الكتب التسعة، والمسند الجامع تأليف أبی الفضل السيد أبو المعاطی النوری رقم ١٧٢١٦، وفتاوى الأزهر فی جواب وما ينطق عن الهوى، والمنتقى من فتاوى الفوزان، ومجمع فتاوى ابن تيمية ٣١٤/٥، فصل فی وجوب الصلاة، ونكت الهميان فی نكت العميان، تأليف صلاح الدين خليل بن ايبك الصفدی المولود سنة: ٦٩٦هـ والمتوفى سنة: ٧٦٤.

٢ - عن الشعبی قال: دخلت على عائشة وعندها ابن أم مكتوم وهی تقطع له الأترج يأكله بعسل فقالت: ما زال هذا له من آل محمد ﷺ منذ عاتب الله فيه نبيه ﷺ وإنما أرادت أم المؤمنين رضی الله عنها نزلو سورة عبس وتولى. (أخرجه الطبرانی فی الأوسط والبيهقی فی شعب الإيمان: ٨١٧٧، فصل فی التواضع وابن عبد البر فی التمهيد والحاكم فی المستدرك على الصحيحين فی ذكر عمرو ابن أم مكتوم المؤذن رضی الله عنه والطبرانی فی الأوسط وأبو نعيم فی حلية الأولياءِ وطبقات الأصفياءِ وابن عبد البر فی التمهيد.

دارنګه یو بل روایت کښی راځی:

وعن أبی أمامة - رضی الله عنه - قال: أقبل ابن أم مكتوم وهو أعمى وهو الذی أنزل فيه (عبس وتولى أن جائه الأعمى) الترغيب والترهيب.

البته ددی روایت متعلق شیخ البانی رحمه الله: منکر، لیکلی۔ وګوره: ضعیف الترغیب والترهیب للألبانی رحمه الله۔

د دکتور عبد الله الفقیه نه دی باره کښی داسی پوښتنه شوی۔

السؤال : أنـا يـدرسـنـى أستاذ فى التربية الإسلامية حيث قال لى : إن سورة عبس لم تنزل على الـرسـول ﷺ وصـحبـه وسـلـم وإنما نزلت على سيدنا عثمان بن عفان علماً أن الأستاذ شيعى واستـنـد إلى آياتٍ كريمة منها : وإنك لعلىٰ خلق عظيم، وآيات أخرى. فما الدلائل إن وجدت لكى أواجهه بها، وجزاكم الله خيرًا.

الفتوى : الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه، أما بعد :

فـإن كـان هذا الأستاذ ينكر أنها من القرآن الذى نزل على النبى ﷺ فإنه كافر كفرًا مخرجًا مـن الملة، ثم إن هذا الذى ذكره يرده ما ثبت من نقل جميع القراء لها بأسانيدهم المتواترة عن الـصـحـابة الذين نقلوها عن النبى ﷺ، وقد تناقلها المحدثون والمفسرون أيضًا ونقلوا سبب نـزولهـا، فـمـا تفتح كتابًا من كتب التفسير المعتمدة إلا وجدتُ تفسيرها وسبب نزولها، وقد روى سبب نزولها مالك والترمذى وغيرهما.

واعـلـم أن مـا حصل من النبى ﷺ لاينافى ماهو معروف من حسن أخلاقه فإن الذى حصل مـنـه إنما هو عبوس سببه حرصه على اهتداء المشركين، وكان واثقًا من أنه سيلقى ابن آدم فى أوقـاتٍ أخرى، وهذا العبوس لم يره ابن أم مكتوم – رضى الله عنه لأنه كان أعمى، ولم يرو أن النبى ﷺ تكلم بما يؤذى ابن أم مكتوم أو يجرح شعوره، والله أعلم.

دارنګه د دکتوريوسف القرضاوی نه دی باره کښې پوښتنه شوی۔

أستـاذى الـفـاضـل الدكتور يوسف القرضاوى : تحية طيبة وجزاك عنا وعن المسلمين كل خيـر وأطـال الله عـمـرك سيـدى الكريم : كنتُ أريد التأكيد من تفسير آية ﴿ عبس وتولى أن جائه الأعمى ﴾ ففى معظم التفاسير التى قرأتها والبرامج التى شاهدتها العلماء الأجلاء على أن الـمـقـصـود بهـا الرسول الكريم ﷺ، ولكن سمعت منذ أيام أحد العلماءِ فى إحدى القنوات الفضائية ينفى ذلك، ويقول : إن الله تعالىٰ من المستحيل أن يخاطب رسوله بهذه الآية وكيف ذلك وقـد خاطب أحد المشركين وهو الوليد بن المغيرة، وقد ذمه الله سبحانه فى موضع آخر (سـورة الـمدثر) واستخدم كلمة عبس فى ذمه ؟ أستاذى هذا الأمر سبب لى بعض الحيرة من أمرى فأفيدونا أفادكم الله.

الـفـتـوىٰ : الـحـمـد لله والـصـلاة والسلام على رسول ﷺ وعلى آله وصحبه، أما بعد : فإن سورة عبس نزلت فى النبى ﷺ كما قرره المفسرون لما أخرجه الترمذى فى سننه ومالك فى

موطئه، وقد بينا ذلك فى الفتوى رقم (٣٨٩١٥). والعبوس هو تقطيب الوجه وظهور أثر الكراهة عليه من الأعراض التى تعرض للبشر، والنبى ﷺ بشر وذلك لا ينافى كمال خلقه، فقد عاتبه ربه فى آيات غيرها، كما فى قصة أسرى بدر، لما رضى بالفداء فقال تعالى: ﴿ما كان لنبى أن يكون له أسرى حتى يثخن فى الأرض تريدون عرض الدنيا والله يريد الآخرة والله عزيز حكيم، لولا كتاب الله من الله سبق لمسكم فيما أخذتم عذاب عظيم. (الأنفال: ٦٧، ٦٨).

وقال: ﴿واصبر نفسك مع الذين يدعون ربهم بالغداة والعشى يريدون وجهه ولا تعدُ عيناك عنهم تريدُ زينة الحياة الدنيا ولا تطع من أغفلنا قلبه عن ذكرنا واتبع هواه وكان أمره فرطا﴾ (الكهف: ٢٨).

وهذه نزلت فى قصة قريبة من قصة ابن أم مكتوم، فالنبى ﷺ بشر قد يصدر منه ما يعاتبه عليه ربه ولا غضاضة فى ذلك، كما بينا فى الفتوىٰ السابقة، وأما ما ذكره المتحدث الذى وصفت فإنه لا يعتمد على قوله ولا رأيه، فكتاب الله لا مجال فيه للآراءِ والأهواءِ والأمزجة الفاسدة، ولا ينبغى أخذ العلم عن كل من هب و دبّ (فتاوى الشبكة).

حاصل داچې: که یو نزدی ملګری ته یو ډیر مشفق مشر په داسی موقع کښې څۀ غصه یا ادب ورکړی نو دا خو عقلاً هم د ښو اخلاقو او شفقت خلاف کار نۀ دی او منل ئې پکار دی. خاصکر چې داسی صحیح دلائل وړاندی راشی نو بیا خوئی منل فرض دی. الله تعالیٰ دی موږ ته په قرآن او سنت پوهه او عمل را نصیب کړی، د قرآن کریم تفسیر په خپله رائیی او نظر سره کول بلکه صحیح احادیث په خپل ناقص عقل رد کول سنګین او غټ جرم دی.

د درود متعلق د یو روایت تحقیق

سوال: زموږ دَ مسجد ملا امام صاحب خلکو ته په خپل بیان کښې دا مسئله بیانوله چې په رسول الله ﷺ باندی د رود ویل ډیر زیات ثواب لری خاصکر ددی درود ویلو ئی ډیر ترغیب ورکړو چې ددی ډیر زیات فضیلت په احادیثو کښې راغلی، دا درود چې څوک ئی لس ځلی سهار ووائی نو دۀ ته دومره نیکی لیکلی کیږی لکه د ټولی ځمکی دَ نیکۍ کونکو.

روایت داسی دی : ((اللهم صل علی محمدٍ النبی عدد منصلی علیه من خلقك وصل علی محمد النبی کما أمرتنا أن نصلی علیه وصل علی محمدٍ النبی کما ینبغی لنا أن نصلی علیه.))۔

ددی روایت متعلق معلومات راکړئ چی آیا دا روایت صحیح دی اوکهٔ ضعیف ؟ او د احادیثو په کومو کتابونو کښی راغلی ؟

جواب : په رسول الله ﷺ باندی درود ویل بیشکه چی ډیر زیات ثواب لری او په صحیح احادیثو کښی ئی ډیر زیات فضائل راغلی۔ لیکن ددی سره دا خبره هم یاد ساتل پکار ده چی په رسول الله ﷺ به د ځانه جوړشوی درود نه ویل کیږی، بلکه په هغو الفاظو به درود وړاندی ویل کیږی کوم چی موږ ته په شریعت کښی راښودل شوی، ددی وجی نه کله چی دا آیت رانازل شو چی تاسی په رسول الله ﷺ باندی درود ووایاست نو صحابه کرامو(رضی الله عنهم) تپوس وکړوچی یا رسول الله ! په تا باندی څرنګه (په کومو الفاظو سره) درود ووایو؟نو رسول الله ﷺ ورته د درود الفاظ(کلمات) ور اوښودل۔

لکه حدیث کښی راځی :

عن کعب بن عجرة أن النبی ﷺ خرج علینا فقلنا : یا رسول الله ! قد علمنا کیف نسلم علیك، فکیف نصلی علیك قال : (فقولوا اللهم صل علی محمد، وعلی آل محمد، کما صلیت علی آل إبراهیم، إنك حمید مجید، اللهم بارك علی محمد، وعلی آل محمد، کما بارکت علی آل إبراهیم، إنك حمید مجید). متفق علیه.

ددی نه معلومه شوه چی د صلاۃ (درود) الفاظ د ځانه نشی جوړیدی، که داسی نوی نو صحابه کرام (رضی الله عنهم) خو عرب وو، رسول الله ﷺ به ورته ویلی وو چی څرنګه ئی وایاست خپله خوښه موده!۔

بلکه په طبرانی او د احادیثو په نورو کتابونو کښی داهم راځی چی رسول الله ﷺ هم چُپ شو، د الله تعالیٰ د طرفه ورته وحیه وشوه نوموږ ته ئی ددینه پس د درود الفاظ را ووښودل۔

اوس راشه، ستاسو د سوال روایت ته، نو دا یو موضوعی یعنی د ځانه جوړ شوی روایت ده چی ددی په سند کښی متروکین او کاذب راویان راغلی۔

سیوطی او نورو علماؤ ویلی : أخرج الدارقطنی فی الأفراد وابن النجار فی تاریخه عن ابی

بکر الصدیق رضی اللّٰه عنه قال : (كنت مع النبى ﷺ فجائه رجل فسلم عليه فرد ﷺ السلام وأطلق وجهه وأجلسه إلى جنبه فلما قضى حاجته ونهض قال رسول اللّٰه ﷺ : يا أبا بكر ! هذا الرجل يرفع له كل يوم كعمل أهل الأرض، قلت : ولم ذلك يا رسول اللّٰه ! قال : إنه كلما أصبح وأمسى صلى عليّ كصلاة الخلق أجمع يقول عشر مراتٍ : اللهم صل على محمدٍ النبى عدد من صلى عليه من خلقك وصل على محمد النبى كما أمرتنا أن نصلى عليه وصل على محمدٍ النبى كما ينبغى لنا أن نصلى عليه.

په ځینو نورو روایتونو کښې راغلی :

من قال : اللهم صل على محمد النبى، عدد من صلى عليه من خلقك، وصل على محمد النبى، كما ينبغى لنا أن نصلى عليه، وصل على محمد النبى كما أمرتنا أن نصلى عليه : فإنه يرفع لقائله كلما أصبح عشر مراتٍ كعمل أهل الأرض.

علامه شوکانی رحمه الله ددی د ذکر کولو نه پس لیکی :

فى إسناده : كذاب ومتروك.

(الفوائد المجموعة للشوكانى، بتحقيق المعلمى، جزء : ٣٢٩/١).

دارنګه دا روایت په لاندینو کتابونو کښې ذکر دی :

(تنزيه الشريعة ٩٠/١، للعلامة محمد طاهر الهندى الفتنى المتوفى سنة : ٩٨٦ هـ. كنز العمال فى سنن الأقوال والأفعال رقم : ٣٩٨، مسند أبو بكر، لعلاء الدين على المتقى الهندى البرهان فورى المتوفى سنة : ٩٧٥).

دارنګه دا روایت احمد بن محمد الصاوی المالکی په ((بلغة السالك لأقرب المسالك)) کې بې سنده راوړی۔

سیوطی په خپل تفسیر کښې د (صلوا عليه وسلموا تسليما) لاندې راوړی،دارنګه په جامع الأحاديث (٢٧٨٣٣) کښې ئې هم ۔

حاصل داچې : مذکوره روایت ثابت نۀ دی۔ د درود په باره کښې صحیح روایتونه ډیر موجود دی، الحمد لله، په هغو باندې عمل کول پکار ده۔

محرم الحرام : ١٤٢٩/٣ هـ

د یو روایت تحقیق

سوال : د ډیرو خطیبانو نه آورو چې رسول الله ﷺ فرمایلي : أشراف أمتي حملة القرآن وأصحاب الليل.
(زما دَ امت شریفان دوه قِسمه خلك دي : قرآن باروونکي او دَ شپې لمونځ کونکي)۔
ددې حدیث تخریج او تحقیق موپکار دی، ددې پوره تفصیل وکړئ۔

جواب : د قرآن کریم د تلاوت کونکو دارنګه د تهجد کونکو لپاره په صحیح حدیثونو کښې ډیر زیات فضائل راغلي۔ البته په دې حدیث کښې چې کوم فضیلت راغلې، نو دا ثابت نۀ دی۔ ددې سند او تخریج په لاندې ډول دی۔

عن سعد بن سعيد الجرجاني، عن نهشل أبي عبد الله القرشي، عن الضحاك، عن ابن عباس، قال : قال رسول الله ﷺ : أشراف أمتي حملة القرآن وأصحاب الليل.

(تخرج الحديث : أخرجه الطبراني في الكبير : ١٢، رقم ١٢٦١٢، والبيهقي في شعب الإيمان : ٥٥٦/٢، ١٧٠/٤٣، رقم : ٢٧٠٣، والإسماعيلي في معجمه : ٣١٩/١، رقم : ٣٢٠، وابن عدي في الكامل : ١٩٤/٣، ٢٥٢١/٧، في ترجمة : ١٩٨٦ نهشل بن سعيد بن وردان، والسهمي في تاريخ جرجان : ٢١٨/٥/١، ٤٩٤/١٢/١، والخطيب في تاريخ بغداد : ١٢٤/٤، ٨٠/٨، وابن أبي الدنيا في كتاب التهجد وقيام الليل : ١٠٧، والهيثمي في المجمع : ١٦١/٧).

ددې حدیث د نۀ صحیح کیدو درې علتونه دي :

١ – سعد بن سعيد الجرجاني ضعيف دی، دۀ ته ګڼرو محدثینو ضعیف ویلي۔ په الميزان د ذهبي رحمه الله رقم (٣١١٥) کښې دي : قال البخاري : لا يصح حديثه، يعني أشراف أمتي حملة القرآن.

دارنګه : التاريخ الكبير للبخاري : ١١٥٨، الكامل لابن عدي، الجرح والتعديل : ٤٩٦/٨، لابن أبي حاتم، الضعفاء للعقيلي : ١١٨/٢، المجروحين لابن حبان : ٥٢/٣، تهذيب الكمال : ٤٢٧/١٠).

٢ – د سعد بن سعيد استاذ (نهشل) متروك ليس بشئ دی۔ بلکه اسحاق ورته کذاب ویلي۔ (٣) د الضحاك بن مزاحم او ابن عباس رضي الله عنه ترمینځ په سند کښې انقطاع ده، ځکه ضحاك بن مزاحم رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنه سره ملاقات نۀ دی

شوی۔ والله اعلم۔

دی حدیث ته لاندینو علماؤ هم ضعیف او موضوع ویلی۔

١ – امام بخاری رحمه الله۔ (الضعفاء للعقیلی : ١١٨٢).

٢ – ابن عدی فی الکامل، لکه دهٔ دَ (نهشل) د احادیثو رانقل کولو نه پس ویلی دی چی په هغی کښیی مذکوره حدیث هم دی۔ وهذه الأحادیث کلها غیر محفوظة.

٣ – هیثمی په مجمع الزوائد : ١٦١/٧، کښیی ویلی : رواه الطبرانی وفیه سعد بن سعید الجرجانی وهو ضعیف.

٤ – ابن القیسرانی په ذخیرۃ الحفاظ (٤٠٦/١) کښیی وائی فیه نهشل بن سعید لیس بشئ، [و روی من طریق] سعد الجرجانی وهو ضعیف.

٥ – علامه البانی رحمه الله په السلسلۃ الضعیفۃ (٢٤١٦) او (ضعیف الجامع : ٨٧٢) کښی ورته (موضوع) او په (مشکاۃ المصابیح : ١١٩٥) کښی ورته (اسناده ضعیف جدا) ویلی۔--- البته هغه چی په صحیح الترغیب والترهیب کښی ورته صحیح ویلی نو د هغی نه ئی بیرته رجوع کړی، په دی وجه ئی په ضعیف الترغیب والترهیب وروستنی چاپ کښی هم ورته ضعیف ویلی۔

٦ – ملا علی قاری رحمه الله په مرقات کښیی ددی حدیث لاندی لیکی :

والحدیث سنده ضعیف، لأن المنذری صدره فی الترغیب بلفظة : روی وأهمل الکلام فی آخره، وهذه علامة الإسناد الضعیف، کما صرح بذلك فی بدءِ الکتاب.

یعنی : دا حدیث ضعیف دی، ځکه علامه منذری په (رُوی) سره رانقل کړی، او بیائی په آخر کښی ددی حدیث متعلق څهٔ نهٔ دی ویلی۔ نو دا د هغه په نیزد دضعف نښه ده، لکه دا خبره هغهٔ د خپل کتاب په سر کښی لیکلی۔

٨ – ملا علی قاری په یو بل ځائی کښی لیکی :

قال میرك : ورواه ابن أبی الدنیا وإسناده ضعیف.

٩ – ابو اسحاق الحوینی په خپل کتاب (النافلة فی الأحادیث الضعیفة والباطلة، رقم : ٩٨) کښی ورته موضوع ویلی۔

لیلة الأربعاء : ٥/ ذی القعدة : ١٤٢٩هـ

الکاسب حبیب الله

سوال : ډیرو ځایونو کښی مو دا روایت لیدلی چی حدیث کښی راغلی۔ (الکاسب حبیب اللّٰه) (کار، کسب کونکی د الله محبوب وی)۔
آیا مذکوره روایت صحیح حدیث دی ؟ ددی حواله راکړئ۔

جواب : ددین اسلام د نورو د لائلو نه معلومه ده چی حلال کسب کول ښۀ کار دی۔ البته کوم حدیث چی تاسو په سوال کښی ذکر کړی، نو دا موضوعی او دَ ځانه جوړ شوی روایت دی۔

په مثنوی (رومی) کښی راځی :

رمزِ الکاسب حبیب اللہ شنو ۔ از توکل درسبب کاھل مشو

علامه آلوسی رحمه الله په روح المعانی شلم جلد کښی لیکلی : وقد ورد الکاسب حبیب اللّٰه. نو دۀ هم ددی حواله اوسند نۀ دی ذکر کړی۔

دا روایت په تفسیر روح البیان کښی هم راغلی۔

ددی نه معلومه شوه چی دا صرف تفسیری روایت دی، چی ددی نسبت رسول الله ﷺ ته کول صحیح نۀ دی۔

فاطمی رضی اللّٰہ عنہا او امام شافعیؒ ته د منسوب شعرونوتحقیق

سوال : : د نحوی په کتابونوکښی چی کله د غیر منصرف حکم بیانیږی، نو وائی :
(وحکمه أن لا کسرة ولا تنوین، ویجوز صرفه للضرورة أو للتناسب).
(یعنی په غیر منصرف کسره او تنوین نۀ راځی، البته د ضرورت (شعری) یا مناسبت په وجه ورباندی کسره او تنوین راتلی شی)۔

(۱) ځینی شارحینو د ضرورت شعری په مثال کښی دا شعرونه راوړی۔

صُبَّت علیَّ مصائبُ لو أنها ۔ صُبَّت علی الأیام صرن لیالیا

ددی شعر نسبت ئی فاطمۂ الزهراء رضی الله عنها ته کړی۔

(۲) دارنگه دا شعر ئی هم راوړی چی :

أعد ذكر نَعمان لنا إن ذكره ؎ هو المسك ما كررته يتضوع

دوئ ليکلي چې دا شعر امام شافعي رحمه الله د امام ابو حنيفه رحمه الله په صفت کښې ويلي.

آيا دا شعرونه د فاطمې الزهراء -رضی الله عنها- او امام شافعي رحمه الله نه ثابت دي ؟ په دې هکله پوره تفصيل راته وليکئ. جزاكم الله خيرا.

جواب : ويل شوي چې فاطمه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ قبر ته راغله، او د قبر خاورې ئې را واخستلې، د خپلو سترګو سره ئې ولګولې، وې ژړل او بيا ئې وفرمايل :

ما ضرّ من قد شمَّ تُربةَ أحمد ؎ ألا يشمَّ مدى الزمان غواليا

صُبَّت عليَّ مصائبُ لو أنها ؎ صُبَّت على الأيام صرن لياليا

د مذكوره شعر نسبت فاطمې رضی الله عنها ته شوي، ځينو ددې نسبت علي رضی الله عنه ته کړې. ليکن ددې هيڅ سند نشته، نو په دې وجه دا روايت ثابت نۀ دې.

حافظ ذهبي رحمه الله په سير اعلام النبلاء (١٣٤/٢) کښې ددې شعر په هکله فرمائي: ومما ينسب إلى فاطمة ولا يصحُّ.

دا روايت فاطمې رضی الله عنها ته منسوب کيږي، ليکن دا نسبت صحيح نۀ دې).

علامه آمدي المتوفى (٣٧٠) هـ په خپل کتاب (الموازنة بين الطائيين أبي تمام والبحتري : ٢٥/١) کښې فرمائي : ولا أعلم صحته.

(٢) د دويم سوال جواب : دا شعر د امام شافعي رحمه الله نۀ دې، اونۀ هغۀ د امام ابو حنيفه رحمه الله په مدح کښې ويلې. بلکه دا شعر د مهيار بن مردويه ابى الحسن الديلمي په قصيده کښې راغلې.

پوره شعر داسې دې :

يقولون يوم البين عينك تدمع ؎ دعوا مقلة تدرى غدًا من تودع

ودون انصداع الشمل لو يسمعونه ؎ أنين حصاة القلب منه تصدع

فإن قرّ قلبى فاتهمه وقل له ؎ بمن أنت بعد العامرية مولع

أمنقاد أحلام الكرى أن تسره ؎ سهرنا فسل حسناء إن كنت تسمع

أعد ذكر نَعمان لنا إن ذكره ؎ من المسك ما كررته يتضوع

په دی کښې د (نعمان) يادونه شوی نو ددی نه امام ابو حنيفه رحمه الله نۀ دی مراد۔
پـه ((الاعـلام لـلـزركـلـی)) او ((الـوافـی بـالـوفيـات))، دارنګـه ((الاغـانـی لابـی الفـرج الاصفهانی)) کښې راځی چی :
دا شعر د محمد بن عبد الله بن نمير دی، لکه هغه فرمائی :
مـحـمد بن عبد الله بن نمير بن خرشة الثقفی النميری : شاعر غزل، من شعراء العصر الأموی، مـولـده ومـنشـأه ووفاته فی الطائف. كان كثير النشيب بزينب أخت الحجاج، وأرق شعره ما قـاله فيها. ومنه قصيدته التی مطلعها : (تضوع مسكًا بطن نعمان إذا مشت، به زينب فی نسوة عطرات).
وتهدده الحجاج فلم يأبه له النميری.
فـلـمـا بلغ الحجاج من الشأن ما بلغ، طلب النميری، ففر إلى اليمن وأقام بعدن مدة، ثم قصد عبد الملك بن مروان، مستجيرًا به، فأجاره، وعفا عنه الحجاج على ألا يعود إلى ما كان عليه.
ځينو علماؤ ددی شعر نسبت نورو شاعرانو ته هم کړی۔ وګوره :
الاستذكار لابن عبد البر رحمه الله : ٨/٢٤١).

د ((أقول : قال النبی ﷺ، ويقول : نهى أبو بكر وعمر)) روايت تحقيق

سوال : پـه يـو كتاب کښې مو د ابن عباس رضی الله عنه دا قول وليدل، چی هغۀ د حج پـه بـاره کښـې څۀ مسئله وکړه، نو چا ورته وويل چی ابو بکر او عمر – رضی الله عنهما – خو داسی نۀ کول۔ نو ابن عباس رضی الله عنه ورته غصه شو، ورته وی فرمايل :
أراهم سيهلكون، أقول : قال النبی ﷺ، ويقول : نهى أبو بكر وعمر.
ددی روايت حواله او تخريج مو پکار دی۔
جواب :الحمد لله والصلاه والسلام على رسول الله امابعد:
ددی روايت الفاظ داسی دی :
عـن ابن عباس قال : تمتع النبی ﷺ فقال عروة بن الزبير : نهى أبو بكر وعمر عن المتعة، فقال ابـن عباس : ما يقول عُرَيَّةُ ؟ قال : يقول : نهى أبو بكر وعمر عن المتعة، فقال ابن عباس : أراهـم سيهلكون، أقول : قال النبی ﷺ ويقول : نهى أبو بكر وعمر.

(رواه أحمد : ٣٣٧/١، رقم : ٣١٢١، وصحح إسناده أحمد شاكر، وابن عبد البر فى جامع بيان العلم وفضله : ٢٣٧٨، والخطيب فى الفقيه والمتفقه : ٣٧٩، والمقدسى فى الأحاديث المختارة، رقم : ٣٥٧، وحسنه ابن مفلح فى الآداب الشرعية ٧٤/٢، والهيثمى فى مجمع الزوائد : ٢٣٤/٣، وابن حجر فى إطراف المُسْنِد المعتلى بأطراف المُسنَد الحنبلى، رقم : ٣٣٦٠).

وأورد نحوه شيخ الإسلام فى الفتاوى : ٢١٥/٢٠، ٥٠/٢٦، ٢٨١، والإمام ابن القيم فى إعلام الموقعين : ٢٣٨/٢، والزاد : ١٩٥/٢، والصواعق المرسلة : ١٠٦٣/٣. والشيخ محمد بن عبد الوهاب فى كتاب التوحيد، باب من أطاع العلماء والأمراء فى تحريم ما أحل الله، وتحليل ما حرم الله فقد اتخذهم أرباباً، و ابن حزم فى حجة الوداع : ٣٥٢، بعدة أسانيد).

٢ – مذكوره روايت په دى الفاظو هم راغلى :

قال عروة لابن عباس : ألا تتقى الله ترخص فى المتعة ؟ فقال ابن عباس : سل أمك يا عُرَيَّةُ، فقال عروة : أما أبو بكر وعمر فلم يفعلا، فقال ابن عباس : والله ما أراكم منتهين حتى يعذبكم الله، أحدثكم عن رسول الله ﷺ وتحدثونا عن أبى بكر وعمر، فقال عروة : لهما أعلم بسنة رسول الله ﷺ، وأتبع لها منك.

(اورده ابن عبد البر فى جامع بيان العلم وفضله : ٢٣٧٧، والتمهيد : ٢٠٨/٨، وابن القيم فى الزاد : ١٩١/٢، من طريق عبد الرزاق حدثنا معمر عن أيوب قال : قال عروة به وصحح إسناده محقق زاد المعاد : ١٩١/٢).

دارنګه طبرانى په الاوسط (١٢/١، ح : ٢١) كښې داسې روايت نقل كړى:

عن عروة بن الزبير أنه أتى ابن عباس فقال : يا ابن عباس : طالما أضللت الناس، قال : وما ذاك يا عريةُ ؟ قال :الرجل يخرج محرمًا بحج أو بعمرة فإذا طاف زعمت أنه قد حل فقد كان أبو بكر وعمر ينهيان عن ذلك ؟ فقال : أهما – ويحك – آثر عندك أم ما فى كتاب الله وما سن رسول الله ﷺ فى أصحابه وفى أمته ؟ فقال عروة : هما كانا أعلم بكتاب الله وما سن رسول الله ﷺ منى ومنك. قال ابن أبى مليكة : فخصمه عروة.

قال الهيثمى فى المجمع : ٢٣٤/٣ : رواه الطبرانى فى الأوسط وإسناده حسن. (موسوعة أطراف الحديث).

٤ – قال (ابن عباس) فى أمر متعة الحج وفسخه بعمرة : ما أراكم إلا سيخسف الله بكم

الأرض، أقول لكم قال رسول الله ﷺ وتقولون : قال أبو بكر وعمر. (المحلى مسألة ذكر ما يقطع من السارق : ۱۱/۳۵۵).

فائده : خطيب بغدادي رحمه الله په الفقيه والمتفقه (۳۷۸/۱، یا : ۴۲۴، ۲۱۱، رقم : ۳۷۴، کښې په باب (تعظيم السنن والحث على التمسك بها والتسليم لها والانقياد اليها وترك الاعتراض عليها) کښې د عروه بن الزبير رحمه الله په خبره داسې تعليق کوي :

قلت : قد كان أبو بكر وعمر على ما وصفهما به عروة إلا أنه لا ينبغي أن يُقلَّد أحد في ترك ما ثبتت به سنة رسول الله ﷺ. إهـ

د «إصنعوا لآل جعفر طعامًا» روايت تحقيق

سوال : يو ځاى مو وليدل چې نبي کريم ﷺ د جعفر رضي الله عنه د شهادت په ورځ خپلو ملګرو ته وويل : تاسو د جعفر کورنۍ ته خوراك وليږئ۔ ددې حديث الفاظ او حواله مو پکار ده ؟

جواب : د حديث الفاظ دادي : عن عبد الله بن جعفر رضي الله عنهما قال : لما جاء نعي جعفر حين قتل، قال النبي : إصنعوا لآل جعفر طعامًا، فقد أتاهم ما يشغلهم.

(د جعفر دکورنۍ لپاره تاسې خوراك تيار کړئ ځکه دوئ ته داسې مصيبت راغلى چې دوئ ئې په ځان آخته کړي دي)۔

د حديث تخريج او حواله داده :

(أخرجه أحمد : ۲۰۵/۱، رقم : ۱۷۵۱، أبوداود : ۱۹۵/۳، رقم : ۳۱۳۲. والترمذي : ۳۲۳/۳، رقم : ۹۹۸، وقال : حسن صحيح. وابن ماجه : ۵۱۵۴/۱، رقم : ۱۶۱۰، والطبراني : ۱۰۸/۲، رقم : ۱۴۷۲، والحاكم : ۵۲۷/۱، رقم : ۱۳۷۷، وقال : صحيح الإسناد. والبيهقي : ۶۱/۴، رقم : ۶۸۸۹، والضياء : ۱۶۶/۹، رقم : ۱۴۲، والشافعي : ۳۶۱/۱، وإسحاق بن راهويه : ۴۱/۱، رقم : ۱۰، والحميدي : ۲۴۷/۱، رقم : ۶۸۰۱، والبزار : ۲۰۴/۶، رقم : ۲۲۴۵، والطيالسي : ۲۸۴/۲، رقم : ۱۰۲۶، كما في المشكاة : ۱۵۱/۱، ۱۷۳۹، وسنده حسن).

//////

کتاب الطهارة

د ډک کړی شوی غاښ سره د غسل او اودس کولو حکم

سوال : کله چی غاښ ډك کړی شی یا دَ سرو،سپینو زرو په تار وتړل شی، یا د اصلی غاښ په ځای بل غاښ کیښودل شی نو ددی سره غسل او اودس کول څه حکم لری ؟ دارنګه غاښ ته د پوښ ورکولو څه حکم دی؟.

جواب : کله چی غاښ ډك کړی شی یا دَ سرو اوسپینو زرو په تار وتړلی شی، یا د اصلی غاښ په ځای بل غاښ کیښودل شی نو ددی سره غسل او اودس کول صحیح دی ؟ دارنګه غاښ ته د پوښ ورکولو حکم هم همدغه دی. د اودس او غسل په وخت کښی ئی لری کول ضروری نه دی.

امام ابوداود په خپل سنن (۵۸۱/۲) کښی باب راوړی :

باب ربط الأسنان بالذهب.(یعنی غاښونه په سرو زرو تړل).

امام ابوداود په خپل باب سره دی خبرد ته اشاره کړی چی دی سره غسل او اودس کول جائز دی.

شیخ عثیمین رحمه الله په خپله فتاوی (۱٤۰/٤) کښی لیکی :

إذا كان على الإنسان أسنان مركبة، فالظاهر أنه لا يجب عليه أن يزيلها.

دارنګه په احسن الفتاوی کښی مفتی رشید احمد صاحب لیکی :

((دارنګه پوښ لګول په ضرورت کښی داخل دی، او ددی په لری کولو کښی ډیر تکلیف دی، وهو مدفوع شرعا. نو لهذا د لری کولو نه بغیرئی هم غسل صحیح کیږی. (۳۲/۲).

دارنګه مسئله په فتاوی حقانیه (۵۲۲/۲، جدید فقهی مسائل : ۲٤/۱).کښی هم ددی

سره د اودس کولو جواز ذکر شوی ۔

د اوسپنې د ګوتې سره اودس کول

سوال : زمونږ په کلي کښې یو مولوی صاحب دی، هغه دا مسئله وکړه چې کوم ښځو د اوسپنې ګوته په لاس کړې وی، نو ددی سره د هغوئ اودس نۀ کیږي۔
آیا دی سره اودس کیږی ؟

جواب : ستاسی په مسئله کښې د جواب کولو نه مخکې دا خبره لیکل ضروری ګڼو، چې د یوشی متعلق په بی علمئ سره د حلال او حرام حکم لګول په اسلام کښې غټ جرم دی، دی ډول فتوو ته په قرآن کښې تقوّل علی الله (په الله باندی دروغ جوړول) ویل شوی۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ولا تقولوا لما تصف ألسنتكم الكذب هذا حلال وهذا حرام لتفتروا على الله الكذب، إن الذين يفترون على الله الكذب لا يفلحون ﴾. (النحل : ١١٦).

یو بل آیت کښې راځی : ﴿ قل إنما حرم ربى الفواحش ما ظهر منها وما بطن والإثم والبغى بغير الحق وأن تشركوا بالله مالم ينزل به سلطانًا وان تقولوا على الله ما لا تعلمون ﴾. (أعراف : ٣٣).

په دی آیت کښې تقول علی الله ته ګناه کبیره ویل شوی۔

اوس راشه خپلې مسئلې ته :

نو دی باره کښې زمونږ تر مخه هیچری هم دا مسئله نۀ ده تیره شوی، اونۀ چیرته په کومه فقه کښې راغلې چې د اوسپنې د ګوتې سره اودس نۀ کیږي۔ البته یو حدیث کښې داسې الفاظ راغلی : ما طهر الله كفا فيها خاتم من حديد.

(رواه البزار : ٢٩٩٣، والبخارى فى التاريخ، والطبرانى فى الأوسط، وعنه ابن مندة فى المعرفة).

لیکن دا حدیث ثابت نۀ دی، امام البانی رحمه الله په السلسلۀ الضعیفۀ والموضوعۀ (٤٤٧/٩) کښې ددی متعلق لیکی : وهذا إسناد ضعيف جدًا، شمسية بنت نبهان لا تعرف، وعباد بن كثير الرملى، وثقه بعضهم لكن قال البخارى : فيه نظر، وقال النسائى : ليس بثقةٍ، وقال الحاكم : روى أحاديث موضوعة.

یعنی : دا حدیث سخت ضعیف دی، په دی کښی ((شمسیه)) نامعلومه راویه ده، او ((عباد بن کثیر)) هم ضعیف راوی دی۔

بلـه دا چی په دی حدیث کښی د طهارت نه ظاهری پاکوالی نهٔ دی مراد بلکه د طهارت نه مراد معنوی طهارت دی، لکه علامه مناوی رحمه الله په فیض القدیر شرح الجامع الصغیر کښی د (ما طهر) معنیٰ داسی کوی : أی ما نزهها، فالمراد من الطهارة المعنوية.

//////

کتاب الصلاة

دَ سر تور سر لمونځ کولو حکم

سوال: سر تور سر - یعنی د پټکی او ټوپۍ نه بغیر - لمونځ کول څه حکم لری ؟
جواب: په دی مسئله کښی د تفصیل کولو نه مخکښی اول دا خبره یاد لرل پکار دی چی یو په لمانځه کښی د عورت پټول دی نو د عورت پټول فرض او ضروری دی۔او په دی باندی د علماو اجماع ده۔دی سره سره په لمانځه کښی د سرِی لپاره وُلی (اوږی) پټول هم ضروری دی، رسول الله ﷺ فرمایی :

لا یصلین أحدکم فی الثوب الواحد لیس عاتقه شئ. (متفق علیه).

(پتاسو کښی دی څوک په داسی یوه جامه کښی لمونځ نه کوی چی په اوږه باندی ئی دَ هغی څه حصه پرته نه وی)۔

په بل حدیث کښی راځی۔عن أبی هریرة رضی الله عنه قال : سمعت رسول الله ﷺ یقول : من صلی فی ثوب واحد فلیخالف بین طرفیه. (رواه البخاری : ۱/۵۲).

(څوك چی په یوه جامه کښی لمونځ کوی نو د جامی طرفونه دی په اوږو باندی واچوی)۔

په خپله د رسول الله ﷺ همدا عمل وو، حدیث کښی راځی۔

إنه ﷺ صلی فی ثوب واحدٍ مشتملاً به فی بیت أم سلمة واضعًا طرفیه علی عاتقیه. (مشکاة : ۱/۷۲).

(رسول الله ﷺ په یوه جامه کښی دَ ام سلمی رضی الله عنها په کور کښی لمونځ وکړو، (په دی طریقه) چی د ځان نه ئی (همدغه یوه جامه)راتاوُه کړی وه، د جامی دواړه طرفونه ئی په اوږو باندی اچولی وو)۔وګوره : فتاوی الدین الخالص (۳/۴۹۵) تفصیلاً.

بله خبره داده چی په لمانځه کښی په داسی هیئت کښی داخلیدل پکار دی چی د زینت

او ښائست هيئت وی۔الله تعالیٰ فرمائی :
خذوا زينتكم عند كل مسجدٍ.
(د هر مسجد (لمانځه) لپاره زينت اختيار کړئ)۔
دارنګه رسول الله ﷺ فرمائی :
إذا صلى أحدكم فليلبس ثوبيه فإنّ الله أحقّ من تزين له. (الحديث، اخرجه البيهقى : ۲/۲۳۵، و الطبرانى عن ابن عمر).
(کله چی په تاسو کښی څوك لمونځ کوی، نو خپلی دوه جامی دی واغوندی ځکه چی الله تعالیٰ دَ هرچانه ددی ډير لائق دی چی هغه ته دی ښائست اوشی)۔
بل حديث کښی دی۔إن الله جميل يحبُّ الجمال.
(الله ښائسته دی ښائست خوښوی)۔
د قرآن کريم دپورتنی آيت او صحيح احاديثو نه معلومه شوه چی لمانځه ته په ښائسته هيئت او صورت کښی دريدل پکار دی۔
اوس دی مسئلی راځو چی د پټکی ياخولئ (ټوپئ) نه بغير لمونځ څه حکم لری ؟
نو مخکښی ذکرشو چی لمانځه ته په ښه هيئت کښی دريدل پکار دی، ښه هيئت دادی چی د انسان خولئ (ټوپئ) يا پټکی وغيره په سر وی، د رسول الله ﷺ او د هغه د پاکو صحابه کرامو – رضی الله عنهم – دارنګه د نورو سلفو صالحينو رحمهم الله عادت دا وو، چی هغوئ به خولئ (ټوپئ)يا پټکی وغيره په سر کولو، دی باره کښی ګڼ احاديث او آثار راغلی۔په صحابه کرامو رضی الله عنه او نورو سلفو کښی ټوپئ، پټکی وغيره په سر کول زينت ګڼل کيده۔اوس چی کوم کسان سر تور سر ته د زينت په نظر ګوری، نو دا اجنبی او پردی زينت دی۔ديته اسلامی زينت نوم ورکول صحيح نه دی۔علامه البانی رحمه الله ليکی :
وليس من الهيئة الحسنة فى عرف السلف اعتياد حسر الرأس والسير كذلك فى الطرقات والدخول كذلك فى أماكن العبادات، بل هذه عادة أجنبية تسربت إلى كثير من البلاد الإسلامية حينما دخلها الكفار، وجلبوا إليها عاداتهم الفاسدة فقلدهم المسلمون فيها، فأضاعوا بها وبأمثالها من التقاليد شخصيتهم الإسلامية، فهذا العرض الصارى لا يصلح أن

یکـون مسوغاً لمخالفة العرف الإسلامی السابق، ولا اتخاذه حجة لجواز الدخول فی الصلاة حاسر الرأس، (تمام المنة ص : ١٦٤).

(یعنی : دهمیشه لپاره سر تور گرځیدل او عباداتو ته ورډیدل، ښه عادت نه دی، بلکه دا دَغیر مسلمو عادت دی چی ډیرو اسلامی ملکونو ته ئی سرایت کړی، او مسلمانانو د هغوئ تقلید کړی).

شیخ السلام ابن تیمیه رحمه الله په مجموع الفتاوی (١١٧/٢٢) کښی د ابن عمر رضی الله عنه اثر نقل کړی چی هغه خپل غلام نافع ولیدلو چی هغه سر تور سر لمونځ کول، ورته وی فرمایل :

أرأیت لو خرجت إلی الناس کنت تخرج هکذا ؟ قال : لا، قال فالله أحق أن یتجمل له.

(آیا که ته بهر خلکو ته راوځی نو په دی هیئت کښی به راوځی ؟ هغه وویل : نه! ابن عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل : نو الله ډیر ددی لائق دی چی هغه ته ډول وکړی شی).

(مجموع الفتاوی : ١١٧/٢٢، وأورد الألبانی فی مقدمة حجاب المرأة لشیخ الإسلام ص : ٤/، واللباس والزینة فی الشریعة الإسلامیة).

په سنن کبری د بیهقی کښی دا روایت په دی الفاظو سره دی.

عن نافع قال : رآنی ابن عمر وأنا أصلی فی ثوب واحد، فقال : ألم أکسك ؟ قلت : بلی، قال : فلو بعثتك کنت تذهب هکذا ؟ قلت : لا، قال : فالله أحق أن تزین له.

(رواه البیهقی : ٢٣٦/٢، وسنده صحیح).

په دی حدیث کښی هم په یوه جامه کښی لمونځ شوی، د ډیرو جامو باوجود ابن عمر په خپل شاگرد نافع باندی انتقاد کوی چی داسی مه کوه.

یادونه: په یوه جامه کښی چی لمونځ کولی شی، نو سر نه پټیږی.

خلاصه دا چی په خولئ (ټوپئ) او پټکی وغیره کښی لمونځ کول افضل او غوره دی. او سر تور سر اگر که لمونځ کیږی ولی بیا هم سر تور سر (خصوصا د همیش لپاره) لمونځ کول خلافِ ادب او خلافِ افضل دی.

د تفصیل لپاره فتاوی الدین الخالص : ٤٨٨/٣، تمام المنة ص : ١٦٤، مجلة البحوث رقم : ٣١، ص : ٥١، وگوره.

د لمانځه نه پس ذکرونه

سوال : د لمانځه نه پس کوم کوم ذکرونه او دعاګانی په قرآن او سنت کښی راغلی ؟ که ددی وضاحت وکړئ۔ جزاکم الله خیرا۔

جواب : د لمانځه نه پس د رسول الله ﷺ نه ډیر ذکرونه او دعاګانی ثابتی دی، چی د هغو تفصیل دادی :

۱ – کله چی سلام وګرځوی نو دری ځله : اَسْتَغفرُ اللّٰه، استغفرُ اللّٰه، استغفرُ اللّٰه۔ ویل او بیا:
اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْکَ السَّلَامُ تَبَارَکْتَ یَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ ؕ

ترجمه: ای الله ! ته سلام ئی، او ستا د طرف نه سلامتیا ده، برکت اچونکی ته ئی، ای خاوند د لویئ او دعزت.

(مسلم : ۲۱۸/۱، ابوداود :۱۵۱۳، نسائی : ۱۳٦۹، ابن ماجه :۹۳۸).

دی سره بعضی کسان دا الفاظ هم اضافه کوی : ۔
وَاِلَیْکَ یَرْجِعُ السَّلَامُ فَحَیِّنَا رَبَّنَا بِالسَّلَامِ وَاَدْخِلْنَا دَارَكَ دَارَ السَّلَامِ ؕ

لیکن دا الفاظ چا د ځانه جوړ کړی، د رسول الله ﷺ نه ثابت نه دی۔ مُلا علی قاری حنفی په مرقات شرح مشکات کښی لیکی :

قال الشيخ الجزری فی تصحيح المصابيح : وأما ما يزاد بعد قوله : ومنك السلام من نحو : وإليك يرجع السلام فحيّنا ربنا بالسلام، وأدخلنا دارَك دارَ السلام : فلا أصل له، بل مختلف بعض القصّاصِ.

(شیخ جزری په تصحیح المصابیح کښی ویلی : چی د (منك السلام) لفظ نه ورسته چی څوك ((واليك يرجع السلام الخ)) الفاظ اضافه کوی نو ددی هیڅ ثبوت نشته، بلکه دا بعضی قیصه ګوخلقو د ځانه جوړ کړی)۔(مرقاة شرح مشكاة : ۳۵۸/۲).

تنبیه : د استغفار ویلو په وخت یوه ګوته اوچتول لکه په تشهد کښی مسنون عمل دی، ډیر خلق ددینه ناخبره دی، په دی باندی عمل کول پکار دی۔

امام ابوداود پدی هکله په خپل سنن کښی د ابن عباس رضی الله عنه نه داسی روایت نقلوی :

عن ابن عباس قال المسئلة ان ترفع یدیک حذو منکبیک او نحوهما، و الاسغفار ان تشیر باصبع واحدة والابتهال ان تمدیدیک ــ (قال الالبانی فی صحیح ابی داود ، صحیح کما فی المشکوة، کتاب الدعوات، الفصل الثالث).

۲ –لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْکَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَیْتَ وَلَا مُعْطِیَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا یَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْکَ الْجَدُّ ط

(د الله نه سیوا بل هیڅوك د عبادت لائق نشته، هغه یوائحی دی، هیڅ شریك نه لری، دهغه لپاره بادشاهی او هم دهغه لپاره تعریفونه دی، او هغه په هر څه قادر دی، ای الله ! ته چی څه ورکوی، د هغه څوك بندونکی نشته، او ته چی د چانه څه منع کړی نودهغه څوك ورکونکی نشته، او دَ هیچا نسب ستا د عذاب نه هغه نشی خلاصولی)۔

(بخاری : ۱/۱۱۷، مسلم : ۱/۲۱۸).

دا دعاء د فرضو نه پس په پته ویل پکار دی او په مشکاۃ کښی چی دا راغلی چی رسول الله ﷺ به دا دعاء په زوره ویله، نو صاحب مشکوه دا د مسلم په حواله نقل کړی، حال داچی دا قید په مسلم کښی نشته۔(مسلم : ۱/۲۱۸، مشکاۃ : ۱/۸۸).

۳ – اللهم أعنی علی ذکرك وشکرك وحُسن عبادتك.

(ای الله ! ته زمامدد وکړی ستا په ذکر او شکر او ستا په ښه عبادت باندی)۔

(أبوداود : ۱۵۲۲، نسائی : ۱۳۰٤، وسنده صحیح، صححه ابن خزیمة : ۷۵۱، وابن حبان، الإحسان : ۲۰۲۰، والحاکم علی شرط الشیخین : ۱/۲۷۳، ووافقه الذهبی).

٤ – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِکَ مِنَ الْجُبْنِ وَاَعُوْذُ بِکَ مِنَ الْبُخْلِ وَاَعُوْذُ بِکَ مِنْ اَرْذَلِ الْعُمُرِ وَاَعُوْذُ بِکَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْیَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ ط

ترجمه: (یا الله ! زه پتا سره پناه غواړم د بزدلئ (بی غیرتئ) نه، او پناه غواړم پتا سره د بخل نه، او پناه غواړم په تا سره دَ بیکاره ژوند (ډیر بوډا والی) نه، او پناه غواړم په تاسره دَ دنیا دَ فتنی اودَ قبر د عذاب نه)۔(ترمذی : ۳۸۲۰، بخاری (۱/ ۱۱۵)، مشکاۃ : ۱/۸۸).

۵ – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُکَ فِعْلَ الْخَیْرَاتِ وَتَرْکَ الْمُنْکَرَاتِ وَحُبَّ الْمَسَاکِیْنِ وَاَنْ تَغْفِرَلِیْ وَتَرْحَمَنِیْ وَاِذَا اَرَدْتَّ فِتْنَةً فِیْ قَوْمٍ فَتَوَفَّنِیْ غَیْرَ مَفْتُوْنٍ وَاَسْئَلُکَ حُبَّکَ وَحُبَّ مَنْ یُّحِبُّکَ وَحُبَّ عَمَلٍ یُقَرِّبُنِیْ اِلٰی حُبِّکَ ط

(المشکوة ۱/۷۰۔۷۲ صحیح الجامع الصغیر ۱/۷۲)

(یا الله ! زه ستانـه د نیـکیـو تـوفیـق، دَ گـنـا هونو پریښودل، او د مسکینانو محبت غواړم، او داچې تـه مـاتـه مـغـفـرت وکړې او په ما رحم وکړې، او کله چې ته په یو قوم کښې دَ فتنې اراده وکړې نـو مـا دَ فتـنـې نـه بغیر وفات کړه، او زه ستاڅخه ستا محبت غواړم، او د هغه چا محبت غواړم چې تاسره محبت کوي، او دَ هغه عمل محبت چې ما ستا محبت ته نزدې کړي)۔

په یـو حـدیـث کښـې راځـي چې الله تـعـالـیٰ رسـول الله ﷺ ته په حدیث قدسي کښې فرمایلي چې کله ته لمونځ وکړې نو دا دعاء وایه۔

رسـول الله ﷺ خپـل امت ته فرمایلي چې دا صحیح روایت دی، دا دعا لولئ او ضرورئ یاده کړئ۔

په بعضې روایتونو کښې ددې دعاء الفاظ داسې هم راغلي :

الـلـهـم إنی أسألك فعل الخیرات وترك المنکرات وحبَّ المساکین، وأن تغفر لی وترحمنی، وتتوب عليَّ وإذا أردتَّ بعبادتك فتنةً فاقبضنی إلیكَ غیر مفتون.

٦ – الـلـهم اغفر لی ما قدَّمْتُ وما أخّرتُ وما أسررتُ وما أعلنتُ وما أسرفتُ وما أنتَ أعلمُبه منی، أنت المقدمُ وأنت المؤخرُ، لا إله إلا أنت.

(أبوداود : ۱۵۰۹، بیهقی : ۲/۱۸۵).

(یا الله ! زمـا مـخـکنی، روستني گناهونه معاف کړه، او هغه چې ما ښکاره کړي، او هغه چې مـا پـه پټـه کړي، او هغه چې ما زیاتي کړي، او هغه گناهونه چې ته مانه په هغوښه خبریې، ته وړاندې کونکی او همته ورسته کونکی ئې،ستانه سیوا د بندگئ حقدار نشته)۔

۷ – اللهم اغفر لی وتب عليَّ إنك أنت التواب الغفور .

(احمد : ۵/۱۷۱، کما فی الصحیحة : ۲۶۰۳).

(یا الله ! مـاتـه مـغفرت وکړې او زما توبه قبوله کړې، یقینا چې ته ډیر توبه قبلونکی او ښښونکی یې)۔

دا ذکر به رسول الله ﷺ د لمانځه نه پس سل ځله کول۔

۸ – الـلـهم إنی اسئلك من الخیر کله ، ما علمتُ منه ومالم أعلم، وأعوذ بك من الشرّ کله، ما علمتُ منه ومالم أعلم .

(الطبرانی : ۲۰۵۸، کما فی الجامع الصغیر : ۱۲۷۷).
(یا الله ! زه تانه دَ ټولو هغه ښیګړو سوال کوم، چې ماته معلومې دی او هغه چې ماته معلومې نه دی۔اوزه په تاسره پناه غواړم د ټولو هغه شرونو نه، کوم چې ماته معلوم دی، او کوم چې ماته معلوم نه دی)۔

۹ – دَ هر فرض لمانځه نه پس آیةُ الکُرسِیّ لوستل۔
حدیث شریف کښې دی۔رسول الله ﷺ فرمائی :
من قرأ آیة الکرسی فی دبر کل صلاة مکتوبةٍ لم یمنعه من دخول الجنة إلا أن یموت .
(څوك چې د هر فرض لمانځه نه پس آیتُ الکرسی لولی، نو دَ مړکیدو نه پورا پس به جنت ته ځی)۔
(النسائی فی الکبری : ۹۹۱۸، وابن السنی فی عمل الیوم واللیلة : ۱۰۰، والطبرانی فی کتاب الدعاءِ : ۶۷۵، والکبیر : ۷۵۳۲، وابن حجر فی اتحاف المهرة : ۲۵۹/۶، رقم : ۶٤۸۰).

۱۰ – (۳۳) ځله – سُبْحَانَ اللّٰهِ ط
(۳۳) ځله – اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ط
او (۳٤) ځله – اَللّٰهُ اَکْبَرُ ط
(صحیح مسلم : ۲۱۹/۱، نسائی : ۱۲۷۸).
البته که څوك (۳۳) ځله ((اَللّٰهُ اَکْبَرُ)) ووائی نو بیا هغه ته ددینه پس دا دعاء هم ویل پکار دی۔
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَحْدَهٗ لَا شَرِیْکَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ .
الله تعالیٰ به دده ټول ګناهونه معاف کړی اګرکه د دریاب د ځګ په اندازه وی)۔
(صحیح مسلم : ۲۱۹/۱، ابوداود : ۱۵۰٤).
پدی کښې لس (۱۰) ځله سُبْحَانَ الله .
لس (۱۰) ځله – الحَمْدُ لله .
لس (۱۰) ځله – اَللّٰهُ اکبَر .
لوستل هم په صحیح روایت کښې راغلی دی. پدی کښې که په هره یوه طریقه عمل

وشی، نو په سنت طریقه عمل دی.

دارنګه د مسلم روایت کښې ددې یولس، یولس ځله لوستل هم راغلی، لیکن هغه د راوی اندراج دی صرف د سهیل په روایت سره نقل شوی.

۱۱ – ﴿قل أعوذ برب الفلق﴾ او ﴿قل أعوذ برب الناس﴾ ویل.

په حدیث کښې راځي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

اقرؤوا المعوذاتِ فی دبر کل صلاةٍ.

(دَ هر فرض لمانځه نه پس معوذات – آخری دوه سورتونه – لولئ).

(اخرجه ابوداود ۱۵۲۳، والنسائی: ۱۳۳۷، والحاکم :۲۵۳، وابن خزیمة: ۷۵۵، واحمد: ۱۵۹/٤، وابن حبان، الإحسان: ۲۰۰۱، وابن بلبان: ۲۰۰٤، کما فی الصحیحة: ۱۹/٤، ۱۵۱٤).

قاضی شوکانی په تحفة الذاکرین ص: ۱٤۹ کښې لیکی:

د معوّذتینو نه مراد آخرنی دوه سورتونه، یعنی ((قل اعوذ برب الفلق)) او ((قل اعوذ برب الناس)) دی، موږ ته هم دا راجحه ښکاری.

ځینی علماء وایی چې ((سورتِ اخلاص)) هم ورسره مراد دی، لیکن زموږ د ډیر تالاش سره هیڅری په دی باندی تصریح نه ده راغلی، هر ځای کښې معوذات، معوذتین راغلی.

دا خو هغه اذکار وو چې د هر فرض لمانځه نه پس ئی ویل راغلی دی. البته ځینی نور اذکار هم شته چې هغه تر بعضی لمونځونو پوری خاص دی. لکه د سهار تر لمانځه پوری، یا د ماښام او سهار دواړو لمونځونو پوری، چې هغه د فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین الله حفظه الله په کتاب ((دَ مستند ذکرونو او دعاګانو)) کښې تفصیلا کتلی شئ.

//////

په لمانځه کی د تکبیر تحریمه نه علاوه رفع الیدین (لاسونه پورته) کول؟

سوال: په لمانځه کښې د تکبیر تحریمه نه علاوه یعنی رکوع د تللو په وخت، رکوع را اوچتیدو په وخت دارنګه اولی قعدی نه د دریم رکعت ته د پاڅیدو په وخت رفع الیدین (لاسونه پورته کول) شته؟

دی باره کښې مونږ ته تفصیلا دَ دلائلو په رڼا کښې جواب راکړئ۔ وجزاکم الله خیرا۔

جواب : په لمانځه کښې چې کله تکبیر تحریمه کولی شی نو ددی سره په رفع الیدین کولو باندی خو د علماؤ اجماع ده۔لکه ددی تفصیل په المجموع للنووی (۳۰۵/۳)، کتاب الاجماع لابن المنذر ص (۶۹) فتاوی الدین الخالص (۶۹/۴) کښې ذکر ده۔

البته رکوع ته د تللو په وخت، د رکوع نه راپاسیدلو په وخت، او د اولی قعدی نه دریم رکعت ته د پاسیدلو په وخت رفع الیدین کولو کښې اختلاف دی۔د جمهورو اهلِ علمو مذهب دادی چې دی وختونو کښې رفع الیدین کول دَ رسول الله ﷺ او دَ هغه دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم سنت دی۔تردی چې دَ رفع الیدین احادیثو ته ګڼو محدثینو او فقهاؤ متواتر ویلی، لکه ددی تفصیل به ورسته راشی ان شاء الله۔

امام الفقهاء والمحدثین أمیر المؤمنین فی الحدیث، امام بخاری رحمه الله فرمائی چې : دَ هیڅ یو صحابی نه دا ثابت نه دی چې هغه رفع الیدین پریښې وی۔

(وګوره : جزء رفع الیدین للإمام البخاری ص : ۱۱۰، المجموع : ۴۰۵/۳، للنووی).

دغه مذکوره ځایونو کښې دَ رفع الیدین د ثبوت لپاره بی شماره دلائل دی۔ چې دَ مشت نمونه خروار په اندازه دلته یو څو ذکرکولی شی۔

۱ – عن ابن عمر رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ کان یرفع یدیه حذو منکبیه إذا افتتح الصلاة، وإذا کبر للرکوع وإذا رفع رأسه من الرکوع رفعهما کذلك، وقال : سمع الله لمن حمده، ربنا ولك الحمد، وکان لا یفعل ذلك فی السجود.

(متفق علیه کما فی المشکاة : ۷۵/۱، بخاری : ۱۰۲/۱، مسلم : ۱۶۸/۱).

(دَ ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ به کله لمونځ شروع کولو نو دواړه لاسونه به ئی تر اوږو پوری پورته کول، دارنګه کله به چې رکوع ته تللو او کله به چې دَ رکوع نه پورته کیدلو نو بیابه ئی هم دواړه لاسونه تر اوږوپوری اوچتول، او سمع الله لمن حمده، ربنا لك الحمد به ئی ویله۔او په سجده کښې به ئی رفع الیدین نه کول)۔

دا حدیث راتلونکو کتابونو هم راوړی : صحیح ابن خزیمة : ۲۳۲/۱، ابن حبان : ۱۶۸/۳، صحیح أبی عوانة : ۲۰/۲، منتقی ابن الجارود : ۶۹، ترمذی : ۵۹/۱، شرح السنة : ۲۰/۳، اللؤلؤ والمرجان فیما اتفق علیه الشیخان : ۷۹/۱، ۲۱۷).

٢ - وعن نافع أن ابن عمر كان إذا دخل فى الصلاة رفع يديه وإذا ركع رفع يديه وإذا قال: سمع الله لمن حمده رفع يديه، وإذا قام من الركعتين رفع يديه، ورفع ذلك ابن عمر إلى النبى ﷺ. (رواه البخارى: ١٠٢/١، رقم: ٧٣٩، شرح السنة للبغوى: ٢١/٣، كما فى المشكاة: ٧٥/١، مجموعة فتاوى لابن تيمية: ٤٥٣/٢٢).

(نافع رحمه الله فرمائى: ابن عمر رضى الله عنه به دَ لمانځه شروع كولو په وخت تكبير ويلو او خپل دواړه لاسونه به ئى اوچت كړل، اوكله چى به ركوع ته تللو نو بيا به ئى رفع اليدين وكړل، اوكله به ئى چى سمع الله لمن حمده اوويلو، نو رفع اليدين به ئى وكړل، اوكله به چى د دوو ركعتونو نه پاسيده نو رفع اليدين به ئى وكړل۔ ابن عمر رضى الله عنه به د خپل دى عمل نسبت نبى كريم ﷺ ته كولو۔ (چى هغوئ به دا كار كولو)۔

٣ - عن أبى حميد الساعدى قال فى عشرة من أصحاب النبى ﷺ أنا أعلمكم بصلاة رسول الله ﷺ قالوا: فاعرض، قال: كان النبى ﷺ إذا قام إلى الصلاة رفع يديه حتى يحاذى بهما منكبيه ثم يكبر، ثم يكبر ويرفع حتى يحاذى بهما منكبيه، ثم يركع... ثم يصنع فى الركعة الثانية مثل ذلك، ثم إذا قام من الركعتين كبر ورفع يديه حتى يحاذى بهما منكبيه، كما كبر عند افتتاح الصلاة، ثم يصنع ذلك فى بقية صلاته، فقالوا: صدق، هكذا كان رسول الله ﷺ يصنع. (المشكاة: ٧٦/١، رواه ابن حبان: ١٧١/٣، وابن خزيمة: ٢٩٨/١، وابن الجارود فى المنتقى ص: ٧٤، ١٩٢، والترمذى ٦٧/١، وقال: هذا حديث حسن صحيح، والبخارى فى جزء رفع اليدين وصححه ص: ١٧٨، وصححه ابن تيمية فى الفتاوى الكبرى: ٨٠٥/١، والنووى فى المجموع: ٤٥٣/٢٢، وابن القيم فى تهذيب سنن أبى داود: ٤١٦/٢، والخطابى فى معالم السنن: ١٩٤/١، والألبانى فى صحيح سنن الترمذى).

(ابو حميد ساعدى رضى الله عنه د لسو صحابه كرامو رضى الله عنه په حضور كښى وفرمايل چى زه ستاسو (دَ لسو صحابو رضى الله عنه) نه دَ رسول الله ﷺ په لمانځه ډير ښه پوهيږم، هغوئ ورته وفرمايل: (ته كه واقعى د نبى كريم ﷺ په لمانځه ښه پوهيږى) نو پيش كړه۔ ابو حميد ساعدى رضى الله عنه وفرمايل: نبى كريم ﷺ چى به كله لمانځه ته ودريدو نو لاسونه به ئى تر اوږو پورى پورته كړل، بيابه ئى الله اكبر وويل۔ بيابه ئى (د قرائت نه روسته) الله اكبر وويل او رفع اليدين به ئى وكړل، تردى چى لاسونه به ئى

تر اوږو پوری پورته کړل، بیابه ئی رکوع وکړه۔ بیابه ئی په دویم رکعت کښی هم د اولنی رکعت پشان کار وکړو، بیا چی به د دوو رکعتونو نه پس دریم رکعت ته پاسیده، نو الله اکبر به ئی وکړو، اولاسونه به ئی تر اوږو پوری پورته کړل، لکه څرنګه چی اول ځل د لمانځه شروع کولو په وخت ئی الله اکبر کړی وو۔ بیابه ئی باقی لمانځه کښی هم دا شان کار کولو۔ دی تهولو صحابه کرامو رضی الله عنه وفرمایل چی : رشتیا وائی۔ رسول الله ﷺ به همداسی لمونځ کولو)۔

دَ ابو حمید ساعدی رضی الله عنه دا حدیث په دی مسئله واضح او ښکاره دلیل دی، چی رفع الیدین په لمانځه کښی د رسول الله ﷺ سنت دی۔ او دا منسوخ شوی نه دی۔ ځکه ابو حمید رضی الله عنه په خپله هم صحابی دی، او لس نورو صحابه کرامو رضی الله عنه ئی هم تصدیق وکړو۔ او دا واقعه د رسول الله ﷺ د مرګ نه پس منځ ته راغلی۔ او دَ رسول الله ﷺ د مرګ نه پس نسخ نه کیږی۔ په دی صحابه کرامو رضی الله عنه کښی : سهل بن سعد ساعدی، ابو اسید ساعدی، ابو هریره او محمد بن مسلمه رضی الله عنهم اجمعین هم وو۔

(وګوره : مختصر صحیح ابن خزیمة : ٢٩٨/١، صحیح ابن حبان : ١٧٠/٣، جزء رفع الیدین ص : ٣٧).

په صحیح ابن خزیمه کښی دی چی محمد بن یحیی رحمه الله فرمائی :

من سمع هذا الحدیث ثم لم یرفع یدیه یعنی إذا رکع وإذا رفع رأسه من الرکوع، فصلاته ناقصة. (صحیح ابن خزیمة : ٢٧٠/١).

(چا چی دا حدیث واوریده، او بیائی په لمانځه کښی رکوع ته د تللو او رکوع نه د را پورته کیدلو په وخت رفع الیدین ونکړل، نو د هغه مونځ نیمګړی دی)۔

٤ – عن علی بن أبی طالب عن رسول الله ﷺ أنه کان إذا قام إلی الصلاة المکتوبة کبّر ورفع یدیه حذو منکبیه ویصنع مثل ذلك إذا قضی قرائته وأراد أن یرکع ویصنعه إذا رفع رأسه من الرکوع ولا یرفع یدیه فی شئ من صلاته وهو قاعد، وإذا قام من السجدتین رفع یدیه وکبّر.. الحدیث.

(د امیر المؤمنین علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ به چی کله فرض لمانځه ته اودریده نو تکبیر به ئی وکړو، او لاسونه به ئی د اوږو برابرځ

پوری پورته کړل، او کله به چی رکوع ته تللو نو رفع الیدین به ئی کول، او کله به چی د رکوع نه راپورته شو نو دغه شان رفع الیدین به ئی کول، او په ناسته کښې به ئی رفع الیدین نه کول، اوکله به چی د دوو رکعتونو نه (دریم رکعته ته) راپاسیدو نو رفع الیدین به ئی کول)۔

د علی رضی الله عنه مذکوره روایت په لاندینو کتابونو کښې ذکر دی۔

(صحیح ابن خزیمة : ۲۹٤/۱، مسند احمد : ۹۳/۱، جامع الترمذی : ۳٤۲۳، السنن الکبری للبیهقی : ۷٤/۲، دارقطنی : ۲۸۷/۱، ۱۰۹٤، معانی الآثار للطحاوی : ۱۹۹/۱، نصب الرایة : ٤۱۲/۱) الدرایة : ۱٥۳/۱، تلخیص الحبیر : ۲۱۹/۱، وغیرهم).

٥ – وعن أبی هریرة قال : کان رسول الله ﷺ إذا افتتح الصلاة کبّر ثم جعل یدیه حذو منکبیه، وإذا رکع فعل مثل ذلك، وإذا سجد فعل مثل ذلك، ولا یفعل حین رفع رأسه من السجود، وإذا قام من الرکعتین فعل مثل ذلك.

(أخرجه ابن خزیمة فی صحیحه : ۳٤٤/۱، وإسناده حسن، وقال معلقه : إسناده صحیح او صحیح لغیره، وله شاهد عند الدارقطنی فی العلل وصححه النووی فی الخلاصة : ۳٤۱/۱، کما فی التلخیص الحبیر : ۲۱۹/۱، ورجاله ثقات).

(ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ به کله لمونځ شروع کولو نو الله اکبر به ئی وویلو، بیابه ئی لاسونه تر اوږو پوری پورته کړل، اوکله به ئی چی رکوع کوله نو بیابه ئی هم همدغه شان رفع الیدین کول، اوکله به چی (سجدی ته تللو) نو بیابه ئی همدغه شان رفع الیدین ول، او دَ سجدی نه په را پورته کیدو کښې به ئی رفع الیدین نه کول، بیابه چی کله د دوو رکعتونو نه (دریم رکعته ته) راپاسیده نو دغه شان رفع الیدین به ئی کول)۔

مذکوره حدیث هم په رفع الیدین باندی دلیل دی۔ بعضی خلق د ابو هریره رضی الله عنه ځینی نور روایتونه د ترك رفع الیدین لپاره پیش کوی، چی وګوره په دی کښې ابو هریره رضی الله عنه رفع الیدین نه دی ذکر کړی !! ددی آسان جواب دادی چی عدم ذکر خو نفی لره مستلزم نه وی، په هغه روایتونو کښې خو دَلمانځه نور افعال او اقوال هم نه دی ذکر شوی، نو آیا هغه به هم نه وی ؟ په یو روایت کښې دَ ټولو احکامو موجودیدل ضروری نه دی، اونه کیدی شی۔ بلکه ابو هریره رضی الله عنه خو رفع الیدین روایت کړی

هم دي، لکه تاسو وکتل، او په خپله به ئې کول هم، لکه په جزء رفع اليدين د امام بخاري ص (٤٩) حديث نمبر (٢٢) کښې امام بخاري رحمه الله داسې روايت نقل کوي:

عن عطاءٍ قال: صليت مع أبي هريرة رضي الله عنه فكان يرفع يديه إذا كبّر وإذا رفع.

(عطاء رحمه الله وائي: ما د ابو هريره رضي الله عنه سره لمونځ وکړو، نو هغه به چې کله رکوع ته تکبير کولو نو رفع اليدين به ئې کول، دارنګه کله به چې د رکوع نه راپورته شو نو رفع اليدين به ئې کول)۔ددې روايت راويان ټول ثقه دي۔

٦ - عن عبد الله بن الزبير قال: صليت خلف أبي بكر الصديق رضي الله عنه، فكان يرفع يديه إذا افتتح الصلاة، وإذا ركع وإذا رفع رأسه من الركوع وقال أبو بكر: صليت خلف رسول الله ﷺ فكان يرفع يديه إذا افتتح الصلاة وإذا ركع وإذا رفع رأسه من الركوع.

(عبد الله بن زبير رضي الله عنه وائي: ما د ابو بکر صديق رضي الله عنه پسې لمونځ وکړو، نو هغه به دَ لمونځ شروع کولو، رکوع ته د تللو او رکوع نه د سر راپورته کولو په وخت رفع اليدين کول،ابو بکر صديق رضي الله عنه فرمائي چې ما په رسول الله ﷺ پسې لمونځ کړې هغوئ به هم په دې ځايونو کښې رفع اليدين کول)۔

(أخرجه البيهقي: ٧٣/٢، حديث رقم: ٢٥١٩، وقال: رواته ثقات، المهذب في اختصار السنن الكبرى للذهبي: ٤٩/٢، ١٩٤٣، قال: رواته ثقات، التلخيص الحبير لابن حجر العسقلاني: ٢١٩/١، تحت حديث رقم: (٣٢٨) وقال: رواته ثقات).

د ابو بکر صديق - رضي الله عنه - حديث هم په دې مسئله دليل دې چې رفع اليدين د رسول اکرم ﷺ عمل دې، او منسوخ نه دې، ځکه ابو بکر رضي الله عنه دا کار د رسول الله ﷺ د مرګ نه پس کړې۔

امام ذهبي رحمه الله، امام بيهقي رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله ټول فرمائي چې: ددې روايت راويان ثقه دي۔

٧ - وعن أبي موسى الأشعري قال: هل أريكم صلاة رسول الله ﷺ فكبّر ورفع يديه ثم كبّر ورفع يديه، ثم قال: سمع الله لمن حمده، ثم رفع يديه، ثم قال: هكذا فاصنعوا، ولا يرفع بين السجدتين.

(رواه الدارقطني: ١٩٢/١، والبيهقي: ٢٧/٢، وقال الحافظ في التلخيص الحبير: ٢١٩/١

: رجاله ثقات).

(د ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه نه روایت دی چی هغه خپلو ملګروته وفرمایل : آیا زه تاسو ته د رسول الله ﷺ لمونځ وکړم ؟ نو الله اکبر ئی اوویلو، اولاسونه ئی پورته کړل، بیا ئی (د ثناء، فاتحی او سورت ویلو نه پس) الله کبر اوویلو، او رفع الیدین ئی وکړل، بیائی (د رکوع کولو نه پس) سمع الله لمن حمده اوویله، او رفع الیدین ئی وکړل۔ بیائی وفرمایل : همداسی لمونځ کوئ، او په سجده کښی ئی رفع الیدین ونه کړل)۔

مذکوره روایت د ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه نه موقوفا او مرفوعا دواړه په صحیح سند سره روایت شوی۔

۸ – وعن وائل بن حجر قال : قلت : لأنظرن إلى صلاة رسول الله ﷺ كيف يصلى ؟ فقام رسول الله ﷺ فاستقبل القبلة فرفع يديه حتى حاذتا أذنيه، ثم أخذ شماله بيمينه فلما أراد أن يركع رفعهما مثل ذلك ووضع يديه على ركبتيه، فلما رفع رأسه من الركوع رفعهما مثل ذلك، فلما سجد وضع رأسه بذلك المنزل من يديه، ثم جلس فافترش رجله اليسرى ووضع يده اليسرى على فخذه اليسرى.. الحديث.

(وائل بن حجر رضی الله عنه فرمائی : یو ځل ما وویل چی زه به خامخا رسول الله ﷺ ته ګورم چی دا څرنګه لمونځ کوی ؟ نو رسول الله ﷺ لمانځه ته پاڅیده، مخ ئی قبلی ته کړو، او رفع الیدین ئی وکړل، تردی چی دواړه لاسونه ئی د غوږونو سره برابر پورته کړل۔ بیائی ښی لاس په ګس لاس کیښود، نو کله چی رکوع ته ښکته کیده، نو همدغه شان رفع الیدین ئی وکړل لکه څنګه ئی چی اول ځل کړی وو، بیائی چی کله سر د رکوع نه راپورته کړو، نو دغه شان رفع الیدین ئی وکړل، لکه د اول ځل پشان، او لاسونه ئی په خپلو زنګونو باندی کیښودل۔۔۔تر آخره پوری)۔

(رواه أبوداود : ۷۲٦/۱، والترمذی : ۲۹۲، وابن ماجه : ۸۱۰، واحمد : ۳۱٦/٤، والدارمی : ۳۱٤/۱، وابن خزيمة : ۲٤۲/۱، رقم : ٤۷۷).

امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کښی دا روایت په دی الفاظو سره ذکر کړی :

عن وائل بن حجرٍ رأى النبى ﷺ رفع يديه حين دخل فى الصلاة كبر، وصف الهمام حيال أذنيه ثم التحف بثوبه ثم وضع يده اليمنى على اليسرى، فلما أراد أن يركع أخرج يديه من

الثوب ثم رفعهما ثم كبّر، فلما قال : سمع الله لمن حمده، رفع يديه فلما سجد سجد بين كفيه. (مسلم : ۱۷۳/۱).

(وائل بن حجر رضى الله عنه رسول الله ﷺ وليدل چى هغه كله لمانځه كښى داخل شو نو دواړه لاسونه ئى پورته كړه، همام وائى دَ غوږونو برابرئى پورته كړل-بيائى جامه د ځان نه راتاؤ كړه او ښى لاس ئى په چپ لاس كيښودل، كله ئى چى د ركوع كولو اراده وكړه، دَ جامى نه ئى لاسونه را اوويستل او رفع اليدين ئى وكړل، بيائى ركوع ته تكبير وكړو، نو كله ئى چى سمع الله لمن حمده وويله نو رفع اليدين ئى وكړل، بيائى چى كله سجده كوله نو دَ دواړو ورغوو ترمينځه ئى سجده وكړه)-

چونكه زمونږ ليكل د فتوى په شكل كښى دى، ددى وجى نه ډير تفصيل ته ضرورت نه محسوسوو، البته دلته مختصر طور سره د نورو احاديثو تذكره كوو-

۹ – نهم حديث : د امير المؤمنين، عمر بن خطاب رضى الله عنه : ده هم دَ رسول الله ﷺ نه رفع اليدين نقل كړى-وګوره : (مختصر الخلافيات للبيهقى، نصب الراية : ٤١٦/١، التلخيص الحبير : ٢١٨/١، السنن الكبرى للبيهقى : ٧٤/٢).

۱۰ – لسم حديث : دَ انس رضى الله عنه : ده هم ويلى چى رسول الله ﷺ به د تكبير اولىٰ، ركوع ته د تللو او د ركوع نه د راپورته كيدو په وخت رفع اليدين كول-وګوره :

(جزء رفع اليدين للامام البخارى ص : ٨، ابن ماجه : ٨٦٦، الدارقطنى : ٩٠/١، مسند أبى يعلى : ٨٨/٢، ابن ابى شيبة : ٢٣٥/١).

او انس رضى الله عنه به خپله هم رفع اليدين كول-وګوره :(جزء رفع اليدين للبخارى، ص : ٦٢، وسنده صحيح، كما فى نور العينين، ص : ١٥٢).

۱۱ – جابر بن عبد الله رضى الله عنه : (ابن ماجه : ٨٦٨، الدراية : ١٥٤/١، نصب الراية : ٤١٥/١، مسند السراج، ص : ٢٥، وسنده حسن).

۱۲ – عبد الله بن الزبير رضى الله عنه :(السنن الكبرى للبيهقى : ٧٣/٢، التلخيص الحبير : ٢١٩/٢، قال ابن حجر والبيهقى : رجاله ثقات، نور العينين، ص : ١٠٩).

۱۳ – حَبر الأمه، ترجمان القرآن : عبد الله بن عباس رضى الله عنه :

(جزء رفع اليدين للإمام البخارى، ص : ٩٣، رقم : ٢١، مصنف عبد الرزاق : ٦٩/٢، ابن

أبی شیبة : ۲۳۵/۱).

۱٤ – عبد اللّٰه بن عمرو بن العاص رضی اللّٰه عنه : (نصب الرایة : ٤١٨/١، معرفة السنن والآثار، للبیهقی : ۲۱۸/۱، وغیرهما).

۱۵ – أم درداء رضی اللّٰه عنها : (جزء رفع الیدین للبخاری، ص : ۹۹، رقم : ٦/، ۲۵).

۱٦ – عقبة بن عامر رضی اللّٰه عنه (المعجم الکبیر للطبرانی : ۱۹۷/۱۷، مجمع الزوائد : ۱۰۳/۲، معرفة السنن والآثار للبیهقی : ۲۲۵/۱، کما فی الصحیحة).

۱۷ – سهل بن سعد الساعدی، رضی اللّٰه عنه :

۱۸ – أبو أسید الساعدی، رضی اللّٰه عنه :

۱۹ – محمد بن مسلمة رضی اللّٰه عنه :

دی دری صحابه کرامو – رضی الله عنهم – هم ویلی چی رسول الله ﷺ به رفع الیدین کول، د دوئ دا خبره د ابو حمید رضی الله عنه په حدیث کښی راغلی چی هغه کله خپلو لسو صحابه کرامورضی الله عنه ملګرو ته اوویل چی رسول الله ﷺ به داسی لمونځ کولو، او په هغی کښی ئی رفع الیدین وکړل، نو دغه لسو کسانو ټولو وویل : چی بیشکه رسول الله ﷺ به همدغسی لمونځ کول۔ روایت کښی راځی چی په هغه لسو کسانو کښی دغه دری صحابه کرام رضی الله عنه هم وو۔ (مختصرًا من صحیح ابن خزیمة : ۲۹۸/۱، صحیح ابن حبان : ۱۷۰/۳، جزء رفع الیدین للبخاری، ص : ۳۷، رقم : ۵، وإسناده حسن).

دی باره کښی نور ډیر روایتونه هم راغلی، خو مونږ په دی باندی اکتفاء کوو۔

خلاصه داچی : په لمانځه کښی دَ رفع الیدین حدیثونه متواتر دی، لکه دا خبره مونږ تفصیلا لیکلی۔ دی باره کښی علماؤ مستقل کتابونه لیکلی، لکه :

(جزء رفع الیدین، للإمام البخاری، أبو نعیم الأصبهانی، امام ابو عبد اللّٰه محمد بن نصر المروزی، تنویر العینین فی إثبات رفع الیدین، للعلامة شاه اسماعیل شهید رحمه الله، نور العینین فی مسألة رفع الیدین عند الرکوع وبعده فی الصلاة، للشیخ زبیر علیزئی حفظه اللّٰه) **دا ډیر قیمتی کتاب دی۔ دارنګه** (شمس الضحی بجواب : نور الصباح فی إثبات رفع الیدین فی الإفتتاح، جلاء العینین بتخریج أحادیث رفع الیدین، للشیخ بدین الدین الراشدی رحمه اللّٰه، جلاء العینین فی إثبات رفع الیدین، لأبی یزید).

الغرض : رفع الیدین حق دی، حق پرست مسلمان لپاره یو دلیل هم کافی دی۔
دی لپاره چی فتوئ اوږده نشی، مونږ دلته صرف دَ هغه صحابه کرامو رضی الله عنه نومونه او حوالی نقل کوو چی هغوئ د رسول الله ﷺ نه رفع الیدین روایت کړی :

١ – عبد اللّٰه بن عمر (بخاری، مسلم).
٢ – مالك بن حویرث (بخاری، مسلم).
٣ – وائل بن حجر (مسلم، صحیح ابن خزیمة).
٤ – ابو حمید ساعدی (صحیح ابن حبان وغیره).
٥ – أبو قتادة (ابن حبان وغیره).
٦ – سهل بن سعد (صحیح ابن خزیمة وابن حبان).
٧ – محمد بن مسلمة (جزء رفع الیدین للبخاری وغیره).
٨ – علی بن ابی طالب (ابن خزیمة وغیره).
٩ – أبو هریرة (صحیح ابن خزیمة وغیره).
١٠ – أبو موسی أشعری (سنن دارقطنی، وإسناده صحیح).
١١ – عبد اللّٰه بن زبیر (سنن کبری للبیهقی وإسناده صحیح).
١٢ – أبو بکر صدیق (سنن کبر للبیهقی).
١٣ – أبو اسید الساعدی (صحیح ابن خزیمة وابن حبان).

دی باره کښی دَ پنځوسو صحابه کرامو رضی الله عنه نه نقل دی۔ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی :
وقد ذکر شیخنا أبو الفضل أنه تتبع من رواه من الصحابة فبلغوا خمسین رجلاً. (فتح الباری :١/٤٠٤، جزء سبکی ص : ٩، جزء بخاری، تحفة الأحوذی : ١/٢١٩، التعلیق المغنی : ١/١١١، التعلیق الممجد، ص : ٩١).
علامه مجد الدین فرمائی : فقد صح فی هذا الباب أربع مائةٍ خبر وأثرٍ.
(سفر السعادة، ص :١٥).
(دَ رفع الیدین په باره کښی څلور سوه مرفوع او موقوف حدیثونه ثابت دی)۔
شاه اسماعیل شهید رحمه الله لیکی : وقد ورد فی هذا الباب روایات لا یسع

لذكرها. (دى باره كښې دومره احاديث راغلى چې څوك هغه ټول نشى ذكر كولى)۔

الغرض: دَ بې شماره صحابه كرامورضى الله عنه نه دَ رفع اليدين احاديث نقل دى، بلكه د رفع اليدين احاديثو ته علماؤ **متواتر** ويلى، لكه د بعضو نومونه او حوالى دى۔

هغه علماء چې دَ رفع اليدين احاديثو ته ئى متواتر ويلى

١ – الكتانى رحمه الله (نظم المتناثر، من الحديث المتواتر، ص: ٩٦).
٢ – ابن الجوزيرحمه الله (أيضًا).
٣ – حافظ ابن حجر عسقلانيرحمه الله (أيضًا، وفتح البارى: ٢٠٣/١).
٤ – شيخ الإسلام زكريا الأنصارى (أيضًا).
٥ – محمد مرتضىٰ الزبيدى (لقط اللآلى المتناثرة فى الأحاديث المتواترة، ص: ٣٠٧).
٦ – ابن حزم (حاشية لقط اللآلى المتناثرة، ص: ٢٠٥).
٧ – سيوطى (قطف الأزهار المتناثرة، ص ٣١).
٨ – العراقى (التقييد والإيضاح شرح مقدمة ابن صلاح: ٢٧٠).
٩ – السخاوى (فتح المغيث شرح ألفية الحديث: ٤١/٣).
١٠ – موفق الدين ابن قدامة (المغنى).
١١ – شمس الدين ابن قدامة (الشرح الكبير: ٥٣٨/١).
١٢ – شيخ الإسلام ابن تيمية (القواعد النورانية، ص: ٤٨).
١٣ – عبد العزيز الفرهارى (كوثر النبى ﷺ، ص: ١٠٥).

دَ يو يو صحابى نوم ليكل ډير تفصيل غواړى، دلته مونږ دَ امام بخارى رحمه الله، سعيد بن جبيررحمه الله او امام حسن بصرى رحمه الله فيصله رانقل كوو، چې په دى باندى دَ اهلِ ايمان تسلى كيږى:

امام المحدثين امير المؤمنين فى الحديث امام بخارى رحمه الله فرمائى:

ولم يثبت عن أحدٍ من أصحاب النبى ﷺ أنه لا يرفع يديه.

(دَ رسول الله ﷺ د هيڅ يو صحابى نه دا ثابت نه دى چې هغه رفع اليدين نه وى

کړي)۔ یعنی ټول صحابه کرام رضی الله عنه د رفع الیدین قائل او فاعل وو۔(جزء رفع الیدین،ص : ٢٤).

حسن بصری رحمه الله فرمائی :

کان أصحاب رسول الله ﷺ یرفعون أیدیهم إذا رکعوا وإذا رفعوا رؤسهم من الرکوع.

(دَ رسول الله ﷺ (ټولو) صحابه کرامورضی الله عنه به رکوع ته د تللو او د رکوع نه د راپورته کیدلو په وخت رفع الیدین کول۔(جزء رفع الیدین، ص : ١٤، بیهقی : ٧٥/٢).

دَ **سعید بن جبیر** رحمه الله نه نقل دی :

کان أصحاب رسول الله ﷺ یرفعون أیدیهم فی الإفتتاح وعند الرکوع، وإذا رفعوا رؤسهم. (البیهقی : ٧٥/٢).

(دَ رسول الله ﷺ (ټولو) ملګرو به دَ لمونځ شروع کولو، رکوع کولو، اورکوع نه د سر پورته کولو په وخت رفع الیدین کول)۔

آیا رفع الیدین دَ دینِ اسلام د امامانو او علماؤ نه ثابت دی؟

سوال : آیا په لمانځه کښې رکوع ته دَ تللو، رکوع نه دَ پورته کیدلو، او د اولی قعدی نه پس دریم رکعته ته دَ پورته کیدلو په وخت رفع الیدین (لاسونه اوچتو) دَ دینِ اسلام د امامانو او علماؤ نه ثابت دی ؟ دی باره کښې
وضاحت وکړئ۔

جواب : دَ یوی مسئلی په باره کښې چی کله په قرآن او حدیث کښې صراحت راشی، نو بیا د علماؤ د عمل او قول ثبوت ته ضرورت نشته۔البته ددی لپاره چی دا خبره ثابته شی چی په دی مسئله کښې صرف اهلِ حدیث علماء یوائحی عمل کونکی نه دی، بلکه دا مسئله متفق علیه ده، موږ دَ دینِ اسلام د یو څو علماؤ نومونه ذکر کوو۔اګرکه د هغوئ ټولو نومونه ذکر کول ډیر زیات تفصیل ته ضرورت لری، خو موږ دلته صرف یو څو نومونه پیش کوو۔

لنډه داچی دَ کوفی والو نه علاوه دَ نور ټول امتِ مسلمه علماؤ په رفع الیدین کولو اجماع ده۔لکه امام مروزی رحمه الله فرمائی : أجمع علماء الأمصار علی مشروعیة ذلك،

إلا أهل الكوفة. (فتح الباری : ۲۲۰/۲).

امام اوزاعی رحمه الله فرمائی : أجمع عليه علماء الحجاز والشام والبصرة. (التمهيد لابن عبد البر : ۲۲٦/٦).

(دَ حجاز، شام او بصری علماؤ په رفع اليدين اجماع کړی)۔لکه ددی تفصيل داسی دی :

(۱) امام مالك رحمه الله : **ده به هم په مذکوره دری واړو ځايونو کښی رفع اليدين کول۔ لکه وګوره :** (جامع الترمذی مع عارضة الأحوذی : ۵۷/۲، جامع الترمذی بتخريج أحمد شاکر : ۳۷/۲، طرح التثريب للعراقی : ۲۵۳/۲، التمهيد : ۲۱۳/۹، ۲۲۲، الموضعات لابن الجوزی : ۹۸/۲، الإستذکار لابن عبد البر : ۱۲٤/۲، شرح مسلم للنووی : ۹۵/٤، المغنی لابن قدامة : ۲۹٤/۱، بداية المجتهد لابن رشد : ۱۳۳/۱، نيل الأوطار : ۱۸۰/۲، ۱۸۰/٤، معالم السنن للخطابی : ۱۹۳/۱، شرح السنة للبغوی : ۲۳/۳، المحلی لابن حزم : ۸۷/٤، نور العينين تفصيلاً، ص : ۱۷۰).

دَ امام مالك نه ګڼو شاګردانو رفع اليدين نقل کړی، صرف ابن القاسم د هغه نه عدمِ رفع اليدين نقل کړی۔امام خطابی رحمه الله او امام بغوی رحمه الله وغيره فرمائی چی دَ امام مالك رحمه الله آخری عمل رفع اليدين وو۔بلکه ابو العباس القرطبی رحمه الله فرمائی :

إن الرفع فی المواطن الثلاثة هو آخر أقواله وأصحها.

(په دری ځايونو کښی رفع اليدين کول دَ امام مالك رحمه الله آخرنی او دَ ټولو نه زيات صحيح قول دی)۔(طرح التثريب : ۲۵٤/۱).

نو دَ ابن القاسم رحمه الله قول خو يا ددی نورو ډيرو شاګردانو په مقابله کښی شاذ دی، اوکه ثابت هم شی هم نو بيا دَ امام مالك رحمه الله آخرنی قول او فعل له اعتبار دی، چی هغه په آخرنی عُمر کښی رفع اليدين کول۔

۲ - امام شافعی رحمه الله : **دَ امام شافعی رحمه الله نه خو رفع اليدين متواتر ثابت دی، بلکه هغه په دی باره کښی ډير تاکيد کړی، هغه فرمائی :**

لا يحلّ لأحدٍ سمع حديث رسول الله ﷺ فی رفع اليدين فی افتتاح الصلاة وعند الركوع والرفع من الركوع : أن يترك الإقتداء بفعله ﷺ.

(هيڅا لپاره دا جائز نه دی چی دَ رفع اليدينو په باره کښی دَ رسول الله ﷺ حديث

واوری او بیا هم په دی کښی دَ رسول الله اقتداء اونه کړی)۔
امام سبکی رحمه الله په دی قول باندی داسی تبصره کوی :
قلتُ : هذا صريح أنه يوجب ذلك.
(زه وایم ددی نه صفا دا معلومیږی چی امام شافعی رحمه الله رفع الیدین واجب گڼی)۔
(طبقات الشافعية الكبرى للسبكي : ٢٤٢/١، وفي نسخة أخرى : ١٠٠/٢).
دارنگه په لاندینو کتابونو کښی هم دَ امام شافعی رحمه الله نه رفع الیدین کول ثابت دی۔(كتاب الأم للإمام الشافعي : ١٠٤/١، جامع الترمذي : ٣٧/٢، شرح مسلم للنووي : ٩٥/٤، إحكام الأحكام شرح عمدة الأحكام، لابن دقيق العيد : ٢٢٠/١، وغيره).

(۳) **امام احمد بن حنبل** رحمه الله :
دَ امام ابوداود رحمه الله په کتاب (مسائل الامام أحمد، ص : ۲۳) کښی دی :
رأيت أحمدَ يرفع يديه عند الركوع وعند الرفع من الركوع كرفعه عند افتتاح الصلاة، يحاذيان أذنيه وربّما قصر عن رفع الإفتتاح، قال : وسمعتُ أحمد قيل له : رجل سمع هذه الأحاديث عنه ﷺ ثم لا يرفع هو تامّ الصلاة ؟ قال : تمام الصلاة لا أدرى، ولكن هو في نفسه منقوص.
(امام ابوداود رحمه الله وائی : ما امام احمد رحمه الله اولیدلو چی دَ رکوع نه مخکښی او ورسته به ئی هم دَ لمانځه دَ شروع کولو دَ رفع الیدینو پشان دواړه لاسونه دَ غوږونو پوری پورته کول، او په بعضی وختونو کښی به ئی دَ شروع دَ رفع الیدینو نه لاسونه لږ شان ښکته اوچتول۔او ما دَ امام احمد رحمه الله نه واوریدل چی یو سړی نه ورنه تپوس وکړو، چی یو کس د رفع الیدین دا احادیث واوری او بیا هم رفع الیدین نه کوی، نو آیا دده لمونځ پوره کیږی۔وی فرمایل : دَ لمانځه پوره کیدلو علم خو ئی ماته نشته، البته دا سړی په خپله نیم گړی دی)۔
دارنگه په المنهج دَ امام احمد (١٥٩/١) کښی دی، چی کومو کسانو به په لمانځه کښی رفع الیدین نه کول، امام احمد رحمه الله به د هغوئ لمونځ ناقص (نیمگړی) گڼلو۔د امام احمد رحمه الله نه په لاندینو کتابونو کښی هم رفع الیدین نقل دی۔ (سنن الترمذي : ٧٣/٢، مسائل الإمام أحمد، ص : ٧٠، الاستذكار : ١٢٦/٢، وغيره).

٤ – **امام علی بن عبد الله المدینی** رحمه الله :
وګوره دَ صحیح البخاری یوه نسخه (١٠٢/١).
٥ – **امام اسحاق بن راهویه** رحمه الله : (معرفة السنن والآثار للبیهقی قلمی : ٢٢٥/١، جزء رفع الیدین، ص : ٢٩).
٦ – امام عبد الله بن مبارك رحمه الله :(تاویل مختلف الحدیث، ص : ٦٦، لابن قتیبة وإسناده صحیح).
٧ – محمد بن یحیی الذهلی رحمه الله :(صحیح ابن خزیمة : ٢٩٨/١).
٨ – عبد الرحمن بن مهدی رحمه الله :(طبقات المحدثین بأصبهان : ٩٦/١).
٩ – ابو الولید الطیالسی رحمه الله :(المعجم لابن الأعرابی : ٤١٠/٢).
١٠ – الحمیدی، عبد الله بن الزبیر رحمه الله :(جزء رفع الیدین، ص : ٢٨).
١١ – یحیی بن معین رحمه الله :(أیضًا).
١٢ – علی بن الحسین رحمه الله :(جزء رفع الیدین، ص : ٢٧).
١٣ – یحیی بن یحییٰ رحمه الله :(أیضًا).
١٤ – عیسی بن موسیٰ رحمه الله :(أیضًا).
١٥ – کعب بن سعید رحمه الله :(أیضًا).
١٦ – محمد بن سلام رحمه الله :(أیضًا).
١٧ – عبد الله بن محمد المسندی رحمه الله :(أیضًا).
١٨ – محمد بن نصر المروزی رحمه الله :(أیضاً).
١٩ – ابو احمد الحاکم رحمه الله :(شعار أصحاب الحدیث، ص : ٤٧).
٢٠ – امام بخاری رحمه الله :(صحیح البخاری، جزء رفع الیدین له).
٢١ – امام اوزاعی رحمه الله :(التمهید : ٢٢٦/٦).

الغرض : دَ دینِ اسلام ډیر زیات علماء دَ رفع الیدین قائل او فاعل دی۔دی وجی نه امام اوزاعی رحمه الله فرمائی :

بلغنا أن من السنة فیما اجمع علیه علماء الحجاز، والبصرة، والشام : أن رسول الله ﷺ کان یرفع یدیه حذو منکبیه حین یکبر لافتتاح الصلاة، وحین یکبر للرکوع ویهوی ساجدًا وحین

يرفع رأسه من الركوع، إلا أهل الكوفة فإنهم خالفوا فى ذلك أمتهم.
(مونږ ته دا خبره رارسيدلی چی دَ لمانځه دَ شروع کولو په وخت، رکوع ته د تللو او رکوع نه دَ راپورته کيدلو په وخت دَ حجاز، بصری او شام علماؤ اجماع کړی چی دا دَ رسول اللهﷺ سنت دی، په دی کښی صرف کوفی والو دَ أمتِ مسلمه نه خلاف کړی)۔
(التمهيد لابن عبد البر رحمه الله : ۲۲۶/۶).
دَ امام اوزاعی رحمه الله نه تپوس اوشو چی که څوك په رفع اليدينو کښی کمی وکړی نو دَ هغه څه حکم دی ؟ ورته ئی وفرمايل : (ذلك نقص من صلاته).
(دا دده په لمانځه کښی نيمګړتيا ده)۔
(مخکنی حواله، نور العينين، ص : ۱۷۰، تفصيلاً).

په لمانځه کی رفع اليدين

سوال : آيا د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه په لمانځه کښی رفع اليدين کول ثابت دی ، که نه ؟ خصوصا داسی ثبوت چی هغوئ د رسول اللهﷺ د مرګ نه پس په لمانځه کښی رفع اليدين کړی وی۔
ځينی خلك وائی دا منسوخ شوی۔داپه مکی دور کښی وو۔وغيره وغيره۔
دا مسئله تفصيلا واضحه کړئ۔

جواب : دی باره کښی لنډ قانون زده کړئ چی په لمانځه کښی رفع اليدين رکوع ته دَ تللو او رکوع نه د راپاڅيدو په وخت کښی دارنګه دَ اولنئ قعدی نه پس دريم رکعت ته د راپاڅيدو په وخت د ټولو صحابه کرامورضی الله عنهم عمل وو۔
امير المؤمنين فی الحديث، الفقيه، الامام، بخاری رحمه الله فرمائی :
ولم يثبت عن احدٍ من أصحاب النبی ﷺ أنه لا يرفع يديه.
(دَ رسول اللهﷺ د هيڅ يو صحابی نه عدمِ رفع اليدين نه دی نقل)۔بلکه هغوئ ټولو به رفع اليدين کول۔ (جزء رفع اليدين ص : ۱۹٤، المجموع للنووی : ۳/۰٥٤).
او ولی به ټولو صحابه کرامو رفع اليدين نه کول، حالانکه دا هغه عمل دی چی د رسول اللهﷺ نه په متواترو احاديثو کښی ثابت دی۔يعنی رفع اليدين کول متواتر سنت دی۔

وګوره: (قطف الأزهار المتناثرة فی الأخبار المتواترة، حدیث نمبر : ۳۳، نظم المتناثر من الحدیث المتواتر، حدیث نمبر : ٦٧، لقط اللآلی المتناثرة فی الأحادیث المتواترة حدیث نمبر : ٦٢، زاد المعاد لابن القیم : ۲۱۸/۱، الموضوعات لابن الجوزی : ۹۸/۲، المغنی لابن قدامة : ۵۵/۲، فتح الباری لابن حجر : ۱۰۳/۱، فتح المغیث : ۸/٤، للحافظ العراقی، القواعد النورانیة ص : ٤٨، لشیخ الإسلام ابن تیمیة.

دارنګه د رفع الیدین په کولو کښې رسول الله ﷺ ثواب او اجر بیان کړې۔ چې انسان ته الله تعالیٰ په رفع الیدین کولو باندې دهرې اشارې په بدل کې په هره ګوته باندې یوه نیکی ورکوي . (رواه الطبرانی فی الکبیر : ۲۹۷/۱۷، رقم : ۸۱۹، کمافی الصحیحة : ۸٤٨/۷، رقم : ۳۲۸٦ والمجمع ۱۰۳/۲).

په دې باندې بل دلیل دادې چې امام بیهقی په خپل سنن : ۷۵/۲، کښې روایت نقل کړې : عن سعید بن جبیر أنه سئل عن رفع الیدین فی الصلاة فقال : هو شئ یزین به الرجل به صلاته وکان أصحاب رسول الله ﷺ یرفعون فی الإفتتاح وعند الرکوع وإذا رفعوا رؤوسهم.

(سعید بن جبیر – تابعی رحمه الله – نه په لمانځه کښې د رفع الیدین متعلق پوښتنه وشوه ، نو هغه وفرمایل : دا داسې شی دې چې د انسان لمونځ وربانډې ښائسته کیږي، او دَ رسول الله ﷺ (ټولو) صحابو کرامو به دَ لمانځه په شروع کولو، رکوع ته دَ تللو او رکوع نه دَ راپاڅیدو په وخت کې رفع الیدین کول)۔ددې روایت سند صحیح دې۔

امام بخاری رحمه الله دَ حمید بن هلال (تابعی) دا روایت نقل کړې چې :

کان أصحاب رسول الله ﷺ یرفعون أیدیهم.

(دَ رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم به رفع الیدین کول)۔

ددې نه پس امام بخاری رحمه الله فرمائی :

لم یستثن أحدًا من أصحاب النبی ﷺ دون أحدٍ، ولم یثبت أهل العلم عن أصحاب النبی ﷺ ما وصفنا. **(حمید بن هلال رحمه الله د هیڅ یو صحابی استثناء هم ونه کړه چې ګنې هغه به رفع الیدین نه کول، او علماء دَ یو صحابی نه هم عدمِ رفع الیدین نه ثابتوی)۔**

(جزء رفع الیدین : ٦٤ مخ).

اوس موږ دې باره کښې د بعضې صحابه کرامو رضی الله عنه نومونه او حوالی

ذکرکوو، چې هغوئ به رفع الیدین کول۔

۱ – **خلیفة الرسول** : ابو بکرصدیق رضی الله عنه :

دَ ابو بکر صدیق رضی الله عنه نه په صحیح سند سره روایت دی چې ماپه رسول الله ﷺ پسې لمونځ وکړو، نورسول الله ﷺ د لمانځه په شروع کښې، رکوع ته د تللووخت کښې او د رکوع نه د راپورته کیدو وخت کښې ، رفع الیدین کول .

(اخرجه البیهقی بسند صحیح : ۷۳/۲، وقال : رواته ثقات) .

ابو بکر الصدیق رضی الله عنه په خپله هم رفع الیدین کول، لکه عبد الله بن زبیر رضی الله عنه فرمائی : صلیتُ خلف أبی بکر الصدیق فکان یرفع یدیه إذا افتتح الصلاة وإذا رکع وإذا رفع رأسه من الرکوع، وقال : صلیت خلف رسول الله ﷺ فکان یرفع یدیه إذا ا فتتح الصلاة وإذا رکع وإذا رفع رأسه من الرکوع.

(ما په ابو بکرصدیق رضی الله عنه پسې لمونځ وکړو، نو هغه به د لمانځه په شروع کښې، رکوع ته د تللو په وخت، رکوع نه د راپاڅیدو په وخت کښې رفع الیدین کول۔او هغه وفرمایل چې ما په رسول الله ﷺ پسې لمونځ کولو نو هغه به دَ لمانځه په شروع کولو، رکوع کولو، اورکوع نه د سر را پورته کولوپه وخت رفع الیدین (لاسونه پورته) کول)۔

(اخرجه البیهقی بسند صحیح : ۷۳/۲، رقم الحدیث : ۱۵۱۹وقال رواته ثقات، ، والمروزی فی مسند أبی بکر : ۲۰۴، وذکره البخاری فی الأحادیث المکتلة فی الأحادیث الملة : ۱۵۶).

دَ ابوبکرصدیق رضی الله عنه د رفع الیدینولیدونکی او نقلونکی راوی یعنی عبد الله بن زبیر رضی الله عنه به هم دَ لمانځه په شروع کولو، رکوع ته تللو، اورکوع نه د سر را پورته کولو وخت رفع الیدین کول) .

(اخرجه البیهقی فی السنن الکبری بسند صحیح : ۷۳/۲، وقال الذهبی فی المهذب فی اختصارالسنن الکبیر۴۹/۲رقم ۱۹۴۳رواته ثقات.

د سیدناعبد الله بن زبیر رضی الله عنه شاګرد، (مشهورتابعی او امام)عطاء بن ابی رباح رحمه الله هم دَ لمانځه په شروع کولو، رکوع ته تللو، اورکوع نه د سر را پورته کولو وخت کښې رفع الیدین کول)۔

(اخرجه البیهقی فی السنن الکبری بسند صحیح : ۷۳/۲، وقال ابن حجر فی التلخیص الحبیر ۲۱۹/۱ رقم ۳۲۸ 'رواته ثقات .

د امام عطاء بن ابی رباح رحمه الله شاګرد، ایوب السختیانی رحمه الله هم دَ لمانځه په شروع کولو، رکوع ته د تللونه مخکی او ورسته رفع الیدین کول)۔(اخرجه البیهقی فی السنن الکبری : ۷۳/۲و سنده صحیح).

د ایوب السختیانی رحمه الله شاګرد، یعنی حمادبن زید (تبع تابعی) هم دَ لمانځه په شروع ، رکوع ته د تللو، اورکوع نه د سر را پورته کولو وخت کښی رفع الیدین کول) .(رواه البیهقی فی السنن الکبری : ۷۳/۲و سنده صحیح).

د حمادبن زیدرحمه الله شاګرد ابوالنعمان محمدبن الفضل السدوسی ؒ هم دَ لمانځه په شروع ، رکوع ته د تللو، او د رکوع نه د سر را پورته کولو وخت کښی رفع الیدین کول) .
(رواه البیهقی فی السنن الکبری : ۷۳/۲و سنده صحیح).

د ابوالنعمان محمدبن الفضل السدوسی (رحمه الله) شاګرد أمیر المؤمنین فی الحدیث خو په خپل صحیح کښی په رفع الیدینو ډیر حدیثونه راوړی بلکه امام بخاری په رفع الیدینو مستقل کتاب د ''جزء رفع الیدین'' په نوم لیکلی۔

ددینه معلومه شوه چی باندی د نبی کریم ﷺ د زمانی نه را واخله بیا تر صحابه کرامو،د تابعینو، تبع تابعینو، تبع تبع تابعینو ،همدغسی مسلسل عمل شروع ده .''وګوره : مجلۍ الحدیث للشیخ زبیر علی زئی حفظه الله'' .

۲ - عبد اللّٰه بن عمر رضی اللّٰه عنه:

عبد الله بن عمر رضی الله عنه په صحیح سند سره دَ رسول الله ﷺ نه دلمانځه په شروع کښی،رکوع ته د تللووخت کښی او د رکوع نه د راپورته کیدو وخت کښی ، رفع الیدین نقل کړی۔ وګوره صحیح بخاری (۱۰۲/۱) .

عبد الله بن عمر رضی الله عنه په خپله هم رفع الیدین کول، دده نه خو ډیرو تابعینو رحمه الله په لمانځه کښی رفع الیدین نقل کړی۔

لکه نافع او سالم په صحیح بخاری (۱۰۲/۱) وغیره کښی دده نه رفع الیدین نقل کړی۔
محارب بن دثار په مسند ابو یعلی (۲٤٦/۲) او جزء رفع الیدین للبخاری رقم : ٤٨، کښی

نقل کړی.

طاووس په مصنف عبد الرزاق (۶۹/۲) کښې نقل کړی.

سالم په جزء رفع اليدين للامام البخاری (۸۰) کښې نقل کړی.

ابو الزبير په مسائل الامام احمد فی روايه ابنه عبد الله (۲٤٤/۱) کښې نقل کړی.

دغو ټولو تابعينو په صحيح سندونو سره د عبد الله بن عمر نه په لمانځه کښې رفع اليدين کول نقل کړی۔

بلکه ابن عمر رضی الله عنه خو به هغه څوك په کاڼو ويشتل چې چا به په لمانځه کښې رفع اليدين نکول۔ لکه د نافع نه روايت دی:

ان ابن عمر كان إذا رأى رجلًا لا يرفع يديه إذا ركع وإذا رفع رماه بالحصىٰ.

(ابن عمر رضی الله عنه به چې به کله داسې څوك وليدوچې هغه به رکوع ته د تللو او رکوع نه دَ را اوچتيدلو وخت کښې رفع نه کول نو هغه به ئې په کاڼو ويشتل۔

(وګوره: جزء رفع اليدين للإمام البخاری رحمه الله: ۵۳ مخ).

امام نووی رحمه الله په المجموع شرح المهذب کښې ويلی: اسناده صحيح: ۴۰۵/۳.

د ابن عمر رضی الله عنه د رفع اليدينو د حديث نقلولو راوی د عبد الله بن عمر رضی الله عنه زوی ((سالم بن عبد الله بن عمر)) هم د لمانځه په شروع کښې، رکوع ته د تللووخت کښې او د رکوع نه د راپورته کيدو وخت کښې رفع اليدين کول . وګوره: حديث السراج ۲/ ۳۴،۳۵ رقم الحديث۱۱۵ وسنده صحيح.

۳ - انس رضی الله عنه:

دده نه هم رفع اليدين په صحيح سند سره نقل دی، لکه روايت کښې راځی:

عن عاصم الأحول قال: رأيت أنس بن مالك إذا افتتح الصلاة كبّر ورفع يديه، ويرفع كلما ركع ورفع رأسه من الركوع.

(ما انس بن مالك وليدل چې دَ لمانځه د شروع کولو په وخت او د رکوع کولو او رکوع نه دَ پورته کيدلو په وخت کښې به ئې رفع اليدين کول)۔

(جزء رفع اليدين للبخاری، ص: ۶۲، وإسناده صحيح).

٤ - عبد الله بن عباس رضی الله عنه:

ده به هم دَ رکوع نه مخکی او ورسته رفع الیدین کول۔

(وگوره : مصنف عبد الرزاق : ۶۹/۲، رقم : ۲۵۲۳، جزء رفع الیدین ص : ۶۳، مصنف ابن أبی شیبه : ۲۳۵/۱، مسائل أحمد : ۲۴۴/۱، وإسناده حسن صحیح، نور العینین ص ۲۱۵۳).

۵ - ابو هریره رضی الله عنه : روایت کښی راغلی:

عن عطاءٍ قال : صلیت مع أبی هریرة رضی الله عنه فکان یرفع یدیه إذا کبّر وإذا رفع.

(ما د ابو هریره رضی الله عنه سره لمونځ وکړو، نو هغه به (رکوع ته) د تکبیر کولو په وخت او (د رکوع نه) دَ پورته کیدلو په وخت لاسونه اوچتول)۔

(أخرجه البخاری رقم : ۲۲، ص : ۶۳، وإسناده صحیح).

۶ - مالک بن الحویرث رضی الله عنه :

ده هم رکوع ته د تللو او د رکوع نه ورسته ، دارنګه داولنئ قعدی نه دریم رکعت ته دَ پورته کیدو وخت کښی رفع الیدین کول .

په صحیح بخاری کښی دی۔

عن أبی قلابة أنه رأی مالك بن الحویرث إذا صلی کبّرَ ورفع یدیه وإذا أراد أن یرکع رفع یدیه وإذا رفع رأسه من الرکوع رفع یدیه وحدّثَ أن رسول الله ﷺ صنع هکذا.

(د ابو قلابه تابعی رحمه الله نه روایت دی چی ده مالك بن حویرث رضی الله عنه ولیدل چی د لمانځه په شروع کښی، رکوع ته د تللو او رکوع نه دَ پورته کیدلو په وخت کښی به ئی رفع الیدین کول، او هغه به دا ویل چی رسول الله ﷺ به هم دارنګه لمونځ کول)۔(صحیح البخاری).

۷ - أمیر المؤمنین خلیفه راشد عمر بن خطاب رضی الله عنه :

دده نه هم رفع الیدین کول ثابت دی۔وګوره :

(الخلافیات للبیهقی، کما فی شرح الترمذی لابن سید الناس :۲۱۷/۲ قلمی، نصب الرایة : ۴۱۶/۱، کما فی مجلة الحدیث رقم (۱۲) (۳۶ مخ).

۸ - عبد الله بن زبیر رضی الله عنه :

دده نه هم په صحیح سندونو سره تابعینو رحمه الله لکه عطاء بن ابی رباح او داسی

نورو رفع الیدین نقل کړی، چې ددی ذکر مخکی هم اوشو۔وګوره : (السنن الکبری :۷۳/۲، وإسناده صحيح، التلخيص الحبير : ۲۱۹/۲).

۹ – ابو موسیٰ اشعری رضی اللّٰه عنه :

دده نه هم رفع الیدین کول په صحیح سند سره نقل دی۔وګوره :

(دارقطنی : ۲۹۱/۱، رقم : ۱۱۰۹، سنن کبری للبیهقی).

۱۰ – جابربن عبد اللّٰه رضی اللّٰه عنه :

دده نه هم رفع الیدین کول نقل دی۔وګوره :

(مسند سراج قلمی : ۲۲ مخ، مجلة الحديث : شماره۱۲، : ۳٦ مخ، وسنده حسن). د تفصیل لپاره وګوره : (نور العينين فی مسألة رفع اليدين، ص : ۱۵۱، جلاء العينين فی إثبات رفع اليدين : ٦٧، مجلة الحديث رقم : ۱۲).

خلاصه داچې : صحابه کرامو – رضی الله عنهم – به دَ رسول الله ﷺ دَ مرګ نه پس هم رفع الیدین کول، او دَ ټولو صحابو رضی الله عنه نه نقل دی۔

نو ددی نه پس چا منسوخ کړل ؟ او په څه منسوخ شول ؟

شاه اسماعیل شهید رحمه الله لیکی :

والحق أن رفع اليدين عند الإفتتاح والركوع والقيام منه والقيام إلى الثالثة : سنة غيرمؤكدةٍ من سُنن الهدى، فيثاب فاعله.

(حقه خبره داده چې دَ لمانځه د شروع کیدو، رکوع کولو، د رکوع نه د سر راپورته کولو او دریم رکعت ته د پاڅیدو په وخت کښی رفع الیدین کول سنت دی(البته سنت مؤکد ندی) ، او دا دَ هدایت سنت دی، کونکی ته ئی اجر او ثواب ورکړی کیږی)۔

علامه سندی رحمه الله دَ نسائی په حاشیه (۱٤۱/۱) کښی لیکی چې:

دَ رفع الیدین احادیث منسوخ نه دی، بلکه که چیری دی باره کښی د منسوخ کیدو خبری ته اعتبار ورکړو، نو خبره برعکس ده، یعنی بیا پکار داده چې رفع الیدین نه کول منسوخ شی، ځکه چې مالك بن حويرث رضی الله عنه دَ رسول الله ﷺ په آخیری عمر کښی رفع الیدین نقل کړی۔نو ددینه مخکی چې کوم عدمِ رفع الیدین وو، هغه منسوخ شو۔

آیا رفع الیدین منسوخ دی ؟

سوال : زموږ په کلي کښې یو مُلا د رفع الیدینو متعلق وویل چې دا منسوخ دی، او عـدم رفـع الیـدیـن متـواتـر ثابت دی۔ آیا په رښتیا هم عدم رفع الیدین متواتر ثابت دی ؟ او رفع الیدین منسوخ دی ؟ وضاحت وکړئ۔

جواب : د مسئلې ذکرکولو نه مخکې یوه مقدماتي خبره زده کړئ، هغه دا چې صرف پـه دعـویٰ کـار نـه کیږي بلکه د دعوی دَ اثبات لپاره شرعي دلیل ته ضرورت دی۔نو څوك چې وائي : رفع الیدین نه کول متواتر عمل دی، رفع الیدین کول منسوخ دی، نو هغوئ بـه پـه دې دعـویٰ بـانـدې صـحـیـح شرعـي دلیـل پیـش کوي، ګنې نو دعویٰ به ئې باطله وي۔بلکه ددې برعکس ډیرو محدثینو رحمهم الله د رفع الیدین احادیثو ته **متواتر** ویلي، دَ رفـع الیدین دَ ثبوت متعلق ئې کتابونه لیکلي، د احادیثو په هر کتاب کښې ئې تقریبا د رفـع الیـدیـنـو احـادیـث ذکـر کـړي۔د دیـنِ اسلام غټ غټ امامان، فقهاء او محدثین د رفع الیدین په کولو قائل دي، او په خپله ئې هم کړي۔

دبې شـمـاره صـحـابـه کـرامـو رضـي الله عنه نه دَ رسول الله ﷺ نه دَ مرګ نه پس رفع الیـدین کول ثابت دي، ددې په خلاف دَ ((عدم رفع الیدین)) احادیثو ته هیڅ یو معتبر عالم متـواتـر نه دي ویلي، اونه دې باره کښې دومره احادیث راجمعه کړي، څومره احادیث چې د رفع الیدین د ثبوت متعلق جمعه شوي۔

دا لا څه کوي!!، دَ عدم رفع الیدین په مطلق ثبوت کښې دَ علماؤ اختلاف دی، چې آیا د رسـول الله ﷺ نه عدم رفع یدین په صحیحو احادیثو کښې ثابت دی اوکه نه ؟ نو جمهور محدثین ددې دَ نهِ ثبوت قائل دي۔

الـغـرض : کـه څـوك عدم رفع الیدین ته متواتر یا ناسخ وائي، نو هغوئ به شرعي دلیل راوړي، او پـه دې قِسـم دعـویٰ بـانـدې هیـڅ کـلـه تر قیامته پورې صحیح او صریح حدیث نشي پیش کولی۔

اوس راشـه دَ رفـع الیـدیـن ثبـوت تـه، نـو دې بـاره کښې احادیث، آثار او د علماؤ اقوال او اعـمـال زمـونږ پـه مخکنئ فتوه کښې تفصیلا ذکر دي، دلته صرف د تواتر او دَ عدم نسخ

متعلق د علماؤ اقوال رانقل کوو.
نو دی باره کښی په خپله حنفی علماؤ هم اقرار کړی چی رفع الیدین قطعا منسوخ نه دی، د نسخ دعویٰ بی دلیله او باطله ده۔بلکه دَ رفع الیدین احادیث متواتر دی۔
لکه دَ احنافو معتبر عالم **انور شاه کشمیری** دیوبندی صاحب لیکی :
ولیعلم : أن الرفع متواتر إسنادًا وعملًا لا یشك فیه ولم ینسخ ولا حرف منه، الخ.
(دا خبره پیژندل ضروری دی چی دَ رفع الیدین احادیث د سند او عمل دواړو په لحاظ متواتر دی، په دی کښی هیڅ شك نشته، او رفع الیدین منسوخ نه دی (بلکه) ددی نه یو حرف هم منسوخ نه دی)۔
(نیل الفرقدین، ص : ۲۲، ومثله فی حاشیة فیض الباری : ۲/۲۵۵).
همدا عبارت په معارف السنن (۴۵۹/۲) کښی هم ذکر دی۔
مولانا عبد الحیٔ لکهنوی صاحب رحمه الله لیکی :
إن ثبوته عن النبی ﷺ أکثر وأرجح، وأما دعویٰ نسخه : فلیست بمبرهنٍ علیها بما یشفی العلیل ویری الغلیل. (التعلیق الممجد علی موطأ إمام محمد).
(د رسول الله ﷺ نه د رفع الیدین ثبوت ډیر او راجح دی، کوم خلك چی رفع الیدین منسوخ ګنړی نو د هغوئ قول بی دلیله دی)۔
علامه مجد الدین فیروز آبادی د قاموس المحیط مصنف په سفر السعاده کښی لیکی:
کثرت این معنی به تواتر مانده است، وچهارصد اثر وخبر درین باب صحیح شده، وعشره مبشره روایت کرده اند، لا یزال برین کیفیت بود، تا ازین جهان رحلت کرده، غیر ازین چیزی ثابت شده نه۔
(دَ روایتونو د ډیروالی په وجه (په دی دری څایونو کښی د رفع الیدین احادیث) د متواترو احادیثو په شان دی، په دی مسئله کښی د څلور سوو نه زیات احادیث او آثار راغلی، عشره مبشره وو روایت کړی، رسول الله ﷺ ترمرګه پوری همدا شان لمونځ کړی، ددی نه بغیر بل څه ورنه ثابت نه دی)۔
ابن قدامه رحمه الله په المغنی کښی لیکی :
فصار کالمتواتر الذی لا یتطرق إلیه شك مع کثرة رواته وصحة سنده وعمل به الصحابة

والتابعون وأنكروا على من لم يعمل به.

(یعنی : دا د هغه متواتر پشان وگرځیده چی د هغه په تواتر کښی هیڅ شك نه وی، سره د ډیروالی د راویانو او سره د صحت دَ سند د هغی، او په دی باندی صحابه کرامو رضی الله عنه او تابعینو رحمهم الله عمل کړی، او دوئ به په هغه چا رد کولو چی چابه رفع الیدین نه کول)۔

(ابن قدامة : ۵۷۵/۱، مسألة رقم : ٦٩، بحث الركوع وتكبيره ورفع اليدين له).

د رفع الیدین احادیثو ته امام سیوطی رحمه الله په (قطف الأزهار المتناثرة فی الأخبار المتوا ترة، ص : ۹۵) کښی، دارنګه شیخ ابو الفیض مرتضی الحسینی الزبیدی رحمه الله په (لقط اللآلی المتناثرة فی الأحادیث المتواترة، ص : ۲۰۷) کښی متواتر ویلی۔دارنګه نورو ګڼو علماؤ ورته متواتر ویلی چی مونږ په دی اکتفاء کوو۔

د رفع الیدین د ثبوت لپاره خو امام المحدثین امیر المؤمنین فی الحدیث امام بخاری رحمه اللہ مستقل کتاب دَ (جزء رفع الیدین) په نوم لیکلی۔

دارنګه امام ابو عبد الله محمد بن نصر المروزی .

امام تقی الدین السبکی رحمه الله .

حافظ ابن القیم رحمه الله [

امام ابو نعیم الأصبهانی رحمه الله او داسی نورو علماؤ مستقل کتابونه لیکلی۔

وګوره : (التمهید لابن عبد البر : ۲۱۳/۹، الإستذکار : ۱۲۵/۲، مختصر قیام اللیل ص : ۵۵، سیر أعلام النبلاء : ۳۰٦/۱۹، الوافی بالوفیات للصفدی : ۲۷۱/۲، البدر الطالع : ۱٤٤/۲، کشف الظنون : ۹۱۱/۱، مقدمة اختلاف العلماء، ص : ۵۵، نور العینین فی مسألة رفع الیدین، للشیخ زبیر علی زئی).

په مسجد کی د اختر لمونځ

سوال : د اختر لمونځ په مسجد کښی څه حکم لری ؟

جواب : د اختر لمونځ په عیدګاه کښی کول سنت طریقه ده، چی تولو خلکو ته بهر وتل پکار دی، تردی چی ښځی به هم عیدګاه ته بهر راوځی۔

د اختر لمونځ په مسجد کښې بغیر د سخت عذر نه کول خلافِ سنت دی، مثلا باران وی، عیدګاه کښې ختې وی، داسې ځای نه وی چې هلته خلك بهر ټول راجمعه شی، یا داسې نور شرعی عذرونه وی۔

دې باره کښې بې شماره دلائل دی چې رسول الله ﷺ هر وخت په عیدګاه کښې د اختر لمونځ کولو، دارنګه د هغه خلفاءِ راشدینو رضی الله عنه هم د اختر لمونځ په عیدګاه کښې کول، سره ددینه چې مسجد نبوی ډیر غوره او بهترین ځای دی، او په هغه کښې یو لمونځ په زر دی، او یوبل ضعیف حدیث کښې یو لمونځ په (٥٠) زره باندې راغلی۔

دلائل دادی :

١ – عن أبی سعید الخدری رضی الله عنه قال : کان رسول الله ﷺ یخرج یوم الفطر والأضحی إلی المصلی، فأول شئ یبدأ به الصلاة، ثم ینصرف فیقوم مقابل الناس والناس جلوس علی صفوفهم فیعظهم ویوصیهم ویأمرهم.. قال أبو سعید : فلم یزل الناس علی ذلك. (رواه البخاری : ٢/٢٥٩، ومسلم : ٣/٢٠، والنسائی : ١/٢٣٤، وغیرهم).

٢ – و عن عبد الله بن عمر رضی الله عنه قال : کان رسول الله ﷺ یغدو إلی المصلی فی یوم العید والعنزة تحمل بین یدیه، فإذا بلغ المصلی نصبت بین یدیه، فصلی إلیها، وذلك أن المصلی کان فضاءً، لیس فیه شئ یستتر به. (رواه البخاری : ١/٣٥٤، ومسلم : ٢/٥٥، وأبوداود رقم : ١٠٩، والنسائی وابن ماجه واللفظ للأخیر).

٣ – وعن البراءِ بن عازب رضی الله عنه قال : خرج النبی ﷺ یوم الأضحی إلی البقیع وفی روایةٍ : المصلی فصلی رکعتین ثم أقبل علینا بوجهه وقال : إن أول نسکنا فی یومنا هذا أن نبدأ بالصلاة، ثم نرجع فننحر فمن فعل ذلك فقد وافق سنننا، ومن ذبح فإنما هو شئ عجله لأهله لیس من النسك فی شئ. (رواه البخاری : ٢/٣٧٢، والسیاق له وأحمد : ٢/٢٨٢).

د جمهورو علماؤ مذهب هم دادی چې د اختر لمونځ په عیدګاه کښې کول سنت طریقه ده۔ د تفصیل لپاره فتاوی الدین الخالص (٦/٢٨٥) وګوره۔

دارنګه علامه عینی رحمه الله د بخاری په شرح (٦/٢٨٠) کښې لیکی :

وفیه البروز إلی المصلی والخروج إلیه ولایصلی فی المسجد إلا عن ضرورةٍ.

فتاوی هندیه (١/١١٨) کښې دی۔

الخروج إلى الجبانة – أى الصحراءِ – فى صلاة العيد سنة وإن كان يسعهم المسجد الجامع، على هذا المشائخ وهو الصحيح.

دارنګه ملا علی قاری رحمه الله په مرقات (٥٢٩/٤) کښی، ابن نجیم رحمه الله په البحر الرائق (١٥٩/٢) کښی لیکلی۔

مفتی رشید احمد رحمه الله په احسن الفتاوی (١٢٩/٤) کښی لیکی :

عیدګاه دَ ښار بهر کیدل سنتِ مؤکد دی، ځکه نبی کریم ﷺ به د اخترونو لمونځ دهمیش لپاره بهر اداء کول

د ستری اندازه څومره ده؟

سوال : د ستری اندازه څومره ده ؟ یعنی ستره چی څومره لوړه وی نوکافی کیږی ؟

جواب : دَ ستری لوړ والی خو دَ اوښ د پالان دَ آخرنۍ حصی نه کم نه دی کیدل پکار، اوکه ددی نه هر څومره زیات وی باك نه کوی۔ حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری (٥٨١/١) کښی لیکی :

اعتبر الفقهاء مثل مؤخرة الرحل فى مقدار أصل سترة.

(فقهاؤ د پالان د آخرنۍ حصه د ستری کمه اندازه ښودلی)۔ هدایه (٣٥٤/١) کښی دی۔

ومقدارها ذراع فصاعدًا.

(د ستری اندازه د یو ګز یا ددی نه زیاته ده)۔دلائل : ١ – په صحیح مسلم (١٩٧/١) وغیره کښی د طلحه رضی الله عنه نه روایت دی : قال : قال رسول الله ﷺ : إذا وضع بين يديه مثل مؤخرة الرحل فليصل ولا يبال من مرّ ورائه.

(کله چی مخی ته دَ اوښ د پالان هومره ستره وی، نو هغی ته دی لمونځ کوی او ددی نه اخوا چی څوك تیریږی باك نه کوی)۔

٢ – په بل روایت کښی دی : كنا نصلى والدواب تمر بين أيدينا فذكرنا ذلك لرسول الله ﷺ فقال : مثل مؤخرة الرحل تكون بين يدى أحدكم ثم لا يضر من مرّ بين يديه.

(اخرجه مسلم : ١٩٧/١).

(مونږ به لمونځ کولو او حیوانات به زمونږ مخکښی تیریدل نو مونږ دا مسئله رسول

الله ﷺ تـه ذكـر كړه، نو هغوئ وفرمايل : د پالان دَ ورستنئ حصی (دَ لرگی) په اندازه چی ستاسو مخی ته ستره وی، نو بيا چی ستاسو مخی ته ثوك تيريږی ثه باك نه كوی).

۳ – وعـن عـائشة رضـی الله عـنهـا قـالـت : سـئل رسول الله ﷺ فی غزوة تبوك عن سترة المصلی فقال : كَمُؤْخِرَةِ الرحل. (رواه مسلم : ۱۹۷/۱).

(د تبـوك پـه غـزا كښـی دَ رسـول الله ﷺ نـه د سـتری په باره كښی تپوس اوشو، نو وی فرمايل : د پالان د آخرنئ حصی د لرگی په اندازه).

٤ – وعن أبی هر يرة قال : قال رسول الله ﷺ : يقطع الصلاة المرأةُ والحمارُ والكلبُ ويقی من ذلك مثلُ مؤخِرَة الرحل. (رواه مسلم : ۱۹۷/۱).

(ښـځـه، خـر او سپـی د لـمـونـځ كـونكی مخی ته تيريدو سره لمونځ ماتوی، او د پالان د روستنی لرگی په اندازه ستره ئی د ماتيدو نه ساتی).

اوس به راشو دی خبری ته چی د (مؤخره الرحل) يعنی د پالان دَ روستنی حصی لرگی ثومره اندازه اوچت والی لری ؟

نو په مصنف عبد الرزاق (۹/۲، ابوداود : ۱۰٦/۱، ابن خ خزيمه : ۱۱/۲) كښی د عطاء رحمه الله نه په صحيح سند سره نقل دی چی :

قـال ابـن جـريـج : قـال عطاء : كان من مضیٰ يجعلون مؤخرة الرحل إذا صلوا، قلتُ : وكم بلغت ؟ قال : قدر مؤخرة الرحل، قال : ذراع، قال : سمعتُ الثوری يفتی بقول عطاء.

(يـعـنـی عـطـاء وائـی چـی مـخـكـنـو خـلـقـو (صحابه چی كله لمونځ كولو نو د پالان د ورستنی لرگی په اندازه ستره به ئی مخی ته، ابن جريج وائی : ما ورته وويل : تاته (ثرنگه را رسيـدلی چی) ثومره اندازه اوچته وه ؟ هغه وويل : د پالان د ورستنی لرگی په اندازه يو ذراع (گـز)، ابن جريج وائی : ما د سفيان ثوری رحمه الله نه واوريدل چی هغه هم د عطاء په قول فتویٰ وركوله).

د ابن جريج رحمه الله نه په بل روايت كښی نقل دی : چی ما عطاء ته وويل : كه ماسره د يو ذراع (گز) په اندازه همسا وی او د هغی نه د ثلورو گوتو په اندازه په زمكه كښی ښخه كړی شی او باقی د ذراع نه كمه اندازه په زمكه ولاړه وی (نو آيا دا كافی كيږی) ؟

قال : لا، حتی يكون خالصها علی ظهر الأرض ذراع.

(هغه ویلی : نه، تر څو چې خاص د زمکې په سر د یو ګز په اندازه موجوده نه وي)۔
(مصنف عبد الرزاق : ۲/ ۱۵).
د قتـاده رحمـه الله نه هم ددې پشان قول نقل دی، نو د عطاء د قول نه معلومه شوه چې مؤخره الرحل يو ذراع اندازه اوچت والی لري، او د صحابه کرامو رضی الله عنه ستری به د يـو لاس (ګز) پـه انـدازه اوچتـی وی۔ او صحابه کرام رضی الله عنه په دين ښه پو هيدل، د قرآن او حديث په هغوئ لوستل کیدل۔
(فتاوى الدين الخالص : ۳/ ۵۶۱).
دَ يـو ذراع (يعنى څنګلى) اندازه خو معلومه ده چې دوه ليشتې جوړيږی۔ باقی دی باره کښـې چې د بـعـضـی سلفـو نه کوم آثار په ابن ابی شيبه، مصنف عبد الرزاق او ابوداود وغيـره کښـې نـقـل دی چـې هـغـوئ به توپئ ستره جوړوله، نو په هغې کښې خو بعضی ضـعيف دی، او کـوم چې صحيح دی نو هغه محمول دی په ضرورت باندی۔ ځکه چې دا حکم دی چې :
﴿ فاتقوا الله ماستطعتم ﴾
(څومره مو چې وَس رسی، هغومره د الله دَ حکم پابندی کوئ)۔
د تفصيل لپاره : فتـاوى الـدين الخالص :۳/ ۵۵۹، المحلى د ابن حزم : ۴/ ۱۲، الفقه على الـمـذاهـب الأربـعة : ۱/ ۱۹۰، سبـل السـلام : ۱/ ۲۹۴، فتـح البارى : ۱/ ۵۸۱، شرح مسلم للنوى : ۱/ ۱۹۷، أحكام السترة للشيخ محمد بن طرهونی.

دَ لمونځ کونکی مخی ته د حیواناتو تیریدلو حکم

سوال : دَ لـمـونـځ کـونـکـی مـخی که حيوانات تيريږی نو آيا هغه به هم نه پريښودل کيږی ؟
جواب : هُـو، کـه د لـمـونـځ کـونـکـی مخی ته کوم حيوان وغيره تيريږی، نو هغه به د تيريدلو څخه منع کوی۔ لکه حديث کښې دی :
عـن عبـد الله بـن عـمر قال : هبطنا مع رسول الله ﷺ من ثنية أذاخر فحضرت الصلاة يعنى فصلى إلى جدار، فاتخذه قبلة ونحن خلفه فجائت بُهمة تمرّ بين يديه فمازال يدرأها حتى لصق

بطنه بالجدار ومرّت من ورائه. (رواه أحمد وأبوداود : ۱/۱۰۹).

(مونږ د رسول الله ﷺ سره دَ اذاخر (نومی ځای) نه (چی د مکی او مدینی تر مینځه یو ځای دی) راکوز شو، د لمانځه وخت راغی، رسول الله ﷺ دیوال طرفته لمونځ وکړو، او هغه ئی د ځان لپاره ستره جوړه کړه، مونږ شاته ولاړ وو، دی مینځ کښی دَ ګډی یا سیرلۍ بچی دَ رسول الله ﷺ مخی ته تیریده، نو رسول الله ﷺ لګیا شو چی هغه ئی د تیریدلو نه منع کولو، تردی چی دَ هغه خیټه ئی په دیوال پسی جوخته کړله، او هغه ګډوری دَ هغه نه ورسته تیر شو).

۲ – وعن ابن عباس رضی الله عنه أن النبی ﷺ کان یصلی فمرت شاة بین یدیه فساعاها إلی القبلة حتی ألزق بطنه بالقبلة.

(نبی کریم ﷺ لمونځ کولو نو یوه ګډه ئی مخکښی تیریدله، نو هغه ئی دیکه کړه تردی چی د هغی خیټه ئی د ستری سره ولګوله).

(رواه ابن حبان : ٤/٤٨، وابن خزیمة : ٢/٢٠، والحاكم : ١/٢٥٤، وغیرهم).

د مذکوره احادیثو نه معلومه شوه چی دَ لمونځ کونکی مخی ته کوم حیوان تیریږی، نو هغه به هم منع کولی شی۔ اوکه د تیریدو نه نه منع کیدلو نو زور هم ورسره کولی شی۔ (فتاوی الدین الخالص : ۳/۵۸۰).

ایا لمونځ کونکی د لمانځه مخی ته تیریدونکی په زوره منعه کولی شی؟

سوال : که دَ لمونځ کونکی مخی ته څوك تیریږی نو لمونځ کونکی ئی منع کولی شی ؟ دارنګه که څوك د تیریدلو کوشش کوی نو لمونځ کونکی د هغه په منع کولو کښی د زور نه کار اخستی شی ؟

جواب : د لمونځ کونکی مخی ته تیریدل ګناه ده، هیچاته دا حق نشته چی د لمونځ کونکی مخی ته تیر شی۔ که یو ناپوهه انسان د لمونځ کونکی مخی ته تیریږی نو په لمونځ کونکی لازم دی چی هغه منع کړی۔ دی باره کښی ډیر احادیث راغلی :

۱ – عن ابن عمر قال : إن رسول الله ﷺ قال : إذا کان أحدکم یصلی فلایدع أحدًا یمرّ بین یدیه فإن أبی فلیقاتله فإن معه القرین. (رواه مسلم : ۱۹۷/۱).

(کله چی په تاسو کښی څوك لمونځ کوی نو هیڅوك دی نه پریږدی چی دده مخکی تیر شی که چیری (تیریدونکی) نه ایساریږی نو لمونځ کونکی دی ورسره جنګ وکړی، ځکه ددی تیریدونکی سره شیطان دی).

۲ – وعن أبی صالح قال : رأیت أبا سعید الخدری فی یوم الجمعة یصلی إلی شئ یستره من الناس فأراد شابٌّ من بنی أبی معیطٍ أن یجتاز بین یدیه فدفع أبو سعیدٍ فی صدره فنظر الشابُّ فلم یجد مساغًا إلا بین یدیه فعاد لیجتاز فدفعه أبو سعید أشد من الأولیٰ فقال من ابی سعید ثم دخل علی مروان فشکا إلیه ما لقی من أبی سعیدٍ، ودخل ابو سعیدٍ خلفه علی مروان، فقال : مالك ولابن أخیك یا أبا سعید ! قال : سمعت النبی ﷺ یقول : إذا صلی أحدکم إلی شئ یستره عن الناس فأراد أحد أن یجتاز بین یدیه فلیدفعه فإن أبیٰ فلیقاتله فإنما هو شیطان. (اخرجه البخاری : ۷۲/۱، وفی روایة ابن خزیمة : ۱۶/۲ : فلیمنعه مرتین، فإن أبی فلیقاتله، وزاد فی روایةٍ : فإنما ضربت الشیطان).

(ابو صالح رحمه الله وائی : ما ابو سعید خدری رضی الله عنه د جمعی په ورځ ولیدل چی داسی شئ ته ئی لمونځ کولو چی د خلقو نه ئی سُتره جوړ کړی وو، نو د ابو معیط قبیلی یو ځوان هلك اوغوښتل چی د ده او د ستری په مینځ کښی تیر شی، نو ابو سعید رضی الله عنه هغه ځوان په سینه کښی وواهه، هغه ځوان اخوا دیخوا وکتل، نو دده مخی ته د تیریدلو نه سیوا بله لاره ئی مونده نه کړه، نو دوباره د تیریدو اراده ئی وکړه، نو ابو سعید رضی الله عنه په دریم ځل د اول نه سخته دیکه ورکړه، نو دا ځوان د ابو سعید رضی الله عنه نه خفه شو، بیا مروان ته ورغی، او د ابو سعید رضی الله عنه نه ئی هغه ته شکایت وکړو، دی مینځ کښی ابو سعید خدری رضی الله عنه هم هغه پسی روستو مروان ته ورغی۔ مروان ورته وویل : ابو سعیده ! ستا او ستا د وراره ترمینځه په څه خبره دا مشکل را مینځ ته شو ؟ ابو سعید رضی الله عنه وفرمایل : ما د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چی فرمایل ئی : کله چی په تاسو کښی څوك ستری ته لمونځ کوی او څوك غواړی چی ستا او ستاسو د ستر مینځ کښی تیر شی، نو هغه منع کړئ که هغه منع نه

شی نو د هغه سره جګړه وکړئ، ځکه چی دا شیطان دی)۔(بخاری)۔

د ابن خزیمه په روایت کښی داسی دی۔((دوه ځله ئی منع کړئ، که نه منع کیده نو جګړه ورسره وکړه، په بل روایت کښی دا خبره هم ورسره زیاته شوی : ځکه چی تا شیطان وواهه))۔

۳ – عمرو بن دینار رحمه الله وائی : مررتُ بان عمر بعد ما جلس فی آخر صلاته حتی انظر ما یصنع فارتفع عن مکانه فدفع فی صدری.(بخاری : ۷۲/۱).

(زه په ابن عمر رضی الله عنه ورتیر شوم په داسی حال کښی چی هغه د لمانځه په آخرنئ قعده ناست وو، ما غوښتله چی هغه اوګورم چی څه کوی، نو هغه د خپل ځائی نه را پورته شو او زه ئی په سینه کښی دیکه کړم)۔

(بخاری : ۷۲/۱، ابن أبی شیبه : ۲۸٤/۱).

د ابن ابی شیبه په روایت کښی ورسره دا هم دی چی :

أردت أن أمر بین یدی ابن عمر وأنا غلام فانتهرنی بتسبیحةٍ.

(ما غوښتل چی د ابن عمر رضی الله عنه مخی ته تیر شم، او زه (ماشوم) هلك ووم، نو هغه زه په تسبیح ویلو سره ورټلم)۔بل روایت کښی دی۔

فثار ثورة أفزعنی ونحانی.

(نو په ماسی داسی را پاریدلو چی زه وډار شوم او زه ئی لری کړم)۔

ستری ته د لمونځ کولو حکم

سوال : لمونځ کونکی لپاره ستری ته د لمونځ کولو څه حکم دی ؟

یعنی : ستری ته لمونځ کول صرف مستحب او غوره دی اوکه لازم او ضروردی ؟

دی باره کښی تفصیلا جواب پکار دی ؟

جواب : ستری ته لمونځ کول لازم او ضروری دی، د ستری نه بغیر لمونځ کول ګناه ده۔دی باره کښی ډیر احادیث او آثار راغلی چی ټول د ستری په وجوب او فرضیت باندی دلیل دی۔

۱ – عن ابن عمر قال : قال رسول الله ﷺ : لا تصلِّ إلا إلی سترةٍ، ولا تدع أحدًا یمرّ بین

يديك فإن أبى فلتقاتله فإن معه قرين).

(دَ سترې نه بغير لمونځ مکوه، او هيڅوك مه پريده چې ستا مخې ته په لمانځه کښې تير شي، که چيرې هغه د تيريدو نه نه منع کيږي نو جګړه ورسره وکړه ځکه د هغه سره شيطان ملګرې دی)۔

(ابـن حبان : ٤٥/٤، ابن خزيمة : ٩/٢، الحاكم : ٢٥١/١، البيهقي : ٢٦٨/٢، مسلم مختصرًا، وفي صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان : ١٢٦/٦، ٢٣٦٢، ٢٣٦٩، واسناده صحيح).

٢ – وعن سبرة بن معبد قال : قال رسول الله ﷺ : ليستتر أحدكم في صلاته ولو بسهمٍ.

(په لمانځه کښې دې په تاسو کښې هريو کس ستره اونيسي اګرکه دغشي نه ولې نه وي)۔(أحمد : ٤٠٤/٣، الحاكم : ٢٥٢/١، ابن خزيمة : ١٣/٢، البيهقي : ٢٧٠/٢، وصححه الألباني في الصحيحة).

٣ – بل حديث کښې دی۔ إذا صلى أحدكم فليصلّ إلى سترةٍ، وليدن منها، ولا يدع أحدًا يمرّ بينه وبينها فإن جاء أحد يمرّ فليقاتله فإنه شيطان، وفي رواية : فإن الشيطان يمرّ بينه وبينها.

(أخرجه ابن ابي شيبة : ٢٧٩/١، وأبوداود : ١١١/١، وابن ماجة، وابن حبان : ٤٨/٤).

(کله چې په تاسو کښې څوك لمونځ کوي نو سترې ته دې لمونځ کوي، او هغې ته دې نزدې شي، او هيڅوك دې نه پريږدي چې دده او د سترې په مينځ کښې تير شي، که هغه د تيريدولو نه نه منع کيده، نو جګړه دې ورسره اوکړي ځکه چې دا شيطان دی)۔

په بل روايت کښې دی۔(ځکه شيطان دده او دده د سترې ترمينځه تيريږي)۔

٤ – عن قرة بن إياس قال : رآني عمر وأنا أصلي بين اسطوانتين فأخذ بقفائي فأدناني إلى سترة فقال : صل إليها. (رواه البخاري : ٧٢/١، ووصله ابن أبي شيبة : ٣٧٠/٢، وغيرهما).

(قره بن اياس رحمه الله فرمائي : زه عمر فاروق رضی الله عنه وليدم چې ما د دوه ستنو ترمينځه لمونځ کولو، نو زه ئې د څټ نه ونيولم او سترې ته ئې ورنزدې کړم، او راته ئې وفرمايل : ديته لمونځ کوه)۔

دَ پورتنو صحيح احاديثو او آثارو نه معلومه شوه چې سترې ته لمونځ کول ضروري او لازم دي، ځکه رسول الله ﷺ په ستره نيولو باندې امر کړې، د سترې نه بغير دَ لمونځ کولو نه منع فرمايلې۔ دارنګه د عمر فاروق رضی الله عنه د اثر نه هم معلومه شوه چې

ستره نیول په لمانځه کښې ضروري دي۔

د تفصیل لپاره وګوره : فتاوى الدين الخالص : ٥٥١/٣، نيل الأوطار : ٤/٤، السيل الجرار : ١٧٦/١، أحكام السترة، ص : ٩، للشيخ محمد بن زرق طرهوني).

که سُتره نه وي نو د لمونځ کونکی مخې ته په څومره فاصله کې تیریدل صحیح دي ؟

سوال : که سُتره نه وي او سړی لمونځ کوي، بل کس د لمونځ ګذار مخې ته په څومره فاصله کښې تیریدلی شي ؟

جواب : ددې مسئلې د جواب نه مخکې داخبره واوره چې د سترې نه بغیر لمونځ کول ګناه ده، سترې ته لمونځ کول ضروري دي۔رسول الله ﷺ فرمائی :

لا تصل إلا إلى سترةٍ، ولا تدع أحدًا يمرّ بين يديك فإن أبىٰ فلتقاتله، الحديث).

(د سترې نه بغیر لمونځ مه کوه او هیڅوك دیته مه پریږده چې ستا مخې ته تیر شي، که چیرې هغه د تیریدو نه نه منع کیږي نو جګړه ورسره وکړه)۔

(ابن خزيمة : ٩/٢، ابن حبان : ٤٥/٤، الحاكم : ٢٥١/١، البيهقي : ٢٦٨/٢).

دې باره کښې ډیر زیا احادیث راغلي چې د سترې په فرضیت باندې دلالت کوي، وګوره : فتاوى الدين الخالص : ٥٥١/٣).

دویمه خبره : دا زده کول ضروري دي چې کوم کس د بې علمۍ یا سستیا په وجه په دې ګناه کښې مبتلا شي، نو بیا تیریدونکی له پکار دي چې د لمونځ کونکی مخکې تیر نشي۔ځکه په دې کښې سخته ګناه ده۔رسول الله ﷺ فرمائی :

لـو يـعلم المارُّ بين يدى المصلى ماذا عليه من الإثم، لكان أن يقف أربعين خيرًا له من أن يمرّ بين يديه. (که چیرې د لمونځ کونکی مخې ته تیریدونکی ته معلومه شي چې دده څومره ګناه کیږي، نو څلویښت کاله اودریدل به دده لپاره ددې نه غوره وي، ددې نه چې د هغه مخې ته تیر شي)۔

د ابن ماجه په حدیث کښې د سل کالو روایت راغلی۔د کعب الأحبار رحمه الله نه نقل

دی چی که چیری د مونځ کونکی مخی ته تیریدونکی ته ددی ګناه علم اوشی نو د تیریدو نه به دا ورته غوره وی چی په زمکه کښی ډوب کړی شی۔
(مشکاة : ۷۰/۱، موطأ امام مالك : ۱۲۱/۱، مصنف عبد الرزاق : ۲۰/۲).
نـو دی بـاره کښـی حتی الوسع احتیاط پکار دی، هسی نه چی انسان په دی ګناه کښی اخته شی۔
اوس که یـو کـس بی ستری لمونځ کوی او کس دده مخی ته د تیریدو ضرورت لری، نو په څومره فاصله کښی به دده نه اخوا تیریږی ؟
نـو دی بـاره کښـی خـو یو ضعیف حدیث په (ابـوداود : ۱۰۹/۱، طحاوی : ٤٥٨/۱، او بیهقی : ۲۷٥/۲) کښـی راغلی چی دومره لری به تیریږی، څومره فاصلی کښی چی کانی ویشتـل کیږی۔(رمیةً بحجرٍ، قذفةً بحجرٍ).
لیکن دا روایت چونکه ضعیف دی، په دی بناء دلیل نشی جوړیدی۔
دویم قول دادی چی : د لمونځ کونکی مخکښی نه دری ګزه وړاندی تیریدل جائز دی۔دا د امام شافعی رحمه الله، امام احمدرحمه الله او ابن حزم رحمه الله مذهب دی۔
مونږته هم دا قـول راجـح ښکاری۔دامام مالك رحمه الله نه نقل دی چی ددی کس دَ رکوع او سجدی په ځای تیریدل جائز نه دی، او ددی نه آخوا تیریدل جائز دی۔
او احـنـاف دَ غـټ او وړوکی مسجد فرق کوی، وائی واړه مسجد کښی د لمونځ کونکی مـخـی تـه تیریدل مطلقا جائز نه دی، او په غټ مسجد یا صحراء کښی به دده دَ سجدی په ځای کښی تیریدل جائز نه وی، ددی نه اخوا تیریدل جائز دی۔وګوره : (الفقه علی المذ اهب الأربعة : ۱۹۲/۱، المحلی لابن حزم).
پـه دی کښـی دا راجحه ده چی د دری ګزو فاصله معتبره شی، ځکه په عرف کښی ددی نـه اخـوا تیـریـدل دده نـه لـری شـمـارلـی شی۔بله دا چی لمونځ کونکی ته حکم شوی چی خپـلـی مـخی ته تیریدونکی منع کړی، نو ددی نه د خپل وس مطابق مراد دی، نو چی دده نـه دری ګزه اخوا تیـریـږی نـو د هـغـه پـه لاس بـانـدی منع کول د انسان دَ وس نه بهر دی، خصوصا کله چی تشهد حالت کښی وی، یا د رکوع او سجدی په حالت کښی وی۔
بـلـه دا چـی : احادیثو کښی راځی : (بین یدیه) نو د انسان چی د لاس نه اخوا تیریږی، ان

شاء الله ګناه به نه وی۔ اګرکه احتیاط دادی چې ددی نه هم اخوا انسان تیر شی۔
بعضی خلق وائی چې سُتره په مسجد کښې ضروری نه ده، بلکه په صحراء کښې ضروری ده۔ لیکن د دوئ دا خبره غلطه ده۔ بلکه په صحراء، مسجد او کور وغیره هرځای کښې ستری ته لمونځ کول ضروری دی، د رسول الله ﷺ دا فرمان چې: لا تصل إلا إلی سترة. (ابن خزیمة: ۱۰/۲، ۱۷).
إذا صلی أحدکم فلیستتر ولیقرب من السترة. (شرح السنة: ٤٤٧/۲).
دا احادیث عام دی، د مسجد او صحراء فرق په کښې نشته۔ بلکه دَ عمر فاروق رضی الله عنه نه نقل دی:
رأی عمر رجلًا یصلی بین اسطوانتین فأدناه إلی ساریة فقال: صل إلیها. (بخاری، باب الصلاة إلی اسطوانة).
(عمر بن خطاب رضی الله عنه یو کس ولیده چې دوه ستنو مینځ کښې ئی لمونځ کول، نو هغه ئی یوی ستنی ته نزدی کړو، او وی ویل: دیته لمونځ کوه)۔
امام ابن حجر رحمه الله فرمائی: وأراد عمر بذلك أن تکون صلاته إلی سترةٍ.
(فتح الباری: ۵۷۷/۱).
(عمر رضی الله عنه په دی کار سره دا غوښتل چې ددی کس لمونځ ستری ته اوشی)۔
دَ انس رضی الله عنه نه روایت دی:
لقد رأیت کبار أصحاب رسول الله ﷺ یبتدرون السواری عند المغرب. (رواه البخاری).
(ما د رسول الله ﷺ لوی لوی صحابه رضی الله عنه لیدلی دی چې دَ ماښام (د آذان) په وخت به ئی ستنو ته (د دوه رکعته لمونځ کولو لپاره تادی کوله)۔
په دی روایت نقل کولو سره د امام بخاری رحمه الله غرض دادی چې صحابه کرامو رضی الله عنه به په مسجد کښې هم د ستری اهتمام کولو۔
رشید احمد ګنګوهی په لامع الدراری: ۵۰۲/۲ کښې لیکی:
فالأوجه عندی: أن الإمام البخاری أشار بالترجمة إلی عدم تخصیص السترة بالصحراءِ.
(زما په نیز د ټولو نه صحیح توجیه داده چې امام بخاری رحمه الله په دی باب تړلو سره دیته اشاره کوی چې ستره دَ صحراء پوری خاص نه ده)۔

یحییٰ بن ابی کثیر رحمه الله وائی : رأیت أنس بن مالك رضی الله عنه فی المسجد الحرام وقد نصب عصًا یصلی إلیها.

(ما انس بن مالك رضی الله عنه ولیدل چی په مسجد حرام کښی ئی همسا اودرولی وه او هغی طرفته ئی لمونځ کولو)۔

(ابن ابی شیبة : ۳۱۰/۱، طبقات ابن سعد : ۱۱/۷، الأوسط لابن المنذر :۷۹/۵).

نافع رحمه الله وائی : کان ابن عمر إذا لم یجد سبیلاً إلی ساریة من سواری المسجد قال لی : ولّنی ظهرك. (ابن أبی شیبة : ۳۱۳/۱).

(ابن عمر رضی الله عنه به چی کله د مسجد ستنو ته لار پیدا نه کړه، نو ماته به ئی ویل : خپله شا دی ماته راواړوه)۔

د ابو سلیمان رحمه الله نه نقل دی : رأیت أبا سعید الخدری فی یوم الجمعة یصلی إلی شئ یستره من الناس.

(ما ابو سعید خدری رضی الله عنه دَ جُمعی په ورځ ولیدل چی داسی څیز ته ئی لمونځ کولو چی هغه ئی د خلکو نه ستره جوړه کړی وه)۔(بخاری).

د تفصیل لپاره وګوره :

(فتاوی الدین الخالص : ۵۶۳/۳،، آپ کے مسائل لمبشر أحمد ربانی : ۱۶۱/۲).

په لمانځه کښی مخکښی صف ته تلل

سوال : په لمانځه کښی که مخکښی صف خالی شی، یا څوك ورنه دَ څه عذر په بناء اووځی، آیا ورستنی صف والا دغه خالی ځای ته ورمخکښی کیدی شی، که نه ؟ دارنګه په لمانځه کښی د ضرورت په وجه مخکښی کیدل یا ورسته کیدل جائز دی که نه ؟ د قرآن او سنت په رڼا کښی جواب راکړئ۔

جواب : په لمانځه کښی د ضرورت په بناء مخکی کیدل یا ورسته کیدل جائز، بلکه په بعضی وختونو کښی ضروری او لازم دی۔دی باره کښی ډیر زیات احادیث او آثار راغلی، چی مونږ د هغی نه یو څو احادیث ذکر کوو۔

۱ – عن جابر قال : قام رسول الله ﷺ لیصلی فجئتُ حتی قمتُ عن یساره فأخذ بیدی،

فأدارني حتى أقامني عن يمينه ثم جاء جبار بن صخرٍ، فقام عن يسار رسول الله ﷺ، فأخذ بيدينا جميعًا فدفعنا حتى قمنا خلفه. (رواه مسلم، كما في المشكاة : ۱۱۰۷، ۱/).

جابر رضی الله عنه وائی : رسول الله ﷺ لمانځه ته ودریده نو زه ئی چپ طرفته ودریدم نو زه ئی د لاس نه ونیولم او راتاؤ ئی کړم، تردی چی خپل ښی اړخ ته ئی اودرولم، بیا جبار بن صخر رضی الله عنه راغی، هغه دَ رسول الله ﷺ چپ طرفته ودریده، نو مونږ دواړه ئی دَ لاسونو نه ونیولو او خپل شاته ئی دیکه کړو۔ نو مونږ دواړه دَهغوئ شاته ودریدلو)۔

۲ – د ابو بکره رضی الله عنه په حدیث کښی راځی :

إنه جاء ورسول الله ﷺ راكع فركع دون الصف ثم مشى إلى الصف، فلما قضى النبي ﷺ صلاته قال : أيكم الذي ركع دون الصفّ ثم مشى إلى الصفّ ؟ فقال ابو بكرة : أنا فقال النبي ﷺ : زادك الله حرصًا ولاتعد. (رواه البخاري، مشكاة : ۱۰۰، الترغيب والترهيب : ۲۳۰).

(ابو بکره رضی الله عنه د صف نه اخوا په رکوع شو، په لمانځه کښی د رکوع په حالت صف ته راغی، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : الله دی ستا حرص په لمانځه نور هم زیات کړی، خو بیا داسی کار مه کوه، یا لمونځ مه راګرځوه)۔

۳ – وعن ابن عباس قال : بت عهد خالتي ميمونة ليلة والنبي ﷺ... فقام فصلى وتوضأت فقمت عن يساره فأخذ بأذني فأدارني عن يمينه. (متفق عليه، مشكاة : ۱۱۹۵).

(ابن عباس رضی الله عنه وائی : ما د خپلی ترور میمونی رضی الله عنها په کور کښی شپه تیره کړه، نو د شپی رسول الله ﷺ لمانځه ته راپاسید او لمونځ ئی شروع کړو، زه هم راپاځیدم، اودس می وکړو، او د رسول الله ﷺ چپ طرفته اودریدم، نو زه ئی د غوږ نه ونیولم او خپل ښی طرفته ئی راتاؤ کړم)۔

٤ – وعن قيس بن عبادة قال : بينا أنا في المسجد في الصف المقدم فجبذني رجل من خلفي جبذة فنحاني وقام مقامي، فو الله ما عقلتُ صلاتي، فلما انصرف إذا هو أبي بن كعب.. الحديث. (رواه النسائي، مشكاة : ۱۱۱٦).

(قیس بن عباده رحمه الله وائی : ما په مسجد کښی په اول صف کښی لمونځ کولو چی دی مینځ کښی یو کس زه د شا طرفته سخت راخکلم، او زه ئی روسته کړم، او هغه زما په ځای ودریدۀ، قسم په الله ! که زه په لمانځه پو هه شوی یم، کله چی لمونځ خلاص

شو، نو دا کس ابئ بن کعب رضی الله عنه وو).

٥ – یو بل حدیث کښې راځي چې رسول الله ﷺ د یوې جګړې د صلح لپاره تلی وو، د لمانځه وخت راغی، بلال رضی الله عنه اذان وکړو، رسول الله ﷺ موجود نه وو، نو ابو بکر رضی الله عنه مخکښې شو، دې مینځ کښې رسول الله ﷺ راغی:

فجعل یشق الناس فی الصلاة لم یلتفت فلما رأی أبو بکر التصفیح لا یمسك عنه التفت فأومأ إلیه رسول الله ﷺ بیده، فحمد الله عز و جل، علی قول رسول الله ﷺ له امضه ثم مشی أبو بکر القهقری علی عقبه فتأخر، فلما رأی رسول الله ﷺ تقدم وصلی بالناس.

(رواه النسائی وغیره، وسنده صحیح : ٧٩٣، ٨٢/٢).

(او اول صف ته په خلقو کښې را تیر شو، د ابو بکر رضی الله عنه شاته ودریدو، خلکو لاسونه پرقول شروع کړل، د ابو بکر رضی الله عنه عادت داوو چې په لمانځه کښې به ئې اخوا دیخوا نه کتل، کله چې خلکو لاس پرقول ډیر کړل، ابو بکر وکتل چې رسول الله ﷺ راغی، نو ابو بکر شاته کیده، ابو بکر په دې خبره د الله تعالی حمد او ثناء اوویله، بیا په شا روسته لاړ، او رسول الله ﷺ مخکې شو).

٦ – وعن عائشة رضی الله عنها لما مرض النبی ﷺ مرضه الذی مات فیه أتاه مؤذن یؤذنه بالصلاة، فقال : مروا أبابکر فلیصل ... فلما رآه أبوبکر ذهب یتأخر فأشار إلیه (أن صل) فتأخر أبو بکر وقعد النبی ﷺ إلی جنبه (بخاری).

(یعنی : په هغه مرض کښې چې په هغه کښې رسول الله ﷺ مړ شو، رسول الله ﷺ ته مؤذن راغی چې د لمانځه خبر ئې ورته ورکولو، رسول الله ﷺ وفرمایل : ابو بکر ته حکم وکړئ چې لمونځ وکړي.(بیا رسول الله ﷺ لږ ښه شو او د لمانځه لپاره راغی) نو کله چې ابو بکر رضی الله عنه هغه لره ولیده، نو هغه د خپل ځای نه ورسته شو، او رسول الله ﷺ ئې اړخ ته کیناستلو).

٧ – وعن عائشة رضی الله عنها قالت : کان رسول الله ﷺ یصلی تطوعًا والباب علیه مغلق فجئتُ فاستفتحت ففتح لی ثم رجع إلی مصلاه، وذکر أن الباب کان فی القبلة. (رواه أبوداود والترمذی والنسائی نحوه، مشکاة : ١٠٠٥).

(عائشه رضی الله عنها وائی : رسول الله ﷺ به په نفلو ولاړ وو، ځان پسې به ئې دروازه

بنده کړی وه، ما به دَ پرانستو طلب وکړو، رسول الله ﷺ به په لمانځه کښی راغی او دروازه به ئی پرانسته، بیرته به د خپل لمانځه ځای ته لاړ، عائشه رضی الله عنه وائی : دا دروازه قبلی طرفته وه)۔

۸ – وعن سهل بن سعد أنه سئل : من أی شئ المنبر ؟ فقال : هو من أثل الغابة عمله فلان، مولیٰ لفلانة لرسول الله ﷺ، و قام علیه رسول الله ﷺ حین عمل ووضع، فاستقبل القبلة و کبر وقام الناس خلفه فقرأ ورکع ورکع الناس خلفه، ثم رفع رأسه ثم رجع القهقری فسجد علی الأرض، ثم عاد إلی المنبر ثم قرأ ثم رکع ثم رفع رأسه ثم رجع القهقری.. الحدیث. (متفق علیه، المشکاة : ۱۱۱۳).

(سهل بن سعد رضی الله عنه وائی : مونږ ته رسول الله ﷺ په هغه منبر باندی لمونځ وکړو کوم چی د یوی ښځی غلام د ځنګلی لرګی نه ورته جوړ کړی وو، رسول الله ﷺ تکبیر وکړو، او خلق ورپسی وروسته ودریدل، نو هغه قرأت وکړو، رکوع ئی وکړه، خلکو هم ورسره رکوع وکړه، بیائی سر پورته کړو او په شا باندی ورسته راغی او په زمکه باندی ئی سجده وکړه، بیا بیرته (په دویم رکعت کښی) منبر ته لاړ، قرأت ئی وکړو، رکوع ئی وکړه، بیا ورسته په شا راغی په زمکه ئی سجده وکړه)۔

۹ – وعن عبد الله بن عمر قال : قال رسول الله ﷺ : خیارکم الینکم مناکبَ فی الصلاة، وما من خطوةٍ أعظم أجرًا من خطوةٍ مشاها رجل إلی فرجةٍ فی الصفّ فسدّها. (رواه ابن حبان والبزار والطبرانی فی الأوسط، انظر الصحیحة ۲۵۳۳، وصحیح الترغیب والترهیب : ۵۰۴).

(رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کښی غوره هغه څوك دی چی په لمانځه کښی ئی اوږه نرمه وی، او دَ هغه قدم نه ډیره غوره قدم په اجر او ثواب کښی نشته کوم چی یو سړی د صف د خالی ځای د ډکولو لپاره اخستی وی)۔

د مذکوره احادیثو نه معلومه شوه چی د لمانځه د اصلاح لپاره په لمانځه کښی مخکی ورسته تلل جائز بلکه کله کله ضروری او لازم هم دی۔

تراویح څو رکعته دی؟

سوال : مسنون تراویح څو رکعته دی؟

جواب: مسنون تراويح آته (۸) رکعته دي، دارنګه د خلفاء راشدينو رضي الله عنهم نه هم آته رکعته تراويح ثابتي دي۔ د شلو رکعته تراويحو ثبوت دَ رسول الله ﷺ يا د خلفائراشدينو نه ضعيف دي۔صحيح احاديث د آتو رکعتو په باره کښي راغلي۔ البته شل رکعته تراويح - چي په صحيح طريقه اداء کړې شي - هم جائز دي، او ددي دليل دادي چي د انوافل دي، او په نوافلو کښي زيادت جائز دي، دا مسئله په فتاوى الدين الخالص (۵/۳۲۷) کښي شيخنا ابومحمد امين الله حفظه الله پدي عنوانونو سره ليکلي: (إقامة الحجة على الإكثار في النوافل ليس ببدعة - إقامة الحجة على أن الزيادة في التراويح ليس ببدعة: ۵/۳۹۵)۔

د آتو رکعتونو دَ ثبوت په باره کښي دلائل:

۱ - عن أبي سلمة بن عبد الرحمن أنه سألَ عائشةَ رضي الله عنها كيف كانت صلاة رسول الله ﷺ في رمضان؟ فقالت: ما كان رسول الله ﷺ يزيد في رمضان ولا في غيره على إحدى عشر ركعةً، يصلي أربعًا فلا تسأل عن حسنهن وطولهن، ثم يصلي أربعًا، فلا تسأل عن حسنهن وطولهن، ثم يصلي ثلاثاً. (متفق عليه).

(ابو سلمه رحمه الله دَ عائشي رضي الله عنها نه تپوس وکړو چي په رمضان کښي دَ رسول الله ﷺ لمونځ څنګه وو؟ نو هغي جواب ورکړو، چي رسول الله ﷺ به په رمضان او غير رمضان کښي دَ يوولسو رکعتونو نه زيات مونځ نه کولو، څلور رکعته به ئي وکړل، ته دَ هغي دَ ښائست او اوږدوالي په باره کښي تپوس مه کوه (يعني که تپوس دي وکړو، نو ډير خوند به درکړي) بيابه ئي څلور رکعته کول، ته د هغي دَ ښائست او اوږدوالي په باره کښي تپوس مه کوه۔بيابه ئي دري رکعته (وتر) کول)۔

بل روايت کښي دا هم راغلي چي:

كانت صلاته في شهر رمضان وغيره: ثلاث عشر ركعةً بالليل منها ركعتا الفجر. (رواه مسلم: ۱۶۷/۲، وأحمد: ۳۹/۶، وابن خزيمة والنسائي وغيرهم).

(چي د رمضان په مياشت کښي او د رمضان نه سيوا په نورو مياشتو کښي به د رسول الله ﷺ ديارلس (۱۳) رکعته کول، چي په دي کښي به دَ سهار دوه رکعته سنت هم

وو)۔(یعنی : (۸) رکعته تراویح۔(۳) رکعته وتر۔او (۲) رکعته د سهار سنت)۔

ددی صحیح حدیث نه دا مسئله بالکل واضحه معلومه شوه چی تراویح مسنونه آته رکعته دی۔ ځکه ابو سلمه رحمه الله د عائشی رضی الله عنها نه د رسول الله ﷺ د هغه لمانځه تپوس کوی چی په هغویٔ به په رمضان کښی کولو، نو عائشی رضی الله عنها ورته وفرمایل : چی هغه په رمضان کښی دَ آتو رکعاتو نه سیوا نه دی کړی۔ (فتاوی الدین الخالص : ٤٠٧/٥).

۲ – وعن جابر بن عبد الله رضی الله عنه قال : صلی بنا رسول الله ﷺ فی شهر رمضان ثمان ركعاتٍ وأوتر فلما كانت القابلة اجتمعنا فی المسجد ورجونا أن يخرج فلم نزل فيه حتى أصبحنا ثم دخلنا فقلنا : يا رسول الله ! اجتمعنا البارحة فی المسجد ورجونا أن تصلی بنا ؟ فقال : إنی خشيتُ أن يكتب عليكم.

(جابر رضی الله عنه وائی : مونږ ته رسول الله ﷺ د رمضان په میاشت کښی آته رکعته لمونځ وکړو، او بیائی وتر وکړل، کله چی صبا شپه شوه، مونږ بیا په مسجد کښی جمعه شو او زمونږ دا امید وو چی رسول الله ﷺ به را اووځی۔لیکن مونږ دغسی په مسجد کښی تر صبا پوری ناست وو، او بیا (کله چی صبا شو) مونږ رسول الله ﷺ ته وردننه شو، مونږ عرض وکړو، یارسول الله ! مونږ د شپی په مسجد کښی راجمع شوی وو، په دی امید چی تاسو به مونږ ته لمونځ راکړیٔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : ما سره دا ویره پیدا شوه چی هسی نه دا لمونځ په تاسو فرض شی)۔

(الطبرانی فی الأوسط : ١٠٨/٤، الصغير للطبرانی : ١٩/١، ابن حبان كما فی الموارد : ٤٠٢/١، ٩٢٠، مجمع الزوائد : ١٧٢/٣، مجمع البحرين فی زوائد المعجمين : ٩٩/٢، ١٦١٤، قيام الليل لابن نصر، ص : ٩٠، صلاة التراويح لابن نصر، ص : ١٨، فتح الباری : ١٠/٣، التلخيص الحبير : ٥١٠/٢، ٥٤٠، نصب الراية : ١١٤/٢، مسند ابو يعلیٰ : ٣٧٦/٢، ابن خزيمة : ١٣٨/٢، عمدة القاری : ١٧٧/٧، وسنده حسن، كما قال الألبانی، وصححه ابن حبان وابن خزيمة، وأشار الحافظ والطبرانی وغيرهم إلى قوته، كما فی الدين الخالص : ٤٠٧/٥).

د عمر فاروق رضی الله عنه عمل :

عن السائب بن يزيد أنه قال : أمر عمر بن الخطاب أبی بن كعبٍ وتميماً الداریَّ أن يقوما

لـلـنـاس بـإحـدى عشـر ركعةً، قال : كان القاری يقرأ بالمئين حتى كنا نعتمد على العصى من طول القيام وما كنا ننصرف إلا فى فروع الفجر.

(رواه مــالك : ۹۸/۱، وفــی طبع آخـر : ۱۳۷/۱، ۲٤۸، وإسـنـــاده صحيح، ورواه البيهقـی : ۲۹٦/۲، وأبـو بـكـر الـنسابوری فی الفوائد : ۱۳٥/۱، والفريابی : ۷٥/۲، وابن نصر فی قيام الليل، ص : ۲۲۰، المصابيح فی صلاة التراويح، للسيوطی، الحاوی للفتاوی : ۳٥۰/۱).

(عـمـر فـاروق رضـی الله عـنـه ابی بـن كعب رضی الله عنه او تميم داری رضی الله عنه دواړو تـه حـكـم كړی وو چی خـلـقو ته يولس ركعته لمونځ وكړی - آته ركعته تراويح او دری وتـر - نـو قـاری بـه سـل سـل آيتونه لوستل، مونږ به دَ ډيری ولاړی په وجه په همسا باندی تكيه كوله، او مونږ به سهار ته نزدی نزدی د لمانځه نه فارغيدو).

دَعـمـر فاروق رضی الله عنه نه په مصنف ابن ابی شيبه كښی هم صحيح روايت راغلی چی هغوئ صحابه كرام رضی الله عنه په آته تراويحو باندی راجمع كړی وو.

وګوره : (فتاوى الدين الخالص : ٥/، التحقيقات فى رد الهفوات، ص :٤۲۲).

دَ آته ركعته تراويحو په باره كښی د علماؤ اقوال :

---

۱ - علامه ابن العربی المالكی رحمه الله فرمائی :

((صحيح خبره داده چی يولس ركعته اوكړی شی (آته ركعته تراويح او دری وتر) ځكه دا د رسول الله ﷺ لمونځ او قيام الليل وو)).

فأما غير ذلك من الأعداد : فلا أصل له ولا حدّ فيه. (عارضة الأحوذی : ۱۹/٤).

(او ددی نـه سيـوا چـی نـور كـوم تعداد راغلی - لكه شل وغيره - نو ددی هيڅ حقيقت نشته، اونه ئی حد نشته).

نو واجبه داده چی دَ رسول الله ﷺ اقتداء اوكړی شی.

۲ - علامه سيوطی رحمه الله فرمائی :

فـقـد سئلتُ مراتٍ : هل صلى النبى ﷺ التراويح وهى العشرين ركعةً المعهودة الآن ؟ وأنا أجيبُ بلا، ولم يثبت أنه ﷺ صلى عشرين ركعة.

۳ - طحطاوی ليكلی:

لان النبی صلی الله علیه وسلم لم یصلها عشرین ، بل ثمانی.
یعنی:نبی صلی الله علیه وسلم شل رکعته (تراویح)لمونځ ندی کړی بلکه هغه اته رکعته کړی.(حاشیۍ الطحطاوی علی الدرالمختار ۲۹۵۱).
٤ – ملا علی قاری رحمه الله لیکلی:
فتحصل من هذا کله ان قیام رمضان سنۍ احدی عشرۍ بالوتر فی جماعۍ فعله علیه الصلاۍ والسلام(مرقاۍ المفاتیح ۳۸۲/۳).
٥۔ علامه ابن نجیم د ابن الهمام خبره نقل کوی لیکی چی :
فاذن یکون المسنون علی اصول مشائخناثمانیة منها، والمستحب اثناعشر(البحرالرائق ٦٧/٢)
٦۔ محمدیوسف بنوری صاحب دیوبندی په معارف السنن کی ٥٤٣/٥ لیکی:
فلابد من تسلیم انه ﷺ صلی التراویح ایضاثمانی رکعات.
٧۔ شاه انورشاه کشمیری رحمه الله په العرف الشذی ١٦٦/١ کښی لیکی:
و اماالنبی ﷺ فصح عنه ثمان رکعات ، و اماعشرون رکعۍ فهوعنه علیه السلام بسند ضعیف وعلی ضعفه اتفاق .
د تفصیل لپاره مجلة الحدیث رقم (٢٩) للشیخ زبیر علی زئی حفظه الله، وګوره.

دَ اقامت په جواب کی (اقامها الله وأدامها) ویل :

سوال : کله چی اقامت کونکی اقامت وائی او حی علی الصلاۍ ته ورسیږی، نو ددی په جواب کښی ((اقامها الله و ادامها)) ویل څۀ حکم لری ؟
جواب : ستاسو د سوال په جواب کښی دوه خبری دی :
١ – دَ حیّ علی الصلاۍ په جواب کښی (اقامها الله وادامها) ویل په هیڅ صحیح حدیث کښی نۀ دی راغلی۔په ابوداود کښی چی کوم روایت راغلی نو هغه روایت ضعیف دی، کما التلخیص الحبیر (٢١١/١) وضعیف أبی داود للألبانی والارواء۔ نو په دی وجه دا روایت دلیل نشی جوړیدی۔
٢ – **دویمه** دا چی راجحه داده چی دَ اقامت جواب نشته۔نو په دی وجه کله چی د اقامت جواب دَ سره په قرآن او حدیث کښی راغلی نۀ ده۔په احادیثو کښی اونۀ چیرته د کوم

صحابي اثر په کښې راغلی۔ نو دَ اقامها الله وادامها سوال جواب ته ضرورت را نغی۔ ځینې علماؤ دَ (إذا سمعتهم المؤذن فقولوا مثل ما يقول) دَ عموم نه د اقامت په جواب استدلال کوی۔ **لیکن** راجح داده چې ددی حدیث نه دَ اقامت په جواب دلیل نیول صحیح نۀ دی، ځکه دَ (المؤذن) نه اذان کونکی مراد دی، اقامت کونکی په کښې داخل نۀ دی۔ په خصوصي عباداتو باندې دَ عموماتو نه استدلال کول صحیح نۀ دی، بلکه د خاص عبادت لپاره به خاص استدلال پیش کولی شی۔ وګوره : (الحق الصريح : ۳۳۸/۲)۔

//////

كتاب النكاح

د بدل د نكاح اقسام

سوال : د بدل نكاح كول څه حكم لري، كه يو كس بل كس ته لور، خور وركړي او هغه كس واده وكړي، څه موده پس بغير د شرط لګولو نه هغه بل كس دده نه لور ياخور په نكاح اخستل غواړو، آيا دا خوبه شغار نوى؟

جواب : اول د شغار شرعى حكم : يعنى د الله او رسول ﷺ حكم دادى چى د بدل نكاح په اسلام كښى نشته، د بدل نكاح كول حرام دى۔رسول الله ﷺ فرمائى :

لا شغار فى الاسلام.

(رواه الترمذى : ۲۱۳/۱، وابن حبان : ۱۸۰/٦، موارد الظمآن ص : ۳۰۹، مشكاة : ۲۵۵/۱).

(په اسلام كښى دَ بدل نكاح نشته)۔

بل حديث كښى دى :

عن ابن عمر رضى الله عنه قال : نهى رسول الله ﷺ عن نكاح الشغار.

(رواه البخارى : ۷٦٦/۲، ومسلم : ٤٥٤/۱، وغيرهما).

(د ابن عمر رضى الله عنه فرمائى : رسول الله ﷺ دَ بدل د نكاح كولو نه منع فرمايلى)۔

دا خو د بدل د نكاح حكم شو۔ليكن دى سره داخبره ياد ساتل هم پكار دى چى :

د بدل نكاح درى قسمه ده :

(۱) **اول قِسم :** يو كس د بل كس د خور لو سره نكاح وكړى او هغه بل دده د خور يا لور سره نكاح وكړى، او مهر په كښى مقرر نه كړى شى۔

(۲) **دويم قِسم :** چى يو كس د بل كس د لور خور سره نكاح وكړى په دى شرط چى

هغه به دده د خور یا لور سره نکاح کوی، او مهر د دواړو مقرر شی۔
(۳) **دریم قسم** : چی یو کس بل کس ته لور، خور ورکړی او هغه کس واده وکړی، څه موده پس بغیر د شرط لګولو نه هغه بل کس ووائی چی ستاسو ډیره ښه کورنۍ ده، مونږ هم ستاسو لور یا خور په نکاح اخستل غواړو، یا جانب مقابل ورته ووائی چی مونږ خپله لور هم ستاسو وروریا واراره ته درکوو۔ نو دا صورت په اتفاق د علماؤ سره جائز دی، ځکه دا دَ شغار په تعریف کښی نه راځی۔ اونه ددی نه الله تعالیٰ او د هغه رسول ﷺ منع فرمایلی۔
دویم صورت دَ راجح قول مطابق حرام او ناروا دی، ځکه دا هم د شغار په تعریف کښی داخل دی۔ بلکه دا چی د معاویه رضی الله عنه نه نقل دی چی دا صورت هم د هغی منع لاندی راځی د کوم نه چی رسول الله ﷺ منع فرمایلی۔
معاویه رضی الله عنه فرمائی :
هذا الشعار الذی نهی رسول الله ﷺ.
(رواه ابوداود : ۱/۲۹۰، وسنده حسن، کما فی إرواءِ الغلیل : ۶/۳۰۶، وصحیح سنن أبی داود : ۲/۳۹۱).
او محققینو علماؤ هم پدی حدیث باندی دلیل نیولی چی دا قسم نکاح (بدل) کول هم حرام دی۔ لکه ابن حزمؒ په المحلی کښی، امام البانیؒ په ارواء الغلیل کښی، ابن ضویانؒ په منار السبیل کښی، ابن بازؒ په هیئه کبار العلماء کښی، ابن قدامهؒ په المغنی کښی ددی تفصیل کړی۔
د تفصیل لپاره د فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله حفظه الله رساله : تحریم نکاح الشغار ((یعنی ناروا نکاح))۔ وګوره۔

ترور او وریره په نکاح کښی یو ځای کول

سوال : آیا ترور او وریره دواړه په نکاح کښی یو ځای کیدای شی ؟ زموږ په ځای کښی یو سړی ښځه په نکاح کړه، څۀ موده پس ئی ددی ښځی وریره هم په نکاح کړه، ددی ددو ښځو په نکاح کښی جَمع کول څۀ حکم لری ؟ د قرآن او سنت په رڼا کښی مدلل جواب

راکړئ۔ وجزاکم الله خیرا۔

جواب : ددی دوو ښځو په نکاح کښی جَمع کول حرام دی، ځکه دوئ دواړه په خپل مینځ کښی ترور او وریره کیږی، او په اسلام کښی د داسی دوو ښځو په نکاح کښی جَمع کول حرام دی، چی په دوئ کښی هره یوه نر فرض کړی او بله ښځه، نو د دوئ خپل مینځ کښی نکاح نۀ کیږی۔ دلته که یوه نر فرض کړی شی او بله ښځه نو دوئ دواړه ترۀ او وریره، یا ورارۀ او ترور جوړیږی، او د دوئ نکاح خو په نص قرآنی سره حرامه ده۔

دارنګه دَ ترور او خورزی هم په نکاح کښی جَمع کول حرام دی، په هغو کښی هم دغه علت دی۔

دی باره کښی **دلائل** دادی:

حدیث کښی راځی :

عن أبی هریرة قال : قال رسول الله ﷺ : لاتجمعوا بین المرأة وعمتها، ولا بین المرأة وخالتها. (متفق علیه).

(تاسو وریره او د هغی ترور، دارنګه خورزۀ او د هغی ترور په نکاح کښی مۀ جَمع کوئ)۔

(صحیح البخاری، نکاح : ٤٨٢٠، صحیح مسلم، نکاح : ١٤٠٨، سنن النسائی النکاح : ٣٢٩٢، سنن ابن ماجه النکاح : ١٩٢٩، مسند أحمد بن حنبل : ٤٨٩/٢، موطأ مالك : ١١٢٩، وابن الجارود : ٦٨٥، والبیهقی : ١٦٦/٧).

وعن أبی هریرة – رضی الله عنه – قال : قال رسول الله ﷺ : لاتنکح المرأة علی عمتها ولا العمة علی ابنة أخیها، ولا المرأة علی خالتها، ولا الخالة علی بنت أختها، لا الکبری علی الصغری، ولا الصغری علی الکبری).

(رسول الله ﷺ فرمائی : یوه ښځه به د هغی په ترور باندی نۀ په نکاح کیږی۔ اونۀ به ترور دَ وریری دپاسه په نکاح اخستلی کیږی، اونۀ به یوه ښځه د خپلی خالی (دَ مور خور) دَ پاسه په نکاح کیږی، اونۀ به خاله دَ خورزی دپاسه په نکاح کولی شی۔ نۀ به مشره دَ کشری دپاسه په نکاح کیږی اونۀ به کشره دَ مشری دپاسه)۔

(رواه الدارمی وقال الألبانی : صحیح، صحیح الجامع).

در مختار (٣٩٠/٢) کښی دی : وحرم الجمع وطأً بملك یمینٍ بین امرأتین أیتهما فرضت ذکرًا لم تحل للأخری أبدًا، لحدیث مسلم : لا تنکح المرأة علی عمتها.

وفی الهداية فصل فی المحرمات : ولا يجمع بين المرأة وعمتها أو خالتها أو ابنة اخيها، ولا علـى ابنة أختها، لقوله عليه الصلاة والسلام : لا تنكح المرأة على عمتها ولاعلى خالتها ولا علـى ابنة أخيها أو ابنة أختها، وهذا مشهور تجوز الزيادة على الكتاب بمثله، ونحوه فی البحر الرائق شرح كنز الدقائق فصل فی المحرمات فی النكاح.

حاصل داچی : د دوئ دواړو په یو وخت کښی په نکاح کښی جمع کول حرام دی۔البته کۀ په دوئ کښی اولنئ طلاقه کړی شی یا مړه شی نو دَ بلی سره ددی نه پس نکاح کول صحیح دی۔

دَ خپل سکه ورور د رضاعی خور یا ورور سره دَ نکاح حکم

سوال : زما نوم حمزه خان دی بل رور می حیات خان دی، دَ حیات خان ښځی زما یوی لور (شازیی) ته تی ورکړو۔اوس سوال دادی چی آیا زما د نورو لوڼو سره د حیات خان دَ زامنو نکاح کیږی کۀ نه ؟ دارنګه زما د زامنو نکاح د حیات خان د لوڼو سره څۀ حکم لری په خپله علاقه کښی می د ډیرو ملایانو نه تپوسونه وکړل هغوئ څوك یو څۀ او څوك بل څۀ راته وائی، دی باره کښی (مولوی رضوان صاحب دَ مهمند ایجنسی) ستاسو په مدرسه حواله راکړه چی دوئ به صحیح او معتمده فتویٰ درکړی۔ مهربانی اوکړئ مونږ ته تفصیلی فتویٰ راکړئ۔

جواب : کۀ صورت د مسئلی داسی وی څرنګه چی په سوالیه کښی ذکر دی، نو په دی صورت کښی د حمزه خان د لور شازیی سره د حیات د ټولو زامنو نکاح نۀ کیږی، ځکه دا دَ دوئ رضاعی خور کیږی، او رضاعی خور خو په قرآن او حدیث دواړو سره حرامه ده۔

الله تعالی فرمائی :﴿ وأمهاتكم اللاتی أرضعنكم وأخواتكم من الرضاعة ﴾.

(او ستاسو رضاعی میندی او ستاسو هغه خویندی کومی چی ستاسو د رضاعت په وجه خویندی جوړی شوی دی، پتاسو حرامی دی)۔

احادیث خو دی باره کښی ډیر زیات دی، یوه دوه دلته ذکر کولی شی:

عـن عائشة أم المؤمنين أن رسول الله ﷺ قال : إن الرضاعة تحرم ما تحرم الولادة. وفی لفظ

لمسلم يحرم من الرضاعة ما يحرم من النسب .

(أخرجه البخارى ٣١٠٥، ومسلم ١٤٤٤، ومالك فى الموطأ باب الرضاع).

(دَ رضاعت په وجه هغه ښځې حرامیږی، کومې چې دَ نسب په وجه حرامې دی)۔

پاتې شوه دَ حمزه خان د نورو لونړو سره دَ حیات خان د ټولو زامنو نکاح، نو دا بالکل کیدی شی، دارنګه دَ حمزه خان د کشرانو او مشرانو زامنو نکاح دَ حیات خان د ټولو لونړو سره جائز ده۔

امام حافظ ابن حجرؒ لیکلی : ولا يتعدى التحريم إلى أحد من قرابة الرضيع، فليست أخته من الرضاعة أختًا لأخيه ولا بنتًا لأبيه إذ لا رضاع بينهم... لأنه ليس بينهم وبين المرضعة ولا زوجها نسب ولا سبب (فتح البارى).

دارنګه امام سرخسیؒ په المبسوط کښې لیکلی :

ولو أرضعت أمه جاريةً لها إخوة وأخوات كان له أن يتزوج أخوات تلك الجارية، لأن التى أرضعتها الأم أخته من الرضاعة، ولا سبب بينه وبين أخواتها، وإذا كان يجوز للرجل أن يتزوج أخت أخيه من النسب فكذلك أخت أخته من الرضاع.

وفى تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق : وتحل أخت أخيه رضاعًا ونسبًا. ومثله فى الدر المختار ٢٣٨/٢ .

همدا خبره د امام ابن المنذرؒ نه هم نقل شوی۔ (الإقناع ٣٠٨/١).

١٤٢٩/٦/٢٣ هـ۔

نکاح په کومو الفاظو سره کیدی شی؟

سوال : آیا د نکاح ترلو لپاره څه خصاص الفاظ شته، او که نه ؟

آیا((کویژدن)) ته نکاح ویلی شو ، په کومه نکاح کښې کۀ خطبه اونۀ شی، نو آیا دا نکاح وشوه؟ ۔

که یو کس په یوه ښځه خطبه وکړی نوبل کس ته تر څو پورې ورباندی نشی کولی؟

جواب : د نکاح په باره کښې دا خبره واورئ چې دا دَ بیعی او شراء پشان یو عقد (تړون) دی، لکه څرنګه چې د اخستلو، خرڅولو او نورو معاملاتو لپاره شریعت څۀ خاص الفاظ

نۀ دی مقرر کړی، دغه شان دَ نکاح دَ انعقاد لپاره ئی هم څۀ خاص الفاظ نۀ دی مقرر کړی۔ د خلکو په عرف کښی چی څۀ او په کوم ډول الفاظو سره نکاح وی، نو هغه نکاح ده۔

قرآن کریم کښی راځی : ﴿ ولا تعزموا عقدة النكاح ﴾.

شیخ عثیمینؒ فرمائی :

أن النكاح عقد بين الزوج والزوجة، فهو كالعقود الأخرى، كعقد البيع وما أشبه ذلك.

دارنګه په الفقه على المذاهب الأربعۍ کښی راځی فإن النكاح عقد من العقود كالبيع والشراءِ.

دَ مذکوره آیت او دَ علماؤ د تصریحاتو نه معلومه شوه چی د نکاح تړلو لپاره څۀ خاص الفاظ په شریعت کښی نۀ دی مقرر، بلکه په هر څنګه الفاظو سره - کوم چی په عرف کښی مشهور وی - نکاح تړل جائز دی۔

نو ستا په عرف کښی کۀ ((کویژدن)) ته نکاح ویل کیږی نو کویژدن هم نکاح ده، زمونږ د عامو پښتنو په عرف کښی ((کویژدن)) نکاح ګڼړلی شی، لهذا په کوم ((کویژدن)) کښی چی ایجاب قبول اوشی، یو بل ته مبارکیانی ورکړل شی نو پدی سره نکاح تمامه شوه اګرکۀ خطبه په کښی نۀ وی ویلی شوی۔ ځکه خطبه ویل مسنون عمل دی۔

پاتی شوه دا خبره چی یو کس په یوه ښځه خطبه(جرګه) وکړی نو بل کس ته تر هغه وخته پوری په دی ښځه خِطبه(جرګه) کول حرام او ناجائز دی، تر څو پوری چی اولنی کس سره دَ هغوئ خبره نۀ وی ختمه شوی۔

دی باره کښی ډیر احادیث راغلی، دلته صرف یو حدیث نقل کوو۔

عن ابن عمر - رضي الله عنهما - قال : نهى النبي ﷺ أن يبيع بعضكم على بيع بعض، ولا يخطب الرجل على خطبة أخيه حتى يترك الخاطب قبله، أو يأذن له الخاطبُ. (رواه البخاری ٤٨٤٨، ومسلم ١٤١٢).

(نبی کریم ﷺ ددی نه منع فرمایلی چی پتاسو کښی څوك دَ خپل ورور په سودا باندی سودا وکړی، اونۀ به یو سړی د خپل ورور دَ نکاح دَ پیغام دپاسه خپل پیغام ورلیږی، تردی چی دغه اولنی پیغام لیږونکی دغه ښځه پریږدی او یا دویم پیغام لیږونکی کس ته اجازت وکړی)۔

دارنګه دا کار د اسلامی خوی او آدابو نه هم خلاف دی، دی سره بد نیتی او حسدونه پیدا کیږی۔ ددی هر څۀ نه علاوه په دی کښی د الله تعالیٰ او د هغۀ د رسول ﷺ د امر مخالفت رائحی۔
رجب المرجب ١٤٢٩ هـ.

د رضاعت موده څومره ده ؟

سوال : یو ماشومی جینئ د دوو کالو او یو میاشتی په عمر زما د مور تی رودلی، آیا ددی جینئ سره زما نکاح کیږی ؟ دا خو به زما رضاعی خور نۀ جوړیږی ؟

جواب : کۀ صورت د مسئلی داسی وی کوم چی په سوالیه کښی دی، یعنی ستا مور یوی ماشومی ته د دوو کلونو نه آخوا تی ورکړی وی، اګرکۀ یو څو ورځی آخوا ولی نۀ وی، نو دا ماشومه ستا د مورلور نۀ ګرځی چی په دی سره ستا رضاعی خور هم نۀ کیږی۔ نو لهذا ددی ماشوم سره ستا نکاح بی د شکه اوشبهی نه یقیناً جائز ده۔ په دی مسئله دلائل دادی :

قرآن کریم کښی الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ والوالدات یرضعن أولادهن حولین کاملین لمن أراد أن یتم الرضاعة ﴾. (البقرة : ٢٣٣).

(او میندی به خپلو بچو ته پوره دوه کاله تی ورکوی، دا دَ هغه چا دپاره چی دَ رضاعت موده پوره کیدل غواړی)۔

(ددی آیت نه معلومه شوه چی دَ رضاعت موده په دوو کالو باندی پوره کیږی، چی په دوو کالو باندی دَ رضاعت موده پوره شوه نو بیا دَ مودی پوره کیدو نه اخوا خو هیڅ هم نۀ وی۔یعنی شرعی حرمت نۀ ثابتیږی۔(البدائع فصل فی صفة الرضاع المحرم).

دارنګه الله تعالیٰ فرمائی :﴿ وفصاله فی عامین ﴾.

(او دَ تی نه بیلول ددی ماشوم په دوه کالو کښی سرته رسیږی)۔

امام بخاریؒ هم په خپل صحیح کښی دیته اشاره کړی۔

دارنګه احادیثو کښی رائحی :

عن ابن عباس موقوفاً ومرفوعًا : لا یحرم من الرضاع إلا ما کان فی الحولین.

(أخرجه الدارقطنی ١٧٤/٤، والديلمی ٢٠٦/٥، ٧٩٦٧، وابن عدی ١٠٣/٧، فی ترجمة الهيثم بن جميل أبو سهل، وعبد الرزاق ٤٦٥/٧، رقم ١٣٩٠٣، والبيهقی ٤٦٢/٧، ١٥٤٤٦، وابن منصور فی سننه، وهو فی كنز العمال ١٥٧٠٥).

(صرف هغه تی رودَل حرمت راولی کوم چی په دوو کالو کښی دننه وی)۔

وعن علی قال : لا يحرم من الرضاع إلا ما كان فی الحولين.

(ابن أبی شيبة ٥٥٠/٣، ١٧٥٢، كنز العمال : ١٥٦٩٥).

وعن عبد الله بن مسعود : لا رضاعة إلا ما كان فی الحولين. (البيهقی ٤٦٢/٧، الموطأ ١١١٥، ابن أبی شيبة، جامع الأصول من أحاديث الرسول لابن الأثير ٩٠٥٠).

(صرف هغه تی رودل معتبر دی کوم په دوو کالو کښی دننه وی)۔

وعن أم سلمة مرفوعًا : لا يحرم من الرضاع إلا ما فتق الأمعاء، وكان قبل الفطام.

(رواه الترمذی وصححه).

(یعنی : صرف هغه تی رودل حرمت راولی چی کولمی سره بیلی کړی او دَ تی پریکولو نه مخکی وی)۔

وقال النبی ﷺ : لا رضاع إلا ما أنشز العظم وأنبت اللحم.

(رواه أبوداود، وفی الصحيح يقول النبی ﷺ : إنما الرضاعة من المجاعة.

(تی صرف هغه معتبر دی چی هډوکی مضبوط کړی او غوښه را اوټوکوی، او دَ بخاری په حدیث کښی دی :

تی رودل هغه دی چی دَ لوږی په وجه وی)۔

امام ترمذیؒ په خپل سنن کښی فرمائی : والعمل على هذا عند أكثر أهل العلم من أصحاب رسول الله ﷺ : أن الرضاع لا يحرم إلا ما كان دون الحولين.

(دَ رسول الله ﷺ په صحابوؓ دَ ګڼو علماؤ په نیز په همدی باندی عمل دی چی صرف هغه تی رودل حرمت راولی کوم چی په دوو کالو کښی دننه وی)۔

امام ابن قدامہؒ په المغنی کښی فرمائی : فالاعتبار بالعامين لا بالفطام، فلو فطم قبل الحولين ثم ارتضع فيهما لحصل التحريم، ولو لم يفطم حتى تجاوز الحولين، ثم ارتضع بعدهما قبل الفطام لم يثبت التحريم.

(اعتبار دوه کالو لره دی نۀ دَ تی نه پریکولو لره، نو کۀ دَ دوو کالو نه مخکښې ئی ماشوم دَ تی نه پریکړو او بیا په دوه کالو کښې دننه ئی تی اورودل، نو په دی سره هم حرمت (رضاعت) ثابتیږی۔ددی برعکس کۀ د دوو کالو تیریدو نه پس ئی هم دَ تی نه پری نۀ کړو، او بیا دَ دوو کالو نه پس دَ تی پریکولو نه مخکی ئی تی اورودلو، نو په دی سره تحریم نۀ ثابتیږی)۔

امام نوویؒ په شرح د صحیح مسلم کښې فرمائی : واختلف العلماء فی هذه المسألة، فقالت عائشة وداود : وتثبت حرمة الرضاع برضاع البالغ كما تثبت برضاع الطفل لهذا الحديث، وقال سائر العلماءِ من الصحابة والتابعين وعلماء الأمصار إلى الآن : لا يثبت إلا بإرضاع من له دون سنتين.

غرض دا چې : دا دَ جمهورو علماؤ قول دی چې صرف په هغه رضاعت سره حرمت ثابتیږی کوم چې په دوو کلونو کښې دننه وی۔ دَ دوو کلونو نه آخوا چې کوم ماشوم دَ چا تی اوروی، نو په دی سره حرمت نۀ ثابتیږی۔ددی رودل او نۀ رودل برابر دی۔

دَ احنافو علماؤ هم مفتیٰ به قول هم دادی چې دَ رضاعت موده دوه کاله ده۔

لکه رد المحتار (۵۵٦/۲) کښې دی : فی وقت مخصوص هو حولان ونصف عنده وحولان فقط عندهما، وهو الأصح، فتح. وبه يفتىٰ كما فی تصحيح القدوری عن العون... أما بعدها فلا يوجب التحريم.

(یعنی : اصح قول دَ صاحبینؒ دی چې صرف په دوو کالو کښې دننه حرمت ثابتیږی، او په همدی باندی فتویٰ ده)۔وګوره : (فتاویٰ حقانیه : ٤۰٦/٤، أحسن الفتاوی ۱۲۸/۵).

کۀ د نکاح په وخت کښې مهر مقرر نۀ شی آیا دا نکاح صحیح ده؟

سوال : کۀ څوك دَ یوی ښځی سره نکاح وکړی، لیکن د نکاح په وخت مهر مقرر نۀ کړی، آیا دا نکاح وشوه ؟

جواب : کوم یو کس چې دَ یوی ښځی سره نکاح کوی، نو په دۀ باندی هغی ته مهر ورکول لازم دی، په نکاح کښې مهر ورکول ضروری دی، لکه علامه باجی رحمه الله دَ

موطأ امام مالكؒ په شرح کښې فرمائی :

لا خلاف أنه لا يجوز نكاح بدون مهر، لغير النبی ﷺ، والأصل فی ذلك قوله تعالی : ﴿وامرأة مؤمنة إن وهبت نفسها للنبی إن أراد النبی أن يستنكحها خالصة لك من دون المؤمنين﴾.

(دی باره کښې دَ علماؤ اتفاق دی چې دَ نبی ﷺ نه علاوه دَ بل چا لپاره دَ مهر نه بغیرنکاح نهٔ کیږی، ددی دلیل دا آیت دی چې الله تعالیٰ فرمائی : اویوه مومنه ښځه کهٔ چیری دا خپل ځان نبی (ﷺ) ته بخشش کوی، کهٔ چیری نبی دا اراده لری چې دی سره نکاح وکړی، خو دا حکم به (ای نبی) دَ مؤمنانو نه علاوه صرف ستا دپاره وی)۔ (فتاوی الشبكة).

دارنګه قرآن کریم کښې دی : ﴿وأحل لكم ما وراء ذلكم أن تبتغوا بأموالكم محصنين غير مسافحين﴾. (النساء).

(او ددی نه علاوه چې کومی ښځی دی نو هغه ستاسو دپاره حلالی دی، په دی شرط چې تاسو هغه په خپلو مالونو سره طلب کوئ په داسی حال کښې چې نکاح کونکی یئ، نهٔ زنا کونکی)۔

په دی آیتِ کریمه کښې دَ (أن تبتغوا بأموالكم) جمله په دی خبره دلیل ده چې په نکاح کښې مهر ورکول ضروری دی۔ البته دا ضروری نهٔ ده چې د نکاح تړلو په وخت کښې دی مقرر کړی شی، کهٔ د نکاح تړلو وخت کښې مهر مقرر نشی نو بیا هم نکاح کیږی۔

امام ابن تیمیه رحمه الله په مجموعیِ الفتاوی کښې لیکی :

دل الكتابُ فی قوله تعالیٰ : ﴿لا جناح عليكم إن طلقتم النساء مالم تمسوهن أو تفرضوا لهن فريضة﴾ والسنة فی حديث بروع بنت واشقٍ وإجماع العلماءِ علی جواز عقد النكاح بدون فرض الصداق.

(یعنی دَ قرآن کریم دا آیت او دَ بروع بنت واشق حدیث او دَ علماؤ اجماع ټول په دی خبره دلیل دی چې د مهر مقررولو نه بغیر هم نکاح صحیح کیږی)۔

په دې صورت کښې د ښځې خومره مهر حق ده

سوال : یو سړی یوه ښځه په نکاح کړه لیکن د دخول (وادۀ) نه مخکې مړ شۀ، آیا اوس به دا ښځه ددۀ نه پوره مهر اخلې اوکۀ نیم ؟ زمونږ په ځای کښې داسې واقعه راغلې وه، د مقامی علماؤ په کښې اختلاف وو، چا ویل پوره مهر به ورکولی شی، او چا ویل نیم مهر به ورکولی شی ؟ په دې هکله مونږ ته تفصیلی فتوىٰ د قرآن او سنت په رڼا کښې ولیکئ. واجرکم علی الله !(نقیب الله ، ننګرهار)

جواب : د داسې ښځې خاوند چې مړ شی نو په دې باندې عدت الوفاۀ تیرول لازم دی، ځکه په مجرد عقد دَ نکاح سره دیته ددې مړ شوی سړی ښځه ویل کیږی، او د قرآن کریم په دې آیت کښې داخله ده چې الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ والذین یتوفون ویذرون أزواجًا یتربصن بأنفسهن أربعة أشهرٍ وعشرًا ﴾. البقرة : ٢٣٤).

(او کوم سړی چې ستاسو نه وفات شی او ښځې پریدی نو دابه په خپلو ځانونو باندې څلور میاشتې او لس ورځې انتظار تیروی).

امام ابن قدامهٔ په المغنی (۲۲۳/۱۱) کښې فرمائی :

أجمع أهل العلم علی أن عدة الحرة المسلمة غیر ذات الحمل من وفاة زوجها أربعة أشهر وعشر، مدخولًا بها أو غیر مدخول بها، سواء کانت کبیرة بالغة أو صغیرة لم تبلغ، وذلك لقوله تعالیٰ : ﴿ والذین یتوفون منکم ویذرون أزواجًا یتربصن بأنفسهن أربعة أشهر وعشرًا ﴾ البقرة : ٢٣٤) وقال النبی ﷺ : لا یحل لامرأة تؤمن بالله والیوم الآخر أن تحد علی میت فوق ثلاثٍ، إلا علی زوج أربعة أشهر وعشرًا. (متفق علیه) انتهی.

ددې آیت او حدیث دَ عموم نه معلومه شوه چې په نفس عقد نکاح سره دا ددۀ ښځه شماریږی، دیته به پوره مهر ورکوی، د میراث او عدت احکام به وربانډې جاری کیږی.

دارنګه په صحیح حدیث کښې راځی :

عن ابن مسعود سئل عن رجل تزوج امرأة فمات عنها ولم یدخل بها ولم یفرض لها، فترددوا إلیه مرارًا فی ذلك، فقال : أقول فیها برأیی فإن یك صوابًا فمن الله وإن یك خطأً فمنی ومن الشیطان، والله ورسوله برئیان منه : لها الصداق کاملًا. وفی لفظٍ : لها صداق مثلها لا وکس

ولا شطط وعليها العدة ولها الميراث. فقام معقل بن يسار الأشجعی، فقال : سمعت رسول الله ﷺ قضی به فی بروع بنت واشق، ففرح عبد الله بذلك فرحًا شديدًا. وفی روايةٍ : فقام رجال من أشجع فقالوا : نشهد أن رسول الله ﷺ قضیٰ به فی بروع بنت واشق.

(رواه أبوداود ٢١١٤، والترمذی : ١١٤٥، والنسائی : ٣٣٥٥، وابن ماجه : ١٨٩١، وصححه الألبانی فی إرواء الغليل : ١٩٣٩).

(یعنی ابن مسعود – رضی الله عنه – نه دَ یوی ښځی په باره کښی تپوس اوشو چی هغی سره یو سړی نکاح کړی او دَ جماع نه مخکښی تری مړ شو، او دَ هغی دپاره ئی مهر هم نۀ وو مقرر کړی، نو ابن مسعود رضی الله عنه وفرمایل : زۀ په دی کښی په خپله رائی سره خبره کوم، کۀ چیری حق وی نو د الله له طرفه ده، او کۀ خطاء وی نو زما او دَ شیطان له طرفه ده، الله او رسول به ددی نه بیزاره وی۔ هغه دا چی دی ښځی ته به پوره مهر ورکولی شی چی نۀ به په کښی زیاتی وی اونۀ کمی او په دی باندی به عدت وی او دی ته به میراث هم وی۔ دی کښی معقل بن یسار اشجعی رضی الله پاڅیدۀ، وی ویل ما دَ رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چی هغۀ دا قِسم فیصله دَ بروع بنت واشق په باره کښی هم کړی وه، نو ابن مسعود رضی الله عنه په دی باندی ډیر زیات خوشحاله شو۔

بل روایت کښی دی چی دَ اشجع قبیلی څۀ سړی پاڅیدل، وی ویل مونږ ګواهی کوو چی رسول الله ﷺ همدا فیصله دَ بروع بنت واشق په باره کښی هم کړی وه)۔

په دی کښی هره متوفیٰ عنها زوجها داخله ده، صرف هغه متوفیٰ عنها زوجها ددی نه خارجه ده کومه چی حامله وی، ځکه د هغی عدت په وضع دَ حمل سره دی، لکه قرآن کریم کښی رائحی : ﴿ وأولات الأحمال أجلهن أن يضعن حملهن ﴾.

(تفسير ابن كثير : ٥٦٩/١).

په فتاوی اللجنۀ الدائمۀ کښی رائحی :

ج : المرأة المتوفیٰ عنها بعد العقد عليها وقبل الدخول بها فی حكم الزوجات، فلها المهر كاملاً، ولها الميراث وعليها العدة، لقضاءِ النبی ﷺ بذلك، فعن ابن مسعود رضی الله عنه.. وبالله التوفيق.

امام ابن تیمیه رحمه الله لیکی : و تستحق مهر المثل إذا دخل بها بإجماعهم وإذا مات عند

فقهاءِ الحديث وأهل الكوفة المتبعين لحديث بروع بنت واشقٍ وهو أحد قولى الشافعى.
کۀ څوك ووائی : چی په طلاق قبل الجماع کښی ښځه د نيم مهر حق لری نو دلته هم پکار ده چی دَ نيم مهر حق ولری ؟ ددی جواب علامه شوکانیؒ په نيل الاوطار کښی داسی کوی : الكتاب والسنة إنما نفيا مهر المطلقة قبل المس والفرض، لا مهر من مات عنها زوجها، وأحكام الموت غير أحكام الطلاق.

لعان په څه سره راځی ،دلعان الفاظ او احکام

سوال : يو سړی د ځينو قرينو او علتونو په وجه خپلی ښځی ته ووائی چی : زما ستا په هکله شك دی چی تا خو به بدکاری نۀ وی کړی ؟ ښځه ئی ورته وائی : ما نۀ ده کړی۔ خاوند ئی ورته قسَم ورکړی، ښځه قسم ورته وکړی، آيا په دی سره خو به لعان نۀ راځی ؟
ما ددی خبری تذکره يو داسی مولوی صاحب ته وکړه چی هغه ځان ته ډير څۀ غټ عالم وائی نو هغۀ راته ووٍيل چی په دی الفاظو (يو طرفه) لعان راغلی۔ زۀ ئی ډيروار خطاء کړم۔ دی باره کښی تاسو راته د قرآن او حديث په رڼا کښی تفصيلاً حکم بيان کړئ۔ چی آيا دا لعان دی اوکه نۀ ؟

جواب : په دی هکله اول دا خبره واورئ چی د څۀ قرينی او دليل په بناء په خپله ښځه شك کول او د هغی نه تپوس کول دی، مثلاً : دا ښځه بی ځايه او بی پردی ګرځی، د پردو خلکو سره پټی خبری اتری وکړی، او داسی نور۔
دويم : دا چی بغير د څۀ دليل نه هسی د هغی په باره کښی شك او وسوسه کول دی۔
حديث کښی راغلی، غيرت دوه قِسمه دی۔
عن جابر بن عتيك : أن نبى ﷺ كان يقول : من الغيرة ما يحب الله، و منها ما يبغض الله : فأما التى يحبها الله، فالغيرة فى الرِّيبة، وأما الغيرة فى التى يبغضها الله، فالغيرة فى غير رِيْبَةٍ.
(أخرجه أحمد : ٤٤٦/٥، رقم : وأبوداود : ٥٠/٣، رقم : ٢٦٥٩، والنسائى : ٧٨/٥، رقم : ٢٥٥٨، وابن حبان : ٥٣٠/١، رقم : ٢٩٥، والبغوى : ٤٥٦/١، رقم : ٤٩٦، وابن قانع : ١٤٠/١، والطبرانى : ١٨٩/٢، رقم : ١٧٧٢، والبيهقى : ١٥٦/٩، رقم : ١٨٢٥٩، وأخرجه أيضًا : ابن أبى عاصم فى الآحاد والمثانى : ١٥٨/٤، رقم : ٢١٤٢).

علامه سندی لیکی : أی فی مظنة الفساد أی إذا ظهرت أمارات الفساد فی محل فالقیام بمقتضی الغیرة محمود، وأما إذا قام بدون ظهور شئ فالقیام به مذموم لما فیه من اتهام ا لمسلمین بالسوءِ من غیر وجه.

که دَیو سړی په خپله ښځه باندی د څهٔ قرینی په بناء د زنا شك وی، نو په دی باندی بالکل غیرت کولی شی، هغی ته ادب ورکولی شی۔ د هغی نه د خبری صفائی او د خپل ځان تسلی غوښتلی شی۔ هغی ته ویلی شی که تا دا کار (بدکاری) کړی وی، نو ماته ووایه۔

د شك په صورت کښی خاوند دا خبری بلکل خپلی ښځی ته کولی شی۔ تردی چی داسی غیرت د الله تعالیٰ خوښ دی۔

په دی صورت کښی چی د میړه د خپلی ښځی نه صرف تسلی او د خبری صفائی غرض وی، لعان نهٔ راځی۔ اونهٔ ښځه د لعان او حدِ قذف مطالبه کولی شی۔

د اشتباه په صورت کښی چی څوك د لعان خبره را اوباسی نو هغوئ په خپله اشتباه کړی۔

یو حدیث کښی راځی چی عائشی رضی الله عنها ته رسول الله ﷺ وفرمایل :

أما بعد : یا عائشة إنه بلغنی عنك کذا و کذا فإن کنت بریئة فسیبرئك الله وإن کنت ألممتِ بذنب، فاستغفری الله وتوبی إلیه فإن العبد إذا اعترف ثم تاب تاب الله علیه. (صحیح البخاری).

حافظ ابن حجرؒ ددی په شرح کښی فرمائی :

فلعل الکنایة من لفظ النبی ﷺ وو قع فی روایة ابن إسحاق فقال : (یا عائشة إنه قد کان ما بلغك من قول الناس فاتق الله وإن کنت قارفتِ فتوبی قوله فإن کنت بر ئیة فسیبرئك الله)، أی بوحی ینزله بذلك قرآنا أو غیره. قوله : (وإن کنت ألممت بذنب) أی وقع منك علی خلاف العادة. قوله : (فاستغفر الله وتوبی إلیه). فی روایة معمر (ثم توبی إلیه). وفی روایة أبی أویس : (إنما أنت من بنات آدم إن کنت أخطأت فتوبی). قوله : (فإن العبد إذا اعترف بذنبه ثم تاب إلی الله تاب الله علیه) قال الداودی : أمرها بالاعتراف ولم یندبها إلی الکتمان المفرق بین أزواج النبی ﷺ وغیرهن فیجب علی أزواجه الاعتراف بما یقع منهن ولا یکتمه إیاه لأنه لا

يحل لنبى إمساك من يقع منها ذلك بخلاف نساء الناس فإنهن تدين إلى الستر وتعقبه عياض بأنه ليس فى الحديث ما يدل على ذلك، ولا فيه أنه أمرها بالاعتراف، وإنما أمرها أن تستغفر الله وتتوب إليه، أى فيما بينها وبين ربها فليس صريحا فى الأمر لها بأن تعترف عند الناس بذلك، وسياق جواب عائشة يشعر بما قاله الداودى لكن المعترف عنده ليس إطلاقه فليتأمل ويؤيد ما قاله عياض أن فى رواية حاطب قالت : فقال أبى : إن كنت صنعت شيئًا فاستغفرى الله وإلا فأخبرى رسول الله ﷺ بعذرك.

څوك چې دا خبره کوي چې که خاوند خپلې ښځې ته د ځينو قرائنو په وجه صرف د زړهٔ د صفائي په خاطر يا د مسئلې معلومولو په وجه داسې ووېل چې ته ماته ووايه چې تا خو به زنا نهٔ وي کړې ؟ زما ستا په هکله شك دی۔

نو آيا هغوئ به په دې صورت کښې هم لعان ګڼي ؟ استغفر الله ! داسې خو د الله رسول ﷺ هم د خپلې بي بي نه د خبرې د صفائي مطالبه کړې۔

البته دې باره کښې هسې بغير د څهٔ قرينې نه د خپلې ښځې يا بل مسلمان په باره کښې د ناروا کار وسوسې، شکونه او بدګمانئ کول غلط کار دی۔ حديث کښې راځي :

إنك إذا اتبعت الريبة فى الناس أفسدتهم فإنى لا أتبع الريبة فيهم فأفسدهم.

(أخرجه البخارى فى الأدب المفرد وقال الألبانى : سنده صحيح).

صرف په ګمان او بغير د قوي ثبوت نه په چا باندې د زنا تهمت لګول ډېر غلط کار دی، اسلامي شريعت د زنا د ثبوت دپاره يا په خپله د زنا کونکي انسان اقرار او يا څلور داسې ګواهان شرط کړې چې هغوئ د (کالميل فى المکحلى) پشان ګواهي ورکړي۔

ګڼې هسې په ګمان، شك او تخمين سره په پاکدامن انسان باندې د زنا تهمت لګول په (سبع موبقات) کښې داخل دی۔ حديث کښې راځي :

عن أبى هريرة – رضى الله عنه – قال : قال رسول الله ﷺ : اجتنبوا السبع الموبقات. قيل : وما هى يا رسول الله ؟ قال : الشرك بالله، والسحر، وقتل النفس التى حرم الله إلا بالحق، وأكل الربا، وأكل مال اليتيم، والتولى يوم الزحف، وقذف المحصنات الغافلات.

پاتې شوه ستاسو په مسئله کښې چې خاوند خپلې ښځې ته ويلې دي چې زهٔ په تا شك لرم چې کېدې شي تا زنا کړې وي، ددهٔ ښځې ورته قرآن قسَم کړې، سرې ورباندې تسلي او

قناعت وکړی، نو دا مسئله بیل حکم لری۔
اوکه هغه ورته ویلی وی چی تا یقینا زنا کړی، او خاوند په خپله خبره کلك ولاړ وی، د ښځی انکار او خبرو ته هیڅ اعتبار نهٔ ورکوی، نو دوئ به لعان کوی۔
د لعان حکم خو الله تعالیٰ خپله په قرآن کریم کښی بیان کړی۔لکه فرمائی :
﴿ والذین یرمون أزواجهم..... [النور].

په لعان کښی لاندینی شرطونه دی :

د خاوند له طرفه د زنا تهمت، د هغهٔ قسمونه، د ښځی انکار، د هغی قسَمونه۔
که چیری خاوند د خپلی خبری نه انکار وکړی، نو په دی صورت کښی لعان نهٔ راځی۔ او یا ښځه اقرار وکړی، نو بیا هم لعان نهٔ راځی۔ ځکه لعان خو هغه وخت راځی چی سړی په خپله خبره کلك ولاړ وی، او ښځه په خپله خبره کلکه ولاړه وی۔
دارنګه لعان په هغه صورت کښی راځی چی خاوند خپلی ښځی ته صفا ووائی چی تا زنا کړی، او یا ووائی : دا بچی زما نهٔ دی، که چیری شك ښکاره کړی، یا ورته په تعریض(اشاراتو ، کنایی) سره خبره وکړی، نو په دی صورت کښی هم لعان نهٔ راځی۔
امام بخاریؒ په خپل صحیح کښی باب راوړی : باب إذا عرّض بنفی الولد.
حافظ ابن حجرؒ ددی په شرح کښی لیکی : دل ذلك علی أنه لا حدّ فی التعریض.
دارنګه **بل شرط** په لِعان کښی دادی چی خاوند به په دی خبره کلك ولاړ وی، تردی پوری چی هغه به په خپله خبره سخت سخت قسَمونه کوی، او قسَم لا څهٔ کوی چی هغه به وائی که زهٔ دروغژن یم، نو په ما دی لعنت وی، لکه ددی تفصیل په خپله قرآن کریم کښی راغلی۔

لِعان څهٔ ته وائی ؟

دَ لعان تعریف په الموسوعۃ الفقهیۃ کښی داسی راځی :
واللعان فی الشرع لا یکون إلا أمام القاضی، وهو قول الزوج لامرأته مشیرًا إلیها : أشهد بالله إنی لمن الصادقین فیما رمیت به زوجتی هذه من الزنا. وإذا کانت حاملاً أو ولدت ولدًا

واعتقد أنه ليس منه زاد : وأن هذا الحمل أو الولد ليس منى، ويكرر ذلك كله أربع مرات، ويزيد بعد الرابعة : وعليه لعنة الله إن كان من الكاذبين.

ولعان المرأة زوجها إذا لم تصدقه أن تقول بعد لعانه إياها : أشهد بالله إن زوجى هذا لمن الكاذبين فيما رمانى به من الزنا، وتزيد لإثبات نسبة الحمل أو الولد : وأن هذا الولد منه وتكرر ذلك كله أربع مرات، وتزيد بعد الرابعة : وعليها غضب الله إن كان من الصادقين.

ولعان الحاكم بين الزوجين هو : أن يحضرهما، و يأمر الزوج بملاعنة زوجته إن كان مصرًا على قذفها، وليس معه أربعة شهود عدول، ولم تعترف الزوجة بما قاله، ثم يأمر الزوجة، بعد انتهاءِ الزوج من الملاعنة أن تلاعنه، فإذا لاعنته فُرِّق بينهما.

کله چې مذکوره کارونه د قاضي په حضور کښې اوشي، نو دا لعان شو۔ په دې وجه به د لعان احکام (يعنى التفريق بين الزوجين) جاري کيږي۔

که دا کارونه د خاوند او ښځې ترمينځ اونشي، نو ترهغو پورې لعان نشته۔

ولا يثبت شئ من أحكام اللعان إلا إذا تمت الكلمات الخمس. (الموسوعة).

په الموسوعۀ الفقهيۀ کښې راځي :

ما يثبت به اللعان عند القاضى : يثبت اللعان عند القاضى بواحد من الأمرين : الأمر الأول : الإقرار بالقذف من الزوج أمام القاضى، فإذا قذف الرجل زوجته بالزنا فرفعت الزوجة الأمر إلى القاضى، وطالبت باللعان بينها وبين زوجها، وأقر الزوج أنه رماها بالزنا حكم القاضى بإجراءِ اللعان بينهما، متى توافرت شرائط وجوبه.

دکتور عبد الله الفقيه حفظه الله نه په دې هکله تپوس شوی چې :

سؤال : رجل قذف زوجته بالزنا، ثم طلقها ثم طلب منها أن تحلف اليمين على برائتها فأقسمت على ذلك، وذهبت إلى بيت أبيها، فى اليوم التالى ندم الرجل على ما بدر منه، فطلب من أهلها إرجاعها إليه، فذهبوا إلى إمام مسجد قريتهم وطلبوا منه الفتوى فى هذا الموضوع، فأفتى بإرجاع الزوجة إلى زوجها فرجعت. هل هذه الرجعة صحيحة ؟ أم أن الزوجة تحرم على زوجتها لأنه قذلها بالزنا ؟ مع العلم بأن الملاعنة لم تتم بين الزوجين ولم يعرض الموضوع على قاض. أفتونا أثابكم الله !

الفتوىٰ : الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه، أما بعد :

فقذف المسلم كبيرة من كبائر الذنوب، قال ﷺ: اجتنبوا السبع الموبقات: الشرك بالله، إلى قوله: وقذف المحصنات الغافلات المؤمنات (رواه مسلم).

إلا أنه لا يحرم على الزوج مراجعة زوجته التي قام بقذفها، وليس القذف محرمًا للمرأة على زوجها مالم يقع لعان بينهما، وعليه فهذه الرجعة صحيحة.

که د خاوند او ښځې ترمينځه داسې خبره راشي چې خاوند په ښځه باندې په رشتيا سره تهمت ولګوي، هسې شکې خبره نۀ کوي، نو ښځې ته دا اختيار شته چې هغه قاضي او حکومت ته لاړه شي، او دا ووائي چې په ما باندې د خاوند له طرفه د زنا تور لګيدلې، زۀ ئې نۀ منم، ما سره دې لعان وکړې.

قاضي به خاوند را اوغواړي که خاوند په خپله ولاړ وو، نو اول به ګواهان ترينه اوغوښتل شي، که د هغۀ سره ګواهان نۀ وو، نو ښځې ته به وويل شي چې په رشتيا تا زنا کړيده؟ که هغه انکار وکړي نو قاضي به دوئ ته په مذکوره طريقې سره د لعان حکم وکړي۔

که خاوند شکې خبره کوي۔ نو هغۀ ته به اول وويل شي چې دا خبرې مۀ کوه۔ که هغه بيا هم نه چُپ کيږي، يا په خپله خبره کلك ولاړ وي، نو ښځه به ورته د لعان دعوت ورکړي۔

او که چيرې خاوند هسې شکې خبره کوله (لکه ستاسو په مسئله کښې هم صرف شك شوې) نو په دې صورت کښې نۀ لعان شته، او نۀ حدِ قذف۔

يشترط أن يكون القذف بصريح الزنا، أو بما يجرى مجرى الصريح. (الفقه الإسلامي).

البته دۀ ته به نصيحت او وعظ وکړې شي چې دا سې خبرې مۀ کوه۔

که چيرې يو سړي په خپله ښځه په ښکاره د زنا کولو تهمت ولګوي او بيا د خپل ځان تکذيب وکړي، نو په دې صورت کښې خو نکاح نۀ ماتيږي، البته دۀ ته به اسلامي حکومت (حدِ قذف) ورکړي۔

حديث کښې راځي: نبي کريم ﷺ هلال بن اميه رضي الله عنه ته وفرمايل: کله چې هغۀ په خپله ښځه باندې د زنا تهمت ولګول چې:

البينة او حدّ في ظهرك.

(أخرجه أبوداود: ۲/۲۷۶، رقم ۲۲۵۴، والترمذي: ۵/۳۳۱، رقم: ۳۱۷۹، ۱/۶۶۸، رقم: ۲۰۶۷، والحاكم:

٤١٢/٤، رقم: ٨١١١، وقال: صحيح الإسناد وأخرجه أيضاً: البخارى: ٩٤٩/٢، رقم: ٢٥٢٦، الدارقطنى: ٢٧٧/٣، والبيهقى: ٣٩٣/٧، رقم: ١٥٠٦٨).

په الفقه الاسلامی کښې راځی:

وإن أكـذب الملاعن نفسه قبل لعان المرأة، حد حد القذف، وبقيت الزوجة فتبقى له زوجة.

[القوانين الفقهية لمحمد بن أحمد بن جزى الكلبى الغرناطى، الاستذكار لابن عبد البر].

کله چې خاوند د خپل ځان تکذیب وکړی، په دې صورت کښې لعان نشی کیدی۔

تكذيب الزوج نفسه أو تصديقها الزوج فى القذف: لو أكذب الزوج نفسه سقط اللعان، لتعذر الإتيان به، إذ من المحال أن يؤمر أن يشهد بالله إنه لمن الصادقين، وهو يقول: إنه كاذب، ويجب عليه حد القذف، لأن القذف صحيح. (الفقه الإسلامى).

د مسئلې حاصل داشو چې:

ستا سو په مسئله کښې که سړی خپلې ښځې ته د شك په وجه ویلی وی چې زهٔ په تا شك لرم چې کیدی شی تا زنا کړی وی، ددهٔ ښځې ورته په قرآن قسَم کړی وی، سړی وریاندې تسلی او قناعت کړی وی، نو په دې صورت کښې په ښځه او خاوند هیڅ هم نشته۔ یعنی نه لعان شته او نهٔ حدِ قذف۔ نهٔ ددې خبرو او کار نه توبه، نهٔ د ښځې او بل چا نه معافی، ځکه د ځینو علاماتو په وجه ددهٔ شك وو خپل شك ئې لرې کړو۔

اوکه په ښځه ځهٔ د بدکارونو شك نهٔ وی، بلکه نیکه صالحه وی نو بیا هم په خاوند هیڅ نشته۔ البته بل څوك به ددې ښځې خاوند ته نصیحت وکړی، چې ستا ښځه ان شاء الله پاکه ده، په راتلونکی وخت کښې داسې خبرې ورته مهٔ کوه۔

اوکه خاوند په رشتیا په خپله ښځه د زنا تهمت لګوی، هغې ته وائی: تا زنا کړی، نو یا به هغه په دې خبره ګواهان راولی، یابه ښځه اقرار وکړی، که ددهٔ سره نهٔ ګواهان وو، اونهٔ ښځې اقرار کول، او سړی بیا هم د خپلې خبرې نه نهٔ آوری، نو سړی یا ښځه به قاضی ته ځی، د هغویٔ په حضور کښې به اقرار کوی۔

د لعان حق او مطالبه خاوند یا ښځه دواړه کولی شی، که خاوند اوغواړی ښځه به خامخا یا اقرار کوی یا لعان، اوکه ښځه اوغواړی نو خاوند به ئی یا ګواهان راولی، یا به لعان کوی۔

که خاوند ښځی ته وویل چی تا زنا کړی، یا ئی ښکاره په زنا ولیده (والعیاذ بالله) او ښځی خاوند یو بل ته څۀ اونۀ ویل. نو د دوئ په نکاح هیڅ تاثیر نۀ پریوځی.

البته حدِ قذف د ښځی حق دی، که خاوند په خپله ښځه ښکاره (هسی شك نۀ بلکه) د زنا تهمت ولګوی ددۀ سره ګواهان نۀ وو، او لعان هم نۀ کوی، نو اسلام ښځی ته حق ورکوی چی د (حد قذف) مطالبه وکړی.

لیکن په دی کښی هم هغی ته پکار دی چی خبره پټه کړی، د حد قذف مطالبه اونۀ کړی.

لأنه حق الآدمی كالدين. (الفقه الإسلامی).

که چیری خاوند د خپلی خبری نه واوړی نو هغی له پکار دی چی هغه ته معافی اوکړی، او قاضی ته فیصله پورته نۀ کړی.

په الفقه الاسلامی کښی راځی :

الأفضل للمقذوف أن يترك الخصومة، لأن فيها إشاعة الفاحشة، وهو مندوب إلى تركها، وكذا العفو عن الخصومة أفضل، لقوله تعالى: ﴿ وأن تعفو أقرب للتقوى ولا تنسوا الفضل بينكم ﴾. (البقرة : ٢٣٧). ويستحسن للقاضی إذا رفع الأمر إليه أن يرغب المدعی بترك الدعوی. [البدائع، المرجع السابق : ص٥٢).

//////

کتاب الطلاق

د طلاق تاریخ او آداب

سوال: د طلاق متعلق بعضی آداب او په اسلام او نورو مذهبونو کښی د طلاق ځینی معلومات راته بیان کړئ

جواب: الحمد لله والصلاة علی رسول الله ، امابعد:

بعضی وخت د انسان د فطری کمزورئ یا د معاش د تنګوالی په وجه د طبیعت او عاداتو د بدلون په وجه دَ ښځی او خاوند په مینځ کښی تعلقات خراب شی، د اخلاص جذبه ختمه شی، د دوئ په مینځ کښی د محبت په ځای نفرت، د صله رحمئ او همدردئ په ځای بُغض او عداوت، د وفا په ځای جفا، د خوش فهمئ په ځای غلط فهمئ پیدا شی، حالات د ښهٔ کیدو په ځای په خرابیدو شی، دوئ ته نکاح د رحمت په ځای زحمت شی، سړی او ښځی دواړو ته خپل خیر په جدائی کښی ښکاری. نو په دی حالاتو کښی هم فوراً په طلاق ورکولو امر نهٔ دی شوی، **بلکه** په اسلام کښی حرص شوی چی د دوئ ترمینځه نکاح باقی پاتی شی، د دوئ کورنی نظام خراب نشی، نو ځکه ئی په داسی حالت کښی هم سړی ته ادب بیان کړی، هغهٔ ته ئی د صبر او تحمل نه د کار اخستلو وصیت کړی چی د ښځی د بدو صفتونو او خویونو په ځای دی د هغی ښهٔ خویونه رایاد کړی.

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وعاشروهن بالمعروف فإن كرهتموهن فعسى أن تكرهوا شيئًا ويجعل الله فيه خيرًا كثيرًا ﴾. النساء : ١٩.

(تاسو د خپلو ښځو سره ښهٔ ژوند تیروئ، که ستاسو هغوئ خوښی نهٔ وی، نو کیدی شی چی یو شی ستاسو خوښ نهٔ وی او الله تعالیٰ په هغی کښی ډیر خیر اچولی وی).

رسول اکرم ﷺ فرمائی : لا يفرك مؤمن مؤمنةً، إن كره منها خلقاً رضي منها آخرَ، أو قال :

غيره. (رواه مسلم: ٢٦٧٢، وأحمد: ٨٠١٣، وأبو يعلى: ٦٢٨٧، وأبو عوانة: ٣٦٤٥).

(هيڅ يو مؤمن دى مؤمنى ښځى سره بغض نۀ لرى، كۀ د هغى يو خوئ ئى خوښ نۀ وى نو بل به ئى خوښ شى)۔

كه سړى كښى صبر نۀ وى او يا د ښځى له طرفه نافرمانى او جنجال راوستل ډير كيږى، نو بيائى هم سړى ته په تدريج سره ددى مشكل حل كولو دپاره څه ((آداب او تدبيرونه)) ښودلى دى، لكه د هغى تفصيل په دى ډول دى:

١ - كۀ ښځه نافرمانه وى يا داسى كارونه كوى چى دَ خاوند نۀ وى نو په اول قدم كښى هغى ته په ډيره نرمه لهجه كښى نصيحت كول پكار دى، كۀ په دى سره كار ونشى،نو په دويم قدم كښى دى د هغى د تنبيه او زورنى لپاره په كور كښى د هغى نه خپله بستره جداكړى، كۀ په دى سره هم ښځه سمى لارى ته رانغله، نو په دريم قدم كښى د هغى د وهلو اجازت هم راغلى، البته داسى وهل به نۀ وركوى چى د هغى كوم اندام مات يا نقصانى شى۔

قرآن كريم كښى راځى: ﴿ واللاتى تخافون نشوزهن فعظوهن واهجروهن فى المضاجع واضربوهن فإن اطعنكم فلا تبغوا عليهن سبيلا إن الله كان عليا كبيرًا ﴾. النساء: ٣٤.

(او د كومو ښځو د بد اخلاقئ او نافرمانئ نه چى تاسو يريږئ نو نصيحت ورته وكړئ او هغوئ په بسترو كښى جدا كړئ او هغوئ ووهئ، نو كۀ چيرى هغوئ ستاسو تابعدارى شروع كړه، نو هغوئ ته په بهانو او حيلو (د طلاق) لاره مۀ لټوئ۔بيشكه الله ډير اوچت او غټ دى)۔

دغه شان كۀ ښځه د ميړه نه ډيره تنګه وى، بد اخلاقى د ميړه له طرفه وى، نو هغى ته پكار دى چى سمدس د خلع مطالبه اونۀ كړى، بلكه په صبر، تحمل او حكمت سره دى د خاوند د بد اخلاقئ او بد چلنئ اسباب معلوم كړى، او بيا دى حتى الوسع د هغى د لرى كولو او د خپل خاوند د زړۀ خپلولو كوشش وكړى، د خپل كور د سلامتيا او جوړوالى په خاطر كه د ښځى په حقونو كښى څه كمى راشى نو ښځى دى ددى نه هم مخ نۀ اړوى۔

الله تعالىٰ فرمائى: ﴿ وإن امرأة خافت من بعلها نشوزًا أو اعراضاً فلا جناح عليهما أن يصلحا بينهما صلحا والصلح خير واحضرت الأنفس الشح وإن تحسنوا وتتقوا فإن الله كان

بما تعملون خبيرًا ﴾. النساء : ۱۲۸ .
(کۀ یوه ښځه د خپل خاوند د بد اخلاقئ یا بی پرواهئ نه ویریدله، نو په دی باندی څۀ ګناه نشته چی په خپلو کښی (په څۀ خبره) صلح وکړی، او صلح خو غوره ده، او بخل او حرض خو په هر نفس کښی موجود دی، اوکۀ تاسو احسان او تقوی اختیاروئ نو بیشکه چی الله تعالیٰ په هغه څۀ ښۀ خبر دی چی تاسو ئی کوئ)۔
کۀ دَ ښځی او خاوند تر مینځه د اختلافاتو لری کولو دا ټول تدبیرونه اختیار کړی شی او بیا هم د دوئ په مینځ کښی د ښځی او خاوند پشان ژوند تیرول، محبت او پیرزونه رانشی، نو بیا هم د طلاق ورکولو نه مخکی په اسلامی دین کښی د حل یوه بله لاره ښودلی شوی، هغه دا چی د ښځی او خاوند خپل خپلوانو ته د روغی جوړی راوستلو حکم شوی، اسلام د هغوئ په خپلو خپلوانو باندی غږ کړی چی هغوئ دی د ښځی او خاوند په لانجه کښی مداخله وکړی، او ددی لانجی لری کولو لپاره دی یوه جرګه وټاکی، د سړی د کورنئ نه دی یو پوهه، دینداره او منصف کس مقرر کړی، دغه شان د ښځی له طرفه دی هم داسی کس منتخب کړی شی، او هغوئ دواړه دی په شریکه د دوئ په مینځ کښی د روغی جوړی کوشش وکړی، لکه قرآن کریم کښی راځی :
﴿ وإن خفتم شقاف بينهما فابعثوا حكمًا من اهله وحكما من اهلها إن يريدا اصلاحا يوفق الله بينهما إن الله كان عليما خبيرًا ﴾.
(که چیری تاسو سره ویره وه دَ مخالفت د هغوئ دواړو – ښځی او خاوند – په مینځ کښی نو تاسو مقرر کړئ یو منصف له خپلوانو د هغه نه او یو منصف د خپلوانو د هغی نه، که چیری هغوئ دواړه اصلاح کول غواړی نو الله تعالی به د دوئ په مینځ کښی موافقت راولی، یقینا اَلله تعالیٰ پوهه او خبردار دی)۔
کۀ په دی هم کار ونشی نو معلومیږی چی د دوئ په مینځ کښی نور پاتی کیدل د دوئ لپاره عذاب دی، او د دوئ فلاح او کامیابی په دی کښی ده چی دَ یو بل نه جدا شی، نو په دی وجه الله تعالیٰ سړی ته اختیار ورکړی چی خپلی ښځی ته طلاق ورکړی او د ځان لپاره بل رفیق حیات اختیار کړی، او هغه به ئی بل ځای ځانته پیدا کړی۔
لیکن ددی سره ئی د طلاق ورکولو په وخت کښی هم آداب بیان کړی چی دا آداب به

تفصیلاً ذکر کړی شی، لیکن ددی نه وړاندی یوی بلی خبری ته هم ستاسو پام راړوم، هغه داچی : زمونږ په دین کښی د نکاح او طلاق مسائل ډیر د اهمیت وړ دی، د نکاح او طلاقو مسائلو ته په قرآن کریم کښی حدود الله ویلی شوی، نکاح ته ئی میثاقاً غلیظاً (مضبوطه وعده) ویلی۔

دَ اسلام د راتګ نه وړاندی به په ښځو باندی قسما قسم ظلمونه کیدل، د ښځو سره به په هره معامله کښی د ډیر زیاتی، جبر او تشدد نه کار اخستل کیدهٔ، په طلاقو کښی هم د دوئ د ښځو سره په همدی طریقه چلن کیدهٔ، د طلاقو ورکولو نه پس خو هغوئ ته حقوق ورکول څهٔ کوی! د هغوئ نه به ئی د کور هر څهٔ سامان وغیره واخستهٔ او هم داسی به ئی شړلی، تردی چی په بعضی وختونو کښی به ئی د بدن جامی هم تری وایستلی او هغوئ به ئی بربنډی د کور نه بهر کړی۔

د طلاقو اندازه او تعداد نهٔ وو، څومره او کله به چی سړی غوښتل نو ورکول به ئی۔[د تفصیل لپاره وګوره : المفصل فی تاریخ العرب قبل الاسلام : ۳۰۷۰/۱]۔

د اسلام په راتلو باندی ښځو ته د نورو حقونو په ورکولو سره سره دوئ ته د طلاق په ورکولو کښی هم قانون جوړ کړی شو، چی په دی سره ئی د ښځو ډیر قدر او عزت وکړو، د طلاق قانون د دوئ لپاره یو غټ رحمت او نعمت وګرځیدهٔ، په سړی ئی د طلاق ورکولو وخت کښی سخت شرطونه لګولی، د ښځی حقوق، د طلاق ورکولو وخت، د طلاقو عدد، د طلاق ورکولو طریقه، مهر، د عدت په وخت کښی نفقه او داسی نور شرطونه ،دا هر څهٔ ئی ورته متعین کړی۔

اسلام کښی چی د طلاقو کوم قواعد او احکام دی نو دا ډیر په عادلانه طریقی سره مقرر شوی، چی په دی کښی نهٔ افراط شته اونهٔ تفریط، نه ئی بالکل په طلاق ورکولو باندی بندیز لګولی، او نهٔ ئی سړی همداسی پریښی چی څنګه او څومره طلاق ورکول غواړی نو ورکولی شی !

په نورو مذاهبو کښی د دوئ د نورو معاملاتو په شان د طلاقو په مسائلو کښی هم ډیر د افراط او تفریط نه کار اخستل شوی۔

په قرآن او سنت کښی چی د طلاق کوم قانون او نظام مقرر شوی نو مونږ غواړو چی

ددی د حکمتونو او عدل یو څۀ قدری تقابل او موازنه د نورو مذاهبو سره وکړو، مشهوره قاعده ده چی : (الأشیاء تعرف بأضدادها)۔

ښځو ته د طلاق ورکولو رواج:

ښځو ته د طلاق ورکولو رواج خوډیر ډ پخوانه را روان دی ابراهیم علیه السلام چی کله مکی مکرمی ته د خپل ځوی اسماعیل علیه السلام ملاقات ته راغی، نو کله چی ئی د هغۀ د ښځی بی صبری او عدم قناعت ولیدل نو هغۀ ته ښکاره شوه چی د نبوت د کورنۍ ښځه باید دومره بی صبره او بی قناعته نۀ وی، نو په دی وجه ئی خپل ځوی ته د هغی د طلاقولو امر وکړو : (وقولی له : یغیر عتبةَ بابه – البخاری).

په یهودیانو کښی طلاق:

د یهودیانو په اصلی دین کښی د طلاق ورکولو عامه اجازه وه او د طلاق ورکولو اختیار به صرف د سړی په لاس کښی وو، لیکن د هغوئ په نزد به صرف تحریراً طلاق واقع کیدۀ، دغه شان کومه ښځه چی به طلاقه شوه نو هغه به په دغه خاوند سمه حرامه شوه، دابه د اولنی خاوند لپاره د دویمی نکاح او طلاق ورکولو نه پس هم نۀ جائز کیدله۔

ددی نه آخوا نوره هیڅ پابندی وربانندی نۀ وه، بلکه سړی ته په مکمل طور سره آزادی وه چی څرنګه او څومره طلاق ورکوی، ورکولی شی، لیکن ورستنو یهودیانو په کښی ورسته نوری ډیری پابندیانی را پیدا کړی۔(احکام الطلاق للشیخ محمد علی جانباز،ص : ۱۳)۔

په فارسیانو کښی د طلاق طریقه :

په فارس والو کښی د نکاح اوطلاق طریقه د نورو مذهبونو نه بالکل بدله وه، د غیر محرمو نه علاوه محرمو خپلوانو به هم خپل مینځ کښی سره نکاح کوله، او دابه ئی فخر ګڼلو، ځوئ به د مور سره، پلار به د لور سره، ورور به د خور سره نکاح کوله، ښځه که به بالغه وه اوکۀ نابالغه، نو په نکاح کولو کښی به د هغی هیڅ اختیار نۀ وو۔

په دوئ کښی د طلاق ورکولو هیڅ قانون نۀ وو، بس د سړی چی به کله زړۀ وو، نو طلاق به ئی ورکولی شو۔ د مهر او نفقی ورکولو خو سوال نۀ پیدا کیدۀ، که یوه ښځه به شنډه وه، نو سړی ته به د هغی سره د نکاح ختمولو اختیار وو۔(وګوره : الزواج والطلاق

فی جمیع الأدیان، ص : ۵۳۵، للعلامی عبد الله المراغی)۔

د قدیم چینیانو طریقه :

چینائی ښځی به ډیری د خپلو خاوندانو تابعداری وی، ددی وجی نه به بغیر د څۀ زور او مجبورولو نه د یو سړی په نکاح کښی ډیری ښځی وی، کۀ یوی ښځی به جنسی بدکاری (زنا) وکړه، نو هغی ته به اتیا دُری ورکول کیدلی، د پیسو پیدا کولو او اقتصاد ښۀ کولو لپاره به ښځه په بازار کښی خرڅیدله۔

د نکاح نه پس که به د سړی خوښه نۀ وه یابه ئی غلا، زنا او نور څۀ بد اخلاقی په کښی ولیده، یابه ئی ښځه کښی شنډوالی اوبل څۀ موذی مرض ولیدل، نو سړی ته به د ښځی طلاقولو اختیار وو۔

(الزواج والطلاق فی جمیع الادیان، ص : ۵۶۲)۔

نصاریٰ او طلاق :

دوئ هم په خپل دین کښی ډیر د افراط او تفریط نه کار اخستی وو، د دوئ د مذهب او قانون له مخی دویمه نکاح کول منع وو۔په دوئ کښی یو وخت داسی وو چی د دوئ په مذهب کښی د طلاق ورکولو اجازت بالکل نۀ وو۔ طلاق واکول سخته گناه او حرام کار گڼل کیدۀ، په کور کښی به کۀ هرڅومره د ښځی او میړه تر مینځ تعلقات خراب وو، د یو بل نه به کۀ هر څومره تنگ وو، دوئ ته به کۀ خپل کور سور دوزخ ولی نۀ وو، لیکن بیا هم نۀ سړی ته د طلاق ورکولو اختیار وو، اونۀ ښځی ته د خپل میړه نه د خلاصیدو کومه لاره وه !!

په دوئ کښی د کیتهولك فرقی مذهب دا وو، چی صرف په مرگ به ښځه او میړه سره بیلیږی، او د پروټسټنټ فرقی مذهب دا وو چی په یو وخت کښی خاوند طلاق ورکولی شو، هغه دا چی ښځه زنا وکړی۔لیکن په دی طلاقو کښی به د فائدی په ځای ښځی او خاوند دواړو ته نور ضرر رسیدلو، ځکه د دوئ قانون دا وو، لکه انجیل مرقس کښی دی :

کوم سړی چی خپلی ښځی ته طلاق ورکړی، او دۀ دویمه نکاح وکړه، نو دۀ زنا وکړه، اوکومی ښځی ته چی خاوند طلاق ورکړو، او دی بل چا سره نکاح وکړه نو دا زنا کاره ده۔

په انجیل لوقا کښې ئې د عیسیٰ علیه السلام دا خبره رانقل کړې :
کوم سړی چې د چا د طلاقې شوې ښځې سره نکاح وکړه، نو دهٔ زنا وکړه۔
ددې خبرې پشان خبره په انجیل متی کښې هم لیکلې شوې۔(مختصر اظهار الحق، للشیخ رحمی الله بن خلیل الرحمن الکیرانوی الهندی، بتحقیق محمد أحمد عبد القادر ملکاوی)۔
دې قانون د فائدې په ځای دا نقصان وکړو، چې ددې نتیجه دا شوه چې د طلاقو نه پس به ښځه او سړی راهب او راهبه (پیر، او پیره، تارك الدنیا، دنیا پریښودونکی) جوړیږي۔
او یابه د زنا او بدکارئ لاره اختیاری، ځکه دویمه نکاح خو دوئ ته ((شجره ممنوعه)) وګرځیده !!
د عیسائیت دویم دور راغی، چونکه د طلاق اجازت نهٔ ورکول یو غیر فطری فیصله وه، نو ځکه ددې ناروا پابندیانو لرې کولو مطالبه وشوه، چې د اولنی دور نه بالکل خلاف او ضد قانون ئې جوړ کړو، په دې قانون کښې ئې یوائې سړی ته نهٔ بلکه ښځې ته هم د طلاق ورکولو مساوی حق ورکړو۔
دې قانون په دوئ کښې د ښځې او خاوند د یو بل نه بیلول او دویمه نکاح کول دومره آسان کړل لکه جامې اولباس بدلول چې څومره آسان دی۔
په معمولی خپه کیدو د یو بل نه بیلیدل عام رواج جوړ شو، د یو تحقیق مطابق صرف په برطانیه کښې په تیرو درې کلونو کښې د طلاق په ډیریدو کښې شپږ چنده ډیروالی راغلی۔
په سویډن کښې نیم په نیمه نکاحونه د طلاق سره مخ کیږي، په فن لینډ کښې د طلاق شرحه آته پنځوس (۵۸) فیصدو ته رسیدلې۔
په امریکه کښې روزانه اووه زره نکاحونه کیږي چې په دوئ کښې درې زره (یعنی پنځوس فیصده) ښځې او خاوندان یو بل ته طلاقونه ورکوی۔(وګوره : الزواج والطلاق فی جمیع الادیان، ص : ۲۸۵، د طلاق مسائل، للشیخ محمد اقبال کیلانی، ص : ۳۱)۔

هندوان اوطلاق :

په هندوانو کښې آته قسمه نکاح کیږي او عجیبه عجیبه نکاحونه دي، د فریقینو په رضا سره آته واړه جائز دي۔

په دې کښې بعضې داسې نکاحونه دي چې په هغې کښې طلاق نشي ورکیدلی۔

بعضې داسې دي چې میړه ئې د ښځې د رضا نه بغیر طلاق نشي ورکولی۔اونۀ ښځه د میړه بې اجازته نکاح ختمولی شي۔

بعضې په طلاقو کښې د اوچت او ښکته نسل ترمینځه فرق کوي۔

په دوئ کښې دَ نیوګ په قانون کښې داسې هم شته چې کوم سړی د اولاد پیدا کیدو قابل نۀ وي نو د هغۀ ښځه دې د بل ښه نسل والا سړي سره کوروالی وکړي، او د خپل خاوند لپاره دې بچې وزیږوي۔

دارنګه که ښځه د بل بچې راوړو قابله نۀ وي نو هغه دې خپل خاوند ته اجازه ورکړي چې د کومې کونډې سره کوروالی وکړي او بچې ئې ورڅخه پیدا شي۔(وګوره : ارته شاستر : ۳۳۹، ۳۸۱ مخ ، سیتارته پرکاش څلورم باب، ۱۵۲، د طلاق مسائل للشیخ الکیلاني)۔

په قدیم هندوستان کښې خو ددې نه هم بد حال وو، یوه ښځه به د ټول کور لپاره هم واده کیده، د کور هر کس ورنه پوره پوره فائده اخستلې شوه۔

د بعضې طبقو ښځې خو داسې وې چې په یو وخت کښې به ئې د یو لسو کسانو سره وادۀ کولو او هر یو به ورنه د ښځې پشان فائده اخستله۔ (وګوره : الزواج والطلاق فی جمیع الادیان، ص : ۵۵۳)۔

د جاهلیت زمانې طلاق :

د جاهلیت د زمانې خلکو هم د ښځو سره انتهائي ظلم زیاتې کولو، کوم ظلم او تیرې وو چې دوئ به ورسره نۀ کولو ؟ !! خپلې لوڼې ژوندئ چاپه ګور کښې خښولې ؟!!

هغه څوك وو چې د یوې ښځې سره به لسو لسو کسانو جماع کوله ؟!!

ښځه طلاقول اوبیا ورته رجوع کول بیا طلاقول بیا رجوع کول، یعنې نۀ ئې په خپله ښځه کوله او نۀ ئې بل کس ته پریښودله، او ښځه د همیش لپاره زوړندول، دا کارونه چا

کـول ؟!! دا همدغه د جاهلیت د زمانی خلق وو چی دَ دویٔ ، نهٔ د طلاقو تعداد معلوم وو، او نهٔ دَ رجوع !!

ذلك لـه وإن طـلـقهـا ألف مـرـة، فعمد رجل إلى امرأته فطلقها حتى إنه كان الرجل إذا طلق امـرأتـه ثـم ارتـجعها قبل أن تقضى عدتها كان إذا شارفت انقضاء عدتها راجعها، ثم طلقها ثم قال : والله لا آويك إلىّ ولا تحلين لى أبدًا ..(الحديث).

(یـو سړی به خپلی ښځی ته وویل : قسم په الله ! نه به دی ښځه کړم اونهٔ به دی بل چاته پـریـدم، نو هغی ته به ئی یو طلاق ورکړو، چی عدت ختمیدل به ئی رانزدی شو، نو رجوع بـه ئـی ورتـه وکـړه، بیابـه ئـی طلاق ورکړو، بیا چی کله به د ښځی د عدت ختمیدو وخت رانـزدی شو، دوباره به ئی ورته رجوع وکړه، همداسی سلسله به جاری وه، طلاق د عدت په آخر کښی رجوع، طلاق او د عدت په آخر کښی رجوع، ښځه خواره به نهٔ ددهٔ کیده اونهٔ د بل۔(وګوره : المفصل فی تاریخ العرب قبل الاسلام : ۳۰۷/۱)۔

دا هغه تفصیل وو چی د اسلام نه غیر مذهبونو کښی د طلاق متعلق قانون وو۔

چی ټول د افراط او تفریط نه ډك، دارنګه د انسانیت او فطرت نه بالکل خلاف وو، خلق ورنه تر ددو سپیږمو پوری راغلی وو۔

دا هـغه د ځانه جوړ شوی قوانین وو چی د اسلام د مبارك دین په راتلو سره ختم شوو، او ددی نه په قرآن کریم کښی داسی تعبیر شوی: ﴿ ویضع عنهم اصرهم والاغلال التی کانت علیهم ﴾.

(ددی رسـول – ﷺ – وظیفه داده چی د دویٔ نه هغه ګران بوجونه او طوقونه لری کړی کوم چی په دویٔ باندی وو)۔

دَ اسلام مبارک دین :

اوس راشه د اسلام مبارك دین ته، نو په اسلام کښی د طلاق آداب په دی ډول دی :

۱ – **اول ادب** : پـه طلاق ورکولو کښی اول ادب دادی چی ښځه به دَ طلاق ورکولو په وخت دَ حیـض نـه پاکه وی۔د حیض په حالت کښی طلاق ورکول حرام او بدعت دی، او په دی خبره د علماؤ اتفاق دی۔

اتـفـق الفقهاء على أن إيقاع الطلاق فى فترة الحيض حرام، وهو أحد أقسام الطلاق البدعى، لنهى الشارع عنه. (الموسوعة الفقهية الكويتية، بحث طلاق الحائض).

په تفسير القرطبى او تفسير اللباب لابن عادل کښې دى :

وحصل الإجماع على أن الطلاق فى الحيض ممنوع منه.

(ومثلـه فـى التسهيـل لـعـلـوم التـنزيل لابن جزى، فى سورة الطلاق، نظم الدرر فى تناسب الآيـات والسور، لابراهيم عمر بن حسن الرباط بن على بن أبى بكر البقاعى، والإستذكار لابن عبد البر، رسالة فى الدماءِ الطبيعية للنساءِ، للشيخ محمد بن صالح العثيمين).

۲ - دويم ادب : دادى چى طـلاق بـه پـه داسـى طهـر کښې ورکولى شى چى په هغه کښـى جـمـاع نۀ شـوى، پـه کـوم طهـر کښـى چى جماع اوشى، نو په هغى کښې طلاق ورکول خلافِ سنت دى، د دوارو مسئلو دلائل دادى :

قرآن کريم کښې دى : ﴿ يا أيها النبى إذا طلقتم النساء فطلقوهن لعدتهن وأحصوا العدة ﴾.

(اى نبـى ! کـلـه چى تاسو خپلو ښځو ته طلاق ورکوئ نو د دوئ دَ عدت په شروع کښې ورته طلاق ورکړئ او عدت شمارئ)۔(سورۃ الطلاق آيت : ۱)۔

ددى آيت نـه مـعـلـومه شوه چى طلاق به د طهر په سر کښې ورکوى، يعنى کله چى د حيـض نـه پاکه شى او طهر ئى شروع شى۔ (فتح القدير للشوکانى : ۲۴۹/۵، زاد المعاد : ۶۱۶/۵، روح المعانى او تفسير قرطبى وغيره)۔

حديث کښې راځى : عـن عبـد الله قال : طلاق السنة أن يطلقها طاهرًا من غير جماع، رواه ابن ماجه : ۱۶۴۰، والنسائى : ۳۳۴۲، ونحوه فى مسلم : ۲۶۸۲).

(عبـد الله بـن عـمـر رضى الله عنه فرمائى : د طلاق مسنونه طريقه داده چى سړى خپلى ښـځـى تـه د طهر (پاکئ) په حالت کښې په داسى وخت کښې طلاق ورکړى چى جماع ئى نۀ وى کړى)۔

بل حديث کښې راځى :

عـن ابـن عـمـر قـال : طـلـقتُ امرأتى على عهد رسول الله ﷺ وهى حائض فذكر ذلك عمر لـرسـول الله ﷺ فـقـال : مـره فـلـيـراجـعـها ثم ليدعها حتى تطهر ثم تحيض حيضة أخرى فإذا طهـرت فـليـطـلـقـهـا قبل أن يجامعها أو يمسكها فإنها العدة التى أمر الله أن يطلق لها النساء.

(رواه مسلم : ۲٦۷۷).

(عبد الله بن عمر رضی الله عنه وائی : ما خپلی ښځی ته د نبی کریم ﷺ په زمانه کښی د حیض په حالت کښی طلاق ورکړو، نو عمر فاروق رضی الله عنه دا خبره رسول الله ﷺ ته ذکر کړه،رسول الله ﷺ وفرمایل :

عبد الله ته حکم وکړه چی خپلی ښځی ته رجوع وکړی، بیائی پریږدی تردی چی هغه د حیض نه پاکه شی، بیائی حیض راشی، بیا چی کله پاکه شی نو دَ جماع کولو نه مخکښی دی هغی ته طلاق ورکړی او یا دی ځان سره (د طلاق ورکولو نه بغیر) وساتی۔او دا هغه عدت دی چی الله تعالیٰ ددی په شمیرلو او شروع کیدلو سره د ښځو د طلاقولو حکم کړی)۔[دا حدیث بخاری، مسلم، مالك، نسائی، ابوداود، ابن ماجه، احمد، بیهقی، ابن ابی شیبه او نورو روایت کړی]۔

ملا علی قاریؒ په مرقاۃ کښی د ابن عمر – رضی الله عنه – ددی روایت په شرح کښی لیکی : وفیه دلیل علی حرمة الطلاق فی الحیض لأنه لا یغضب بغیر حرام. (مرقاة المفاتیح شرح مشكاة المصابیح، لملا علی القاری).

۳ – **دریم ادب** : دادی چی په یو ځل یعنی په یو طهر کښی به د یو نه زیات طلاق نه ورکوی۔په یو ځل دوه دری طلاقه ورکول بدعت او خلاف السنۃ دی۔

حدیث کښی دی : عن عبد الله بن عمر قال فی طلاق السنة : یطلقها عند كل طهر تطليقةً.

(سنت طلاق داده چی په هر طهر کښی بیل بیل طلاق ورته ورکړی)۔

(ابن ماجه : ۲۰۱۱، الدارقطنی : ۳۹۳٦، السنن الکبری للنسائی : ۵۵۸۷، السنن الکبری للبیهقی : ۳۳۲/۷، صحیح ابن ماجه للألبانی ۱٦٤۲).

علامه ابن رشد اندلسیؒ لیکی :

أجمع العلماء علی أن المطلق للسنة فی المدخول بها هو الذی یطلق امرأته فی طهر لم یمسها فیه طلقة واحدة، وأن المطلق فی الحیض أو الطهر الذی مسها فیه غیر مطلق للسنة.

(دَ علماؤ په دی اجماع ده چی مدخول بها ښځی ته د سنت مطابق طلاق ورکول دادی چی په داسی طهر (پاکۍ) کښی ئی صرف په یو طلاق سره طلاقه کړی چی په هغی کښی ئی ورسره جماع نهٔ وی کړی)۔

او څوك چې خپلې ښځې ته په حیض یا په هغه طهر کښې طلاق ورکړې په کوم کښې ئې چې ورسره جماع کړې وی، نو دهٔ په خلاف السنۍ طریقې سره طلاق ورکړو۔

علامه قرطبیؒ لیکی: قال علماؤنا: طلاق السنة ما جمع شروطًا سبعة: وهو أن يطلقها واحدة، وهي ممن تحيض، طاهرًا، لم يمسها في ذلك الطهر.

(زمونږ علماؤ ویلی دی چې سنت طلاق هغه دی چې په هغې کښې اووه شرطونه راجمع وی:

(۱) چې صرف یو طلاق ورکړی (۲) ښځه به داسې وی چې دَ هغې حیض راځی۔ ماشومه او دَ بوډئ کیدو دَ وجې نه به دَ حیض نه نا امیده نهٔ وی)۔(۳) په دې طهر کښې به ئې جماع ورسره نهٔ وی کړې۔(احکام القرطبی: ٤/)۔

حدیث کښې راځی: عن محمود بن لبيد قال: أخبرنا رسول الله ﷺ عن رجل طلق امرأته ثلاث تطليقاتٍ جميعًا، فقام غضباناً، ثم قال: أيلعبُ بكتاب الله وأنا بين أظهركم حتى قام رجل وقال: يا رسول الله! ألا أقتله؟ (رواه النسائی: ۳۳٤۸).

(رسول الله ﷺ ته دَ یو سړی په باره کښې خبر ورکړې شو چې هغهٔ خپل ښځې ته په یو ځل درې طلاقه ورکړې، نو رسول الله ﷺ په غصه کښې را پاڅیدهٔ او وې فرمایل: زهٔ ستاسو ترمینځ لا ژوندی یم او د الله په کتاب پورې توقې کیږی!! تردې چې یو کس را پاڅیدهٔ او عرض ئې وکړو، یا رسول الله! آیا زهٔ دا کس ووژنم؟)۔

ددې حدیث نه معلومه شوه چې په یو طهر کښې درې طلاقه ورکول ډیره سخته ګناه ده۔

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله لیکی:

والطلاق نوعان، نوع: اباحه الله ونوع حرمه. فالذى أباحه الله أن يطلقها إذا كانت ممن تحيض بعد أن تطهُرَ من الحيض قبل أن يطأها ويسمّٰى طلاق السنة، فإن كانت ممن لا تحيض طلقها أيّ وقتٍ شاء، أو يطلقها حاملاً قد تبين حملها فإن طلقها بالحيض أو فى طهر بعد أن وطئها: كان هذا طلاقاً محرّمًا بإجماع المسلمين.

(طلاق په دوه قسمه دی یو هغه طلاق دی چې الله تعالیٰ حلال کړې، بل هغه طلاق دی چې هغه ئې حرام کړې۔ کوم طلاق چې جائز دی نو هغه دا چې کهٔ داسې ښځه وی چې هغې ته حیض ورځی نو هغه چې کله د حیض نه پاکه شی او جماع ئې ورسره لا نهٔ وی

کړی، او په دی وخت کښی طلاق ورکړی نو دیته سنت طلاق ویلی کیږی، کومی ښځی ته چی حیض نهٔ ورځی یا حامله وی او حمل ئی معلوم شی نو هغی ته هروخت طلاق ورکولی شی۔کهٔ څوك په حیض یا داسی طهر کښی طلاق ورکړی چی په هغی کښی ئی ورسره جماع کړی وی، نو په اتفاق د علماؤ سره دا حرام طلاق دی)۔

بیا لیکی : وطلاق السنة المباح : إما أن يطلقها طلقة واحدةً ويدعها حتى تنقضى العدةُ فتبين أو يراجعها فى العدة. فإن طلقها ثلاثاً أو طلقها الثانية أو الثالثة فى ذلك الطهر : فهذا حرام وفاعله مبتدع عند أكثر العلماءِ : كمالك وأبى حنيفة وأحمد فى المشهور عنه.

٤ – **څلورم ادب** : دادی چی کله ښځی ته طلاق ورکوی نو په ښو الفاظو سره دی طلاق ورکړی، چی هغه اسلامی او اخلاقی الفاظ وی، الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فإذا بلغن اجلهن فأمسكوهن بمعروفٍ أو فارقوهن بمعروف ﴾. (الطلاق : ۲).

(نو کله چی دوئ خپلو نیتهو ته ورسی نو په ښهٔ شان سره ئی وساتئ او یائی په ښهٔ شان سره دَ ځانه بیلی کړئ)۔

کله چی طلاق ورکړی نو په دی وخت کښی هم اسلام مونږ ته آداب بیان کړی۔

۱ – **اول ادب** : دادی چی ښځه مدخول بها وی (کور والی ورسره شوی وی) او دیته طلاق رجعی ورکړی شی نو دابه د خپل میړه په کور کښی عدت تیروی، په دی باندی د خپل میړه په کور کښی عدت تیرول فرض او لازم دی۔دا څهٔ مستحب خبره نهٔ ده۔

الله تعالیٰ فرمائی :

۱ – ﴿ يا ايها النبى إذا طلقتم النساء فطلقوهن لعدتهن وأحصوا العدة واتقوا الله ربكم لا تخرجوهن من بيوتهن ولا يخرجن إلا أن يأتين بفاحشسة مبينة وتلك حدود الله ومن يتعد حدود الله فقد ظلم نفسه، لا تدرى لعل الله يحدث بعد ذلك أمرًا ﴾. النساء : ۱).

(ترجمه : ۱– ای نبی ! کله چی تاسو ښځو ته طلاق ورکوئ نو هغوئ ته د هغوئ د عدت د شمیرلو په سر – یعنی طهر – کښی طلاق ورکړئ او دَ عدت موده شمارئ او د الله نه ویره کوئ چی ستاسو رب دی۔مهٔ تاسو دوئ د خپلو کورونو نه وباسئ اونهٔ دی دوئ ووځی مګر دا چی دوئ ښکاره بی حیایئ ته راتګ وکړی، او دا دَ الله حدود (احکام) دی او څوك چی د الله دَ حدودو نه تجاوز وکړی نو یقینا ً چی دهٔ په خپل ځان ظلم وکړو، هیڅ نفس

ته پته نشته چې الله ددې نه پس څۀ خبره را پيدا کوي ؟)۔
٢ - ﴿ أسكنوهن من حيث سكنتم من وجدكم ولاتضاروهن لتضيقوا عليهن وإن كن أولات حمل فأنفقوا عليهن حتى يضعن حملهن فإن أرضعن لكم فآتوهن أجورهن وائتمروا بينكم بمعروف وإن تعاسرتم فسترضع له أخرى ﴾.

(ترجمه : ٢- دا ښځې په هغه ځای کښې اوسوئ په کومو ځايونو کښې چې تاسو اوسئ د خپل وس مطابق، او دوئ ته ضرر مۀ ورکوئ ددې لپاره چې تاسو په دوئ باندې تنګی راولئ اوکۀ چيرې دوئ اميدوارې وي نو په دوئ باندې دَ حمل دَ زيږيدو پورې خرچې کوئ۔ کۀ چيرې دوئ ستاسو لپاره تې ورکوي نو بيا دوئ ته مزدوري هم ورکوئ او په خپلو کښې په ښۀ شان سره مشوره کوئ اوکۀ چيرې تاسو غريبانان شوئ نو بيا دې ماشوم ته بله ښځه تې ورکوي)۔

فتاوى اللجنې الدائمې للبحوث العلميې والافتاء (٢٠/٢٢٤) کښې دي : کومې ښځې ته چې رجعي طلاق ورکړې شي نوکه دا د دغه طلاق ورکونکي خاوند د کوره دَ هغه د ويستلو نه بغير (بې ضرورته) ووځي نو دابه ګنهګاره وي، مګر کۀ داسې سخت ضرورت او حاجت ورته پيښ شي چې د هغه په وجه ددې کور نه وتلې وي۔ (الوجيز في فقه السنة والكتاب العزيز، ص : ٣٣١، بحوث فقهية في قضايا عصرية، ص : ٢٣٧، الفقه الإسلامي وأدلته، المغني لابن قدامة : ٤٤٨/٧).

ښځې ته د خاوند په کور کښې د عدت تيرولو حکمت دادې چې کيدې شي چې د دوئ دواړو – ښځې او خاوند – بيرته جوړ جاړې راشي، ددې خاوند خيالات بدل شي، په طلاق ورکولو پښيمانه شي، ښځه او خاوند بيرته په خوشحاله خوشحالئ سره دَ ژوند تيرولو اراده وکړي۔ په آيت کريمه کښې دَ (لعل الله يحدث بعد ذلك امرا) نه همدا رجوع مراد ده۔(ابن كثير)۔

//////

عدت تيرونکې ښځې په يو څو قسمه دي :

مطلقه حامله : ددې په خيټه باندې حمل وي، نو ددې عدت به د حمل په لرې کيدو سره وي۔ کله چې يوې ښځې ته په داسې حالت کښې طلاق ورکړې شي نو ددې عدت په

(بچی پیدا کیدو) باندی ختمیږی، کۀ حمل ډیر وخت مثلاً نهه ، لس میاشتی وی نو ددی عدت به هم (۹، ۱۰) میاشتی نیسی۔اوکۀ حمل د دری میاشتو نه کم وخت مثلاً دوه دری ورځی (دَ طلاق ورکولو نه) پس پیدا شو، نو ددی عدت هم دغه دوه دری ورځی دی۔

الله تعالیٰ فرمائی :﴿ وأولات الأحمال أجلهن أن يضعن حملهن ﴾.

(د حاملو ښځو عدت دادی چی حمل وزیږوی)۔

دارنګه حدیث کښی راځی : دَ زبیر بن عوام رضی الله عنه نه روایت دی :

أنه كان عنده أم كلثوم بنت عقبة فقالت له وهى حامل : طيب نفسى بتطليقة، فطلقها تطليقة ثم خرج إلى الصلاة فرجع وقد وضعت، فقال : مالها خدعتنى خدعها الله ثم أتى النبى ﷺ فقال : سبق الكتاب أجله اخطبها إلى نفسها. (رواه ابن ماجه : ١٦٤٦، باب المطلقة إذا وضعت ذا بطنها بانت).

(ام کلثوم بنت عقبه رضی الله عنها ددۀ په نکاح کښی وه نو هغه په داسی حالت کښی چی حامله وه خپل خاوند زبیر رضی الله عنه ته ئی وویل : ماته په یو طلاق راکولو سره زما زړۀ خوشحاله کړه ! نو هغه یو طلاق ورکړو، بیا هغه لمانځه ته ووتل، کله چی کور ته واپس راغی نو د هغی ماشوم پیدا شوی وو، نو زبیر رضی الله عنه وویل : څۀ وجه دی چی ماته ئی دهوکه راکړه ؟ الله تعالیٰ دی هغی ته دهوکه ورکړی ! بیا هغه دَ نبی کریم ﷺ خواته راغی، نو نبی ﷺ ورته وفرمایل : کتاب خپلی نیتی پوری رسیدلی دی (یعنی عدت ئی ختم شوی، او طلاق بائن وګرځیدۀ نو ددی وجی نه اوس تۀ د نوی نکاح لپاره دیته بیا د نکاح پیغام ورولیږه)۔

ددی حدیث نه دا مسئله معلومه شوه چی دَ مطلقی حاملی په وضع دَ حمل سره سمدس عدت ختمیږی اګرکۀ دا لږ وخت ولی نۀ وی۔او په دی مسئله د علماؤ اتفاق دی لکه ابن قدامه رحمه الله لیکی :أجمع أهل العلم فى جميع الأعصار على أن المطلقة الحامل تنقضيعدتها بوضع حملها.

(د ټولو علماؤ په دی اتفاق دی چی د حاملی مطلقی ښځی عدت په زیږیدو دَ حمل سره پوره کیږی۔(المغنی : ۴۷۳/۷).

په احکام القرآن للجصاص کښی دی : لم يختلف السلف والخلف بعدهم أن عدة

المطلقة الحامل أن تضع حملها.
(په سلف او خلفو کښې د هیچا په دې خبره کښې اختلاف نشته چې دَ حاملې مطلقې عدت دَ حمل په زیزیږیدو سره پوره کیږي).
(أحكام القرآن للجصاص : ٤٥٨/٣، انظر البدائع والصنائع : ١٩٦/٣، المفصل فى أحكام المرأة والبيت المسلم : ١٩٠/٩).

مطلقه حائضه :

دَ کومې ښځې چې حیض راځي نو ددې عدت درې حیضه دي، ترڅو چې درې حیضه نۀ وي راغلي نو ددې عدت به جاري وي، برابره خبره ده که دا زر زر راشي اوکۀ ډیر وخت ونیسي۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿والمطلقات يتصربصن بأنفسهن ثلاثة قروء﴾.
(طلاقې شوې ښځې دې تر درې حیضونو راتلو پورې انتظار وکړي)۔
دلته دَ راجح قول مطابق دَ (قروء) نه مراد حیض دی۔ لکه حدیث کښې راځي : رسول الله ﷺ مستحاضې ښځې ته فرمایلي وو : أن تدع الصلاة أيام أقرائها ثم تغتسل وتصلى.
(ابو داود، ابن ماجه).
یو بل حدیث کښې راځي : عن عائشة قالت : أمرت بريرة أن تعتد بثلاث حيضٍ.
(رسول الله ﷺ بریرې رضی الله عنها ته امر وکړو چې درې حیضه عدت تیر کړي۔ (ابن ماجه، الإرواء، والحديث صحيح).
د مذکوره حدیثونو نه معلومه شوه چې په آیت کښې د ((قروء)) نه مراد حیضونه دي، بلکه ابن قیم رحمه الله خو ویلي دي چې د قروء لفظ دَ شارع علیه السلام په کلام کښې صرف دَ حیض دپاره استعمال شوی۔ (زاد المعاد : ٦٠٩/٥).

د ماشومې او بوډۍ ښځې عدت :

کۀ داسې ښځې ته طلاق ورکړې شي چې هغه یا زړه او یا کشره وي، نو ددې عدت درې میاشتې دي، مطلب دا چې دابه ددې خاوند په کور کښې درې میاشتې عدت تیروي۔ قرآن کریم کښې دي : ﴿واللائى يئسن من الحيض من نسائكم إن ارتبتم فعدتهن ثلاثة أشهر واللائى لم يحضن﴾.

(او ستاسو په ښځو کښې هغه ښځې چې دَ حیض راتلو نه نا امیده دی کۀ ستاسو شك وی نو د دوئ عدت دری میاشتی دی، دارنګه دَ هغه ښځو هم چې د هغوئ حیض نۀ راځی)۔

کومه ښځه چې نۀ وړه وی اونۀ زړه، البته د کوم مرض له وجی نه ورته حیض نۀ راځی نو ددی په باره کښې د علماؤ اختلاف دی، راجح داده چې دا هم په (واللائی لم یحضن) کښې داخله ده، دابه هم دری میاشتی عدت تیروی۔وګوره : (المغنی : ٤٦٢/٧، المفصل فی أحکام المرأة : ١٥٤/٩).

د مذکوره آیتونو او حدیثونو نه دوه خبری معلومی شوی :

۱ – اول : د عدت موده او وخت۔

۲ – دویم : داچی ښځه به د عدت په دوران کښې د خاوند د کور نه چیرته نۀ ځی اونۀ ئی خاوند ته دا جائز دی چې دا ښځه د کور نه بهر اوباسی۔بلکه دا ښځه به دده په کور کښې اوسیږی او دی به پری خرچه هم کوی۔دا څۀ یوائځی مستحب کار نۀ دی بلکه په دی طریقی سره عدت تیرول په اجماع د علماؤ په ښځه واجب دی۔ وګوره : موسوعة الإجماع للشیخ... أحکام القرآن للقرطبی : ١٥٤/١٨، تفسیر الرازی : ٣٢/٣٠، المفصل فی أحکام المرأة : ٢٠٢/٩).

راځئ چې وګورو چې اوس زمونږ په معاشره کښې په دی آیتونو څومره عمل کیږی ؟

سړی چې طلاق ورکړی نو ښځه فوراً د خپل کور نه اوباسی، که خاوند ئی نۀ اوباسی نو ښځه په خپله یو ساعت هم نۀ ایساریږی چې د دواړو دا عمل د قرآن او سنت نه ښکاره خلاف دی۔ قرآن خو وائی چې : ﴿ لا تخرجوهن من بیوتهن ولا یخرجن ﴾.

(نۀ به ئی تاسو د خپلو کورونو نه اوباسئ او نۀ به دوئ په خپله وځی)۔

یوه مسئله :

مخکښې ذکر شو چې ښځه به د عدت په دوران کښې د کور نه بهر نۀ وځی، اوس سوال دادی چې آیا صرف د ورځی په مخ د خپل کور نه د څۀ حاجت دپاره وتلی شی ؟ مثلاً دَ بیمار تپوس ته، د یوی دینی مسئلی یا بل دینی زده کړی دپاره، یا خپل پټی، کارو بار وغیره دپاره ؟ نو دی باره کښې د علماؤ اختلاف دی، د احنافو مذهب دادی چې کومه

ښځه د طلاقو عدت تیروی نو دا دَ کارو بار لپاره نۀ د شپې وتلی شی اونۀ د ورځې، مګر کۀ سخت ضرورت وو، اوکومه ښځه چې د خپل خاوند د مرګ عدت تیروی، نو دا شپه بل ځای نشی کولی، البته د ورځې د خپل کوره بهر وتلی شی۔ هدایه کښې دی : ولا یجوز للمطلقة الرجعية والمبتوتة الخروج من بيتها ليلاً ولا نهارًا، والمتوفى عنها زوجها تخرج نهارًا وبعض الليل ولا تبيتُ فى غير منزلها. (الهداية : ٤٠٧/٢).

علامه کاسانی لیکی : فإن كانت معتدة من نكاح صحيح وهى حرة مطلقة بالغة عاقلة مسلمة والحال حال الإختيار، فإنها لا تخرج ليلاً ولا نهارًا، سواء كان الطلاق ثلاثاً أو بائنًا أو رجعيًا... وأما المتوفى عنها زوجها فلا تخرج ليلاً ولا بأس بأن تخرج نهارًا فى حوائجها. (البدائع : ٢٠٥/٣).

حنابله، مالکیان او نور علماء وائی چې د ورځې په مخ د شرعی عذر او حاجتونو لپاره د خپل کور نه بهر وتلی شی۔ لیکن د خپل کوره بهر شپه نشی کولی۔ ذهب المالكية والشافعية والحنابلة والثورى والأوزاعى والليث بن سعد إلى جواز خروجها نهارًا لقضاءِ حوائجها، أو طرفى النهار لشراءِ ما يلزمها من ملبس ومأكل ودواءٍ أو بيع غزل، أو كانت تتكسب من شئ خارج عن محلها كالقابلة والماشطة أو لأداءِ عملها سواء أكان الطلاق بائنًا بينونة صغرى أم كبرى، لحديث جابر رضى الله عنه السابق : (طلقت خالتى ثلاثا فخرجت.. الخ. [الموسوعة الكويتية حرف عدة].

راجح قول همدا دویم قول دی، ځکه دی طرفته صحیح دلائل موجود دی، چې بعضې ئې دادی : عن جابر بن عبد الله يقول : طلقت خالتى فأرادت أن تجُدَّ نخلها فزجرها رجل أن تخرج فأتت النبى ﷺ فقال : بلى، فجدى نخلك فإنك عسى أن تصدقى أو تفعلى معروفًا). أخرجه مسلم ٣٧٩٤، وأبوداود ٥٢٥/١، والدارمى ١٦٨/٢، وابن ماجه : ٦٢٧/١، والحاكم : ٢٠٧/٢، وأحمد : ٣٢١/٣، كمافى الصحيحة : ٧٢٣، والإرواء : ٢١١/٧).

(زما ترور طلاقه کړې شوه، نو هغې – د عدت په دوران کښې – غوښتل چې د خپل باغ نه خورماوی وشکوی، په لاره کښې یو سړی په مخه ورغی نو هغۀ ورټله، نو دا – دی باره کښې د تپوس لپاره – رسول الله ﷺ ته راغله، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ولی نشی تلی، خپلی خورماوی را پریکړه شاید تۀ په دی سره ددی نه صدقه یا بل نیک کار وکړې)۔

امام نوویؒ ددی په شرح کښی لیکی :

هـذا الـحـديث دليل لخروج معتدة البائن للحاجة، ومذهب مالك والثوری والليث والشافعی وأحـمـد وآخرين جواز خروجها فی النهار للحاجة، و كذلك عند هؤلاءِ يجوز لها الخروج فی عدة الوفاة ووافقهعم أبو حنيفة فی عدة الوفاة وقال فی البائن : لا تخرج ليلاً ولا نهارًا.

(یعنی : دا حدیث په دی مسئله دلیل دی چی کومه ښځه په طلاقِ بائن سره طلاقه کړی شی نـو دا د خپـل حاجت لپاره د خپـل کـور نـه بهـر وتـلی شی، دا د مالك، ثوری، لیث، شافعـی، احـمـد او نـورو مـذهب دی چی د ورځی وتل د خپل حاجت دپاره صحیح دی، د دویٔ پـه نـزد پـه عـدیِ الوفایِ کښی هم دا حکم دی، امام ابو حنیفهؒ د دویٔ سره په عدیِ الوفایِ کښـی مـوافـقت کړی، لیکن د طلاق بائن په عدت کښی وائی چی دا نهٔ دَ شپی وتلی شی اونهٔ د ورځی۔ (شرح النووی علی صحیح مسلم).

د مـذكـوره حـدیـث نه بله مسئله هم معلومه شوه، هغه دا چی د دینی زده کړی لپاره هم وتلی شی، لکه دا صحابیه – رضی الله عنها – چی رسول الله ﷺ ته ورغله او هغهٔ مبارك دیـنـی مسـئـلـه ورتـه اوښودله، او دا ئی نهٔ دی ویلی چی تهٔ خود طلاق په عدت کښی ئی، دلته ولی راغلی ئی ؟ دی باره کښی نور آثار په (نيل الأوطار : ١٠٢/٧، ١٠١، المحلی لابن ح زم : ٢٨٧/١٠، وغیره) کښی راغلی۔

کومی ښځی ته چی طلاق بائن ورکړی شی نو دابه عدت چیرته تیروی ؟

کـومـی ښـځـی تـه چی طـلاقِ بـائن ورکړی شی نو دا به د خاوند په کور کښی نهٔ بلکه د خپـل پـلار پـه کـور کښـی عـدت تیـروی، البتـه د ضرورت په وجه ئی بل ځای هم تیرولی شی۔ لکه څرنګه چی د فاطمی بنت قیس – رضی الله عنها – نه روایت دی :

أن أبا عمرو بن حفصٍ طلقها البتة وهو غائب فأرسل إليها وكيله بشعير فسخطته فقال : واللّٰه مـالك عـلينا من شئ، فجائت رسولَ اللّٰه فذكرت ذلك له فقال : ليس لك عليه نفقة، فأمرها أن تـعتـد فـی بيت أم شـريك ثـم قال : تلك امرأة يغشاها أصحابی اعتدی عند ابن أم مكتوم، فإنه رجل أعمی تضعين ثيابك. (رواه مسلم ٤٨٠، وأبوداود ٢٢٨٤).

(ابو حفص دیته بائن (دریم) طلاق ورکړی وو، او هغه په یمن کښی وو، نو د ابو عمرو وکیل

فاطمیؓ ته وریشی وروليږلی (هغی دا لږی وګڼلی) او په دی باندی خفه شوه، هغه ورته وویل : قسَم په الله ! ستا په ما باندی هیڅ حق نشته، نو دا رسول الله ﷺ ته راغله او ددی خبری ذکرئی ورته وکړو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ستا خرچی د هغهٔ په ذمه نهٔ ده، ددی نه پس هغهٔ ورته حکم وکړو چی د ام شریك په کور کښی عدت تیر کړه۔ خو بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : ام شریك یوه داسی ښځه ده چی زما صحابه ورکره ډیر ځی راځی، نو تهٔ د ابن ام مکتوم – رضی الله عنه – په کور کښی عدت تیر کړه ځکه هغه ړوند دی تهٔ هلته جامی (حجاب) هم لری کولی شی)۔

بل صحیح حدیث کښی دی : عن فاطمة بنت قیسٍ قالت : طلقنی زوجنی ثلاثاً [وفی روایة طلقها آخر تطلیقات] وفی روایة : أرسل إلیها بتطلیقة کانت بقیت لها] فلم یجعل لی رسول الله ﷺ سکنی ولا نفقة. (رواه مسلم ٣٧٨٩، صحیح أبی داود ١٩٨٧٦، ١٩٨٢، والترمذی وغیرهم).

(دا صحابیهؓ وائی چی ماته خاوند دریم طلاق راکړو، نو رسول الله ﷺ په هغهٔ باندی زما لپاره نهٔ د اوسیدو ځای لازم کړو اونهٔ خرچه)۔

مذکوره صحیح او صریح حدیث په دی مسئله واضح دلیل دی چی په طلاق بائن کښی د ښځی نفقه د خاوند په ذمه نشته، او همدا مذهب دَ علی، ابن عباس، جابر – رضی الله عنهم – عطاء، طاووس، حسن، عکرمه، میمون بن مهران، اسحاق، ابن ابی لیلیٰ، ابو ثور او داود ظاهری – رحمهم الله – وغیره دی۔(المفصل فی أحکام المرأة : ٩/٢٤٠).

البته که دا ښځه حامله وی او دیته طلاق بائن ورکړی شی، نو په دی وخت کښی به ددی خاوند خرچی ورکوی۔قرآن کریم کښی دی : ﴿ وإن کن أولات حمل فأنفقوا علیهن حتی یضعن حملهن ﴾.

(کهٔ چیری دوئ امیدواری وی نو دَ حمل تر زیږیدو پوری په دوئ خرچی کوئ)۔

امام ابن کثیر رحمه الله ددی په تفسیر کښی لیکی : قال کثیر من العلماءِ منهم ابن عباس وطائفة من السلف وجماعات من الخلف : هذه فی البائن، إن کانت حاملا أنفق علیها حتی تضع حملها، قالوا : بدلیل أن الرجعیة تجب نفقتها، سواء کانت حاملاً أو حائلاً.

دی مسئله کښی ډیر تفصیل شته، مونږ صرف راجح قول ذکر کړو۔

أجمع أهل العلم على أن نفقة المطلقة ثلاثاً (المبتوتة) أو مطلقة للزوج عليها رجعة وهى حامل واجبة، بدليل قوله تعالى : ﴿ وإن كن أولات حمل فأنفقوا عليهن حتى يضعن حملهن.

د تفصيل دپاره وګوره : (أحكام المرأة الحامل : ٢٢/١، مغنى المحتاج، زاد المعاد ١٦٠/٤، نيل الأوطار : ٣٤٠/٦، سبل السلام ١٩٩/٣، المحلى : ٢٨٢/١٠، أحكام القرآن للجصاص : ٤٥٩/٣، الوجيز فى فقه السنة والكتاب العزيز، ص : ٣٣١، المفصل فى أحكام المرأة : ٢٣٦/٩، أحكام الطلاق للشيخ محمد على جانباز ٣٧٥).

کهٔ داسی ښځی ته طلاق ورکړی شی چی هغه غير مدخول بها وی (خاوند ورسره کور والی نهٔ وی کړی) نو ددی عدت نشته، دا د طلاقو نه يو ساعت پس هم د بل چا سره نکاح کولی شی۔ الله تعالىٰ فرمائی :

﴿ يا أيها الذين آمنوا إذا نكحتم المؤمنات ثم طلقوهن من قبل أن تمسوهن فما لكم عليهن من عدة تعتدونها ﴾ الأحزاب : ١٤٩.

(ای ايمان والاوو ! کله چی تاسو د مؤمنو ښځو سره نکاح وکړئ بيا د کور والی نه مخکی هغوئ ته طلاق ورکړئ نو په دوئ باندی ستاسو د عدت هيڅ حق نشته چی تاسو ئی شمار کړئ)۔

امام ابن کثيرؒ فرمائی : هذا أمر مجمع عليه بين العلماءِ : أن المرأة إذا طلقت قبل الدخول بها لا عدة عليها فتذهب فتتزوج فى فورها مَن شائت.

(په دی خبره د علماؤ اتفاق دی چی کله ښځه د نکاح نه پس د جماع او کور والی نه مخکی طلاقه کړی شی نو په دی باندی هيڅ عدت نشته، بلکه هغه د طلاقيدو نه فوراً ورسته هم چاسره چی وغواړی نکاح کولی شی)۔ تفسير ابن كثير : ٤٧٩/٥، فتاوى اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والإفتاءِ ٣٩٩/٢٠، فقه السنة ٣١٩/٢، كما فى كتاب الطلاق للحافظ عمران لاهورى، ص : ١٩٢).

چونکه طلاق اکثر وخت د يو بل دَ بی اتفاقئ او خفګان له وجی نه مينځ ته راځی، نو ځکه قرآن کريم موږ ته دا ادب را ښودلی چی د طلاقو نه پس يو بل پسی خبری او د يو بل شکايتونه او قطع تعلق مهٔ کوئ۔ تير شوی ښيګړی او احسانات مهٔ هيروئ۔ الله فرمائی : ﴿ ولا تنسوا الفضل بينكم ﴾.

(خپلو کښې چې یو بل سره کوم احسانات شوی، هغه مۀ هیروئ)۔
بل ادب دادی چې د طلاقو نه پس خاوند ته دا جائز نۀ دی چې د ښځې نه څۀ واخلی، یعنی کوم مهر وغیره ئې چې ورته ورکړی نو دا به ښځه د خپل ځان سره وړی۔اللہ تعالیٰ فرمائی : ﴿ وكيف تأخذونه وقد أفضى بعضكم إلى بعض ﴾.
(او تاسو چې دوئ ته څۀ ورکړی دی، هغه تاسو د دوئ نه څرنګه اخلئ حال دا چې د یو بل نه مو فائدی اخستی دی !)۔
بل آیت کښې دی : ﴿ ولا يحل لكم أن تأخذوا مما آتيتموهن شيئاً ﴾.
(او تاسو ته دا جائز نه دی چې کوم مال تاسو دوئ ته ورکړی دی، د هغی نه څۀ واخلئ)۔
(فتح القدير للشوكاني : ٥٦٦/٤).
کۀ داسې ښځې ته طلاق ورکړی شي چې هغه غیر مدخول بها وی، او ددی مهر مقرر وی نو خاوند به نیم مهر ورکوی۔اوکۀ مهر مقرر نۀ وو، نو صرف مُتعه (یوه جوړه جامه، بوټان وغیره) به ورکوی۔اللہ فرمائی :
﴿ لاجنح عليكم إن طلقتم النساء مالم تمسوهن أو تفرضوا لهن فريضة ومتعوهن على الموسع قدره وعلى المقتر قدره متاعاً بالمعروف حقا على المحسنين ﴾.
کله چې یو کس خپلې ښځې ته طلاق ورکړی او هغه غواړی چې بیرته رجوع وکړی نو په خپله رجوع به دوه ګواهان ضرور نیسی۔ قرآن کریم کښې دی : ﴿ فإذا بلغن اجلهن فأمسكوهن بمعروف أو فارقوهن بمعروف وأشهدوا ذوى عدل منكم وأقيموا الشهادة لله﴾.
(الطلاق : ٢).
(کله چې دوئ خپلې نیټې ته ورسیږی نو په ښۀ شان سره ئې وساتئ او یائې په ښې طریقې سره د ځانه جدا کړئ او ګواهان جوړ کړئ دوه عادلان په خپلو کښې، او صرف د اللہ لپاره ګواهی ودروئ)۔
دارنګه د عمران بن حصين – رضى الله عنه – نه تپوس اوشو چې یو کس خپلې ښځې ته طلاق ورکړو بیائې رجوع هم ورته وکړه لیکن نۀ ئې په طلاق ورکولو ګواهان نیولی اونۀ ئې په رجوع کولو ګواهان نیولی ؟ عمران بن حصين ؓ ورته وفرمایل : دی کس طلاق هم خلاف سنت ورکړل، او رجوع ئې هم خلافِ سنت وکړه۔

(رواه أبوداود ٢١٨٦، ابن ماجه ٢٠٢٥، البيهقى ٣٧٣/٧، الطبرانى ١٣٠/١٨، وسنده صحيح، كما فى الإرواءِ ٢٠٧٨، وتوضيح الأحكام شرح بلوغ المرام ٥٢٢/٥).

البته د طلاق ورکولو وخت کښې ګواهان نیول ضروري نهٔ دي، کهٔ ګواه وي اوکهٔ نهٔ وي، طلاق ورکول صحیح دي. وګوره: (نيل الأوطار: ٣٤٩/٤، فقه السنة: ٢٧٢/٢، عون المعبود للعظيم آبادي، كتاب الطلاق للشيخ عمران أيوب لاهوري، ص: ٨٦).

د طلاقونه پس د خاوند لپاره دا ادب ښودلې شوي چې کهٔ په رشتيا ئې خپلې ښځې ته د رجوع اراده وي نو رجوع دې ورته وکړي، اوکهٔ د رجوع اراده ئې نهٔ وي نو په ښائسته طریقې سره دې پریږدي. ښځې ته په دې نیت بیرته دوباره رجوع نهٔ کوي چې هغې ته تکلیف اورسوي او د هغې عدت اوږد کړي. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وإذا طلقتم النساء فبلغن أجلهن فأمسكوهن بمعروفٍ أو سرحوهن بمعروفٍ ولا تمسكوهن ضرارًا لتعتدوا ومن يفعل ذلك فقد ظلم نفسه.

(کله چې تاسو ښځو ته طلاق ورکړئ او هغوئ خپلې نیتې ته ورسي، نو بیائې په ښې طریقې سره بندې وساتئ او یائې په ښهٔ شان سره پریږدئ، او ددې لپاره ئې مهٔ بندوئ چې هغوئ ته تکلیف ورکړئ ددې لپاره چې تاسو په هغوئ ظلم وکړئ او چاچې دا کار وکړو، نو یقینا ً چې هغهٔ په خپل ځان ظلم وکړو).

دطلاقونه پس د ښځې لپاره دا ادب هم دی چې هغه به د خپل حیض او حمل په باره کښې دروغ نهٔ وائي، مثلاً دا غواړي چې عدت ئې زر ختم شي او د خاوند د کور نه زر لاړه شي، نو ددې درې حیضونه نهٔ وي راغلي او دا ووائي چې زما درې حیضونه پوره شوو، یائې په خیټه حمل وي او دا ووائي چې زما په خیټه څهٔ نشته.

دارنګه ددې برعکس یوه ښځه دا غواړي چې دې کور کښې ډیر وخت تیر کړي، د هغې درې حیضه راشي لیکن دا وائي چې تر اوسه پورې زما درې حیضه نهٔ دي پوره شوي. یائې په خیټه حمل نهٔ وي او دا ووائي چې زما په خیټه حمل دی. په دې هکله الله رب العالمین داسې فرمایلي: ﴿ولا يحل لهن أن يكتمن ما خلق ا فى أرحامهن إن كن يؤمن بالله واليوم الآخر﴾.

(کهٔ دا ښځې په الله تعالیٰ او په ورځ د آخرت ایمان لري نو د دوئ لپاره دا جائز نهٔ دي چې

هغه څۀ پټ کړی کوم چې الله تعالیٰ د دوئ په رحمونو کښې پیدا کړی (چې هغه حیض او حمل دی)۔

د طلاقو نه پس عامو خلقو او ښځې ته دا ادب هم بیان شوی چې د دی سره به نۀ نکاح تړی اونۀ به ورسره د نکاح په کولو تصریح کوی۔قرآن کریم کښې دی :

﴿ ولا تعزموا عقدة النكاح حتى يبلغ الكتاب أجله ﴾.

(تر هغې پورې تاسو د نکاح تړلو قصد مۀ کوئ تر څو چې عدت خپلې نیتې ته ورسیږی)۔

د طلاقو نه پس د ښځې اولیاؤ ته دا ادب هم دی کۀ عدت تیر شی او ښځه خاوند بیرته په خپل مینځ کښې نکاح کولو اوکور جوړولو راضی شی نو دوئ دی ښځه د هغۀ سره د نکاح کولو نه نۀ بندوی، دا دی نۀ وائی چې موږ ئی نۀ درکوو، تا ولی طلاق ورکړی ؟

قرآن کریم کښې دی : ﴿ وإذا طلقتم النساء فبلغن أجلهن فلا تعضلوهن أن ينكحن أزواجهن إذا تراضوا بينهم بالمعروف ﴾.

(کله چې تاسو ښځو ته طلاق ورکړل او د دوئ عدت پوره شو نو دوئ ددی نه مۀ منع کوئ چې د خپلو خاوندانو سره نکاح وکړی، کله چې دوئ په خپلو کښې په ښه (شرعی) طریقه سره راضی وی)۔

دی باره کښې یو حدیث هم راغلی چې هغه داسی دی :

عن معقل بن يسار أنه زوج أخته رجلا من المسلمين، على عهد رسول الله ﷺ، فكانت عنده ما كانت، ثم طلقها تطليقةً لم يراجعها حتى انقضت العدة، فهويها وهويته، ثم خطبها مع الخطاب، فقال له : يا لكع ! أكرمتك بها وزوجتكها، فطلقتها، والله لا ترجع إليك أبدًا، آخر ما عليك قال : فعلم الله حاجته إليها وحاجتها إلى بعلها، فأنزل الله : ﴿ وإذا طلقتم النساء فبلغن أجلهن ﴾ إلى قوله : ﴿ وأنتم لا تعلمون ﴾ فلما سمعها معقل قال : سمع لربى وطاعة ثم دعاه، فقال : أزوجك وأكرمك.

(معقل بن یسار – رضی الله عنه – خپل خور د رسول الله ﷺ په زمانه کښې یو مسلمان سړی ته په نکاح ورکړه، نو هغه د هغۀ سره یو څۀ موده وه، بیا هغۀ ورته طلاق ورکړو، او رجوع ورته اونۀ کړه تردی چې د هغې عدت تیر شو، بیا ورسته ددی مسلمان

سړی زړۀ اوشـو چی دغه ښځی سره نکاح وکړی، او دی ښځی هم دا غوښتله، نو دی کس دَ نـورو کسـانو پشان دَ هغی د نکاح لپاره پیغام ولیږل، نو معقل بن سنان – رضی الله عنه – ورته په غصه شو، او ورته ئی وویل : کم عقله ! ما تۀ ددی په نکاح باندی عزتمند کړی او پـه نـکـاح مـی درتـه درکـړه، او تـا طـلاق ورکړو ! قسَم په الله کۀ ئی در کړم ! ستا دی سره دا آخرنئ نکاح وه !! (چونکه) الله تعالی ته ددی سړی او ښځی ضرورت معلوم وو، نو دا آیت کریمه ئی را نازل کړ :

((کـلـه چـی تـاسـی خپلو ښځو ته طلاق ورکړئ او د هغوئ عدت پوره شی (او اوس بیرته ښـځـه خـاونـد) پـه نـکـاح کـولو راضی شی، نو تاسو ئی مۀ منع کوئ۔ معقل بن سنان – رضـی الله عنه – چی کله دا آیت کریمه واوریدۀ، نو وی ویل : په ما باندی د خپل رب خبره آوریـدل او مـنـل لازم دی ! خپـل پـخوانی اوښی ئی را وغوښتل او ورته ئی وویل : زۀ تا په دی باندی عزت مند کوم، او دا درته په نکاح کوم)۔

د ابو داود په روایت کښی ورسره دا خبره هم راغلی چی معقل بن سنان – رضی الله عنه – وویل : فکفرت عن یمینی. (ما د خپل قسَم کفاره ورکړه)۔

(رواه الترمذی وأبوداود وسنده صحیح، کما فی الإرواءِ : ۱۸٤۳).

//////

تاکید

که په بار بار طلاق ویلو سره تاکید غرض شي

نو پدی صورت کښې دداسې کس څوطلاقه واقع کیږی؟

سوال: یوکس خپلی ښځی ووائی ته ما طلاقه کړی طلاقه کړی ، طلاقه کړی ۔
یا ورتــه ووائی ته په ما طلاقه ئی ،طلاقه ئی،طلاقه ئی۔ بیا ددینه پس وائی چی زما په بار بار ویـلـو سره تـاکیـد غـرض وو نـو ددی کـس څـو طلاقه واقع کیږی، او آیا د تاکید خبره جوړیدی شی؟ تفصیلا جواب راکړئ۔

جواب: پـه هـره ژبه او لغت کښی اکثره وخت څۀ خبری صرف د تاکید لپاره تکراریږی، د قـرآن او حـدیث نه را واخله زمونږ ترژبی او لغت پوری، په دی ټولو کښی بی شماره داسی مثالونه شته چی په هغی کښی څۀ کلمات او خبری صرف د تاکید دپاره ویلی شوی وی۔
زمـونږ او تـاسـو پـه عُرف بلکه زمونږ په روز مره ژوند کښی ډیر داسی مثالونه مخی ته رائحی، خاصکر هغه وخت کښی چی د ویونکی په څۀ خبره تاکید او مضبوط والی غرض وی۔
نـو پـه دی وجـه هـمیشـه نـفس پـه تـکـرار د الفاظو سره هر مکرر لفظ ته بیل بیل حکم ورکـول، هـریـو مستـقـل مستـقـل کلام ګڼل، او ددی نه تاکید نۀ اخستـل د قرآن، حدیث، عـام لـغت او عُرف نه په بی علمئ او ناخبرتیا دلالت کوی، خصوصاً هغه وخت کښی چی د متکلم خپل اقرار، مقتضی الحال او نور قرائن په تکرار او تائید دلالت کوی۔
اوس راشـه طلاق ته، نو ډیر ځله د طلاق ورکونکی په (انت طالق، انت طالق، أنت طالق) ویلو سره صرف تاکید غرض وی۔
پـه پښتـو، فـارسـئ او اردو ټولو ژبو کښی خو طلاق، طلاق، طلاق – یا تۀ طلاقه ئی، تۀ طلاقه ئی، تۀ طلاقه ئی ویلو باندی صرف او صرف تاکید غرض وی، اوبس۔

د طـلاق ورکـونـکی نۀ دری طلاقه مقصد وی، اونۀ دا تهول الفاظ د تعداد لپاره وائی، اونۀ ئـی د اخبره په ذهن کښی وی چی ګنی په یو طلاق زما ښځه جدا کیږی، دویم او دریم ځل ته ضرورت نشته !!

اکثـره خـلق نن صبا د ضروری دینی احکامو نه ناخبره دی، د طلاق احکام خو ډیر ملایان هـم نۀ پیژنی، دوئ چی کله طلاق ورکوی نو دوئ دَ سره یو طلاق کامل طلاق نۀ ګنی، نو په دی وجه دوه دری بلکه لس شل ځلی طلاق تکراروی۔

دی بـاره کښـی جهل او ناپو هئ ته هم ډیر اعتبار دی۔فتاوی عالمګیری (۳۵۳/۱) کښی دی :

وإذا قـال لامـرأته : أنت طالق ولا يعلم أن هذا القول طلاق، طلقت فى القضاءِ ولا تطلق فيما بينه وبين اللّٰه تعالىٰ، هكذا فى الذخيرة.

(یـعـنـی یـو سړی خپلی ښځی ته ووائي : چی تۀ طلاقه ئی دا کس په دی نۀ پو هیدۀ چی په دی سره زما ښځه طلاقیږی، نو دیانۃً - یعنی په حقیقت کښی - دا ښځه نۀ طلاقیږی، البته قضاءً طلاقیږی)۔

مـطـلـب : کـۀ دا ښـځـه قـاضـی تـه لاړه شی او دا دعویٰ وکړی چی زما خاوند ماته طلاق راکړی، قـاضـی دا کـس را وغـواړی، اوس دا کس وائی : زه په دی نۀ پو هیدم چی دا طلاق دی ! نو قاضی به ددۀ خبره نۀ منی، ځکه شرع ظاهر ته ګوری۔

اوکۀ ښځه دعویٰ نۀ کوی، نو د اللّٰه په نیز ددی کس طلاق نۀ دی واقع شوی۔

علامه ابن القیم رحمه اللّٰه لیکی :

وقال أصحاب أحمد : لو قال الأعجمى لامرأته : أنت طلاق وهو لا يفهم معنىٰ هذه اللفظة لم تطلق لأنه ليس مختارًا للطلاق فلم يقع طلاقه (إعلام الموقعين : ٦٣/٣).

دارنـګه د عمر فاروق - رضی اللّٰه عنه - په باره کښی راځی چی هغۀ ته یوه مسئله راغله هغه په دی ډول چی یو سړی خپلی ښځی ته په ناپو هئ کښی ویلی وو چی تۀ طلاقه ئی !! ولـی عـمـر فاروق - رضی اللّٰه عنه - ددۀ طلاق واقع نۀ ګڼل۔ او ددی علت صرف همدغه وو چی دا کس په دی نۀ پو هیدۀ چی په دی سره ګنی زما ځخه ښځه طلاقیږی۔

لکه د قیصی الفاظ داسی دی :

قالت امرأة لزوجها : سمنی فسماها الظبية، فقالت : ما قلتَ شيئًا، قال : فهات ما أسميكِ به، قالت : سمنی خليةً طالقًا، قال : أنتِ خلية طالق، فأتت عمر بن الخطاب فقالت : إن زوجی طلقنی فجاء زوجها فقص عليه القصة فأوجع عمر رأسها وقال لزوجها : خذ بيدها وأوجع رأسها .

(یوی ښځی خپل خاوند ته وویل : ماته څۀ نوم کیده ! هغه ورته ظبیه (هوسئ) نوم کیښودۀ، نو ښځی وویل : دا خو دی هیڅ نوم راته ونۀ ویل۔سړی ورته وویل : نو تۀ ووایه چی څۀ نوم درته کیدم ؟ ښځی ورته وویل : ماته خلیه طالق (یعنی خلاصه شوی او طلاقه شوی) نوم کیده، سړی ورته وویل : (صحیح ده) تۀ آزاده ئی او طلاقه ئی۔(ددی نه فوراپس) دا ښځه عمر فاروق – رضی الله عنه – ته راغله او هغۀ ته ئی دا ټوله قیصه ذکر کړه۔ عمر رضی الله عنه ددی ښځی سر ودردول (یعنی وی وهله) او خاوند ته ئی وویل : چی دَ لاس نه ئی اونیسه او سر ئی درد مند کړه)۔

(سنن سعيد بن منصور : ۱۸۷/۱، كنز العمال ۲۷۹۰۸، ۲۷۹۰۸، زاد المعاد : ۱۸٦/٥، السنن الكبرى للبيهقى : ۳٤۱/۷، جامع العلوم والحكم : ۲۳/۱، إعلام الموقعين : ٦۳/۳، فتح البارى، جامع الأحاديث للسيوطى، البحر الرائق شرح كنز الدقائق، فتح القدير لابن الهمام، مجلة الجامعة الإسلامية : ۱۲٥/٤٥).

دارنګه البحر الرائق کښی دی :

وقال فى البزازية فى موضع آخر لقنته الطلاق بالعربية وهو لا يعلم أو العتاق أو التدبير أو لقّنها الزوج الإبراء عن المهر ونفقة العدة بالعربى وهى لا تعلم، قال الفقيه أبو الليث : لا يقع ديانةً. وقال مشائخ أوزجند : لا يقع أصلاً صيانة لأملاك الناس عن الإبطال بالتلبيس. (انظر البحر الرائق باب الطلاق).

(یوی ښځی خپل خاوند ته په عربئ ژبه کښی طلاق ور وښودل او هغۀ په دی باندی نۀ پو هیدو چی په دی سره طلاق واقع کیږی، یا ئی ورته غلام آزادول یا پس دَ مرګ نه دَ غلام آزادولو الفاظ ور اوښودل، یا دا چی خاوند خپلی ښځی ته دَ مهر او دَ عدت د نفقی نه په عربئ ژبه کښی ښځی ته الفاظ ور اوښودل او هغه په دی نۀ پو هیدله، نو فقیه ابو اللیث وائی : دا طلاق دیانیً (یعنی د الله په نیزد) دا کار هم نۀ واقع کیږی۔دَ اوزجند

مشائخو ویلی دی (چی دا هم احناف دی) بیخی نهٔ واقع کیږی، یعنی نهٔ دیانۃً او نهٔ قضاءً ددی لپاره چی د خلقو مالونه د ناحقه باطلولو نه محفوظ کړی شی)۔
دارنګه په دی پسی ئی یوه قیصه هم رانقل کړی چی :
قال فی التتارخانیة : وحکی عن القاضی الإمام محمود الأوزجندی عمن لقنته امرأته طلاقاً فطلقها وهو لا یعلم بذلك قال : وقعت هذه المسألة بأوزجند فشاورت أصحابی فی ذلك واتفقت آراؤنا أنه لا یفتی بوقوع الطلاق صیانة لأملاك الناس عن الإبطال بنوع تلبیسٍ.
(یعنی : د امام قاضی محمود اوزجندی نه د داسی مسئلی په باره کښی تپوس وشو نو هغهٔ وویل چی مونږ ته (قضاءً) هم داسی مسئله راغلی وه، نو ما د خپلو ملګرو (علماؤ) سره مشهوره وکړه نو د ټولو اتفاق په دی خبره راغی چی ددی کس طلاق نهٔ واقع کیږی، ددی لپاره چی د خلکو مالونه د ناحقه باطلولو نه وساتل شی)۔
د اوزجند د علماؤ د فتوی نه معلومه شوه چی قضاءً هم نهٔ واقع کیږی، ځکه چی محمود اوزجندی په دی وخت کښی قاضی وو۔
رد المحتار کښی دی : وفی فتح القدیر عن الحاوی معزیاً إلی الجامع الأصغر : أن أسدا سأل عمن أراد أن یقول : زینب طلاق فجری علی لسانه عمرة، علی أیهما یقع الطلاق ؟ فقال : فی القضاءِ تطلق التی تسمی، وفیما بینه وبین اللّٰه تعالیٰ لا تطلق واحدة منهما، أما التی سمی فلأنه لم یردها، وأما غیرها فلأنها لو طلقت طلقت بمجرد النیة. (رد المحتار : ۴۲۵/۲، البحر الرائق).
دارنګه رد المحتار کښی دی : لو قالت لزوجها : اقرأ علی اعتدی أنت طالق ثلاثاً ففعل، طلقت ثلاثاً فی القضاءِ لا فیما بینه وبین اللّٰه تعالیٰ إذا لم یعلم الزوج ولم ینو. (بحر عن الخلاصة. رد المحتار : ۴۲۵/۲).
زمونږ دَ تجربی مطابق نوی (۹۰) فیصده خلق په جګړه او سخته غصه کښی طلاق ورکوی، طلاق ورکونکی خپله غصه سړوی چی ددی قرینی او مقتضی الحال نه په ښکاره معلومیږی چی ددهٔ ددی الفاظو نه چی ((تهٔ طلاقه ئی، تهٔ طلاقه ئی، تهٔ طلاقه ئی)) دی ویلو سره ددهٔ تاکید اوتنبیه غرض وی، نور څهٔ نهٔ۔نو تر څو چی دی کس د دری طلاقو نیت نهٔ وی کړی، تر هغو پوری ئی په تاکید حملول پکار دی۔

کله چې طلاق ورکونکی په دې خبره تصریح کوي چې زما درې طلاقه مقصد نهٔ وو، زما صرف تاکید غرض وو، نو په دې صورت کښې خو خامخا پکار دي چې دا په تاکید باندې حمل کړې شي۔

فقهاؤ هم ویلي چې کهٔ (أنت طلاق، انت طلاق، انت طالق) یا تهٔ طلاقه ئې، تهٔ طلاقه ئې، تهٔ طلاقه ئې – یا طلاق، طلاق، طلاق، دارنګه ددې پشان نور الفاظ د تاکید دپاره وویل شي نو په دې صورت کښې یو طلاق واقع کیږي۔ البته په بعضې کتابونو کښې دا هم ورسره راغلي چې دا قضاءً نهٔ بلکه صرف دیانةً دي۔ لکه د هغوئ عبارتونه په دې طریقه دي :

امام نوويؒ په منهاج الطالبین کښې لیکي : وإن قال : أنت طالق، أنت طالق، أنت طالق وتخلل فصل فثلاث، وإلا فإن قصد تاكيد فواحدة.(منهاج الطالبين، ص : ۱۰۷).

(کهٔ چیرې یو سړي خپلې ښځې ته ووائي : تهٔ طلاقه ئې، تهٔ طلاقه ئې، تهٔ طلاقه ئې، او ددې په مینځ کښې ئې فصل او جدائي راوستله، نو په دې وخت کښې درې طلاقه واقع کیږي، اوکهٔ ده د تاکید په غرض ویلي وي نو په دې صورت کښې یو طلاق واقع کیږي)۔

مشهور مفسر خطیب شربینيؒ په مغني المحتاج کښې لیکي :

و إن أتى بثلاث جمل تكرر فيها لفظ المبتدأ أو الخبر، كأن قال لمدخول بها : أنت طلاق أنت طلاق أنت طالق، وتخلل فصل فثلاث، سواء أقصد التأكيد أم لا، لأنه خلاف الظاهر لكن إذا قال : قصدتُ التاكيد فإنه يدينُ فإن تكرر لفظ الخبر لقط كأنت طالق طالق طالق فكذا عند الجمهور.

(کهٔ یو کس داسې درې جملې ذکر کړي چې په هغې کښې د هرې جملې لپاره مستقله مبتداء او خبر تکرار شوي وي، لکه خپلې مدخول بها ښځې ته ووائي : تهٔ طلاقه ئې، تهٔ طلاقه ئې، تهٔ طلاقه ئې، او ددې په مینځ کښې ئې جداوالي هم راوستل نو په دې صورت کښې درې طلاقه واقع کیږي، برابره خبره ده کهٔ تاکید ئې غرض وي اوکهٔ نهٔ وي۔اوکهٔ دهٔ وویل چې زما تاکید غرض وو، نو دیانةً به ددهٔ خبره منلې شي۔

(مغني المحتاج : ۳۱/۵، للخطيب الشربينيؒ).

امام ابن قدامه مقدسيؒ فرمائي :

فصل : فإن قال : أنت طالق طالق طالق وقال : أردت التوكيد قبل منه، لأن الكلام يكرر للتوكيد كقوله عليه السلام : فنكاحها باطل باطل باطل، وإن قصد الإيقاع، وكرر الطلقات، طلقت ثلاثاً، وإن لم ينو شيئًا لم يقع إلا واحدة. (المغنی : ٢٣٢/٧).

(یعنی : کۀ یو سړی خپلې ښځې ته ووائی چې تۀ طلاقه ئې، طلاقه ئې، طلاقه ئې، او بیا ووائی چې زما په دې سره تاکید غرض وو، نو ددۀ دا خبره به منلی شی، ځکه په کلام کښې تکرار راتلی شی، نبی کریم ﷺ هم یوه کلمه درې ځله صرف د تکرار لپاره ویلې ده لکه هغه فرمائی : کومه ښځه چې د ولی د اجازې نه بغیر نکاح وکړی، نو ددې نکاح باطله ده، باطله ده، باطله ده.

کۀ د درې طلاقو نیت ئې وی نو بیا درې طلاقه واقع کیږی، کۀ داسې ئې وویل چې تۀ طلاقه ئې، تۀ طلاقه ئې، تۀ طلاقه ئې خو په دې سره ئې نه د درې طلاقو نیت وو او نۀ د یو طلاق، نو په دې صورت کښې صرف یو طلاق واقع کیږی).

د سعودی مفتی اعظم ﷺ په فتاویٰ اسلامیه کښې ویلی :

جمهور أهل العلم على أن الطلقات الثلاث تقع على الزوجة إذا كانت فى العدة، سواء أوقعها الزوج بكلمة أو كلمات إلا إذا ألقاها بكلماتٍ تحتمل أنه أراد الكلمة الثانية وما بعدها ذلك التأكيد مثل قوله : أنت طالق طالق طالق، أو أنت مطلقة مطلقة مطلقة، وما أشبه ذلك، فإنه والحال ما ذكر لا يقع على زوجته بذلك إلا طلقة واحدة ويعتبر اللفظ الثانی ومابعده تأكيدًا للفظ الأول إذا كان الزوج لم يرد بذلك إيقاع بل أراد التأكيد أو إفهام المرأة، أولم يرد شيئًا بل كرر ذلك من أجل الغضب أو قصد غير إيقاع الثلاث. (٣٧٥/٣).

یو بل ځای کښې داسې فرمائی :

إن الطلاق بلفظ : طالق، طالق، طالق. أو مطلقة، مطلقة، مطلقة إذا لم ينو به الزوج إيقاع الثلاث يقع به طلقة واحدة.

(یعنی : په دې الفاظو سره طلاق چې تۀ طلاقه ئې، تۀ طلاقه ئې، تۀ طلاقه ئې، یا داسې ووائی چې تۀ طلاقه شوې ئې، تۀ طلاقه شوې ئې، تۀ طلاقه شوې ئې. کۀ چیرې دې سړی د درې طلاقو نیت نۀ وی کړی نو صرف یو طلاق رجعی واقع کیږی. (وګوره : جوانب من سيرة ابن باز).

په منار السبیل شرح الدلیل للشیخ ابراهیم بن محمد بن سالم بن ضویان کښې راځي :
وإن قال : أنت طالق، طالق، طلاق : فواحدة لعدم ما يقتضى المغايرة، فيقع ما نواه لأن لفظه يحتمله.

(کهٔ یو سړی خپلې ښځې ته ووایي : تهٔ طلاقه ئې، تهٔ طلاقه ئې، تهٔ طلاقه ئې۔نو دا یو طلاق شماریږي، ځکه په دې کښې فرق نشته، او په دې الفاظو کښې د تاکید احتمال هم شته، نو دهٔ چې څرنګه نیت کړي وي همغه شان واقع کیږي)۔

په الاشباه والنظائر کښې ابن نجیم المشهور په ابو حنیفه ثاني باندې، دَ الفروع د عنوان لاندې لیکي :
ولو كرر لفظ الطلاق فإن قصد الاستئناف وقع الكل أو التأكيد فواحدة ديانةً والكل قضاءً وكذا إذا أطلق. (الأشباه والنظائر لابن نجيم).

یو بل ځای لیکي : قال أصحابنا رحمهم الله (أي الحنفية) : لو قال لزوجته : أنت طالق طالق طالق طلقت ثلاثاً، فإن قال : أردت به التاكيد صُدّق ديانة لا قضاءً. (۱۴۹/۱).

(کهٔ یو سړی خپلې ښځې ته ووایي : تهٔ طلاقه ئې، تهٔ طلاقه ئې، تهٔ طلاقه ئې۔نو په دې سره درې طلاقه واقع کیږي، او کهٔ ده ووایل چې په دې سره زما تاکید غرض وو، نو دیانةً به دهٔ خبره منلې شي، قضاءً به نشي منلې)۔

مولانا اشرف علی صاحب په بهشتي زیور (۲۲/۴) کښې لیکي :
((کهٔ یو کس خپلې ښځې ته طلاق طلاق طلاق ووائي نو درې طلاقه واقع کیږي، لیکن کهٔ سړي د یو طلاق نیت کړې وي، صرف د تاکید او د مضبوطۍ لپاره ئې درې ځلې دا خبره کړې وي چې خبره ښه پخه شي نو په دې صورت کښې صرف یو طلاق واقع کیږي)۔

په درمختار دَ محمد علاء الدین الحصفکي او رد المحتار د ابن عابدین دواړو کښې دي :
لو كرر لفظ الطلاق وقع الكلُّ، فإن نوى التأكيد دُيِّنَ. (رد المحتار : ۵۰۹/۲، مطلب مسائل الاستثناء).

علامه شامي د دیانةً تعریف داسې کوي :
(قوله) : دين أي تصحُّ نيته فيما بينه وبين الله تعالىٰ، لأنه نوى ما يحتمله لفظه فيفتيه المفتي

بـعدم الوقوع. أما القاضی فلا یصدقه ویقضی علیه بـالوقوع لأنه خلاف الظاهر بلا قرینةٍ. (رد المحتار علی الدر المختار: ۳٤۱/۲).

یو بل ځای ابن عابدین ددی تشریح داسی کوی:

قـولـه کـرر لفظ الطلاق بأن قال للمدخولة: أنت طالق أنتِ طالق أ، قد طلقتك قد طلقتك أو أنـت طـالـق قد طلقتك أو أنت طالق وأنت طالق.. قوله: وإن نوی التأکید دین، أی وقع الکل قضاءً.

(یـو کـس خپـلـی وادۀ کـړی ښـځی ته په مکرر طور سره ووائی: تۀ طلاقه ئی، تۀ طلاقه ئـی، یـا ووائـی: تـۀ مـا طلاقه کړی، تۀ ما طلاقه کړی۔یا ووائی: ما یقینا تۀ طلاقه کړی تۀ طـلاقـه ئـی، (بیا ووائی چی زما تاکید غرض وو) نو کۀ دده تاکید غرض وو، نو دیانۀ به ددۀ خبـره منلی شی او قضاءً به دده خبره نۀ منل کیږی (ځکه چی قاضی خو ظاهر ته ګوری)۔ قاضی د خلکو په نیتونو څۀ خبر دی؟ (رد المحتار حاشیة ابن عابدین: ٤٦۰/۲/۲، مطلب الطلاق بعدد).

مولانا مجیب الله ندوی په اسلامی فقه کښی لیکی:

((البتـه کـۀ چا داسی وویل چی تۀ طلاقه ئی تۀ طلاقه ئی تۀ طلاقه ئی، نو کۀ چیری دده دری طلاقه ورکولو نیت نۀ وو، بلکه صرف د تاکید کول ئی مقصود وو، نو په دی صورت کښی صرف یو طلاق رجعی واقع شو))۔ (إسلامی فقه: ۱۸۲/٤).

د مـفـتـی کـفـایـت الله صـاحـب نه په کفایۀ المفتی کښی سوال شوی چی یو سړی خپلی ښـځی ته ووائی: ماتاته طلاق درکړو، درکړو، درکړو، په دی صورت کښی کوم طلاق واقع شو؟

مـفـتـی صاحب په جواب کښی ورته لیکلی: په دی صورت کښی که دی په خپله د دری طـلاقـو د نیت اقـرار ونۀ کړی نو د یو رجعی طلاق حکم به ورباندی کولی شی))۔ (کفایة المفتی: ۳۷۱/٦).

د مـذکـوره حوالو نه معلومه شوه چی کۀ یو کس خپلی ښځی ته ووائی چی: تۀ طلاقه ئـی، تـۀ طـلاقـه ئی، تۀ طلاقه ئی۔او په دی سره ئی مقصد دری طلاقه ورکول نۀ وو، بلکه صـرف تـاکـیـد او پـه طـلاق ورکـولـو کښـی مـضبـوطوالی پیدا کول غرض وو، نو پـه دی

صـورت کښـې د احـنافو، شوافعو، حنابلو، مالکیانو او نورو علماؤ په نیز صرف یو طلاق رجعي واقع کیږي۔

پـه دې کښـې داسې واقعات هم موږ ته راغلي چې یو کس خپلې ښځې ته ویلي چې تهٔ په ما طـلاقه ئې، په دې دوران کښې د ښځې او خاوند تر مینځ خبرې ګرمې شوې نو خاوند ئې په دویم ځل او دریم ځل ورته وویلي : تهٔ په ما طلاقه ئې، ددهٔ غرض اولنی طلاق وی۔

داسې کسان هم شته چې خپلې ښځې ته ئې ویلي : یو دوه، درې تهٔ په ما طلاقه ئې۔ چا طلاق ویلي او دې سره ئې درې کاڼي ورا چولي۔

چا صرف طلاق طلاق طلاق ویلي۔دارنګه ددې پشان نور الفاظ۔

لیـکن کله چې په حلالو آموخته مفتیانو ته راشي نو هغوئ په دې صورت کښې هم د درې طـلاقـه واقـع کیـدو فتـویٰ ورکـوی !! نهٔ د نیت تپوس کوی اونهٔ د حال، نه د واقعې او قرینې څخه ځان خبروی !!

د دوئ فتویٰ بس هم دا وی چې درې طلاقه واقع شوې، د حلالې نه بغیر نهٔ جائز کیږي !!

حـال دا چـې ددې سـړي، نـهٔ درې طلاقه مقصد وو، نهٔ ئې د درې طلاقو نیت کړې اونهٔ ئې درې طـلاقـه ورکـړې۔ بـلـکـه دده د حال نه په ښکاره معلومیږي چې ددهٔ په طلاق ورکولو کښې تاکید غرض وو۔

علامه ابن حزم په المحلی کښې لیکي :

مسـألة : فـلو قال لموطوئةٍ : أنت طالق أنت طالق أنت طالق، فإن نوى التكرير لكلمته الأولى وإعـلامها فهي واحدة، و كذلك إن لـم ينو بتكراره شيئًا فإن نوى بذلك الكل طلقة غير الأخرى فهي ثلاث.

(کهٔ یـو کـس خپـلـې داسې ښځې ته ووائي چې د هغې سره ئې جماع کړې وی : تهٔ په ما طـلاقـه ئـې، تـهٔ په ما طلاقه ئې، تهٔ په ما طلاقه ئې، نوکهٔ په دې سره ئې تاکید او دَ ښځې ښـهٔ خبـرول غـرض وو، یـا ئـې پـه دې سره نهٔ د یو طلاق نیت وو اونهٔ د ډیرو، نو په دې ټولو صورتونو کښې صرف یو طلاق رجعي واقع کیږي۔ البته کهٔ په دې سره ئې د هریو طلاق نه جدا جدا طلاق ورکول مقصد وو، نو بیا درې طلاقه واقع کیږي)۔

(المحلی : ۱۰/۱۷٤).

دی باره کښی کهٔ څوك دا ووائی چی نن صبا اکثره خلك فاسقان دی نو آیا د دوئ د تاکید خبره به منلی کیږی ؟ نو ددی جواب علامه آلوسیؒ د روح المعانی مؤلف په خپل تفسیر کښی د (الطلاق مرتان) لاندی د حافظ ابن حجر عسقلانیؒ په عبارت نقل کولو سره ورکړی، لکه هغه لیکی :

فإن صریح مذهبنا تصدیق مرید التأکید بشرطه وإن بلغ فی الفسق ما بلغ.

(یعنی : دی باره کښی کهٔ هر څومره غټ فاسق دا خبره وکړی چی زما مقصد تاکید وو، نو د هغهٔ خبره به منلی کیږی)۔(روح المعانی : ۱۳۷/۲).

تنبیه : دلته دا خبره قابلِ ذکر ده چی دَ احنافو مذهب دادی چی کهٔ یو کس دری طلاقه ورکړی او بیائی بل کس ته په دی شرط په نکاح ورکړی چی دا ښځه به دوه، دری ورځی په نکاح اخلی، یابه صرف یو ځلی جماع ورسره کوی، او ماته به ئی بیرته را طلاقوی، نو په دی سره د اولنی خاوند لپاره بالکل جائز کیږی، او فتویٰ د امام ابو حنیفه او زفر په قول ده۔د امام ابو حنیفه نه د امام زندوستی په حواله نقل دی چی داسی شرط لګول جائز دی او په نورو کتابونو کښی ورنه نقل دی چی په دی شرط نکاح کول مکروهه دی، البته د اولنی خاوند لپاره خو په هر صورت کښی جائز کیږی۔(ددی خبرو حوالی دَ حلالی په بحث کښی راځی)۔

په رد المحتار کښی دی : کهٔ ښځه ددی نه ویریږی چی د حلالی نه پس به ماته طلاق رانکړی نو ددی لپاره چی بیرته خپل خاوند ته ځان په نکاح ورکړی، داسی شرط د حلالی (دَ کرائی په ملعون ګڼل) لګولی شی چی زهٔ په دی شرط تاسره نکاح کوم چی دَ طلاق اختیار به زما وی، نو چی کله ئی دی سره جماع وکړه، نو دی نه پس به (دَ خیره سره) ښځه خپل ځان ته طلاق ورکړی۔((هُم خرما او هُم ثواب !!)) دا شرط نهٔ فاسدیږی۔

(رد المحتار ۵٤٠/۲، فتاویٰ حقانیه : ٤٨٤/٤).

د اجماع دعویٰ :

سوال: د ډیرو ملایانو نه اورو چی په یو ځل د دری طلاقو په وقوع باندی اجماع شوی ،نو ځکه په یو ځل دری طلاقه باید په دری طلاقو حساب کړل شی، سوال دادی چی آیا

په رشتيا هم په يو ځل د درې طلاقه، درې ګرځيدو باندې اجماع شوې؟ ـ
جواب: دې باره کښې مـوږ اول دا خبره بيانوو چې دوئ (خصوصاً حنفي مقلدين) ولې د اجماع دعوې کوي ؟ نو دَ امام ابن حزم رحمه الله خبره ده چې د مقلدينو مثال داسې لکه په يو لـوى سـمـندر کښـى غـرقيـدونکى کس چې د خپل ځان د نجات لپاره هر څۀ ته لاس وراچـوى ! دوئ هـم داسـې دي چـې څـۀ ورته په لاس ورځي نو دې باره کښې ئې د دليل په توګه وړاندې کوي۔
قال أبو محمد : المقلدون كالغرقیٰ، فأی شئ وجدوه تعلقوا به. (الإحكام : ٥٢٦/٤).
دا غـريبـانـان هـم بـس د خپـل مذهب د نصرت لپاره د هر څۀ نه استدلال کوى او دَ هر څۀ دعوې کوي۔
دوئ د ((طـلاقِ ثـلاثـه)) پـه بـاره کښـې د اجماع دعوې ولې کوي ؟ نو راشئ ددې جواب د شيخ الاسلام ابن القيم رحمه الله نه واورئ هغه ليکي :
فلما رأى آخرون ضعف هذه المسالك استراحوا إلى مسلك آخر وظنوا أنهم قد استراحوا به من كلفة التأويل ومشقته، فقالوا : الإجماع قد انعقد على لزوم الثلاث.
(يـعـنـى : دوئ تـه چـې کله د خپل دلائلو کمزورتيا معلومه شوه نو د يوى بلې دعوى په طرف ئې په دې ګمان توجه وکړه چې ګني ددې سره به دوئ د تاويلونو د تکليف نه په آرام شي، نو دعوې ئې وکړه چې د درې طلاقو په وقوع باندې اجماع ده۔
(إغاثة اللهفان : ٣١٩/١).
دا خـو هسې يوه خارجي خبره وه، اوس به راشو ديته چې په يو ځل د درې طلاقو په واقع کيدو اجماع شوې ده اوکۀ نه ؟
نـو ددې لپـاره چـې دا خبـره ښـه واضـحه شي، مونږ به ان شاء الله دلته يو څو بحثونه ذکر کړو۔
۱ – اول بحث :
آيـا اجـمـاع حـجـت ده اوکـۀ نـه ؟ نـو دې باره کښې لنډ حکم دادې چې يو لکه د مقلدينو صاحبانو نفسَ د اجماع دعوى کول دي، او يو په رشتيا سره اجماع امت ده۔
نـو اولاً : صـرف د دعـوو والا اجـمـاع تـه خـو هيـڅ اعتبار نشته، بلکه په بې علمئ سره دَ

اجماع دعویٰ کول، یا په دی وجه د اجماع دعویٰ کول چی دویٔ ته په دی کښی خلاف معلوم نهٔ وی، نو دا ډیر خطا او غلط کار دی۔ددی وجی نه علامه ابن حزم په خپل کتاب الاحکام کښی ځای په ځای مقلدینو ته غصه کیږی، لکه هغه یو ځای لیکی :
ويا معشر مَن لا يستحيى من الكذب ! أين الإجماع الذى تدعونه ؟ (إحكام الأحكام : ٥١٧/٤).
او فرمائی : فظهر كذب من ادّعى أن ما لا يعرف فيه خلاف فهو إجماع. (إحكام الأحكام : ٥٤٣/٤).
یوه بله مسئله کښی لیکی : وأما نحن فدعوى الإجماع عندنا فى مثل هذا إفك و كذب، وجرأة على التجليح بالكذب على جميع أهل الإسلام، ولا ينكر الوهم بالاجتهاد، والخطأ مع قصد إلى طلب الحق والخير على أحد بعد رسول الله ﷺ، ولا نقول فى شئ من الدين إلا بنص : قرآن أو سنة ثابتة عن رسول الله ﷺ، ولا نبالى من خالف فى ذلك، ولا نكترث بمَن ولولا، وما، (إحكام الأحكام :٥٢٠/٤).
شیخ البانی رحمه الله په (احکام الجنائز) کښی یو ځای لیکی :
إننى سبرت كثيرًا من المسائل التى نقلوا الإجماع فيها، فوجدت الخلاف فيها معروفًا، بل رأيتُ مذهب الجمهور على خلاف دعوى الإجماع فيها.
(ما ډیر داسی مسائل وکتل چی مقلدینو په کښی د اجماع دعویٰ کړی، کیکن په هغو کښی د علماؤ ښکاره اختلاف موجود وی، بلکه دَ جمهورو مذهب می په کښی دَ اجماع دَ دعوی په خلاف ولیدل!!)۔
ثانیًا : کومه اجماع چی دَ قرآن اوسنت نه ماخوذه وی نو دا یقینا ً چی حجت ده، علامه ابن حزم رحمه الله څومره کلك ظاهری دی، هغه هم دَ اجماع په حجیت قائل دی۔لکه هغه فرمائی :
ولا شك فى أن إجماع الصحابة – رضى الله عنهم – إجماع صحيح. (إحكام الأحكام : ٥٠٩/٤).
(په دی کښی هیڅ شك نشته چی د صحابه کرامو – رضی الله عنهم – اجماع صحیح حجت دی)۔

ثـم اتـفقنا نحن وأكثر المخالفين لنا على أن الإجماع من علماءِ أهل الإسلام حجة. (إحكام الأحكام: ٤٩٤/٤).

بل ځای لیکی: ونـحـن لـم نـخالفهم فى صحة الإجماع، وإنما خالفناهم فى موضعين من قـولهـم، أحدهما: تجويزهم أن يكون الإجماع على غير نص. والثانى: دعواهم الإجماع فى مـواضـع ادعـوا فيـه البـاطـل، بـحيـث لا نقطع أنه إجماع بلا برهان. إما فى مكان قد صح فيه الاختلاف موجودًا، وإما فى مكان لانعلم نحن فيه اختلافاً إلا أن وجود الاختلاف فيه ممكن. (إحكام الأحكام: ٤٩٧/٤).

حافظ ابن حجرؒ فرمائی: د اهلِ سنتو په دی اجماع ده چی د صحابه کرامو اجماع حجت ده۔(فتح الباری)۔

۲۔دویم بحث: اجماع کله ثابتیږی ؟

نـوپـه یـوه مسـئـلـه کښـی اجماع ثابتول ډیر زور غواړی، ددی وجی نه امام احمدؒ او نورو علماؤ د اجماع دعویٰ کونکی ته د ډیر احتیاط کولو تلقین کړی، هغویٔ فرمائی:

قال عبد الله بن أحمد بن حنبل: سمعت أبى يقول: ما يدعى فيه الرجل الإجماع فهو كذِب، مـن ادعـى الإجـمـاع فهـو كـاذب،لـعل الناس اختلفوا، ما يدريه ولم ينته إليه؟ فليقل: لا نعلم الناس اختلفوا. (إعلام الموقعين، رواية ابنه عبد الله فى مسائله، ص: ٣٩٠).

(کـومـه مسـئـلـه کښی چی څوك د اجماع دعویٰ کوی، نو دا دروغژن دی، څوك چی (بی تـحـقیـقـه پـه هـر څـهٔ کښـی) د اجـمـاع دعـویٰ کـوی دا دروغـژن دی، کیدی شی چی خلـکـو(علماوو) په کښی اختلاف کړی وی او دی وریاندی خبر نهٔ وی، یا دهٔ ته اختلاف نهٔ وی رسیـدلـی، (پـه داسی قِسـم مسـئـلـه کښـی) داسـی ویـل پـکار دی چی: ماته پکښی اختلاف معلوم نهٔ دی)۔

(إعلام الموقعين).

شیخ البانی رحمه الله د امام احمدؒ د خبری ذکر کولو نه پس فرمائی:

وصـدق – جـزاه الله خيـرًا – فـكـم مـن مسـألة ادعـى فيها الإجماع ثم تبين أنها من مسائل الـخـلاف وقد ذكرنا أمثلة منها فى بعض مؤلفاتنا مثل أحكام الجنائز، وآداب الزفاف، وغيرها (تمام المنة فى بيان زكاة عروض التجارة).

د اصول فقه حنفی په مشهور کتاب نور الانوار، : ۲۱۹ مخ کښی دی :
والشرط إجماع الكل وخلاف الواحد مانع كخلاف الأكثر.
(دَ اجماع په وجود کښی شرط دادی چی ټولو علماؤ به اتفاق کړی وی، کهٔ یو کس اختلاف وکړو نو دابه - د اجماع په انعقاد کښی - داسی مانع وی لکه چی د ټولو اختلاف مانع دی)۔
امام شوکانی ؒ فرمائی : کهٔ یو مجتهد هم اختلاف وکړو، نو د جمهورو په نیز دا اجماع نهٔ پاتی کیږی۔(إرشاد الفحول، ص : ۷۸).
یوسف القرضاوی لیکی : غیر یقینی اجماع سره کهٔ موږ د څهٔ دلیل په وجه اختلاف وکړو نو په دی کښی څهٔ حرج نشته۔ (فقه الزکاة : ۷٦/۱).
امام غزالی ؒ فرمائی :
مسألة : إذا خالف واحد من الأمة أو اثنان لم ينعقد الإجماع دونه، فلو مات لم تصر المسألة إجماعاً خلافاً لبعضهم. (المستصفى مع فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت : ۲۰۲/۱).
یو بل ځائی لیکی : مسألة : الإجماع من الأكثر ليس بحجةٍ مع مخالفة الأقل، وقال قوم : هو حجة وقال قوم : إن بلغ عدد الأقل عدد التواتر اندفع الإجماع وإن نقص فلا يندفع. والمعتمد عندنا أن العصمة إنما تثبتُ للأمة بكليتها، وليس هذا إجماع الجميع بل هو مختلف فيه، وقد قال تعالى : ﴿ وما اختلفتم فيه من شئ فحكمه إلى الله ﴾.
اوس ګورو چی د دری طلاقو په واقع کیدو باندی اجماع ده کهٔ اختلاف ؟
نو په یو ځل د دری طلاقو ورکولو په صورت کښی د دری طلاقو په دری شمارلو باندی د اجماع دعوی کول غلط دی۔
تاسو ته به راشی چی دی کښی څو مذهبه دی، دارنګه تاسو به هغه صحیح حدیثونه هم ګورئ چی په خپله رسول الله ﷺ دری طلاقه په یو طلاق رجعی حساب کړی۔دارنګه د دین اسلام د هغه علماؤ فتوی به هم وګورئ چی په یو ځل دری طلاقه په یو طلاق رجعی حسابوی۔

دَ مزعومه اجماع حقیقت

اوس دلته مزید تحقیق وګوره چی دی باره کښی د مزعومه اجماع څهٔ حقیقت دی ؟

نو د ابن عباس – رضی الله عنه – نه په صحیح سند سره نقل دی چی هغۀ به په یو ځل دری طلاقه یو طلاق رجعی ګڼل۔(تفصیل به ئی ورسته راشي ، انشاء الله)۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : نقل ذلك عن علی وابن مسعود وعبد الرحمن بن عوف والزبیر مثله.

(د علی، ابن مسعود، عبد الرحمن بن عوف او زبیر – رضی الله عنهم – نه هم داسی نقل دی چی په یو ځل دری طلاقه په یو طلاق رجعی حسابیږی)۔ (فتح الباری : ۳٦۳/۹).

په دی باره کښی مشهور عالم امام ابن المنذر المتوفی سنی (۲۰۹) هـ په (الاشراف علی مذاهب اهل العلم) کښی لیکی :

واختلفوا فی الرجل یقول لامرأته المدخول بها : أنت طالق أنت طالق أنت طالق، فقالت طائفة : إن أراد واحدة فهی واحدة. وفيه قول ثان.. وفيه قول ثالث .. (الإشراف على مذاهب أهل العلم لابن المنذر : ۱٤٤/۱).

(یعنی د علماؤ په دی کښی اختلاف دی چی یو کس خپلی مدخول بها (وادۀ کړی) ښځی ته اووائی : تۀ طلاقه ئی، تۀ طلاقه ئی، تۀ طلاقه ئی۔ چی په دی سره دری طلاقه واقع کیږی اوکۀ یو ؟ نو په دی کښی دری مذهب دی)۔

علامه شوکانیؒ په نیل الأوطار : ۱٦/۷، کښی فرمائی :

((د اهل علمو دَ یوی ډلی رائی داده چی په یو ځل دری طلاقه دری نۀ واقع کیږی، بلکه صرف یو طلاق رجعی واقع کیږی، او همدا خبره صاحب البحر د ابو موسیٰ اشعریؓ نه هم نقل کړی، او د علیؓ بن ابی طالب نه ئی هم روایت کړی، دارنګه د ابن عباسؓ، طاووسؒ، عطاءؒ، جابر بن عبد اللهؓ، هادیؒ، قاسمؒ، ناصرؒ، احمد بن عیسیؒ او د عبد الله بن موسیؒ نه هم نقل ده، او دَ زید بن علیؒ نه هم یو روایت راغلی۔

دَ متاخرینو یو جماعت هم دی طرفته تللی دی چی د دوئ نه (شیخ الاسلام) ابن تیمیۀؒ، ابن القیمؒ او د محققینو یو جماعت دی۔ ابن مغیث په کتاب الوثاق کښی د ابن وضاحؒ نه همدا خبره نقل کړی۔

محمد بن تقی او محمد بن عبد السلامؒ او د قرطبی د نورو علماؤ نه هم داسی فتویٰ نقل ده، ابن المنذرؒ د ابن عباسؓ د شاګردانو مثلاً عطاء، طاووس، عمرو بن دینار او عطاء بن

مغیث نه هم دا نقل ذکر کړیده۔ابن مغیث په دی کښی په دی سلسله کښی د ابن مسعود، عبد الرحمن بن عوف اوزبیر بن عوام – رضی الله عنهم – نومونه هم اخستی دی))۔ (نيل الأوطار : ٦١/٧).

دَ فقه علی المذاهب الاربعہ مصنفؒ لیکی :

وخالفهم فی ذلك بعض المجتهدين كطاووس وعكرمة وابن إسحاق وعلى رأسهم ابن عباس – رضی الله عنهم – فقالوا : إنه يقع به واحدة لا ثلاث، ودليل ذلك ما رواه مسلم عن ابن عباس قال : كان الطلاق على عهد رسول الله ﷺ وأبی بكر وسنتين من خلافة عمر طلاق الثلاث واحدة فقال عمر : الناس قد استعجلوا فی أمر كان لهم فيه أناة فلو أمضيناه عليهم فأمضاه عليهم. وهذا الحديث صريح فی أن المسألة ليست إجماعية وهو كذلك، فإنه رأی ابن عباس وطاووس وعكرمة وبعض المجتهدين.

(یعنی جمهورو علماؤ په یو ځل دری طلاقه دری ګڼی، او د دوئ نه بعضی نور مجتهدینو خلاف کړی، لکه طاووس، عکرمه، ابن اسحاق او د دوئ مشر ابن عباس – رضی الله عنهم – (دوئ ټول وائی) په یو ځل دری طلاقه ورکولو سره صرف یو طلاق واقع کیږی، نهٔ دری۔

د دوئ دلیل هغه حدیث دی کوم چی مسلم روایت کړی : ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : د نبی کریم ﷺ په زمانه کښی او د ابو بکر صدیق – رضی الله عنه – په زمانه کښی او د عمر فاروق – رضی الله عنه – دَ خلافت په ابتدائی دوه (بل روایت د مسلم وغیره کښی دری) کلونو پوری به په یو ځل دری طلاقه یو رجعی طلاق حسابیدل، (د عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کښی خلکو پرله پسی دری طلاقونه ورکول شروع کړل) نو عمر فاروق رضی الله عنه د ملګرو سره مشوره وکړه چی د خلکو لپاره د سوچ او فکر مهلت وو، نو په دی کښی دوئ د تادئ او تلوار نه کار واخستل، کهٔ دا دری په دوئ نافذ کړی شی نو ښهٔ به وی، نو په خلکو ئی دری نافذ کړل۔

نو دا حدیث په دی مسئله باندی صریح دلیل دی چی دا اجماعی مسئله نهٔ ده، ځکه دا د ابن عباس رضی الله عنه او طاووس، عکرمه او نورو بعضی مجتهدینو قول دی)۔

په دی پسی لیکی :

ولكن الواقع أنه لم يوجد إجماع فقد خالفهم كثير من المسلمين، ومما لا شك فيه أن ابن عباس من المجتهدين الذين علهم المعول فى الدين فتقليده جائز كما ذكرنا ولايجب تقليد عمر فيما رآه لأنه مجتهد وموافقة الأكثرين له لا تحتم تقليده.

(واقعي خبره داده چې په يو مجلس كښې د درې طلاقو په واقع كيدو باندې قطعاً اجماع نۀ ده راغلې، د مسلمانانو كثير تعداد ددې مخالفت كړې، او په دې كښې هم شك نشته چې ابن عباس رضى الله عنه هم د هغو مجتهدينو څخه دې په كومو باندې چې دَ دينى مسائلو كښې اعتماد كيدې شي نو د هغه خبره منل هم جائز دي.

امام نظام الدين نشاپورى په خپل تفسير كښې ليكي:

(: په علماؤ كښې بعضې وائي: چې د يو مجلس دوه يا درې طلاقه صرف يو طلاق حسابيږي، (د دوئ) دا خبره بالكل د قياس موافقه ده، او دا د اهل بيتو ډيرو علماؤ مذهب دي.(تفسير غرائب القرآن ورغائب الفرقان: ۲/۲۲٦).

د سعودي عرب مفتى اعظم علامه ابن باز رحمه الله هم داسې فتوىٰ وركوى:

وذهب إلى هذا القول ابن عباس رضى الله عنهما فى رواية صحيحة عنه إلى قول الأكثر فى الرواية الأخرى عنه ويروى هذا القول بجعلها واحدة عن على وعبد الرحمنم بن عوف والزبير بن العوام – رضى الله عنهم – وبه قال جماعة من التابعين ومحمد بن إسحاق صاحب السيرة وجمع من أهل العلم من المتقدمنين والمتأخرين، واختاره شيخ الإسلام وتلميذه ابن القيم. (فتاوى إسلامية: ۳/۲۷۱).

امام رازى په خپل تفسير كښې ليكي: ثم القائلون اختلفوا على قولين، الأول: هو اختيار كثير من علماءِ الدين: أن لو طلقها اثنين أو ثلاثا لا يقع إلا واحدة.

(يعنى: دَ دين دَ ډيرو علماؤ قول دادي چې: څوك خپله ښځه دوه يا درې طلاقه وركړې، نو صرف اوصرف يو طلاق واقع كيږي).

علامه عبد الحى لكهنوىؒ ليكي:

والقول الثانى: أنه طلق ثلاثاً يقع واحدة رجعية، وهذا هو المنقول عن بعض الصحابة وبه قال داود الظاهرى وأتباعه وهو أحد القولين لمالك وأصحاب أحمد.

(يعنى: دويم قول دادي چې په يو ځل درې طلاقه يو طلاق رجعي واقع كيږي، دا خبره د

ځینی صحابه کرامو (رضی الله عنهم) نه نقل شوی، د داود ظاهری رحمه الله او د هغهٔ د متبعینو هم دا رائیه ده، د امام مالك رحمه الله هم یو قول دادی، او د بعضی حنابلو هم دا قول دی۔ (عمدة الرعاية حاشية شرح الوقاية : ۷۱/۲).

امیر المؤمنین فی الحدیث امام بخاری رحمه الله هم دا مسئله اجماعی نهٔ ګنی، لکه هغه په خپل صحیح کښی داسی باب راوړی : باب من أجاز طلاق الثلاث.

(یعنی ددی خبری بیان چی څوك په یو ځل دری طلاقه دری ګنی)۔

حافظ ابن حج رحمه الله ددی په شرح کښی فرمائی :

وفی الترجمة إشارة إلى أن من السلف من لم يجز وقوع الطلاق الثلاث.

(یعنی : امام بخاری رحمه الله په خپل دی عنوان سره دی خبری ته اشاره کوی چی په سلفورحمهم الله کښی څهٔ علماء داسی هم شته چی په یو ځل دری طلاقه دری نهٔ ګنی)۔ (وګوره : فتح الباری : ۲۸۹/۹).

حافظ ابن القیمؒ په اعلام الموقعین کښی او د هغهٔ نه علامه شمس الحق عظیم آبادی په عون المعبود کښی نقل کړی، دی دواړو ویلی :

لم يزل فيهم – أى فى السلف – مَن يُفتى به قرنًا بعد قرن وإلى يومنا هذا فأفتى به حبر الأمة عبد الله بن عباس، وأفتى أيضًا بالثلاث أفتى بهذا وهذا وأفتى بأنها واحدة الزبير بن العوام وعبد الرحمن بن عوف، حكاه عنهما ابن وضاح، وعن على وابن مسعود روايتان كما عن ابن عباس. وأما التابعون فأفتى به عكرمة وأفتى به طاؤس. وأما تابعو التابعين فأفتى به محمد بن إسحاق حكاه الإمام أحمد وغيره عنه، وأفتى به خلاس بن عمرو والحارث العكلى. وأما أتباع تابعى التابعين فأفتى به داود بن على وأكثر أصحابه، حكاه عنهم ابن المغلس وابن حزم وغيرهما وأفتى به بعض أصحاب مالك، حكاه التلمسانى فى شرح التفريع لابن حلاب قولاً لبعض المالكية، وأفتى به بعض الحنفية حكاه أبو بكر الرازى عن محمد بن مقاتل، وأفتى به بعض أصحاب أحمد، حكاه شيخ الإسلام ابن تيمية عنه قال : وكان الجدُّ يفتى به أحياناً. انتهى كلامه.

د دوئ خبری خلاصه داده چی په سلفو کښی همیشه داسی کسان وو چی هغوئ په یو ځل دری طلاقه یو ګڼل۔ حبر الامۍ عبد الله بن عباس رضی الله عنه به دری طلاقه یو

طلاق رجعي ګڼلو، اوکله نا کله به ئې د عمر رضی الله عنه د فیصلې پشان - دري ګڼل. عبد الله بن زبیر او عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنهما به هم د یو طلاق واقع کیدو فتویٰ ورکوله. د علی بن ابی طالب او ابن مسعود رضی الله عنهما نه هم دوه قسمه فتوی لکه د ابن عباس رضی الله عنه نقل دي. په تابعینو، تبع تابعینو او تبع تبع تابعینو کښې ځینو علماؤ په یو ځل دري طلاقه یو طلاق رجعي ګڼلو، بعضي مالکیانو، بعضي احنافو او بعضي حنابله وو هم په یو ځل دري طلاقه په یو طلاق رجعي سره ګڼلي. (عون المعبود : ۱۹۳/۳، ونحوه فی فقه السنة).

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائي :

فإن طلقها ثلاثا أو طلقها الثانية أو الثالثة فی ذلك الطهر : فهذا حرام وفاعله مبتدع عند أكثر العلماءِ : كمالك وأبی حنيفة وأحمد فی المشهور عنه وكذلك إذا طلقها الثانية والثالثة قبل الرجعة أو العقدِ عند مالك وأحمد فی ظاهر مذهبه وغيرهما : ولكن هل يلزمه واحدة أو ثلاث ؟ فيه قولان، قيل : يلزمه الثلاث، وهومذهب الشافعی، والمعروف من مذهب الثلاثة، وقيل : لا يلزمه إلا طلقة واحدة، وهو قول كثير من السلف والخلف وقولُ طائفة من أصحاب مالك وأبی حنيفة. (مجموعة الفتاوی :۳۳/).

(کۀ څوك دري طلاقه په يو ځل ورکړي او يا دويم او دريم طلاق په همدغه طهر کښې ورکړي نو دا کار حرام دی او داسی کس د اکثرو علماؤ په نيز - لکه د امام ابو حنيفه رحمه الله، او د امام احمد رحمه الله د مشهور قول مطابق - بدعتی دی، ليکن کۀ دا کار چا وکړو نو آيا په دۀ يو طلاق لازم شو اوکۀ دري ؟ نو په دی کښې (مشهور) دوه قوله دی، چا ويلی چی دري طلاقه حسابيږي، دا د امام شافعيؒ مذهب دی او ددی نورو دري امامانو نه هم دا خبره مشهوره ده. او چا ويلی چی صرف يو طلاق ورباندی لازميږي، دا د ډيرو مخکينو او روستنو علماؤ قول دی او د بعضی مالکيانو او احنافو قول هم دی).

حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله په فتح الباری کښې ليکی :

إنه نقل عن علی وابن مسعود وعبد الرحمن بن عوف والزبير مثله، نقل ذلك ابن مغيث فی كتاب الوثائق له وعزاه لمحمد بن وضاح، ونقل الغنوی ذلك عن جماعة من مشائخ قرطبة كمحمد بن تقی بن مخلد ومحمد بن عبد السلام الخشنی وغيرهما، ونقله ابن المنذر عن

أصحاب ابن عباس، كعطاءٍ وطاووس وعمرو بن دينار. ويتعجب من ابن التين حيث جزم بأن لزوم الثلاث لا اختلاف فيه، و إنما الاختلاف فى التحريم مع ثبوت الاختلاف كما ترى، ويقوى حديث ابن إسحاق المذكور ما أخرجه مسلم.

(یعنی : ابن مغیث دا د علی، ابن مسعود، عبد الرحمن بن عوف او عبد الله بن الزبیر رضی الله عنهم نه نقل کړی او هغهٔ د محمد بن وضاح نه نقل کړی. علامه غنوی همداسی فتویٰ د قرطبی د مشهورو علماؤ د یوی ډلی – لکه محمد بن تقی بن مخلد، محمد بن عبد السلام الخشنی او نورو – نه نقل کړی. ابن المنذر رحمه الله د ابن عباس رضی الله عنه د شاګردانو : عطاء، طاووس او عمرو بن دینار – رحمهم الله – نه (هم) داسی فتوی نقل کړی. بیا حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی :

د ابن التینؒ په خبره تعجب دی چی هغهٔ دا خبره په ډیر یقین سره ویلی چی په یو ځل د دری طلاقو په واقع کیدو کښی هیڅ اختلاف نشته، اختلاف صرف په دی کښی دی چی په یو ځل ورکول حرام دی او کهٔ نه ؟ حال دا چی په دم کښی اختلاف ثابت دی لکه څرنګه چی ددی تفصیل تا ولیدهٔ). (فتح الباری : ۳٦۳/۹، طبع سلفیه).

علامه ابن القیم رحمه الله لیکی : وهذه مسألة نزاع بلا نزاع بين أهل العلم الذين أهله، والنزاع فيها من عهد الصحابة إلى وقتنا هذا. وبيان هذا من وجوه.

(یعنی : په دی کښی د علماؤ اتفاق دی چی دا مسئله اختلافی ده، او دا اختلاف د صحابو رضی الله عنهم دَ زمانی نه تر اوسه پوری را روان دی، او ددی ډیری وجی دی).

بیا ئی په دی باندی ډیر تفصیل سره په شلو وجوهو رد کړی چی څوك د طلاق ثلاثه په وقوع باندی د اجماع دعویٰ کوی، لکه هغه فرمائی :

فهذا عشرون وجهاً فى إثبات النزاع فى هذه المسألة بحسب بضاعتنا مزجاةٍ من الكتب وإلا فالذى لم نقف عليه من ذلك كثير.

(یعنی : په دی مسئله کښی د اختلاف په ثبوت باندی زموږ ددی کم علم موافق شل وجی دی، چی دا مو د کتابونو نه راجمع کړی، ګنی دی کښی ددی نه هم ډیر اقوال او دلائل دی). (إغاثة اللهفان : ۳۲۳/۱).

د اختصار په وجه په دی حوالو اکتفاء کوو، ګنی دی باره کښی ډیر څهٔ موجود دی.

زمونږ غرض په حوالو را نقل کولو کښې دادی چې کوم خلك وائی چې په یو ځل دری طلاقه دری شمارلو باندی اجماع ده، نو ددی تحقیق په رڼا کښې تاسو په ښهٔ شان اندازه لګولی شئ چې د دوئ په خبره کښې تر څومره حده پوری صداقت دی ؟

څومره علماء احنافو او نورو علماؤ دا مسئله اختلافی منلی ؟

تاسو به ووینئ چې څومره ډیرو علماؤ په یو ځل دری طلاقه یو طلاق رجعی ګڼلی !!

پـه راتلونکو عبارتونو کښې دَ (هـو قول کثیر من علماءِ الدين) (وهو قول كثير من السلف والخلف) عبارتونه په دی خبره ګواه دی۔

د یوی شبهی ازاله :

بعضی خلك وائی چې د عمر فاروق – رضی الله عنه – د فیصلی خلاف چونکه یو صحابی هم څۀ نۀ دی ویلی اونۀ ئی اختلاف کړی، نو ددی نه اجماع ثابته شوه !!

بـل ذكـر الإمـام ابن الهمام وقوع الإجماع السكوتی من الصحابة على الوقوع. (تفسیر روح المعانی تحت آية : الطلا).

لیکن دَ اجماع د ثبوت لپاره د دوئ دا قِسم استدلال کول صحیح نۀ دی، اونۀ په دی سره اجماع ثابتیدلی شی، لکه د اهلِ علمو کتابونه په دی ګواه دی۔

دا خو د احنافو یوه خود ساخته قاعده ده، چې یو صحابی یا یو عالم څۀ مسئله وکړی او باقی خلك وراندی چُپ پاتی شی نو دا هم اجماع ګڼی، اودیته اجماع سکوتی وائی !!

راشئ ددی اجماع اهمیت په خپله د احنافو نه واورئ:

ويسمّى هـذا اجماعًا سكوتيًا وهو مقبول عندنا، وفيه خلاف الشافعی. (نور الأنوار، ص : ۲۱۷).

(دیته اجماع سکوتی وائی، دا زمونږ په نیزد قبوله ده، او امام شافعی صاحبؒ په کښې اختلاف کړی)۔

په اصول فقه د عبد الوهاب (: ۱۵)مخ کښې دی : ((پاتی شوه د دویم قِسم اجماع، نو داسی اجماع اعتباری ده، د جمهورو علماؤ په نیزد داسی اجماع دلیل نۀ دی))۔

په اصول فقه الاسلامی کښې دی :

وللعلماءِ فيه خمسة مذاهب اولها : مذهب الشافعی وعیسی بن أبان والباقلانی والمالكية أنه لا يكون إجماعًا ولا حجةً.

(دَ اجماع سکوتی په باره کښی د علماؤ پنځه مذهبه دی، اول مذهب د امام شافعیؒ، عیسی بن ابان او مالکیانو دی، دوی وائی : دا نهٔ اجماع ګڼل کیږی اونهٔ خو دا حجت ده)۔

(أصول الفقه الإسلامی : ۵۵۲/۲).

په الاحکام للآمدی کښی دی : فالإجماع السكوتی ظنی.

(سکوتی اجماع ظنی ده)۔

د سبل السلام مصنف د یوی مسئلی ذکر کولو نه پس لیکی : وبهذا يعرفُ بطلان القول بأن الإجماع السكوتی حجة.

(دی نه معلومه شوه چی اجماع سکوتی حجت ګڼل باطل دی)۔

په التحرير والتنوير کښی دی :

وما أيدوه به من سكوت الصحابة لا دليل فيه، لأن الإجماع السكوتی ليس بحجة عند النحارير من الأئمة مثل الشافعی والباقلانی والغزالی والإمام الرازی.

(دوئ چی دَ دری طلاقو واقع کیدو دلائل د صحابه کرامو رضی الله عنهم د سکوت په وجه قوی کوی، نو دا د دوئ لپاره هیڅ دلیل نشی جوړیدی، ځکه سکوتی اجماع خو د معتبرو علماؤ – لکه شافعی، باقلانی، غزالی او امام رازی – په نیز دلیل نهٔ دی)۔

(التحرير والتنوير).

فتح القدير کښی ددی عبارت لاندی چی : قوله : إن لم يكن محصنًا وكان حرًا فحده مائة جلدةٍ دی : إن كون الإجماع السكوتی حجة مختلف فيه.

المستصفیٰ کښی دی : مسألة : إذا أفتى بعض الصحابة بفتوى وسكت الآخرون لم ينعقد الإجماع ولا ينسب إلى ساكت قول.

ددی نه پس ئی ددی (۷) اووه علتونه او وجوه تفصيلا ذُکر کړی۔

الموسوعۃ الفقهيۃ الكويتيۃ کښی دی :

وذهب الشافعية إلى أنه ليس بحجة فضلاً أن يكون إجماعًا، وبه قال ابن أبان والباقلانی وأكثر المالكية وأبو زيد الدبوسی من الحنفية، والرافعی والنووی من الشافعية. (الموسوعة

الفقهية الكويتية حرف الإجماع).

دَ امير المؤمنين عمر فاروق رضى الله عنه دَ فيصلى توجيه :

سوال: په يو ځل درى طلاقه ورکول درى طلاقه ګڼونکى دى باره کښى د عمر فاروق رضى الله عنه فيصله په دليل کښى پيش کوى، چى هغۀ هم درى طلاقه په يو ځل درى طلاقه ګڼلى، دوى وائى: په دى وجه مونږ هم په يو ځل درى طلاقه درى ګڼو.
دى باره کښى د عمر رضى الله عنه د فيصلى څه توجيه کيدى شى .

جواب: د عمر فاروق رضى الله عنه فيصله د درى طلاقه په باره کښى دا دَ دوئ د ټولو نه غټ او مضبوط دليل دى، او ددى په وجه خو مقلدين دا اعتراض هم کوى چى وګوره غير مقلدين دَ عمر فاروق رضى الله عنه دا فيصله نۀ منى !!
مقلدينو ته خو ددى جواب ورکول ډير آسان دى چى ستاسو خو نۀ دَ عمر فاروق سره کار شته، اونۀ مو د هغۀ او د نورو خلفاء راشدينو او صحابه کرامو(رضون الله عليهم اجمعين) د فتوو او فيصلو سره کار شته.
تاسو خو دَ امام ابو حنيفہ تقليد ته دعوت ورکوئ.کۀ شوافع دى او مالکيان دى، نو هغوئ خپلو امامانو ته دعوت ورکوى !!
مقلدين صاحبان خصوصا احناف خو د عمر فاروق او نورو خلفاء راشدينو د فتوو او فيصلو سره هيڅ کار نۀ لرى، دا خبره مونږ د څۀ تعصب او ضد لهَ وجى نه نۀ کوو، بلکه دا يو حقيقت دى.
تجربه شاهد ده چى کله هم د دوئ د مذهب خلاف کوم حديث راشى، نو داسى قِسما قِسم تاويلونه په کښى شروع کړى، کله نا کله خو دومره بى کاره اوغلط تاويل وکړى چى د هغۀ نوم تاويل وى، ولى په حقيقت کښى تحريف وى، عقل به کار ورته پريږدى چى دا څرنګه تاويل او توجيه ده.ع : زمن بر صوفی وبر ملا سلامتی.
دَ عمر فاروق او يا نورو خلفاء راشدينو – رضى الله عنهم – فتوى يا فيصله خو چى د دوئ د مذهب خلاف راشى نو د هرى يوى نه شپاړس شپاړس جوابونه کوى، بيانۀ خلفاء

راشدین وی اونۀ د هغوئ فضائل !!
کـۀ بـاور دی نـۀ کیـږی نـو دی بـاره کښـی زمونږ دشیخ ابو محمد امین الله (حفظه الله) مستـقـل کتاب ((احـنـاف او خلفاءِ راشدین)) وګـوره. چـی هـلـتـه صرف دَ ((مشت نمونۀ خروار)) پـه درجـه کښـی څـۀ دپـاسـه دوه مسـائـل را جـمع کړی شوی ، چی احنافو د خلفاءِ راشدینو نه خلاف کړی.
پـه هـغـو مسـائـلـو کښـی اکثـره داسـی مسـائـل هـم شته چی مرفوع احادیث او د خلفاء راشدینور آثاریو څۀ وائی، او احناف صاحبان بل څۀ !!
الغرض : د دوئ خو خـولـه مـاته ده، الحمد لله په مونږ هیڅ اعتراض نشی کولی.(باؤك تجرُّ، وبائی لا تجر ؟).
بـلـه خبـره داده چـی مـونږ د احنافو نه دا تپوس کوو چی دا څرنګه د عمر فاروق رضی الله عنه په فتویٰ تاسو عمل کونکی شوئ ؟
بـالـکـل صـحـیـح ده چی عمر فاروق رضی الله عنه دری طلاقه دری ګڼلی، نو عمر فاروق رضـی الله عـنـه خو په حلاله باندی هم سخته پابندی لګولی وه، هغه په دی باندی خلکو تـه دَ رجـم سزا ورکوله، دیـته ئی زنا ویلی. په خپله د الله رسول ﷺ ورته د کرائی تټو او ګډ وائی.
ددی تفصیل به د حلالی په بحث کښی راشی(انشاء الله).
او تـاسی مقلدین دری طلاقه دری ګڼئ او بیا ورسته په خلکو حلالی کوئ، خپل ځانونه مو دی عوامی خدمت ته وقف کړی!!، په مدرسو کښی ورته کسان او ځایونه برابروئ!!، او ددی لپـاره مـو پـه خپـلـو کتـابـونـو کښـی بی شماره حیلی جوړی کړی، حیلی څۀ چی په بـعـضـی صورتونو کښی ددی ثواب هم ذکر کوئ!!. چی ددی تفصیل به ورسـتـه د حلالی پـه بـحـث کښـی راشـی(انشـاء الـلـه).، د زیات تفصیل دپاره د شیخ ابو شرحبیل حفظه الله کتاب ((حلاله کی چُهری)) یعنی د حلالی چاړه ، ضرور وګوره.
هـلـتـه د حـلالـی مـتـعلق ډیر مفید او زړۀ سُوونکی واقعات او بحثونه دی، چی حیله ګر مقلدینو د منبر او محراب، مدرسو اومسجدونو په خوا او سیورو کښی د دین او مذهب په نوم څۀ څۀ کارونه او کارنامی کوی !!

داخو مقلدینو صاحبانو ته الزامی جواب ورکول وو، اوس دی باره کښی صحیح توجیه ته راشه : نو دکتور وهبیہ الزحیلی چی دا یو حنفی عالم دی (لکه دهٔ خپله په فقه اسلامی ۱/ کښی ویلی)۔ دی لیکی :
وفعل عمر رضى الله عنه أجاب عنه العلماء بعدة أجوبةٍ بلغت (۱۸) جوابًا. (موقع الزحيلى على الإنترنت).
(یعنی : دَ عمر فاروق رضی الله عنه د فیصلی نه علماؤ ډیر جوابونه (توجیهات) کړی چی (۱۸) ته رسیږی)۔
دی باره کښی چی موږ ته کومه توجیه غوره او راجحه ښکاری نو د هغی د ذکر کولو نه مخکی یوه مقدماتی خبره یاده لرل پکار دی۔
هغه دا چی په اسلام کښی په هره ګناه پابندی ده، د مسلمان خلیفه دا ذمه واری ده چی د ګناهونو مخ نیوی وکړی، خلکو ته په دی باندی سزا ورکړی، خاصکر چی هغه لویه ګناه وی یا پرله پسی کیږی۔
بله خبره دا هم یاد لره چی په ګناه باندی د سزا او جزاء دوه طریقی دی :
۱ – حدود (عقوبات مقدره)۔
۲ – تعزیرات۔
حدود خو معلوم دی (کمًا ووصفاً ونوعًا) چی د کومو ګناهونو لپاره مقرر شوی او په څومره اندازه مقرر شوی، په دی مسئله د ټول امت اجماع ده چی په شرعی حدود کښی نهٔ څوک د ځانه څهٔ زیاتولی شی اونهٔ ئی کمولی شی۔
علامه الکاسانی الحنفی لیکی : الحدُّ فى اللغة : عبارة عن المنع، ومنه سمى البواب حدّادًا، لمنعه الناس عن الدخول، وفى الشرع : عبارة عن عقوبة مقدرة واجبة حقًا لله تعالى – عز شانه – بخلاف التعزير فإنه ليس بمقدر، قد يكون بالضرب وقد يكون بالحبس وقد يكون بغيرهما. (بدائع الصنائع).
او دَ تعزیر تعریف دادی : مغنی کښی دی :
التعزير هو العقوبة المشروعة على جناية لا حدّ فيها. (۱۰/۳٤۲، مسألة : ۷۳۷٤).
(یعنی تعزیر هغی جائزی سزا ته ویلی شی چی د هغی ګناه او جرم لپاره مقرره شوی وی

په کومه کښې چې (معلوم) حد نۀ وی۔

شيخ الاسلام ابن القيمؒ ليکی:

وأما التعزير ففی کل معصية لا حد فيها ولا کفارة، فإن المعاصی ثلاثة أنواع: نوع فيه الحد ولا کفارة فيه، ونوع فيه الكفارة ولا حدّ فيه، ونوع لا حد فيه ولا کفارة. (إعلام الموقعين: ۱۱۸/۲). انظر منة الخبير فی حکم إقامة الحدود فی دار الحرب والتعزير، للشيخ أبو يحيی الليبی حفظه الله، ص: ۱۱۲).

تعزيرات د ګناهونو د مخنيوی ډيره ښه لاره ده:

په ګناه باندی د تعزير ورکولو په جواز باندی د قرآن او سنت او اجماع نه ډير دلائل موجود دی، د قرآن کريم دا آيتونه چې:

﴿ واللاتی تخافون نشوزهن فعظوهن واهجروهن فی المضاجع واضربوهن فإن اطعنکم فلا تبغوا عليهن سبيلا إن الله كان عليا كبيرًا ﴾. ﴿ وعلى الثلاثة الذين خلفوا حتى إذا ضاقت عليهم الأرض بما رحبت وضاقت عليهم أنفسهم وظنوا أن لا ملجأ من الله إلا إليه ثم تاب عليهم ليتوبوا إن الله هو التواب الرحيم ﴾.

په دی مسئله ډير دلائل راغلی چې د جرم او ګناه په وجه زمونږ په دين کښې تعزير شته۔

احاديث خو دی باره کښې ډير زيات راغلی چې دَ ګناه په وجه خلکو ته قِسما قسم تعزيرونه ورکړی شوی۔ په دی باندی د علماؤ اجماع ده چې خلکو ته د دوئ د جرم او زياتی په وجه تعزير ورکول صحيح دی۔

شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائی: وقد أجمع العلماء على أن التعزير مشروع فی کل معصية لا حدّ فيها ولا كفارة. (مجموعة الفتاوی: ۳۹/۳۰).

علامه ابن القيمؒ فرمائی: وقد اتفق العلماء على أن التعزير مشروع فی کل معصية ليس فيها حدّ. (الطرق الحکمية: ۱۴۵/۱).

ابن الهمامؒ په فتح القدير کښې ليکی: فهذا دليل شرعية التعزير وأجمع عليه الصحابة. (فتح القدير: ۳۴۴/۵، باب التعزير).

دارنګه علامه ابن الهمامؒ دا هم ليکی: وهو مشروع بالكتاب، قال الله تعالىٰ: ﴿ فعظوهن

واهـجـروهـن فـى الـمـضـاجع واضربوهن فإن اطعنكم فلا تبغوا عليهن سبيلا ﴾ : أمر بضرب الـزوجـات تـأديبًـا وتهـذيبًا. وفى الكافى قال عليه الصلاة والسلام : لاترفع عصاك عن أهلك) وروى (أنـه عـلـيـه الـصلاة والسلام عزّر رجلا قال لغيره : يا مخنث). وفى المحيط : روى عنه عـليـه الـصـلاة والسـلام قـال : (رحـم الله امـرءً عـلق سوطه حيث يراه أهله) وأقوى من هذه الأحـاديـث قـولـه عـليـه الـصـلاة والسلام (لا يجلد فوق عشرة إلا فى حدّ) وسيأتى. وقوله : (واضربوهم على تركها لعشر) فى الصبيان. (فتح القدير : ٣٤٤/٥).

پـه تـعـزيـراتـو كښى بيا قانون دادى چى دا د خليفه او حاكم رايى او نظر ته سپارلى شوى چـى هـغـهٔ تـه ځرنګه مناسب ښكارى نو هغه شان تعزير او سزا وركولى شى، لكه علامه ابن نجيم المشهور په ابو حنيفه ثانى سره، ليكى :

وصـرح السـرخسـى بـأنـه لـيس فـى الـتـعـزيـر شئ مقدر بل هو مفوض إلى رأى القاضى لأن المقصود منه الزرج وأحوال الناس مختلفة فيه. (البحر الرائق فصل فى التعزير).

بل ځاى ليكى : يـعرف أن ما ذكر مما تقدم من أنه ليس فى التعزير شئ مقدر بل مفوض إلى رأى الإمـام أى مـن أنـواعـه، فإنه يكون بالضرب وبغيره مما تقدم ذكره. (البحر الرائق فى بيان أكثر التعزير).

عـلامـه خـرشـى المالكى ليكلى : والتـعـازيـر يـرجع فيها إلى اجتهاد الإمام باعتبار القائل، والمقول له، والمقولِ. (الخرشى على مختصر الخليل : ١١١/٨، باب حدّ الشارب).

كـلـه چـى دا خبـره ثـابتـه شـوه چى دَ ګناه په وجه حاكم او د مسلمانانو خليفه مجرم ته په خپل صواب ديد سره سزا وركولى شى، نو دلته د تعزير بعضى انواع هم ذكر كوو۔

۱ - التـعزير بالهجر : يـعـنـى د ګـنهګار سره ددهٔ د ګناه او جرم په وجه ، **قطع تعلق او خبرى اترى بندول۔**

لـكه قرآن كريم كښى دى : والـلاتـى تـخافون نشوزهن فعظوهن واهجروهن فى المضاجع واضربوهن فإن أطعنكم فلا تبغوا عليهن سبيلاً، إن الله كان عليا كبيرًا ﴾.

(كهٔ ښـځـه نـافـرمـانـه شى نو اول ورته نصيحت وكړه، كهٔ په دى سره كار اونشى نو په يو ځاى څملاستل ورسره پريږده، كهٔ په دى سره كار اونشى نو (معمولى) وهل وركړه۔

وعلى الثلاثة الذين خلفوا حتى إذا ضاقت عليهم الأرض بما رحبت...

دا آیت د کعب بن مالك، هلال بن امیه او مراره بن ربیع رضی الله عنهم په باره کښې را نازل شوی چې د هغوئ سره ټولو مسلمانانو - تردې چې خپلو ښځو هم - څلویښت ورځې ورسه خبرې اترې بندې کړې وې. (کما فی کتب الحدیث).

دارنګه مبتدع سره هم قطع تعلق شته.

بخاری، مسلم او د احادیثو نورو کتابونو کښې دا هم شته چې یو چا سره تر درې ورځو پورې هجران - قطع تعلق - جائز دی، لیکن د درې ورځو نه آخوا جائز نۀ دی.

۲ - **شړل**: یو مجرم ته په شړلو سره هم تعزیر ورکول زمونږ په دین کښې راغلې، قرآن کریم کښې راځې: إنما جزاء الذین یحاربون الله ورسوله ویسعون فی الأرض فسادًا أن یقتلوا أو یصلبوا أو تقطع أیدیهم وأرجلهم من خلاف أو ینفوا من الأرض ذلك لهم خزی فی الدنیا ولهم فی الآخرة عذاب عظیم ﴾. (المائدة: ۳۳).

(یعنی: مذکوره مجرمان باید ووژلې شي یا په دار کړې شي یا ردو بدل لاسونه او پښې ورنه پرېکړې شي او یا د زمکې نه وشړل شي).

امام بخاری رحمه الله په دې باندې مستقل باب راوړی: باب نفی أهل المعاصی والمخنثین.

بیائې ددې نه پس دا حدیث راوړی چې: عن ابن عباس قال: لعن النبی ﷺ المخنثین من الرجال والمترجلات من النساءِ، وقال: أخرجوهم من بیوتکم، قال: فأخرج النبی ﷺ فلاناً وأخرج عمرُ فلاناً. (۵۴۳۶).

(یعنی نبی کریم ﷺ په هغو سړو لعنت ویلې چې د ښځو عادات کوی دارنګه په هغه ښځوئې هم لعنت ویلې چې د سړو پشان عادات وغیره کوی، او دائې فرمایلې چې داسې مجرمان خلق دَ خپلو کورونو نه اوباسئ).

ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: ددې فرمان نه پس نبی کریم ﷺ فلانی د کور نه وشړل، او عمر فاروق - رضی الله عنه - (په خپل دور خلافت کښې) فلانی وشړل.(بخاری شریف).

۳ - **کله یو** مجرم ته دده د جرم په وجه **دَ بند سزا** (تعزیر) هم ورکیدلې شي.

قرآن کریم کښې دی: ﴿ واللاتی یأتین الفاحشة من نسائکم فاستشهدوا علیهن أربعة

منکم فإن شهدوا فأمسکوهن فی البیوت حتی یتوفاهن الموت أو یجعل الله لهن سبیلاً ﴾. (النساء : ۱۵).

شیخ الاسلام ابن تیمیه ددی آیت په تفسیر کښی لیکی : قد یستدل بذلك علی أن المذنب إذا لم یعرف فیه حکم الشرع فإنه یمسك فیحبس حتی یعرف فیه الحکم الشرعی فیُنفَّذَ فیه. (الفتاوی الکبریٰ : ۵۹۸/٤).

دارنګه حدیث کښی دی : أن النبی ﷺ حبس رجلا فی نهمة ثم خلی عنه. (رواه أبوداود والترمذی وسنده حسن کما فی الإرواء).

٤ – کله یو مجرم ته دده دجرم په وجه مالی تعزیر ورکول هم صحیح دی، چی د هغهٔ نه دده د جرم په وجه مال واخستل شی، یائی مال هلاك کړی شی، یا ورنه دوه چنده واخستلی شی۔

د مجرم نه د جرمانی په شکل مال اخستلو کښی اګرکه د علماؤ اختلاف دی، خور راجح داده چی مالی جرمانه اخستل جائز دی۔لکه حدیث کښی راځی :

إن رسول الله ﷺ قال : فی کل سائمة إبل فی أربعین بنت لبون، ولا یفرق إبل عن حسابها من أعطاها مؤتجرًا ، قال ابن العلا : مؤتجرًا بها – فله أجرها ومن منعها فإنا آخذوها وشطر ماله عزمة من عزمات ربنا عز وجل، لیس لآل محمد منها شئ. (أخرجه أبوداود : ۱۵٦۷، والنسائی : ۳۳٦/۱، والدارقطنی : ۲۰۹، والحاکم : ۳۹۰/۱، والبیهقی : ۸٦/٤، وأحمد : ۱۱/۱، وسنده صحیح کما فی الإرواء).

پدی حدیث کښی دا مسئله بیان شوی چی کوم کس زکات منع کړی نو دده نه به د زکات سره سره نیم نور مال هم اخستل کیږی، دا دَ الله له طرفه دهٔ ته سزا ده۔

بل حدیث کښی راځی : عن عبد الله بن عمرو بن العاص عن رسول الله ﷺ أنه سئل عن الثمر المعلق فقال : من أصاب بفیه من ذی حاجةٍ غیر متخذ خبنة فلا شئ علیه، ومن خرج بشئ منه فعلیه غرامة مثلیه والعقوبة، ومن سرق منه شیئًا بعد أن یؤویه الجرین فبلغ ثمن المجن فعلیه القطع، ومن سرق دون ذلك فعلیه غرالمة مثلیه والعقوبة.

دی حدیث کښی دا مسئله بیان شوی چی که څوك د یو باغ نه غلا وکړی، او د باغ نه ئی بهرراوباسی نو دا کس به د باغ مالك ته دو چنده تاوان ورکوی، او ددی سره سره به سزا

هم ورته ورکولی کیږی.

بـل حدیث کښی راځی : عـن أبـی هـریرة أن النبی ﷺ قال : ضالة الإبل المکتومة غرامتها ومثلها معها. (رواه أبوداد والبیهقی وغیرهما وسنده صحیح).

یـعـنی که څوك ورك شوی اوښ پټ کړی نو دا کس به دَ اوښ مالك ته تاوان او د هغۀ په شان بل اوښ هم ورکوی.

یـو بـل روایـت کښـی د عـمر فاروق – رضی الله عنه – واقعه راځی چی د حاطب بن ابی بـلتعه رضی الله عنه غلامانو د یو سړی اوښه پټه کړه، بیائی ذبح کړه او په دی ئی اقرار هم وکـړو. عمر فاروق رضی الله عنه چی د حاطب بن ابی بلتعه نه دوه چنده مال واخستلو نو داپـه طـریـقـه د تـعـزیـر وو، کـه نـه نو په دی خبره خو د علماؤ اجماع ده چی څوك د چا مال وغیـره هـلاك کـړی نـو پـه هـلاك کـونـکی باندی ئی قیمت یا مثل ورکول لازم دی. لکه زرقانی د موطأ په شرح کښی لیکی : أجـمع العلماء أنه لا یغرم من استهلك شیئا فلیس علیه إلا مثله أو قیمته. (شرح الزرقانی علی الموطأ : ٤٧/٤).

د عمر فاروق – رضی الله عنه – دا فیصله په دی مسئله دلیل دی چی خلیفه او مسلمان حاکم د خلقو نه د دوئ د جرم په بدل کښی مالی جرمانه هم اخستی شی.

د حـاطـب بـن ابی بلتعه رضی الله عنه سکوت هم په دی مسئله دلیل دی چی د هغه په نیزد هم مالی جرمانی جائز دی. کنه نو هغه به په عمر فاروق رضی الله عنه رد کړی وو.

په تـعـزیـر مـالـی کښـی خـو کـلـه د جرم په وجه د مجرم مال هم هلاکیدی شی، د مال هلاکولو باره کښی ډیر زیات احادیث او آثار راغلی.

دَ انـس رضـی الله عـنـه روایت دی چی ابو طلحه رضی الله عنه اوویل : یا رسول الله إنی اشتـریـتُ خـمـرًا لأیتـامٍ فـی حـجـری ؟ فـقـال : اهـرق الخمر والکسر الدنان. (رواه الترمذی والدارقطنی وحسنه الألبانی فی صحیح الترمذی : ١٢٩٣).

نو دلته دَ شرابو لوښی هم مات شوی تعزیراً.

پـه بـل روایـت کښی داسی راځی : ابن عمر رضی الله عنه وائی چی رسول الله ﷺ ماته وویل : ورشه چاړۀ راوړه، نو په بازار کښی چی به په چا ورتیریدۀ، نو د هغۀ مشك به ئی په چاړۀ وهل، چا ورتـه وویـل : یـا رسـول الله ! دا مشـکـونه خو دَ فائدی شیان دی ؟ رسول الله

ﷺ وفرمایل : هو، لیکن زه دا کار د الله په دین باندی د غصی په خاطر کوم، او بل په دی کښی هغه څه وو چی د الله خوښ نه وو ـ (رواه البیهقی : ۲۸۷/۸)ـ

حافظ ابن حجر رحمه الله وائی چی د شرابو لوښی او مشکونه ئی عقوبتاً (تعزیراً) مات کړی اوشکولی کنه نو ددی نه خو (د پاکوکو نه پس) فائده اخستل جائز وو ـ (فتح الباری : ۱۲۲/۵).

په بل حدیث کښی راځی : عن عبد الله بن عمرو، قال : رأی النبی ﷺ علیّ ثوبین معصفرین، فقال : أمك أمرتك بهذا ؟ قلت : أغسلهما ؟ قال : بل أحرقهما.

(عبد الله بن عمروؓ وائی : په ما باندی رسول الله ﷺ زیړ رنګی جامی ولیدلی، نو ماته ئی وفرمایل : آیا په دی دی درته مور حکم کړی ؟ ما عرض وکړو، زه به ئی وویندځم ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : نه، بلکه وی سیزه ـ (مسلم : ۳۸۷۳)ـ

امام نوویؒ فرمائی : معناه أن هذا من لباس النساءِ وزِیّهنّ وأخلاقهن وأما الأمر بإحراقهما فقیل : هو عقوبة وتغلیظ لزجره وزجر غیره عن مثل هذا الفعل، وهذا نظیر أمر تلك المرأة التی لعنت الناقة بإرسالها، وأمر أصحاب بریرة ببیعها، وأنکر علیهم اشتراط الولاء، ونحو ذلك، والله أعلم.

امام ذهبیؒ فرمائی : والإحراق هنا تعزیر. (سیر أعلام النبلاءِ : ۱۳۵/۱۱).

دیته شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او علامه ابن القیمؒ او نورو محققینو ترجیح ورکړی ـ وګوره : (الطرق الحکمیة، إعلام الموقعین، مجموعة الفتاوی، منة الخبیر فی حکم الإقامة الحدود فی دار الحرب والتعزیر، للشیخ أبو یحیی اللیبی حفظه الله و رعاه ، ص : ۱۵۳).

دی باره کښی مونږ دا ډیر تفصیل ددی لپاره وکړو چی څوك دا فکر ونهٔ کړی چی یو ځلی په دور نبوی (ﷺ) دورِ صدیقی او دوه دری کاله خلافتِ فاروقی کښی دری طلاقه په یو ځل حسابیدل، نو عمر فاروق رضی الله عنه ولی دری طلاقه په دری حساب کړل ؟!!

نو ددی جواب اوس بالکل واضح دی، هغه دا چی مخکی تفصیلاً ذکر شو چی دری طلاقه په یو ځل ورکول بدعت، د شیطان تابعداری، ګناه او د الله په کتاب پوری توقی کول دی ـ ددی سره په معاشره کښی سخت نقصانات راځی، ښځه، خاوند د دوئ بچی او خپل خپلوان د سختو مشکلاتو سره مخامخ کیږی، ځکه طلاق خو هسی هم ښهٔ شی نهٔ دی،

نـو چـی پـه غـلـطـه او بـدعـی طریقی سره ورکړی شی نو یقینا ًچی ډیر نقصانات په کښی دی)۔
نـو د یو مسلمان عادل خاصکر خلیفه راشد عمر فاروق – رضی الله عنه – په زمانه کښی چی دا نـارا پـه پـرلـه پسـی ډول، سـره د پـو هـی او عـلـمه په عمومی طور سره کیږی نو آیا خـلیفه راشد به ددی مخنیوی نهٔ کوی ؟ کهٔ څوك دا ناروا کار کوی دهٔ ته به سزا نهٔ ورکوی ؟ دا خـو ډیـر د تـعـجـب خبـره ده چـی د عـمر فاروق رضی الله عنه زمانه کښی دی دا گناه زور اونیسی او هغه دی ددی نه خامُوشه او چپ پاتی شی !!
هغه به ضرور بالضرور په دی گناه سزا ورکوی ۔
نـو د هـغـه سزا هـمـدغـه وه چـی چابه په یو ځل دری طلاقه ورکړل نو هغه به وریاندی په دری حساب کړل، په حلاله هم سخته پابندی وه، نو چابه چی په یو ځل دری طلاقه ورکړل نو په دی سره به هغهٔ ته سخته سزا رسیدله۔
لیکن د نـن سبـا حـال تـه راشـه، خـلـق د طـلاق شرعی احکام نهٔ پیژنی، بلکه په عام دین ناخبره دی، په یو ځل دری طلاقه د غیض او غضب په حالت کښی ورکړی، صبا بل صباته پښیـمـانـه شی، مـلا، مـفـتـی تـه ورشی نو هغهٔ ورته وائی : ستا دری طلاقه واقع شوی، د حلالی نه بغیر کار نهٔ کیږی !!
ددی مـلـعـونـی حـلالـی چـلـونـه او حیـلـی هم دوئ ورته ورښائی، ددی لپاره ئی کسان او ځایونه منتخب کړی، هغوئ غریبانان هم چی بله لاره پیدا نکړی نو د شرم او حیاء نه لاس ووینځی، د خپلی ښځی په پاکی او عفیفی غاړه د حلالی چاړه راکاږی !!
د مـلـعـونی حلالی نه پس چی کوم نقصانات، بد اخلاقیانی، عیبونه او شرونه په معاشره او د ښځی خاوند ترمینځه راځی، نو هغه د هیڅ عقلمند انسان نه پټ نهٔ دی، داسی خلق د الله نـه نـهٔ ویـریـږی، او عـمر فاروق هم نشتـه چی داسی مجرمان په کانړو مردار کړی ! نو آیا دابـه مناسبه نهٔ وی چی پـه داسـی حالاتو کښی د دور نبوی، دور صدیقی په فیصلو عمل اوشـی ؟ او د عـمـر فـاروق رضـی الله عنه فیصله د مخکینو احادیثو او حکمونو په وجه په تعزیر حمل کړی شی ؟
ابن مفلح رحمه الله لیکی : وإذا أفـضى إيقا ع الثلاث إلى التحليل كان ترك إيقاعها خيرًا من

إيقاعها. (الفروع لابن مفلح : ۳۷۳/۵).

د تعجب ځای خو دادی چې احنافو د بې وادهٔ زاني يو کال جلا وطن کول، دارنګه د شرابي جلا وطن کول صرف په دې وجه رد کړي چې ددې نه نور نقصانات پيدا کيږي، لکه ددې مسئلې تفصيل داسې دی چې په صحيحو احاديثو کښې راځي چې کوم بې وادهٔ کس زنا وکړي نو هغه سل دُرې ووهئ او يو کال ئې له خپل کور کلي نه وشړئ، په خپله رسول الله ﷺ هم په داسې کسانو د وهلو او شړلو فيصلې کړي، د هغهٔ دَ وفات نه پس خلفاء راشدينو هم داسې کسان شړلي.

ليکن احناف وائي : کهٔ بې وادهٔ کس زنا وکړي نو هغه خو به سل دُرې وهلي شي ليکن، ددهٔ شړل څهٔ شرعي حکم نهٔ دی، البته کهٔ بادشاه ته مناسب ښکاره شي نو شړلي ئې شي.

کهٔ څوك سوال وکړي چې د داسې کس په شړلو باندې خو رسول الله ﷺ امر کړی، دارنګه په خپله ئې هم داسې فيصله کړې، د هغهٔ پاکو خلفاءِ راشدينو رضی الله عنهم هم داسې کسان شړلي، نو بيا تاسو څرنګه ددې واضحو، غير منسوخو دلائلو باوجود وايئ چې ددې کس شړل نشته ؟!!

نو دوئ وائي چې ددهٔ شړل ځکه نشته چې ددهٔ په شړلو کښې ډير نقصانات دي، په شړلو سره خو هغه نور هم زنا ته ښهٔ برابريږي، په شړلو سره خو د ښځې حيا ځي !! هغه نوره په فتنو کښې پريوزي، دې باره کښې د فقهِ حنفي عبارات په دې ډول دي :

إن في النفي فتح باب الفتنة. (حاشية رد المحتار).

وفي التغريب فتح باب الفساد. (حاشية رد المحتار).

وإنما تبقى المرأة محفوظة بالحافظ والاستحياءِ وذلك ينعدم بالتغريب فيكون تعريضًا لها للإقدام على هذه الفاحشة برفع المانع. (المبسوط للسرخسي).

لما فيه من الإغراءِ على ارتكاب الفاحشة. (المبسوط للسرخسي).

لأن التغريب تعريض للمغرَّب على الزنا، لأنه مادام في بلده يمتنع عن العشائر والمعارف حياءً منهم، وبالتغريب يزول هذا المعنى فيعرى الداعي عن الموانع فيقدم عليه. (بداء الصنائع في ترتيب الشرائع).

ولأن في التغريب فتح باب الزنا لانعدام الاستحياءِ من العشيرة ثم فيه قطع مواد البقاءِ فربما

تتخذ زناها مكسبة. (الهداية).

حاصل دا چې : د تغریب په باره کښې د صحیح احادیثو او آثارو باوجود، دوئ د زناکار په جلا وطن کولو په دې وجه قائل نۀ دي چې د تغریب یعنی شړلو نه نقصان پیدا کیږي !!

نو د حلالې په وجه خو په معاشره کښې او د ښځې اوخاوند ترمینځه دومره نقصانات او فتنې پیدا کیږي چې هغه د هیڅ عقلمند انسان نه پټ نۀ دي۔ د لطف او مزې خبره خو داده چې دَ دوئ (احنافو) فقهاؤ هم په دې اقرار کړي چې د عمر فاروق رضی الله عنه فیصله تعزیري او تهدیدي وه۔لکه د دوئ عبارتونه په دې ډول دي :

د درمختار مصنف لیکي : واعلم أنه كان فى الصدر الأول إذا أرسل الثلاث جملة لم يحكم إلا بوقوع واحدة إلى زمن عمر رضى الله عنه ثم حكم بوقوع الثلاثة سياسةً لكثرته من الناس كما فى القهستانى عن التمرتاشى. (الدر المنتقى فى شرح الملتقى : ٦/٢، طبع دار الكتب العلمية، طبع بيروت، تحت مجمع الأنهر).

طحطاوي د درمختار په حاشیه (۱۰۵/۲) کښې هم دیته نزې الفاظ ویلي.

علامه شیخ زاده المعروف بداماد آفندي لیکي : واعلم أن فى الصدر الأول إذا أرسل الثلاث جملة لم يحكم إلا بوقوع واحدة إلى زمن عمر رضى الله عنه، ثم حكم بوقوع الثلاث لكثرته بين الناس تهديدًا. (مجمع الأنهر شرح ملتقى الأبحر : ٦/٢، طبع بيروت دار الكتب العلمية).

بلکه ډیره د تعجب خبره خو لا داده چې کۀ مونږ (بلکه عامو محققینو) د عمر فاروق رضی الله عنه فیصله (چې په یو ځل درې طلاقه درې شماریږي) د صحیحو غیرمنسوخو احادیثو لهَ وجې په تعزیري فیصلې باندې حمل کړو، نو دوئ (احناف) چغې سُورې وهي چې وګوره، د خلیفه راشد فیصلې ته تعزیري فیصله وائي !! دوئ ته په دې وخت کښې د عمر فاروق رضی الله عنه فضائل وریاد شي۔

لیکن خپل ځان ته نۀ ګوري چې مونږ د حلالې په باره کښې د صحیحو احادیثو، د صحابه کرامؓ د فتوو او اجماع نه، د عمر فاروق رضی الله عنه د فرمان نه، په امت کښې د جمهورو علماؤ د اقوالو او فتوونه، دارنګه د عقلِ سلیم او فطرت ټولو نه خلاف کړي!!

په خپله ئې هم د همدې متعلق د عمر فاروق رضی الله عنه فیصله او فرمان سیاسي او

تعزیری ګڼلی، لیکن ددی شناعتونو او قبائحو سره سره دوئ، نهٔ د احادیثو خلاف دی نهٔ د عمر فاروق او نورو صحابه کرامو د فتوو او اجماع نه !!

دوئ هسی بی ضرورته او بی دلیله صرف د خپل (خود ساخته) مذهب نه د دفاع په خاطر د حلالی په باره کښی د عمر رضی الله عنه دَ رجم فیصله سیاسی او تعزیری ګڼی۔

فإن قيل : فقد روى عن عمر رضى الله عنه أنه قال : لا أوتى بمحلل ولا محللة إلا رجمتهما ؟ قيل له : إنما قال هذا على سبيل التغليظ. (او ګوره : اللباب فى الجمع بين السنة والكتاب ۶۸۰/۲، لأبى محمد على بن زكرى المنبجى الحنفى المتوفىٰ : ۶۸۶ هـ، بتحقيق الدكتور محمد فضل عبد العزيز المراد).

په الاستذکار د ابن عبد البرؒ باب نکاح المحلل : ۴۵۰/۵) کښی دی :

وقد روى عن عمر بن الخطاب فى نكاح المحلل أنه قال : لا أوتى بمحلل ولا محلل له إلا رجمتهما، قال الطحاوى : ويحتمل أن يكون تشديدًا وتغليظًا وتحذيرًا لئلا يواقع ذلك أحد.

دارنګه احنافو خو په نورو ځایونو کښی هم هغه بی شماره احادیث او آثار په سیاست او تعزیر باندی حمل کړی کوم چی د دوئ د مذهب خلاف دی، د دوئ خو عامه قاعده ده، د دوئ نه ګیله نشته، دوئ د خپل مذهب نه د دفاع په خاطر هر څهٔ ته تیار دی، دَ (سیاسیؒ) په نوم تاویلات ئی ډیر زیات دی چی ((مشت نمونۀ خروار)) لاندی وګوره :

۱ – **په صحیح** حدیث کښی راځی چی رسول الله ﷺ حکم کړی چی بی وادهٔ کس زنا وکړی نو هغه سل دُری ووهئ او یو یو کال ئی جلا وطن کړئ۔

رسول الله ﷺ په خپله هم داسی زانی شړلی، د هغه پاکو خلفاء راشدینو او نورو صحابو – رضی الله عنهم – هم شړلی، لکه بخاری کښی راځی :

عن زيد بن خالد قال : سمعت النبى ﷺ يأمر فيمن زنى ولم يحصن جلد مائة وتغريب عام. رواه البخارى.

و عن عبادة بن الصامت قال : قال رسول الله ﷺ : خذوا عنى قد جعل الله لهن سبيلاً، البكر بالبكر جلد مائة وتغريب سنةٍ. (رواه مسلم وابن ماجه وغيرهما).

وعن أبى هريرة رضى الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : ...أما والذى نفسى بيده لأقضين بينكما بكتاب الله، أما غنمك وجاريتك فرد عليك، و أما ابنك فعليه جلد مائة وتغريب عام.

(متفق علیه).

دی تولو حدیثونو کښې یو کال لپاره دَ زنا کار شړل ذکر دی۔

دَ ابو بکر صدیق، عمر فاروق، عثمان ذی النورین او علی – رضی الله عنهم – نه هم نقل دی چې هغوئ بې وادۀ زناکار ته سل دُرې ورکړې او بیا ئې یو کال جلا وطن کړې۔ (العنایة، فصل فی کیفیة الحد وإقامته).

احناف وائی: یو کال شړل نشته! سوال دادی چې په دی صحیحو حدیثونو کښې چې په دی امر راغلی، دارنګه رسول الله ﷺ او د هغۀ مبارکو صحابه کراموضی الله عنهم یو کال بې وادۀ زناکار شړلی؟ نو دوئ بې تکلفه جواب کوی چې هغوئ دا کار ((سیاسی)) کړی!!۔

وفعل الصحابی محمول علی أنهم رأوا ذلك مصلحةً علی طریق التعزیر... فدل أن فعلهم کان علی طریق التعزیر. (البدائع فی بحث تعریف الإحصان).

وعلیه یحمل النفی المروی عن بعض الصحابة رضی الله عنهم. (نصب الرایة).

وکل ذلك محمول علی السیاسة والتعزیر. (العنایة شرح الهدایة فصل فی کیفیة الحد وإقامته).

٢ – **صحیح** حدیث کښې راځی، رسول الله ﷺ فرمائی: ((څوك چې د بل کس دَ قومِ لوط عمل اوکړی نو دا دواړه قتل کړئ)). بل حدیث کښې دی: ((دا دواړه په کاڼو مردار کړئ))۔

عن ابن عباس مرفوعًا: من وجدتموه یعمل عمل قوم لوط فاقتلوا الفاعل والمفعول به. (رواه الخمسة إلا النسائی، کما فی إرواء الغلیل، والحدیث صحیح).

عن أبی هریرة عن النبی ﷺ فی الذی یعمل عمل قوم لوط، قال: ارجموا ألاعلیٰ والأسفل ارجموهما جمیعًا. (رواه ابن ماجه کمافی الإرواءِ).

لیکن احناف وائی چې په دی دواړو څۀ حد نشته، البته کۀ په دی کار عادت شی نو امام ئې سیاسیۀ وژلی شی، کۀ څوك سوال وکړی چې رسول الله ﷺ خو فرمایلی چې دوئ دواړه ووژنئ؟ نو احناف وائی: رسول الله ﷺ چې ددی دواړو دَ وژلو حکم کړی، نو دا (هسی) سیاسیۀ حکم دی۔

راشئ د احنافو خپله عبارتونه وګورئ :

قال الكمال : ولو اعتاد اللواطة قتله الإمام محصنًا كان أو غير محصن سياسةً، أما الحدُّ المقدر شرعًا فليس حكماً لهُ. (فتح القدير وتبيين الحقائق شرح كنز الدقائق والعناية شرح الهداية، باب الوطى الذى يوجب الحدّ والذى لا يوجب، ودرر الحكام شرح غرر الأحكام.

وما رواه الشافعي محمول على السياسة أو على المستحل. (الهداية، ومجمع الأنهر فى شرح ملتقى الأبحر).

خلفاء راشدینو هم داسی کسان وژلی ، وګوره : أقضية الخلفاءِ الراشدين : ۸۷۳/۲).

احناف وائی : هغوئ هم سیاسی وژل کړی.

وقال فى شرح المجمع : وما روى عن الصحابة فمحمول على السياسة آه. (درر الحكام شرح غرر الأحكام، باب الوطى الذى يوجب الحد والذى لا يوجب).

۳ – په صحیح حدیث کښی راځی چی یو یهودی د یو مسلمانی انجلئ سر په کانی (ګټ) باندی مات کړو، او هغه ئی په دی سره مړه کړه، نو رسول الله ﷺ د هغهٔ سرهم په همغه طریقه په غټ کانی باندی مات کړو. لکه د حدیث الفاظ دادی :

عن أنس بن مالك قال : عدا يهودى فى عهد رسول الله ﷺ على جارية فأخذ أوضاحًا كانت عليها ورضخ رأسها فأتى بها أهلها رسول الله ﷺ وهى فى آخر رمق وقد أصمتت، فقال لها رسول الله ﷺ : مَن قتلك ؟ فلان، لغير الذى قتلها فأشارت برأسها أن لا، قال : فقال لرجل آخر غير الذى قتلها فأشارت أن لا، ففلان، لقاتلها فأشارت أن نعم فأمر به رسول الله ﷺ فرضخ رأسه بين حجرين. (متفق عليه).

بل روایت کښی راځی : چی په هغی کانی ئی ورته سر چخنړا کړو چی کوم چی دهٔ د جینئ سر چخنړا کړی وو. (عون المعبود).

د قرآن کریم نه هم دا حکم معلومیږی : ﴿ وإن عاقبتم بمثل ما عوقبتم به ﴾.

بل آیت کښی دی : ﴿ فاعتدوا عليه بمثل ما اعتدى عليكم ﴾.

د ارنګه بل آیت کښی رځی : ﴿ وجزاء سيئة سيئة مثلها ﴾. (تحفة الأحوذى).

لیکن احناف وائی : کهٔ داسی طریقه باندی څوك قتل کړی شی نو قاتل نه ددی پشان قصاص نهٔ اخستلی کیږی، بلکه ددهٔ نه به په توره قصاص اخستلی کیږی، یعنی په توره

به ئي سر پريکړي شي.
کۀ څوك اووائي چي د بخاري په دي صحيح حديث کښي خو راغلي چي رسول الله ﷺ ورنـه په همغه شان قصاص اخستي ؟ او تاسو واياست چي نۀ په همدي شان به قصاص نۀ اخستلي کيږي ؟
دوئ وائـي : (شپاړس جوابه واوره !) دا کار رسول الله ﷺ سياسي کړي، د حد اوقصاص په طريقه ئي نۀ دي کړي.
وتأويل الحديث أنه أمر بذلك على طريق السياسة...
بل ځاى ليکي : وفـي الحقيقة إنما كان ذلك بطريق السياسة. (المبسوط للسرخسی، باب القصاص ۳۰۳/۲۹، وفی طبع آخر : ٤۰۰/۷).
٤ –په يو حديث کښي راځي (چي په سند کښي ئي کلام شته) چي څوك د خپل محرم سره زنا وکړي نو هغه قتل کړئ.
عـن ابـن عبـاس رضـی الله عـنهما أن رسول الله ﷺ قال : من وقع على ذات محرم فاقتلوه. أخـرجـه التـرمـذی وابـن مـجه وأحمد، والحاكم وقال : صحيح ولم يخرجاه. وقال ابن القيم رحـمـه الله تعالىٰ : وهذا القول هو الصحيح، وهو مقتضى حكم رسول الله ﷺ وقضاؤه أحق وأوفى، انتهى مختصرًا من زاد المعاد : ۱۳/۵).
احـنـاف او نـور علماء وائي چي کۀ محصن نۀ وو نو ددۀ سزا قتل نۀ ده ! کوم حکم چي په دي حديث کښي راغلي نو دا په سياست باندي حمل دي.
وقـالـوا : أى فـی قـولـه ﷺ : مـن وقـع عـلى ذات محرم منه فاقتلوه، جاز فيه أحد الأمرين أنه لـلاستحال، أو أمر بذلك سياسةً وتعزيرًا. (فتح القدير باب الوطى الذى يوجب الحد والتى لا يوجب).
پـه صـحـيـح حـديـث کښـي راځـي چي د رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښي يو کس د خپـلـي مـحرمي ښځي سره نکاح کړي وه، نو رسول الله ﷺ يو صحابي هغۀ پسي وليږۀ چي ورشه ددغه کس سر پريکړه.
عـن يـزيـد بن البراءِ عن أبيه قال : أصبت عمى ومعه راية فقلت أ ين تريد ؟ فقال : بعثنى رسلو الله ﷺ إلى رجل نكح امرأة أبيه أن أضرب عنقه وآخذ ماله. (رواه النسائی وسنده صحيح).

(زۀ د خپل ترۀ سره په داسې حالت کښې مخامخ شوم چې دَ هغۀ بیرغ په لاس کښې وو، ماورته وویل: چیرته ځې؟ نو هغه راته وویل: زۀ رسول الله ﷺ دداسې کس طرفته لیږلې یم چې هغۀ د خپل پلار د ښځې (میرنۍ) مور سره نکاح کړې، چې دَ هغۀ سر پریکړم)۔

دَ احنافو مذهب دادې چې یو کس د خپلې محرمې سره نکاح وکړي نو کۀ چیرې ددې په حرمت باندې جاهل وو، نو په دۀ حد نۀ شته او نۀ تعزیر۔ اوکۀ چیرې دۀ دا اقرار کول چې زۀ ښۀ پوهیدم چې ددې ښځې نکاح په ما حرامه ده او ددې سره سره ئې بیا هم ورسره نکاح کړې وه نو بیا هم په دۀ څۀ حد نشته، البته سیاسیً به ښۀ سزا ورکولې شي۔

وإن قال: علمتُ أنها عليَّ حرام ولكن يجب المهر ويعاقب عقوبة هي أشد ما يكون التعزير سياسةً لا حدًا مقدرًا شرعًا، إذا كان عالما بذلك. (مرقاة شرح المشكاة، باب المحرمات، تبيين الحقائق شرك كنز الدقائق باب الوطي الذي يوجب الحد والذي لا يوجب).

کۀ د دوئ نه تپوس اوشي چې په دې حدیث کښې خو راځي چې رسول الله ﷺ د داسې مجرم سر پریکړې؟ دوئ وائي: د هغۀ سر خو ئې یا په دې وجه پریکړې چې هغه دیته جائز ویلې وو، او یا ئې دا کار رسول الله ﷺ سیاستا کړې، وقالوا: جاز فيه أحد الأمرين أنه للاستحلال أو أمر بذلك سياسةً وتعزيرًا. (فتح القدير باب الوطي الذي يوجب الحد والذي لا يوجب).

صحیح حدیث کښې راځي: عن معاية رضى الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: من شرب الخمر فاجلدوه، فإن عاد في الرابعة فاقتلوه. (رواه عبد الرزاق ١٩٠٨٧، وأحمد ٩٥/٤، ٩٦، ١٠١، وأبوداود: ٤٤٨٢، وابن ماجه: ٢٥٧٣، والترمذى: ١٤٤٤، وفى العلل الكبير له: ٢٤٦، وأبو يعلى ٧٣٦٣، والطحاوى فى شرح المعانى :١٥٩/٣، وابن حبان: ٤٤٤٦، والطبرانى فى الكبير: ٧٦٧/١٩، و ٧٦٨، والحاكم: ٣٧٢/٤، والبيهقى: ٣١٣/٨، من حديث معاوية بن أبى سفيان به. وأخرجه أبوداود :٤٤٨٣، والنسائى: ٣١٣/٨، والحاكم: ٣٧١/٤، من حديث عبد الله بن عمر به، وأخرجه أحمد: ٢٩١/٢، وأبوداود: ٤٤٨٤، وابنر ماجه ٢٥٧٢، والنسائى: ٣١٤/٨، وابن حبان: ٤٤٤٧، والحاكم: ٣٧١/٤، من حديث أبى هريرة به).

ډیر علماء وائی چی دا حدیث منسوخ شوی۔ شیخ انور شاه کشمیری په العرف الشذی شرح الترمذی کښی ددی حدیث لاندی لیکی :
أقول : الحديث معمول به عندنا أی الأحناف و نحمله على التعزير، ويجوز القتل عندنا تعزيرًا، (العرف الشذى للأنور الكشميرى).
(یعنی دی حدیث کښی دا حکم سیاسی دی)۔
٥ -د احنافو مذهب دادی چی کۀ یو کس د بل کس لاس یا خپه پریکړی یائی غاښ مات کړی نو په دۀ باندی قصاص ورکول لازم دی، لیکن کۀ دوه کسان دا کار وکړی نو په دوئ قصاص نشته البته په شریکه به تاوان ورکوی۔
ولا يؤخذ العدد بالعدد فيما دون النفس مما يجب على أحدهما فيه القصاص لو انفرد كالإثنين إذا قطعا يد رجلٍ أو رجله أو إصبعه أو أذهبا سمعه أو بصره أ قلعا سنا له أو نحو ذلك من الجوارح التى على الواحد منهما فيها القصاص لو انفرد به فلا قصاص عليهما، وعليهما الأرش نصفان. (بدائع الصنائع، فصل : الجناية على ما دون النفس. الجوهرة النيرة شرح لمختصر القدورى كتاب الجنايات).
امام شافعیؒ او نور امامان وائی : که یو کس دا کار وکړی نو دَ هغۀ نه به قصاص اخستل کیږی، اوکۀ ډیر خلق ئی وکړی نو د هغوئ ټولو نه به قصاص اخستلی شی۔
ددی مثال داسی دی لکه چی ډیر کسان را پاڅی او یو کس په ناحقه قتل کړی، نو دوئ ټول به وربandی قصاص کولی شی۔
دارنګه د علی رضی الله عنه نه نقل دی چی هغۀ ته د یو کس په غلا ګواهان تیر شو، نو علی رضی الله عنه د هغۀ لاس پریکړو، بیا همدغه ګواهان راغلل او عرض ئی وکړو چی مونږ خطاء شوی یو، دا کس غل نۀ وو، بلکه غل بل کس وو ! نو علی رضی الله عنه ورته وفرمایل : زۀ په دی سره ستاسو تصدیق نۀ کوم، او د دغه اول کس د لاس تاوان به ورکوئ، اوکۀ زۀ خبر وی چی دا کار تاسو قصدا کړی، نو ستاسو دواړو لاسونه به می (دده په قصاص کښی) پریکړی وو۔
(بخاری په خپل صحیح کښی معلق راوړی، دارنګه : كتاب الأم للشافعى : ١٦٨/٧، السنن الكبرى للبيهقى : ٢٥١/١٠، ٢٠٩٨١، مصنف عبد الرزاق : ٨٨/١٠، رقم : ١٨٤٦٠،

١٨٤٦١، السنن الصغرى للبيهقي : ٣١٠/٣، التلخيص الحبير فى تخريج أحاديث الرافعي الكبير : ١٢/٥، وفى نسخة : ١٩/٤، وقال : إسناده صحيح، وابن أبى شيبة : ٤٥١/٥، ٢٧٨٩١، والدارقطني : ١٨٢/٣، رقم : ٢٩٤، المجموع للنووى، المغنى لابن قدامة، مجموع الفتاوى : ٣٨٣/٢٠، منهاج السنة فى نقص كلام الشيعة والقدرية لابن تيمية).

امام شافعیؒ او نور امامان وائی : وګوره دلته علی رضی الله عنه د یو لاس په بدل کښې دوه لاسونه پریکول، نو ددی نه معلومه شوه چې د یو لاس په بدل کښې ډیر لاسونه قصاصاً پریکول بیخی صحیح دی۔

احناف چونکه د خپل مذهب نه مجبور دی، وائی : علی رضی الله عنه دا خبره سیاسی کړې۔

إنما قال ذلك على سبيل السياسة بدليل أنه أضاف القطع إلى نفسه. (بدائع الصنائع فصل : الجناية على مادون النفس).

په مبسوط للسرخسی کښې دی : چې علی رضی الله عنه په رشتیا د دوئ لاسونه نۀ پریکول، دا خبره ئې هسې زجراً او تهدیداً ورته کړې وه۔ ولكنا نقول : هذا اللفظ منه على سبيل التهديد بدون التحقيق. (المبسوط، كتاب الرجوع عن الشهادة).

٦ - **په صحیح حدیث** کښې راځی چې دَ رسول الله ﷺ په زمانه کښې به یوې ښځې د خلکو نه څۀ شی سوالی غوښتل او بیابه په هغه شئ باندې منکر کیدله ! نو نبی کریم ﷺ ئې په لاس پریکولو حکم وکړو :

عن عائشة قالت : كانت امرأة مخزومية تستعير المتاع وتجحده فأمر النبى ﷺ أن تقطع يدها فأتى أهلها أسامةَ بن زيد فكلموه فكلمَ رسول الله ﷺ فيها، فقال : لو كانت فاطمة لقطعتُ يدها. (أحمد : ١٥١/٢، وابوداود : ٤٣٩٥، النسائى ٥٦/٢، وابن الجارود ٨٠٤، السنن الكبرى للبيهقى، المعجم الكبير والأوسط للطبرانى، صحيح مسلم وغيرهم، والتفصيل فى الإرواءِ والمحلى : ٣٥٩/١١، للإمام ابن حزم).

لیکن احناف وائی : د داسی کس لاس پریکول نشته، کومه خبره چې په دې حدیث کښې راغلی نو دا کار رسول الله ﷺ سیاسی کړې۔

وما روى أنه عليه الصلاة والسلام قطع مخزومية كانت تستعير المتاع وتجحده : فمحمول

علـى أنـه مـنسـوخ بـمـا رويـنـا أو عـلـى أنـه سياسة لتكرر الفعل منها. (تبيين الحقائق، شرح كنزدالدقائق، كتاب السرقة).

۷ – **دَ رد المحتار** مؤلف دَ عمر رضی الله عنه نه نقل کړی چی هغهٔ یو ځوان صرف په دی خاطر جلا وطن کړو چی ډیر ښائسته وو، او ددهٔ په وجه ښځی په فتنه (ګناه) کښی پریوتلی۔

بیا لیکی : دا کار عمر فاروق رضی الله عنه سیاسیۃً کړی۔

لأن ابـن عمر رضى الله عنه نفى غلاماً صبيح الوجه افتتن به النساء، والحسنُ لا يوجب النفى إلا أنـه فـعـلـه سيـاسةً لا حـدًّا. وانـظر نحوه فى رد المحتار : ۲۳۳/٤، مطلب فى الكلام على السيـاسة، وكـذا فـى مـطـلـب التعزير قد يكون معصية، ونحوه فى مجمع الأنهر باب ما يثبت الزنا).

۸ – **په صحیح** حدیث کښی راځی چی دَ رسول الله ﷺ نه تپوس وشو چی دلته د یتیمانانو شراب دی، آیا ددی نه سرکه جوړولی شو ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : نه۔ (رواه أبوداود والترمذی وأحمد والدارمی وغيرهم).

د عمر فاروق رضی الله عنه نه هم دا شان نقل دی۔

لیکن دَ احنافو مذهب دادی چی د شرابو نه سرکه جوړول جائز دی !

دویٔ دَ رسول الله ﷺ دَ صحیح حدیث او دَ عمر فاروق رضی الله عنه دَ اثر دا جواب کوی، چی هغویٔ دا حکم سیاسیۃً او زجراً کړی۔ (یعنی دا خو څهٔ شرعی حکم نهٔ دی چی منل ئی لازم وی)۔

ثـم تأويل حديث عمر رضى الله عنه مثلُ ما بينا من تأويل الحديث المرفوع أنه نهى عن ذلك على طريق السياسة للزجر. (المبسوط للسرخسى، كتاب الأشربة).

۹ – **دَ عمر فاروق** رضی الله عنه نه صحیح ثابت دی چی هغهٔ د غلهٔ یو لاس پریکړو، بل وخت هغه بیا په غلا ګیر شو، نو هغهٔ ورته ښیٔ خپه پریکړه، بیا په دریم ځل ئی بل لاس ورتـه پـریکړو۔ (أخـرجـه ابـن الـمنذر فى الأوسط وابن أبى شيبة : ٤٩٠/٥، ٢٨٢٦٢، وعبد الـرزاق : ١٨٧/١٠، ١٨٧٦٧، والـدارقـطـنى : ١٨١/٣، ٢٩٣، والبيهقى : ٢٧٤/٨، وإسناده صحيح).

د قرآن کریم نه هم معلومیږی چی دواړه لاسونه پریکول صحیح دی۔ ﴿فاقطعوا أیدهما﴾۔(دواړه لاسونه ئی پریکړئ)۔
لیکن د احنافو مذهب دادی چی یو کس غلا وکړی او ددهٔ لاس په غلا کښی پریکړی شو، بیائی کهٔ په دویم ځل غلا وکړه، نو ښیٔ پښه به ئی پریکړی شی۔ لیکن کهٔ په دریم ځل ئی غلا وکړه، نو ددهٔ لاس یا پښه به نهٔ پریکړی کیږی، دی باره کښی ئی حدیث هم ذکر کړی چی په دریم ځل ئی دا بل لاس پریکړئ۔ لیکن بیا لیکی : اول خو طحاوی په دی حدیث جرحه کړی۔ یا دا چی دا حدیث مونږ په سیاست حمل کوو !!
والحدیث : (من سرق فاقطعوه، فإن عاد فاقطعوه، فإن عاد فاقطعوه) طعن فیه الطحاوی رحمه الله أو نحمله علی السیاسة. (العنایة).
ولئن صحَّ فهو محمول علی السیاسة. (تبیین الحقائق. ونحوه فی البحر الرائق و کذا فی مجمع الأنهر فی شرح ملتقی الأبحر).
۱۰ - **دَ جمهورو** علماؤ دا مذهب دی چی کهٔ چا دَ مړی د قبر نه کفن پټ کړو، نو دا کس غل حسابیږی، ددهٔ لاس به پریکولی شی۔ لکه په (موسوعة الفقه الکویتیة، حرف النباش) کښی راځی : جمهور الفقهاءِ من المالکیة والشافعیة والحنابلة وأبی یوسف من الحنفیة وإبراهیم النخعی وحماد بن أبی سلیمان وربیعة ابن أبی عبد الرحمن وإسحاق بن راهویه والحسن البصری وعمر بن عبد العزیز وهو (عبارت محذوف معلومیگی) أن النباش یعتبر سارقًا تجری علیه أحکام السارقین، فتقطع یده إذا سرق من أکفان الموتیٰ ما یبلغ نصاب السرقة، لأن الکفن مال متقوم سرق من حرز مثله وهو القبر، فکما أن البیت المغلق فی العمران یعتبر حرزًا لما فیه عادة وإن لم یکن فیه أحد، فإن القبر یعتبر عادةً حرز لکفن المیت.
جمهور علماء وائی چی دهٔ غلا کړی او دی ئی د غلهٔ په تعریف کښی داخل کړی، نو ددی وجی نه به ددهٔ لاس پریکولی شی۔ دارنګه دویٔ دی باره کښی بعضی خصوصی دلائل هم ذکر کوی چی رسول الله ﷺ فرمائی : نبش قطعناه. عن عائشة مرفوعًا : سارق أمواتنا کسارق أحیائنا.
دارنګه امام عبد الرزاقؒ په خپل مصنف کښی (۲۱۶/۱۰) کښی د عمر فاروق رضی الله عنه اثر نقل کړی : عن عبد الله بن عامر بن ربیعة أنه وجد قومًا یختفون القبور بالیمن، علی

عهد عمر بن الخطاب، فكتب فيهم إلى عمر، فكتب عمرُ : أن اقطع أيديهم. (نصب الراية، المحلى لابن حزم : ۳۳۰/۱۱).

(ابن أبي شيبة : ٢٨٦١٤) كښې راځي : أن عمر عبد العزيز قطع نباشًا. امام ابوداودؒ په خپل سنن كښې داسې باب راوړي : باب فى قطع النباش : ۲٤۹/۲.

امام بيهقيؒ هم په خپل سنن كښې داسې باب راوړى : باب النباش يقطع : ۲۷۰/۸.

ليكن بل طرفته احناف صاحبان وائى : ددې كس لاس به نۀ پريكيږي، او دې باره كښې چې كوم حديثونه يا آثار راغلي، نو اول خو ثابت نۀ دى، بيا كۀ ثابت شي نو دا تهول سياسي شوي۔ وګوره :

(المبسوط باب سرقة المصحف ونحوه فى مجمع الأنهر باب ما يثبت حد السرقة، ونحوه فى العناية شرح الهداية باب ما يقطع فيه ومالا يقطع، ودرر الحكام شرح غرر الأحكام، كتاب السرقة وفتح القدير والبحر الرائق.

لئن صح أن النبى ﷺ قطع نباشًا أو أحدًا من الصحابة رضى الله عنهم أجمعين، فإنه يحمل على أنه كان ذلك بطريق السياسة وللإمام رأى فى ذلك.

۱۱ – **حديث كښي** راځي : أيما عبدٍ تزوج بغير إذن سيده فهو عاهر.

(كوم غلام چې دَ خپل آقا(بادار) د اجازت نه بغير نكاح وكړه، نو دا زنا كار دى)۔

(الترمذى : ۲۰۷/۱، وأبوداود ۲۰۷۸، والدارمى ۱۵۲/۲، وابن ماجه ۱۹۵۹، والطحاوى فى المشكل ۲۹۷/۳، وابن عدى فى الكامل ۲/۸۸، و أبو نعيم ۳۳۳/۷، والحاكم ۱۹٤/۲، والبيهقى ۱۲۷/۷، وأحمد ۳۰۱/۳، وقال الترمذى : حديث حسن. وقال الحاكم : صحيح الإسناد ووافقه الذهبى۔ الإرواء).

ابو بكر الجصاص په خپل تفسير كښې د ابن عمر رضى الله عنه نه نقل كړي :

وروى هشيم عن يونس عن نافع : أن مملوكًا لابن عمر تزوج بغير اذنه فضربهما وفرّق بينهما وأخذ كلَّ شئ أعطاها.

(دَ ابن عمرؓ يو غلام ددۀ بې اجازته نكاح كړې وه، نو ابن عمرؓ هغه ووهل او دواړو كښې ئې بيلتون راوستل او دَ هغه وينځې نه ئې تهول هغه شيان واخستل كوم چې ددۀ غلام وركړي وو)۔

ددی روایت نقل کولو نه پس لیکی :

قال أبو بكر : واتفق من ذكرنا قوله من السلف أنه لا حدَّ عليهما، وإنما روى الحدُّ عن ابن عمر، وجائز أن يكون جلدهما تعزيرًا لا حدًّا، فظن الراوى أنه حدّ. (أحكام القرآن للجصاص، تحت قول اللّٰه تعالى : والمحصنات من الذين أتوا الكتاب من قبلكم).

(یعنی : کوم سلف چی مونږ ذکر کړل د دوئ په دی اتفاق دی چی داسی غلام ته به حد نهٔ ورکولی کیږی، حد صرف د ابن عمر رضی اللّٰه عنه نه نقل دی، نو (ددی جواب دادی چی) کیدی شی ابن عمرؓ خپل غلام تعزیراً (سیاسیۃً) وهلی وی، خو راوی ګمان کړی چی ابن عمرؓ ګنی حد ورکړو)۔

سیاست او تعزیر

په رد المحتار کښی راځی چی سیاست او تعزیر یو شی دی۔ والظاهر أن السياسة والتعزير مترادفان، ولذا عطفوا أحدهما على الآخر لبيان التفسير، كما وقع فى الهداية والزيلعى وغيرهما، بل اقتصر فى الجوهرة على تسميته تعزيرًا... رد المحتار : ١٧٨/٤).

دی باره نور ډیر مثالونه هم شته مونږ پدی اکتفاء کوو۔

حاصل دا چی احنافو ځومره بی شماره احادیث او آثار په سیاست او تعزیر باندی حمل کړی کوم چی د دوئ د مذهب خلاف دی، نو که عام محققینو د عمر فاروق رضی اللّٰه عنه فیصله (چی په یو ځل دری طلاقه دری شماریږی) د صحیحو غیرمنسوخو احادیثو لهَ وجی په تعزیری فیصلی باندی حمل کړی شی نو دیکښی څه ملامتیا او بدی پرته ده .

حلاله

سوال: یوسړی چی خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکړی نو ده ته اکثره احناف ملایان د حلالی لاښوونه کوی ، تاسی دی باره کښی مونږته د حلالی متعلق تفصیلی بحث ولیکئ .

جواب: په اسلامی شریعت کښی قانون دادی چی کله یو سړی خپلی ښځی ته دری طلاقه په مختلفو وختونوکښی ورکړی، نو معلومیږی چی د دوئ ترمینځ جوړ جاړی او شریك ژوند تیرول مشکل دی، نو په دی وجه اسلام ورته حکم کړی چی نور دا ښځه

اوخاوند خپلو کښې سره دَ ښځې او خاوند ژوند نشي تیرولی۔ دا ښځه ددې نه پس په دې سرې حرامه ده۔

دا ښځه اوس کولی شي چې د بل کس سره نکاح وکړي، البته د دوئ ترمینځ د لعان په شان نکاح ابداً حرامه نۀ ده۔ بلکه کۀ چیرې دا طلاقه شوې ښځه د دویم خاوند سره نکاح وکړي، او دویم خاوند ورسره جماع وکړي، ددې نه پس ددې ښځې دا خاوند مړ شي، یا د څۀ وجوهاتو په بناء ورته طلاق ورکړي، نو کۀ چیرې په دویم ځل دغه پخوانی ښځه او خاوند بیا نکاح کول غواړي نو اسلام ورته د دویم ځل لپاره د نکاح کولو اجازه ورکړې۔

دا فیصله د عقل هم موافقه ده او د فطرت هم۔ قرآن کریم کښې الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ فإن طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجًا غيره فإن طلقها فلا جناح عليهما أن يتراجعا إن ظنا أن يقيما حدود الله وتلك حدود الله يبينها لقوم يعلمون ﴾.

ددې آیت مطلب بس همدا دی نور څۀ نۀ دي۔

لیکن الصادق المصدوق ﷺ مونږ ته دَ مخکې نه داخبر راکړی چې په دې امت کښې به هم څۀ خلق د یهودو او نصاریٰ پشان حیله ګر، د الله د کتاب غلط تعبیر کونکي، په ظاهره د شریعت مطابق او حقیقت کښې حرام او ناروا کونکي جوړ شي۔

آخر دا چې په دې مسئله کښې هم ددې مصداق والا خلك را پیدا شول، حیله ګرو مُلیانو ددین او مذهب په جامه کښې ددې آیت غلط او فاسد تاویل شروع کړ، په یو ناروا او غیر فطري، د ښځې او خاوند په جامه باندې د همیشه لپاره بدنما اوبد شکله داغ لګونکې کار په جواز باندې ئې استدلال نیولی۔

جواز څۀ ! چې د شیعه ګانو د مُتعې پشان دوئ هم دا شنیع او د دیوث توب کار کول د ثواب درجې ته ورسول، دیته ئې ثواب هم وویل۔

د درې طلاقو نه پس ئې طلاقه شوې ښځه اولنی خاوند ته د حلالولو دپاره دا حیله را وویستله چې طلاقه شوې ښځه به یوه شپه دوه شپې د بل سړي سره نکاح وکړي، ددینه پس به ورته طلاق ورکړي او دا ښځه به بیرته د اول خاوند سره نکاح وکړي۔

دې کار ته ئې د ((حلالې)) نوم کیښود !! ددې لپاره ئې په خپلو کتابونو کښې قِسما قِسم حیلې ولیکلې !!

حقيقت دادی چی دا دَ متعی (يعنی دَ شيعه ګانو دَ نکاح) دويم نوم دی، بلکه د هغی نه هم ډير بدتر عمل دی۔
شيخ محمد عبدهُ ليکی : إن نكاح التحليل شر من المتعة وأشد فسادًا وعارًا. (تفسير المنار : ۳۲۱/۲).
هُو، واقعی چی په دی حلالی سره ښځه د چاقو اوچاړهٔ نه بغير حلاليږی، د ښځی په جامه د هميش لپاره تور داغ لګيږی !!
په دی سره دَ ښځی نه د حياء او شرم پرده پورته شی، بی حياء او بی شرمه ګرځی !!
د يو کس په ځای ددی نه پس دَ دوه کسانو شوه۔
دا هر څهٔ د دين، مذهب او د حلالی د نکاح په نوم باندی !!
راشئ وګورئ چی په اسلامی نکاح اودی قِسم ناروا، غير فطری، غير اخلاقی نکاح کښی څومره فرق دی ؟
په اسلام کښی چی څوك نکاح وکړی:
❁ نو هغهٔ تهٔ نيم ايمان د تکميل زيری ورکړی شوی۔
❁ هغهٔ ته په (بارك الله فيك) سره مبارکی ويل سنت ګرځول شوی۔
❁ هغهٔ ته په سنت باندی عمل کونکی ويلی شوی۔
❁ هغهٔ ته خلق هديی او تحفی راوړی۔
ليکن د حلالی نکاح کونکی ته دَ کرائيی ټټو، ګډ او ملعون ويلی شوی۔دا کس دَ مبارکی وړ نهٔ، بلکه دَ رجم مستحق ګڼلی شوی۔ دا قِسم نکاح سنت نبوی نهٔ، بلکه د صحابه کرامؓ دَ فتوی مطابق زنا ده۔
(وإن كنا نعدُّه على عهد رسول الله ﷺ سفاحًا . رواه عبد الرزاق).
❁ په شرعی نکاح کښی د ټول ژوند لپاره د نکاح کولو نيت وی – په حلاله کښی د يو دوه شپو بلکه د يو ساعت، نيم ساعت لپاره نکاح وی !!
❁ د شرعی نکاح مقصد خپله پاکدامنی او د نيك اولاد حصول وی، او د حلالی مقصد خپل شهوت سړول اوبل ته حلالول وی !!
❁ په شرعی نکاح کښی د ښځی رضا فرض او ضروری وی – په حلاله کښی نهٔ اجازه

وی، نه رضا!!۔

❁ د شرعي نکاح کولو وخت کښې سړی او ښځه د یو بل دین، حسب اونسب، مال، دولت، حسن او جمال ته ګوری – په حلاله کښې دی یو څیز ته هم کتل نۀ کوی۔

❁په شرعي نکاح کښې مونږ ته ویل شوی چې د نکاح اعلان وکړئ۔ (أعلنوا بالنكاح). (أحمد، طبراني، حاكم، صحيح الجامع للألباني).

په حلاله کښې چې څومره کیدی شی دا نکاح پټولی شی۔

❁ په شرعي نکاح کښې وادۀ والا ته دَ ولیمې کولو حکم شوی – په حلاله کښې ولیمه نۀ وی۔

❁ په شرعي نکاح کښې مور اوپلار د خپل وسع او طاقت مناسب لور ته څۀ سامان وغیره ورکوی – په حلاله کښې ددی درك هم نۀ لګی !!۔

❁ په شرعي نکاح کښې ټول خپل خپلوان ښځې او سړی ته مبارکی او دعاګانی کوی – په حلاله کښې د – الله او مخلوق – هر طرفنه لعنت او ملامتیا ویلی کیږی۔

❁ په اسلامی نکاح کښې ښځه ناوی کړی شی، او خپل خپلوان ئې په ډیر عزت سره روانه کړی– په حلاله کښې نۀ ناوی توب وی اونۀ بوتلل، بلکه ښځه په خپله روانه وی !!۔

❁ د مسلمانانو په نکاح کښې به سړی خپلې ښځې ته مهر، نفقه اوخرچه ورکوی – په حلاله کښې ددی درك هم نۀ وی، بلکه دَ کرائی ګډ، اوټټو ته پیسې ورکول کیږی !!۔

❁ په شرعي نکاح کښې ټول په ټول سنت، رحمت او راحت دی – حلاله ټول په ټوله لعنت، او باعثِ ملامت ده۔

❁ شرعي نکاح دَ عزت، عصمت او پاکدامنۍ لاره ده– د حلالی نکاح دَ زنا، بی شرمۍ او بدکارۍ لاره ده۔

(و ګوره: دَ طلاق مسائل، دَ شیخ محمد إقبال کیلاني حفظه الله، : ۲۸مخ).

دا خو د نکاح او حلالی ترمینځ فرقونه وو۔ اوس راشه احادیثو ته، چې هغه دی باره کښې څۀ وائی ؟

دَ حلالې په حُرمت باندې احادیث :

نو دداسې ناکاره عمل په بدئ او حرمت کښې خو دومره ډیر احادیث راغلي چې علماؤ متواتر ګڼلي، وګوره (إتحاف ذوی الفضائل المشتهرة فی الأحادیث المتواترة، ص : ۱۱۰، للشیخ العلامة الغماری.

۱ – عن عقبة بن عامر، أن رسول الله ﷺ قال : ألا أخبركم بالتیس المستعار ؟ قالوا : بلی یا رسول الله ! قال : هو المُحَلِّلُ، ولعن الله المحلِّلَ والمحلَّلَ لهٗ.

(رسول الله ﷺ فرمائي : آیا زهٔ تاسو ته، په سوال غوښتلي شوي (دَ کرائي) ګډ خبر درنهٔ کړم ؟ صحابه کرامو رضی الله عنه عرض وکړو، ولې نه، یا رسول الله ! رسول الله ﷺ وفرمایل : دا مُحلِل (حلالوونکی) کس دی، الله تعالیٰ دی په حلاله کونکي او دَ چا لپاره چې حلاله کیږي دواړو باندې لعنت وکړي)۔

(رواه ابن ماجه، والحاكم ۱۹۸/۲، ۲۷۵۵، المعجم الكبير للطبرانی رقم : ۱۴۲۴۲، والدارقطنی ۳۶۶۱، والبیهقی ۲۰۷/۸، كما فی الكنز ۲۷۸۴۹، ۲۸۰۶۶، ونصب الراية، والمسند الجامع ۹۸۴۲، والإرواءِ، وإبطال الحیل لشیخ الإسلام ابن تیمیة ۱۰۵، وصحیح الجامع للألبانی ۴۳۶۱).

۲ – عن ابن مسعود قال : لعن رسول الله ﷺ المُحَلِّلَ والمُحَلَّلَ لهٗ.

(رواه الترمذی ۱۳۳/۱، رقم ۱۰۳۹).

(عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ په حلاله کونکي او د چا لپاره چې حلاله کولې شي، دواړو باندې لعنت ویلې)۔

امام ترمذیؒ ددې روایت نقل کولو نه پس فرمائي : وقد روی هذا الحدیث عن النبی ﷺ من غیر وجهٍ، والعمل علی هذا الحدی عند أهل العلم من أصحاب النبی ﷺ منهم عمر بن الخطاب وعثمان بن عفان وعبد الله بن عمرو وغیرهم، وهو قول الفقهاءِ من التابعین وبه یقول سفیان الثوری وابن المبارك والشافعی وأحمد وإسحاق، قال : وسمعتُ الجارود بن معاذٍ یذكر عن وكیع أنه قال بهذا، وقال : ینبغی أن یرمی بهذا الباب من قول أصحاب الرأی، قال جارودُ : قال وكیع : وقال سفیان : إذا تزوَّجَ الرجلُ المرأةَ لیُحَلِّلَهَا ثم بدا له أن یمسكها،

فلا يحل له أن يمسكها حتى يتزوجها بنكاح جديدٍ.
(دَ نبی کریم ﷺ نه دا حدیث په ډیرو سندونو سره نقل شوی، او دَ صحابوؓ او تابعینوؒ د علماؤ هم دا قول دی - لکه عمر بن خطابؓ، عثمان بن عفانؓ، عبد الله بن عمروؓ غیرهم، دارنګه دَ فقهاؤ تابعینو هم دا قول دی.دارنګه دَ حدیث د امامانو لکه سفیان ثوریؒ، عبد الله بن مبارکؒ، امام شافعیؒ، امام احمدؒ، امام اسحاقؒ هم دا قول دی. دَ امام وکیعؒ مذهب هم دادی.امام وکیعؒ به فرمایل :چی دی باره کښی د اهل رائیو (احنافو، حلالی کونکو) قول ګذارول پکار دی.امام وکیع دا هم فرمائی : ما د سفیان ثوریؒ نه واوریدل چی کۀ یو سړی د حلالی نکاح وکړه او بیا غواړی چی دا ښځه ځان سره وساتی، نو د دغه حلالی په نکاح ئی نشی ساتلی (ځکه دا خو حقیقت کښی نکاح نۀ ده) بلکه له سر نه به (صحیح) نکاح تړی).
(جامع الترمذی ١٣٣/١).
دَ عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دا حدیث په لاندینو کتابونو کښی هم راغلی :
(مسند أحمد ٤١٧١، ٤٠٩٨١، ٤٠٥٩، ٤٠٥٨، سنن الدارقطنی ١٥٨/٢، ٢٣١٣، مسند أبی يعلى ٤٩٢٤، معرفة السنن والآثار ٧٢٤٤، المعجم الكبير للطبرانی ٩٧٥٠، اب أبی شيبة ٤٤/٧، مصنف عبد الرزاق ١٥٣٥٠، ١٠٧٩٣، السنن الكبرى للنسائى ٥٦٠٩، ٥٥٣٧، المسند الجامع ٢٩٩١/١، ١٩٢٨، التلخيص الحبير ١٧٠/٣).
٣ - د علی رضی الله عنه نه هم دا روایت نقل شوی، اوګوره : (مسند أحمد رقم ١٢٩٤، ١٢٢٢، ٩٣٣، ٨٠٣، ٦٨٣، ٦٣٤، ٦٢٤، ٦٠١، ابن ابی شيبة، السنن الكبرى ٢٠٨/٧، مسند البزار ٧٧٤، ٧٤٢، مصنف عبد الرزاق ١٠٧٩١، شعب الإيمان ٥٢٦٦، مسند أبی يعلى ٤٩٣، المسند الجامع، صحيح الترغيب ٧٥٨، ابن ماجه، الترمذی).
٤ - جابر رضی الله عنه : (جامع الترمذی ١٠٣٨، صحيح الجامع للألبانی ١١١٩، كنز العمال ٢٧٨٤٨، نصب الراية).
٥ - عبد الله بن عباس رضی الله عنه :(أخرجه ابن ماجه ٦٤٨٣، والترمذی، باب ما جاء فی المحلل والمحلل له، وقال : هذا حديث حسن صحيح، والنسائی فی الطلاق مطولاً، باب إحلال المطلقة ثلاثاً وما فيه من التغليظ ١٤٩/٦، والدارمی، باب فی النهی عن التحليل

١٥٨/٥، والبيهقى ٢٠٨/٧، وأحمد ٤٤٨/١، المسند الجامع ١٩٢٤، وقال الحافظ فى التلخيص : ١٧٠/٣ : وصححه ابن القطان و ابن دقيق العيد على شرط البخارى).

٦ - ابو هريره رضى الله عنه :

(مسند أحمد ٧٩٣٧، ابن أبى شيبة، وابن الجارود ٦٦٦، والبيهقى ٢٠٨/٧، كما فى المسند الجامع ١٣٥٧٣، والمجمع ١٨٧/٢، والإرواء ٣٠٧/٦، كما فى التلخيص الحبير ١٧١/١).

نصب الرايه کښې دى : قلت : روى من حديث ابن مسعود، ومن حديث على، ومن حديث جابر، ومن حديث عقبة بن عامر، ومن حديث أبى هريرة، ومن حديث ابن عباس.

امام سیوطیؒ هم په خپل تفسیر الدر المنثور کښې تفصیلاً ذُکر کړی۔

الغرض : ددې کرکجن، حرام او بې غیرته کار په حرمت او بدئ کښې ډیر زیات احادیث راغلی، دا ټول په دې مسئله دلیل دی چې ((حلاله)) یو لعنتی او حرام کار دی، او څوک چې ((حلاله)) کوی نو دا سړی ددې ښځې خاوند نهٔ بلکه دَ کرایه ټټو او ګډ دی۔

ددې لعنتی حلالې متعلق د صحابه کرامو (رضى الله عنهم) موقف :

د عبد الله بن عمر رضى الله عنه نه په صحیح سند سره نقل دی چې دا کار به مونږ صحابه کرامو زنا ګڼله:

وإن كنا نعدُّه على عهد رسول الله ﷺ سفاحًا. وقالا : لا يزالا زانيين وإن مكثا عشرين سنةً، إذا علم أنه يريد أن يحلها.

(مونږ صحابه کرامو رضى الله عنهم) به دا (حلاله) دَ رسول الله ﷺ په زمانه کښې زنا ګڼله- ابن عمر رضى الله عنه به دا هم فرمایل : دوئ همیشه زنا کونکی دی، اګرکهٔ شل کاله سره تیر کړی، کله ئې چې طلاقی خاوند ته پته وی چې دا ئې زما لپاره حلالوی)۔

یعنی اوس خو به یوه شپه دوه شپې د حلالې نکاح کوی، کهٔ شل کاله هم د حلالې په نیت سره نکاح وکړی، نو بیا هم د اولنی خاوند لپاره نهٔ جائز کیږی۔

(أخرجه عبد الرزاق ١٠٧٧٨، والطبرانى فى الأوسط ١٧٤، ٢/ والحاكم ١٩٩/٢، والبيهقى ٢٠٨/٧، كما فى الإرواءِ ١٨٩٨، وقال الإمام الألبانى : صحيح).

پہ مستدرك دَ الحاكم او (البيهقى ٢٠٨/٧) کښې داسې الفاظ راغلي :

جاء رجل إلى ابن عمر رضى الله عنهما، فسأله عن رجل طلق امرأته ثلاثاً، فتزوجها أخ له، من غير مؤامرة منه، ليحلها لأخيه، هل تحل للأول ؟ قال : لا، إلا نكاح رغبة، كنا نعدّ هذا سفاحاً على عهد رسول الله ﷺ. قال الحاكم صحيح على شرط الشيخين، ووافقه الذهبى، قال الألبانى : وهو كما قالا).

(يو سړی عبد الله بن عمرؓ ته راغی او دَ يو داسې کس په باره کښې ئې ترې تپوس وکړو چې هغۀ خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړې وو، نو دا ښځه د طلاق ورکونکی د امر نه بغير ددۀ ورور په دې نيت په نکاح اخلی چې دخپل ورور لپاره ئې حلاله کړی، نو آيا (په داسې نکاح کولو سره) دا ښځه د اول ورور لپاره جائز کيږی ؟ ابن عمر رضی الله عنه ورته وفرمايل : نه، مګر کۀ واقعی دَ زړۀ نه ورسره نکاح کوی۔ مونږ به دَ نبی کريم ﷺ په مبارکه زمانه کښې دا زنا ګڼله)۔

طبرانی کښې داسې الفاظ نقل شوی :

فدخله من ذلك همٌّ، وأمرٌ شقّ عليه، فأردتُ أن أتزوجها، ولم يأمرنى بذلك، ولم يعلم به ؟ فقال ابن عمر : لا، إلا أن تنكح نكاح غِبطةٍ، إن وافقتك أمسكتَ، و إن كرهتَ فارقتَ، وإلا فإنا كنا نعدُّ هذا فى زمان رسول الله ﷺ سفاحًا.

(الطبرانى فى الكبير رقم ٦٧٥، الصغير رقم ٦٤٢٨، وقال الهيثمى فى مجمع الزوائد ٢٦٧/٤، رواه الطبرانى فى الأوسط ورجاله رجال الصحيح.

(يعنې دې کس ووئيل چې : طلاق ورکونکی د طلاق ورکولو په وجه په ډير خفګان او تکليف کښې غورزيدلی، نو زۀ غواړم چې ددې ښځې سره نکاح وکړم - حالانکه - زما ورور ماته نۀ په نکاح کولو امر کړی او نۀ په دې پوهه دی چې زۀ ورسره د حلالې په نيت نکاح کوم ؟ ابن عمر رضی الله عنه ورته وفرمايل : نۀ جائز کيږی، مګر کۀ سَم په رشتيا ورسره داسې نکاح کوی چې کۀ ستا ورسره طبيعت موافق شو، نو هميشه به ستا ښځه وی، اوکۀ جوړه دې ورسره رانغله نو طلاق به ورکړې، کۀ دا غرض دې نۀ وی بلکه د حلالې غرض دې وی، نو دا خو مونږ دَ رسول الله ﷺ په زمانه کښې زنا ګڼله)۔

عن عبد الملك بن المغيرة بن نوفل : أن ابن عمر سئل عن تحليل المرأة لزوجها ؟ فقال : ذلك

السفاح، لو أدرككم عمرُ لنكلكم. (أخرجه ابن أبي شيبة ۲/٤٤/۷). قلتُ : (الألباني) وإسناده صحيح، وروى مثله عبد الرزاق والبيهقي ۲۰۸/۷).

(ابن عمر رضی الله عنه نه د حلالی باره کښی تپوس وشو، نو وی فرمایل : دا خو زنا ده، کۀ عمر رضی الله عنه په دی کار تاسو موندلی وی نو هغۀ به داسی سزا درکړی وه چی هغه به خلکو ته د عبرت سبب جوړه شوی وه).

نکال : داسی (سختی) سزا ته وائی چی دَ خلقو دپاره دَ عبرت سبب جوړ شی.

دَ حلالی په باره کښی دَ امیر المؤمنین خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه فیصله :

په دی کښی شك نشته چی عمر فاروق – رضی الله عنه – په یو ځل دری طلاقه دری ګڼل او دَ مقلدینو صاحبانو د ټولو نه غټ او معتمد دلیل هم دادی، لیکن ددی سره سره عمر فاروق – رضی الله عنه – دا فرمان هم صادر کړی وو، چی دری طلاقه خو دری شمار شول، خو کۀ چا د دری طلاقونه پس حلاله وکړه، نو د هغۀ سزا رجم (سنګسارول، او په کاڼو مردارول) دی.

لکه د عمر فاروق رضی الله عنه نه په صحیح سند سره نقل دی چی هغه فرمایلی :
لا أجد مُحلِّلاً ولا محللاً لهٗ إلا رجمتهما.
(رواه سعید بن منصور فی سننه رقم ۱۹۹۲).

(کۀ زۀ حلاله کونکی سړی او د چا لپاره چی حلاله کیږی موندۀ کړم، نو خامخا به ئی سنګسار کړم).

په بل روایت کښی داسی الفاظ راغلی : لا أوتی بمحلل ولا بمحللة إلا رجمتهما.

(کۀ ماته حلاله کونکی سړی او حلاله کونکی ښځه راوستی شوه، نو زۀ به ئی خامخا په رجم – سنګسار – کړم).

(رواه ابن أبی شیبة ۲۹٤/٤، رقم ۱۷۰۸۰، مصنف عبد الرزاق ۲۱۱/٦، ۱۰۷۷۷، والبیهقی ۲۰۸/۷).

دَ حلالې دَ حرمت په باره کې د علماؤ اقوال

دَ حلالې په حرمت او عدم جواز په باره کښې خو د علماؤ دومره اقوال دي چې دَ هغې شمار ګران دې، مونږ دلته د هغو نه څۀ اقوال را نقل کوو۔
شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمائي : ((حلاله په اجماع د صحابه کرامؓ حرامه ده))۔ فتبين بالنصوص وإجماع الصحابة فسادُ هذه الأنكحة.
بل ځاى ليکي : واتفق على تحريم ذلك أصحاب رسول الله ﷺ والتابعون لهم بإحسان.
(ددې په حرمت باندې دَ رسول الله ﷺ صحابه کرامؓ او تابعينؒ اتفاق کړې)۔
(مجموعة الفتاوى).
أبو الاعلىٰ مودودي صاحب په خپل تفسير کښې ليکلي :
((دَ صحيحو احاديثو نه معلوميږي چې کوم کس خپله مطلقه ښځه محض د حلالې په خاطر د څۀ سازش په ډول چيرته په نکاح کړي او د مخکې نه دا خبره سره وکړي چې د نکاح نه پس به طلاق ورکوي، نو دا سراسريو ناروا کار دي، داسې نکاح، نکاح نۀ ده، بلکه محض بدکاري (زنا) شوه۔ او په داسې سازشي نکاح او طلاق سره ښځه قطعاً اول خاوند لپاره نۀ جائز کيږي۔ (تفهيم القرآن ١٧٦/٦).
شيخ محمد عبده ليکي : إن نكاح التحليل شر من المتعة وأشد فسادًا وعارًا. (تفسير المنار : ٣٢١/٢).
فقه السنۍ (٤٩/٢) کښې دي :
هذه النصوص صريحة فى بطلان هذا الزواج وعدم صحته لأن اللعن لا يكون إلا على أمر غير جائز فى الشريعة، وهو لا يحل المرأة للزوج الأول. ولو لم يشترط التحليل عند العقد مادام قصد التحليل قائمًا، فإن العبرة بالمقاصد والنوايا.
روسته بيا ليکي : إن هذا الزواح الصورى كذب وخداع لم يشرعه الله فى دين، ولم يبحه لأحد، وفيه من المفاسد والمضار مالا يخفى على أحدٍ.
زواج التحليل : وهو أن يتزوج المطلقة ثلاثاً بعد انقضاءِ عدتها، أو يدخل بها ثم يطلقها

ليحلها للزوج الأول. فهذا النوع من الزواج كبيرة من كبائر الإثم والفواحش، حرمه الله ولعن فاعله.

(يعنى : دَ حلالى نكاح غټه ګناه او بدترينه بى حيائى ده)۔

تفسير بيضاوى کښى دى : والنكاح بشرط التحليل فاسد عند الأكثر.

تفسير نيشاپورى کښى دى : وحيث حكمنا بفساد النكاح فالوطء لا يقع به التحليل على الأصح.

(او چونکه مونږ ددى نكاح په فساد باندى حكم وکړو، لهذا په دى کښى كۀ ښځه وطى کړى شى نو دَ اول خاوند دپاره دَ صحيح قول مطابق نۀ حلاليږى)۔

ايسر التفاسير دَ ابو بكر الجزائرى کښى دى :

إن تزوجت المطلقة ثلاثة بنية التمرد على الزوج حتى يطلقها لتعود إلى الأول : فلا يحلها هذا النكاح لأجل التحليل، لأن الرسول ﷺ أبطله.

علامه سندىؒ د سنن نسائى په شرح کښى ددى حديث (لعن الله المحلل .. لعن رسول الله ﷺ الواشمة والموتشمة... والمحلل والمحلل له) **لاندى ليکى :**

والجمهور على أن النكاح بنية التحليل باطل، لأن اللعن يقتضى النهى، والحرمةُ فى باب النكاح يقتضى عدم الصحة.

(يعنى : د جمهورو علماؤ مذهب دادى چى د حلالى په نيت سره نكاح كول باطل دى، (يعنى دَ سره دا نكاح نۀ کيږى) ځکه نهى تقاضا د منع كوى، او د نكاح په باب کښى حرمت د عدم صحت تقاضا كوى)۔

امام ذهبىؒ په الكبائر کښى دَ (الكبيرة الخامسة والثلاثين) لاندى ددى په حرمت باندى ډير احاديث اوآثار راوړى، بيا ليکى :

قال إبراهيم النخعى : إذا كان نية أحد الثلاثة : الزوج الأول أو الزوج الآخر أو المرأة : التحليل، فنكاح الآخر باطل، ولاتحل للأول، وقال الحسن البصرى : إذا هم أحد الثلاثة بالتحليل فقد أفسد. وقال سعيد بن المسيب إمام التابعين فى رجل تزوج امرأةً ليحلها لزوجها الأول، فقال : لا تحل. وممن قال بذلك : مالك بن أنس والليث بن سعد وسفيان الثورى والإمام أحمد.

(ابراهیم نخعیؒ فرمائی : کۀ په داسی نکاح کښی په دی دری واړو (اولنی خاوند، دویم خاوند اویا ښځه) کښی د یو کس نیت هم د حلالی وو، نو ددی بل نکاح باطله ده، او اولنی خاوند لپاره نۀ جائز کیږی- حسن بصریؒ هم دا شان خبره کړی- امام التابعین سعید بن المسیبؒ فرمائی : نۀ جائز کیږی- همدا خبره امام مالك، لیث بن سعد، سفیان ثوری او امام احمد - رحمهم الله - هم کړی)- (الکبائر للإمام الذهبی تحت الکبیرة الخامسة والثلاثین).

د قتادةؒ نه هم د ابراهیم نخعیؒ او حسن بصریؒ پشان فتویٰ نقل ده-

په تفسیر منار کښی علامه رشید رضا صاحبؒ لیکی :

وأنت ترى مع هذا ارزلية التحليل قد فشت فی الشرار الذين جعلوا رخصة الطلاق عادةً ومثابةً ولا سيما مع الفتوى والحكم بأن الطلاق مدة واحدة بلفظ الثلاث يقع ثلاثاً اتخذ غوغاء المسلمين دينهم هزوًا ولعبًا، فصار الإسلام نفسه يعاب بهم وما عيبه سواهم.

وقد رأيت فی لبنان رجلاً نصرانيًا ولع فی شراءِ الكتب الإسلامية وغيرها وأكثر من النظر فيها فاهتدى إلى حقيقة الإسلام مع الميل إلى التصوف فأسلم وقال لی : لم أجد فی الإسلام عيبًا غير ثلاثةِ عيوب، لا يمكن أن تكون من الله : أقبحها مسألة التجحيش أی التحليل، فبينت له الحق فيها فاقنع.

(یعنی تۀ وینی چی دا حلاله هغه خلق کوی چی د طلاق رخصت ئی عادت جوړ شوی (مطلب ډیر طلاقونه ورکوی) خاصکر ددی حکم په وجه چی په یو ځل دری طلاقه ورکول دری طلاقه شمارلی کیږی، نو دویٔ د دین نه لوبی ټوقی جوړی کړی، نو د دویٔ په وجه په اسلام باندی عیب وینه شروع شوه او ددی سبب صرف هم دویٔ دی- ما په لبنان کښی یو نصرانی (عیسائی) کس ولیدل چی دینی او نور کتابونه ئی اخستل او لوستل ډیر کړی وو، خو ددی سره سره صوفیت ته هم مائله وو، نو الله ورته هدایت وکړو، مسلمان شو، نوماته ئی وویل : زۀ په اسلام کښی د دری عیبونو نه سیوا نور هیڅ عیب نۀ وینم- او دا داسی عیبونه دی چی د الله له طرفه نشی کیدی- په دی عیبونو کښی ډیر زیات قبیح ترین عیب د حلالی مسئله ده !! نو ما (علامه رشید رضا) په دی مسئله کښی صحیح حکم هغۀ ته بیان کړو، (چی دا قیصی حنفی مُلیانو جوړ کړی،د اسلام سره څۀ تعلق نۀ

لرى) نو هغۀ قناعت وکړو)۔ (تفسير المنار : ٢/٣٩٥).

شيخ الاسلام ابن تيميه په فتاوى كبرى كښى فرمائى :

وبالجملة : فهذا بين لمن تأمل وأنصف فإن دين الله أزكىٰ وأطهر من أن يحرِّم فرجًا من الفروج حتى يستعار له من تيس من التيوس، لا يرغب فى نكاحه ولا فى مصاهرته ولا يرغبُ بقاؤه مع المرأة أصلاً فينزو عليها وتحل بذلك، فإن هذا بالسفاح أشبه منه بالنكاح، بل هو سفاح وزناً كما سماه أصحاب رسول الله ﷺ، فكيف يكون الحرامُ محللاً ؟ أم كيف يكون الخبيث مطيبًا ؟ أو كيف يكون النجس مطهرًا ؟ وغير خافٍ على من شرح الله صدره للإسلام ونور قلبه بالإيمان أن هذا من أقبح القبائح التى لا تأتى بها سياسة عاقل فضلاً عن شرائع الأنبياءِ، لا سيما أفضل الشرائع وأشرف المناهج والله سبحانه وتعالى أعلم وأحكم من أن يشرع مثل هذا، ولما رأت القلوب السليمة والفطرُ المستقيمة أن حقيقة هذا حقيقة السفاح لا النكح، لم تلقِ له بالاً فصار يتولد من فعل هذا من المفاسد أضعاف مفاسد المتعة.

محترمو لوستونکو ! تاسو د حلالى په باره کښى د رسول الله ﷺ صريح او صحيح احاديث، دَ صحابه کرامو صحيح آثار او اجماع، خصوصاً دَ عمر فاروق – رضى الله عنه – فرمان، دارنګه د علماؤ اقوال وکتل۔ ددى ټولو نه معلومه شوه چى د حلالى په نيت نکاح کول زنا ده، په دى ښځه د اولنى خاوند لپاره نۀ جائز کيږى۔ اوس خو به يو دوه شپى ورسره وى، دوئ که په دغه فاسدنيت شل کاله هم سره تير کړى، نو دا کس ددى ښځى حقيقى خاوند نۀ دى، بلکه دا دَ رجم او د داسى سزا مستحق دى چى هغه نورو خلقو لپاره د عبرت سبب وګرځى، چى بيا بل څوك داسى ديوث توب اونۀ کړى ! د الله نبى ﷺ په خپله مبارکه خولۀ ورته دَ کرائى تېهو او سيرلۍ ويلى، او هغوئ ته ئى ملعونان ويلى، هغوئ ته ئى ښيرى کړى چى : لعن الله المحلل والمحلل لهُ.

دا لا دَ هغه چا باره کښى دى کوم چى خاوند چى نۀ ښځى ته په دى امر کړى وى، اونۀ وريـاندى خبر وى چى زما ښځه صرف دَ حلالى په نيت نکاح کړى۔ نو اوس وواياست چى دَ هغه چا به څۀ حال وى چى د ښځى په خوښه يا ناخوښه په خپل لاس د حلالى والا کس راولى ، هغۀ ته د حلالى کولو منت او زارى کوى، بلکه د حلالى د نکاح ګواه هم جوړيږى، دم په دم تپوسونه ورنه کوى چى څۀ وخت به طلاق ورکوى ؟ دَ کرائى په ګډ زور

راوړی چی زرئی طلاقه کړه، او...
مونږ آخر د صحیح احادیثو، د صحابه کرام رضی الله عنهم د آثارو، دَ اجماع او دَ علماؤ د اقوالو نه اخوا ددی په حرمت او عدم جواز کښی نور څهٔ پیش کړو ؟!!
د هغه خلکو په حال افسوس او تعجب دی چی دری طلاقه دری شماری، او په دلیل کښی د عمر فاروق – رضی الله عنه – فرمان پیش کوی، او ددی نه پس د دین او مذهب په نوم په مسلمانانو حلالی کوی، او د هغویٔ د ښځو سره بی حیائی کوی، د دویٔ زړونه تور شوی، او ددی آیت مصداق گرځیدلی چی : ﴿ أفتأمنون ببعض الکتاب وتکفرون ببعض ﴾.
دویٔ هم د عمر رضی الله عنه د دری طلاقو دری گڼلو فرمان منی، سره ددی چی په مقابل کښی ئی صحیح مرفوع احادیث هم راغلی. او د حلالی په باره کښی نهٔ د عمر فاروق – رضی الله عنه – فرمان منی، نهٔ د رسول الله ﷺ فرمان ! اونهٔ د صحابه کرامو فرمان، او نهٔ د علماؤ اقوال !! بس گویا به زبانِ حال داسی وائی چی : مارا قولِ أبو حنیفه کافی است، قال قال چی در کاراست.
کله په ((محلل)) کښی د تاویل په نوم تحریفونه کوی، او کله په ((لعنت)) کښی تحریف او تاویل کوی. نو دویٔ په دی سره خپل ځانونه دَ : ﴿ یحرفون الکلم عن مواضعه ﴾ مصداق جوړوی!
کله وائی : په حدیث کښی ورته په خپله محلل ویل شوی، نو معلومیږی چی په دی سره ښځه اول خاوند ته جائز کیږی !! کله وائی د لعنت نه مراد کیدی شی چی رحمت مراد وی.
او کله وائی : دَ لعنت نه مراد دلته حقیقی لعنت نهٔ دی مراد، بلکه ددی نه هسی خساست مراد دی، مطلب دا کار هسی سپك شان دی، ورنه جائز خو بالکل دی !! (قمر الأقمار حاشیة نور الأنوار، ص : ۱۹، حاشیة ۱٤، رد المحتار ٥٤١/٢، مطلب فی حکم لعن العصاة).
کله ددی نه هم یو قدم پسی ور پورته شی، د شیعه گانو پشان ددی فضائل شروع کړی، وائی : په حلالی کولو باندی لعنت هغه وخت دی چی د حلالی په کولو دَ کرائی تهو ته څهٔ اجرت ورکړی شی، او کهٔ دا نهٔ وی بلکه د کرائی گډ ئی هم هسی ثوابی کوی، نو بیا په احادیثو کښی ددی نه هیڅ منع نهٔ ده راغلی !! لکه مرقاۃ کښی دی(عن رسول الله ﷺ

المحلل والمحلل له) حديث لاندې ليکي چې :

على أنه بعضهم قال : إنه مأجور وإن شرطاه بالقول لقصد الإصلاح، ويؤول اللعن بما إذا شرط الأجر على ذلك في الهداية :و المحلل الشارط هو محمل الحديث.

رد المحتار کښې هم بعينه د مرقات پشان داسې عبارت ذکر دې :

قال في الفتح : وهنا قول آخر وهو أنه مأجور وإن شرط لقصد الإصلاح وتأويل اللعن عند هؤلاءِ إذا شرط الأجر على ذلك آه. قلت : (أى ابن عابدين) : واللعن على هذا الحمل أظهر.

(يعنې : د حلالې ټټو او حلالې ګړ کۀ دا کار په دې نيت وکړي چې دا ښځه د اول خاوند لپاره زما په وجه حلاليږي او په دې سره د دوئ کور جوړيږي، نو دۀ ته به الله تعالیٰ ثواب ورکوي، اګرکۀ اولنې خاوند او ښځه ورسره شرط ولګوي چې دا ښځه به زۀ صرف يو ځلې دوه ځلې وطې کوم، او ددې نه پس به ئې بيرته طلاقوم (اوس سوال وړاندې کيږي چې د رسول الله ﷺ د لعنت سره به څۀ کوو ؟ نو دوئ وائې) په حلاله کونکې باندې لعنت هغه وخت دې چې په حلاله کولو (غولو) باندې محلل د خلکو نه اجرت او مزدوري اخلې)۔

مطلب : کۀ څوك ورته ووائې چې ما خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړي، نو تۀ اوس ورسره حلاله وکړه، خو ګوره چې صرف يو ځلې دوه ځلې به ورسره جماع کوې، يابه يوه شپه ورسره نکاح کوې !! واپس به ئې بيرته ماته را طلاقوې !! اوس دا کس (حلاله کونکې) وائې چې زۀ به ستا د ښځې سره هغه وخت د حلالې نکاح کوم چې تۀ ماته دومره مزدوري راکړې ! نو ددې مزدورۍ شرط کولو په وجه (دوئ وائې) دې لعنتي کيږي۔

اوکۀ د مزدورۍ خبره نۀ وې، بلکه د ثواب حاصلولو يعنې اصلاح راوستلو لپاره ئې وکړې نو دۀ ته به الله تعالیٰ ثواب ورکوي، دې ماجور دې۔

ابن عابدين شامي وائې : د لعنت دا محمل (د تولو نه) ډير واضحه او ظاهر دې۔ (رد المحتار ۵٤١/٢، مطلب فی حکم لعن العصاة).

د حلالې په مسئله کښې چې د لعنت ذکر راغلې، نو ابن عابدين په دې مناسبت د لعنت نور خود ساخته تحقيق داسې کوي :

أقول : حقيقة اللعن المشهور هي الطرد عن الرحمة وهي لا تكون إلا لكافر، ولذا لم تجز على معين لم يعلم موته على الكفر، بدليل وإن كان فاسقاً متهورًا، كيزيد على المعتمد.

بیا لیکی: دا خو ضروری نۀ ده چی (د رسول الله ﷺ له طرفه) په یو شئ لعنت راغلی وی، نو هغه دی ګناه کبیره وی !!

لا یلزم أن تكون تلك المعصية حرامًا من الكبائر خلافاً لمن أناط اللعن بالكبائر فإنه ورد اللعن فی غيرها.

بیا لیکی: دَ مؤمنانو لپاره چی په یو کار لعنت راشی نو ددی مطلب دا وی چی په دی کار سره دَ ابرارو (ډیرو غټو نیکانو) د درجی نه ښکته کیږی، او د کافرو په باره کښی چی لعنت راشی نو د هغی نه د الله د رحمت نه لری والی مراد وی۔

(نو ددی صفا مطلب دا را ووتل چی حلاله وکړی نو د الله د رحمت نه خو قطعاً نۀ لری کیږی صرف د ابرارو یعنی غټو نیکانو د درجی نه ښکته کیږی) لکه رد المحتار عبارت داسی دی:

ثم رأيت فی لعان القهستانی قال: اللعن فی الأصل الطرد وشرعًا فی حق الكفار: الإبعاد من رحمة الله تعالى، وفی حق المؤمنين الإسقاط عن درجة الأبرار إهـ.

وعن هذا قيل: إن المراد باللعن فی مثل ذلك الطرد عن منازل الأبرار لا عن رحمة العزيز الغفار. (رد المحتار ۵۴۱/۲، مطلب فی حكم لعن العصاة، وفی نسخة: ۴۵۷/۳).

په العنایه شرح الهدایہ کښی راځی:

وذكر فی روضة الزندوستی: أن أبا حنيفة قال: النكاح جائز والشرط جائز حتى إذا لم يطلقها الثانی بعد وطئه إياها يجبره القاضی على ذلك، وتحل للزوج الأول إذا طلقها الثانی برأيه أو بأمر القاضی إياه. قال الإمام ظهری الدين: هذا البيان لم يوجد فی غيره من الكتب.

(زندوستی په خپل کتاب کښی ذکر کړی چی امام ابو حنیفه ویلی: نکاح هم جائز ده او شرط لګول هم جائز دی، تردی کۀ دویم خاوند (حلاله کونکی) طلاق نۀ ورکول نو قاضی ئی په زور هم وربandی اچولی شی، کله ئی چی دویم خاوند (محلل) په خپله خوښه یا د قاضی په زور طلاقه کړی نو د اول خاوند لپاره ورسره نکاح کول جائز دی۔ امام ظهیر الدین ویلی: دا بیان په بل کتاب کښی نۀ دی لیدلی شوی)۔ (العناية شرح الهداية فصل فيما تحل به المطلقة).

مونږ وایو: کۀ امام ظهیر الدین دا عبارت په بل کتاب کښی نۀ وی لیدلی، ولی مونږ

خو د ابن عابدین او ملا علی قاری په حواله په بل کتاب کښی هم لیدلی۔ لکه رد المحتار کښی دی: قال أبو الفتح: وهنا قول آخر وهو أنه مأجور وإن شرط لقصد الإصلاح وتأويل اللعن عند هؤلاءِ إذا شرط الأجر على ذلك إهـ. (رد المحتار: ۵۴۱/۲).

دارنګه مرقاۃ کښی دَ لعن الله المحلل والمحلل له لاندی لیکی على أن بعضهم قال: إنه مأجور وإن شرطاه لقصد الإصلاح.

(یعنی د حلالی والا کس ته په هر صورت کښی ثواب حاصلیږی، اګرکه اولنی خاوند او ښځه ورسره شرط ولګوی، ځکه چی دهٔ د اصلاح نیت کړی)۔

دا هم واوره چی زندوستی هم څهٔ معمولی آخوا دیخوا ملا نهٔ دی، کهٔ یوائی دهٔ په خپل کتاب کښی لیکی وی نو بیا هم د احنافو نه دا عار او شرم نشی لری کیدی، ددهٔ نه رد المحتار، فتح القدیر، عنایه، بحر الرائق، المحیط البرهانی او عالمګیری والو ټولو په ډیرو مسئلو کښی نقل کوی۔

بلکه په البحر الرائق کښی ورته ابن نجیم (المعروف په ابو حنیفه ثانی سره) د **امام** لقب ورکړی: وذكر الإمام الزندوستي، بحث مقدار صدقة الفطر).

په تحفۃ الاحوذی کښی دی قلت: وفى بعض كتب الحنفية أنه مأجور وإن شرطاه بالقول لقصد الإصلاح، وهذا هو معمول به عند حنفية ديارنا فيعملون به ويظنون أنهم ينفعون إخوانهم ويصيرون مأجورين فهداهم الله تعالىٰ إلى التحقيق.

(یعنی: داحنافو په بعضی کتابونو کښی دی چی کهٔ دوئ وړباندی د حلالی شرط هم ولګوی چی دا ښځه به بیرته طلاقوی او صرف یوه شپه دوه شپی به ورسره نکاح کوی، نو بیا هم دا کس د ثواب حقدار دی، ځکه دهٔ د روغی او اصلاح نیت کړی، او زموږ په وطن کښی احناف – الله تعالیٰ دی دوی په سمه لاره راواړوی – دا کارونه په دی نیت کوی چی ګنی دوئ د طلاق ورکونکی ته فائده رسوی، او دوئ ته په دی ثواب ملاویږی۔ (تحفة الأحوذي: ۲٦٧/٤).

احنافو دی باره کښی قِسما قِسم حیلی جوړی کړی، کله لیکی چی یو غلام سره دی نکاح وکړی او بیا دی دغه غلام واخلی نو په دی سره به ئی خپل مینځ کښی د دوئ نکاح ماته شی، او ددی نه پس دی غلام چیرته لری ځای کښی خرڅ کړی !!

کله ليکي : چي ښځه دي ددي محلل سره دا شرط ولګوي چي د طلاق اختيار به ما (ښځي) ته وي، نو کله چي ورسره جماع وکړي نو ښځه به ځانته طلاق ورکړي !!
کله ليکي چي : په سرې دي دا اقرار اوکړي چي ... نو تهٔ دي طلاقه ئي !!
کله لا دا وائي چي ښځه په خپله هم ځان چاته د حلالي لپاره پټ په پټه ورکولی شي او بيرته تر څو چي ئي خاوند ورباندي خبرېږي د هغهٔ نه (يعني د کرائي دَګډ نه) دي اولني خاوند لپاره طلاق واخلي، او اولني خاوند دي نهٔ په طلاق کولو باندي خبروي اونهٔ په حلاله !! لکه د فقه حنفي په معتبر کتاب عالمګيري کښي دي چي : خاوند تر څه پوري د دري طلاقو تعليق ورکړي او هغه کار واقع شي، اوس ښځه ځان سره فکر کوي، کهٔ زما خاوند په دي خبر شي نو هسي نهٔ چي د طلاق واقع کيدو نه انکار وکړي !! نو کله چي ئي خاوند چيرته په سفر لاړ شي نو دا ښځه دي پټ په پټه په خپل سَر، د خاوند په نا خبرئ کښي، د يو سړي سره حلاله وکړي، کله چي ئي خاوند کور ته راشي نو ښځه دي هغه د طلاق په واقع کيدو نهٔ خبرَوي، هسي بهانه دي ورته وکړي، چي ياره زما په زړهٔ کښي د نکاح متعلق شك دي، راځه چي بيا دوباره نکاح وکړو !!هم ثواب و هم خرما !!
د عالمګيري عبارت دادي : علق الطلاق الثلاث بشرط ووجد الشرط وتخاف أنه لو عرضت عليه أنكره واستفتت المرأة فأفتوا بوقوع الثلاث وتخاف أنه لو علم أنكر الحلف، لها أن تتزوج بآخر وتحلل نفسها سرًا منه إذا غاب في سفر فإذا رجع التمست منه تجديد النكاح لشكٍ خالجَ قلبها لا لإنكار الزوج للطلاق، كذا في الوجيز للكردري. (عالمكيرية، كتاب الحيل).
دا ټولي حوالي مونږ ددي لپاره را نقل کړي چي احناف يو طرفته په يو ځل دري طلاقه دري ګڼي، او بل طرفته نهٔ د رسول الله ﷺ احاديثو ته ګوري، نهٔ دي باره کښي د صحابه کرامو او سلفو اقوال مني، اونهٔ د عمر فاروق – رضي الله عنه – په فرمان غوږ ګروي، چي هغهٔ خو دري طلاقه دري ګڼلي، ليکن هغه ورسره دا هم فرمايلي چي : حلاله حرامه ده، کهٔ زهٔ په داسي کار خبر شوم، نو حلاله کونکي به سنګسار کړم۔
بلکه عجب من العجائب خو لا داده : چي کهٔ مونږ (بلکه اکثره محققينو) د عمر فاروق رضي الله عنه فيصله – چي په يو ځل دري طلاقه دري شمارېږي – د صحيحو، غير

منسوخو احادیثو د وجی نه په تعزیری فیصله باندی حمل کړو، نودوئ (احناف) چغی سوری جوړی کړی وی چی وګوره : د خلیفه راشدؓ فیصلی ته ئی تعزیری فیصله وویله۔ دوئ ته په دی وخت کښی د عمر فاروق رضی الله عنه فضائل ورياد شی۔

لیکن خپل ځان ته نۀ ګوری چی دوئ د حلالی په باره کښی د صحیحو احادیثو، د صحابه کراکورضی الله عنهم د فتوو او اجماع نه، د عمر فاروق رضی الله عنه د فرمان نه، په امت کښی د جمهورو علماؤ د اقوالو او فتوو نه، دارنګه د عقلِ سلیم او فطرتِ سلیمه ټولو نه خلاف کړی، ولی ددی شناعتونو سره سره دوئ نۀ د احادیثو خلاف دی، نۀ د عمر فاروق او نورو صحابه کرامؓ د فتوو نه !!

دوئ د حلالی په باره کښی د عمر رضی الله عنه د رجم فیصله سیاسی اوتعزیری ګنی، لکه د احنافو په کتاب

((اللباب فی الجمع بین السنۃ والکتاب ج ۲ ص ۶۸۰ کښی راغلی:

فان قیل فقد روی عن عمر رضی الله عنه انه قال لا اوتی بمحلل و لا محللۃ الا رجمتهما؟ قیل له :انما قال هذا علی سبیل اللتغلیظ. والله تعالیٰ اعلم.

په الاستذکار لابن عبدالبر باب نکاح المحلل ۴۵۰/۵ کی راځی:

و قد روی عن عمربن الخطاب انه قال لا اوتی بمحلل و لا محلل له الا رجمتهما، قال الطحاوی و یحتمل ان یکون تشدیدا و تغلیظاو تحذیرا لئلایواقع ذالك احد.

په یو ځل د دری طلاقو ورکولو او واقع کیدلو حکم

سوال : په یو ځل دری طلاقه واقع کیږی اوکۀ نه ؟

په دی مسئله ډیر خلق اخته کیږی، او بیا ملایانو ته ځی، هغوئ د دری طلاقو واقع کیدو فتویٰ ورکوی، او بیا ورسته وربائدی ((حلاله)) کوی، د امسئله چونکه ډیره پیچیده ده، او ډیر خلق په کښی راګیر دی، نو تاسو مهربان وکړئ، دا مسئله د قرآن او سنت په رڼا کښی تفصیلاً ولیکئ۔ الله تعالیٰ دی تاسو ته اجر عظیم درکړی !!

جواب : الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله، أما بعد :

کوم سړی چی خپلی ښځی له په یو ځل دری طلاقه ورکړی، مثلاً ورته اووائی :

❁ تهٔ په درې طلاقو طلاقه ئې۔ یا ورته ووائې :
❁ تهٔ طلاقه ئې، تهٔ طلاقه ئې، تهٔ طلاقه ئې۔
❁ یا یو طلاق نن ورکړي، بل طلاق صباته، او دریم طلاق بل صباورکړي۔ یعنې په یو طهر کښې درې طلاقه ورکړي۔
په مذکوره طریقه طلاق ورکول اګرکهٔ بدعت او حرام دي، لیکن په دې صورتونو کښې د علمائې کرامو ډیر اقوال دي۔ ابن مبرډ په دې کښې پنځلس اقوال نقل کړي۔ (وګوره : سیر الحاث الی علم الطلاق، ص : ١٦٥)۔ دارنګه علامه ابن القیمؒ په زاد المعاد (٥/٣٠٣، کښې (١٣) اقوال راوړي۔ بیا لیکي چې دا اصول الاقوال دي، چې ددې نه شل (٢٠) اقوال جوړیږي۔ او ابن حزمؒ په المحلی (١٠/١٢٤) کښې دولس اقوال ذکر کړي۔ د مدینې مشهور فقهاء سبعه هم په یو ځل درې طلاقه درې نهٔ ګڼي۔ وګوره (الحاوی للماوردی : ١٠/١١٨، موسوعی الجمهور : ٢/٧٢٤)۔
خو په دې کښې مشهور څلور قوله دي، چې ددې ذکر به مخکې د اجماع په بحث کښې تفصیلاً ذکرشوي، دلته ورته په مختصر ډول اشاره کولې شي۔
١ – **اول قول** : دادې چې د یو طهر درې طلاقه، یو طلاق رجعي شماریږي، او ددې سړي لپاره په عدت کښې دننه رجوع کول جائز دي۔ او دا شرط په قرآن کښې دي او د رجوع په وخت کښې دَ دوو ګواهانو موجودیت ضروري دي، بله دا چې توبه به وباسي ځکه په یو ځل درې طلاقه ورکول کبیره ګناه ده۔
دوئ وائي : د رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښې به د یو طهر او یو مجلس درې طلاقه په یو طلاق رجعي حسابیدل، دارنګه د هغهٔ د مرګ نه پس د خلیفه راشد ابو بکر صدیق – رضي الله عنه – په زمانه کښې هم همدا حکم چلیدو، د هغهٔ د مرګ نه پس تر دوه یا درې کلنو پورې د امیر المؤمنین خلیفه راشد عمر فاروق – رضي الله عنه – په دورِ خلافت کښې هم همدا حکم وو۔ لیکن کله چې خلکو په یو ځل درې طلاقه ورکولو کښې زیادت شروع کړ، او پرله پسې درې طلاقونو ته ئې ملا وتړله۔
چونکه په یو ځل درې طلاقه ورکول بدعت، حرام او د شیطان تابعداري ده، ددې وجې نه عمر فاروق رضي الله عنه ددې ګناه د مخنیوي لپاره تعزیراً اوسیاسیً په داسې قِسم

مجرمانو باندې په يو ځل درې طلاقه په درې طلاقو حساب کړل۔
د دوئ د خبرې مطلب دادې چې په يو ځل درې طلاقه به اوس هم د نبی کریم ﷺ د فيصلې، حکم او زمانې موافق په يو طلاق رجعي حسابيږي۔ دوئ وائي کله چې په يو ځل د درې طلاقو ورکولو عام رواج شو (لکه څرنګه چې د حديث په الفاظو کښې دي: (تتابع الناس – مسلم). نو عمر فاروق رضی الله عنه ته دا بدعت او د الله تعالیٰ د کتاب سره لوبې کول ناقابل برداشت شی ښکاره شو، نو ددې وجې نه ئې تعزيراً او سياسةً دا فيصله په خپل اجتهاد سره وکړه چې کۀ چا په يو ځل درې طلاقه ورکړل، نو ددۀ د جرم او ګناه په وجه به وربانذې په درې طلاقو حسابيږي۔ او په دې فيصله ئې سخت عمل شروع کړو، ددې لپاره چې خلق ددې بدعت او ګناه نه بند شي۔
مطلب دوئ د عمر فاروق رضی الله عنه فيصله اجتهادي، تعزيري او تهديد ګڼي۔
دا قول اکثره محققينو (سره د فقهاء سبعهٔ د مدينې غوره کړې دې۔ (الحاوی ۱۱۸/۱۰، موسوعة الجمهور ۷۲٤/۲).
لکه امام رازی ليکلي: وهو اختيار كثير من علماءِ الدين. (تفسير كبير).
ددې تفصيل مخکښې دَ عمر فاروق رضی الله عنه د فيصلې تر عنوان لاندې هم ذکر شو۔
۲ – **دويم قول**: د جمهورو علماؤ دې، دوی وائي: په يو ځل درې طلاقه په درې طلاقو حسابيږي۔ او د دوئ دليل د عمر فاروق رضی الله عنه فيصله او بعضې نور مجمل روايتونه دي۔
۳ – **دريم قول**: د بعضې علماؤ دې۔ دوئ د مدخول بها او غير مدخول بها په مينځ کښې فرق کوي۔ يعنې کۀ يو کس غير مدخول بها ښځې ته په يو ځل درې طلاقه ورکړې، نو په يو طلاق رجعي حسابيږي، او کۀ مدخول بها وه، نو درې حسابيږي۔
٤ – **څلورم قول**: دادې چې په يو ځل درې طلاقه دَ سره واقع کيږي نۀ، دوئ وائي: چونکه په يو ځل درې طلاقه ورکول بدعت دي، نو په دې وجه دا کار مردود او باطل دې۔
دا قول د بعضې تابعينو دې – لکه هشام بن الحکم، ابن عليه، ابو عبيدې، سعيد بن المسيب رحمهم الله ۔

دا هغه سعيد بن المسيبؒ دی چی دۀ ته اعلم التابعين ويلی کيږی۔ امام بخاریؒ او نورو ګڼو علماؤ ليکلی چی : كان أعلم التابعين بالطلاق سعيد بن المسيب.
(وګوره : التاريخ الكبير للبخارى ٤١٢/٧، وتاريخ دمشق لابن العساكر ٨٩/٤١، طبقات الفقهاءِ للشيرازى ٨٢، وسير أعلام النبلاءِ فى سيرة سعيد بن جبير، والوافى بالوفيات ٢٠٦٤/١، ووفيات الأعيان وأنباء أبناءِ الزمان ٣٧٢/٢، لأحمد بن أبى بكر بن خلكان، ومرآة الجنان وعبرة اليقظان فى معرفة حوادث الزمان لليافعى ٩٠/١، طبقات المفسرين لأحمد بن محمد الأدرنروى ١٠/١، والتفسير والمفسرون للذهبى ٣/٣).
شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائی : وسعيد بن المسيب كان من أعلم التابعين باتفاق المسلمين. (منهاج السنة النبوية ٥٢٥/٧).
امام ابن القيمؒ فرمائی : وكان أحمد معظمًا لسعيد جدًا، حتى قال : هو أعلم التابعين. الفروسية لابن قيم الجوزية، ص : ٢٧٢.
د تفصيل لپاره وګوره : (إغاثة اللهفان، بحث فى الطلاق الثلاث مجتمعة هل يقع أم لا ؟ الفتح الربانى من فتاوى الإمام الشوكانى ٣٤٥٩/٧، فقه السنة ٢٧١/٢، تفسير أحسن الكلام ١٨٩/٢، لشيخنا العلامة أبو زكريا عبد السلام حفظه اللّٰه).
مونږ ته د دلائلو په لحاظ اول قول راجح ښکاری۔

دی باره کښی دلائل دا دی :

١ - عن ابن عباس - رضى اللّٰه عنه - قال : كانت الطلاق علي عهد رسول اللّٰه ﷺ وابى بكر وسنتين من خلافة عمر طلاق الثلاث واحده. وقال عمر بن الخطاب : ان الناس قد استعجلوا فى امر كانت لهم فيه اناة فلو امضيناه عليهم، فامضاه عليهم.
(ابن عباس - رضى الله عنه - فرمائی : دری طلاقه دنبی کريم ﷺ په زمانه کښی اود ابو بکر -رضى الله عنه - په زمانه کښی اود عمر فاروق - رضى الله عنه - په ابتدائی دوه کلنو کښی به يو طلاق ګڼل کيده. بيا عمر - رضى الله عنه - د خلکو سره مشوره وکړه چی خلق طلاق زيات ورکوی که دا طلاقونه دری په دوئ نافذ کړی شی نو ښه به وی. نو په خلکو ئی دری نافذ کړل. (رواه مسلم (٤٧٤/١، ٤٧٧))
دا حديث په دی مسئله واضح دليل دی چی په يو ځل ورکړی شوی دری طلاقه په يو

طلاق رجعی حسابیږی۔

۲ – **دویم دلیل** : عن ابن عباس قال : طلق ركانة بن عبد يزيد أخو المطلب امرأته ثلاثاً فی مجلس واحد، فحزن عليها حزنًا شديدًا، قال : فسأله رسول الله ﷺ كيف طلقتها ؟ قال : طلقتها ثلاثاً، قال : فقال : فی مجلس واحد ؟ قال : نعم، قال : فإنما تلك واحدة فارجعها إن شئتَ، قال : فرجعها. فكان ابن عباس يرىٰ أنما الطلاق عند كل طهرٍ.

(ترجمه : د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چی دَ مطلب ورور، رُکانه رضی الله عنه خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکړل، بیا هغه په دی باندی ډیر سخت خفه او غمژن شو، دی وائی چی ددهٔ نه رسول الله ﷺ تپوس وکړو، چی څرنګه طلاق دی ورکړی ؟ هغهٔ وویل : ما دری طلاقه ورکړی، رسول الله ﷺ ورنه تپوس وکړو، په یو مجلس کښی ؟ هغهٔ وویل : هُو ! رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دا خو یو طلاق دی، کهٔ خوښه دی وی رجوع ورته وکړه۔ ابن عباس رضی الله عنه وائی : رکانه ورته رجوع وکړه۔

بل روایت کښی دی : رکانه رضی الله عنه عرض وکړو، یا رسول الله ! ما خو دری طلاقه ورکړی ! رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : زه پو هیږم ، رجوع ورته وکړه، بیا ئی دا آیتِ کریمه تلاوت کړو : ﴿ يا أيها النبی ... الآية ﴾.

(**تخريج الحديث** : أخرجه أحمد ٢٦٥/١، رقم ٢٢٦٦، وأبو يعلىٰ ٦٤/٣، رقم ٢٤٤٦، وفی طبع آخر ٢٥٠٠/٤، وأبو نعيم فی معرفة الصحابة ٥٩/٨، وعبد الرزاق ٣٩٠/٦، رقم ١١٣٣٤، والبيهقی ٣٣٩/٧، كما فی الإرواءِ ١٤٤/٧، والمسند الجامع رقم ٦٤٩٤، وروضة المحدثين ١٨٥٠).

دی حدیث ته امام احمدؒ او امام ترمذیؒ صحیح ویلی۔ (مجموعة الفتاوی ٦٧/٣٣، إعلام الموقعين ٢٧١/٢، وفی طبع آخر ٣٥٠/٤).

شیخ احمد شاکرؒ وائی : إسناده صحيح (تخريج مسند أحمد ١٢٣/٤، رقم ٢٣٨٧).

د ابو یعلی معلق حسن سلیمؒ ویلی : رجاله ثقات.

شیخ صبحی حلاقؒ هم ورته حسن ویلی۔ (التعليق على سبل السلام ٢١٢/٦).

عون المعبود کښی دی : وهذا إسناد صحيح. (١٩٨/٦).

دارنګه لاندینو علماؤ هم ورته صحیح ویلی :

إمام أبو يعلیؒ (فتح الباری ۳٦۲/۹، نيل الأوطار). امام يزيد بن هارونؒ (عون المعبود ۲۳۹/۲). علامه ابن تيميةؒ (مجموعة الفتاوی). قاضی شوكانیؒ (نيل الأوطار). إمام البانیؒ (إرواء الغليل ۱٤٤/۲). علامه ابن كثيرؒ (تحفة الأحوذی ۱۹٦/۲).

مذكوره صحيح حديث په دی مسئله صريح او واضح دليل دی چی په يو ځل دری طلاقه په يو طلاقِ رجعی حسابيږی، او مذكوره روايت كښی هيڅ قِسم تاويل نشی كيدی. والحمد لله.

ددی وجی نه حافظ ابن حجرؒ ليكی : وهذا الحديث نص فی المسألة لا يقبل التأويل ا لذی فی غيره من الروايات الآتی ذكرها (فتح الباری ۳٦۲/۹).

(دا حديث په دی مسئله كښی صريح دليل دی، چی دَ هيڅ تاويل ګنجائش پكښی نشته، كوم تاويلونه چی په نورو روايتونو كښی كولی شی، نو هغه تاويل دا روايت بالكل نهٔ قبلوی).

قاضی شوكانیؒ ليكی : وهذا الحديث نص فی محل النزاع.

(دا حديث په مذكوره اختلافی مسئله كښی صريح دليل دی). (نيل الأوطار).

شيخ البانی ليكی :

قلت : وهو نصّ لا يقبل الجدل على أن هذا الطلاق حكم محكم ثابت غير منسوخ لجريان العمل عليه بعد وفاته ﷺ فی خلافة أبی بكر، وأول خلافة عمر، ولأن عمر رضی اللّٰه‌عنه لم يخالفه بنص آخر عنده بل باجتهاد منه، ولذلك تردَّد قليلاً أول الأمر فی مخالفته كما يشعر بذلك قوله : إن الناس قد استعجلوا.. فلو أمضيناه عليهم، فهل يجوز للحاكم مثل هذا التساؤل والتردد لو كان عنده نصّ بذلك ؟

وأيضًا : فإن قوله : قد استعجلوا، يدل على أن الاستعجال حدث بعد أن لم يكن، فرأى الخليفة الراشد أن يمضيه عليهم ثلاثًا من باب التعزير لهم والتأديب، فهل يجوز مع هذا كله : أن يترك الحكم المحكم الذی أجمع عليه المسلمون فی خلافة أبی بكر وأول خلافة عمر، من أجل رأى بدا لعمر واجتهد فيه، فيؤخذ باجتهاده، ويترك حكمه الذی حكم هو به أول خلافته تبعًا لرسول اللّٰه ﷺ وأبی بكر ؟ اللهم إن هذا لمن عجائب ما وقع فی الفقه الإسلامی، فرجوعًا إلى السنة المحكمة أيها العلماء، لا سيما وقد كثرت حوادث الطلاق فی هذا الزمن

كثرة مدهشةً، تنذر بشر مستطير تصاب به مئات العائلات.
(السلسلة الضعيفة ۱۲۳/۳، تحت رقم : ۱۱۳٤).

او ددی حديث په مقابله کښې چې په ابوداود کښې کوم حديث راغلی هغه ضعيف دی، لکه ددی تفصيل به ورسته راشی ان شاء الله۔

۳ - دريم دليل : امام مسلمؒ په خپل صحيح کښې داسې روايت نقل کوی :

حدثنا إسحاق بن إبراهيم أخبرنا روح بن عبادة، أخبرنا ابن جريج ح وحدثنا ابن رافع، واللفظ له، حدثنا عبد الرزاق أخبرنا ابن جريج أخبرنا ابن طاووس عن أبيه، أن أبا الصهباءِ قال لابن عباس : أتعلم أنما كانت الثلاثُ تجعلُ واحدةً على عهد النبی ﷺ وأبی بکر وثلاثاً من إمارة عمرَ ؟ فقال ابن عباس : نعم ! (مسلم : ۲٦۹۰، أبوداود ۱۸۸۱، الطبرانی فی الکبير ۲۳۷/۹، رقم ۱۰۷۵٦، وفی طبع آخر ۱۰۹۱۷، الدارقطنی ٤٦/٤، رقم ٤۰۷٤، ٤۰۷٦، البيهقی فی السنن الکبری ۳۳۸/۷، وفی معرفة السنن والآثار ٤٦٦۸، النسائی ٤٥/٦، عبد الرزاق ۱۳۳۷، أبوعوانة فی مستخرجه ۲۷٤/۹، رقم ۳٦۷٦، الشافعی فی مسنده ۳۱۰/۲، ۸٦۷).

(ابو الصهباء رحمه الله، ابن عباس رضی الله عنه ته عرض وکړو، آيا تاته پته ده چې درې طلاقه به د نبی کريم ﷺ په زمانه کښې او د ابو بکر صديق رضی الله عنه په دورِ خلافت کښې، او درې کاله د عمر رضی الله عنه په دورِ خلافت کښې په يو طلاق (رجعی) حسابيدل ؟ ابن عباس رضی الله عنه ورته اوفرمايل : هاؤ !)۔

دا حديث هم په دې مسئله واضح دليل دی چې په يو ځل درې طلاقه په ((يو طلاقِ رجعی)) حسابيږی، او بله مسئله ورنه دا معلومه شوه چې دا حکم منسوخ شوی هم نۀ دی، ځکه کۀ منسوخ وی، نو ابن عباس رضی الله عنه به خپل شاگرد ته ويلی وو چې هاؤ مخکښې وو، خو بيا منسوخ شو !!

وعن طاووس أن أبا الصهباءِ قال لابن عباس : هاتِ من هناتك ألم يکن الطلاق الثلاث على عهد رسول الله ﷺ وأبی بکر واحدة ؟ فقال : قد کان ذلك فلما کان فی عهد عمر تتابع الناس فی الطلاق فأجازه عليهم.

(رواه مسلم ٤۷۸/۱، وأبوداود، وابن أبی شيبة ۲٦/٥، والبيهقی فی السنن الکبری ۳۳٦/۷).

(ابو الصهباءؒ خپل استاذ ابن عباسؓ عرض وکړو، تاسره چی کوم علم دی هغه راوړه ! آیا د رسول الله ﷺ په زمانه کښی به (په یو ځل) دری طلاقه یو طلاق نۀ حسابیدل ؟ ابن عباسؓ ورته اوفرمایل : آو ! دغسی ده۔ لیکن کله چی د عمر رضی الله عنه زمانه شوه، او خلکو پرله پسی طلاقونه ورکول شروع کړل، نو عمر رضی الله عنه وربانذی نافذ کړل)۔

دَ امام طاووس رحمه الله پشان، د ابن عباسؓ نه ددۀ یو بل شاگرد ابو الجوزاءؒ هم داسی روایت نقل کړی۔ (دارقطنی : ٤۰۷۸، ٤۰۷۷).

٤ – **څلورم دلیل** : خپله دَ ابن عباس – رضی الله عنه – فتویٰ ده، چی دری طلاقه یو طلاق شماریږی۔ لکه ابوداود (۱۸۷۸) کښی دی : عن عكرمة عن ابن عباس : إذا قال : أنتِ طالق ثلاثاً بفم واحدٍ فهی واحدة.

(ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : کله چی خاوند خپلی ښځی ته په یو ځل دری طلاقه ورکړی، نو دا یو طلاق دی)۔

په یو بل صحیح روایت کښی دَ جناب طاؤسؒ نه نقل دی :

والله ما كان ابن عباسٍ يجعلها إلا واحدةً (عون المعبود ۲۳۷/۲).

(قسَم په الله ! ابن عباسؓ به دا (طلاقِ ثلاثه) د یو طلاق نه بغیر بل څۀ نۀ گڼل)۔

ددی روایت سند بیخی صحیح دی۔ او جناب طاؤسؒ په دی خبره قسَم کوی، چی ابن عباس رضی الله عنه به دری طلاقه یو طلاق گڼلو۔

طاووس رحمه الله هغه څوك دی چی ددۀ په باره کښی حافظ ابن حجرؒ فرمائی :

وطاووس لقبه، ثقة، فقيه، فاضل من الثالثة (تقريب التهذيب).

(طاووسؒ ثقه، فقیه اوفاضل شخص دی)۔

د عمرو بن دینارؒ نه نقل دی : ما رأيت أحدًا مثله (الكاشف ٤۰/۲).

(ما دَ طاووسؒ پشان هیڅوك نۀ دی لیدلی)۔

دَ ابن عباس رضی الله عنه دا حدیث اگرکۀ موقوف دی، لیکن حکماً مرفوع دی، ځکه په دی کښی د اجتهاد هیڅ دخل نشی کیدی، بلکه د یو صحابی یوه داسی قطعی فیصله په نبوی فیصله باندی موقوفه وی۔

دارنگه کۀ صرف موقوف هم شی، نو بیا هم دَ حَبر الامۃ، ترجمان القرآن فتویٰ دی باره

کښې يو زبردست قوي دليل جوړيږي، ځکه مخکې د ابن عباس رضی الله عنه نه مرفوعاً روايتونه نقل شو۔ (إغاثة اللهفان ۵۳/۱).

نو ددينه يوه دا مسئله معلومه شوه چې مخکې مرفوع احاديثو کښې دَ ضعف او تاويل هيڅ ګنجائش نشته، بلکه په هغو کښې همدغه خبره ده، چې د يو مجلس يا يو طهر درې طلاقه په يو طلاق رجعي حسابيږي۔

بله مسئله ورځخه دا معلومه شوه چې دا حکم محکم دی، او قطعاً منسوخ نۀ دی، ځکه مشهوره قاعده ده چې (الراوي أدرىٰ بروايته). (راوي په خپل روايت ډير ښۀ پوهيږي)۔

(رسالة الطلاق للشيخ بديع الدين الراشدی، ص ۲۰).

تنبيه : د ابن عباس رضی الله عنه دويمه مخالفه فتوىٰ هم شته، خو هغه، هغه وخت وه کله چې به ئې دې باره کښې د يو چا نه په بې اعتداله او غلطه طريقه طلاق ورکول وليدل، نو هغه تعزيري او تاديبي فتوىٰ به ئې ورکوله۔ ګنې نو دَ هغوئ فتوىٰ همدغه وه، چې په يو ځل درې طلاقه ورکول يو طلاقِ رجعي حسابيږي۔ لکه خپله دَ حديث د الفاظو نه دا خبره معلوميږي :

ينطلق أحدكم فيركب الحموقة ثم يقول : يا ابن عباسٍ ! يا ابن عباسٍ !

(يو کس په تاسو کښې رالګي او دَ کم عقلۍ نه کار اخلي، او بيا نعرې وهي : اې ابن عباسَ ! اې ابن عباسَ !)۔

مجاهدؒ فرمائي : كنتُ عند ابن عباسٍ فجاء ه رجل فقال : إنه طلق امرأته ثلاثاً قال : فسكت حتى ظننتُ أنه رادها إليه. (أبوداود، بيهقي).

(زۀ د ابن عباسؓ سره ناست ووم، يو کس ورته راغي، وې ويل : ما خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل، مجاهدؒ وائي : ابن عباسؓ خاموش شو، تردې چې زما خيال راغي چې دغه ښځه ورته را واپس کوي)۔

نو کۀ دې باره کښې د مخکې نه د ابن عباسؓ نه د درې طلاقو په يو باندې د ګرځولو رائيه او فتوىٰ نۀ واى، نو دلته څرنګه مجاهدؒ دا فکر کوي چې (أنه رادها إليه) (دې به ئې بيرته ورته واپس ښځه کړي)۔ دا ډير عجيب استدلال دی۔

بلـه وجه دا هم ده چی دَ ابن عباس رضی الله عنه دویمه فتویٰ دَ عمر فاروق – رضی الله عنـه – دَ اتباع او موافقت پـه وجـه وه. (چی ددی علت په طلاقو کښی کثرت، تتابع او استعجال وو).

(رواه أبوداود، کما فی إغاثة اللهفان ۲۷۸/۱).

د امیر المؤمنین علـی ابی طالب، عبد الله بن مسعود، عبد الرحمن بن عوف، عبد الله بـن زبیـر (او یو روایت کښی ابو موسی اشعری) رضی الله عنهم اجمعین. دی پنځو جلیل القدر صحابـه کرامو نـه هـم داشان فتویٰ نقل ده، چی په یو ځل دری طلاقه ((یو طلاقِ رجعی)) حسابیږی. لکه حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښی لیکی :

نـقـل عـن عـلـی وابـن مسعـود وعبد الرحمن بن عوف والزبیر مثله، نقل ذلك ابن مغیث فی کتاب الوثائق.

(ومثلـه فـی : التـحـریر والتنویر لابن عاشور ٤١٩/٢، فتاوی إسلامية ۲۷۱/۳، لابن باز، نیل الأوطار ١٦/٧، إغاثة اللهفان لابن القیم).

٥ – **پنځم دلیل** : هـر کـلـه چی عمر فاروق رضی الله عنه دری طلاقه نافذ کړل، نو هغه ددی دری طلاقو نافذولو په باره کښی څۀ دلیل پیش نکړو، صرف دومره ئی وفرمایل :

فلو أمضیناه علیهم.

(یعنی : کۀ چیری مونږ په دی خلکو دری طلاقه نافذ کړو، نو دابه ښۀ وی).

لهـذا دا سیاسی فیصلـه وه، (لـکـه ددی خبری اقرار پـه خپلـه حنفی علماؤ هم کړی مـخـکښـی ذکر شـو). او دا دَ هـغـه خلکو لپاره فیصله وه، چابه چی تتابع (یعنی ډیر ډیر طلاقونه ورکول).

★ اوس هـم کۀ څوك بی پرواه وی او زیات طلاقونه ورکوی، او ښۀ ورته معلومه وی چی پـه یـو ځـل دری طـلاقـه ورکـول حـرام او بـدعت دی، او دا کار د کتاب الله سره د ټوقو کولو مترادف جوړیږی !! نو په هغۀ باندی به دَ عمر فاروق رضی الله عنه فیصله نافذولی شی.

★ **لیکن** څوك چی داسی نـۀ وی، مثلاً یا خو دَ سره په دی خبر نۀ وی چی دری طلاقه ورکـول هم ګنی څۀ ګناه ده !! یا په ټول عمر کښی ورنه یو ځلی دا کار وشی، او یا خو دا فکر کـوی چی د ښځی نه د خلاصیدو صحیح طریقه بس دا دری طلاقه په یو ځل ورکول دی

– لکه نن صبا ددین نه د بی خبرئ اوجهالت په وجه د عامو خلکو دا حال جوړ شوی – نو په دی صورتونو کښی په دوئ باندی دَ پورتنو حدیثونو مطابق فیصلی کولی شی، چی دری طلاقه به ئی په یو طلاقِ رجعی سره بدلیږی۔

★ **په** سنن سعید بن منصور کښی یو بل روایت هم راغلی چی دَ هغی نه دا هم معلومیږی چی د عمر فاروق – رضی الله عنه – دا فیصله د تعزیر په خاطر وه، روایت داسی دی:

عن الحسن فی الرجل یطلق امرأته ثلاثا بکلمة واحدة، فقال: قال عمر: لو حملناهم علی کتاب اللّٰه، ثم قال: لا، بل نلزمهم ما ألزموا أنفسهم. (۱/۲٦۳، ۱۰۲۸).

(د حسن بصریؒ نه دَ هغه سړی په باره کښی تپوس وشو چی خپلی ښځی ته په یو ځل دری طلاقه ورکړی، وی فرمایل: عمر رضی الله عنه فرمایلی: کۀ چیری مونږ په دوئ باندی د الله حکم (یو طلاق) نافذ کړو، (نو دابه ښۀ وی) بیائی وفرمایل: نه، بلکه موږ په هغوئ هغه شی لازموو، کوم ئی چی په خپلو ځانونو لازم کړی۔

٦ – **شپږم دلیل**: دادی چی اللهٰ تعالیٰ فرمائی:

﴿ الطلاق مرتان فإمساك بمعروف او تسریح بإحسان ﴾.

(رجعی او شرعی) طلاق ورکول دوه کرته دی، بیا خو یا راتینګول دَ ښځی دی په ښۀ طریقه او یائی پریښودل دی په ښۀ شان سره)۔

یعنی په یو طهر کښی به یو طلاق ورکوی، په دویم طهر کښی به بل طلاق ورکوی۔

ځوك چی په یو ځل دری طلاقه ورکوی، نو دَ (الطلاق مرتان) مصداق او مطلب څۀ شو؟ په دی وجه دا مشروع نۀ دی، بلکه د قرآن کریم خلاف دی، نو ځکه به ورته اعتبار نۀ وی۔ (إغاثة اللهفان: ۱/۳۰۲).

په یو ځل کۀ هر څومره طلاقه ورکړی شی، نو دیته ((مرۀ)) (یو کرت) ویلی شی۔

د (مرتان) اطلاق په (مرۀ بعد مرۀ) یعنی یو طلاق نه پس په بل طلاق ورکولو باندی کیږی، یعنی دوه کرتی هغه وخت راځی چی د طلاقونو په مینځ کښی وقفه وی۔ محضی لفظی تکرار یا عدد ته (مرتان) نۀ ویل کیږی۔ ددی نور مثالونه هم په قرآن کریم کښی راغلی لکه: ﴿ اولا یرون أنهم یفتنون فی کل عامٍ مرة أو مرتین ثم لایتوبون ولاهم

یذکرون ﴾.
(آیا دا خلق نهٔ ګوری چې هر کال یو یا دوه ځله دوئ په فتنه کښې اچولی شي، بیا هم دوئ توبه نهٔ وکاږي او نهٔ نصیحت قبلوی).
دارنګه بل آیت کښې راځي: ﴿ یا أیها الذین آمنوا لیستأذنکم الذین ملکت أیمانکم والذین لم یبلغوا الحلم منکم ثلاث مرات من قبل صلاة الفجر وحین تضعون ثیابکم من الظهیرة ومن بعد صلاة العشاءِ ﴾ (النور: ٥٨).
په دی آیت کښې (ثلاث مرات) ذکر شوی، نو ښکاره خبره ده چې ددی نه دری بیل بیل وختونه مراد دی، نهٔ په زمانه واحده کښې. لکه خپله ددی وضاحت په همدغه آیت کښې راغلی، چې دَ صبا نه مخکې وخت، غرمه او دَ ماسوختن نه ورسته وخت دی.
یو بل آیت کښې راځي: ﴿ نحن نعلمهم سنعذبهم مرتین ﴾.
(موږ دا منافقین پیژنو، زر دی چې دوئ ته به دوه ځلی عذاب ورکړو).
نو د دوه ځلی عذاب ورکولو نه مراد په دوه بیلا بیلو وختونو کښې عذاب ورکول دی.
دارنګه مفسرینو هم دَ ﴿ الطلاق مرتان ﴾ داسې وضاحت کړی:
امام رازی لیکي: طلقوا مرتین یعنی دفعتین (تفسیر کبیر: ۲/۲٦۰).
(دوه ځله یعنی دوه جدا جدا وختونو کښې ورته طلاق ورکړئ).
دغه شان هغه لیکي: إن الطلاق المشروع متفرق لأن المراتِ لا تکون إلا بعد تفرقٍ بالإجماع.
(یعنی: شرعی طلاق په بیل بیل کرت سره راځي، په په دی باندی اجماع ده چې مرتان به هغه وخته موجودیږي چې بیل بیل طلاقونه ورکړی شي).
علامه زمخشری په خپل تفسیر الکشاف کښې لیکي:
[الطلاق] بمعنی التطلیق کالسلام بمعنی التسلیم، أی التطلیق الشرعی تطلیقة بعد تطلیقة علی التفریق دون الجمع والإرسال دفعة واحدةً، ولم یرد بالمرتین التثنیة ولکن التکریر، کقوله: [ثم ارجع البصر کرتین ﴾. (الملك: ٤). أی کرةً بعد کرةٍ، لا کرتین اثنتین، ونحو ذلك من التثانی التی یراد بها التکریر قولهم: لبیك وسعدیك وحنانیك وهذاذیك ودوالیك.
(یعنی: د کرتین پشان دَ مرتان معنیٰ هم دوه عدده نهٔ ده بلکه دوه کرتی یعنی په یو پسې

بل مراد دی)۔

ابو بکر جصاص حنفی لیکی : والدليل على أن المقصد فيه الأمر بتفريق الطلاق وبيان حكم ما يتعلق بإيقاع ما دون الثلاث من الرجعة، أنه قال : [الطلاق مرتان] وذلك يقتضى التفريق لا محالة، لأنه لو طلق اثنتين معًا لما جاز أن يطلقها مرتين، كذلك لو دفع رجل إلى آخر درهمين لم يجز أن يقال : أعطاه مرتين، حتى يفرق الدفع، فحينئذٍ يطلق عليه. وإذا كان هذا هكذا، فلو كان الحكم المقصود باللفظ هو ما تعلق بالتطليقتين من بقاءِ الرجعة، لأدى ذلك إلى إسقاط فائدة ذكر المرتين، إذ كان هذا الحكم ثابتًا فى المرة الواحدة إذا طلق اثنتين، فثبت بذلك أن ذكره للمرتين إنما هو أمر بإيقاعه مرتين، ونهى عن الجمع بينهما فى مرة واحدةٍ.

(مقصد دا چی : دوه طلاقونو ته هغه وخت مرتان ویلی کیږی کله چی بیل بیل وخت کښی ورکړی شی، که دری یا دوه طلاقه په یو ځل ورکړی شی، نو مونږ دا نشو ویلی چی دۀ دوه کرتی طلاق وکړو، داسی مثال دی لکه یو کس چاته دوه روپۍ په یو ځل ورکړی، نو دا نشو ویلی چی ده دوه کرته روپۍ ورکړی)۔

مشهور مفسر ابو حیانؒ په خپل تفسیر (البحر المحیط ٤٦٣/۲) کښی لیکی :

وما زال يختلج فى خاطرى أنه لو قال : أنتِ طالق مرتين أو ثلاثاً، أنه لا يقع إلا واحدةً، لأنه مصدر للطلاق ويقتضى العدد، فلا بد أن يكون الفعل الذى هو عامل فيه يتكرر وجودًا، كما تقول : ضربت ضربتين أ وثلاث ضرباتٍ، لأن المصدر هو مبين لعدد الفعل، فمتى لم يتكرر وجودًا استحال أن يكرر مصدره وأن يبين رتب العدد، فإذا قال : أنتِ طالق ثلاثًا، فهذه لفظ واحد، ومدلوله واحد، والواحد يستحيل أن يكون ثلاثاً أو اثنين، ونظير هذا أن ينشئ الإنسان بيعًا بينه وبين رجلٍ فى شئ ثم يقول عند التخاطب : بعتك هذا ثلاثًا، فقوله ثلاثاً لغو، وغير مطابق لما قبله، والإنشاء ات أيضًا يستحيل التكرار فيها حتى يصير المجمول قابلاً لذلك الإنشاءِ، وهذا يعسر إدراكه على من اعتاد أنه يفهم من قول من قال : طلقتك مرتين أو ثلاثاً، أنه يقع مرتين أو ثلاثًا على ما نذكره.

(ددی عبارت مطلب دا چی : کله څوك ووائی : تۀ دی دوه یا دری طلاقه ئی، نو دا خو یو لفظ دی، نو په دی وجه به ددی معنیٰ هم یوه وی، ځکه د یو لفظ دوه یا دری معنی کیدل محال دی)۔

دغه شان امام نسفیؒ په مدارك التنزيل کښې ليکی :

الطلاق بمعنى التطليق كالسلام بمعنى التسليم أى التطليق الشرعى تطليقة بعد تطليقةٍ على التفريق دون الجمع والإرسال دفعة واحدةً. ولم يرد بالمرتين التثنية ولكن التكرير كقوله : [ثم ارجع البصر كرتين] الملك : ٤، أى كرة بعد كرةٍ، لا كرتين اثنتين وهودليل لنا فى أن الجمع بين الطلقتين والثلاثة بدعة فى طهر واحدٍ، لأن الله تعالىٰ أمرنا بالتفريق لأنه وإن كان ظاهره الخبر فمعناه الأمر وإلا يؤدى إلى الخلف فى خبر الله تعالىٰ، لأن الطلاق على وجه الجمع قد يوجد.

الغرض : ددی آيتِ کريمه او د مفسرينو د وضاحت نه دا مسئله معلومه شوه چی طلاق رجعی ورکول دوه کرتی دی، او دَ طلاقونو په مينځ کښې وقفه اوفاصله ضروری ده، اوس کهٔ څوك دوه يا دری طلاقه په يو ځل ورکړی، مثلاً ووائی : تهٔ په دری طلاقه طلاقه ئی، يا ما تاته دری طلاقه درکړل، نو دهٔ چونکه دوه کرتی بيل بيل طلاقونه نهٔ دی ورکړی، نو په دی وجه دابه صرف يو طلاق حسابيږی، ځکه په فعل کښې خو په زمانه واحده کښې (مرتان) جمع کيدل نا ممکن دی۔ (زاد المعاد : ٤)۔

دی باره کښې ګڼو معتبرو مفسرينو او شارحينو (خصوصاً احنافو) دا وضاحت کړی چی د طلاقونو په مينځ کښې وقفه او جدا والی کول ضروری دی۔ (تفسير مظهری، فيض البارى، تفسير مدارك، حاشية النسائى للشيخ محمد تهانوى استاذ مولانا أشرف تهانوى، أحكام القرآن للجصاص).

۷ – **اووم دليل** : کله چی يو کس د لِعان په باب کښې داسی ووائی : (أشهد أربع شهاداتٍ بأنى صادق) (زهٔ څلور ګواهئ کوم چی زهٔ رشتينی يم)۔ نو دا بالاتفاق يوه ګواهی حسابيږی، نهٔ څلور۔

طلاق اولِعان د زوجينو په مينځ کښې د تفريق په لحاظ سره حکماً يو شی دی، نو لِعان چی بغير د پينځو ځلونه بيل بيل نهٔ مکمل کيږی، نو طلاق په کومو اصولو سره ددی نه فرق لری ؟

دارنګه کهٔ د زنا په ګواهئ کښې اووائی چی : إنى أقرر أربع إقراراتٍ، بأنى زنيت.

(زهٔ څلور اقرارونه کوم چی ما زنا کړی)۔ نو دابه په يو اقرار حسابيږی۔ (إغاثة اللهفان

(۳۰۱/۱).
دغه شان په عربئ بلکه د دنيا په ټولو ژبو کښې انسان دا ووائي چې ما دا کار درې ځله کړې، نو ددې نه درې بيل بيل ځله مراد وي. مثلاً يو سړی ذ لمانځه نه پس ووائي : سبحان الله درې ديرش (۳۳) ځله. الحمد لله درې ديرش (۳۳) ځله. الله اکبر څلور ديرش (۳٤) ځله. نو ددې نه سل نشې جوړيدی. تر څو پورې چې دا هره يوه کلمه دغه هومره اوونۀ وائي.
په آذان کښې کۀ څوك ووائي : الله اکبر أربع مرات، نو په دې سره د آذان تکبيرات نۀ پوره کيږي، تر څو چې په خپله ئې څلور ځله اونۀ وائي.
دا ټول قولي اعمال چې تر څو په مستقله طريقه سره ونۀ ويل شي، نو تعداد ئې نۀ پوره کيږي. نو (أنتِ طلاق ثلاثاً) چې دا هم سراسر قولي فعل دی، په کوم منطق سره درې طلاقه حسابيږي ؟
جمرات په اوو (۷) کاڼو سره په جدا جدا کاڼو سره ويشتل کيږي، اوس کۀ څوك دا په اوو (۷) کاڼو سره په يو ځل وُولي، نو دابه په يو ځل ويشتلو حسابيږي، په باقي شپږو کاڼو سره به ئې په مستقل طور سره وولي.
علامه ابن القيمؒ په زاد المعاد (٤) کښې ليکي : طلقتها ثلاثاً بمنزلةِ قوله : لو سلمت ثلاثاً أو أقررت ثلاثاً أو نحوه مما لا يعقل جمعه.
(د چا دا خبره چې ما درې ځله طلاق ورکړل، بيخي داسې مثال لري لکه يو کس ووائي : ما درې ځله سلام واچول، يا درې ځله مه اقرار وکړو، او داسې نور، چې په دې کښې جمع عقلاً مُحاله ده.
۸ – **آتم دليل** : قرآن کريم کښې دي :
﴿ وبعولتهن احق بردهن فی ذلك إن أرادوا إصلاحًا ﴾
(يعنې ذ طلاق شوو ښځو ميړونه ددې ډير لائق دي چې دا طلاقې شوې ښځې په عدت کښې دننه بيرته واپس را وګرځوي).
کۀ څوك درې طلاقه په يو ځل ورکړي او بيا ورباندې په درې باندې حساب کړې شي، نو دۀ ته خو ذ (رد) موقع په لاس ورنغله !!

دارنګه قرآن کریم کښې دی : ﴿ وإذا طلقتم النساء فبلغن أجلهن فأمسكوهن بمعروفٍ أو سرحوهن بمعروفٍ ﴾ (البقرة : ۲۳۱). ﴿ فإذا بلغن أجلهن فأمسكوهن بمعروفٍ أو فارقوهن بمعروفٍ ﴾ (الطلاق : ۲).

(بیا کله چې طلاقې شوې ښځې خپلې نیټې (عدت ختمیدو) ته ورسیږي، نو هغوئ دې یا په صحیح طریقه ځان سره خپلې ښځې کړي، یا دې په ښې طریقې سره دَ ځانه بیلې کړي)۔

د پورتنی آیتونو نه معلومیږي چې د طلاق نه پس سړي ته دَ رجوع کولو حق شته، نو څوك چې د یو مجلس درې طلاقه په درې طلاقه حسابوي، هغه دې سړي ته (دَ امساك بالمعروف، او رجوع کولو) کومه لاره پریښوده ؟!!

دې باره کې اجماعِ (قدیمه) او قیاس

حقیقت دادې چې اصلاً اجماع په همدې باندې راغلی چې د یو مجلس درې طلاقه په یو طلاق رجعي حسابیږي، دا اختلافات خو ورسته په کښې راغلي، لکه دا خبره امام ابن القیمؒ داسې بیانوي :

وأما أقوال الصحابة فيكفي كون ذلك على عهد الصديق ومعه جميع الصحابة لم يختلف عليه منهم أحد، ولا حكي منهم قولان حتى قال بعض أهل العلم : إن ذلك إجماع قديم وإنما حدث الخلاف في زمن عمر رضي الله عنه، واستمر الخلاف في المسألة إلى وقتنا هذا كما سنذكره. (إغاثة اللهفان : ۳۰۷/۱).

(دیو مجلس درې طلاقه صرف یو طلاق شماریږي) ددې متعلق د صحابه کرامؓ نه دومره ثبوت کافي دې چې دا فیصله د صدیق اکبر رضی الله عنه په زمانه کښې نافذ وو، او ټول صحابه کرام ورسره متفق وو، هیڅوا هم ورسره اختلاف نۀ دې کړی، اونۀ خو د چانه بل دویم قول نقل شوی۔ تردې چې بعضې علماؤ ویلې چې دا قدیمه اجماع ده، او اختلاف خو ورسته د عمر فاروق – رضی الله عنه – په زمانه کښې را پیدا شو، او دا اختلاف تراوسه پورې را روان دې، لکه چې دابه مونږ روسته ذکر کړو)۔

نواب صدیق حسن خانؒ په مسك الختام کښې لیکي :

همدارنګه هریو صحابی د ابو بکر رضی الله عنه د خلافت نه را واخله د عمر فاروقرضی الله عنه تردری کاله خلافته پوری په همدی نظر وو، چی دری طلاقه د فتوی او اقرار په لحاظ یو طلاقِ رجعی حسابیږی۔

په الروضۍ الندیۍ کښی لیکی :

((په دی قول باندی د کتاب الله، سنت، قیاس او اجماعِ قدیمه ټول دلالت کوی او د هغی نه ورسته بله اجماع نۀ ده راغلی چی مخکنئ اجماع باطله کړی))۔(الروضة الندية : ۲/ ۵۰).

مولانا شمس الحق عظیم آبادیؒ فرمائی :

هـذا حـال كـل صحابى من عهد الصديق إلى ثلاث سنين من خلافة عمر، وهم يزيدون على الألف. (التعليق المغنى، ص : ٤٢٤).

دکتور عبد الکریم زیدان فرمائی : ((قیاس کۀ چیرته حجت او دلیل شی نو همدغه ځای ئی دی، ځکه چی په یو ځل او یوه کلمه دری طلاقه دری ګڼل د عقل او قیاس نه هم خلاف کار دی))۔

ځکه انسان د دری طلاقو مالك په دی وجه ګرځولی شوی چی کۀ په څۀ وجه ښځه او خاوند پښیمانه شی نو دوئ ته د دوباره نکاح کولو او کور آبادولو موقع په لاس ورشی، لکه علامه ابن رشد قرطبیؒ داسی فرمائی :

وكأن الجمهور غلبوا حكم التغليظ فى الطلاق سدا للذريعة ولكن تبطل بذلك الرخصة الشرعية والرفق المقصود فى ذلك أعنى فى قوله تعالىٰ : ﴿لعل الله يحدث بعد ذلك أمرًا.

(یعنی : جمهورو د ذریعی ختمولو په طور سره دری طلاقه (په یو ځل) مغلظ (دری) ګڼلی، حالانکه په دی سره د الله تعالیٰ هغه رحمت، شفقت او رخصت ختمیږی، کوم چی د الله تعالیٰ په دی قول کښی دی : ﴿لعل الله يحدث بعد ذلك امرا﴾۔

(بداية المجتهد : ۲/ ٦٦).

قاضی ثناء الله پانی پتی حنفی په تفسیر مظهری کښی لیکی : وكان القياس أن لا تكون الطلقتان المجتمعتان معتبرة شرعًا، وإذا لم يكن الطلقتان معتبرة لم يكن الثلاث المجتمعة معتبرة بالطريق الأولى لوجودهما فيها مع الزيادة.

(یعنی : قیاس خو دا تقاضا کوی چی په یو ځای دری طلاقه شرعاً واقع نشی، نو کله

چی دوه طلاقه شرعاً معتبر نشی نو دری طلاقه خو په طریقه اولیٰ سره معتبرول نهٔ دی پکار، ځکه په دریو کښی د دوو نه علاوه نور زیادت هم شته)۔

امام رازی په خپل تفسیر کښی لیکی :

هذا اختيار كثير من علماءِ الدين أن لو طلقها اثنين أو ثلاثًا لا يقع إلا واحدة، وهذا القول أقرب إلى القياس... (إلى أن قال) فوجب أن يحكم بعدم الوقوع. (تفسير كبير ٢٤٨/٢).

(دا خبره د دین ډیر علماؤ غوره کړی چی کهٔ سړی خپله ښځه (په یو ځل) دوه یا دری ځله طلاقه کړی نو صرف یو طلاق واقع کیږی، دا خبره قیاس ته ډیره نزدی ده۔ (بیا ورسته فرمائی) نو واجبه ده چی د داسی طلاق په نهٔ واقع کیدلو حکم وشی)۔

ابن عاشورؒ په خپل تفسیر(التحریر والتنویر) کښی لیکی : وهو الأرجح من جهة النظر والأثر.

(دری طلاقه یو ګڼړل دَ عقل او نقل دواړو دَ نظره ډیره زیاته راجحه ده)۔

امام نظام الدین نشاپوریؒ په خپل تفسیر کښی لیکی :

ثم من هؤلاءِ من قال : لو طلقها اثنتين أو ثلاثاً لا يقع إلا واحدة، وهذا هو الأقيس.

(بیا په دی علماؤ کښی بعضی وائی : د یو مجلس دوه یا دری طلاقه صرف یو طلاق حسابیږی، د دوئ دا خبره بالکل د قیاس موافق ده۔

(تفسير غرائب القرآن ورغائب الفرقان ٢٢٦/٢).

حاصل دا چی : د قرآن او حدیث په رڼا کښی دارنګه د اسلامی شریعت مزاج ته په کتو سره قیاس هم دا تقاضا کوی چی په یو ځل دری طلاقه دری حساب نشی، او ددی خبری وضاحت ګڼو علماؤ کړی، کوم چی مخکښی ذکر شو۔

په دی باره کښی دَ علماؤ اقوال :

نه تنها من درین میخانه هستم

جنید، شبلی، وعطار شُد مست

د علماؤ اقوال په دی وجه ذکر کوو چی بعضی خلق وائی چی په یو ځل دری طلاقه، دری ګڼل صرف دَ نن زمانی د اهلحدیثو قول دی، کله لا داوائی چی دا د شیعه ګانو قول، او د دوئ نه سیوا په امت کښی د بل هیچا قول نهٔ دی۔نو موږ به ان شاء الله په دی کښی دا

ثابتـه کړو چې دا په امت کښې د ډیرو محققینو علماؤ مذهب دی، ګڼ پخوانی او اوسنی مـفسـریـن، محدثین او فقهاء ددی قائل دی۔ بلکه دَ امام ابو حنیفهؒ او امام مالکؒ نه هم یو قول دا نقل شوی چې په یو ځل دری طلاقه صرف یو طلاق رجعی حسابیږی۔

لکه اول اجمالاً د دویٔ نو مونه واوره :

۱ – **مشهور عالم** امـام رازی پـه خپـل تفسیر کښی لیکی : ثـم الـقـائلون اختلفوا علی قـولـیـن الأول : هـو اختیار کثیر من علماءِ الدین : أن لو طلقها اثنین أو طلاقا لا یقع إلا واحدة، وهـذا الـقـول أقـرب إلی القیاس، لأن النهی یدل علی اشتمال المنهی عنه علی مفسدة راجحةٍ والـقـول بـالـوقـوع سعـی فی تلك المفسدة فی الوجود وإنه غیر جائز، فوجب أن یحکم بعد الوقوع. (تفسیر کبیر ۲/۲٤۸).

۲ – شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او ددهٔ شاګرد :

عـلامـه ابـن القیمؒ، دویٔ دواړو ته کهٔ ددی مسئلی روح روانان وویل شی نو هیڅ بعیده نهٔ ده، دویٔ دواړو خـو پـه دی مـوضـوع ډیر زیات لیکل کړی، چې د یو مجلس او یو طهر دری طـلاقه یو طلاقِ رجعی حسابیږی، او په دی مسئله کښی د هغویٔ د وخت د حاکمانو او دَ نـورو بـدعتیـانو دلاسه ئی قِسما قِسم بندیخانی او تکلیفونه برداشت کړی، د تاریخ پاڼی د دویٔ د واقعاتو نه ډکی دی۔

د شیـخ الاسـلام ابـن تیـمیـهؒ فتـاوی او د عـلامـه ابن قیمؒ په ټولو تصنیفاتو کښی په دی مسئله بحث شوی، خاصکر اغاثیۃ اللهفان او اعلام الموقعین کښی ئی وړاندی ډیر بحث کړی۔

عـلامه ابن ابی العز حنفی لیکی : وقـد صنف فی هذه المسألة الشیخ تقی الدین ابن تیمیة مصنفاتٍ.

(یعـنـی : پـه دی مسـئله ابن تیمیهؒ ډیر کتابونه لیکلی(وګوره: التنبیه علی مشکلات الهدایه)۔

٤ – **شیخ محمد ابن عاشورؒ** په خپل تفسیر کښی لیکی :

وقـال علـی بن أبی طالب وابن مسعود وعبد الرحمن بن عوف والزبیر بن العوام ومحمد بن إسحاق وحجاج بن أرطاة وطاووس والظاهریة وجماعة من مالکیة الأندلس : منهم محمد بن

زنبـاع، ومحمد بن بقی بن مخلد ومحمد بن عبد السلام الخشنی، فقیه عصره بقرطبة، وأصبغ بـن الـحبـاب مـن فـقهـاءِ قرطبة، وأحمد بن مغيث الطليطلی الفقيه الجليل، وقال ابن تيمية من الحنابلة : إن طلاق الثلاث فی كلمة واحدة لا يقع إلا طلقة واحدة وهو الأرجح من جهة النظر والأثر، واحتجوا بحجج كثيرة.

(ترجمه مخکښې لیکل شوی ده)۔

(تفسير التحرير والتنوير ۴۱۹/۲، لابن عاشور).

۵ – د دیــن اســلام یو بل لوی مفسر علامه ابن حبان لیـکی : ومـا زال يختلف فی خاطری أنه لو قال : أن طالق مرتين اوثلاثاً، أنه لا يقع إلا واحدة، لأنه مصدر للطلاق، ويقتضی الـعـدد، فـلا بـد أن يـكـون الفعل .. (إلی أن قال) فإذا قال : أنت طالق ثلاثاً، فهذه لفظ واحد، ومدلوله واحد، والواحد يستحيل أن يكون ثلاثاً أو اثنين. (تفسير البحر المحيط : ۴۶۳/۲).

(ترجمه مخکښې شوی)۔

۶ – مــحمد محمود الحجازی لیکی : وهـل الـطـلاق الثلاث يقع طلقة واحدة أم ثلاثًا ؟ الـظـاهـری الـذی عـلیـه الـنـظـم الكريم من قوله [مرتان] أن الطلاق الثلاث يقع طلقة واحدةً ولحديث ابن عباس الذی رواه مسلم.

(یعنی : په یو ځل دری طلاقه یو طلاقه شمارېږی اوکهٔ دری ؟ نو د قرآن کریم دَ ظاهر نظم [مـرتـان] نـه مـعـلـومیږی چی په یو ځل دری طلاقه یو واقع شی، او بل دی باره کښې په مسلم کښې د ابن عباس رضی الله عنه حدیث هم راغلی)۔

۷ – امام نظام الدین نیشاپوری په خپل تفسیر کښې لیکی :

ثـم مـن هـؤلاءِ مـن قـال : لـوطلقها ثنتين أو ثلاثاً لا يقع إلا واحدة وهذا هو الأقيس، واختاره كثيـر مـن عـلـمـاءِ أهـل البيـت لأن الـنهی يدل علی اشتمال المنهی عنه علی مفسدة راجحةٍ، والقول بالوقوع سعی فی إدخال تلك المفسدة فی الوجود.

(یـعنی : په علماؤ کښې بعضی وائی چی د یو مجلس دوه یا دری طلاقه صرف یو طلاق حسـابیږی د دوئ داخبـره بـالکل د قیاس موافقه ده، او دا د اهل بیتو دَ ډیرو علماؤ مذهب دی، ځـکـه د یـو شئ نه منع کول په دی خبره دلالت کوی چی دا شی ډیر په خرابئ اوفساد بـانـدی مشتمل دی، او د داسی طلاق په واقع کیدو باندی فتویٰ ورکول (حقیقت کښې) د

دی خرابۍ اوفساد په راتلو کښی منډی تړی وهل دی)۔
(تفسیر غرائب القرآن ورغائب الفرقان ۲۲۶/۲).

۸ – د تفسیر منار مصنف **علامه محمد رشید رضا** صاحبؒ هم دا قول غوره کړی چی دری طلاقه په یو ځل یو طلاق شماریږی۔ (تفسیر المنار : ۳۸٤/۲).

۹ – **د سعودی عرب مفتی اعظم علامه ابن باز** – رحمه الله – هم داسی فتویٰ ورکوی :

روایة صحیحة عنه إلى قول الأكثر فى الرواية الأخرى عنه وذهب إلى هذا القول ابن عباس رضى الله عنهما فى.. ويروى هذا القول بجعلها واحدة عن على وعبد الرحمن بن عوف والزبير بن العوام – رضى الله عنهم – وبه قال جماعة من التابعين ومحمد بن إسحاق صاحب السيرة وجمع من أهل العلم من المتقدمين والمتأخرين واختاره شيخ الإسلام وتلميذه ابن القيم، وهو الذى أفتى به لما فى ذلك من العمل بالنصوص كلها ولما فى ذلك أيضًا من رحمة على المسلمين والرفق بهم. (فتاوى إسلامية : ۲۷۱/۳).

(دری طلاقه په یو حسابول د ابن عباس – رضی الله عنه – نه په یو صحیح روایت کښی نقل دی، او په دویم روایت کښی دی د اکثرو موافقت کړی، او دا دری طلاقه په یو شمارل د علی بن ابی طالب، عبد الرحمن بن عوف اوزبیر بن عوام – رضی الله عنهم – نه نقل دی، او همدا په تابعینو کښی د یو جماعت قول دی، او دا محمد بن اسحاق مشهور – ماهرِ سیرت – او په متقدمینو او متأخرینو کښی د یوی ډلی قول دی، او همدا خبره شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او د هغه شاګرد علامه ابن القیمؒ غور کړی او په همدی قول باندی زۀ په خپله هم فتویٰ ورکوم، ځکه چی په دی سره په ټولو نصوصو باندی عمل رائحی، بلکه داچی په دی کښی په مسلمانانو باندی نرمی او شفقت دی۔ (فتاوى إسلامية : ۲۷۱/۳، فتاوى المرأة المسلمة ۷۳۲/۲).

د علامه ابن بازؒ سره په دی فتویٰ کښی د هیئۃ کبار العلماء (د سعودی د غټو علماؤ) د جملی نه :

۱۱ – **شیخ عبد الرزاق عفیفی** حفظه الله

۱۲ – **شیخ عبد الله الخیاط** حفظه الله

۱۳ – **شیخ راشد بن حنین** حفظه الله

۱٤ – او **شیخ محمد بن جبیر** حفظه الله هم موافقت کړی۔ دوئ تولو ویلی :

الحمد لله والصلاة والسلام على رسوله وآله وبعد : فنرىٰ أن الطلاق الثلاث بلفظٍ واحدٍ طلقة واحدة.

(یعنی : مونږ پنځه وارہ علماء دری طلاقه په یو ځل، یو طلاق ګڼړو)۔

دارنګه مجلی البحوث کښی په خپله هیئی کبار العلماء لیکی :

وأما المشائخ : عبد العزيز بن باز، وعبد الرزاق عفيفى، وعبد الله خياط، ورشد بن خنين، ومحمد بن جبير : فقد اختاروا القول بوقوع الثلاث واحدة، ولهم وجهة نظر مرفقة، وأما الشيخ صالح بن لحيدان : فقد أبدى التوقف. (فتوىٰ هيئة كبار العلماءِ رقم ۱۸، بتاريخ ۱۳۹۳/۱۱/۱۲ هـ البحوث العلمية المجلد الأول لهيئة كبار العلماءِ بالمملكة العربية السعودية، توضيح الأحكام ۲۱/۵، للشيخ البسام).

۱٤ – الشيخ الزاهد الصالح العابد الحافظ المفيد **العلامة ابن المنصفى** (كما وصفه فى ذيل تذكرى الحفاظ) :

دۀ هم په یو طهر کښی دری طلاقه یو طلاق رجعی ګڼل۔ لکه حافظ ابن حجر عسقلانی ؒ لیکی : محمد بن خليل بن محمد بن طوغان الدمشقى الحريرى الحنبلى المعروف بابن المنصفى ولد سنة ست وأربعين، و اشتغل فى الفقه وشارك فى العربية والأصول، وطلب بنفسه فسمع الكثير من بقية أصحاب الفخر فمن بعدهم، وسمع بالقاهرة من بعض شيوخنا وقد حصلت له محنة، بسبب مسألة الطلاق المنسوبة لابن تيمية ولم يرجع عن اعتقاده، وكان خيرًا صينا دينا سمعت منه شيئًا، مات فى شعبان بعد أن عوقب واستمر متألماً حتى مات، قال ابن حجى : كان فقيهًا محدثًا حافظًا قرأ الكثير وضبط وحرر وأتقن وألف وجمع مع المعرفة التامة، تخرج بابن المحب وابن رجب، وكان يفتى ويتقشف مع الانجماع ولم يكن الحنابلة ينصفونه، قال وكان فى حال طلبه يعمل الأزرار فى حانوتٍ ثم ترك وأقام بالضيائية ثم بالجوزية. انظر : إنباء الغمر بأبناء العمر ۹۷/۱، ۲٦۵، للحافظ ابن حجر العسقلانى، وذيل تذكرة الحفاظ للذهبى ۱۸٦/۱، الطبقة السابعة والعشرون، ذيل تذكرة الحفاظ للذهبى، تأليف تلميذه الحافظ أبى المحاسن الحسينى الدمشقى.

۱۵ – **د سعودی عرب بل مفتی اعظم شیخ عثیمین** ؒ هم لیکی چی دری طلاقه په یو طلاق رجعی شماریږی۔ لکه هغه فرمائی :

وهـذا الـقـول هـو الراجح، وهو الذی أفتی به، وهو أنه لا طلاق علی طلاق حتی لو قال ألف مـرـة : أنـت طـالق، فلیس إلا مرة واحدة فقط، ویدل علی هذا قوله تعالیٰ : ﴿ الطلاق مرتان ﴾ أی مرة بعد مرةٍ.

(یـعـنـی : دا زما په نیزد راجحه ده او په دی باندی زۀ فتویٰ ورکوم هغه دا چی په یو طلاق باندی بل طلاق نۀ واقع کیږی، تردی کۀ یو سړی زر ځلی ووائی : تۀ طلاقه ئی، طلاقه ئی نـو دا د یـو ځـلـی نـه بغیر بل څۀ نه جوړیږی، او په دی باندی دا آیتِ کریمه هم دلالت کوی چی الطلاق مرتان)۔

دارنګه شیخ عثیمین ؒ په فتاویٰ علی الدرب کښی لیکی :

أمـا الـحـال الثانیة للطلاق الثلاث : فأن یقول : أنت طالق ثلاثاً والحال الثالثة أن یقول : أنت طـالـق أنت طالاق أنت طالق، وفی هاتین الحالین خلاف بین أهل العلم فجمهور العلماءِ علی أن الـطـلاق ثـالثا بائنًا کالحال الأولی، لا تحل له إلا بعد زوج، واختار شیخ الإسلام ابن تیمیة رحـمـه اللّٰہ أن الـطلاق فی هاتین الحالین لا یقع إلا واحدة وأن له مراجعتها ما دامت فی العدة وله العقد علیها إذا تمت العدة وهذا القول هو القول الراجح عندی.

(یـعـنـی کـلـه چی سړی خپـلـی ښځی ته ووائی : تۀ دری طلاقه ئی، یا تۀ طلاقه ئی، تۀ طـلاقـه ئـی، تـۀ طـلاقه ئی، نو په دی دواړو صورتونو کښی د علماؤ اختلاف دی، جمهور عـلـماء وائی چی دری طلاقه واقع شو، او شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ دا غوره کړی چی په دی دواړو صـورتـونـو کښی صرف یو طلاقِ رجعی واقع کیږی، په عدت کښی دننه ئی خاوند بیرته رجوع ورته کولی شی، دا قول ماته راجح ښکاری)۔

(فتاوی نور علی الدرب للعثیمین رحمه اللّٰہ).

۱۶ – مشهور عالم **علامه قاسمی** رحـمـه اللّٰہ هم ویلی چی په یو ځل دری طلاقه په یو طلاق حسابیږی۔

(الاستیناس لتصحیح أنکحة الناس، مجموعة مقالات علمیة دربارهٔ طلاق، ص : ۸۲).

۱۷ – امـام مـدرسیہ ابـن ابـی عـمـر الشیخ الامام **ابـو الـمـحاسن یوسف بن احمد بن**

ابراهیم المقدسی ؒ المتوفی (۷۹۸) هـ هم دری طلاقه په یو طلاق رجعی حسابول، لکه په (الدارس فی تاریخ المدارس) کښې راځی: یوسف بن أحمد بن العز إبراهیم بن عبد اللّٰه ابن الشیخ أبی عمر الشیخ الإمام العالم جمال الدین أبو المحاسن المقدسی الأصلی ثم الصالحی إمام مدرسة جده أبی عمر رحمهما اللّٰه تعالی، سمع من الحجار وغیره، وقال الشیخ شهاب الدین بن حجی: کان فاضلاً جید الذهن صحیح العلم وکان معروفًا بذلك، وکان مولعًا بالفتوی بمسألة الطلاق علی ما ذکره الشیخ تقی الدین بن تیمیة ویسأل المناظرة علیها وهو أخو شیخنا صلاح الدین راوی المسند توفی رحمه اللّٰه تعالی یوم الأحد ثامن عشر شهر رمضان سنة ثمان وتسعین وسبعمائة وصلی علیه من الغد ودفن بمقبرة الشخ أبی عمر.

(الدارس فی تاریخ المدارس ۳۳۵/۱، للعلامة النعیمی وسیر الحاث إلی علم الطلاق الثلاث لابن المبرد ص ۱۱۸، المتوفی ۹۰۹ هـ السحب الوابلة ۱۶۱/۳، انظر مثله فی إنباء الغمر بأبناءِ العمر ۱۹۷/۱، للحافظ ابن حجر العسقلانی).

دی عالم خو په دی مسئله دری معتمد کتابونه لیکلی چی په یو وخت دری طلاقه ورکول صرف یو طلاق رجعی شماریږی، لکه د هغهٔ د کتابونو نومونه دادی: (۱) التحفة والفائدة فی الأدلة المتزائدة علی أن الطلاق الثلاث واحدة (۲) الرد علی المعترضین علی ابن تیمیة فی الطلاق (۳) الرد علی من قال: إن الطلاق الثلاث بلفظ واحد یقع ثلاثاً. (سیر الحاث إلی علم الطلاق الثلاث، ص: ۱۱۲).

۱۸ – دکتور عبد الکریم زیدان حنفی په خپل کتاب: المفصل فی احکام المرأۃ وبیت المسلم ۸۸/۲، د کافی بحث نه پس لیکی:

القول الذی أمیل إلی الأخذ به:

والذی أمیل إلی الأخذ به من هذه الأقوال التی ذکرناها هو القول بأن الطلاق بلفظ واحدٍ أو بتکریر أنت طالق ثلاث مراتٍ فی مجلس واحد: إن الطلاق بهاتین الصیغتین یقع واحدة رجعیة وهذا القول أرفق بالناس بعامة المسلمین وأقرب إلی تحقیق المصلحة الشرعیة للأسرة المسلمة، بالإضافة إلی ما لهذا القول من مستندٍ شرعی قوی بیّنا وجوهه فیما سبق.

(په دی اقوالو کښې هغه قول چی زهٔ په هغی باندی عمل کولو ته مائل یم، هغه دادی چی په یو لفظ سره طلاق ورکول، یا دری کرته په یو مجلس کښې دَ انت طالق – تهٔ طلاقه

ئی – لفظ تکراروِل، په دی دواړو صورتونو کښې دا یو رجعی طلاق واقع کیږی، دا قول په عامو مسلمانانو باندی د نرمی کولو قول دی، او ډیر نزدی دی چی په دی سره په اسلامی کورنئ کښې شرعی مصلحت اوښیګړه ثابته شی، سره ددی چی دا قول شرعی قوی دلیل لری، چی ددی وجوهات مخکښې موږ بیان کړل)۔

۱۹ – **علامه ابن کثیر رحمه الله** د تفسیر ابن کثیر مصنف همدا قول غوره : لکه په شذرات الذهب فی اخبار من ذهب کښې دی : کانت له خصوصية بابن تيمية ومناضلة عنه باتباع كثير من آرائه وكان يفتى فى مسألة الطلاق برأيه حتى مسألة الطلاق وامتحن بسبب ذلك وأوذى. (طبقات الشافعية ۵٦/۱، لابن قاضى شهبة، فى ترجمة العلامة ابن كثير.

(شذرات الذهب فى أخبار من ذهب، دريم جلد ۲۳۲، طبع إحياء التراث العربى، بيروت للشيخ أبو الفلاح عبد الحى بن حماد الحنبلى المتوفى ۱۰۸ هجرى، مقدمة سيرة الرسول وقصص الأنبياء لابن كثير، مقدمة جلاء العينين فى محاكمة الأحمدين ۴۳/۱، مقدمة كتاب الاجتهاد فى طلب الجهاد لابن كثير، التفسير والمفسرون ۲۲٦/۱، وفى طبع آخر ۳٦/۴، للدكتور محمد حسين الذهبى وإنباء الغمر بأبناء العمر ۹۷/۱، للحافظ ابن حجر).

(ددهٔ د ابن تیمیهؒ سره خاص تعلق وو، دَ هغه دَ نظر تابع وو تردی چی په مسئله د طلاقو کښې ئی هم ددهٔ پشان نظر وو، او د دوئ په وجه دهٔ (ابن کثیرؒ) ته ډیر امتحانات او تکلیفونه ورسیدل)۔

تنبیه : علامه ابن کثیرؒ چونکه د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ کلك شاګرد تیر شوی، نو په دی وجه به خامخا د خپل استاذ نه متاثره وو۔

۲۰ – په شوافعو کښې فقیه **ابو النجم محمد بن القاسم بن هبة الله** التکریتی الشافعیؒ هم په یو ځل دری طلاقه په یو طلاق رجعی شمارل، لکه علامه ابن کثیرؒ لیکی :

أبو النجم محمد بن القاسم بن هبة الله التكريتى الفقيه الشافعى، تفقه على أبى القاسم بن فضلان ثم أعاد بالنظامية ودرس بغيرها، وكان يشتغل كل يوم عشرين درسًا، ليس له دأب إلا الاشتغال وتلاوة القرآن ليلاً ونهارًا، وكان بارعًا كثير العلوم، قد أتقن المذهب والخلاف، كان يفتى فى مسألة الطلاق الثلاث بواحدةٍ فتغيظ عليه قاضى القضاة أبو القاسم عبد الله بن ا

لحسين الدامغانی، فلم يسمع منه، ثم أخرج إلى تكريت فأقام بها، ثم استدعى إلى بغداد فعاد إلى الاشتغال وأعاده قاضی القضاة نصر بن عبد الرزاق إلى إعادته بالنظامية، وعاد إلى ما كان عليه من الاشتغال والفتوى والوجاهة إلى أن توفی فی هذه السنة رحمه الله تعالىٰ.
(البداية والنهاية ۱۲۳/۷، جزء ۱۳، طبع دار الكتب العلمی بيروت).

(یعنی: دهٔ به د ورځی شل درسونه طالبانو ته ویل، ددهٔ ددی نه او دَ شپی او ورځی دَ قرآن کریم دَ تلاوت نه علاوه بل مصروفیت نهٔ وو، هغه ډیر زبردسته عالم وو، خپل شافعی مذهب او د نورو علماؤ په اختلافاتو ډیر ښهٔ پو هیدهٔ، دهٔ به د دری طلاقو په باره کښی په یو باندی فتویٰ ورکوله، ددی فتویٰ په وجه قاضی قضاۃ ابو القاسم دامغانی ورته غصه شو، دهٔ د هغهٔ خبره اونهٔ منله او تکریت ته لاړ، بیا بیرته بغداد ته را وبلل شو، نو دهٔ بیرته همغسی خپل درسونه اوفتوو ته دوام ورکړ، تردی چی په همدغه کال وفات شو۔ رحمه الله)۔

۲۱ – مشهور حنفی مورخ او محقق **علامه شبلی نعمانی**ؒ هم دری طلاقه په یو ځل، یو طلاق رجعی ګڼل، لکه دی په خپل کتاب((الفاروق))کښی لیکی: ((لیکن ډیر داسی مسائل هم شته چی په هغوکښی نورو صحابه کرامو د عمر فاروق رضی الله عنه سره اختلاف کړی او هغویٔ په حقه وی، مثلاً دَ جنابت لپاره تیمم، د حج تمتع نه منع، طلاق ثلاثه او داسی نورو مسائلو کښی د جناب عمر فاروق رضی الله عنه د اجتهاد نه د نورو صحابه کرامو اجتهاد ډیرصحیح معلومیږی))۔ (الفاروق: ۳۵۱).

۲۲ – د جامعه ازهر د علماؤ فتویٰ:

د جامعه ازهر د علماؤ هم دا فتویٰ ده، چی په یو ځل دری طلاقه په یو طلاقِ رجعی شماریږی، لکه امام الجهاد شیخ عبد الله عزام – رحمه الله – په خپله یوه علمی رساله: (انحلال الزواج فی الفقه والقانون) کښی لیکلی: وقد وقف علماء الأزهر فی هذا العصر كما وقف من قبل ابن تيمية وابن القيم إلى هذا الرأی وأيدوا هذا القول.

(په اوسنی دور کښی د ازهر علماء په دی خبره ولاړ دی (چی دری طلاقه په یو ځل، صرف یو طلاق رجعی شماریږی) لکه څرنګه چی د دویٔ نه مخکی ابن تیمیهؒ او ابن قیمؒ په دی خبره ولاړ وو، او د دویٔ ددی قول تائید ئی کړی)۔

(الزخائر العظام فيما أثر عن الإمام الهمام الشهيد عبد الله عزام ٤٢٣/١).

۲۳ – **علامه شلتوت** په خپله فتاوئ (ص : ۳۰۶) کښې ليکي :

الطلاق الثلاث لا يقع إلا واحدة رجعيةً، ويرد الرجل زوجته بكلمة الرجعة أو بالمخالطة الخاصة.

(په يو ځل درې طلاقه نۀ واقع کيږي مګر يو رجعي طلاق، چې ددې نه پس به خاوند خپلې ښځې ته دَ رجوع په کلمې سره اويا په خپل مينځې خاص تعلق سره رجوع وکړي).

دارنګه په((الدليل المرشد فى القوانين والاوامر للمحاكمې الشرعيې)) (ص : ۳۸۳) کښې ليکي : الطلاق المقترن بعددٍ أو إشارة لا يقع إلا واحدة.

(هغه طلاق چې لفظاً يا اشارۀً د عدد سره مقترن (پيوسته) وي، نو په دې سره صرف يو طلاق واقع کيږي).

۲٤ – **علامه صديق حسن خان** دَ ابجد العلوم، روضۀ النديې، مسك الختام شرح بلوغ المرام او تفسير فتح البيان مصنفؒ هم په ډير تفصيل سره دې مسئلې ته ترجيح ورکړې، چې درې طلاقه په يو ځل صرف يو طلاق رجعي حسابيږي، هغه ليکي : ((د درې طلاقو د يو ګڼلو فتوئ د ابن عباس رضى الله عنه نه روايت دې، دغه شان د زبير بن العوام او عبد الرحمن بن عوف رضى الله عنهم نه هم دا فتوئ ابن وضاحؒ نقل کړې. په تابعينوؒ کښې د عکرمۀ، طاووسؒ نه نقل ده، په تبع تابعينو کښې د محمد بن ـ ـ حلاس بن عمرو او حارس کلبي – رحمهم الله – نه، او په تبع تبع تابعينو کښې دَ داؤد بن علي او د هغۀ د اکثرو ملګرو دا شان فتوئ ورکړې. دغه شان دا فتوئ بعضې مالکيانو، بعض احنافو او بعضې حنابلو هم ورکړې ده. مقصد دا چې په دې قول باندې کتاب الله، سنت، قياس او اجماعِ قديمه ټول لادلت کوي، او د هغې نه روسته بله اجماع نۀ ده راغلې چې مخکنئ اجماع باطله کړي). (الروضة الندية : ٥٠/٢).

۲۵ – مشهور عالم **قاضي شوکاني** رحمه الله په همدې مسئله باندې په خپلو کتابونو کښې ډير ليکل کړي، بلکه هغه په دې موضوع مستقله رساله ليکلې چې په يو ځل درې طلاقه څۀ حکم لري ؟ نو په هغې رسالې کښې ئې د ګڼو علماؤ د اقوالو ذکر

کولو نه پس په ډیرو قوی دلائلو ذکر کولو سره دیته ترجیح ورکړی چی په یو ځل دری طلاقه صرف یو طلاقِ رجعی حسابیږی۔ لکه هغه فرمائی : وهو أصح هذه الأقوال. (كتاب الفتح الربانی من فتاوى الإمام الشوكانی ۳٤٥٧/۷، نیل الأوطار ۱٦/۷).

۲٦ – **شیخ البانی** رحمه الله هم دیته ترجیح ورکړی چی په یو ځل دری طلاقه په یو حسابیږی، لکه هغه فرمائی :

قلت : وهو – أی حدیث ابن عباس الذی رواه مسلم فی أن الطلاق الثلاث تجعل واحدةً – نص لا يقبل الجدل على أن هذا الطلاق حكم محكم ثابت غير منسوخ لجريان العمل عليه بعد وفاته ﷺ فی خلافة أبی بكر، وأول خلافة عمر، ولأن عمر رضی الله عنه لم يخالفه بنص آخر عنده بل باجتهاد منه ولذلك تردد قليلاً أول الأمر فی مخالفته كما يشعر بذلك قوله : إن الناس قد استعجلوا ... فلو أمضيناه عليهم. فهل يجوز للحكم مثل هذا التسأول والتردد لو كان عنده نص بذلك ؟ وأيضًا : فإن قوله : قد استعجلوا، يدل على أن الاستعجال حدث بعد أن لم يكن، فرأى الخليفة الراشد أن يمضيه عليهم ثلاثاً من باب التعزير لهم والتأديب، فهل يجوز مع هذا كله أن يترك الحكم المحكم الذی أجمع عليه المسلمون فی خلافة أبی بكر وأول خلافة عمر، من أجل رأى بدا لعمر واجتهد فيه، فيؤخذ باجتهاده ويترك حكمه الذی حكم هو به أول خلافته تبعًا لرسول الله ﷺ وأبی بكر ؟ اللهم إن هذا لمن عجائب ما وقع فی الفقه الإسلامی، فرجوعًا إلى السنة المحكمة أيها العلماء، لا سيما وقد كثرت حوادث الطلاق فی هذا الزمن كثرة مدهشة تنذر بشر مستطير تصاب به مئات العائلات. (سلسلة الأحاديث الضعيفة والموضوعة ۱۳۳/۳، رقم ۱۱۳٤).

۲۷ – د کتاب **الفقه على المذاهب الاربعة مصنف علامه عبد الرحمن الجزیری** هم دیته ترجیح ورکړی چی په یو ځل دری طلاقه په یو طلاق رجعی حسابیږی، لکه هغه لیکی : فإذا طلق الرجل زوجته ثلاثاً دفعة واحدة بأن قال لها : أنتِ طالق ثلاثا لزمه ما نطق به من العدد فی المذاهب الأربعة وهو رأى الجمهور، وخالفهم فی ذلك بعض المجتهدين كطاووس وعكرمة وابن إسحاق وعلى رأسهم ابن عباس رضی الله عنهم فقالوا : إنه يقع به واحدة لا ثلاث، ودليل ذلك ما رواه مسلم عن ابن عباس قال : كان الطلاق على عهد رسول الله ﷺ وأبی بكر وسنتين من خلافة عمر طلاق الثلاث واحدة فقال عمر : الناس قد

استعجلوا فى أمر كان لهم فيه أناة فلو أمضيناه عليهم ! فأمضاه عليهم. وهذا الحديث صريح فى أن المسألة ليست إجماعية وهو كذلك فإنه رأى ابن عباس وطاووس وعكرمة وبعض المحتهدين، ومن القواعد الأصولية المقررة أن تقليد المجتهد ليس واجبًا، فلا يجب الأخذ برأى مجتهدٍ بعينه وحينئذٍ يجوز تقليد أىّ مجتهدٍ من مجتهدى الأمة الإسلامية فى قول ثبتت نسبته إليه ومتى ثبت أن ابن عباس قال ذلك، فإنه يصح تقليده فى هذا الرأى كتقليد غيره من الأئمة المجتهدين على أننا إذا قطعنا النظر عن التقليد ونظرنا إلى الدليل فى ذاته فإننا نجده قويًا لأن الأئمة سلموا جميعًا بأن الحال فى عهد النبى ﷺ كان كذلك، ولم يطعن أحد منهم فى حديث مسلم وكل ما احتجوا به أن عمل عمر وموافقة الأكثرين له مبنى على ما علموه من أن الحكم كان مؤقتًا إلى هذا الوقت فنسخه عمر بحديث لم يذكره لنا، والدليل على ذلك الإجماع، لأن إجماع الصحابة يومئذٍ على الرضا بما عمله دليل على أنه أقنعهم بأن لديه مستندًا وليس من الضرورى أن نعرف سند الإجماع كما هو مقرر فى الأصول- ولكن الواقع أنه لم يوجد إجماع فقد خالفهم كثير من المسلمين ومما لا شك فيه أن ابن عباس من المجتهدين الذين عليهم المعول فى الدين فتقليده جائز كما ذكرنا، ولا يجب تقليد عمر فيما رآه لأنه مجتهد وموافقة الأكثرين له لاتحتم تقليده على أنه يجوز أن يكون قد فعل ذلك لتحذير الناس من إيقاع الطلاق على وجه مغاير للسنة فإن السنة أن تطلق المرأة فى أوقاتٍ مختلفة على الوجه الذى تقدم بيانه فمن تجرأ على تطليقها دفعة واحدة فقد خالف السنة وجزاء هذا أن يعامل بقوله زجرًا له. وبالجملة : فإن الذين قالوا : إن الطلاق الثلاث بلفظ واحد يقع به واحدة لا ثلاث : لهم وجه سديد وهو أن ذلك واقع فى عهد الرسول ﷺ وعهد خليفته الأعظم أبى بكر وسنتين من خلافة عمر رضى الله عنه واجتهاد عمر بعد ذلك خالفه فيه غيره فيصح تقليد المخالف كما يصح تقليد عمر، والله تعالىٰ لم يكلفنا البحث عن اليقين فى الأعمال الفرعية لأنه يكاد يكون مستحيلاً.

(يعنى : جمهور علماء په يو ځل درى طلاقه درى ګنى، او د دوئ نه بعضى نور مجتهدينو خلاف كړى لكه طاؤس، عكرمه، ابن اسحاق او د دوئ مشر ابن عباس – رضى الله عنهم – دى، (دا ټول وائى) په يو ځل درى طلاقه وركولو سره صرف يو طلاق واقع كيږى نۀ درى- د دوئ دليل هغه حديث دى كوم چى مسلم روايت كړى : ابن عباس

رضى الله عـنه وائى : د نبى كريم ﷺ په زمانه كښى او د ابو بكر صديق رضى الله عنه په زمانـه كښـى او دَ عـمـر فـاروق رضـى الله عنه د خلافت په ابتدائى دوه (بل روايت د مسلم وغيـره كښـى درى) كـلـونـو پـورى بـه په يو ځل درى طلاقه يو رجعى طلاق حسابيدل۔ د عـمـر فاروق رضى الله عنه په زمانه كښى خلكو پرله پسى درى طلاقه وركول شروع كړل، نو عمر رضى الله عنه ملګرو سره مشوره وكړه چى د خلكو لپاره دَ سوچ او فكر مهلت وو، نـو پـه دى كښـى دوئ د تـادئ او تـلـوار نه كار واخستل، كه دا درى په دوئ باندى نافذ كړى شى نو ښه به وى، نو په خلكو ئى درى نافذ كړل۔ نو دا حديث په دى مسئله باندى صريح دليل دى چى دا اجماعى مسئله نۀ ده، ځكه دا د ابن عباس رضى الله عنه، طاؤس، عكرمه او بـعـضـى نـورو مـجـتـهـديـنـو قـول دى۔ حـقـيقت دادى چى په د درى طلاقو په درى ګڼلو بـانـدى قـطـعـا اجماع نۀ ده راغلى۔ د درى طلاقو په درى ګڼلو كښى يقيناً ډيرو مسلمانانو خـلاف كـړى ۔ او پـه دى كـښـى هيـڅ شك نشتـه چى ابن عباس رضى الله عنه هم د هغه مجتهدينو نه دى چى په هغوئ باندى په دين كښى اعتماد كيږى، نو د هغۀ تابعدارى هم جائز ده، او د عمر رضى الله عنه تقليد خو څۀ فرض نۀ دى ! ځكه هغه خو هم مجتهد دى، پـه دى مسـئـلـه كښـى د عـمـر رضى الله عـنـه سره د ډيرو خلكو موافقت ددى سبب نشى جوړيدى چى د هغۀ تقليد دى لازم شى)۔ (الفقه على المذاهب الأربعة).

۲۸ – **علامه صنعانى** رحمه الله په سبل السلام كښى ديته ترجيح وركړى چى درى طلاقه په يو ځل، يـو طلاق رجعى حسابيږى، لكه هغه ليكى : والأقـرب أن هذا رأى من عمرَ ترجّح له كـما منع من متعة الحج وغيرها، و كل واحد يؤخذ من قوله ويترك غير رسول الله ﷺ، و كونه خالف ما كان على عهد رسول الله ﷺ فهو نظير متعة الحج (سبل السلام : ۲٥٦/۳).

(پـه تـولـو كـښـى حق ته نزدى خبره داده چى دا درى طلاقه درى ګڼل دَ عمر رضى الله عنه خپـلـه رائيـه وه چـى هـغۀ ته راجحه ښكاريدله لكه څرنګه چى دَ هغۀ دَ حج تمتع نه منع كـول او يـا ئى نور داسى كارونه شو، او د رسول الله ﷺ نه سيوا ټول په ټوله انسانان داسى دى چى دَ هغوئ بعضى خبرى به اخستلى شى او بعضى نورى به پريښودلى شى۔ او هر چى دا خبـره ده چى هغه ولى د هغه حكم خلاف وكړو كوم چى د رسول الله ﷺ په زمانه كښى وو ؟ نو ددى (جواب) مثال د حج تمتع دى)۔

بـل ځای لیکی : واستـدلـوا بـمـا مر بحدیث ابن عباس وهما صریحان فی المطلوب، وبأن غیره من الأقوال غیر ناهضة (سبل السلام : ٢٥٩/٣).

(ځـوك چې دری طـلاقـه یـو ګـڼـی نو هغوئ په دی دوو احادیثو دلیل نیولی او دا دواړه د دوئ پـه استـدلال کښـی صریح دلائل دی، او هرچی د دری طلاقو دری ګڼونکو دلائل دی، نو هغه قابل دَ استدلال نهٔ دی).

٢٩ – د **الفقه الاسلامی** ، اصـول الـفـقـه الاسـلامـی او التفسیر المنیر مصنف **دکتور وهبة الزحیلی** پـه خپـل تـفسیـر کښی لیکی : وبـالـرغـم مـمـا أراه وهو رجحان مذهب الـجـمهور لا أجد مانعًا من الأخذ برأی ابن تیمیة ومن وافقه لأن الطلاق هدم للأسرة وتعریض لضیاع الأولاد [التفسیر المنیر ٣٤١/٢).

(یـعنی : سره ددینه چی ماته د جمهورو مذهب راجح ښکاری خو بیاهم ماته په دی کښی هیـڅ مانع نهٔ ښکاری چی د ابن تیمیهؒ او د هغهٔ د موافقینو په قول عمل وکړل شی، ځکه طلاق خو د کور ورانئ او اولاد ضائع کیدو سبب دی).

په الفقه الاسلامی کښی لیکی : لکن إذا رجح الحاکم رأیًا ضعیفًا صار هو الحکم الأقوی فـإن صـدر قانونًا کما هو الشان فی بعض البلاد الإسلامیة بجعل هذا الطلاق واحدةً، فلا مانع مـن اعتـمـاده والإفتـاءِ بـه، تیسیرًا علی الناس وصونًا للرابطة الزوجیة وحمایةً لمصلحة الأولاد خـصوصًا ونحن فی وقت قل فیه الورع والاحتیاط وتهاون الناس فی التلفظ بهذه الصیغة وهم یـقـصـدون غـالبـاً التهـدیـد والـزجر ویعلمون أن فی الفقه منفذ للحل ومراجعة الزوجة (الفقه الإسلامی : ٤١٣/٧).

ددی پشـان یـوه بـلـه فتویٰ کښی لیکی : إمـضـاء الـطـلاق الثلاث ثلاثاً هو الراجح شرعًا، وهـورأی أغـلب الفقهاءِ، لکن للضرورة أو الحاجة الشدیدة یجوز الأخذ برأی ابن تیمیة فی أن الـطـلاق الـمتـکـرر یـقـع طلقة واحدة وفعل عمر رضی الله عنه أجاب عنه العلماء بعدة أجوبةٍ بلغت (١٨) جوابًا. (موقع الزحیلی علی الانترنت).

٣٠ – **شیخ عبد القادر الأرناؤوطؒ** هم دری طلاقه په یو طلاق رجعی حسابوی : د هغهٔ په سوانحو کښی راځی :

مسـألة الـطـلاق الـثـلاث بـمجلس واحد هل یقع واحدة أم ثلاثاً ؟ یقول الشیخ فی فتواه لهذه

المسألة : كما هو معروف أن الجمهور قالوا فى أن الطلاق الثلاث فى مجلس واحد يقع ثلاث تطليقاتٍ وينهى العلاقة الزوجية وخالف فى ذلك شيخ الإسلام ابن تيمية والإمام ابن القيم وهما من الأئمة الحنابلة فقالا : يقع طلقة واحدة والأصل فى مخالفة الجمهور خطأ. ولكن إذا ثبت دليل، فلا مانع من الأخذ به، وهو الحديث الصحيح الذى أخرجه مسلم عن ابن عباس أنه قال : كان الطلاق على عهد رسول الله ﷺ وأبى بكر وسنتين من خلافة عمر، طلاق الثلاث واحدة، فقال عمر بن الخطاب : إن الناس قد استعجلوا فى أمر قد كانت لهم فيه أناة، فلو أمضيناه عليهم ! فأمضاه عليهم. فالحديث هنا صريح فى ذلك، وهو أنهم كانوا يعدون الثلاث بلفظ واحد طلقة واحدة على عهد رسول الله ﷺ وما فعل عمير ذلك، إلا لأنه رأى أن من المصلحة والحكمة وقد كثر الطلاق أن يمضيه ثلاثاً، ففعله هذا تربية لرعيته، وورد غير هذا، والله أعلم. وفقهاء الشام مثل الشيخ الدكتور مصطفى البغا وغيره إذا جائهم السائل فى مسألة الطلاق بالثلاث، قالوا : إذهب إلى الشيخ عبد القادر، مع قولهم : إن الشيخ يفتى بهذا حسب قناعته، أخذًا بالتيسير على العامة، والشيخ عفيف اليد، لا يأخذ شيئا من أحد، بل لقد غضب ذات مرة غضبًا شديدًا من أحدهم، لما أخرج له مالاً مقابل الفتوى وأصر فى هذا، ظنًّا من المسكين أن الشيخ كأشباه العلماءِ الذين عُرفوا بالشام بأخذهم الأموال الكثيرة لأجل إفتائهم بأن الطلاق الثلاث بلفظ واحدٍ أو فى مجلس واحد : واحدة.

٣١ - **علامه شمس الحق عظیم آبادی** ؒ هم دری طلاقه په یو طلاق رجعی حساب کړی، او په دی باندی ئی ډیر دلائل راوړی. (عون المعبود ١٩٣/٣).

٣٢ - **مفتی بلاد نابلس یوسف بن یحیی** ؒ المتوفی (١٠٧٨) هـ به هم په یو ځل دری طلاقه صرف یو طلاق رجعی ګڼلو، لکه دده باره کښې راځی :

يوسف بن يحيى بن مرعى الطور كرمى الحنبلى رحل إلى مصر لطلب العلم فى سنة أربع وأربعين وألف وأخذ بها عن الشيخ منصور البهوتى وعن عمه الشيخ أحمد وغيرهما وعاد فى سنة تسع وأربعين وكان يفتى ببلاد نابلس وكان يميل إلى القول بعدم وقوع الطلاق فى كلمة موافقة لابن تيمية، وكانت وفاته نهار الاثنين عاشر صفر سنة ثمان وسبعين وألف [خلاصة الأثر فى أعيان القرن الحادى عشر ٢٤٧/٣، للعلامة المحبى].

٣٣ - **شیخ محمد متولی الشعراوی** ؒ په الفقه المیسر وادلته الشرعیہ کښې لیکی :

وهـذا قـول كثيـر من السلف والخلف وهو طائفة من أصحاب مالك وأبى حنيفة وأحمد بن حنبل وهذا أظهر القولين لدلائل كثيرة (الفقه الميسر وأدلته الشرعية ۱/۱۷۷۲).

(یعنـی : دا د ډیرو مـخـکـنـو او روستـو عـلـماؤ قول دی او د بعضی مالکیانو او بعضی احـنـافـو او بـعضی حنبلیانو قول هم دی، او په دی دوو قولونو کښی دا قول ډیر ظاهر دی، ځکه په دی باندی ډیر دلائل شته.

۳٤ – **استــاذ العلماء شيخنا ابو زكريا عبد السلام** حـفـظـه الله هم په خپل تفسیر کښـی د ځـلـور واړه اقوالو ذکر کولو نه پس دیته ترجیح ورکړی چی دری طلاقه په یو ځل یو طلاق رجعی حسابیږی. (أحسن الكلام ۲/۱۸۹).

۳۵ – **یـوسف بن ماجد بن ابی المجد بن عبد الخالق المرداوی** ؒ بـه هـم په یو طهر کښـی دری طلاقه یو طلاق رجعی ګڼلو. لکه حافظ ابن حجر عسقلانی ؒ لیکی : يوسف بـن بـن مـاجـد بـن أبـى الـمجد بن عبد الخالق المرداوى، ولى الدين الحنبلى، كان فاضلاً فى الـفـقـه، وامتحن مرارًا سبب فتياه بمسألة ابن تيمية فى الطلاق، و كذا فى عدة من مسائله، وقد حـدث عـن الحجار وابن الرضى والشرف بن الحافظ وغيرهم، وكان شديد التعصب لمسائل ابـن تيـمية، وسجن بسبب ذلك، ولا يرجع حتى بلغه أن الشيخ شهاب الدين بن المصرى حطّ عـلى ابن تيمية فى درسه بالجامع فجاء إليه فضربه بيده وأهانه، مات فى تاسع عشر صفر [إنباء الغمر بأبناء العمر، فى ذكر من مات سنة أربع وثمانين وسبع مائة : ۱/۹۳).

۳٦ – د مولانا **عبد الحی لکهنوی** ؒ نـه تپـوس شـوی چی : څۀ فرمائی علماء دین په دی مسـئـلـه کښی چی : زید د غصی په حالت کښی خپلی ښځی ته وویل : ما طلاق درکړو، مـا طـلاق درکړو، ما طلاق درکړو. نو د دری ځلې ویلو نه پس دری طلاقه واقع شو که نه ؟ کۀ چیری حنفی مذهب کښی واقع وی او مثلاً په شافعی مذهب کښی (دری) واقع شوی نـۀ وی نـو حنفی لره په دی خاص صورت کښی د شافعی په مذهب د عمل کولو رخصت ورکول پکار دی اوکۀ نه ؟

جـواب : پـه دی صـورت کښی خو د احنافو په نیز طلاق واقع کیږی، او د تحلیل نه بغیر نـکـاح نـۀ صـحیـح کیږی، لیکن د ضرورت په وخت کښی کۀ چیری ددی ښځی بیلول د خاونـد نـه مشکل وی، او احتمال د ډیرو مفاسدو لری، نو پدی وخت کښی کۀ چیری د بل

امام تقلید وکړی هیڅ باك نهٔ لری۔ ددی مثال د مفقود الخبر (ورك شوی سړی) او عدت ممتد الطهر موجود دی، چی احناف د ضرورت په بناء د امام مالكؒ په قول عمل کول صحیح ګڼی۔ لکه رد المحتار کښی تفصیلاً ذکر دی، لیکن غوره داده چی هغه کس د شافعی عالم نه فتویٰ وغواړی او د هغهٔ په فتویٰ عمل وکړی۔ والله اعلم۔

(حرره محمد عبد الحی عفی عنه). (حاشیة خلاصة الفتاوی ٧٤/١، کتاب الطلاق، مجموعة الفتاوی اردو : ٦٨/٢).

۳۷ – **مفتی کفایت الله** صاحب په کفایۃ المفتی کښی لیکی : مولانا عبد الحیؒ چی څهٔ لیکلی نو په دی باندی خو د اضطرار په حالت کښی عمل کیدی شی، ولی صرف د مشکل په وجه بیرته د رجوع کولو اجازه ورکول (خپله) مشکله ده۔ (کفایة المفتی : ٣٣٧/٦).

دارنګه د مفتی کفایت الله صاحب نه سوال شوی چی : یو سړی کافره ښځه مسلمانه کړی او د هغی سره ئی نکاح وکړه، د څهٔ وخت نه پس ئی په خپل مینځ کښی د اختلاف په وجه دری طلاقه ورکړل، اوس صورت حال دیته رسیدلی چی دا ښځه ددی کس پریښودو ته په هیڅ صورت تیار نهٔ ده ، وائی چی زهٔ قطعاً د بل چا سره نکاح نهٔ کوم۔ کهٔ تهٔ ما ځان سره کور کښی نهٔ ساتی نو زهٔ یا خود کشی کوم او یا بیرته مرتده کیږم ! اوس دا کس سخت پریشان دی، وائی تر څو چی ماته شرعاً اجازه نهٔ وی راکړی شوی، نوزهٔ تا هیڅ کله هم د ځانه سره نشم ساتلی !

ددی سوال **په جواب کی** مفتی صاحبؒ لیکی چی : په یو ځل دری طلاقه دری واقع کیدو کښی خو خبره د جمهورو علماؤ راجحه او واجب العمل ده (خو) دلته کهٔ ددی خبری یقین یا غالب ګمان وی چی ښځه خودکشی کوی یا مرتده کیږی، نو د زیات نه زیات داسی کیدی شی چی د اهل ظواهرو او اهلِ حدیثو مذهب باندی د عمل کولو اجازه ورکړی شی۔ فقط محمد کفایة الله (کفایة المفتی ٣٣٧/٦).

د مفتی کفایت الله صاحب په دی فتویٰ باندی مولوی خلیق احمد صاحب رد کړی، چی په دی صورت کښی قطعاً دهٔ ته د رجوع حق نشته !!

د جواب الجواب په ډول دهٔ ته مفتی کفایت الله صاحب لیکی : چی په مذکوره صورت

کښې خو دَ حنفي فقې له مخه بیشکه د درې طلاقو واقع کیدو فتویٰ صحیح ده، لیکن کله چې د ښځې د مرتد کیدو یا خود کشۍ کولو غالب گمان وو، نو په داسې وخت کښې د اهلِ ظواهرو په مذهب باندې د عمل کولو گنجائش شته۔ (محمد کفایة اللّٰه کان اللّٰه له، کفایة المفتی ٦/۳۳۸).

۳۸ – د مخکني سوال په جواب کښې **مولانا حبیب المرسلین (حنفي)** هم لیکلي چې کۀ صورت همداسې وي یعني په غالب گمان داسې معلومیږي چې ښځه یا ځان وژني او یا مرتده کیږي، نو دې ښځې ته په عدت کښې دننه رجوع کولې شي، اوکۀ عدت ئې تیر وي نو صرف (په خپله) دې ورسره تجدید نکاح وکړي۔ د دوباره رجوع حق ځکه ورکړې کیږي چې د نۀ ورکیدو په صورت کښې غټ فسادونه راځي۔

فقط حبیب المرسلین عفی عنه نائب مفتی مدرسه امینیه دهلی. (کفایة المفتی ٦/۳۳۷).

تنبیه : د مولانا عبد الحی لکهنوي، مفتي کفایي الله او مفتي حبیب المرسلین صاحب د فتوو مطلب دا چې چې د سخت ضرورت په وخت درې طلاقه په یو طلاق رجعي حسابیدې شي، اوکۀ سخت مشکل نۀ وي نو بیا د جمهورو په خبره عمل پکار دې۔ لکه دا مطلب په (٦/۳٦، ۳٤٠) کښې لیکلې شوې فتوی نه هم معلومیږي۔

اوس مونږ وایو چې : تاسو د دوئ فتوی ولیدلې چې د خود کشۍ یامرتد کیدو یا د غټ فساد د مخنیوي لپاره ئې درې طلاقه په یو طلاق رجعي حساب کړي۔ نو کۀ چیرې ددې نور مثالونه زمونږ مخې ته راشي چې یو سړې په یو ځل درې طلاقه ورکړي وي د ښځې او خاوند په جدا کیدو سره د دوئ اولاد، کور او د دوئ خپل ژوند تباه کیږي، غالب گمان راشي چې د دوئ کورنۍ دشمنیانو او د یو بل وژلو ته تیاریږي۔ کۀ دا هیڅ هم نۀ وي نو حلاله خو چیرته تللې نۀ ده، چې ښځه او خاوند ی د حلالې لعنت ته هم تیاریږي، چې په حلاله کښې په خپله دومره فسادات دي چې د خود کشۍ فساد به درته کم ښکاره شي !! د حلالې نه پس چې دوئ (ښځه او خاوند) بیرته نکاح وکړي نو په دې وجه چې دا ښځه بل چا استعمال کړه، خاوند ئې هم سَم دَ ښځې په سترگه ورته نۀ گوري چې په دې وجه د دوئ په مینځ کښې بیرته خامخا کور ورانیږي۔

ډیرې ښځې د حلالې په وجه د بل کس خوند واخلې چې ورسته کۀ بالفرض ددې خاوند

کور جوړ هم وي، ولې دا بیا خبره درې طلاقو ته وباسي۔ حنفي مفتیان صاحبان خو ورته ناست دي چې څرنګه تپوس ورنه اوشي،بس سمدس د حلالې فتوئ ورکوي، موږ ته ډېر داسې واقعات راغلي چې یوې ښځې سره څو څو ځلې ((حلاله)) شوې۔ إنا للّٰہ وإنا إلیه راجعون.

نو آیا ددې فسادونو او دداسې ناعاقبت اندیش درې طلاقو په وجه کۀ د ښځې او خاوند ژوند تباه کیږي، کله په یو ځل د درې طلاقو نه پس همداسې یو کور کښې ژوند کوي، په دې کښې خِلوت بلکه د درې ګڼلو په وجه ددې خاوند رجوع نۀ وي ورته کړې، نو د عدت تیریدو نه پس د نکاح نه بغیر یو ځای اوسیږي، چونکه د عدت په تیریدو سره د دوئ نکاح هم ختمه شي څۀ وخت پس دوئ د یو بل سره ټول عمر – والعیاذ باللّٰه – په زنا کښې مبتلا شي۔

درې طلاقه چونکه حرام، بدعت او شیطاني عمل دي، نو په دې وجه نتیجه هم ډیره ناکاره وي۔ کور، بچیان، په خپله د ښځې او خاوند ژوند هم خراب تراب شي، نو آیا کۀ داسې نقصانات او فسادونه مینځ ته راځي نو د مولانا عبد الحی لکهنوی، مفتي کفایت اللّٰه او مفتي حبیب المرسلین صاحب د فتوو نه څۀ معلومیږي ؟!

آیا د دوئ د فتوو نه د لمر پشان ښکاره نۀ معلومیږي چې کۀ داسې فساد او نقصان راځي نو پکار دي چې په یو ځل درې طلاقه په یو طلاقِ رجعي حساب کړې شي !!۔

۳۷ – د هندوستان لوی عالم **مولانا سعید احمد اکبر آبادی فاضل دیوبند** ، د شاه انور شاه کشمیری شاګرد۔

۳۸ – **مولانا محفوظ الرحمن قاسمی فاضد دیوبند** ۔ دا دواړه علماء کرام د دیوبند نه فارغ شوي، دواړو په خپلو علمي مقالاتو کښې دا خبره ثابته کړې چې په داسې مخدوشو(کړکیچنو) حالاتو او د عوامو د دیني لاشعورئ په وجه کۀ څوك په جذباتو کښې راشي او خپلې ښځې ته په یو مجلس کښې درې طلاقه ورکړي، نو زموږ په نیزد کۀ دا صرف یو طلاق وګڼلې شي نو دا به ډیر زیاته بهتر وي، د علمي شواهدو او دلائلو نه پس زمونږ همدا رائیه ده، چې د یو مجلس درې طلاقه په یو طلاق حسابیږي، د تفصیل لپاره مجموعه مقالات علمیه دربارۂ ایك مجلس کی تین طلاق۔ (ص : ۱۹، ٤۷، ۳۷،

۸۳).

۳۹ – علامه عبد الرحمن محمود لیکی :

أمـا لـقـول بأنه إذا نطق المسلم بلفظ الطلاق ثلاث مرات، أو ألقى يمين الطلاق على زوجته ثـلاثـاً، فـإن هـذا يعتبر طلاقا بائنًا، فلا شك أنه قول مرجوح لا يستند إلى دليل ولا يجرى عليه عـلـم، ذلك أن الـعبرة دائمًا ليست بتكرار الألفاظ أو بترديد الكلمات، وإنما العبرة أولاً وأخيرًا هـى بتعدد المرات التى يقوم فيها المسلم من حيث الواقع بتطليق زوجته وإعادتها إلى عصمته، فـمهـمـا عـد الـمسلـم أيـمـان الطلاق، ومهما كرر التلفظ بصيغة الطلاق مرة أو مرات، ثلاثًا أوعشـرًا، فـما دام أنه يطلق زوجته من حيث الواقع للمرة الأولى، فإن طلاقه هذا لا يعتبر بحال من الأحوال طلاقاً بائنًا، هذا هو حكم الشرع والقانون، وهذا هو ما يسير عليه العمل.

(يـعـنـی : دا خبره کـول چی کوم مسلمان دری ځله د طلاق لفظ ووائی نو په دی سره ددهٔ ښځـه بـائنه ګرځی (جدا کیږی) نو دا خبره بیشکه ضعیفه او بی دلیله ده، ځکه همیشه د کـلـمـاتـو او الـفـاظـو تـکـرار تـه اعتبـار نهٔ وی، بلکه دهمیش لپاره تعدد د مراتو له اعتبار وی۔نـو چـونـکه کرت یو دی لهذا دا به یو طلاق حسابیږی – باختصار۔ (رحلة إيمانية مع رجال ونساء أسلموا، ص : ۳۵، للعلامة عبد الرحمن محمود).

٤۰ – د پـاکستان د ستری محکمی پخوانی قاضی اودَ اسلامی نظریاتی کونسل او مرکزی رؤیت هلال کمیټی او **د جامعه ازهر فاضل پیر محمد کرم شاه ازهری** ، چی د بـریـلـویانو یو ممتاز عالم دی، هغهٔ هم په دی باندی یوه مستقله رساله لیکلی او په هغی کښی ئی دا خبره ثابته کړی چی د یو طهر دری طلاقه صرف یو طلاق حسابیږی۔

(مجموعه مقالات علمیه دربارهٔ ایك مجلس کی تین طلاق، ص : ۲۱۹).

٤۱ – شیــخ علامه محمد ابو زهره ؒ پـه خپـل کتـاب الاحوال الشـخصیی۔ کښی دیته تـرجیـح ورکـړی چـی دری طـلاقـه پـه یـو ځـل پـه یو طلاق رجعی حسابیږی۔ (الاحوال الشخصیة ۳۰۳، دَ ابو زهرة).

٤۲ – الشیخ العلامة عبد الرحمن بن سعدی ؒ هم دری طلاقه په یو ګڼل۔

(موقع علماءِ الشريعة فتوى الطلاق، الانترنت).

٤۳ – دکتور شیخ جمال الدین المراکبی ؒ (رئیـس انـصار السنی، مصر) هم په یو ځل

دری طلاقه په يو طلاق رجعی حسابوی۔(مجلة الفرقان رقم ۳۵۸، ۲۰۰۵/۸/۲۹).

٤٤ – د **شيخ محمد صالح المنجد** هم دا رائيه ده۔(الإسلام والجواب).

٤٥ – **دکتور نايف بن احمد الحمد**، القاضی بمحکمیۍ رماح ليکی :الأدلة علی أن الطلاق الثلاث يقع واحدة، وهی أدلة قوية.. (الإسلام اليوم، نيت).

٤٦ – **شيخ عبد العزيز السعدون** په الفقه الواضح، المسائلی وأدلتها (۹۹/۱) کښی د (مسألة : الطلاق الثلاث فی المجلس الواحد طلقة واحدة) عنوان لاندی ليکی چی : دری طلاقه په يو ځل، صرف يو طلاقِ رجعی حسابيږی۔

٤۷ – شيخ **شمس الدين محمد القباقبی الصالحی** هم دری طلاقه په يو طلاقِ رجعی ګڼل، لکه حافظ ابن حجرؒ ليکلی :

محمد القباقبی الشيخ شمس الدين الحنبلی الصالحی، کان من قدماءِ الحنابلة ومشايخهم، وكان يتبذل ويتکلم بکلام العامة ويفتی بمسألة الطلاق وقد أنكرت عليه غيره مرة... مات فی ذی القعدة وقد قارب الثمانين [إنباء الغمر بأبناءِ العمر ۲۲/۲، الضوء اللامع لأهل القرن التاسع ۵۰/۵ للعلامة السخاوی).

٤۸ – **شيخ فهد بن عبد الله** صاحب هم په خپل کتاب نيل المرام شرح آيات الاحكام (۷۳/۱) کښی ديته ترجيح ورکړی۔

٤۹ – **مسند الشام، ولغوی الزمان الشيخ العلامة عبد الغنی الدقر** هم دری طلاقه په يو طهر کښی په يو طلاقِ رجعی ګڼړل، دَده نه يو شاګرد تپوس اوکړو چی آيا تهٔ په دی کښی د ابن تيميهٔ تقليد کوی ؟ نو ده ورته اوفرمايل : نهٔ، زهٔ د دلائلو په وجه ديته ترجيح ورکوم۔ (ترجمة الشيخ العلامة عبد الغنی الدقرؒ، بقلم أحد تلاميذه، ملتقی أهل الحديث، انترنت).

۵۰ – **علامه عبد الرحمن عبد الخالق** په خپل مضمون (بين شيخ الإسلام ابن تيمية وابن عربی) کښی د شيخ الاسلام ابن تيميهٔ په سيرت کښی ليکی : وغاية ما نقمه عليه مخالفوه من الفتيا قوله بإيقاع طلاق الثلاث واحدة إن كانت فی مجلس واحدٍ، وقوله بمنع شدّ الرحال إلی قبور الأنبياءِ والصالحين، وعند التحقيق يتبين أن الحق والصواب معه.

(مجلة الراصد، ص ۲٦، العدد الخامس والثلاثون ۱٤۲۷ هـ جمادی الأولی).

۵۱ - **مشهور عالم، عالم المغازی والسیرة محمد بن اسحاق** هم په یو وخت دری طلاقه صرف یو طلاقِ رجعی ګڼل: (الفتاوی الإسلامیة ۲۷۱/۳، التحریر والتنویر لابن عاشور ۴۱۹/۲، سیرة الحاث إلی علم الطلاق الثلاث لابن المبرد، ص ۱۱۸، المتوفی ۹۰۹ هـ).

۵۲ - **علامه ابن الامین بن الحاج البوحسنی** چی د دریارلسمی صدئ عالم دی، دۀ هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاق ګڼړل. (الوسیط فی تراجم أدباءِ شنقیط، ص ۲۳۶، للعلامة احمد ابن الأمین الشنقیطی رحمه اللّٰه، وتسمیة المفتین، ص: ۸۷، للعلامة سلیمان بن عبد اللّٰه بن العمیر حفظه اللّٰه).

۵۳ - د **قرطبی فقیه العصر محمد بن عبد السلام الخشنی**[کۀ دۀ ته استاذ العلماء وویل شی نو هیڅ مبالغه نۀ ده، تاریخ علماءِ الأندلس لابن فرضی]. دۀ هم په یو ځل دری طلاقه یو ګڼلو. (التحریر والتنویر لابن عاشور ۴۱۹/۲، المقنع فی أصول الوثائق وبیان ما فی ذلك من الدقائق لأبی جعفر أحمد بن محمد بن مغیث، فتح الباری ۳۶۳/۹، نیل الأوطار ۱۶/۷، الإنصاف فی معرفة الراجح من الخلاف للمرداوی، إغاثة اللهفان، مطالب أولی النهی فی شرح غایة المنتهی، لمحمد الأمین بن ملا أحمد بن محمد الأمین أفندی الداغستانی).

۵۴ - **الفقیه الجلیل احمد بن مغیث الطلیطلی** ؒ هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاق ګڼلو: (التحریر والتنویر لابن عاشور ۴۱۹/۲، مجموع الفتاوی ۱۳۲/۳۳).

۵۵ - فقیه القرطبی **إصبغ بن الحباب** ؒ هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاق ګڼلو. (التحریر والتنویر ۴۱۹/۲، الإنصاف للمرداوی، إغاثة اللهفان، مجلة البحوث الإسلامیة، الفتاوی الکبری لابن تیمیة، مطالب أولی النهی فی شرح غایة المنتهی، المقنع فی أصول الوثائق وبیان مافی ذلك من الدقائق).

۵۶ - **محمد بن زنباع** ؒ هم په یو ځل دری طلاق یو طلاق شمارلو. (الإنصاف للمرداوی، مجلة البحوث الإسلامیة، المقنع فی أصو الوثائق، التحریر والتنویر ۴۱۹/۲، الفتاوی الکبری، مطالب أولی النهی للداغستانی).

۵۷ - **محمد بقی بن مخلد** هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاق ګڼل. (حواله سابق، وفتح الباری ۳۶۳/۹، نیل الأوطار ۱۶/۷، إغاثة اللهفان).

۵۸ - **تبع تابعی داؤد بن علی** ؒ المتوفی (۲۷۰) هـ اوددۀ اکثر ملګری، دوئ هم په یو

ځل دری طلاقه یو طلاقِ رجعی ګڼل۔ (الحاوی الکبیر، ص ۱۰، عون المعبود ۱۹۳/۳، الروضة الندیة ۵۳/۲، سیر الحاث إلی علم لاطلاق الثلاث، ص ۱۱۹، الموضح فی الفقه والطلاق لابن المغلس المتوفی ۳۲٤ هـ إعلام الموقعین ۳۵/۳، مجموعة الفتاوی ۸/۳۳).

۵۹ – **مجد الدین ابن تیمیه** ؒ، دَ شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ نیکهٔ، دهٔ هم کله نا کله په یو ځل دری طلاقه یو ګڼل۔ (عون المعبود ۱۹۳/۳، مجموعة الفتاوی ۸٤/۳۳، الذیل علی طبقات الحنابلة لابن رجب ۲۵۳/۲، سیر الحاث، ص ۱۱۸، إغاثة اللهفان).

٦۰ – **محمد بن وضاح**ؒ هم په یو ځل دری طلاقه په یو ګڼل۔ (فتح الباری ۳٦۳/۹، النیل ۱٦/۷، انصاف، عون المعبود ۱۹۳/۳، إغاثة اللهفان، المقنع).

٦۱ – **داؤد الظاهری**ؒ هم دری طلاقه په یو ځل، صرف یو طلاق رجعی ګڼلو۔ (عمدة الرعایة حاشیة شرح الوقایة ۷۱/۲، مجموعة الفتاوی ۸/۳۳، الصواعق المرسلة ٦۲۲/۲، إغاثة اللهفان ۳٤۵/۱، تسمیة المفتین، ص ۵۷). (۵۸، او ٦۱.

٦۱ – امام **یحیی بن معین** ؒ هم په یو ځل دری طلاقه ورکول یو طلاق رجعی ګڼلو۔ الفتاوی الکبری، مطالب أولی النهی، الإنصاف للمرداوی).

٦۲ – **دَ جامع ازهر شیخ، مفتی الدیار المصریة العلامة عبد المجید سلیم الحنفی المصری** هم دیته ترجیح ورکړې چې په یو ځل دری طلاقه په یو طلاقِ رجعی شماریږی۔ (حاشیة الفقی علی المنتقی للمجد ابن تیمیة ٦۰۰/۲، تسمیة المفتین، ص : ۹۲).

٦۳ – **سحنون بن سعید**ؒ هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاق ګڼلو۔ (الفتاوی الکبری، مجموعة الفتاوی لابن تیمیة، مطالب أولی النهی، المقنع).

٦٤ – **ابن ابی شیبه**ؒ چې دَ امام بخاریؒ او امام مسلمؒ استاذ دی، دهٔ به هم په یو ځل ورکړې دری طلاقه یو طلاق ګڼلو۔ (حواله سابقه، مع الإنصاف).

٦۵ – **حجاج بن ارطاة**ؒ هم په یو ځل دری طلاقه یو ګڼړلو۔ (الشهادة الزکیة فی ثناءِ الأئمة علی ابن تیمیة، للعلامة مرعی بن یوسف الکرمی الحنبلی رحمه الله، الناسخ والمنسوخ لابن العربی ۸۸/۲، المعلم بفوائد مسلم ۱۹۱/۲، للمازری، تسمیة المفتین، ص ۵۵).

٦٦ – **دَ امام مالک**ؒ نه هم دا شان قول نقل شوی۔ (عمدة الرعایة للکهنوی).

٦۷ – **دَ امام شافعی**ؒ نه هم یو قول دا شان نقل شوی۔ (مجموعة الفتاوی ۳۳).

۶۸ – دَ **امام احمد بن حنبل** ؒ نـه هـم یو قول دا شان نقل شوی۔ (الـمـعلم بفوائد مسلم، مجموعة مقالات علمیه دربارهٔ طلاق، ص ۹۱).

۶۹ – دَ **امام ابو حنیفه** ؒ نـه هم یو قول دا شان نقل شوی۔ (الـمعلم بفوائد مسلم، إغاثة اللهفان، مجموعة مقالات علمیه دربارهٔ طلاق، ص ۹۱).

۷۰ – **محمد بن مقاتل حنفی** ؒ هم په یو ځل دری طلاقه یو ګنړلو۔ (المعلم بفوائد مسلم، مـجـمـوعة مـقـالات عـلمیه دربارهٔ طلاق، ص ۹۱، سیر الحاث، الصواعق المرسلة ۶۲۳/۲، إعلام الموقعین ۳۵/۳، مجموعة الفتاوی لشیخ الإسلام ابن تیمیة).

۷۱ – **شیـخ علامه محمد بن علی الایتوبی الولوی** ؒ پـه خپـل کتاب (ذخیرې العقبی شرحالـمجتبی) اوویشتم جلد کښی په دی موضع باندی د ډیر تفصیل لیکلو نه پس هم دیتـه تـرجیـح ورکـړی چی : په یو ځل دری طلاقه صرف طلاقِ رجعی حسابیږی۔ (شرح سنن النسائی المسمی ذخیرة العقبی فی شرح المجتبی ۲۷۹۸/۲۷).

۷۲ – مشهور عالم **محمد الحامد الفقی** هـم دا رائی ده۔ لکه دا دَ الانصاف په تعلیق او تـصـحیح (۴۵۴/۸) کښی لیکی : (لـلإمـامیـن شیـخی الإسلام ابن تیمیة وتلمیذه ابن القیم تحقیقات جلیلیة لا تدع مجالاً للشك أنه لا یقع إلا واحدة.

۷۳ – **عبـد الرحمن بن احمد بن رجب الحنبلی**، زیـن الـدین ابو الفرج الدمشقی ؒ شیخ الـحـنـابـلی المتوفی (۷۹۵) هـ : دهٔ هم په یو ځل دری طلاقه په یو طلاقِ رجعی حسابول۔ بـلـکـه دهٔ پـه دی بـاره کښـی یـو کـتـاب هم لیکلی چی د هغی نوم دی (الأحـادیث والآثار المتزائدة فی أن الطلاق الثلاث واحدة)۔ (سیر الحاث، تسمیی المفتین، ص : ۷۲)۔ البته دهٔ ددی نه پس ئی دری طلاقه دری هم ګڼلی.

۷۴ – **عـمـر بن سعد بن عبد الله الشهیر بابن نجیح الحرانی** زیـن الـدین الحنبلی ؒ المتوفی (۷۴۹) هـ : دهٔ هم دری طلاقه په یو طلاق رجعی ګڼل۔

ددهٔ پـه بـاره کښی حافظ ابن حجرؒ لیکی : تـفـقـه بابن تیمیة حتی مهر وناب عن ابن المنجاد ودرس بـالضیائیة وکان یحکم بالمسائل التی انفرد بها ابن تیمیة رحمه الله. (الدرر الکامنة فی أعیـان الـمـئة الثـامـنة، لابـن حـجر العسقلانی ۳۹۹/۱، وفی نسخة ۲۴۳/۳، کما فی تسمیة المفتین، ص : ۶۶).

دۀ بـه پـه خپـلو فتـوو کښـې انتهـائـې ډیر احتیاط کول، لکه ددۀ په باره کښې ابن رجبؒ لیکی : وحدثنی الإمام العلامة عز الدین حمزة بن شیخ السلامیة عنه أنه قال له : لم أقض قضیة إلا وقـد أعـددت لها الجواب بین یدی اللّٰه تعالی. (ذیل طبقات الحنابلة لابن رجب ۳٦۰/۱، وفی نسخة أخری ٤٤۳/۲).

۷۵ – **عـلـی بن عبد المحسن بن عبد الدائم البغدادی ابن الدوالیبی** الـحنبلیؒ الـمتوفی (۸٦۲) هـ : دۀ به په یو ځل دری طلاقه یو رجعی طلاق ګڼلو۔ علامه ابن المبردؒ ددۀ په باره کښې لیکی : قـد کان یفتی به، أی بالقول بأن الطلاق الثلاث واحدة – فی زماننا الشیخ علی الدوالیبی البغدادی، وجری له من أجله محنة ونکایة فلم یدعه.

(یعـنـی : زمـوږ په زمانه کښې دوالیبی بغدادیؒ هم دری طلاقه په یو طلاقِ رجعی ګڼله ،دی بـاره کښـې دۀ تـه ډیر تکلیفونه هم ورسیدل لیکن هغه دا فتویٰ پری نۀ ښودله۔ (سیر الحاث، ومثله فی الجوهر المنضد، ص ۱۰۲، انظر تسمیة المفتین، ص ۷۹).

علامه سخاویؒ ددۀ په باره کښې لیکی : کان یفتی بما ینسب لابن تیمیة فی مسألة الطلاق حتـی أنـه امتحن بسببها علی ید الجمال الباعونی قاضی الشافعیة بدمشق وصفع وأرکب علی حمار وطیف به فی شوارع دمشق وسجن [الضوء اللامع للسخاوی ۸۵/۳).

۷٦ – **الامام الفقیه شهاب الدین الشوبکی**ؒ المتوفی (۱۰۰۷) هـ : دۀ هم په یو ځل دری طلاقه ورکول صرف یو طلاقِ رجعی ګڼل۔

پـه خلاصۀ الاثر فی أعیان القرن الحادی عشر کښې راځی :أنه کان علی مذهب ابن تیمیة مـن الـقول بتجویز بقاءِ التزویج بعد الطلقات الثلاث [خلاصة الأثر للمحبی ۱۷۵/۱، والنعت الأکمل، ص : ۱٦۷).

۷۷ – **مشهور عالم، محدث، علامه احمد محمد شاکر**ؒ په خپل کتاب (نظام الطلاق فـی الاسـلام، ص : ٤۱) کښې د ډیر تفصیل نه پس دیته ترجیح ورکړی چې په یو وخت او یو طهر کښې دری طلاقه ورکول صرف یو طلاقِ رجعی حسابیږی۔

۷۸ – **طاس بن عمرو الهجری البصریؒ** ثقه اوفقیه تابعی :

(وثـقـه أحمد وابن معین والعجلی وأبوداود والنووی، کما فی رسالة من تکلم فیه وهو موثق أو صالح الحدیث، للإمام الذهبی المحققة).

دا دَ علی، عبد الله بن عباس، عمار بن یاسر، عائشی او نورو صحابه کرامو - رضی الله عنهم - شاګرد وو۔

(الوافی بالوفیات ٣٨٠/٤، تهذیب الأسماءِ واللغات للنووی).

حافظ ابن حجرؒ ورته په (الإصابة فی تمیز الصحابة حرف العین بعدها میم) کښی فقیه ویلی۔ دۀ به هم په یو ځل دری طلاقه په یو طلاقِ رجعی شمارلو۔

(مجموعة الفتاوی: ٨/٣٣، إعلام الموقعین ٣٥/٣، الصواعق المرسلة ٦٢١/٢، عون المعبود، تسمیة المفتین، ص: ٥٤، البحوث العلمیة لهیئة کبار العلماءِ بالمملکة العربیة السعودی ٣٦٩/١، مجلة البحوث الإسلامیة ٤٩٩/٣).

٧٩ - **الحارث العکلیؒ الکوفی الفقیه**: دۀ به هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاقِ رجعی ګڼل۔

(عون المعبود، مجلة البحوث العلمیة لهیئة کبار العلماءِ السعودیة ٣٦٩/١، مجلة البحوث الإسلامیة ٤٩٩/٣، إعلام الموقعین ٣٥/٣، إغاثة اللهفان ٣٠٥/١، مجموعة الفتاوی ٣١/٣٢، تفسیر القرطبی ١٢٩/٣، تسمیة المفتین، ص: ١٥٥).

٨٠ - **شیخ الاسلام محمد بن عبد الوهابؒ**: ددۀ نه هم په یو ځل دری طلاق یو ګڼلو فتویٰ نقل شوی: البته عامی فتوی ئی د دری طلاقو متعلق د جمهورو مطابق ورکولی۔

(الدرر السنیة ٣٨٦/٤، فتاوی الشیخ محمد بن إبراهیم ٣٤/١١، تسمیة المفتین، ص: ٨٥).

٨١ - **دَ ابن عباس - رضی الله عنه - مشهور او معتبر شاګرد، عکرمه رحمه الله** به هم په یو ځل دری طلاقه یو ګڼلو۔ لکه ددۀ نه دا فتویٰ په ابوداود وغیره کښی په صحیح سند سره نقل ده۔

(إعلام الموقعین ٣٥/٣، مجموع الفتاوی ٣١٢/٣٢، ٨/٣٣، الروضة الندیة ٥٠/٢، الفقه علی المذاهب الأربعة، عون المعبود ١٩٣/٣).

٨٢ - **د ابن عباس - رضی الله عنه - یو بل مشر او معتبر شاګرد طاووسؒ بن کیسان الیمانی**، دۀ به هم دری طلاقه په یو طلاقِ رجعی حسابول۔

(عون المعبود ١٩٣/٣، إعلام الموقعین ٣٥/٣، مجموع الفتاوی ٣١٢/٣٢، ٨/٣٣، إغاثة اللهفان ٣٠٥/١، تفسیر القرطبی ١٢٩/٣، تسمیة المفتین، تفسیر التحریر والتنویر ٤١٩/٢،

الفقه على المذاهب الأربعة).
حافظ ابن حجرؒ ددهٔ په باره کښې فرمائی : وطاووس لقبه، ثقة، فقيه، فاضل من الثالثة [تقريب التهذيب].
د عمرو بن دینارؒ نه نقل دی چې : ((ما دَ طاووسؒ پشان انسان نهٔ دی لیدلی)).
(الکاشف ۲/ ٤٠).
۸۳ – **شیخ محمد عبد الطیم قاسمی** ؒ، صدر مرکزی جمعیت علماء احناف پاکستان، وبانی ومهتمم جامعه حنفیه قاسمیه گلبرك لاهور : ددهٔ هم دا فتوئ وه چې په یو ځل دری طلاقه، یو طلاق رجعی حسابیږی، ددهٔ د فتوی تفصیل په مجلۂ الاعتصام لاهور ۱۵/ جنوری ۱۹۸۰، کښې لیکلی شوی. دهٔ په خپلو دوو نورو مکتوبونو کښې هم ددی ډیر ښهٔ تفصیل لیکلی چې په یو ځل دری طلاقه صرف یو طلاقِ رجعی شماریږی، د تفصیل دپاره وګوره :
(ایك مجلس کی تین طلاق علماءِ احناف کی نظر مین، ناشر جماعت اهل حدیث ملتان، دَ ملاویدو پته، دار الحدیث رحمانیه چنګی نمبر ١٤، نزد پانا لاری اډه ملتان، دار الحدیث محمدیه عام خاص باغ، ملتان).
دارنګه ددهٔ دا فتوی شیخ حافظ صلاح الدین یوسف حفظه الله تفصیلاً په خپل کتاب (ایك مجلس کی تین طلاقین اور اس کا شرعی حل، ص ۱۸۱) کښې ذکرکړی.
۸٤ – د شیخ عبد الحلیم قاسمیؒ نه پس دَ جامعی حنفیه بل مهتمم اوعالم دین **حافظ حسین احمد قاسمی**ؒ **حنفی** هم دا لیکلی چې زما په نیز په یو وخت دری طلاقه صرف یو طلاق رجعی واقع کیږی، ددهٔ دا ټوله فتوئ او مکتوب په (ایك مجلس کی تین طلاقین اور اس کا شرعی حل، ص ۱۸۱) کښې راوړی شوی.
۸۵ – **خطیب سرگودها شیخ الحدیث حسین علی** ؒ، وان بهچران ضلع میان والی : دی په خپل وخت کښې یو غټ محدث اوفقیه تیر شوی او حنفی عالم دی، دهٔ هم لیکلی چې په یو ځل دری طلاقه یو طلاقِ رجعی شماریږی، ځکه دلائل دی طرفته ډیر اوصحیح راغلی.
(تذکرة شیخ الإسلام مولانا شبیر أحمد عثمانی، ص ٤١، ناشر جامعه حنفیه گلبرك لاهور،

ايك مجلس كى تين طلاقين اور اس كا شرعى حل، ص ۱۸۱)۔

۸٦ – **مولانا سيد سليمان الحسينيؒ ندوى**، دى دَ هندوستان مشهور حنفى عالم دى، دهٔ هم ويلى چى د ښځو طبقى ته چى اسلام كوم رخصتونه وركړى، نو پكار دى چى د هغى لحاظ وساتلى شى او په داسى (دَ طلاقه ثلاثه پشان) مسئلو كښى كهٔ يو حنفى مفتى فتوىٰ نشى وركولى نو (عوامو ته دى په دى باره كښى) د اهلِ حديثو علماؤ طرفته دَ رجوع كولو اجازه وركړى شى۔

(الشريعة مجلة ۳۳ عدد، مارچ ۲۰۰۵ء، ايك مجلس كى تين طلاقين اور اس كا شرعى حل، ص : ۱۱٦).

۸۷ – **الطاف احمد اعظمى** : دا هم د هندوستان غټ حنفى عالم دى، دهٔ هم د طلاق ثلاثه په موضوع د ډير تفصيل ليكلو نه پس ويلى چى زما په نيزد همدا صحيح مسلك دى چى په يو ځل درى طلاقه يو طلاقِ رجعى شماريږى۔ (الإشراق مجلة لاهور، فرورى ۲۰۰٦ء، ايك مجلس كى تين طلاقين، ص : ۱۱۷).

۸۸ – **مولانا ابو الحسنات ندوى حنفى** (رفيق دار المصنفين، هندوستان) : دهٔ په يو مجلس كښى د درى طلاقو په موضوع باندى يوه مقاله ليكلى چى په سنه (۱۹۲۲ء) كښى په (معارف مجله ۹/ جلد ۱، ۲ عدد) كښى په دوو قسطونو كښى نشر شوى، دهٔ په خپله مقاله كښى په يو ځل درى طلاقه درى ګڼونكو او يو ګڼونكو دلائل ذكر كړى، او ددى نه پس ئى د يو طلاق رجعى ګڼونكو دلائل راجح ګڼلى اوليكلى ئى دى :

و إن هذا لهو الحق المبين.. ۔(يعنى درى طلاقه په يو ځل يو طلاق رجعى ګڼل همدا ښكاره حقه مسئله ده)۔(ايك مجلس كى تين طلاقين، ص : ۱۷۳).

۸۹ – **مولانا سيد حامد على** (سيكرټرى جماعت اسلامى، هند) : دهٔ هم په دى موضوع باندى د ډير تفصيل نه پس ليكلى دى چى زما په نيزد همدغه راجح قول دى چى په يو ځل درى طلاقه صرف يو طلاقِ رجعى حسابيږى۔ (مجموعة مقالاتِ علميه دربارۂ ايك مجلس كى تين طلاق،ص : ۱۷۳).

۹۰ – **شيخ احمد الرحمن** ، خطيب جامع مسجد پاك سيكرټريټ، اسلام آباد : دهٔ هم ليكلى چى د عمر فاروق – رضى الله عنه – فيصله د طلاق ثلاثه په باره كښى په موقتى ډول د يو خرابئ لرى كولو په خاطر وه، دا د هميشه لپاره نهٔ وه۔ ددهٔ نظر هم دى طرفته

تـلـلـی چې دری طـلاقــه پــه یــو وخـت یو طلاقِ رجعی حسابیږی۔ (الشـریـعة، مجلة مئ ۲۰۰۵ء).

۹۱ - **دکتور رضوان علی** : هـم دی دلائـلو ته په کتو سره دی دا رائیه لری چې په یو ځل دری طـلاقه یو طلاق حسابیږی۔ (الشـریـعة، میاشتنئ مجله، گوجرانواله، اگست ۲۰۰۵ء، ایك مجلس کی تین طلاقین اور اس کاشرعی حل، ص : ۱۹۹).

۹۲ - **دکتور عبد المجید محمود** : دۀ هـم پـه یو ځل دری طلاقه یو طلاقِ رجعی گڼله۔ (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۹۳ - **الشیخ مناع القطان** به هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی گڼلو۔ (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۹۴ - **الشیخ شاذلی النیفر** : دۀ به هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی گڼله۔ (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۹۵ - **الشیخ عبد الله عقیل** : دۀ بـه هـم پـه یـو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی گڼل۔ (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۹۶ - **الشیخ محمد خاطر** : دۀ به هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی گڼل۔ (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۹۷ - **دکتور محمد سلیم العواد** : دۀ بـه هـم پـه یـو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی گڼل۔ (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۹۸ - **دکتور احمد العسال** : دۀ بـه هـم پـه یـو ځـل دری طلاقه یو طلاقه رجعی گڼلو۔ (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۹۹ - **الشیخ دکتور یوسف سلیمان** : دۀ به هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی گڼلو۔ (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۱۰۰ - **الشیخ دکتور البدر متولی عبد الباسط** : دۀ بـه هـم په یو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی گڼلو۔ (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۱۰۱ - **الشیخ دکتور محمد بن عبد الله العجلان** : دۀ بـه هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی گڼلو۔ (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۱۰۲ - **الشیخ دکتور عبد الله المصلح** : دۀ به هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی ګڼل. (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۱۰۳ - **الشیخ دکتور مقتدی حسن الازهری** : دۀ به هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی ګڼل. (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۱۰۴ - **الشیخ ظهور محمد الندوی** : دۀ به هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی ګڼل. (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۱۰۵ - **الشیخ محمد تقی الدین لامینی** : دۀ به هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی ګڼل. (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۱۰۶ - **الشیخ دکتور مصطفیٰ زرقا** : دۀ به هم په یو ځل دری طلاقه یو طلاقه رجعی ګڼلو. (موسوعة الفقه الإسلامی ۴۷۳/۱).

۱۰۷ - د **علامه ابن ابی العز الحنفی**ؒ د تحقیق نه معلومیږی چی په یو ځل دری طلاقه په یو طلاق حسابیږی، لکه دده تحقیق په ((التنبیه علی مشکلات الهدایه)) کښی تفصیلا وګوره.

۱۰۸ - **مولانا حمدالله جان دیوبندی** چی د کتوزو شبقدر اوسیدونکی وو، ده د سلو کلونو نه زیات عمر لرل په خپله علاقه کښی مشهور عالم یادیده د دیوبندی نه فارغ شوی وو، ده هم زما (ابوخالدغزنوی) ددری طلاقه یو ګڼلو په فتویٰ په پیښور ښار، بابوګړهئ کښی د یوی لویی جرګی په حضور کښی دستخط وکړو، چی ستا فتویٰ صحیح ده.

//////

په یو ځل د دری طلاقو ورکولو حکم

سوال : پـه یـو ځل دری طلاقه ورکول څهٔ حکم لری ؟ آیا دا جائز دی چی کهٔ ناجائز ؟ ډیر خلق پـه یـو ځل دری طـلاقـه ورکوی، دی باره کښی د قرآن او سنت په رڼا کښی تفصیلا جواب ولیکئ !!

جواب : پـه یـو ځل دری طـلاقـه ورکـول حـرام، بدعت او شیطانی عمل دی۔ په صحیح حـدیث کښی په یو ځل دری طلاقه ورکول په کتاب الله باندی ټوقی او استهزاء کول ګڼل شـوی، دَ طـلاق اچولو آداب خو به مخکښی تفصیلا ذُکر شول ، دلته مونږ صرف د دری طلاقو په یو ځل اچولو حکم بیانوو۔

نـو پـه یو ځل دری طلاقه ورکولو په وجه چی په معاشره کښی څو مره فسادونه او خرابئ رائحی نـو دا پـه هیـڅـا پټ نهٔ دی، ددی وجی نه اسلام په یو ځل دری طلاقه ورکول سخت حـرام او نـاروا عـمـل ګڼی۔ رسول الله ﷺ په یو ځل دری طلاقه ورکول د الله په قرآن پوری ټـوقـی کـول تـعبیر کړی، صحابه کرامو ؓ دیته د شیطان کار او تابعداری ویلی، علماء کرامو ورته ګناه او بدعت ویلی۔

الله تعالیٰ فرمائی :﴿ الطلاق مرتان فامساك بمعروف او تسريح بإحسان ﴾.

(طلاق ورکول دوه کرتی دی، ددی نه پس یا په ښه طریقه سره د ځان سره ساتل دی او یا ئی په شرعی طریقه سره پریښودل دی)۔

ګـڼو مفسرینو ددی آیتِ کریمه نه دا مسئله ثابته کړی چی ددی آیت نه معلومیږی چی پـه طـلاقـو کـښـی تفریق او جداوالی پکار دی، او په یو ځل دری طلاقه ورکول د قرآن کریم خلاف عمل دی۔

علامه زمخشری په خپل تفسیر کشاف کښی لیکی :

الـطـلاق بـمعنى التطليق كالسلام بمعنى التسليم، أى التطليق الشرعى تطليقة بعد تطليقة على التفريق دون الجمع والإرسال دفعة واحدة. (یـعنی : شرعی طلاق دادی چی یو طلاق پس د بل طلاق نه بیل بیل ورکړی شی، نهٔ په یو ځل دری طلاقه)۔

مشهـور حـنـفـی فقیه ابو بکر جصاص لیکی : الـطـلاق مرتان : وذلك يقتضى التفريق لا

محـالة، لأنـه لو طلق اثنتين معًا لما جاز أن يقال طلقها مرتين... فثبت بذلك أن ذكره للمرتين إنما هو أمر بإيقاعه مرتين ونهى عن الجمع بينهما فى مرة واحدةٍ.

(دا آيت خامخا د بيل بيل طلاق وركولو تقاضا كوى ځكه كۀ څوك دوه طلاقه په يو ځل وركړى نو دا نۀ ده صحيح چې موږ ووايو چې ده دوه ځلى طلاقه وركړو. بيا ورسته ليكى په آيت كښـى (مـرتين) ددى لپاره ذكر شوى چې طلاق رجعى دى په دوه بيل بيل كرتو كښـى وركـړى شى، او په آيت كښى ددى نه منع راغلى چې په يو ځل درى طلاقه وركړى شى).

بل ځاى ليكى:

وقد روى عن النبى ﷺ فى النهى عن إيقاع الثلاث مجموعة بما لا مساغ للتأويل فيه.

(د نبى كـريم ﷺ نه د درى طلاق وركولو په منع كښى دومره ډير احاديث راغلى چې په هغو كښى د تأويل كولو هيڅ ګنجائش نشته).

د (الطلاق مرتان) په تفسير كښى ليكى: دا آيت په دى مسئله دليل دى. او دآيت مقصد دادى چې طلاق دى بيل بيل وركړى شى. أنـه أمـر بـأنه إذا أراد أن يطلقها ثلاثاً فعليه تفريق الطلاق.

داسى خبره نسفىؒ په مدارك التنزيل كښى هم كړى، لكه هغه ليكى:

الـطـلاق بـمـعنى التطليق كالسلام بمعنى التسليم أى التطليق الشرعى تطليقة بعد تطليقة على التـفـريـق دون الجمع والإرسال دفعة واحدة، ولم يرد بالمرتين التثنية ولكن التكرير كقوله: ﴿ثـم ارجـع البـصـر كـرتين﴾ (الملك: ٤) أى كرة بعد كرة لا كرتين اثنتين وهو دليل لنا فى أن الـجـمـع بين الطلقتين والثلاثة بدعة فى طهر واحد، لأن الله تعالىٰ أمرنا بالتفريق لأنه وإن كان ظـاهـره الـخـبـر فـمـعناه الأمر وإلا يؤدى إلى الخلف فى خبر الله تعالى، لأن الطلاق على وجه الجمع قد يوجد.

(يـعـنـى: شرعـى طـلاق ديته ويل كيږى چې په يو ځل نۀ بلكه په يو بل پسى بيل بيل وركـړيشـى، او د (مـرتيـن) نـه تثـنيه (دوه طلاقه) نۀ دى مراد، بلكه دوه كرته مراد دى. او دا آيت زمـونـږ (دَ احنافو) دليل دى چې په يو طهر كښى دوه درى طلاقه وركول بدعت دى، ځـكه الله تعالىٰ په بيل بيل طلاق وركولو امر كړى، آيت اګركۀ د خبر په طريقه ذكر شوى،

ولـی ددی نـه مـراد انشاء ده، (يعنی بيل بيل طلاق ورکړئ) که دا معنیٰ ئی نشی نو بيا خو (والـعيـاذ بـالله) د الله تـعـالیٰ پـه خبـره کښـی خلاف راځی، ځکه دری طلاقه ورکول خو په خارج کښی موجوديږی ـ (مدارك التنزيل)۔

شيخنا ابو زکريا عبد السلام حفظه الله په خپل تفسير کښی ليکی :

فـان طـلـقهـا : کښـی په حرف فاء سره ذکر کول اشاره ده چی شرعی طلاق دادی چی دريم ځـل طـلاق دی د مـخـکـی دوه طـلاقـو سره نـهٔ جمع کوی، بلکـه ورستـه دی ورکړی۔ نو مـعلومه شوه چی دری طلاقه په يو ځای يا يوه کلمه جمع کول د طريقی شرعی نه خلاف کول دی، ددی وجی نه احناف علماء هم هغی ته بدعی طلاق وائی۔

(احسن الکلام : ١٨٦/٢).

ابن بطالؒ د صحيح بخاری په شرح کښی ليکی :

قـال ابـن الـقـصـار : وقـد روی عـن عمر، وعلی، وابن مسعود، وابن عباس، وابن عمر، وأبی مـوسـی، وغيـرهـم : إظهـار الـنـكيـر عـلی من أوقع ثلاثًا فی مرة واحدة، و كان عمر يوجع من طلقامرأته ثلاثاً فی كلمة واحدة ضربًا، ويفرق بينهما.

عـلامـه انـورشاه کشميری په عرف الشذی کښی ليکی : ومـذهب أبی حنيفة وأحمد أن جمع ثلاث طلقاتٍ فی وقت واحد بدعة.

(د امـام ابـو حـنيـفـهؒ او امـام احـمدؒ مذهب دادی چی په يو ځل دری طلاقه ورکول بدعت دی)۔ورسته ددی دليل دا بيانوی چی : ولـنا ما فی القرآن ﴿ الطلاق مرتان ﴾ (البقرة ٢٢٩) أی مرة بعد مرة لا جمعهما، وجمهور السلف أيضًا معنا أی مع أبی حنيفة وأحمد بن حنبل.

(زمونږ دليل د قرآن کريم دا آيت دی چی طلاق ورکول دوه ځلی دی)۔

دی بـاره کښـی نورو ګڼو مفسرينو او شارحينو (خصوصا احنافو) دا وضاحت کړی چی د طلاقونو په مينځ کښی وقفه او جدا والی ضروری دی۔

(تـفسيـر مـظهـری، فيض الباری، تفسير مدارك، حاشية النسائی للشيخ محمد تهانوی أستاذ مولانا أشرف علی تهانوی، أحكام القرآن للجصاص).

١ ــ حـديث کښی راځی : عـن مـحـمـود بن لبيد قال : أخبر رسول الله ﷺ عن رجل طلق امـرأتـه ثلاث تطليقاتٍ جميعًا فقم غضبانًا ثم قال : أيلعب بكتاب الله وأنا بين أظهركم ؟ حتی

قـام رجـل وقـال : یـا رسـول الله ! ألا أقتـلـه ! (رواه الـنسائی : ۸۲/۲، ۳۳۴۸، کما فی الفتح ۳٦۲/۹، قال الحافظ ابن القیم : إسناده علی شرط مسلم، زاد المعاد : ۵۲/٤).

حافظ ابن حجر رحمه الله وائی : رواته موثقون۔ (بلوغ المرام ۲۲٤).

حافظ ابن کثیرؒ فرمائی : إسناده جید، کما فی نیل الأوطار ۲٤۱/٦).

(یعنی رسول الله ﷺ ته چا د یو سړی باره کښی خبر ورکړو چی هغه خپلی ته په یو ځل دری طلاقـه ورکـړی، رسول الله ﷺ په غصه کښی راپاسیدۀ او، وی فرمایل : زۀ لا ژوندی یـم او دَ الله پـه کتـاب پوری توقی کیږی ؟ تردی چی یو کس را پاسیدۀ او عرض ئی وکړو، یا رسول الله ! وژنو ئی نۀ ؟)۔

ددی حـدیـث نـه مـعـلـومه شوه چی په یو طهر کښی دری طلاقه ورکول ډیره سخته ګناه ده۔

یـو بـل حـدیـث کښـی راځـی : ابن عباس – رضی الله عنه – ته یو کس راغی چی زما ترۀ خپـلـی ښځی ته په یو ځل دری طلاقه ورکړی۔ ابن عباسؓ ورته وفرمایل : إن عمك عصی الله فأندمه الله وأطاع الشیطان. (البیهقی ۳۳۷/۷، مصنف عبد الرزاق ۲٦٦/٦، ۱۰۷۷۹).

امیر المؤمنین عمر بن خطاب ته به چی داسی څوك راوستی شو چی هغه به په یو ځل دری طلاقه ورکړی وو، نو عمر رضی الله عنه به سم وهل ورکول۔

حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی :

وأخـرج سـعـیـد بـن مـنـصـور عـن أنس أن عمر کان أتی برجل طلق امرأته ثلاثاً أوجع ظهره، وسنده صحیح. (فتح الباری).

دَ مـذکـوره آیـت او احـادیـثـو نـه مـعـلـومه شوه چی په یو ځل دری طلاقه ورکول حرام او سخته ګناه ده۔

امام ابو بکر الجصاصؒ دی باره کښی د احادیثو او آثارو نقل کولو نه پس لیکی :

فهذا الذی قدمناه من دلالة الکتاب والسنة علی حظر جمع الثلاث والإثنتین فی کلمة واحدة، وقد ورد بمثله اتفاق السلف.

//////

دی بار کی د علماؤ اقوال :

شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ لیکی : والطلاق نوعان : نوع أباحه الله ونوع حرمه، فالذی أباحه أن یطلقها إذا کانت ممن تحیض بعد أن تطهر من الحیض قبل أن یطأها ویسمی طلاق السنة، فإن کانت ممن لاتحیض طلقها أی وقت شاء أو یطلقها حاملا قد تبین حملها فإن طلقها بالحیض أو فی طهر بعد أن وطئها کان هذا طلاقا محرمًا بإجماع المسلمین.

(طلاق په دوه قِسمه دی، یو هغه طلاق دی چی الله تعالیٰ حلال کړی، بل هغه طلاق دی چی حرام کړی ئی دی، کوم طلاق چی ئی جائز کړی نو هغه دا دی چی:

ژ کۀ داسی ښځه وی چی هغی ته حیض ورځی نو هغه چی کله د حیض نه پاکه شی او جماع ورسره لا نۀ وی شوی او په دی وخت کښی طلاق ورکړی نو دیته سنت طلاق ویلی کیږی۔

ژ کومی ښځی ته چی حیض نۀ ورځی یا حامله وی، او حمل ئی معلوم شی نو هغی ته هر وخت طلاق ورکولی شی۔ کۀ څوك په حیض یا داسی طهر کښی طلاق ورکړی چی په هغی کښی ئی ورسره جماع کړی وی، نو دا په اجماع د علماؤ حرام طلاق دی)۔

بیا لیکی : وطلاق السنة المباح : إما أن یطلقها طلقة واحدة ویدعها حتی تنقضی العدة فتبین أو یراجعها فی العدة، فإن طلقها ثلاثا أو طلقها الثانیة أو الثالثة فی ذلك الطهر : فهذا حرام وفاعله مبتدع عند أکثر العلماءِ کمالكٍ وأبی حنیفة وأحمد فی المشهور عنه.

(سنت او مباح طلاق دادی چی یا خو یو طلاق ورکړی او ددی نه پس ئی پریږدی چی عدت ئی ختم شی، او په دی سره بائنه (ددۀ نه جلا) شی۔ او یا ورته په عدت کښی دننه رجوع وکړی، کۀ دری طلاقه ورکړی یا په یو طهر کښی دوه دری طلاقه ورکړی نو دا کار حرام دی او داسی کار کونکی د اکثرو علماؤ – امام مالكؒ، امام ابو حنیفهؒ او دَ امام احمدؒ په مشهور قول کښی – بدعتی دی)۔ (مجموعة الفتاوی ۳۳/).

علامه ابن الجوزیؒ لیکی : وإن جمع الطلاق الثلاث فی طهر واحد، فالمنصور من مذهبنا أنه بدعة (تفسیر زاد المسیر).

//////

که یو کس خپلی ښځی ته

په خطائی سره ووائی چی ته طلاقه ئی نو ددی څه حکم دی ؟

سوال: یو کس خپلی ښځی ته په خطائی سره وویل چی ته طلاقه ئی، بیا د خپل مسجد ملاصاحب ته ورغی دا قیصه ئی هغه ته ذکر کړه هغه یوی لویی مدرسی ته ولیږل، دغه کس هغوی ته وویل چی ما خپلی ښځی ته په خطائی سره ویلی چی ته طلاقه ئی ،، نو اوس ماته فتوه راکړی، هغوی ورته د طلاق فتوه ورکړه، پدی باندی دښځی خپل خپلوان خبر شو، اوس ددینه غټه لانجه جوړه ده۔
دی باره کښی تاسی نه شرعی فتوه غواړو۔

جواب: د انسان په فطرت کښی د خبرو کولو په وخت کله نا کله غلطیدل، سبقت لسانی او خطائی پرته ده، نوکۀ څوك په خطائی یعنی بغیر د قصد او ارادی، یا په هیره یا دَ سبقتِ لسانئ په وجه خپلی ښځی ته طلاق ورکړی، نو آیا ددۀ دا طلاق واقع شو اوکۀ نه ؟
د جمهورو علماؤ مذهب دادی،چی دَ خطاء په صورت کښی طلاق نۀ واقع کیږی۔ لکه یو سړی یو څۀ ویل غواړی خو خوله ئی خطاء شوه او ښځی ته ئی دَ طلاقو الفاظ وویل، یا تری سبقتِ لسانی وشوه، نو ددۀ طلاق نۀ واقع کیږی۔
د دوئ سره په دی مسئله عقل او نقل دواړه په دلیل کښی شته، دوئ په خپل دلیل کښی د قرآن کریم دا آیت پیش کوی، الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ وليس عليكم جناح فيما أخطأتم به ولكن ما تعمدت قلوبكم وكان الله غفورًا رحيمًا ﴾.
په دی آیت کښی اګرکۀ خبره د ګناه او غیر ګناه ده، لیکن په بعضی ظاهری احکامو کښی هم دا قانون دی چی انسان په خطاء سره په هغه کار نۀ رانیولی کیږی۔
دارنګه په صحیح حدیث کښی راځی چی رسول الله ﷺ فرمایلی :
عن ابن عباس – رضى الله عنهما – عن النبى ﷺ قال : إن الله وضع عن أمتى الخطأ والنسيان وما استكرهوا عليه. (أخرجه ابن ماجه ٦٥٩/١، رقم ٢٠٤٥، والبيهقى ٣٥٦/٧، رقم ١٤٨٧١، مسند الصحابة فى الكتب التسعة، الإلمام بأحاديث الأحكام، وقال الألبانى :

صحیح، المشکاة : ٦٢٨٤، الروض النضیر ٤٠٤، الإرواء ٨٢، صحیح ابن ماجه ١٦٦٤).
(الله تعالیٰ زما امت ته خطاء، هیره او هغه کارونه چی په دوئ باندی په زوره او زبردستی سره وکړی شی، معاف کړی دی)۔
دارنګه په حدیث کښی راځی : إنما الأعمال بالنیات (متفق علیه).
(ټول اعمال په نیتونو پوری موقوف دی)۔
ددی حدیث نه هم ډیرو علماؤ استدلال کړی چی په خطاء او نسیان (هیری) اوسبقتِ لسانی سره طلاق نۀ واقع کیږی۔ (عمدة القاری للعینی).
سبل السلام کښی دی : وهو قول الجمهور أنه لا یکون طلاقا للحدیث.
امام عینیؒ دَ خطاء او نسیان تعریف داسی کوی : خطاء په اصطلاح کښی هغه کار ته وائی چی دَ هغی پوره قصد نۀ وی شوی، او نسیان داسی صفت دی چی په دی سره دَ شئ یاد دَ ذهن نه ووځی، سره ددی چی نور ډیر څیزونه ورته یاد وی۔(عمدة القاری، باب الخطأ والنسیان فی العتاقة والطلاق وغیره).
دی باره دَ شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله نه تپوس شوی نو هغه په جواب کښی لیکلی : لو أراد أن یقول طاهر فسبق لسانه بطالق لم یقع به الطلاق فیما بینه وبین الله، والله أعلم.
(کۀ یو کس خپلی ښځی ته وائی : تۀ طاهره (پاکه ئی) خو ددی په ځای سبقتِ لسانی وکړی او ورته ووائی : تۀ طلاقه ئی، نو دیانةً (ددۀ او دَ الله ترمینځه) نۀ طلاقیږی۔(اوکۀ ښځه دا دعویٰ وکړی چی ماته می خاوند طلاق راکړل نو بیا قضاءً طلاق واقع کیږی، ځکه قاضی خو ظاهر ته ګوری)۔
(مجموعة الفتاوی ١٤٤/٣٣، والفتاوی الکبری لابن تیمیة ٣٢٥/٣).
فقه السنه کښی راځی : والفرق بین المخطئ والهازل : أن طلاق الهازل یقع قضاءً ودیانةً، عند من یری ذلك، وطلاق المخطئ یقع قضاءً فقط.
(یعنی دَ طلاقولو او آزادولو په باره کښی د ټوقی کونکی او خطاء کیدونکی ترمینځ فرق دادی چی د ټوقی طلاق دیانةً اوقضاءً دواړو کښی واقع کیږی، او د خطاء طلاق صرف قضاءً واقع کیږی، دیانةً نۀ واقع کیږی(فقه السنة ٢).

فتح القدیر کښې ابن الهمامؒ لیکي: والذي یظهر من الشرع أن لا یقع بلا قصدٍ لفظ الطلاق عند الله تعالیٰ، وقوله فیمن سبق لسانه واقع: أي في القضاءِ، وقد یشیر إلیه قوله ولو کان بالعتاق یدین، بخلاف الهازل لأنه مکابر باللفظ فیستحق التغلیظ.

(دَ شریعت د اصولو نه چې معلومیږي نو هغه داده چې بې قصده او ارادې دَ الله په نیز (دیانۃً) طلاق نۀ واقع کیږي، او مصنف چې دا ویلي چې دَ چانه سبقت لساني وشي نو ددۀ طلاق واقع کیږي، نو دا په قضاء کښې، او دې خبرې ته ئې په کتاب العتاق کښې په (یُدین) سره اشاره کړې، لیکن د توقي کونکي طلاق ددې نه فرق لري هغه د سختئ مستحق دی نو د هغه طلاق قضاءً او دیانۃً دواړو صورتونو کښې واقع کیږي۔(فتح القدیر باب إیقاع الطلاق).

بیا لږ ورسته لیکي: وأما ما روی عنهما نَصَیرٌ من أن من أراد أن یتکلم فجری علی لسانه الطلاق یقع دیانة وقضاءً فلا یعول علیه.

(یعني کومه خبره چې د دوئ نه داسې نقل شوې چې ددې کس طلاق دیانۃً او قضاءً دواړه واقع کیږي، نو هغه روایت ته اعتبار نشته۔ (حواله سابقه).

علامه ابن نجیم لیکي: وما یقع به قضاء فقط کمن سبق لسانه وبه عرف أنه لایرد علیه من سبق لسانه لأنه لا یقع فیه دیانة ما أفصح به في الفتح في آخر کلامه حیث قال: وقد یشیر إلیه إی إلی الوقوع قضاءً فقط قولُه: في الخلاصة بعد ذکر ما لو سبق لسانه بالطلاقث ولو کان بالعتاق یدینُ. آه.

بل ځای لیکي: وأفاد أن طلاق الهازل واللاعب والمخطئ واقع کما قدمناه لکنه في القضاءِ وأما فیما بینه وبین الله تعالیٰ فلا یقع علی المخطئ.

(دَ مخکې مسئلې نه معلومه شوه چې په طلاقو باندې د توقي کونکي، لوبې کونکي او په خطاء سره ویونکي کس طلاق واقع کیږي، لیکن دا په قضاء کښې واقع کیږي، البته ددۀ او د الله تعالیٰ په مینځ کښې دَ هغه کس طلاق نۀ واقع کیږي څوك چې په خطائې سره خپلې ښځې ته طلاق ورکړې۔ (البحر الرائق ۲۵۸/۳، باب ألفاظ الطلاق).

در مختار کښې دي: أو مخطئًا بأن أراد التکلم بغیر الطلاق فجری علی لسانه الطلاق أو تلفظ به غیر عالم بمعناه أو غافلاً أو ساهیاً، أو بألفاظٍ مصحفةٍ یقع قضاء فقط، بخلاف الهازل

واللاعب فإنه يقع قضاءً وديانةً.

(یا خطاء شی مثلاً یو کس غواړی چی بله خبره وکړی خو په ژبه ئی د طلاق الفاظ (خپلی ښځی ته) وویل، یا د طلاق په معنیٰ نۀ پوهیدۀ او طلاق الفاظ ئی وویل، یا ئی په غفلت یا هیره سره وویل، یائی په غلطو الفاظو سره طلاق واچول نو په دی ټولو صورتونو کښی صرف قضاءً طلاق واقع کیږی، لیکن د هغه چا حکم ددی نه بیل دی چی په ټوقه طلاق ورکړی ددۀ طلاق دیانۃً اوقضاءً دواړو صورتونو کښی واقع کیږی).

علامه مناویؒ په فیض القدیر کښی د (لا طلاق ولا عتاق فی إغلاق) حدیث لاندی لیکی : بأن القصد إلى اللفظ معتبر بدليل عدم اعتبار طلاق من سبق لسانه.

(په طلاقو کښی قصد ته اعتبار دی په دی خبره دلیل دادی چی (علماء) د هغه چا طلاق صرف په دی وجه واقع نۀ ګڼی چی د چا نه په سبقتِ لسانی سره ژبه خطاء شی او خپلی ښځی ته طلاق ورکړی چی ددی کس نیت نۀ وو).

الاشباه والنظائر کښی دی : ومن فروع هذا الأصل أنه لو اختلف اللسان والقلب، فالمعتبر مافى القلب، وخرج عن هذا الأصل اليمين لو سبق لسانه إلى لفظ اليمين بلا قصدٍ إن عقدت الكفارة، أو قصد الحلفَ على شئ فسبق لسانه إلى غيره،هذا فى اليمين بالله تعالىٰ، وأما فى الطلاق والعتاق فيقع قضاءً لا ديانة.

(یعنی د مخکنئ قاعدی نه معلومیږی چی کۀ دَ زړۀ او ژبی اختلاف راشی نو اعتبار به زړۀ لره وی، خو په قسَم کښی دا قاعده نشته، په قسَم کښی اعتبار ژبی لره دی، ځکه قسَم کښی کۀ چا په یو څیز قسَم کولو خو ژبه ئی خطاء شوه نو ددۀ قسَم ته به اعتبار وی، لیکن په طلاقو او آزادولو کښی کۀ د سړی نه سبقتِ لسانی اوشی یا خطاء شی نو ددۀ صرف قضاءً طلاق واقع کیږی. (الأشباه والنظائر للشيخ زين العابدين بن إبراهيم بن نجيم ۹۲٦ - ۹۷۰) هـ.

علامه ابن صلاحؒ فرمائی : إن كان قد سبق لسانه لذلك من غير أن يقصد أن يتكلم أصلاً مثل ما يجرى على لسان النائم فطلاقه لايقع قولاً واحدًا، والله أعلم. (فتاوی ابن صلاح ۴۴۹/۲).

امام ابن حزمؒ فرمائی : ((په خطاء سره ورکړی شوی طلاق نۀ واقع کیږی)).

(المحلى بالآثار :۳۷۵/۹).

دکتور عبد الله الفقیه فرمائی : وأما إذا تلفظ به بدون قصد للفظه بل سبق لسانه إليه أو كان في غضب لايدرى ما يقول معه ونحو ذلك فلايقع به الطلاق لأنه لم يقصد اللفظ. (فتاوى الشبكة الإسلامية).

يو بل ځائى فرمائى : فنطقك بلفظ الطلاق دون شعور منك، سواء كان لشدة الغضب أو للخطأ وسبق اللسان لا يقع به الطلاق.

الموسوعۍ الكويتيۍ كښې دي اتفق الفقهاء على وقوع الطلاق ممن يتعمّده، فإن مر لفظ الطلاق بلسان نائم أو تلفظ به من زال عقله بسبب لم يعص الله فيه أو سبق لسانه إلى لفظ الطلاق أو تلفظ بالطلاق حاكياً كلام غيره أو كرر الفقيه لفظ الطلاق فى الدرس فلايقع الطلاق فى هذه المسائل كلها.

دارنګه په ((بحث الصريح والكنايۍ فى الصيغۍ)) كښې ليكى :

ولو سبق لسانه بطلاق أو يمين دون قصد فهو لاغ، ولايحنث بذلك لعدم قصده وذلك عند جمهور الفقهاءِ المالكية والشافعية والحنابلة وعند الحنفية يقع طلاقه وينعقد يمينه.

دارنګه په حرف الخطأ (٦٠) كښې ليكى : من قال لزوجته اسقينى فجرى على لسانه أنت طلاق فإن الطلاق لا يقع عند الشافعية والحنابلة، وقال المالكية : المراد من القصد قصد النطق باللفظ الدال عليه فى الصريح والكناية الظاهرة وإن لم يقصد مدلوله وهو حل العصمة، وقالوا : إن سبق لسانه بأن أراد أن يتكلم بغير الطلاق فالتوى لسانه فتكلم بالطلاق فلا شئ عليه إن ثبت سبق لسانه فى الفتوى والقضاءِ، وإن لم يثبت فلا شئ عليه فى الفتوى ويلزمه فى القضاءِ، انتهى.

دَ تفصيل دپاره : (إعلام الموقعين : ٥٣/٣، تنقيح الفتاوى الحامدية للسيد محمد أمين بن عمر، شرح الكبير للدردير ٣٦٦/٢، شرح الروض لشيخ الإسلام زكريا الأنصارى، الثمر الدانى فى تقريب المعانى شرح رسالة ابن أبى زيد القيروانى، للشيخ صالح عبد السمين الأبى الأزهرى، البحوث العلمية لهيئة كبار العلماءِ بالمملكة السعودية، مجلة البحوث الإسلامية، مرقاة المفاتيح، تحت حديث : إنما الأعمال بالنيات، كتاب الطلاق للحافظ عمران أيوب، المفصل فى أحكام المرأة والبيت المسلم : ٣٨٥/٧، للدكتور عبد الكريم زيدان).

ښځې ته دطلاق ورکولو نه پس اولاد دَ چا حق کیږي؟

سوال: کله چې یوه ښځه طلاقه کړې شي نو اولاد دَ چا حق کیږي ؟ که اولاد مثلا وړوکي ځوي مور سره وي نو پلار به د وړوکي ځوي خرڅ ، خوراك وغیره ورکوي اوکه نه؟

جواب: کله چې د یو ماشوم مور طلاقه کړې شي نو ددې ماشوم تربیت به دده مور کوي، ځکه ماشوم تربیت او خدمت ته ضرورت لري، او دده مور د هر چانه دده خدمت ښه کولې شي۔ لیکن دې کښې شرط دادې چې مور به ئې مسلمانه وي، او داسې فسق او فجور به نه کوي چې د هغې په وجه دا ماشوم ته دیني یا دنیوي نقصان ورسیږي۔(الفقه الاسلامی : ۷۲۰/۷)۔

حدیث کښې راځي : إن امرأة جائت إلی رسول الله ﷺ فقالت له : یا رسول الله! إبني هذا كان بطني له وعاءً، وثديي له سقاءً، وحجري له حواءً، و إن أباه طلقني وأراد أن ينتزعه مني ؟ فقال : أنت أحق به مالم تنكحي.

(رواه أبوداود والبيهقي والحاكم وغيرهم).

(یعنې : یوې ښځې رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې زما ددې ځوي لپاره زما خیټه لوښې او زما تیونه دده دپاره دَ څکلو سامان او زما غیږه دده دپاره راګیرونکې وه، اوس زه دده پلار طلاقه کړې یم، او دا غواړي چې دا بچې هم رانه واخلي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : تر څو چې تا د بل چا سره نکاح نه وي کړې، نو ته ددې ډیره حقداره ئې)۔

په مصنف ابی ابی شیبه کښې د ابو بکر صدیق رضی الله عنه نه هم دا شان فیصله نقل شوې۔دارنګه (بیهقی ۵/۸، موطأ امام مالك ۷٦۷/۲، عبد الرزاق ۷٦۰۱)کښې هم ذکر شوې۔

کله چې ماشوم د مور سره وي، نو په پلار باندې دا لازم ده چې هغه ته خرچه ورکړي۔ قرآن کریم کښې دي : ﴿ وعلی المولود له رزقهن و كسوتهن ﴾.

دارنګه احادیث خو دې باره کښې ډیر زیات راغلي۔

امام بخاریؒ په خپل صحیح کښې باب راوړي : باب وجوب النفقة علی الأهل والعيال.

(یعنې : دَ خپلې ښځې او بچو خرچه فرض ده)۔

بيائی دا حديث ذكر كړی۔ چی ابو هريره رضی الله عنه وائی : رسول الله ﷺ وفرمايل :
(... وابدأ بمن تعول.. ويقول الإبن أطعمنى إلى من تدعنى).
(صحيح البخارى كتاب النفقات، باب وجوب النفقة على الأهل والعيال : ٥٣٥٥).
(يعنی : د ټولو نه مخكی په هغه كسانو خرچ كوه چی ستا په كفالت كښی وی)۔
دا جمله (وابدأ بمن تعول) ۔په ډيرو زياتو احاديثو كښی راغلی، لكه په (بخاری : ٥٣٥٦، مسلم كتاب الزكاة، مسند احمد ٣٠١/١٢، ٧٣٤٨، ٥٠/٨، ٤٤٧٤، ٤٥٦/١٠، ترمذی ٢٣٤٣، ابن أبی شيبة، بيهقی ١٨٢/٤، صحيح ابن حبان ٤٢٤٣، وغيرهم).
حافظ ابن حجرؒ ليكی :
وذهب الجمهور إلى أن الواجب أن ينفق عليهم حتى يبلغ الذكر أو تتزوج الأنثى، ثم لا نفقة على الأب إلا إن كانوا زمنى.
(دَ جمهورو علماؤ مذهب دادی چی په پلار باندی د اولاد نفقه واجب ده، تر دی چی هلك بالغ شی او جينۍ واده شی، ددی نه پس د دوئ نفقه وربانديواجب نه ده، مګر كه معذور (شل، ګوډ) وی۔(فتح البارى ٥٠٠/٩).
د مذكوره عبارتونو نه معلومه شوه چی په پلار دا واجب دی چی خپل اولاد له خرچه وركړی، كه پلار دَ بچو خرچی نه اداء كوی نو اسلامی حكومت يا نور زورور خلق به ئی تری په زوره اخلی۔(وګوره : آپ كے مسائل ٥٨٤/٣).

دخپلی ښځی سره دَ شا طرف (دُبر) كښې جماع

سوال : كهٔ يو كس د خپلی ښځی سره دَ شا طرف (دُبر) كښې جماع اوكړی، نو آيا په دی كار سره په دهٔ باندی ښځه طلاقيږی اوكهٔ نه ؟
جواب : (العياذ بالله) د خپلی ښځی سره دَ شا په خوا (دبر) كښې جماع كول يو ډير فاحش كار او لويه ګناه ده، ددينه اسلام سخته منعه كړی، دارنګه ددينه فطرتِ سليمه هم نفرت كوی۔كوم سړی اوښځی چی دا كار كړی وی، دوئ دی فوراً الله تعالىٰ ته په كلكه توبه اوباسی۔ ددی په حرمت اومنعی باندی د قرآن اوسنت نه ډير زيات دلائل راغلی، چی د هغی نه دلته يو څو ذكر كولی شی۔

ژ په قرآن کښې دې کار ته فاحشه (ښکاره بې حيائی) ويل شوی، لکه الله تعالیٰ دَ لوط عليه السلام قوم ته فرمايلی: ﴿إنكم لتأتون الفاحشة﴾ (العنكبوت: ۲۸).
(بيشکـه چې تاسو غټې بې حيايئ ته راتګ کوئ)۔او فرمائی: ﴿إنكم لتأتون الرجال شهوة من دون النساءِ﴾. (الأعراف: ۸۱).
(بيشکه چې تاسو دَ زنانو نه سيوا نارينه ؤ ته په شهوت سره راتګ کوئ)۔
په دې آيتونو کښ (وطی فی الدبر) ته فاحشه ويلی شوی۔
دارنګـه قـرآن کـريـم کښ الله جل شانه فرمائی: ﴿ ويسئلونك عن المحيض قل هو أذىً فاعتزلوا النساء فی المحيض ولاتقربوهن حتى يطهرن فإذا تهرن فأتوهن من حيث أمركم الله إن الله يحب التوابين ويحب المتطهرين نساؤكم حرث لكم فأتوا حرثكم أنى شئتم وقدموا لأنفسكم واتقوا الله واعلموا أنكم ملاقوه وبشر المؤمنين﴾ (البقرة: ۲۲۲).
ګـڼـو علماؤ ويلی چې مذکوره آيت دَ ښځې سره په شا طرف کښ دَ وطی کولو په حرمت باندې واضح دليل دی۔ لکه شيخ الاسلام ابن القيمؒ په زاد المعاد (۲۶۱/٤) کښ ليکی:
وقد دلت الآية على تحريم الوطءِ فی دبرها (أی الزوجة) من وجهين: أنه أباح إتيانها فی الحرث، وهو موضع الولد لا فی الحش الذی هو موضع الأذى، وموضع الحرث هو المراد من قوله: (من حيث أمركم) (البقرة: ۲۲۲). قال: (فأتوا حرثكم أنى شئتم) وإتيانها فی قبلها من دبرها مستفاد من الآية أيضًا، لأنه قال: (أنى شئتم) أی: من أين شئتم من أمام أو من خلف قال ابن عباس: فأتوا حرثكم، يعنی: الفرج. وإذا كان الله حرم الوطء فی الفرج لأجل الأذى العارض، فما الظن بالحش الذی هو محل الأذى اللازم مع زيادة المفسدة بالتعرض لانقطاع النسل والذريعة القريبة جدًا من أدبار النساءِ إلى أدبار الصبيان.

ددې دَ حرمت په باره کښې احاديث:

ژ عن خزيمة بن ثابت رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: إن الله لا يستحيی من الحق، لا تأتوا النساء فی أدبارهن.
(رواه الإمام أحمد ۲۱۳/٥) قال الشيخ شعيب الأرناووط: صحيح لغيره وهذا إسناد رجاله ثقات).
(رسول الله ﷺ فرمائی: الله تعالیٰ د حق بيانولو نه حياء نۀ کوی، تاسو ښځو سره په شا

طرف کښې راتګ مۀ کوئ)۔
ژ وعن أبی هريرة – رضی الله عنه – مرفوعًا : (لا ينظر الله إلى رجل جامع امرأته فی دبرها.
(الله تعالىٰ هغه انسان ته (دَ رحمت په نظر) نۀ ګوری چاچی د خپلی ښځی سره په دُبر کښې جماع وکړه)۔
(أخرجه البيهقی ۱۹۸/۷، رقم : ۱۳۹۰۱، وأحمد : ۳٤٤/۲، رقم : ۸۵۱۳، وابن ماجه ٦۱۹/۱، رقم : ۱۹۲۳، قال البوصيری : ۱۱۰/۲ : هذا إسناد صحيح رجاله ثقات، وابن أبی شيبة : ۵۳۰/۳، رقم : ۱٦۸۱۱).
ژ وعن ابن عباس قال : قال رسول اللهﷺ : (لا ينظر الله إلى رجل أتى امرأته فی الدبر).
(الله تعالىٰ هغه انسان ته (دَ رحمت په نظر) نۀ ګوری ځوك چی خپلی ته په شا طرف کښې راتګ کوی۔
(أخرجه ابن أبی شيبة ۵۲۹/۳، والترمذی ۱۱٦۵، وحسنه، وابن الجارود ۱۸، رقم : ۷۲۹، انظر نيل المرام لصديق حسن خان : ۱۵۱/۱، وقال الشيخ الألبانی : حسن، صحيح سنن الترمذی، وصححه ابن راهويه، انظر آداب الزفاف ص : ۱۰۵، زاد المعاد : ۲۵۷/۳).
ژ وعن أبی هريرة – رضی الله عنه – قال : قال رسول اللهﷺ : (ملعون من أتى امرأة فی دبرها)
أخرجه أحمد : ٤٤٤/۲، ۹۷۳۱، وأبوداود : ۲٤۹/۲، رقم : ۲۱٦۲، وأبو عوانة : ۸۵/۳، رقم : ٤۲۹۲).
(هغه انسان لعنتی دی چی ځوك چی خپلی ښځی سره په شا طرف کښې جماع کوی)۔
ژ وعن أبی هريرة رضی الله عنه أن رسول اللهﷺ قال : (من أتى حائضًا أو امرأة فی دبرها أو كاهنًا فصدقه : فقد كفر بما أنزل على محمدﷺ). رواه أحمد والترمذی والنسائی وأبوداود والنسائی وابن ماجه.
ژ وفی روايةٍ قال : فقد برئ مما أنزل على محمدﷺ. (وهو حديث صحيح كما قال الشيخ الألبانی فی إرواء الغليل : ٦۸/۷).
(ځوك چی دَ حائضی ښځی سره، يا خپلی ښځی سره د شا په طرف کښې جماع وکړی، يا كاهن (ترويتی) ته لاړ شی او هغۀ رشتينی وګڼی، نو دا (کسان) په هغه څۀ كافران شول،

کوم چې محمد ﷺ نازل شوی)۔
یو روایت کښې داسې راځي : (دا دَ هغه څۀ نه بیزاره شو، کوم چې په محمد ﷺ نازل شوی دی)۔
امام ابن کثیرؒ په خپل تفسیر کښې ددې آیت ﴿ فأتوا حرثکم أنی شئتم ﴾ لاندې ددې په تحریم باندې ډېر دلائل او دَ صحابه کرامؓ آثار او دَ تابعینوؒ اونورو علماؤ اقوال را نقل کړي۔
امام ابن قیمؒ په زاد المعاد (٤/٢٦١) کښې په دې موضوع ښۀ لیکل کړي۔
دې نه علاوه دا فاحش او ګنده کار صحت ته هم ډېر ضرر ورکوي، چې یو په کښې ایډز مرض هم شامل دی، چې دا غالبا اُویا فیصده ددې کارنه پیدا کیږي۔ (الموسوعة الطبیة الفقهیة، ص : ٤٥٦).
دَ هډوکو نلو ته هم سخت زیان رسوي، دَ جریان مرض هم ددینه پیدا کیږي، ددې په وجه د طبعي جماع نه هم د انسان زړۀ توریږي، بلکه څۀ وخت پس انسان ددینه اوباسي چې د خپلې ښځې سره په صحیحه توګه جماع وکړي، او دَ هغې حق پوره کړي ۔
دارنګه نور عقلي او بدني ضرورنه لري چې سید سابق صاحبؒ په فقه السنه کښې دَ دَ دکتور محمد وصفي دَ کتاب (الاسلام والطب) نه نقل کړي۔
البته که دا کار چا وکړو، نو سره ددې چې دا کبیره ګناه ده، خو په دۀ باندې خپله ښځه نۀ طلاقیږي، لیکن کیدی شي چې ددې ګناه او کفران په وجه ئې الله تعالیٰ د نکاح دَ نعمت نه په طلاق یا بل څۀ سره محروم کړي، په دې کار سره دَ ښځې په نۀ طلاقیدو باندې دَ علماؤ اتفاق دی۔

۳ : جمادی الأولی/۱٤۲۹ هـ

په زور او اِکراه سره طلاق اخستل

سوال : مونږ ته یوه ډېره مهمه مسئله راپیښه شوې، امید دی چې تاسو به د قرآن اوسنت په رڼا کښې اطمینان راکړئ۔ مسئله داده چې مونږ دَ افغان حکومت له طرفه

ونیول شو، هلته زمونږ نه مختلف تپوسونه کیدل، مثلاً دَ یوکس په هکله به ئی تپوس وکړو چی دا تا وژلی ؟ مونږ به ورته انکار وکړ، نو بیا به ئی مونږ ته طلاق راکړل چی داسی ووایه چی په مادی ښځه په دری طلاقو طلاقه وی چی ما نۀ دی وژلی، چی دا طلاق به مو ورته وا چول نو بیابه ئی بل طلاق داسی راکولو چی اوس داسی ووایه چی کۀ زۀ ددی کس په قاتل خبریم او تاسو ته ئی نۀ درښایم نو په ما دی خپله ښځه په دری طلاقو طلاقه وی !! مونږ ته به کله د هغه حکومتی کس قاتل معلوم وو، کۀ به مو طلاق نۀ اچول هغوئ به وهلو، اوکۀ مو اچول نو په دی ویریدلو چی هسی نه ښځه راباندی طلاقه شی !! په دی هکله ډیر ملګری سخت فکرمند اوپریشانه دی، جواب زر راکړئ۔

جواب : کۀ صورت دَ مسئلی داسی وی کوم چی په سوالیه کښی لیکلی شوی، نو دا طلاق نۀ واقع کیږی، ځکه ددوی نه په زوره او اِکراه سره طلاق اخستل شوی، دَ اسلام په مبارك دین کښی په داسی زبردستئ او زور سره (چی دیته اِکراهِ ملجئ او تامه وائی) طلاق نۀ واقع کیږی۔ ځکه دی کښی نۀ د انسان اختیار وی اونۀ په کښی رضا۔

أما الإكراه الملجئ فإنه يعدم الرضا ويفسد الاختيار. (الموسوعة الفقهية الكويتية).

دا مذهب دَ سیدنا عمر، علی، عبد الله بن عمر، عبد الله بن عباس، عبد الله بن زبیر، جابر بن سمره – رضی الله عنهم – دارنګه دَ عبد الله بن عمیر، عکرمه، حسن بصری، جابر بن زید، قاضی شریح، عطاء بن ابی رباح، طاووس، عمر بن عبد العزیز، ابن عون، امام ابو ثور او امام ابو عبید – رحمهم الله – نه نقل دی۔ اوهمدا د جمهورو علماؤ – لکه مالك، شافعی، او احمد – رحمهم الله – قول دی۔(المغنی : ۱۰/۳۵۰).

فقهاءِ کرام د اکراه تعریف داسی کوی : إنه فعل يفعله الإنسان بغيره فيزول رضاه ويفسد اختياره. (التشريع الجنائی الإسلامی مقارنًا بالقانون والوضعی).

(دا یو داسی کار دی چی انسان ئی دَ بل چا سره کوی، چی په دی سره دَ هغه رضا او اختیار ختم شی)۔

په المجله (۹۴۸) کښی دی : هو إجبار أحد على أن يعمل عملًا بغير حق من دون رضاه بالإخافة. ومثله فی القاموس الفقهی للدکتور سعدی أبو حبيب، والموسوعة الكويتية).

(یعنی : یو کس په ویرولو سره ناحقه په یو کار کولو باندی مجبورول)۔

په دی مسئله ډیر زیات دلائل دی، بعضی دادی :

۱ – **دلیل** : عن عائشة – رضی الله عنها – قالت : سمعت رسول الله ﷺ : لا طلاق ولا عتاق فی إغلاق.

(رسول الله ﷺ فرمائی : طلاق یا وینځه او غلام آزادول په زور نهٔ کیږی).

(ابوداود ۵۰۷/۱، ابن ماجه ۶۶۰/۱، ۲۰۴۶، الحاکم ۱۹۸/۲، احمد ۲۷۶/۶، البیهقی ۳۵۷/۷، البخاری تعلیقًا مجزومًا ۷۹۳/۲، کما فی المشکاة ۲۸۴/۲، والإرواء ۱۱۳/۷).

امام ابوعبید، امام قتیبه او علامه ابن الاثیر – رحمهم الله – دَ اِغلاق معنیٰ په اِکراه اوزبردستئ سره کړیده. (المغنی ۳۵۱/۱۰، شرح السنة ۲۲۲/۹، النهایة ۳۷۹/۳، السیل الجرار).

دا حدیث واضح دلیل دی په دی خبره چی دَ زور او زبردستئ په وجه ورکړی طلاق نهٔ واقع کیږی.

۲ – **دلیل** : عن ابن عباس – رضی الله عنه – قال : قال رسول الله ﷺ : إن الله وضع عن أمتی الخطأ والنسیان وما استکرهوا علیه.

(ابن ماجه، الطحاوی ۵۶/۲، الدارقطنی، الحاکم ۱۶۸/۲، ابن حبان، ۱۴۹۸، وسنده صحیح، کما فی الإرواء ۸۲/۱).

(رسول الله ﷺ فرمائی : بیشکه الله تعالیٰ زما دَ امت نه خطاء، هیره او هغه شی معاف کړی په کوم باندی چی دوئ باندی زور وکړی شی).

ددی حدیث نه دا مسئله ثابته شوه چی ددی امت نه خطاء، نسیان او اکراه په یو کار کولو باندی، په دی کارونو باندی الله تعالیٰ انسان نهٔ رانیسی کوم کارونه چی دَ حقوق الله د قبیلی نه وی، اوطلاق هم (غالباً) د حقوق الله د قبیلی نه دی.

فتح القدیرکښی رائحی : وهو من حقوق الله تعالیٰ، لأن فیه تحریم الفرج وهو حق الله، لهذا لم تشترط الدعویٰ فی الشهادة علیه بالاتفاق. (فتح القدیر، مسائل شتی).

۳ – **دلیل** : **امام بیهقیؒ اوعبد الرزاق باب ایښی** : باب طلاق المکره.

عن عمر بن الخطاب – رضی الله عنه – قال : لیس الرجل بأمین إذاجوعت أو وثقت أو ضربت. (البیهقی ۳۵۹/۷، واللفظ له، وعبد الرزاق ۴۱۱/۶، ۱۱۴۲۴).

(سړی امانتدار نهٔ دی کله چی هغهٔ وړی کړی شی یا وتړلی شی یا ووهلی شی).
دا حدیث او فتویٰ دَ امیر المؤمین عمر بن الخطاب - رضی الله عنه - هم دلیل دی چی د زور او زبردستئ په وجه ورکړی طلاق نهٔ واقع کیږی۔
٤ - **څلورم دلیل** : دَ ابن عباس - رضی الله عنه - نه روایت دی :
طلاق السکران والمستکره لیس بجائز.
(رواه البخاری ۷۹۳/۲، وابن أبی شیبة ٤۲/٥).
(دَ بیخوده او مجبوره کړی شوی شخص طلاق نافذ نهٔ دی)۔
(البیهقی ۳٥۸/۷، نصب الرایة ۲۲٤/۳).
٥ - **پنځم دلیل** : عن ثابت أن عبد الرحمن بن زید توفی وترک أمهات أولاده قال : فخطبت إحداهن إلى أسید بن عبد الرحمن وهو أصغر من عبد الله بن عبد الرحمن فأنکحنی، فلما بلغ ذلک عبد الله بعث إلى فاحتملت إلیه فإذا حدید وسیاط فقال : طلقها وإلا ضربتك بهذه السیاط وإلا أوثقتك بهذا الحدید، قال : فلما رأیت ذلک طلقتها ثلاثاً أو قال : بتتها، فسألت کل فقیهٍ بالمدینة فقالوا : لیس بشئ، فسألت ابن عمر فقال : إیت ابن الزبیر، قال : فاجتمعتُ أنا وابن عمر عند الزبیر بمکة، فقصصت علیهما فرداهما على.
(رواه عبد الرزاق ٤۰۸/٦، ۱۱٤۱۰، البیهقی ۳٥۸/۷، مالك فی الموطأ ٥۲۸).
دا اثر صحیح دی او په دی مسئله واضح دلیل دی چی په زوره او زبردستئ سره طلاق نهٔ واقع کیږی، او دا هم ترینه معلومه شوه چی دا دَعامو فقهاؤ - صحابه کرامؓ او تابعینؒ - مذهب دی۔
٦ - **شپږم دلیل** : عن الحسن أن علیًا - رضی الله عنه - کان لا یرى طلاق الکره شیئًا.
(أخرجه عبد الرزاق ٤۰۹/٦، والبیهقی : ۳٥۷/۷، وسنده صحیح).
(علی رضی الله عنه به د مجبورئ - زور، زبردستئ - طلاق هیڅ هم نهٔ ګڼړل)۔
۷ - **اووم دلیل**: عن عبد الملك بن قدامة بن إبراهیم بن محمد بن حاطب الجمحی عن أبیه أن رجلًا تدلى یشتار عسلاً فی زمن عمر بن الخطاب رضی الله عنه فجائته امرأته فوقفت على الحبل وحلبفت لتقطعنه أو لتطلقنی ثلاثاً، فذکرها الله والإسلامَ فأبت إلا ذلک فطلقها

ثـلاثاً، فلما ظهر أتی عمر بن الخطاب رضی اللّٰه عنه فذکر له ماکان منها إلیه ومنه إلیها، فقال: ارجع إلی أهلكِ ولیس هذا بطلاق.

(رواه البیهـقـی ۳۵۷/۷، وابن حزم فی المحلی ۳۳۱/۸، ۲۰۲/۱۰، کما فی أقضیة الخلفاءِ الراشدین: ۲۱۲/۱).

دَ امیـر الـمـؤمنین عمر فاروق – رضی الله عنه – دا فیصله په دی مسئله صریح دلیل دی چی په زوره طلاق نه واقع کیږی۔

۸ –اتم دلیل: دی باره کښی دَ **امام دار الهجرت امام مالک** رحمـه الله یوه عجیبه فتویٰ واوره:

د مـنصور باچا په وخت کښی په خلکو یو عجیب امتحان راغی هغه دا چی منصور به د خپل ځان دپاره د خلقو نه په زوره په دی طریقه بیعت اخستل چی هغویٔ ته به ئی قسَم او طـلاق ورکـول چی زما خلاف وغیره به نهٔ کویٔ۔دیته به **أیمان البیعة** ویل کیدهٔ، خلقو بـه طـلاق اچـول، امام مالكؒ به خلقو ته فتویٰ ورکوله، کهٔ دا کار څوك وکړی او بیا خلاف وکـړی نو ددهٔ طلاق نهٔ واقع کیږی۔ نو منصور باچا امام مالك ډیر سخت ووهل تردی چی یو لاس ئی هم شل شو۔ لیکن امام مالكؒ تر مرګه ددی فتوی نه ورسته نشو۔

(تـاریـخ الإسـلام، سیر أعلام النبلاءِ للذهبی، حلیة الأولیاءِ ۳۱۶/٦، لأبی نعیمؒ، کتاب الدولة الأمویة عوامل الأزهار وتداعیات الإنهیار، للفاضل الدکتور علی محمد محمد الصلابی).

تنبیه: کـوم روایت چـی ددی خـلاف د عـلی رضی الله عنه نه نقل دی، نو د هغه سند ضعیف دی، ځکه د هغه په سند کښی رجل مجهول دی۔

امام ابن قدامه مقدسیؒ فرمائی:

إن طـلاق المکره لا یقع، وروی ذلك عن عمر وعلی وابن عمر وابن عباس وابن الزبیر وجابر بـن سـمـرة – رضـی اللّٰه عـنهم – وبه قال: عبد اللّٰه بن عمیر وعکرمة والحسن وجابر بن زید وشـریـح وعطاء وطاؤس وعمر بن عبد العزیز وابن عون وأیوب السختیانی ومالك والأوزاعی والشافعی وإسحاق وأبو ثور وأبو عبید. (المغنی: ۳۵۰/۱۰).

(پـه زوره طـلاق نـهٔ واقـع کیـږی او هـمـدا مـذهـب دی دَ مـذکوره صحابـهؓ، تابعینوؒ او امامانوؒ)۔

خلاصه : په زوره او زبردستئ سره طلاق نۀ واقع کيږي، او څوك چې په زوره هم طلاق واقع کول صحيح ګڼي، دَ هغوئ قول ضعيف دی، ځکه دلائل ئی یا ضعيف یا مجمل یا عمومات دی، چې د دغه مذکوره خاصو او صريحو دلائلو مقابله نشي کولی۔

دَ تفصيل دپاره وګوره : فتاوی الدين الخالص، کتاب الطلاق۔

مجموعة الفتاوی لمولانا عبد الحی لکهنویؒ کښی دی :

((زيد عمرو ته دهوکه ورکړه او خپل کور ته ئی دننه بوتلو او څو سړی ئی را وغوښتل اوپه زيد باندی ئی په زوره ددۀ ښځه په دری طلاقو طلاقه کړه، بلکه عمرو او دَ عمرو ملګرو کوتك په لاس زيد ته وويل : کۀ انکار دی وکړو نو فوراً دی وهو، کله چې هغه طلاق ورکړل نو عمرو او ملګرو ئی زيد پريښودلو، چونکه زيد او ددۀ د بی بی ترمينځه محبت وو، چې جدائی بيخی ګرانه وه، لهذا د ضرورت په وخت د مذهب شافعی د تقليد په وجه نکاح جائز ده او کۀ نه ؟

جواب : د ضرورتِ شديده په وخت د امام شافعی رحمه الله د مذهب تقليد درست دی۔

(مجموعة الفتاوی اردو، دَ مولانا عبد الحی لکهنوی : ۳/۳۰۳).

دارنګه وګوره : مجموعة الفتاوی ۳۳/۱۱۰، ومختصر الفتاوی المصرية، ص : ۴۳۷، زاد المعاد : ۵/۲۰۴، إعلام الموقعين ۳/۱۰۸).

جمادی الأولی : ۱۴۲۹/۲۰ هـ

د طلاق متعلق د يو حديث تخريج

سوال : (تزوجوا ولا تطلقوا فان الطلاق يهتز له العرش)۔

(نکاح کوئ او طلاق مۀ ورکوئ ځکه د طلاقو په ورکولو سره عرش لړزيږي)۔ ددی حديث څۀ درجه ده ؟ او چيرته دی ؟

جواب : دا روايت ابو نعيم په اخبار اصبهان (۱/۱۵۷) کښی روايت کړی او ددۀ نه ديلمی په (۲/۵۱) رقم (۲۲۹۳) او خطيب په خپل تاريخ (۱۲/۱۹۱) کښی دَ علی رضی الله عنه نه مرفوعاً نقل کړی۔ دا موضوعی روايت دی، لکه شيخ البانیؒ په السلسلۀ الضعيفۀ

والموضوعي (۲/۱٦۱) او علامه صنعاني په الموضوعات (: ۸ مخ)، ابن جوزيؒ او سيوطيؒ په اللآلي (۲/۱۷۹) او شوکانيؒ په الفوائد المجموعي، او حافظ احمد الغماري په المغير (ص: ۳٦) کښې ورته موضوع (دَ ځانه جوړ شوی) ويلي دي.

په ناپوهۍ سره په طلاقنامه دستخط کول

سوال: ما مدرسه او مکتب نۀ دی ويلي، نو ځکه په ليك لوست نۀ پو هيږم. دا استفتاء هم راته بل چا وليکله. د پلار بې اجازې مې په خپل ځای راولپنډۍ کښې د يوې ښځې سره نکاح او وادۀ وکړ. څۀ زمانه روسته په کور کښې د ښځو خپل مينځ کښې جنګ جګړې کيدې، زۀ د مور پلار نه بيل شوم، لاهور ته لاړم، بيا ورسته پيښور ته راغلم، په دې مينځ کښيې مې پلار راغی چې زۀ تاته خپله حصه درکوم، او د ځان سره ئې يو ستامپ کاغذ هم راوړی وو، په هغه کښې ډير څۀ ليکل شوی وو. ويل ئې په دې کاغذ باندې دستخط وکړه. په دې کښې مې ستا لپاره خپله برخه ليکلې، ما وړباندې دسخط وکړو.

پلار مې لاړ، مياشت پس خبر شوم چې تا خو خپلې ښځې ته طلاق ورکړی. د ښځې خپل خپلوانو راته د طلاق نامې فوټو کاپي را ښکاره کړه، چې دادی تا په طلاق نامه کښې ليکلي (په ما باندې ----- طلاقه ده، طلاقه ده، طلاقه ده). په هغې باندې زما د سخط هم وو، ما انکار وکړو. پدې مينځ کښې خپل، پردې ټول خبر شو.

دا درې مياشتې کيږي مختلفو مدرسو ته ځم، هغوئ چې طلاق نامه ولولي، او زما دستخط هم وړباندې شوی وي، نو راته وائي: ځه خبره ختمه ده !!

ما ورته وويل: دا ښځه ډيره راته ګرانه ده، بله دا چې د ښځې، زما او بچو ژوند مو تباه کيږي، نو هغوئ راته د حلالې طريقه هم اوښودله. زۀ څۀ خاص دين داره نۀ يم، ولې په هغه طريقه حلالې ته په هيڅ صورت کښې نۀ زما ښځه تياريږي، او نۀ زۀ ورته تياريږم.

اوس دې باره کښې تاسو زمونږ صحيح لار ښوونه وکړئ. دې باره کښې د اسلام صحيح فيصله راته واوروئ. د حلالې نه بغير کومه متبادله لاره راته بيان کړئ. ډير پريشانه يم.

[د الله يو بنده].

جواب: لا حول ولا قوة الا بالله۔

ګرانه وروره ! کـه صـورت د مسـئلې داسې وي کوم چې تا ذکر کړو، نو ستا د سره طلاق واقع شوی نهٔ دی۔ په طلاق کښې تلفظ، په خپله خوښه او ارادې سره د طلاقو الفاظو ویل ضروري دي۔

پـه دې صـورت کښـې چې تانه په خوله طلاق ویلې، اونهٔ دې په خپله خوښه ددې اراده او قصد کړی، نو بیا ولې طلاق واقع شي ؟!!

تهٔ چې په کومو مدرسو ګرځیدلی ئې، نو یا خو تا ورته صحیح صورت نهٔ دی بیان کړی، اویـا هـغـوئ تانه صحیح مسئله نهٔ آوریدلې۔ ګنې په داسې ډول سره خو نهٔ په فقه حنفي کښې طلاق واقع کیږي، اونهٔ په بله فقه کښې۔

پـه مـغـنـي کښې راځي : إذا كتـب الـطـلاق فـإن نـواه طـلـقـت زوجته، وبهذا قال الشافعي والنخعي والزهري والحكم وأبو حنيفة ومالك. انتهى.

(کـه طـلاق ولیـکـي او پـه دې سره ئې طـلاق اچـول مقصد وي، نو پـه ده باندې ښځـه طلاقیږي، او دا خبره دَ امام شافعي، نخعي، زهري، حکم، ابو حنیفه او مالك تـولو کړې)۔

شیـخ ابن باز رحمه الله لیکي : لأن الـكـتـابة في معنى الكناية والكناية لا يقع بها الطلاق إلا مـع الـنية فـي أصـح قـولـي الـعلماءِ إلا يفترن بالكتابة ما يدل على قصد إيقاع الطلاق فيقع بها الطلاق. [فتاوى إسلامية].

دکتور عبد الله الفقیه لیکلي :

فـجـمهور العلماءِ على عدم وقوع الطلاق بالكتابة ممن يقدر على النطق، إلا إذا نوى الطلاق أثناء كتابته لألفاظ الطلاق. [فتاوى الشبكة].

(جـمـهـور عـلـمـاء وائـي چې څوك په خبرو كولو قادر وي، او بیا هم په کتاب یعنی لیکلو بـانـدې طـلاق ورکوي، نو ددهٔ طلاق نهٔ واقع کیږي، البته که د لیکلو وخت کښې د طلاقو نیت وکړي نو بیا واقع کیږي)۔

فقه حنفي کښیې راځي :

وكذا كل كتاب لم يكتبه بخطه ولم تمله بنفسه لا يقع الطلاق مالم يقرّ أنه كتابه.

(حاشية ابن عابدين : ۲/ ٤۲۹).

په فتاویٰ حقانیه کښیی راځی : په لیکلو سره د طلاق ورکولو په صورت کښې نیت او اراده کول ضروری دی، نو په دی وجه د لاعلمئ په وجه په طلاق نامه باندی دستخط کولو سره طلاق نۀ واقع کیږی۔ [فتاوی حقانیه : ۳۵۷/۴]۔

ددی سره دا هم یاد لره چی (علی القول الراجح) په یو ځل دری طلاقه په یو طلاق رجعی شماریږی۔

دارنګه مروجه حلاله ښکاره زنا ده، ددی په وجه ښځه نۀ حلالیږی۔ بلکه دا بد اخلاقی، بی حیائی او د ښځی او خاوند ترمینځ نفرت او لری والی ته لاره خلاصول دی۔

د طلاق ثلاثه او حلالی په موضوع زمونږ تفصیلی فتویٰ وګوره۔

که تا دا کار وکړو نو په ما به طلاقه ئی «تعلیق الطلاق»

سوال : یو کس د خپلی ښځی سره د هغی د پلار د کور متعلق په څۀ خبره لانجه راغله، نو هغه ورته اوویل : که تۀ د خپل پلار کور ته لاړی نو په ما باندی به طلاقه ئی۔ څۀ وخت اوشو، ښځه د پلار کور ته نۀ لاړه۔ لیکن څۀ زمانه ورسته بیا دَ دوئ ترمینځه جګړه راغله، ښځه خپه شوه د پلار کور ته لاړه۔ څرنګه چی سړی د طلاقو خبره کړی وه، اوس د ښځی خپل خپلوان وائی چی طلاق واقع شوی، او د ښځی خاوند وائی : زما طلاق غرض نۀ وو۔ دی باره کښې تاسو تفصیلاً فتویٰ راکړئ۔

جواب : کومه خبره چی سوال کونکی په سوال ذکر کړی، نو دی صورت ته (**تعلیق الطلاق**) ویل کیږی۔ تعلیق الطلاق دوه صورته لری۔

اول صورت : تعلیق محض، چی په دی کښې د خپل ځان او ښځی منع کول، بندول، او تیزی ورکول نۀ وی۔

نو په دی تعلیق سره طلاق په اتفاق د علماؤ واقع کیږی۔ مثلاً خاوند ښځی ته ووائی : کله چی روژه راشی تۀ دی طلاقه ئی۔ که فلانی راشی، نو تۀ دی طلاقه ئی۔

دویم صورت : دادی چی تعلیق د طلاق وکړی، لیکن غرض ئی په دی سره منع، بندول، او تیزی یعنی وعید ورکول وی۔

مثلاً : که تۀ فلانی ځای ته لاړی نو په ما دی طلاقه ئی۔ که تا د فلانی سره خبری وکړی،

نـو پـه مـا دی طـلاقـه ئـی۔ په دی کښی ددهٔ غرض طلاق نهٔ وی۔ بلکه د خپلی ښځی منع کول ئی غرض وی۔

ددی دواړو صورتـونـو فرق داشو چی په یو کښی ددی سړی، نهٔ په یو څهٔ تیزول وی، او نهٔ بـنـدول غـرض وی۔ او پـه دویـم کښـی ئـی د خپل ځان یا ښځی په یو څهٔ باندی تیزول او یا بندول غرض وی۔

لکه ددی تفصیل علامه ابن قدامه په المغنی (۳۳۳/۷) کښیی ذکر کړی۔

علامه ابن باز رحمه الله هم دا شان خبره کړی۔(فتاوی الطلاق، ص : ۱۲۹).

پـه فتـاوی اللجنۍ الدائمۍ(۱۷٤/۲۰) فتـاوی الـمرأة المسلمة : ۷۵۳/۲) کښیـی دا شان خبره لیکلی۔

پـه دی دویم صورت کښیی د علماؤ اختلاف دی، **راجح دادی** چی په دی کښی ددهٔ نیت تـه اعتبـار دی، کـه واقـعـی طلاق ورکول ئی غرض وی، نو طلاقه شوه، اوکه صرف دَ دغه کـار نـه مـنـع کـول ئی غرض وو، نو په دی صورت کښی طلاق نهٔ واقع کیږی۔ بلکه په دهٔ باندی د قسَم کفاره لازمیږی۔ ځکه ددهٔ دا خبره د قسَم حکم لری۔

رسول الله ﷺ فرمایلی :

عـن عـمـر بـن الـخـطـاب رضی الله عنه یقول : سمعت رسول الله ﷺ یقول : إنما الأعمال بالنيات، وإنما لامرئ ما نویٰ.. (متفق علیه).

(د هرعمل دارو مدار په نیت باندی دی۔ او یو سړی ته به صرف هغه شی ورکړی کیږی د کوم چی ئی نیت کړی وی)۔

د سعـودی عـرب د هیـئۍ کبار الـعـلـماء نه تپوس شوی، نو هغوئ په جواب کښی ورته لیکلی :

إذا كـنـت لم تقصد إيقاع الطلاق وإنما أردت حثها على الذهاب معك، فإنه لا يقع به طلاق، ويـلـزمك كـفـارة يـمـين في أصح قولي العلماءِ، وإن كنت أردت به إيقاع الطلاق إذا هي لم تستجب لك وقع به عليها طلقة واحدة. (فتاوى اللجنة الدائمة : ۸٦/۲۰).

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او د هغهٔ شاګرد علامه ابن القیمؒ هم دا خبره غوره کړی۔
(مجموع الفتاوی : ۵۹/۳۳، إعلام الموقعين : ۹۷/٤).

اوګوره: (فتاوی الإسلام سؤال وجواب، للشیخ علامه محمد صالح المنجد).

د سعودی عرب غټ مفتی علامه ابن بازؒ او علامه عثیمینؒ هم دا خبره غوره کړی۔

(فتاوی المرأة المسلمة: ۷۵۳/۲، فتاوی الطلاق، ص: ۱۲۹).

دارنګه وګوره: (شرح قانون الأحوال الشخصیة الأردنی للدکتور عمر الأشقر، ص: ۲۰۳، أبحاث هیئة کبار العلماءِ: ۲۹۰/۲، الطلاق الإنفرادی .. تدابیر الحد منه، للدکتور أحمد بخیت الغزالی، المحلی: ۵۴۳/۱۱، الروضة البهیة: ۱۵/۶، الشریعة الإسلامیة فی الأحوال الشخصیة، ص: ۳۱۲، لأبی زهرة. نظام الطلاق وما بعدها للعلامة الأستاذ أحمد محمد شاکر، د: علی حسب اللّٰه. الفرقة بین الزوجین، ص: ۴۹، د: محمد البلتاجی. دراسات ص: ۲۱۳، الشیخ شلتوت. الفتاوی ص: ۳۰۰)

//////

کتاب البیوع

د قرض په وجه یوشی گرانه خرڅول

سوال : زمونږ په ځای کښې یوه موسسه خلکو ته په دې طریقه مال اخلي چې مثلاً یو دوکاندار د شلو زرو غوړو ته ضرورت لري، نو د مؤسسې والا هغه ته د بازار نه د شلو زرور غوړي اخلي او دهٔ ته ئې په قرض باندې په څلېرشت زره حساب کړي. دارنگه دوئ ټولو دوکاندارانو ته د هغوئ د غوښتنې سره سَم د بازار نه مالونه اخلي او هغوئ ته ئې په قرض د یو څو میاشتو په نیته د بازار نه درې څلور زره گران ورکوي.
دې باره کښې خلك د مقامي علماؤ نه تپوسونه کوي، خو علماء پدې مسئله کښې اختلاف لري څوك ورته جائز او څوك ورته سود او ناجائز وائي، تاسو مونږ ته دې باره کښې تفصیلاً فَتوىٰ د دلائلو سره ولیکئ چې د خلکو تسلي اوشي.
دارنگه د بیع التولیه، بیع المؤجل او بیع المرابحه تعریفونه هم مونږ ته ذکرکړئ، ځکه بعضې علماء وائي : دا قِسم بیعه په بیع المرابحه کښې داخلیږي. وجزاکم الله خیراً.
(مولوی محمد خالد سهاد، مولوی ضیاء الحق ضیاء، کنړ، افغانستان).

جواب : په مذکوره طریقې سره د مؤسسې نه مالونه اخستل حرام او ناجائز دي، ددې قِسم بیع او قرض نه سود جوړیږي، چې ددې د حرمت یو څوعلتونه دي.
۱ – په دې صورت کښې بیع التقسیط راځي، او په هغې سره د مال په قیمت کې زیادت راځي، او داسې بیع التقسیط دَ راجح قول مطابق حرامه ده، لکه ددې تفصیل دَ همدې فتاوىٰ په اول جلد کښې تفصیلاً ذکرشوی.
۲ – په دې قِسم بیع کولو سره په قرضو باندې گټه کول راځي، مطلب دا چې کهٔ د مؤسسې والا دغه مال په قرض نهٔ وای ورکړی، بلکه نغدې روپۍ ئې اخستلې، نو د خپل

اصلي قيمت روپۍ به ئې اخستلې، ليکن کله چې ئې قرض ورکوی، نو بيا درې څلورزره روپۍ ورنـه اضافـه اخلي، نو دغه اضافه روپۍ د څۀ په وجه اخلي ؟ ښکاره خبره ده چې دا درې څلورزره روپۍ ئې د قرضو په وجه ګټلې، دا په قرضو ګټه کول نۀ دي نو نور څۀ دي؟

پـه اسلام کښې لکه څرنګه چې په بيع کښې سود راځي نو دغه شان په قرضو کښې هم سود راځي، لکه دې باره کښې د علماؤ تصريحات واوره :

عـلامـه جصاص ؒ په احکام القرآن کښې دَ ﴿ وحرّم الربا ﴾ پـه تفسير کښې فرمائي : من الربا ما هو بيع، ومنه ماليس ببيع وهو ربا القرض.

امـام ابـن حزم ؒ پـه المحلی (٤٦٧/٨) کښې ليکي : الـربـا لا يكون إلا فی بيع أو قرض أو سلم، وهذا ما لاخلاف فيه من أحد، لأنه لم تأت النصوص إلا بذلك.

ابن الهمام ؒ په فتح القدير کښې ليکي : الـربا يقال لنفس الزائد، ومنه ظاهر قوله تعالیٰ : [لا تـأكـلـوا الـربـا أضـعـافًا مضاعفةً] أعنى الزائد فی القرض والسلف عن المدفعو، والزائد فی بيع الأمـوال الـربـوية بـجنسه، ويقال لنفس الزائد، أعنى بالمعنى المصدری، ومنه [وأحل الله البيع وحـرم الـربـا] أی حرم أن يزاد فی القرض والسلف علی القدر المدفوع، وأن يزاد فی بيع تلك الأموال بجنسها قدرًا ليس مثله فی الآخر، لأنه حينئذٍ فعل، والحكم يتعلق به. إهـ

ابن رشد ؒ په بدايۀ المجتهد (ص : ۱۲۷) کښې ليکي اتفق العلماء على أن الربا يوجد فی شيئين : فی البيع، وفی ما تقرر فی الذمة من بيع أو سلف أو غير ذلك. إهـ

بل داچې : پـه قـرض ورکولو کښـې غرض احسان او انفاق وي، نو کله چې دلته په قرض بـانـدې د دکـانـدار نـه ګټـه اخستـلـې شي نـو دلتـه د احسان او انفاق مطلب ختم شي، د قرضونه ګټه او عوض اخستل مقصد وګرځول شي او دَ سود معنی په کښې راشي۔

پـه اسـلام کښـې قـانـون دادی چې په قرض باندې ګټه شرط کول په اجماع د علماؤ سره حـرام دي۔ صحابه کرامو – رضی الله عنهم – (چې دوئ زمونږ لپاره دَ ايمان معيار دی) هم په قرض باندې ګټه اخستل منع کړې۔

او پـه داسې ځـايـونـو کښـې د صحابه کرامو – رضی الله عنهم – تفسير او فتویٰ حجت دی۔

لکه شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمائي : إذا لم نجد التفسير فی القرآن ولا فی السنة

رجعنا فی ذلك إلی أقوال الصحابة، فإنهم أدری بذلك، لما شاهدوه من القرائن والأحوال التی اختصوا بها، ولما لهم من الفهم التام والعلم الصحیح، إهـ (مقدمته فی أصول التفسیر).

نو دلته د صحابه کرامؓ فتوی رانقل کولی شی چی دا موقوف بمنزلۂ المرفوع دَ قبیلی نه جوړیږی۔

عن فضالة بن عبید صاحب النبی ﷺ أنه قال: کل قرض جر منفعةً فهو وجه من وجوه الربا.

(هر هغه قرض چی (مشروطه) ګټه راکاړی نو دا دَ سود دَ اقسامونو نه یو قِسم دی)۔

(أخرجه البیهقی فی السنن الکبری ۳۵۰/۵، ۱۱۲۵۲، والسنن الصغری رقم ۲۰۵٦، ومعرفة السنن والآثار ۳٦۰۵، والحاکم فی المستدرك والبوصیری فی اتحاف الخیرة المهرة بزوائد المسانید العشرة ۱۱۵/۳، کما فی البحوث العلمیة لهیئة کبار العلماءِ بالسعودیة، وسنده صحیح).

دَ ابن مسعود رضی الله عنه نه هم په صحیح سند سره نقل دی چی هغه هم داسی فرمائی: (إرواء الغلیل: ۱۳۹۷).

دارنګه د ابن عباس، عبد الله بن سلام، عمر بن الخطاب او ابن أبی بن کعب – رضی الله عنهم – نه هم په قرضو باندی د ګټی اخستلو نه منع راغلی۔ امام بیهقیؒ فرمائی:

وروینا عن ابن مسعود، وابن عباس، وعبد الله بن سلام، وغیرهم فی معناه، وروی عن عمر، وأبی بن کعب رضی الله عنهما. (السنن الصغری للبیهقی ۲۰۵۷، التلخیص الحبیر ۳٤/۳، فتح الوهاب بشرح منهج الطلاب، أسنی المطالب فی شرح روض الطالب، الموسوعة الفهقیة الکویتیة، البحوث العلمیة لهیئة کبار علماءِ السعودیة، منار السبیل والإرواء: ۱۳۹۷، فتاوی الشبکة الإسلامیة).

دارنګه موطأ، بیهقی وغیره کښی راځی:

أن رجلًا أتی عبد الله بن عمر فقال: یا أبا عبد الرحمن! إنی أسلفت رجلاً سلفًا واشترطتُ علیه أفضل مما أسلفته، فقال عبد الله بن عمر: فذلك الربا، قال: فکیف تأمرنی یا أبا عبد الرحمن؟ فقال عبد الله: السلفُ علی ثلاثة وجوه، سلف تسلفه ترید به وجه الله فلك وجه الله، وسلف تسلفه ترید به وجه صاحبك، فلك وجه صاحبك، وسلف تسلفه لتأخذ خبیثًا

بطيب فذلك الربا. فقال : فكيف تأمرنى يا أبا عبد الرحمن ! قال : أرى أن تشق الصحيفة فإن أعطاك مثل الذى أسلفته قبلته، وإن أعطاك دون الذى أسلفته فأخذته أجرتَ وإن أعطاك أفضل مما أسلفته طيبة به نفسه فذلك شكر شكره لك ولك أجر ما أنظرته.

(یو سړی عبد الله بن عمر رضی الله عنه ته راغی او تپوس ئی ورځخه وکړو چی ما یو سړی ته قرض ورکړو او په هغی می دَ خپل قرض نه ډیر غوره شی (قرض) شرط کړو (نو ددی څهٔ حکم دی ؟) ابن عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل : همدا سود دی۔).

(رواه مالك ١٣٧٩، وعبد الرزاق ١٤٦٦٢، والبيهقى ٣٥١/٥، رقم ١١٢٥٦، جامع الأحاديث للسيوطى رقم ٣٩٤٣٤).

امام بخاریؒ په خپل صحیح کښی حدیث راوړی :

عن سعيد بن أبى بردة عن أبيه أتيت المدينة فلقيتُ عبد الله بن سلام – رضى الله عنه – فقال : ألا تجئ فأطعمك سويقًا وتمرًا، وتدخل فى بيت ثم قال : إنك بأرض الربا بها فاشٍ، إذا كان لك على رجل حق فأهدى إليك حِمل تبنٍ، أو حِملَ شعير أو حمل قتٍّ، فلا تأخذه فإنه ربًا. (مشكاة باب الربا ٢٨٣٣).

دَ نورو سلفو صالحینو رحمهم الله نه هم دی باره کښی منع راغلی، لکه د هغوئ نه د ځینو نو مونه دادی :

عن عطاء قال : كانوا يكرهون كل قرض جر منفعةً (ابى أبى شيبة).

عن إبراهيم قال : كل قرض جر منفعة فهوربا (ابن أبى شيبة، وعبد الرزاق ١٤٦٥٩، نصب الراية ٨٥/٤، مختصر اختلاف العلماء للطحاوى.

عن الحسن ومحمد أنهما كانا يكرهان كل قرض جر منفعة (ابى أبى شيبة).

ومثله عن ابن سيرين كما فى عبد الرزاق ١٤٦٥٧.

دی باره کی اجماع

علامه عینیؒ په عمدۃ القاری کښی لیکی قد أجمع المسلمون نقلاً عن النبى ﷺ أن اشتراط الزيادة فى السلف رباً. إهـ (باب وكالة الشاهد والغائب ١٣٥/١٢).

په الموسوعۃ الفقهیۃ الکویتیۃ کښی راځی: قال ابن المنذر : أجمعوا على أن المسلف –

أی الـدائـن – إذا شـرط عـلى المستلف زيادةً أو هديةً، فأسلف على ذلك، أن أخذ الزيادة على ذلك رباً.

په البحوث العلميې لهيئې كبار العلماء السعوديې كښې دى :
قـد أجمع فقهاءُ الإسلام على أن كل قرض جر نفعًا مشروطًا فهو ربًا [ومثله فى فتاوى اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والإفتاءِ، وفتاوى الشبكة الإسلامية].

عـلامـه مرداوىؒ په الانصاف (۱۳۱/۵) كښې ليكي : أمـا شـرط ما يجر نفعًا أو أن يقضيه خيرًا منه، فلا خلاف فى أنه لا يجوز.

امـام ابن حزمؒ فرمائى : لا يـحـل أن يشترط ردّ أكثر مما أخذ ولا أقل، وهو رباً مفسوخ، ولا يـحـل اشتـراط رد أفـضـل مـما أخذ، ولاأدنى وهو رباً، ولا يجوز اشتراط نوع غير النوع الذى أخذ، ولا اشتراط أن يقضيه فى موضع كذا، ولا اشتراط ضامن. إهـ
(المحلى ۷۷/۸).

دَ الـمـحلى په شرح (المجلى) كښې راځى : لا خـلاف فى بطلان هذه الشروط التى ذكرها فى القروض.

حافظ ابن حجرؒ دَ ابو هريرةؓ دَ حديث (فإن خيركم أحسنكم قضاء) **په شرح كښې ليكي :**
فيـه جـواز ردّ ما هوأفضل من المقترض، إذا لم تقع شرطية ذلك فى العقد فيحرم حينئذٍ اتفاقاً. (باب استقراض الإبل).

امام ابن قدامهؒ په المغنى (۳۶۰/۴) كښې داسې ليكي : كل قرض شرط فيه أن يزيده فهو حرام بغير خلافٍ.

ابـن حـجرؒ الهيتـمـى پـه الـزواجـر عن اقتراف الكبائر كښې د سود د څلورو قسمونو ذكر كولو نه پس فرمائى : ربـا النساءِ، وربا الفضل، وربا اليد، وربا القرض، قال : كل هذه الأنواع الأربعة حرام بالإجماع.

يو بل ځاى ليكي : الكبيرة الرابعة بعد المائتين القرض الذى يجر نفعًا.

پـه فتـاوى الاسهم والبنوك كښې راځى : وقـد أجـمـع العلماء على أن كل قرض جر منفعةً فهوربًا.

دارنګه په راتلونكو كتابونو كښې هم دغه شان ذكر دى :

المهذب : ٤٠٤/١، بدائع الصنائع للكاسانى، باب القرض ٣٩٥/٧، الكبائر للذهبى، الفتاوى الهندية ٢٠٢/٣، تهذيب سنن أبى داود جلد :٥).

دَ مذكوره تولو عبارتونو مقصد دادى چې چاته قرض وركول او په هغه باندى د زيادت شرط كول سود دى، او هر هغه قرض چې شرط كړى شوى نفع راكاږى نودا سود دى.

خلاصه : دَ پورتنو تولو دلائلو نه معلومه شوه چې مذكوره بيعه او قرض كول صحيح نۀ دى، ځكه دا سود دى. ددى نه ځان ساتل ضرورى دى. سود نور څنګه وى ؟ سود خو هم ديته وائى چې په قرضو باندى مشروطه ګټه اخلى.

دى باره كښې مونږ سره نور بى شماره دلائل شته، دلته مو د اختصار نه كار واخستلو.

اوس دَ بيع التوليه او بيع المرابحه تعريف واوره :

بيع التولية كما عرفه العلماء : هو نقل ما ملكه بالعقد الأول بالثمن الأول من غير زيادة ربح. وهذا البيع جائز وهو من بيوع الإمانة ومعنى ذلك أنه لا يجوز الزيادة على الثمن الذى اشتريت به السلع وإلا كان ذلك خيانة للمشترى. (فتاوى الشبكة، الفقه الإسلامى ٧٠٣/٤، ٥٩٦، الموسوعة الفقهية الكويتية، تحفة الفقهاء).

بيع مؤجل ديته وائى چې مبيعه (سَودا) اوس واخلى او روپۍ څۀ وخت پس په قسطونو قِسطونو يا تولى په يو ځاى وركړى. بيع مؤجل بالكل صحيح ده،البته د تاجيل په وجه پيسى زياتول غلط كار دى.الله تعالىٰ فرمائى : ﴿يا أيها الذين آمنوا إذا تداينتم بدين إلى أجل مسمى فاكتبوه﴾.

(اى ايمان والو ! كله چې تاسو يوى نيتى پورى دَ قرض معامله كوله نو هغه ليكئ).

عن عائشة – رضى الله عنها – قالت : جائت بريرية فقالت : إنى كاتبتُ أهلى على تسع أواق فى كل عام أوقية فأعيننى [صحيح البخارى مع الفتح ١١٦/٦، صحيح مسلم بشرح النووى ١١٢/٤).

دَ آيت او حديث دواړو نه معلومه شوه چې په نيته مال اخستل جائز دى، ليكن دلته خو دَ نيتى په وجه مال ګرانولى شى، نو په دى وجه دا قِسم بيع صحيح نۀ ده.

بيع المرابحة هو : أن يقول البائع أنا اشتريتُ هذه الدار بألف وبعتكها بما اشتريتها به، وزيادة قدرها مائتان – مثلاً – فيقول المشترى : قبلتها بذلك.

بيع المرابحة كما عرفه ابن قدامة فى المغنى هو : البيع برأس المال وربح معلوم.

بیع ما ملكه بما قام علیه وبفضل.
أو هو : بیع السلعة بالثمن الذی اشتراها به وزیادة ربح معلوم لهما.
وهو عقد بنی الثمن فیه علی ثمن المبیع الأول مع زیادة مثل أن یشتری شیئًا بمائة ثم یقول لغیره : بعت هذا بما اشتریته وربح ده بازده أوربح درهم لكل عشرة أو فی كل عشرة.

بیع مرابحه دیته وائی چی څوك یو څهٔ (حقیقیٍ) واخلی اوبل كس ورته ووائی چی دا خو ډیر ښهٔ شی دی، په مائی را خرڅ كړه، دا كس ورته ووائی چی كه ماته ډیری روپۍ راكوی، نو دركوم ئی، نو هغه ورباندی راضی شی، نو دی ئی په هغه بل كس باندی په ګران قیمت ورخرڅ كړی۔ بیع مرابحه بالكل صحیح ده، په دی كښی دَ نغدو او قرضو خبره نشته۔

په دی صورت كښی خو دَ مؤسسی والا په حقیقت كښی مال نهٔ اخلی، بلكه حقیقت كښی پیسی وركوی (اګركهٔ په ظاهره مال دی) نو دا داسی شو لكه په شلو زرو روپو باندی چی څلیرشت زره روپۍ اخلی۔ او دا سود دی۔

دی باره كښی یو سوال او جواب د هیئیٔ كبار العلماء نه واوره :

س : سمعنا كثیرًا بقول : أن الشیخ عبد العزیز بن باز یقول : إن البنوك والمصارف الإسلامیة جائزة، ومالها حلال لا غبار علیها، فهل هذا صحیح، والله أعلم.

والسؤال الثانی بشأن : البنوك الإسلامیة، فهی الحقیقة وللأسف الشدید تحایل علی الشرع تحت ما تسمی بیع المرابحة، وهی تختلف عن بیع المرابحة كثیرًا، فالبنوك الإسلامیة تعمل نفس عمل البنوك الربویة، فالبنوك الربویة تقرض التجار الذین لا یملكون نقودًا حاضرة (السیولة) فی مقابل فائدة ثابتة، فهذا خطأ، وبعبارة أخری : هو الربا بعینه، أما المصارف فتحت اسم بیع المرابحة تتم هذه الصورة : فالتاجر الذی یأتی البنك، و لا یملك نقودًا حاضرة بمعنی (سیولة) یقول له البنك : نحن لا نقرضك مالا علی أساس أنها بنك إسلامی، ولكن نسألك عن البضاعة ونوعها، ونحن نشتریها ثم نبیعها لك، بشرط أن تتكفل أنت بجمیع مصاریفك، الشحن والتأمین وجمیع الالتزامات الأخری التی تترتب علی نقل هذه البضاعة، ونأخذ منك عشرة فی المائة، هذه هی صورة معاملة البنك الإسلامی مع التاجر الذی لجأ إلیه یرید المال الحاضر (السیولة)، أرجو الجواب علی هذا، وإذا كانت تتعامل بالربا فلا یجوز

التعامل معها، وليست بنوكًا إسلامية.
ثانيًا : الصورة التى ذكرت من التعامل بين التاجر والمصرف، تحت اسم بيع المرابحة لا تجوز : لأن شراء البنك للبضاعة من التاجر شراء صورى، لا حقيقى، وليس له حاجة فى البضاعة، وإنما قصده النسبة 10% وقد نبهنا عليها غير مرة لمن سأل عن ذلك، وبالله التوفيق.
(الفتوى رقم ٨٢٦٥، عليها توقيع أعضاءِ اللجنة والرئيس).
۳۔ددى مؤسسى سره دارنګه معامله کول په دى وجه هم صحيح نۀ دى، چى هغوئ کله د يو دوکاندار نه مال واخلى نو په بل کس ئى په هغه ځاى کښى ورخرڅوى، يعنى د قبض کولو او انتقالولو نه مخکښى ئى په بل چا ورخرڅوى، دا قِسم بيع او شراء کول هم په شريعت کښى منع دى، لکه دى باره کښى مونږ دلته يو څو دلائل راجمع کوو :
حديث کښى راځى : نبى کريم ﷺ حکيم بن حزام رضى الله عنه ته فرمايلى وو :
إذا اشتريتَ مبيعًا فلا تبعه حتى تقبضه. (أحمد ١٥٣٩٩، النسائى ٤٦١٣، وصححه الألبانى فى صحيح الجامع برقم ٣٤٢، وأخرجه الدارقطنى وأبوداود ٣٤٩٩).
(کله چى تۀ څۀ واخلى نو تر هغه وخته پورى ئى مۀ خرڅوه تر څو چى دى قبضه کړى نۀ وى)۔
بل روايت کښى دى :
عن زيد بن ثابت، أن رسول الله ﷺ نهى أن تباع السلعُ حيث تبتاع، حتى يحوزها التجار إلى رحالهم. (رواه أحمد وأبوداود، واللفظ له، وصححه ابن حبان والحاكم، و حسنه الألبانى فى صحيح أبى داود).
(نبى کريم ﷺ ددى نه منع کړى چى سامان دى په هغه ځاى کښى خرڅ کړى شى، په کوم ځاى کښى چى اخستلى شوى وى، تر هغه وخته پورى چى اخستونکى خپل ځاى ته نۀ وى نقل کړى)۔
په صحيحينو کښى د ابن عباس رضى الله عنه نه روايت دى چى نبى کريم ﷺ فرمائى : من ابتاع طعامًا فلا يبعه حتى يستوفيه.
(البخارى ٢١٣٢، ومسلم ١٥٢١٥، وزاد : قال ابن عباس : و أحسب كل شئ مثله).
(چا چى خوراکى مواد واخستل نو تر هغه وخته پورى دى نۀ خرڅوى تر څو پورى چى

پوره قبضه کړی نۀ وی)۔ دَ مسلم په روایت کښې ورسره دا زیاتی دی چی ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: زۀ ګمان کووم چی دَ هر څیز حکم دَ خوراکی موادو په شان دی)۔

شیخ ابن عثیمین رحمه الله لیکی: وما ینقل مثل الثیاب والحیوان والسیارات وما أشبه ذلك یحصل قبضها بنقلها، لأن هذا هو العرف (الشرح الممتوع ٣٨١/٨).

(کوم څیزونه چی نقل کیدی شی لکه جامی، حیوان، ګاډی اوددی پشان نور شیان، نو ددی قبضه کول ددی په نقل کولو سره پوره کیږی، ځکه همدا عُرف دی)۔

په آخر کښې دَ توصیه په طور دا خبره هم کوو، چی په بی علمئ باندی فتویٰ ورکول غلط کار او عظیم جُرم دی، ددی نه ځان ساتل ضروری دی، دی باره کښې علامه احمد بن حمدان الحرانی الحنبلی رحمه الله په خپل علمی کتاب (صفوۃ الفتویٰ والمفتی) کښې ډیر ښۀ بحث لیکلی چی د هغی نه څۀ برخه علامه محمد بن ابراهیم بن عبد اللطیف آل الشیخ مفتی المملکۃ ورئیس القضاۃ والشؤون الاسلامیۃ نقل کړی، او مونږ ئی هم دلته ذکر کوو، هغه فرمائی:

[تحریم الفتوی علی الجاهل بصواب الجواب، لقوله تعالی: ﴿ ولا تقولوا علی الکذب ﴾ الآیة، ولقول النبی ﷺ: (من أفتی بفتیا غیر ثبتٍ، فإنما إثمه علی من أفتاه) رواه الإمام أحمد وابن ماجه، وفی لفظ: (من أفتی بفتیا بغیر علم کان إثم ذلك علی الذی أفتاه) رواه الإمام أحمد وأبوداود. ولقوله ﷺ: (إن الله لا یقبض العلم انتزاعًا ینتزعه من صدور الرجال، ولکن یقبض العلم بقبض العلماءِ، فإذا لم یبق عالم اتخذ الناس رؤساً جهالاً فسئلوا فأفتوا بغیر علم فضلوا وأضلوا) حدیث حسن.

وقال البراء: لقد رأیتُ ثلاثمائة من أصحاب بدر ما فیهم من أحد وهو یحب أن یکفیه صاحبه الفتیا. وقال ابن أبی لیلیٰ: ادرکتُ عشرین ومائة من الأنصار من أصحاب رسول الله ﷺ یسأل أحدهم علی المسألة فیرد هذا إلی هذا، وهذا إلی هذا، حتی ترجع إلی الأول. وفی روایة: ما منهم أحد یحدث بحدیث أو یسأل عنه. وفی روایة: عن شئ إلا ودّ أن أخاه کفاه إیاه، ولا یستفتی فی شئ إلا ودَّ أن أخاه کفاه الفتیا.

وقال سفیان بن عیینة وسحنون بن سعید صاحب المدونة: أجسر الناس علی الفتیا أقلهم علمًا. وسأل رجل مالك بن أنس عن شئ أیامًا، فقال: إنی إنما أتکلم فیما أحتسب فیه الخیر،

ولست أحسن مسألتك هذه، وكان يقال : من أجاب فى مسألة ينبغى من قبل أن يجيب فيها أن يعرض نفسه على الجنة والنار، وكيف يكون خلاصه فى الآخرة، ثم يجيب فيها، قال : إذا كان أصحاب رسول الله ﷺ تصعب عليهم المسائل، ولا يجيب أحدهم فى مسألة حتى يأخذ رأى صاحبه، مع مارزقوا من السداد والتوفيق مع الطهارة، فكيف بنا الذين غطت الخطايا والذنوب قلوبنا. ورأى رجل ربيعة بن عبد الرحمن يبكى،فقال : ما يبكيك ؟ قال : استفتى من لا علم له، وظهر فى الإسلام أمر عظيم. قال : ولبعض من يفتى ههنا أحق بالسجن من السراق.

ثم يقول – الإمام أحمد بن حمدان الحنبلى الحرانى – قلتُ : فكيف لو رأى زماننا وإقدام من لا علم عنده على الفتيا، مع قلة خبرته، وسوءِ سيرته، وشؤم سريرته، وإنما قصده السمعة والرياء، ومماثلة الفضلاءِ والنبلاءِ، والمشهورين المستورين، والعلماء الراسخين، والمتبحرين السابقين، ومع هذا فهم ينهون فلا ينتهون، وينبهون فلا ينتبهون، قد أملى لهم بانعكاس الجهال عليهم، وتركوا مالهم فى ذلك وما عليهم فمن أقدم على ما ليس أهلاً له من فتيا أو قضاء أو تدريس أثم، فإن أكثر منه وأصر واستمر فسق، ولم يحل قبول قوله ولا فتياه، ولا قضاه، هذا حكم دين الإسلام، والسلام. ولا اعتبار لمن خالف هذا الصواب، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

بیا لیکی : عظم أمر الفتوىٰ وخطرها، وقل أهلها وممن يخاف إثمها وهطرها، وأقدم عليها الحمقى والجهال، ورضوا فيها بالقيل والقال، واغتروا بالإمهال والإهمال، واكتفوا بزعمهم أنهم من العدد بلاعدد، وليس معهم بأهليتهم خط أحد، واحتجوا باستمرار حالهم فى المدد بلا مدد وغرهم فى الدنيا كثرة الأمن والسلامة، وقلة الإنكار والملامة. إهـ

ددی عبارت نقل کولو نه پس علامه محمد بن ابراهیم بن عبد اللطیف آل الشیخ مفتی المملکۍ ورئیس القضاۍ والشؤون الاسلامیۍ فرمائی :

قلتُ : إذا كان العلامة ابن حمدان يقول هذا فى زمانه، فكيف بزماننا هذا الذى وصل التسرع فيه إلى الفتوى المخالفة للشرع إلى حدّ الإفتاءِ بإباحة الربا. نسأل الله تعالىٰ الثبات على دينه، وصلى الله على محمد وعلى آله وصحبه وسلم.

يوم عيد الأضحى ١٤٢٨هـ

کتاب الدعویٰ والمعاملات

په دی صورت کښی ددی کس څومره حق رسی

سوال: یو کور ته غل ورغی، د کور نه ئی مثلا د پنځه زره روپو غلا وکړه، لیکن د هغه نه د پنځویشت زرو د موټر کاغذونه وغیره لویدلی وو، اوس د کور مالك وائی: آیا زه دا ټول مال دده نه ایسار کړم، اوکه ورئی کړم، دی باره کښی شرعی فیصله څرنګه ده؟

(مولوی عبد المتین ،کوهاټ)۔

جواب: الحمد لله والصلاۃ والسلام علی رسول الله اما بعد:

مذکوره صورت کښی چی د کور مالك دغل نه زیات مال نیولی دی، نو د کور مالك به د هغه نه صرف دومره مال ځان سره ایساروی څومره مال چی ئی دده نه غلا کړی، باقی مال به بیرته غل ته واپس ورکوی۔ د کور مالك ته دا جائز نه دی چی د غل ټول مال ځان ساره حصار کړی۔

ژ په دی خبره دلائل دادی:

قرآن کریم کښی راځی: ﴿فمن اعتدی علیکم فاعتدوا علیه بمثل ما اعتدی علیکم﴾۔ (البقره: ۱۹۴)۔ ﴿وجزاء سیئۃ سیئۃ مثلها﴾۔ (الشوری: ۴۰)۔ ﴿وان عاقبتم فعاقبوا بمثل ما عوقبتم به﴾۔ (النحل: ۱۲۶)۔

ددی ټولو آیتونو نه دا مسئله معلومیږی چی که په چا څه ظلم او زیاتی اوشی نو مظلوم ته دا حق حاصل دی چی صرف د خپل حق په اندازه باندی د ظالم نه بدل واخلی۔

مظلوم له هیڅ کله دا جائز نه دی چی د خپل حق نه زیات واخلی۔ ددی وجی نه په هر آیت کښی ورسره (مثل) قید راغلی دی۔

علامه ابن کثیرؒ ددی په تفسیر کښی لیکی:

یأمر تعالیٰ بالعدل فی الاقتصاص والمماثلة فی استیفاءِ الحق، کما قال عبد الرزاق عن الثوری، عن خالد، عن ابن سیرین : أنه قال فی قوله تعالی : ﴿ فعاقبوا بمثل ما عوقبتم به ﴾ : ان اخذ منکم رجل شیئا، فخذوا منه مثله، وکذا قال مجاهد وابراهیم والحسن البصری وغیرهم، واختاره ابن جریر (ابن کثیر).

یعنی الله تعالیٰ مونږ ته په بدل اخستو کښې په عدل او انصاف سره امرکوی، دارنګه په دی خبره مونږ ته امر کوی چې د چانه خپل حق اخلئ نو د هغې برابرئ اخلئ۔

په تفسیر قرطبی کښیی دی :

وهذا عموم فی جمیع الأشیاء کلها. (یعنی دا آیت د هر څه په بدل اختسو کښې په یو شان والی امر کوی۔

دارنګه په دی خبره هغه حدیث هم دلیل دی چې کوم د ابو هریرةؓ، انسؓ، ابو امامةؓ او ابی بن کعب – رضی الله عنهم – نه روایت دی چې رسول الله ﷺ اوفرمایل : (ولا تخن من خانك)۔ (رواه ابو داود والترمذی والحاکم والطبرانی، وغیرهم وقال الألبانی فی صحیح الجامع : صحیح)۔

(تاسره چې چا خیانت کړی دی تهٔ هغه سره خیانت مه کوه)۔

مطلب دا چې داسی مه کوه چې ظالم په تا ظلم او زیاتی وکړی او کله چې ستا وس او طاقت ورباندی راشی نو ته هم د هغه نه د خپل حق نه زیات شی واخلی۔

امام نوویؒ ددی حدیث په شرح کښې لیکلی :

وهذا معناه عند بعض العلماءِ : لا تخن من خانک بعد أن انتصرت منه فی خیانته لک کأن النهی انما وقع علی الابتداءِ وأما من عاقب بمثل ما عوقب به وأخذ حقه فلیس بخائن، وانما الخائن من أخذ ما لیس له أو اکثر مما له.

(شرح الأربعین النوویة فی الأحادیث الصحیحة النبویة)۔

امام ابن عبد البرؒ لیکی : ولا تخن من خانک، یرید بأکثر من انتصارک منه.

(یعنی کله چې دی په خپل حق اخستلو قدرت اوشی نو زیات مه اخله)۔ (الاستذکار ۱۹۱/۷)۔ فی باب القضاء الموفق لأبی عمر بن عبد البر، بتحقیق سالم محمد عطاء، محمد علی معوض)۔

امام ابن حزمؒ په (المحلی) کښې د امام شعبیؒ په سند سره نقل کړی دی :

وعن الشعبی قال : لا تخن من خانک فان أخذت منه مثل ما أخذ منک فلیس علیک بأس.

(یعنی څوك چې درسره خیانت وکړي نوته ورسره خیانت مه کوه، لیکن که د هغه نه دې دومره مال واخستۀ څومره چې ستا حق وربانذې کیږي نو پتا څه ګناه نشته)۔

دارنګه امام ابن حزمؒ لیکي :

روینا من طریق خالد الحذاء عن ابن سیرین انه قال : ان أخذ الرجل منک شیئا فخذ منه مثله، ومن طریق سفیان الثوری عن منصور عن ابراهیم النخعی قال : أن اخذ منک شیئا فخذ منه مثله.

(که تانه څوك څه شي واخلي نو ته هم د هغه نه د خپل حق په اندازه اخستل کولی شې)۔

شیخ ابن عثیمینؒ لیکلي :

وكذلك لو أن احدا سرق من شخص مالا، وقدر صاحب المال على أن يأخذ شيئا من ماله أى : من مال السارق، فليس له ذلك، لأن الواجب أداء الأمانة الى من ائتمنك وألا تخون من خانك۔ (مجموع فتاوى عثيمين، فى شرح منظومة فى القواعد)۔

غل ته باقي مال واپس کول ددې لاندینی حدیث نه هم معلومیږي :

عن رافع بن خدیج عن النبی ﷺ قال : من زرع فی أرض قوم بغیر اذنهم فلیس له من الزرع شئ وله نفقته۔ (رواه الترمذی وابوداود، وسنده صحیح، کما فی الارواء).

(یعنی څوك چې د چا په زمکه کښې د هغه د اجازت نه بغیر څه وکري نو دده په فصل کښې هیڅ حق نشته، لیکن دې بې اجازته کرونکی ته به د کرلو مصرف او خرچې ورکولی شي۔

یو بل حدیث کښې راځي چې یو بل کس په پردي پټي کښې خورماوې کرلې وې، نو نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل : خپلې ونې دې اوباسه۔

ددې حدیث نه دا مسئله په دې شان معلومیږي چې دې کس بغیر د اجازت نه د بل چا په پټي کښې فصل کرلی، نو دا په دې سره ګنهګار او ظالم حسابیږي لیکن په شریعت کښې بیا هم دده حق تلفي نه ده شوې، بلکه دده نه صرف د زمکې د مالك حق اخستل شویدی۔ باقي چې دده کوم حق کیدۀ، نو هغه ورکړې شو۔

ستاسو په مسئله کښې به هم دغله نه د خپل حق په اندازه مال واخستلی شي، باقي مال به بیرته ورته واپس کړې شي۔ وبالله التوفیق۔ شوال ۱۵ /۱۴۲۸ھ۔

خپلې زمکې ته د بل چا په زمکه کښې اوبه تيرول

سوال : دوه کسان سره نزدې نزدې زمکه لري، د يو نوم سيد محمد او د بل نوم فضل منير دی، سيد محمد به د پخوانه په داسې لښتې کښې اوبه راتيرولې چې هغه لښتې د فضل منير په زمکه کښې را تير شوې، ليکن اوس فضل منير وائی چې زه په دې لښتې د سيد محمد اوبه نه پريدم، ددې دواړو خبره جنګ ته رسيدلې ده، دې باره کښې شرعي حکم څنګه دی ؟
دِ غور خبره داده چې مذکوره دواړه زمکې پخوا د فضل منير د نيکونو وې، ليکن بيا هغوئ څه حصه د سيد محمد په نيکهٔ خرڅه کړه، سيد محمد وائی : د فضل منير په زمکه کښې چې کوم لښتې را تير شوې دی نو دا لښتې هم زما نيکه اخستې وو.

جواب : الحمد لله :

که صورت د مسئلې داسې وی څرنګه چې په سوال کښې ليکل شوی، نو په مذکوره لښتې باندې خو سيد محمد په هر حالت کښې اوبه تيرولی شي، په دې شرط چې د بل طرفه بل يو لښتې نه وی، بيا موجود وی خو لری وی. په اسلامی شريعت کښې د زمکې مالك ته دا حق حاصل دی چې خپلې زمکې ته د بل چا په زمکه کښې اوبه را تيرې کړي. په شرعي اصطلاح کښې دېته (حق المجری) ويلې کيږي.

الفقه الاسلامی وأدلته (٥/٤٩٧) کښې دی :

وحق المجرى هو حق صاحب الأرض البعيدة عن مجرى الماء في اجرائه من ملك جاره الى ارضه لسقيها، وليس للجار أن يمنع مرور الماءِ لأرض جاره، والا كان له اجرائه جبرا عنه دفعا للضرر.

(يعنې د لرې زمکې والا ته دا حق حاصل دی چې د بل ګاونډي په زمکه کښې خپل پټي ته اوبه را تيرې کړي، که ګاونډي ئې نه پريږدي، نو په زوره به د هغه په زمکه کښې تيرولی شي).

ددې وجه او دليل دادی چې که اوبه پرې نۀ ښودل شي نو دلرې زمکې والا ته ډير ضرر دی. او رسول الله ﷺ فرمايلې دی :

لا ضرر ولا ضرار (رواه البيهقی وغيره).
(نه ځان ته ضرر ورکول شته، نه بل چالره)۔
بل روایت کښې دی :
لا ضرر ولا ضرار فی الاسلام (ارواء الغليل).
(په اسلام کښې نه ځانته ضرر ورکول شته او نه بل چالره)۔
دی باره کښې د احادیثو په کتابونو کښې د عمر فاروق – رضی الله عنه – **فیصله نقل شوی ده چې عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه د یو سړي په باغ کښې لښتی تیر کړی وو نو بیائې غوښتل چې دا لښتی په لنډه لار د دغه کس په باغ کښې تیر کړي۔ نو د باغ والا منع کړو، دی دواړو فیصله عمر** – رضی الله عنه – **ته راوړه، نو هغه د عبد الرحمن بن عوف** رض **دپاره فیصله وکړه۔ لکه روایت داسی دی :**

عن عمرو بن يحيى المازنی عن أبيه انه قال : كان فی حائط جده ربيع – أی نهر صغير – لعبد الرحمن بن عوف فأراد عبد الرحمن بن عوف أن يحوله الى ناحية من الحائط هی أقرب الی أرضه فمنعه صاحب الحائط فكلم عبد الرحمن بن عوف عمرَ بن الخطاب فی ذلك فقضی عمر – رضی الله عنهم – لعبد الرحمن بن عوف بتحويله.
(رواه مالك فی الموطأ ص : ٦٤٣).

خپلی زمکی ته د بل چا په زمکه کښې اوبه تیرول

سوال : زید زما په زمکه کښې خپل باغ ته د اوبو لښتی تیر کړی اوس زه زید ته وایم چې زما په زمکه کښې به اوبه نه تیروی، زید ورته وائی چې په دی لښتی ما ډیر کلونه اوبه تیر کړی دی، زه به ضرور په دی لښتی اوبه خپل باغ ته تیروم۔ زه دلیل دا وایم چې زما زمکه کښې بل چاته د اوبو تیرولو یا بل څه تصرف حق نشته، دارنګه ستا په اوبو تیرولو سره ماته ضرر هم رسیږی، آیا په دی مسئله کښې ماته دا حق شته چې زه د زید اوبۀ منع کړم ؟

جواب : الحمد لله : دغه سړی چې ستا په زمکه کښې لښتی تیر کړی او اوس ته هغه سړی ته اجازت نه ورکوی چې ستا په پټی کښې اوبه تیری کړی : نو که دغه لښتی ستا

په زمکه کښې دعامو خلقو وی او (د یاری یعنی د کلی) قدیم لښتی وی، نو تهٔ د لښتی د بندولو حق نه لری، ځکه دی لښتی کښې د ټولو خلکو حق دی، او په دی کښې د عامو خلکو فائده ده، نو تهٔ څنګه په پردی حق باندی قبضه کوی؟ اوکه دغه لښتی ستا په خپله شخصي زمکه کښې وی، یا تا یو سړی ته عاریتا (سوالی) ورکړی وی، نو ته بیرته د دی حق لری چی خپل لښتی واپس کړې.

په دی شرط چی د هغه بل سړی زمکی ته په بله لاره اوبه ورتللی شی چی مثلا ته د اوبو لار یعنی خپل لښتی بند کړې هغه په بله نزدی یا ددی پشان په بله لاره خپل پټی ته اوبه را وستلی شی.

اوکه د هغه پټی ته بله لاره د اوبو ورتللو نه وی، یا ډیره لری وی، نو په دی صورت کښې ته د هغه لښتی نشی بندولی، او هغه سړی ستا په پټی کښې د اوبو تیرولو حق لری.

(اوګوره الفقه الاسلامی : ۵۹۸).

دلیل په دی باندی دا حدیث دی : (لا ضرر ولا ضرار فی الاسلام).

(۱) نو که ته هغه ته لښتی ورنکړی هغه بل سړی ته دیر ضرر دی، دلته تاته هم ضرر دی، لکه تهٔ چی وائی، لیکن تاته د هغه په نسبت دیر کم ضرر دی.

(۲) په دی خبره فتوٰی د عمر رضی الله عنه دلیل دی، لکه موطأ امام مالكؒ ص (۶۴۳) کښې دی :

فقال عمر : والله لیمرن به ولو علی بطنك.

(یعنی یو سړی په خپله زمکه کښې د بو سړی اوبه نه پریښودلی، نو عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل : خامخا به ته لاره د اوبو ورکوی، اوکه نه وی نو ستا په خیټه باندی به دا اوبه روانی کړم.

(۳) په موطأ د امام مالك : ۶۴۳ کښې: د عمر رضی الله عنه ده فیصله نقل شوی چی عبد الرحمن بن عوفؓ ته ئی دا حق ورکړی چی د هغه سړی په باغ کښې لښتی تیر کړی، اګرکه د باغ مالك په دی رضا نه وی.

امام مالك رحمه الله په الموطأ کښې دا روایت داسی نقل کوی :

عن عمرو بن یحیی المازنی عن أبیه أنه قال : کان فی حائط جدّه ربیع لعبد الرحمن بن

عوفٍ، فأراد عبد الرحمن بن عوفٍ أن يحوّله إلى ناحية من الحائط هى أقرب إلى أرضه، فمنعه صاحبُ الحائطِ، فكلّم عبدُ الرحمن بن عوفٍ عمرَ بنَ الخطاب فى ذلك، فقضىٰ لعبد الرحمن بن عوف بتحويله.

(رواه مالك وانظر: تهذيب الآثار للطبرى: ٢٣٦٣، وجامع الأصول من أحاديث الرسول لأبى السعادات ابن الأثير، ومسند الصحابة فى الكتب التسعة).

اوکومه خبره چی تا کړې ده چی ستا کور ته ددې لښتی نه ضرر جوړيږی، نوته د اوبو تيرونکی نه مطالبه کولی شی چی هغه په صحيح طريقی سره لښتی جوړ کړی چی ستا کور ته اوبه نه خيژی۔

او ديته (حق المجرٰی) ويلی کيږی۔

(کما فی الفقه الاسلامی: ٦٠٥/٥، الدر المختار والرد المحتار ٥١٤/٥، الخراج لأبی يوسف ص: ٩٩)۔

دارنګه الفقه الاسلامی (٤٩٧/٥) کښيی دی:

وحق المجرى هو حق صاحب الأرض البعيدة عن مجرى الماء فى اجرائه من ملك جاره الى أرضه لسقيها وليس للجار أن يمنع مرور الماءِ لأرض جاره ولأنه له اجرائه جبرا عنه دفعا للضرر.

پدی صورت کی زما پلار څومره حق لری؟

سوال: زمونږه يو تره وو چی د نن نه لس کاله (١٠) مخکی په افغانستان کښی په بم باندی شهيد شو، بيا هغه ته مؤسسی پنځوس لکه روپۍ ورکړی او د هغه بچی واړه وو، او د هغه پيسی زمونږه په تصرف کښی وی، او د هغه نه پس مونږه واپس په مضاربت باندی يو او بل ته ورکولی، خو بيا هم مونږه صحيح ګټه نه ورکوله، لهذا زما پلار چی د دغه يتيمانو ترهٔ دی، په دغه پيسو باندی زمکه واخسته او د دغه زمکی ټول تصرف تر اوسه پوری زما د پلار په لاس کښی وو، او دغه زمکه کښی لانجی وی، هغه هم زما پلار کولی، او تاوان هم ددی زمکی په مونږه باندی وو، اوس زما پلار خرڅه کړله او دغه زمکی څه پيسی وګټلی، اوس مونږه هغه يتيمانو ته وويل چی تاسو مونږ سره دا ګټه نيمائی کړئ او نيمه ګټه مونږ ته راکړئ، نو هغوی وائی چی تاسو د عالِم فتوٰی راوړئ که هغه

وویل چی ستاسو حق کیږی نو نیمائی ګټه واخلی، دغه یتیمان اوس بالغ شوی دی۔
لهذا تاسو مونږ ته ددی مسئلی فتوٰی راکړئ!
والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
العارض: حبیب الله۔
جواب: ستا پلار په دی صورت کښی د یتیمانانو ولی او قیّم دی، او د یتیمانانو د ولی په باره کښی الله تعالیٰ داسی فیصله فرمایلی ده:
﴿ومن کان غنیا فلیستعفف و من کان فقیرا فلیأکل بالمعروف﴾. (سورت النساء: ٦).
ترجمه: او څوك چی مالداروی نو ځان دی وساتی (د یتیم د مال نه) او څوك چی محتاج وی نو خوراك دی کوی (د هغی نه) په ښه طریقه سره۔
د فقیر نه مراد دادی چی کسب د نفقی ته محتاج وی، نوکه چیری دی دځان لپاره مستقل کسب کوی نو د یتیم د مال حفاظت نشی کولی نو دی به د هغه د مال حفاظت کوی، او تربیت به ئی کوی، او ددی په بدل کښی به د هغه (یتیم) د مال نه د عرف مطابق اجرت اخلی۔ (تفسیر احسن الکلام ۱٤٤/۳)۔
او په دی باندی د صحیح بخاری حدیث (٦٥٨/٢) هم دلیل دی:
انه یأکل منه مکان قیامه علیه بالمعروف
ستا پلار که چیری ددی زمکی خدمت کړی وی، او د زمکی ټول آمدنی ئی یتیمانانو ته ورکړی وی، نو د یتیمانانو نه اوس صرف خپله مزدوری اخستلی شی، که هغه خدمت ئی (٤) کاله کړی وی او که پنځه کاله او ددی نه زیات یا کم وی۔
او مزدوری به د عرف مطابق – کوم چی په کلی، علاقه کښی رواج دی – اخلی، مثلا یو کال چی یو کس ددی یتیمانانو د زمکی خدمت کوی نو څومره مزدوری به اخلی؟ ستا پلار به هم د هغی پشان مزدوری اخلی۔
لیکن دا مزدوری هله اخستلی شی چی ده د پټی حاصلات (آمدنی) نه وی خوړلی۔
که چیری ستا پلار په هغه وخت کښی هم ددی زمکی آمدنی خوړلی وی، مثلا دوه بوجۍ غنم به یتیمانانو کورته تلل او یوه بوجۍ به ستا د پلار کورته راتلل، نو اوس په دی وخت کښی مزدوری هم نشی اخستلی، ځکه ده خو (أکل بالمعروف) کړی، اوس نور

څه غواړی؟

که ستا پلار اوس ووائی چی ماته د دومره تکلیفونو په بدله کښی صرف دغه لږه مزدوری راکولی شی ؟ نو جواب دادی چی مونږ الحمد لله مسلمانان یو، پکار داده چی ستا پلار مزدوری هم نه وی اخستی او په (فلیستعفف) ئی عمل کړی وی۔ (یعنی مفت ئی خدمت کړی وی او د یتیم د مال خوړلو نه ئی ځان ساتلی وی)۔ او هر چی د تکلیفونو بدله ده نو د هغی په مقابل کښی خو آخرت کښی ثوابونه او اجرونه دی۔

ولی ستا پلار آخرت کښی ثواب او اجر ته احتیاج نه لری ؟ جنت ته ننوتلو دپاره څه نیك اعمال کول پکار نه دی ؟ که دا هرڅه پکار وی، او یقینا چی پکار دی، نو ستا پلار دپاره دا ثوابونه او بشارتونه کافی دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی :

١ - انا و کافل الیتیم فی الجنة هکذا وأشار بالسبابة والوسطیٰ وفرج بینهما.

(رواه البخاری وأبوداود والترمذی).

(یعنی زه او د یتیم پرورش کونکی به په جنت کښیی داسی یو ځای یو، او نبی ﷺ په مسواکۍ او مینځنۍ ګوتی سره اشاره وکړه او او ددی دواړو ترمینځه ئی لږه فاصله ولرله)۔

٢ - الساعی علی الأرملة والمسکین کالمجاهد فی سبیل الله، وأحسبه قال : و کالقائم لا یفتر و کالصائم لا یفطر۔ (رواه البخاری ومسلم).

(د کونډو رنډو او د مسکین دپاره منډی تړی وهونکی د الله په لاره کښیی د جهاد کونکی پشان اجر لری، او (راوی وائی) زما ګمان دی چی دائی وفرمایل چی : د داسی تهجد کونکی پشان دی چی نه ستړی کیږی او د داسی روژه دار پشان دی چی همیشه روژی نیسی)۔

(انظر الترغیب والترهیب : ٣٤٦/٣، تفصیلا)۔

د شفعی کولو حق ترڅو او په څه ثابتیږی ؟

سوال : که یو کس زمکه خرڅوی او د هغه په خوا کښی بل ګاونډی وی، آیا دا ګاونډی د شفعی حق لری او که نه ؟ او د شفعی کولو حق په څه ثابتیږی ؟ دارنګه د شفیع حق تر

څو پوری نه ساقطیږی ؟ بعضی علماء وائی چی که شفیع تریوی میاشتی پوری د شفعی دعوه ونه کړه نو بیا د شفعی حق نه لری، آیا دا قید صحیح دی ؟

جواب : الحمد لله والصلاۃ و السلام علی رسول الله ، امابعد:

په شفعه کښی قانون دادی چی شفیع هغه وخت دعویٰ کولی شی چی د زمکی حدود او لاره نه وی جدا شوی. او کله چی حدود او لاره سره بیل شی نو بیا د شفیع په مشتری باندی د شفعی دعویٰ نشی کولی. مګر که لاره یوه وی بیا د شفعی دعویٰ کولی شی.

ځکه حدیث کښی دی :

عن جابر ان النبی ﷺ قضی بالشفعة فی کل مالم یقسم، فاذا وقعت الحدود، وصرفت الطرق فلا شفعة. (رواه أحمد والبخاری).

او بل روایت کښیی دی :

انما جعل النبی ﷺ الشفعة فی کل ما لم یقسم --- الحدیث).

او په ابوداود او ترمذی کښیی د رسول الله ﷺ نه داسی فرمان دی :

اذا وقعت الحدود وصرف الطرق فلا شفعة.

نو چی کله زمکه تقسیم شوی نه وی نو بیا شفیع د شفعی دعوٰی نشی کولی، یا تقسیم شوی وی، لیکن د دوئ زمکی ته لاره یوه وی، بیا هم شفیع د شفعی حق نه لری.

دویمه مسئله :

کله چی دوه کسان په زمکه یا په لاره کښی شریکان وی نو په دی یو شریك خپله دا واجب ده چی کله خپله زمکه خرڅوی نو دا بل شریك به خبروی.

ځکه حدیث کښیی دی :

لا یحل له أن یبیع.

(انظر نیل الأوطار للشوکانی : ۸۳/٦، والقرطبی، وقال : الحدیث یقتضی انه یحرم البیع قبل العرض علی الشریك، آه).

اوکومه مسئله چی د زیادت المیعاد ده. یعنی دا چی د شفیع حق ساقطیږی په تیریدلو د زمانی سره، او دده حق تریوی میاشتی پوری دی، نو دا د یوی میاشتی قید لګول ضعیف دی، بلکه د شفیع حق تر هغه وخته پوری نه ساقطیږی تر څو چی دومره وخت

تیر نشی چی دی مشوره وکړی، سوچ او فکر وکړی، اوکه مسافر وی نو چی کور ته راشی۔

لکه دا خبره امام شوکانیؒ په نیل الأوطار (۸۷/۶) کړی۔

فی الحدیث وان کان غائبا : فیه دلیل علی أن شفعة الغائب لا تبطل وان تراخی وظاهره أنه لا یجب علیه السیر متی بلغه للطلب او البعث بالرسول.

مطلب دا چی په تاخیر سره شفعه نه باطلیږی چی کله شفیع غائب وی، دارنګه په شفیع دا لازم نه دی چی وکیل به نیسی یا به څوك دلته بائع یا مشتری ته رالیږی۔

دا خبره صدیق حسن خان صاحبؒ په الروضه الندیه (۱۲۴/۲) کښی کړی۔

او امام ابن حزمؒ په المحلی (۱۶/۸) کښی په دی باندی رد کړی چی څوك دا دعویٰ کوی چی د شفیع دعویٰ په زیادت المیعاد باندی ختمیږی، هغه فرمائی :

ومن یجعله مرة الشفعة شهرا، فهذا تخلیط ناهیك وتحکم فی الدین بالباطل.

(او څوك چی دا یو څل میاشت ګرزوی، نو دا ګډوډی ده چی مونږه ئی ددی نه منع کوو او په دین کښی په باطله باندی فیصله کول دی)۔

دارنګه (المختارات الجلیه ص : ۲۵۶) کښیی هم دی۔

شفعه په نسب نه ثابتیږی

سوال : محترم مفتی صاحب ! په لاندینۍ مسئله کښی د شریعت مطهره حکم څه دی ؟ صورت د مسئلی دا دی چی :

مثلا د زید ترۀ بکر یوه قطعه زمکه په عمرو باندی خرڅه کړه، اوس د عمرو زوی فاروق دغه زمکه خرڅول غواړی، لیکن د عمرو په ورونو او زامنو کښی دغه زمکه څوك نه اخلی، لیکن د عمرو خور زینب وائی چی دا زمکه زه اخلم، حال دا چی ددی زمکی په څنګ کښی د زید زمکه ده، زید وائی چی دا زمکه زه اخلم۔ اوس دا زمکه د شفعی په لحاظ د زید کیږی اوکه د زینب ؟

المستفتی : قاری سراج الدین : ۲۰۰۴/۸/۶ء

جواب : الحمد لله

په دی مسئله باندی د حکم کولو نه مخکښی دا خبره یاد ساتل ضروری دی چی شفعه په نسب نه ثابتیږی، بلکه شریعت اسلامی کښی د حقِ شفعه دپاره شرائط ذکر شوی دی۔

په دی صورت د مسئلی کښی چی د زید او زینب تر مینځ د شفعی په باره کښی دعویٰ او لانجه راغلی۔ نو په دی کښی د زید دعویٰ صحیح او په حقه ده، او د زینب دعویٰ غلطه او خطاء ده۔ د زینب دعویٰ ځکه خطاء او غلطه ده چی زینب د شفعی حق نه لری نو بیا څرنګه د شفعی د عویٰ کوی ؟ ځکه سبب د شفعی خو شراکت او جِوار (ګاونډ) دی او دا سبب دشفعی خو زینب سره نشته۔

رسول الله ﷺ فرمایلی دی :

الجار أحق بسقبه او بصقبه۔ (رواه البخاری)۔

(ګاونډی د خپل قرب او ګانډ په وجه زیات حقدار دی)۔

بل ځای فرمائی :

الجار أحق بشفعة جاره. (رواه احمد وأصحاب السنن الا النسائی).

(ګاونډی ډیر حقدار دی په اخستلو د شفعی د ګاونډی نه)۔

دارنګه فقه کښیی دی :

وسببها : اتصال ملک الشفیع بالمشتری بشرکة او جِوار.

(رد المحتار والفقه الاسلامی : ۵/۷۹۴).

(د شفعی سبب دادی چی د شفیع ملکیت لګیدلی وی د مشتری سره په شرکت یا په ګاونډ سره)۔

نو په دی صورت د مسئلی کښی خو زینب، نۀ جار (ګاونډۍ) ده او نه شریکه ـ بلکه په زینب باندی د شفیع تعریف هم نه صادقیږی، ځکه شفیع ویلی شی :

هو الشریک او الجار (عند الحنفیة) ورأی الجمهور فی أن الشفیع هو الشریک فقط.

(الفقه الاسلامی : ۵/۸۰۰).

(یعنی شفیع به هغه څوك وی چی هغه ګاونډی وی او یا شریك وی)۔

نو زینب د عمرو سره نه ګاونډی ده او نه په دغه زمکه کښی شریکه ده۔ او بل طرفته د

زید سره سبب د شفعی هم شته چی ګاونډ دی،او د شفیع تعریف هم په زید صادقیږی. نو عمرو به اول په زید خپله زمکه خرڅوی، که عمرو د زید د اجازت نه بغیر په بل چا زمکه خرڅه کړه، نو زید د شفعی حق هم لری. او عمرو ګنهګار دی.

ځکه رسول الله ﷺ فرمایلی دی :

لا یحل له أن یبیع.(یعنی تر څو چی ئی خپل ګاونډی نه وی خبر کړی تر هغه وخته پوری ددی خرڅول حرام دی).

امام قرطبیؒ لیکی :

الحدیث یقتضی أنه یحرم البیع قبل العرض علی الشریك.

(نیل الأوطار : ٦/٨٣).

حاصل د جواب دا چی : په دی مسئله کښی د شفعی حق د زید کیږی، ځکه زید سره د شفعی د ثبوت ټول اسباب او شرطونه موجود دی. او د زینب دعویٰ غلطه او خطاء ده، ځکه د هغی په دعویٰ کښی نه سبب د شفعی شته چی هغه جِوار او شراکت دی، او نه تعریف د شفیع وربان‍دی صادقیږی، او نه حکمت د شفعی چی هغه (ضرر قرب الجوار) دی دلته موجود دی.

اوکه زینب وائی چی زه د عمرو سره قرابت لرم، نو ځکه د شفعی حق لرم، نو دا دعویٰ هم غلطه او خطاء ده. ځکه قرابت (خپلولی) خو سبب د حقِ شفعی نه دی.

فتاویٰ دار العلوم دیوبند (د مفتی محمد شفیع صاحب) کښی دی :

(محض د خپلولئ په بناء باندی شفعه نه ملاویږی، د حقِ شفعی د ثبوت دپاره شرائط پکار دی). (۲/۹۱۶).

د تفصیل دپاره وګوره : (الفقه الاسلامی : ٥/٧٩٢، المحلی لابن حزم : ٨/١٦، نیل الأوطار للشوکانی : ٦/٨٣، فتاوی الدین الخالص – المخطوط –لشیخنا ابی محمد امین الله حفظه الله).

جمادی الثانیه ١٤٢٤ هـ

کوهی، نهر، کاریز وغیره حریم لری که نه ؟

سوال : زمونږ په علاقه کښیی کوهیان، کاریزونه، نهرونه، ویالی وغیره ډیری دی، په

دی کښې بعضې خلق غواړي چې د بل چا د کوهي په خوا کښې په خپله زمکه کښې کوهي جوړ کړي، یا د یو کاریز، نهر، ویالې خوا کښیې کوهي جوړ کړي، نو جانب مقابل په کوهي کنستونکي باندې اعتراض کوي چې ماته به نزدې د اوبو مشین نه لګوې، ټیوب ویل، ټرین وغیره به نه لګوې.

زمونږ سوال دادې چې کوهي، نهر، کاریز وغیره حریم لري که نه ؟ که حریم لري نو څومره حریم لري ؟ تفصیلا جواب راکړئ.

(محمد فضل (فضلي) چلتن، شلګر.)

جواب : الحمد لله : دې مسئله کښې یو څو خبرې دي:

(۱) **اوله خبره** : اصل مسئله خو داده چې د زمکې لاندې اوبه د ټولو مسلمانانو شریکې دي. رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلي دي :

المسلمون شرکاء فی ثلاث : الماء، والکلأ ، والنار.

(أخرجه ابوداود، واحمد، وابن أبی شیبة، وابن ماجه والطبرانی، کما فی نصب الرایة ۲۹٤/٤، وسنده صحیح).

ترجمه : مسلمانان په درې شیانو کښې شریك دي. (۱) اوبه (۲) وابښه(ګیاه) (۳) او اور.

ددې وجې نه په اتفاق د علماؤ سره د زمکې لاندې اوبه خرڅول او اخستل جائز نه دي.

ځکه دا شریکې، غیر محرز او غیر مملوکې دي.

(اوګوره : الفقه الاسلامی : ٤٥١/٤ـ ۳٥۸/٤، ۳۹۲، ٥۰٦، ٥۱۷).

نو کله چې د زمکې لاندې اوبه مشترکې شوې، هر مسلمان دا حق لري چې هغه ئې د څکاك، وینځلو او فصل اوبه کولو لپاره استعمال کړي، نو که یو کس په بل اعتراض کوي چې ته دلته برمه، پمپ مه لګوه ځکه زما اوبه کمیږي، نو دا اعتراض هیڅ اصل او اساس نه لري، ځکه دا اوبه خو دده نه دي، نو بیا څرنګه وائي چې زما اوبه دي ؟

(۲) **دوهمه خبره** چې د حریم ده چې مثلا چینه به دومره حریم لري، کاریز به دومره حریم لري، کوهي به دومره حریم لري، نو ددې هم څه قوي دلیل نشته، بلکه دې باره کښې مرسل روایت شته او بعضې نور ضعیف روایتونه هم شته. البته صرف د کوهي په باره کښې راغلي دي چې :

من حفر بئرا فله اربعون ذراعا عطنا لماشیته.

(رواه ابن ماجه ٢٤٨٦، والطبراني والدارمي : ٢٧٣/٢، وقد حسنه الشيخ الألباني في الصحيحة ٢٥١)۔

او د چینی باره کښی چی د (۵۰۰) ګزو د حریم خبره ده یا د بئر ناضح (آرهټ) خبره ده چی شپیته (٦٠) ګزه ده، نو هغه ټول مرسل روایتونه دی۔

د تفصیل لپاره وګوره : (اعلاء السنن ١٣/١٨، احياء الموات واثره في التنمية الاقتصادية : ١١٨ – ١٢٩)۔

لیکن که چیری صحیح هم شی نو دی کښی دا خبره یاد ساتل پکار دی چی د فقهی یا داحادیثو په کتابونو کښی چی د چینی، کوهی، آرټ، نهر، ونی کوم حریمونه (خوا اوشا علاقو) ذکر راغلی دی: نو دا ټولی خبری د (ارض موات) دپاره دی۔دا وجه ده چی ټولو علماؤ د حریم بحثونه په (ارضِ مُوَات) او (احياءِ ارض موات) کښی راوړی دی۔

دا خبره د ارضِ مملوکی په باره کښی بالکل نه ده۔ که څوك وائی چی دا حریم چی ذکر کیږی نو دا د ارضِ مملوکی په باره کښی هم دی، نو په دی باندی ورته دلیل پیش کول ضروری دی۔ چی ددی دلیل نشی پیش کولی۔

لیکن کله چی یو کس د ارضِ موات احیاء وکړی نو دا حریم به ورته مقرریږی، مثلا یو ځای کښیی کوهی جوړ کړی نو بل کس به ورته نزدی نه جوړوی۔

سره ددی نه چی دغه مذکوره حریمونو باندی څه حجتِ قویه هم نشته۔ صرف مرسل روایتونه دی باره کښی شته دی چی دا هم د ضعیف حدیث یو قِسم دی۔ چی مسئله پری نه ثابتیږی۔

دلته یو څو شیانو حریم ذکر کیږی مثلا یو کس د (ارض موات) احیاء وکړه (یعنی شاړه زمکه ئی آباده کړه) نو ددی حریم په لاندی ډول دی :

حریم النهر : کله چی یو کس په ارضِ موات کښی نهر جوړ کړی نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نیزد دنهر حریم نشته۔

وقال ابو يوسف ورأيه هو المفتى به : يقدر نصف أرض النهر من كل جانب وقال محمد : يقدر بقدر عرض النهر من كل جانب.

(وګوره : البدائع الصنائع : ١٩٥/٦، تكلمة فتح القدير : ١٣٩/٨، رد المحتار : ٣٠٨/٥، الفقه الاسلامي : ٥٤٧/٥، ٥٦٦).

حریم القناة (کاریز) :

وهی مجری الماء تحت الأرض۔ (رد المحتار : ۲۸۰/۵، الفقه الاسلامی : ۴۵۱/۴)۔

په البحر الرائق : ۲۱۲/۸، کښې علامه ابن نجیم لیکی :

و القناۍ : مجری الماء تحت الأرض، لأنه نهر فی الحقیقی۔ تعتبر بالنهر ولأن الأنهار والآبار والحیاض لم توضع للاحراز والمباح لایملك الا بالاحراز۔

فتاوی حقانیه کښې دی چی :

(فقهاءِ کرامو کاریز د نهر په حکم کښې ګرزولی دی، د نهر د اوبو پشان د کاریز اوبه هم مملوك او محرز نه دی)۔ (۹۴/۶)۔

نو مخکښې تیر شو چی :

لیس للنهر حریم فی ملك الغیر عند أبی حنیفی۔، وقال ابو یوسف : قدر نصف بطن النهر من کل جانب أی : نصف العرض، وقال محمد : قدر جمیع بطن النهر من کل جانب، أی عرض النهر۔ (الفقه الاسلامی : ۵۶۷/۵)۔

حاصل د مسئلی دا چی : د کاریز په خوا کښې برمه وهل، پمپ، ټربن لګول بالکل جائز دی۔ صرف دومره اندازه لری لګول پکار دی چی د کاریز ختې نه نیسی، نور هر ځای او هر څومره اندازه کښې برمه وهل جائز دی، ټربن لګولی شی، ځکه هر انسان په خپله زمکه کښې هر قِسم تصرف کولی شی، او د زمکی لاندی اوبه د هیچا ملکیت هم نه دی، هر انسان د هغی نه فائده اخستلی شی۔ که د چا اوبه وریاندی کمیږی اوکه ډیریږی۔

اوکومه خبره چی د حریم ده، نو هغه د هغه چینو، کوهیانو، کاریزونو، نهرونو په باره کښې ده چی ارضِ مُوات (شاړه زمکه) کښې وی۔ سره ددی چی د حریم په باره کښې ټول روایات ضعیف هم دی۔

دی وجی نه فقهاؤ د حریم مسائل په ارضِ موات کښې لیکلی دی۔

د تفصیل دپاره وګوره :

(جامع الفقه ۵۴۳/۴، المحلی لابن حزم ۸۱/۷، رد المحتار ۲۸۰/۵، اعلاء السنن ۱۳/۱۸، التنبیه علی مشکلات الهدایة لابن أبی العز الحنفی ۸۱۰/۵، البحر الرائق ۲۱۲/۸، احیاء الأرض الموات وأثره فی التنمیة الاقتصادیة (مستقله رساله) المدونة الکبرة ۱۸۹/۶، الشرح الصغیر ۹۰/۴، مغنی المحتاج ۳۶۳/۲، المجموع للنووی ۲۱۴/۱۵، الفقه الاسلامی وأدلته ۵۴۷/۵، ۵۶۶، البدائع الصنائع ۱۹۵/۶).

یو څوک په زوی توب (متبنی) نیول

سوال : دوه ورونړه وو، په دی کښی د یو ورور اولاد نه کیدۀ نو د هغه ښځی خپل لیور نه دده یو ځوی وغوښتل، هغوئ هم په دی خاطر ورکړو چی دده د ورور او ورندار زړۀ به ورباندی خوشحاله شی، په دی کښی ډیر کلونه تیر شو، ددی هلك خوراك څښاك، خرچی به ئی تره ورکول، اوس بیرته ددی هلك پلار غواړی چی خپل ځوی را واپس کړی، لیکن دده ورور او ورندار ئی نه ورکوی۔ هغوئ وائی : دا مو یو ځل را کړی دی اوس ئی نه درکوو۔ بیا وائی که بالفرض ډیر زور ورباندی راشی نو مونږ چی په دی هلك څومره خرچی د خوراك، تعلیم، علاج معالجی کړی ده نو دابه مونږ ته راکوی۔ لیکن د هلك پلار هلك خامخا را واپس کوی او خرچی ورته نه ورکوی۔

دا مسئله د قرآن او سنت په رڼا کښی راکړئ !

جواب : که چیری صورت د مسئلی داسی وی نو په دی صورت کښی د ماشوم پلار او مور خپل بچی بیرته واپس اخستلی شی۔

ددی یو څو وجوهات دی۔

(۱) دا ماشوم خو دوئ وریاندی خرڅ کړی نه دی۔ که بالفرض دوئ وریاندی خرڅ هم کړی نو بیا هم دا خرڅول اخستل صحیح نه دی، ځکه حدیث کښیی دی :

ثلاثة انا خصمهم یوم القیامة رجل باع حرا وأکل ثمنه. (رواه البخاری ومسلم).

(دری کسان دی چی د قیامت په ورځ به (الله فرمائی) زه ورسره جګړه کوم، یو په هغی کښی هغه کس دی چی آزاد انسان خرڅ کړی او د هغی پیسی وخوری)۔

(۲) دا صورت د هبی هم نشی کیدی، ځکه هبه د هغه څه صحیح کیږی چی د انسان ملکیت وی، او هغه څیز مال وی۔ او دا ماشوم حُر (آزاد) دی او مال هم نه دی چی څوك ئی مالك شی۔

لکه الفقه الاسلامی (۳۱۳/۵) کښی دی :

الشرط الثانی للموهوب : أن یکون مالا متقوما فلا تنعقد هبۃ ما لیس بمال أصلا کالحر والمیتۃ الخ۔

(۳) ددی متبنیٰ کیدل هم نه صحیح کیږی ځکه د متنبی احکام منسوخ شوی دی۔
و ما جعل أدعیائکم ابنائکم ذلکم قولکم بأفواهکم. (سورتِ احزاب)۔
(٤) البته ددی ماشوم اعاره صحیح کیږی چی ددی ماشوم مور پلار خپل ځوی بل چاته اعاری (سوالی) ورکړی۔ ځکه دا ماشوم اعاره هم صحیح ده۔
تصح الاعارۃ فی کل عین ینتفع بها مع بقائِها کالدور والأرضین والثیاب والدواب وسائر الحیوان و جمیع ما یعرف بعینه اذا کانت منفعۃ سباحۃ الاستعمال. (الفقه الاسلامی ۵۷/۵)۔
دارنګه فتح الباری کښی حافظ ابن حجرؒ حدیث راوړی:
ان النبی ﷺ طلب من أبی طلحة لما أراد الخروج الی خیبر من یخدمه ... الحدیث. (۳۷۷/۱۰).
(نبی ﷺ چی کله خیبر ته د وتلو اراده وکړه نو د ابو طلحه رضی الله عنه نه ئی د یو داسی کس مطالبه وکړه چی د هغویٔ خدمت وکړی)۔
نو ددی حدیث نه معلومه شوه چی د انسان اعاره هم جائز ده۔ او دَ انسان بیع یا هبه جائز نه ده، ځکه هغه حُر (آزاد) دی او د آزاد بیع او هبه جائز نه وی۔
درارنګه حدیث کښی دی:
والعاریة مؤداة (رواه أبوداود والترمذی).
(سوالی شی به بیرته واپس کولی شی)۔
دارنګه اعاره صرف د امانت پشان دی او عقدِ غیر لازم دی، نو په دی وجه د ماشوم مور پلار چی کله اوغواړی خپل بچی واپس کولی شی۔
په الفقه الاسلامی کښی دی:
لأن العاریة عقد غیر لازم یجوز الرجوع عنه فی أی وقت. (۶۰/۴، ۴۹۳/۵، ۴۹۶).
ددی ټولو وجوهاتو په بناء دَ ماشوم مور پلار خپل بچی بیرته واپس اخستلی شی۔
او هر چی د خرچی خبره ده: نو هغه هم د ماشوم د پلار نه نشی غوښتلی ځکه دده وررور خو دا پیسی د قرض په شکل نه دی مصرف کړی، بلکه ده د خپلی فائدی دپاره مصرف کړی دی، چی هغه د ماشوم اعاره وه، او د ماشوم پلار خپل بچی په اعاره مطلقه ورکړی دی، او په اعاره مطلقه کښی هر وخت رجوع جائز وی۔ وبالله التوفیق۔

په دې صورت کښې دا ځای د چا دی؟

سوال : داسلامی دین علماء په دې خبره کښې څه فرمائی چې دوه ورونه دی او په دویٔ کښـې یو دا اراده لری چې زه بهر ملك (امریکی) ته د تبلیغ دپاره ځم، او هغه بل ورور ورته ووائی چې دغه مشترك ځای چې زما او ستا په مابین کښې دی هغه خرځ کړه او تبلیغ ته لاړ شه چې زما هم ثواب اوشی۔ لیکن نه هغه ځای خرځ کړو او نه تبلیغ ته لاړ۔ اوس دا دعویٰ کوی چې دا ځای زما دی او ستا په کښې حق نشته او تا ماته راکړی دی۔ اوس دا یوائې د هغه کیږی او که نه د دویم هم ورسره حق شته دی ؟

نـوټ : لیـکـن ماچې هغې ته کوم خط ورکړی دی په هغې کښې دا نه دی لیکل شوی چې بهر ملك تـه ځې، لیکن په دې خبره ګواهان موجود دی، چې ما په دې شرط ورکړی چې (امریکی) ته به د تبلیغ دپاره ځې۔ دویم د هغه مدعیٰ داده چې ستا په ځای کښې چې کـوم تـامـاتـه راکړی دی بل دریم کس دعویٰ کړی وه او د هغه نه دا زمکه ما راګرځولی ده، ستـا پـه کښـې حق نشته دی۔ او حال داچې ما ورسره هم په دغه لانجه کښې منډې ترړی وهلی وی، خو هغه ئې نه منی او ددی نه منکر دی۔

ماته ددې لانجې په باره کښیې د قرآن او سنت مطابق فتوٰی راکړیٔ !

جواب : کـه چیـرې صـورت د مسـئـلې داسې وی کوم چې تا په سوالیه کښې لیکلی دی، نـو دا صـورت د هبـه بـالشـرط پـه حـکـم کښې داخلیږی، او هبه بالشرط هم جائز ده، لیـکـن کـلـه چې مـوهـوب د واهـب په شرط عمل اونه کړی نو واهب په خپله هبه کښې رجوع کولی شی۔

رسول الله ﷺ فرمایلی دی :المسلمون علی شروطهم.

(رواه ابو داود ۳۵۹۴، والترمذی ۱۳۵۲، وغیرهما کما فی الارواء تفصیلا : ۱۶۸/۶، ۳۰۱)۔

ترجمه : مسلمانان به په خپلو شرطونو باندې ولاړ وی۔

دا شان خبره په فقه حنفی کښیې هم لیکلی شوی ده۔

فتاوی حقانیه (۳۸۱/۶) کښې دی :

(د احنافو په نیز اګرکه په هبه کښې رجوع کول جائز دی، مګر د کراهت نه خالی نه دی،

ليكن كله چې هبه په يو شرط پورې معلقه كړې شي نو د شرط د نه موجوديدلو په صورت كښې رجوع كول بغير د كراهت نه جائز دي، اګركه په نورو الفاظو سره هبه د سره منعقد شوې نه ده)۔

الغرض : دا زمكه اوس هم ستا ملكيت دې او ستا ورور په دې كښې حق نه لري، ليكن كه چېرې بيا هم ورياندې په زور قبضه كوي، نو د قيامت په ورځ به ئې دا حال وي چې :

عن سعيد بن زيد قال : قال رسول الله ﷺ : من أخذ شبرا من الأرض ظلما فانه يطوقه يوم القيامة من سبع أرضين. (متفق عليه).

(څوك چې يوه لويشت زمكه په ناحقه قبضه كړي، نو الله تعالىٰ به ده ته د قيامت په ورځ اووه زمكې په غاړه كښيې ورواچوي)۔ والعياذ بالله۔

١٦/١/١٤٢٦هـ ٢٦/٢/٢٠٠٥ء

د تقسيم مسئله

سوال : څلور وروڼه دي او ټول شريك وو، دې شركت كښې ټولو ورونو نكاحونه وكړل، د يو ورور په نكاح كښې بدل شغار شوې دې۔ (٢) د دويم ورور په نكاح كښې سامان دې او يوه توله سونا عوض دې، دا سامان او سره زر آته ديرشت زره روپۍ جوړيږي۔ (٣) دريم ورور نكاح وكړه او د شريك كور نه ئې سامان ښځې ته وكړې شي او مهر په كښې نشته، يعني سره زر نه دي مقرر شوي۔ (٤) څلورم ورور په نكاح كښې دوه نيمې (١/٢ : ٢) تولې سرۀ زردي او لږه خرچه شوې ده۔

اوس دا وروڼه بيليږي او تقسيم كوي نو دا مهرونه به تقسيميږي اوكه نه ؟

وجزاكم الله خيرا۔

جواب : كه چېرې صورت د مسئلې داسې وي څرنګه چې په سواليه كښې ليكل شوي دي، نو كله چې وروڼه سره بيليږي نو د دوئ د ښځو ګاڼه (سرۀ زر) به نه تقسيميږي، ځكه تقسيم خو فرع د اشتراك ده، نو كله چې دوئ په دې كښې شريك نه دي، نو بيا د تقسيم دعوىٰ او مطالبه څنګه كوي ؟ د يوې ښځې په مهر كښې د هغې خاوند هم حق نه لري، چې د ښځې نه ئې واخلي يا په هغې كښې د شراكت مطالبه وكړي۔ نو د هغې ليور

ته خو په طریقه اولیٰ نه دی جائز چی د شرکت مطالبه وکړی۔ الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ وکیف تاخذونه وقد افضیٰ بعضکم الی بعض ﴾۔
(او ښځو ته ورکړی مهرونه تاسو څرنګه اخلئ حال دا چی ځینو په تاسو کښی ځینو ته رسیدل کړی دی)۔
او فرمائی : ﴿ فان طبن لکم عن شئ نفسا فکلوه هنیئا مریئا ﴾۔
(نو که چیری دی ښځو تاسو (خاوندانو) ته د خپل زړهٔ په خوشحالی څه درکول نو هغه خورئ چی ښه تیریدونکی او مبارك دی)۔
ربیع الأول : ١٤٢٦/٤هـ

د ټول قوم په زمکه د یوځو کسانو قبضه

سوال : یو غر حکومت هم د قوم دپاره چراګاه ګرزولی وی او د قوم مشران هم چراګاه ګرزولی وی او دغه غر تر لری وخته پوری قومی چراګاه په حیثیت استعمال شوی هم وی، او د هغی لرګی یا واښه د قوم په پیسو لوی شوی وی، یعنی چوکیدار ته د قوم هر کور د قوم مقرره شوی حصه تنخواه ورکړی وی، او د ټول قوم تر اوږد وخته پوری هغه قومی چراګاه په حیثیت خوړلی وی، بیا دغه قوم کښیی د قوم بعضی خلق راپاځی او د دغه قوم بعضی هغه خلق چی هغه دی کښی شریك وو، هغه ورنه او باسی، او د زمکی نه ئی هم محروم کړی او د هغوئ نه بوټی هم قبضه کړی، چی هغه د ټول قوم په مال لوی شوی وی، او دغه بوټی پریکړی او بیائی خرڅ کړی، او د هغی قیمت د قوم بعضی خلق اوخوری، او څوك ئی چی ایستلی دی هغوئ ته ئی هیڅ ورنه کړل۔
د قوم دغه بعضی خلق د غر نه ایستل شرعا څه حکم لری ؟ مقصد دا چی د قوم داسی چراګاه یا د قوم بعضی خلق بعضو لره ایستلی شی اوکه نه ؟ او که ئی اوباسی نو دداسی غاصبانو لپاره شریعت څه حکم کوی ؟
دا رنګه وقف، هبه، میراث، احیاء (آبادول)، صدقه، استبراء او اقطاع بیل بیل څه شرعی تعریف لری ؟ اوچراګاه په کوم تعریف کښی راځی ؟ د قرآن او سنت په رڼا کښیی فتویٰ راکړئ۔

جواب : كه چيرى صورت د مسئلى داسى وى څرنګه چى په سواليه كښى ليكل شوى، نو ستاسو په مسئله كښيى يو څو مسائل دى۔

۱ - تاسى ته چى حكومت كومه زمكه او غر دركړى دى نو دا د اقطاع حكم لرى، او اقطاع په شريعت كښى ديته وائى :

هو جعل بعض الأراضى الموات مختصة ببعض الأشخاص.

(الفقه الاسلامى ٥/٥٧٥).

(يعنى ځينى شاړى زمكى د حكومت له خوا خاصو كسانو ته وركول)۔

او د حكومت د طرفه اقطاع كول جائز دى، لكه حديث كښيى دى۔

۱ - عن وائل بن حجر ان النبى ﷺ اقطعه أرضا، بحضرموت وبعث معاوية ليقطعها اياه. (رواه الترمذى وصححه كما فى نيل الأوطار ٣١٢/٥).

۲ - وعن ابن عمر رضى الله عنهما أن النبى ﷺ أقطع الزبير حضر فرسه وأجر الفرس حتى قام. (رواه أحمد وأبوداود).

۳ - وعن عمرو بن شعيب ان النبى ﷺ أقطع ناسا من جهينة او مزينة أرضا. (رواه سعيد بن منصور فى سننه).

نو كله چى يو حكومت يو قوم ته څه زمكه وغيره وركړى نو په دى كښى به ټول قوم شريك وى، كه چيرى څه كسان ورباندى په زوره قبضه وكړى نو دا ظالمان دى، د قرآن او حديث خلاف كار كوى۔ خصوصا ستاسو مينځ كښى خو معاهده هم شوى ده چى تاسو هغوئ ته اوبه وركولى او هغوئ تاسو په غرۀ كښى ځان سره شريك كړى دى۔

دى باره كښى د قرآن او حديث نه بى شماره دلائل دى۔ چى پردى مال خوړل، استعمالول، په پردى مال قبضه كول دا ټول حرام دى۔ لكه حديث كښيى دى :

وعن ابى بكر - رضى الله عنه - ان رسول الله ﷺ قال فى خطبة يوم النحر بمنى فى حجة الوداع : ان دمائكم واموالكم واعراضكم حرام عليكم، كحرمة يومكم هذا، فى شهركم هذا، فى بلدكم هذا، ألا هل بلغت. (متفق عليه).

ترجمه : ابو بكر صديق رضى الله عنه نه روايت دى، رسول الله ﷺ په مِنى كښى د لوى اختر په ورځ د حجه الوداع په خطبه كښيى وفرمايل : بيشكه ستاسو وينى، ستاسو

مـالـونـه او ستـاسـو عزتونه په تاسو باندی داسی حرام دی لکه څنګه چی ستاسو دا ورځ، ستـاسو په دی میاشت کښی، ستاسو په دی ښاریه کښی حرامه ده، خبردار! ګواه شئ چی ما د تبلیغ حق اداء کړو)۔

اوس راشه په سوالیه کښیی د اقطاع، احیاء، هبه، میراث، ابراء او و قف تعریفونه وګوره

۱ – **اقطاع** : هـو جـعـل بـعـض الأراضـی الـموات مختصیۃ ببعض الأشخاص . (الفقه الاسلامی ۵۷۵/۵)۔

(یعنی بعضی شاړی زمکی په یو څو معینو کسانو پوری خاص کولو ته اقطاع وائی)۔

۲ – **احیاء** : اصـلاح الأرض الـموات بـالبـنـاءِ أو الغرس او الكراب (قلبها للحرث) وغير ذلك. (الفقه الاسلامی ۵۵۰/۵)۔

اصـلاحهـا ببـناء او غرس او سقی او تفجیر ماء او حرث بحیث تصبح الأرض منتفعا بها. (الفقه الاسلامی ۵۴۴/۵)۔

۳ – **الهبه** ٤ – **والصدقه** : عقد یفید التملیك بلا عوض حال الحیاۃ تطوعا .
(الفقه الاسلامی ۵/۵)۔

۵ – **ابراء** : هـو اسـقـاط شـخـص حـقا لـۂ فی ذمۃ آخر او قِبلۂ كاسقاط الدائن دینۂ الذی لـۂ فی ذمۃ المدین . (الفقه الاسلامی ۳۲۶/۵)۔

۶ – **میراث** : مـا خـلـفـه الـمیـت مـن الأمـوال والحقوق التی یستحقها بموتۂ الوارث الشرعیو. (الفقه الاسلامی ۲۴۳/۸)۔

۷ – **الوقف** : هـو حبـس الـمـال عـن التـصـرف وتـخـصیص ریعۂ الی البر تقربا الی الله تعالیٰ . (الفقۂ الاسلامی ۸۵/٤)۔

هـو حبـس الـعیـن عـن تـملیـكها لأحد من الناس وصرف منفعتها الی الموقوف علیه. (الفقه الاسلامی ۴۹۴/۵، ۶۰/٤)۔

۱٤۲۶/۶/۱۹هـ

که د څوکیدار نه غلا اوشی نو تاوان به په چا راځی ؟

سوال : زه پـه یـو مـدرسه کښی څوکیدار وم، په مدرسه کښی دننه ډیر قیمتی مالونه

موجود وو، ډیر وخت می څوکیداری – الحمد لله – په ډیره ایمانداریٔ سره وکړه، یو وخت داسی واقعه مینځ ته راغله چی د مدرسی د یوی کوټی نه یو قیمتی کمپوټر ورك شو، کمپوټر چی په کومه کوټه کښی وو، نو هغه به قلف وه، په کومه ورځ چی ددی کوټی نه کمپیو ټر ورکیدهٔ نو په دی شپه تر سهاره پوری ورته قلف لګیدلی وو، ما په خپلو سترګو ولیده، لیکن د سهار د لمانځه نه پس تر چای څښلو پوری دغه وخت کښی ددی کوټی نه کمپیوټر چا پټ کړو، او هغه په داسی طریقی سره چی قلف مات شوی نه وو، بلکه په چابی(کیلی) خلاص شوی وو، غلهٔ قلف هم د ځان سره وړی وو۔

اوس مدرسی والا په ما د تاوان دعویٰ کوی، چی ددی کمپیوټر تاوان به ته راکوی۔ زه وایم : ما خو غل نه دی لیدلی ، قسم ته هم تیاریم، نهٔ ور چا مات کړی، نه قلف، نه چا د غی کوټی ته سوری کړی، کیدی شی په تاسی د مدرسی والو کښی چا پټه چابی(کیلی) جوړه کړی وی او هغه ئی پټ کړی وی۔ اوس ئی زه د څوکیداریٔ نه هم ویستلی یم، او زما تنخوا د کمپیوټر تاوان کښی ایساروی۔

دی باره کښیی د قرآن او سنت مطابق فتویٰ راکړیٔ !وجزاکم الله خیرا !

جواب : ستاسو په مسئله باندی د حکم کولو نه مخکی یو څو خبرو ته توجه کول ضروری دی:

۱ – **حارس** یعنی څوکیدار د اجیرِ خاص حکم لری، ځکه اجیرِ خاص ویلی شی :

من استوجر علی ان یعمل للمستأجر فقط، ویسمیه بعض الفقهاءِ اجیر الوحد، کالخادم والموظف.

(الموسوعة الفقهیة بحث فی اجارة الأشخاص، ۱۰۲).

هو الذی یتقبل العمل من واحد اویعمل لواحد مدة معلومة ویستحق الأجر بالوقت دون العمل.

(الموسوعة، ۲۸ جلد، مسئلة ٦۱، ضمان الاجارة).

فلو استأجر اهل قریة معلما او اماما او مؤذنا وکان خاصا بهم کان أجیرا خاصا.

(الموسوعة جلد اول بحث الأجیر).

د پورتنو تعریفونو نه معلومه شوه چی څوکیدار هم په اجیرِ خاص کی داخل دی۔

ددی وجی نه ګڼو اهلِ علمو څوکیدار په اجیر کښی ګڼلی او دده ذکر ئی په باب د اجیر کښی کړی۔

۲ - د اجیرِ خاص حکم :

الموسوعۍ الفقهیۍ الکویتیۍ کښیی دی :

و الأجیر الخاص أمین فلا یضمن ما هلک فی یده من مال او ما هلک بعمله الا بالتعدی أو التقصیر وله اجرة کاملة، اما انه لا ضمان علیه لما تلف فی یده من مال : فلأن العین أمانة فی یده لأنه قبضه باذن رب المال فلایضمن . (الموسوعة جلد اول مسئله ۱۰۷).

څوکیدار ځکه د امین حکم لری چی د امین تعریف وربان‌دی صادق دی۔

الموسوعۍ الفقهیه (۲۸) جلد بحث الامانه رقم (٦٦) کښی دی :

ید الامانی : حیازۍ الشئ أو المال نیابۍ لا تملکا کید الودیع والمستعیر والمستأجر، وحکم ید الأمانی أن واضع الید أمانی لا یضمن ما هو تحت یده الا بالتعدی والتقصیر.

بیا بل ځای د تقصیر او تعدی ضابطه داسی بیانوی :

تعدی : ضابطۍ التعدی هو مخالفۍ ماحده الشرع أو العرف . (الموسوعۍ جلد ۲۸، بحث التعدی رقم ۸)۔

نو هر کله چی څوکیدار د اجیر او أمین په تعریف کښی داخل دی، او په امین باندی خو تاوان نه وی، په دلیل د حدیث د (العاریة مؤداة) یعنی که عاریه امانت موجود وی نو اداء به کړی شی، اوکه نه وی نو تاوان نشته۔ دا حدیث ترمذی او ابوداود کښیی دی۔ دارنګه عام اهلِ علم وائی چی په امین باندی تاوان نه وی، کله چی دۀ تعدی (زیاتی) نه وی کړی۔

قال تعالی : ﴿ ولا تأکلوا اموالکم بینکم بالباطل ﴾. وقال علیه السلام : (ان اموالکم واعراضکم حرام علیکم ... الحدیث) وقال طاووس وابن شبرمة والحسن البصری وابن سیرین ویزید بن عبد اللّٰه : انه لا ضمان علی الأجیر وهو اختیار عوام اهل العلم، واختاره ابن حزم فی المحلی (۲۸/۷)، وقال عمر وابن مسعود وعلی رضی اللّٰه عنهم : لیس علی الأمین ضمان، کما فی الجوهر النقی ٦/ ۹۰).

نو په مسئله مذکوره کښی هم په حارس (څوکیدار) باندی تاوان نشته، هُؤ که دویم څوکیدار تعدی او زیاتی کړی وی شرعا یا عرفا، نو هغه به تاوان ورکوی۔ ځکه دا حدیث ورته اشاره کوی (والزعیم غارم) رواه ابوداود۔ (یعنی څوك چی د یو شئ ذمه واری واخلی، دهغی تاوان به ورکوی)۔

ددی دلائلـو نه علاوه نورو علماء كرامو هم د عدم تقصير او تعدی په صورت كښيی په څوكيدار باندی ضمان نه ګڼی۔

لكه په مغنى المحتاج (٤٤٠/٣) كښيی خطيب شربينیؒ ليكی :

الأجير لحفظ الدكان مثلا لا ضمان عليه اذا أخذ ما فيه لأنه لا بدله على المال قال القفال : وهو بمنزلة الحارس فی السكة لو سرق من بيت من بيوت السكة لم يكن عليه شئ.

دارنګه كتاب الفقه على المذاهب الأربعه (١٤٨/٣) مباحث الاجاره كښيی دی :

ومثلها حارس السوق وحافظ العمارة فانه اذا ضاع منها شئ لا يضمنه لأنه أجير خاص.

دارنګه امام ابن حزمؒ په (المحلى : ٧) كی ديته ترجيح وركړی چی په اجير باندی د عدم تقصير په صورت كښيی څه ضمان نشته۔

قاضی شوكانیؒ هم ديتـه تـرجيـح وركړی۔ دارنګه په كشاف القناع عن متن الاقناع (٣٣/٤) كښيی ديته ترجيح وركړی شوی ده۔

پدی صورت كښی به تاوان څوك وركوی؟

سوال : يـو شپـونـكـی ته د بل شپونكی ډَرَمی نه يوه ګډه ورغله، دغه شپونكی چی چيـرتـه خپـل مـالـونـه سـاتـل نـو دا ګډه ئی هلته پريښودله د سرای مالك دا ګډه ځان سره يـو كـال ايساره كړه، كال پس ددی ګډی مالك پيدا شه نو هغه د خپلی ګډی مطالبه وكړه، د سـرای مـالك ورتـه وائی : ګډه دی واخله، ليكن ماته د يو كال مصرف راكړه، ځكه زما ستا پـه ګډه باندی ډيرمصرف شوی۔ د ګډی مالك مصرف نه وركوی، په دی كښی د دوئ غـتـه لانـجـه راغـلـه۔ اوس پـه دی بـاره كښيی شرعی فتوٰی غواړی چی د ګډی په مالك د ګډی مصرف وركونكی ته، د هغه د مصرف تاوان شته اوكه نه ؟

(مولوی عبد الشكور، وردګ)۔

جواب : مـذكـوره صـورت تـه په شرعی اصطلاح كښی لقطه ويلی شی۔ د ګډی، وزی لقطه ګرځول صحيح دی، لكه حديث كښيی راځی :

قال : فضالـۀ الغنم ؟ قال (ﷺ) : هی لك او لأخيك او للذئب . (بخاری، مسلم)۔

وركه ګډه يا ستا ده يا ستا د ورور (اصلی مالك) ده، او يا د شرمخ ده۔

۲ – د لقطی (لاره کښیی راختسلی شوی شئ) حکم دادی چی که دا قیمتی مال وی نو تریو کاله پوری به ساتلی شی، په دی موده کښیی به ددی د ورکی اعلان کولی شی، لکه ګڼو احادیثو کښیی راغلی چی :
(اعرف عفاصها ووکائها ثم عرفها سنة)۔
(بخاری ۳۲۸/۱، مسلم ۷۸/۲، الفقه الاسلامی ٤٨٦٥/٦).
یعنی ددی نښی نښانی وویپژنه او بیائی تریو کاله پوری خلقو ته اعلان وکړه۔
۳ – د داسی قِسم لقطی راختسل ضروری دی، دارنګه په دی باندی خرچی کول هم پکار دی۔
ځکه حدیث راځی : (خذها) یعنی هغه را اونیسه (ثم استنفق بها) بل روایت کښیی (فاستنفقها) دی۔ یعنی خرچی پری وکړه۔
(بخاری ومسلم وغیرهما).
دارنګه ددی اخستل په دی وجه هم ضروری دی که هغه پاتی شی نو ضائع کیږی او هلاکیږی۔ او حال داچی رسول الله ﷺ د مال ضائع کولو نه منع فرمایلی ده۔ حدیث کښیی دی : (نهی رسول الله ﷺ عن ضیاعة المال).
٤ – د لقطی حکم په اسلام کښی د ودیعی (امانت) دی۔ لکه امام بخاریؒ په خپل صحیح کښیی باب راوړی : باب ما جاء صاحب اللقطة بعد سنة ردها علیه لأنها ودیعة عنده، (بخاری ۳۲۹/۱).
دی باره کښیی مرفوع حدیث دادی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی :
(فان لم تجئ صاحبها کانت دویعة عندك) رواه مسلم ۷۹/۲.
بل روایت کښی دی : (ولتکن ودیعة عندك).
(رواه مسلم ۷۹/۲، والطحاوی ۲۵۱/۲، والبیهقی والدارقطنی، فتح الباری).
نو کله چی لقطه د ودیعی (امانت) حکم لری نو دویعه کښیی قانون دادی چی :
اولاً – که لقطه نفقی او خرچی ته محتاج وی نو په هغی کښی :
۱ – د امام مالكؒ د رجوع قائل دی چی اصل مالك نه به اخستلی شی۔ او امام ابو حنیفهؒ، امام شافعیؒ او یو روایت کښی امام احمدؒ ددی قائل دی چی ملتقط به دا کاریا

تبرعا او احسانا دا کار کړی وی نو بیا خو رجوع نشته، ځکه صدقه کښیی رجوع جائز نه ده۔

(کمثل الکلب یعود فی قیئه) جوړیږی (رواه البخاری).

اوکه د نفقی د اخستلو اراده وی نو بیا به د حاکم نه اجازت غواړی یا به په نفقه ګواهان پیش کړی۔ قاضی او حاکم به حیوان ته وګوری که منفعت ئی لرل نو د حیوان خرچی به د هغه د منفعت نه کولی شی، لکه پیۍ یا وړیۍ ئی خرڅول یا په اجاره ورکول، اوکه منفعت ئی نه وو، نو بیا به په ملتقط باندی خرچی کوی او په اصل مالك پسی به ئی حسابوی۔

وفی الفقه علی المذاهب الأربعة (۳٤۱/۲) : ولا یلزم الایجاب والقبول فی القرض الحکمی، وذلك کما اذا وجد دابة لقطة فأنفق علیها، فان الانفاق علیها له حکم قرض صاحبها الخ، ولا بد فی القرض من رد البدل، فکذا ههنا.

وفی اعلام الموقعین (٤۱/۲) : ان المودع والوکیل والشریك اذا اعتاض عن النفقة علی الحیوان بالرکوب والحلب جاز ذلك کالمرتهن.

وانظر مجموعة الفتاوی ۵٦۱/۲۰، والفقه الاسلامی ٤۸٦۷/٦ وفتاوی الشبکة الاسلامیة رقم الفتوی(٤۵٤٦۵).

د غل او د مال د مالک اختلاف

سوال : یو سړی دی چی د یو دکان نه ئی غلا وکړه او هغه بل چا ولیدهٔ او د کاندار ته ئی خبر ورکړو، نو د مال خاوند غل په وهلو وهلو باندی په غلاقائله کړو۔

اوس د مال خاوند وائی چی زمادی یو نیم لکھ روپیۍ وړی، او غل وائی چی ما روپیۍ نه دی لیدلی، زه روپو پسی دکان ته لاړم او روپیۍ نه وی، خو نور سامان می واخسته او هغه سامان معلوم دی۔

مطلب دوکاندار د ډیر مال دعوه کوی او غل وائی مالږ شی غلا کړی ۔

امید دی چی تاسو به دی باره کی د قرآن او حدیث په رڼا کښی فتوٰی راکړیۍ چی مونږ په هغی عمل وکړو۔ ل

وجزاکم الله خیرا۔

جواب : هر کله چې غل په خپله غلا باندې قائله شو، نو د مسروق منه او د سارق (غل) په مقدار د مالِ مسروقه کښې جګړه راغله ،غل وائي چې ما سامان اخستې دې او مسروق منه وائي چې سامان او نقدي دواړه اخستل شوي دي، خو دلته په شریعتِ مطهره کښیې قانون دادې چې مدعی به دوه ګواهان راولي، یعني مسروق منه (مالك) به دوه ګواهان عادلان پیش کړي چې هغوئ به ددې ګواهي ورکړي چې دلته دې سارق دومره مال سرقه کړې دې او مونږه لیدلې دي۔ لکه الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ واستشهدوا شهیدین من رجالکم فان لم یکونا رجلین فرجل وامرأتان ممن ترضوا من الشهداءِ ﴾ (البقرة : ۲۸۲).

دارنګه الله تعالیٰ بل ځائي فرمائي :

﴿ وأشهدوا ذوی عدل منکم ﴾. (الطلاق : ۲).

یعني مالك به دوه ګواهان راولي۔ اوکه چیرې ګواهان نه لري او پیش ئې نه کړل، نو الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ فاذ لم یأتوا بالشهداءِ فأولئك عند الله هم الکاذبون ﴾(النور : ٦۳).

نو سارق باندې بیا دلته قسم دې چې دابه قسَم کوي چې ما نغدې نه ده اخستې۔

لکه نبي کریم ﷺ فرمائي :

لو یعطی الناس بدعواهم لادعی ناس دماء رجالٍ وأموالهم ولکن الیمین علی المدعیٰ علیه. (رواه أحمد ومسلم).

یعني که چیرې خلقو ته په خپلو دعوو سره څه ورکیدلی نو ډیرو خلکو به د نورو خلکو په وینو او مالونو باندې دعوي کړې وای ، لیکن قسَم په هغه چا باندې دې چې په هغه باندې دعویٰ شوې وي)۔

دارنګه نبي کریم ﷺ فرمائي :

البینة علی المدعِی والیمین علی من أنکر. (رواه البیهقی والطبرانی باسناد صحیح).

دارنګه نبي کریم ﷺ اشعث بن قیس ؓ ته وفرمایل :

(شاهداك أو یمینه). (رواه البخاری ومسلم).

(ګواهان راوله، اوکه نه وي نو بیا به دا کس در ته قسَم کوي)۔

نو که چیرې مسروق منه وائي چې زه قسَم نه قبلوم، نو دا خبره به ئې مردوده ګڼلی

شی، ځکـه چی دده دپاره سیوا د قسَـم ورکولو نه بل حق نشته۔ لکه بخاری (۳٦٦/۱) کښیی د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دی چی رسول الله ﷺ وفرمایل :

من حلف على يمينٍ وهو فيها فاجر ليقتطع بها مال امرئٍ مسلم، لقى الله وهو عليه غضبان، قـال فـقال الأشعث : فيَّ والله كان ذلك بينى وبين رجل أرض فجحدنى فقدمته الى النبى ﷺ فـقـال لى رسول الله ﷺ : ألك بينة ؟ قال : قلتُ : لا، قال : احلِفُ، قال : قلتُ : يا رسول الله ! اذن يحلفُ ويذهب بمالى؟ قال : فأنزل الله عز وجل : ﴿ ان الذين يشترون بعهد الله وأيمانهم ثمناً قليلاً ﴾.

اوس چی کله غل قسَم وکړو نو د مسروق منه (مالك) دعویٰ باطله ده، او غل بری شو، صرف پـه غل باندی د هغه مال ضمان دی چی هغه د هغی اقرار کوی۔ خو لیکن دا خبره ډیره مهـمـه ده چی هـغـه مـال مسروقه چی سارق وړباندی اقرار کړی دی که هغه حد ته رسیدلـه، نـو دا واجبـه ده چـی د غـل لاس دی پریکړی شی، او غل دی د خپل ځان د حدودِ شرعیه وود اجراء لپاره ځان تسلیم کړی، ځکه چی الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ ادخلوا فى السلم كافة ﴾

(یـعـنـی پـه اسلام کښیی پوره پوره داخل شئ)۔ اوس که چیری دا غل مؤمن وی اودده خپـل خپـلـوان هم مؤمنان وی نو په سارق باندی دی شرعی حد نافذ کړی شی، ځکه چی پـه کـوم شی کښـی د دوئ فـائـده ده هغه پسی منډی وهی، او کوم شئ کښی چی د دوئ ظاهرا تاوان دی د هغی نه ځان نه خبروی، نو دا مجرمان دی۔

الله تعالیٰ فرمائی :﴿ ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون ﴾

بل ځای فرمائی : ﴿ ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الظالمون ﴾.

او بل ځای فرمائی : ﴿ ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الفاسقون ﴾.

نصیحت : غـل خو غلا وکړه لیکن د دکان مالك ته دروغ ویل جائز نه دی،کنه نو دی به هم عـنـد الله غـل حساب شـی، صرف د خپل حق مطالبه دِی وکړی ، یا دی ګواهان راولی اوکه نه وی نو غل به ورته قسَم وکړی، دده نور حق ور باندی نشتـه۔

فتاویٰ عالمګیری (۱۷۱/۲) کښی دی :

السـرقة انـمـا تـظهـر بـأحـد الأمـريـن : امـا بـالبيـنة أو بـالاقـرار. ونـحوه فى فتاوى ديوبند

(۲۰٤/۱۲). (فتاوی الدین الخالص کتاب البیوع). والیه أشار البخاری (۱۹۲/۱).
وبالله التوفیق۔

د قرض مسئله، په زړو او نوو افغانیو کښې

سوال: ما عالم شیر، حاجی غاټول ته دیارلس یا څوارلس کاله مخکې څلور لکهه افغانۍ ورکړې، په دې دوران کښې ما دده نه د قرض واپس کولو مطالبه هم وکړه، لیکن دۀ د قرض په واپسۍ کښې تاخیر وکړو، تردې چې پخوانۍ افغانۍ کوټه (ناچله) شوې۔ اوس زه د قرض واپس کولو مطالبه کوم، نو هغه ماته د کوټه کیدو د وخت په قیمت کالداری راکوی، او زه ئې د هغه وخت په قیمت ورسره تبادله کوم، دې باره کې زمونږ فیصله د قرآن او سنت په رڼا کښې وکړئ۔

جواب: ستاسو په مسئله د حکم کولو نه مخکې دا خبره لیکل ضروری دی چې د قرض په باره کښې قانون دادی چې د قرض واپس کول فرض او ضروری دی، او د اخستلو په وخت کښې به ئې بیرته د اداء کولو نیت کولی شی۔ کوم خلك چې قرض کوی او په زړۀ کښې ئې دا وی چې دابه نه اداء کوم، نو دا د شریعت په اصطلاح کښې غلۀ دی ۔

حدیث کښې دی:

ژ أیما رجلٍ استدان دینا لا یرید أن یؤدی إلی صاحب حقه خدعة حتی أخذ ماله فمات ولم یؤد دینه، لقی الله وهو سارق. (صحیح الترغیب والترهیب ۱٦۷/۲، ۱۸۰۷).

بل حدیث کښې دی:

ژ عن صهیب الخیری قال: قال رسول الله ﷺ: أیما رجل تدین دینا وهو مجمع أن لا یوفیه إیاه، لقی الله سارقا. (صحیح الجامع ٤٤۸٦، صحیح الترغیب ۱٦٦/۲، ۱۸۰۲).

بله خبره داده چې کله د انسان سره د قرض په اداء کولو باندې قدرت وی، او بیائې سره د مطالبې او غوښتنې نه نه ورکوی، نو دا کس ظالم دی۔

حدیث کښیې دی:

ژ مطل الغنی ظلم. (رواه البخاری ومسلم وأبوداود والنسائی والترمذی وغیرهم).

(د مالداره سړی ټول مټال کول ظلم دی)۔

بل حدیث کښې دی:
لیُّ الواجد ظلم یحل عرضه وعقوبته.
(رواه احمد وابوداود کما فی الارواءِ ۵/۱۵۹، رقم ۱۴۳۴).
حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی:
والمراد هنا تاخیر ما استحق اداؤه بغیر عذر، والمراد من الغنی هنا من قدر علی الأداءِ فأخره ولو کان فقیرًا. (فتح الباری، تحفة الأحوذی).
اوس ستاسو په مسئله کښیې په حاجی صاحب غاړول لازمه وه چی بیرته ئی خپل قرض واپس کړی وی، خاصکر کله چی ددۀ نه مطالبه هم شوی۔
(۲) **دویمه خبره** داده چی کله کاغذی نوټونه په اموالِ مثله ؤ کښی داخل دی، ددی قرض اخستل او ورکول صحیح دی۔ دارنګه په دی کښی قانون دادی چی: الاقراض تقضیٰ بأمثالها.
یعنی د قرض واپسی به بالمثل وی۔
په اموالِ مثله ؤ کښی قانون دادی چی په دی کښی د مالیت او قیمت اعتبار نه وی، بلکه په دی کښی د کمیت او مثلیت ضرورت وی۔ مثلا یو سړی د چا نه یو مَن غنم واخلی او په دی زمانه کښی ئی قیمت دوه سوه روپۍ وو، مګر د قرض اداء کولو په وخت کښی ئی قیمت سل روپۍ وی، نو دغنمو والا دا مطالبه نشی کولی چی ماته به د دوو سوو روپو غنم راکوی۔
یا مثلا یو سړی چاته سل ګرامه سره زر په قرض سره ورکړل، د قرض ورکولو په وخت کښی ددی قیمت پنځه زره وو، لیکن کله ئی چی قرض اداء کولو نو د سلو ګرامو قیمت شپاړس زره روپۍ وی، نو قرض اخستونکی دانشی ویلی چی زۀ تاته بیرته د پنځو زرو روپو په اندازه سره زر درکوم۔ بلکه دی به پوره سل ګرامه ورکوی که هغه کم قیمت لری اوکه زیات۔ ځکه سره زراموالِ مثلیه دی، چی په دی کښی د جنس او مقدار برابری ضروری ده۔ اللّٰه تعالیٰ فرمائی: ﴿فلکم رؤوس اموالکم لا تظلمون ولا تظلمون﴾.
د قرض روپو په باره کښی هم همدغه حکم دی۔ لیکن کله چی قرض اخستونکی د قرض ورکونکی د مطالبی نه قرض نه واپس کوی، تردی چی د هغه بل سړی روپۍ کوټه

یعنی خرابی شوی نو په دی صورت کښی قرض اخستونکی ظلم او زیاتی کړی دی، چی ددی بل سړی مال ئی قصدا خراب او کوته کړی دی، نو په دی وجه په دهٔ لازم دی چی د قرض اخستلو د وخت په مالیت تاوان ورکړی۔

حدیث کښی داسی سړی په باره کښی راځی :

یحل عرضه وعقوبته. (مسند احمد).

نو دا د غصب او اتلاف یعنی هلاکولو حکم لری۔ چی د غصب او اتلاف په صورت کښی د یوم الغصب والاتلاف د قیمت اعتبار دی۔

قال شیخ الاسلام : والمقرض یستحق مثل قرضه فی صفته کما یستحق مثله فی الغصب والاتلاف. (مجموعة الفتاوی لابن تیمیة ۲۹/٤۷۳).

اصول فقه حنفی کښیی هم دا قاعده ده چی :

إن الضمان لا یجب إلا عند وجود المماثلة.

دارنګه فتاوی هیئتِ کبارا العلماء (۱/٥٦) فتاوی اسلامیه : ۳۳٥، جدید فقهی مسائل : ۲/۲۱۷، تنبیه الرقود علی أحکام النقود لابن عابدین ص ۱۹).

حاصل د مسئلی داشو چی : د حاجی غاتول د قرض نه واپس کولو په وجه د حاجی عالم شیر روپیۍ کوته شوی، نو په حاجی غاتول د قرض د اخستلو د ورځی د افغانیو قیمت د کالدارو په حساب سره اداء کول لازم دی۔ چی مثلا د صرافانو نه دی تپوس اوشی چی (۱۳، ۱٤) کاله مخکی د څلور لکهه افغانیو څومره کالداری جوړیږی، نو اوس به هغه ورکړی۔ د وجی د پورتنو دلائلو نه۔ وبالله التوفیق۔

که امانت ورک شی نو تاوان په چا راځی؟

سوال : محترم مفتی صاحب ! السلام علیکم ورحمة الله و برکاته امابعد:

د یوی مسئلی په هکله پوښتنه کوو امید دی چی ددی مسئلی وضاحت د قرآن او سنت په رڼا کښی راکړئ ۔

مسئله داده که یو کس دچاسره څه شی امانت کیږدی، څه وخت پس امانت ورك شی، آیا امانت ساتونکی ددی ذمه دار دی اوکه نه ؟ یعنی مالك ته به امین دَ ورك شوی شی

ضمانت (تاوان) ورکوی اوکه نه ؟

(ملامحب الله ، ډیوئ، د اندړو ولسوالئ)

جواب : وعلیکم السلام ورحمة الله و برکاته-

په امانت او ودیعه کښې چې کله دَ امین او ودیع له طرفه دَ ودیعی ساتلو په باره کښې څه بې احتیاطی او نقصان نه وی شوی، او ودیعه(امانت) هلاك شی نو په دی صورت کښې په ده هیڅ ضمان او تاوان نشته۔او په دی باندی د علماؤ اتفاق دی، لکه په الفقه الاسلامی (٤۲/٥) کښې دی :

اتفق علماء المذاهب على أن الوديعة قربة مندوب إليها، وإن فى حفظها ثوابًا وأنها أمانة محضة لا مضمونة، وأن الضمان لا يجب على الوديع إلا بالتعدى أو التقصير... واشتراط الضمان على الأمين باطل وهو المفتىٰ به عند الحنفية.

(یعنی : دَ ودیعی ساتل عبادت دی او ددی په ساتلو کښې ثواب دی، او دا صرف او صرف امانت دی، ددی ضمان نشته، او ددی د هلاکیدو په صورت کښې په امین او ودیع باندی ضمان نشته، مګر که هغه ددی په ساتلو کښیی څه کمی او کوتاهی کړی وی۔

په مذکوره مسئله دلائل دادی :

قرآن کریم کښیی دی : ﴿ ما على المحسنين من سبيل ﴾.

او ودیع (امانت ساتونکی) هم چونکه محسن او نیکی کونکی دی، نو ځکه د کمی اوکوتاهی نه بغیر په هغه هیڅ تاوان نه راځی۔

دارنګه حدیث کښې دی چې رسول الله ﷺ فرمائی :

۱ – من أودع وديعة فلا ضمان عليه. (حسن).(رواه ابن ماجه ۲٤۰۱، كما فى الإرواءِ : ۱٥٤۷.

۲ – بل حدیث کښې دی :

من استودع وديعة فلا ضمان عليه. (رواه البيهقى ٦/۲۹۸، وابن ماجه ۲/۷۳، والدارقطنى، كما فى الصحيحة ٥/٤۰۲، ۲۳۱٥، صحيح الجامع ٦۰۲۹، ۱۰۹۷۳).

دارنګه بل حدیث کښې دی۔

لا ضمان على مؤتمن. (رواه البيهقى كما فى صحيح الجامع ۷٥۱۸، وسنده حسن).

(یعنی : چاسره چې څه امانت کیښودل شی – او هغه په ساتلو کښې څه کمی

اوکوتاهی نه وی کړی، نو د هغه د هلاکیدو په صورت کښې – په ده تاوان نشته).
امام ترمذی رحمه الله فرمائی :
وقال بعض أهل العلم من أصحاب النبی ﷺ وغیرهم : لیس علی صاحب العاریة ضمان إلا أن یخالف وهو قول الثوری وأهل الکوفة وبه یقول إسحق.
علامه ابن حزم رحمه الله لیکی :
مسألة : فإن تلفت من غیر تعدٍ منه ولا تضییع لها، فلا ضمان علیه فیها، لأنه إذا حفظها ولم یتعد ولا ضیع فقد أحسن، والله یقول : ما علی المحسنین من سبیل. (المحلی لابن حزم).
شیخ الاسلام لیکی :
إذا تلفت بغیر تفریط منه ولا عدوان لم یلزمه ضمان، وإذا ذهب مع ماله کان ابلغ. (مجموعة الفتاوی : ۳۹۷/۳۰).
دارنگه ددی مسئلی تفصیل په لاندنی فتوه کی هم وګوره.

که امانت ورک شی نو تاوان په چا راځی؟ (دویم سوال، جواب)

سوال : کۀ دَ چا سره څۀ شی امانت کیښودی شی او بیا هغه امانت ورك ،غلا یا هلاك شی نو آیا په دی صورتونو کښې په امین باندی تاوان راځی اوکۀ نه ؟
جواب : الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی آله وصحبه أما بعد :
مذکور مال دَ ودیعی او امانت حکم لری، لکه دَ ودیعی تعریف داسی دی :
الودیعة اسم للمال المودع عند من یحفظه بلاعوض، وفی نیل الأوطار : هی العین التی یضعها مالکها عند آخر لیحفظها.
دَ ودیعی او امانت حکم دادی چی دَ چا سره څۀ شی امانت کیښودی شی نو په هغۀ باندی ددی ساتل او دَ هغۀ دَ مطالبی په صورت کښې واپس کول ضروری دی۔ کۀ چیری دا امانت ددۀ دَ بی احتیاطی او تعدی نه بغیر هلاك شی، نو په دۀ باندی ئی هیڅ ضمان او تاوان نشته، لیکن کۀ امانت ددۀ دَ بی پرواهئ، تعدی او کوتاهئ په وجه هلاك شی نو بیابه ددی تاوان (ضمان) ورکوی۔
قرآن کریم کښې راځی : ﴿ إن الله یأمرکم أن تؤدوا الأمانٰت إلی أهلها ﴾. (النساء : ۵۸).

(المحلیٰ : ۱۳۷/۷).
(بیشکه الله تعالیٰ تاسو ته حکم کوی چی امانتونه خپلو مالکانو ته حواله کړئ)۔
کهٔ د چا سره امانت کیښودی شی او دا شی ددهٔ د بی پرواهئ ،کوتاهئ او تعدی نه بغیر هلاك شی نو په دهٔ هیڅ تاوان نهٔ راځی، په دی خبره دلیل دادی چی امانت ساتونکی دَ مال دَ مالك سره احسان کړی او په محسن باندی تاوان نهٔ وی۔ قرآن کریم کښی راځی : ﴿ ما علی المحسنین من سبیل ﴾. (په احسان کونکو باندی دَ ملامتیا څهٔ لاره نشته)۔
(وګوره : المحلی لابن حزم رحمه الله : ۱۳۷/۷، مسئله نمبر : ۱۳۸۹)۔
ژ ۱ – دارنګه حدیث کښی راځی : رسول الله ﷺ فرمائی :
لا ضمان علی مؤتمنٍ.
(أخرجه البیهقی : ۲۸۹/٦، رقم : ۱۲٤۸۰، والدارقطنی : ٤۱/۳، وسنده حسن، کما قال العلامة الألبانی رحمه الله).
(په امانت ساتونکی باندی هیڅ تاوان نشته)۔
ژ ۲ – بل حدیث کښی دی : عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده – رضی الله عنهما – عن النبی ﷺ قال :
من أودع ودیعة فلیس علیه ضمان.
(أخرجه ابن ماجه : ۸۰۲/۲، رقم : ۲٤۰۱، وسنده حسن، کما فی الإرواءِ : ۳۸۵/۵، رقم : ۱۵٤۷).
(چاچی چاسره څهٔ امانت کیښودهٔ نو په امانت ساتونکی باندی تاوان نشته)۔
البته کهٔ امانت ددهٔ د بی پرواهئ تعدی او کوتاهئ په وجه هلاك شی نو بیابه ددی تاوان ورکوی۔ د دارقطنی په یو روایت کښی راځی : لیس علی المستعیر غیرُ المُغَلّ ولاعلی المستودَع غیرُ المغل ضمان.
البته په دی حدیث کښی خبری اتری شته دی۔
د عمر فاروق – رضی الله عنه – نه په صحیح سند سره اثر نقل دی :
ژ عن أنس بن مالك قال : استودعتُ مالاً فوضعته مع مالی فهلك من بین مالی فرفِعتُ إلی عمر فقال : إنك لأمین فی نفسی ولکن هلکتُ من بین مالك فضَمِّنْتُهٗ.

(انس بن مالك – رضی الله عنه – وائی : ماسره څۀ مال امانت کیښودل شو نو هغه زما دَ مال د مینځ نه ورك شو، نو زۀ عمر رضی الله عنه ته بوتللی شوم، هغۀ وفرمایل : بیشکه چی تۀ زما په زړۀ کښی امانتدارئی خو دا شی ستا دَ مال دَ مینځ نه هلاك شوی دی، لهذا مائی تاوان ورکړو)۔

(أخرجه البيهقی ٢٩٠/٦، رقم : ١٢٤٨٤، ابن أبی شيبه، كنز العمال : ٤٦١٤١، وسنده صحيح، كما يقول الألبانی فی الإرواءِ : ٣٨٦/٥، رقم : ١٥٤٨).

بل روایت کښی راځی :

ؕ كان عند أنس بن مالك وديعة، فهلكت من بين ماله فضمنه إياها عمربن الخطاب رضی الله عنه.

(دَ انس بن مالك رضی الله عنه سره یو شی امانت کیښودی شوی وو، نو هغه ددۀ د مال دَ مینځ نه هلاك شو، نو عمر رضی الله عنه ددۀ نه ددی تاوان واخستل)۔

امام بیهقی رحمه الله ددی روایت نه پس فرمائی : کیدی شی چی انس رضی الله ددی په ساتلو کښی کوتاهی کړی وی، نو ځکه ئی تری دَ کوتاهئ له وجی نه تاوان واخستۀ)۔
والله اعلم۔

یعنی (مسئله خو داده چی په امانت ساتونکی باندی تاوان نۀ وی، لیکن دلته چی عمر رضی الله عنه وربـاندی تاوان لازم کړی) دا په دی وجه چی کیدی شی انس رضی الله عنه ددی په ساتلو کښی بی پروائی او کوتاهی کړی وی۔

امام ابن حزم په المحلی کښی فرمائی :

مسألة : فإن تلفت من غير تعدٍ منه ولا تضييع لها فلا ضمان عليه فيها، لأنه إذا حفظها ولم يتعد ولاضيّعَ فقد أحسن، والله تعالیٰ يقول : ﴿ما على المحسنين من سبيل﴾. ولقول رسول الله ﷺ : إن دمائكم وأموالكم عليكم حرام. فمال هذا المودِع حرام على غيره مالم يوجب أخذه منه نصّ، وقد صحّ عن عمر بن الخطاب تضمين الوديعة، وروی عنه وغيره غيره أن لا تضمن. (المحلی : ١٣٧/٧، مسئله رقم : ١٣٨٩).

(یعنی : کۀ په غیر دَ تیری او ضائع کولو نه امانت هلاك شی، نو په کیښودل شوی کس باندی تاوان نشته، ځکه چی دا احسان کونکی دی او په احسان کونکی باندی څۀ

ملامتیا نۀ وی)۔

په الروضۍ الندیۍ کښې راځی :

ولا ضمان علیه إذا تلفت العین المستعارة أو المستودعة بدون جنایته وخیانته، لحدیث عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده، وقد وقع الإجماع علی أن الودیعة لایضمن إلا لجنایة منه علی العین.

(یعنی : کۀ سوالی یا امانتی شی دَ جنایت او خیانت نه بغیر هلاك شو نو ددی تاوان نشته، په دی خبره حدیث دَ عمرو بن شعیب او اجماع دواړه دلیلونه دی)۔

په الموسوعۍ الفقهیۍ الکویتیۍ کښې راځی :

والأصل أن الأمین لا یضمن إلا بالاعتداءِ أو الإهمال لقوله ﷺ : لیس علی المستعیر غیر المغل ضمان، ولا علی المستودع غیر المغل ضمان. ولأن بالناس حاجة إلی ذلك، فلو ضمناهم لامتنع الناس عنه.

(قانون دادی چی په امین باندی دَ بی احتیاطی او بی پرواهئ نه بغیر ضمان نشته)۔

بیمه په اسلام کښې څه حکم لری؟

سوال : دَ بیمی په باره کښې معلومات راکړئ چی اسلام دیته روا وائی که نا روا۔

جواب : اول دَ بیمی صورتونه لیکو چی خلق هغه کوی، بیا د هغی حکم سره د دلیل نه، او سره د مفاسدو د هغی نه ان شاء الله تعالیٰ۔

۱ – د بیمی یو صورت دادی چی دَ ژوند بیمه وکړی شی په دی طریقه چی ډاکټر د سړی صحت وګوری او ووائی چی مثلا شل کالو پوری به دا سړی ژوندی وی، که څه ناڅاپی آفت رانغی، نو کمپنئ والا په دی سړی قسطونه د هری میاشتی کیدی، نو که داسړی شل کاله پس مړ شه، نو دده بچو ته به دغه مال اداء کړی شی سره دَ زائد رقم نه۔ اوکه ژوندی دی نو بیا منافع لږ کم ورکوی۔ اوکه دشلو کلونه مخکی مړ شی نو هم اداء کړی شوی رقم پس ماندګانو ته ورکړی شی سره د څه رقم زائد نه۔

دا دَ زندګئ بیمه ده، او دا قِسم بیمه د یو یو اندام هم خلق کوی۔ د هغی تفصیل هم دغه دی۔

۲- بیمه أملاك : او ددی صورت دادی چی یو سړی موټر یا کور بیمه کړی، ووائی که تر فلانئ مودی پوری هلاك شو، نو کمپنئ والا ددی نقصان تلافی کوی، او اداء کړی شوی رقم هم واپس کوی سره د زیاتی رقم نه.او موټر یا د کور مالك به هره میاشت قسطونه کمپنئ ته ورکوی.

۳ - ذمه وارئ والا بیمه : لکه د بچی تعلیم یا د واده. کمپنئ د دغه کارونو ذمه واخلی ددی هم د مذکوره صورتونو پشان صورت دی.

څوك چی بیمه کوی دابه هره میاشت قسطونه اداء کوی اوکه په مینځ کښیی دا قسطونه بند کړی نو دا اداء کړی روپئ دده وسوزیدی.اوکه بیا ئی شروع کوی نو شروع کولی ئی شی.

دَ بیمی حکم دادی چی دا سُودی معامله ده، او ددی او د بینك څه فرق نشته، صرف په نوم کښی ئی فرق دی.سُود ځکه دی چی واپس خپلی پیسی مکملی ملاویږی او زائد رقم هم ورکولی کیږی.او د نقصان په کښی احتمال نه وی.

دَ بیمی مفاسد دادی :

۱ - د بیمی په وجه کله وارث مورث وژنی.

۲ - دویم داچی : دغه دولت خلك بی ځایه لړوی ځکه په آسانئ پیدا شوی وی.

۳ - اوکله د مکان د سیزلو لپاره د بیمه کولو والا حیله جوړه کړی وی چی ماته سود ډیر ملاؤ شی.

٤ - بیمه دَ سرمایه دارو دَ مال د ډیرولو لویه ذریعه ده.

داسی نور مفاسد ئی هم شته.

حاصل داچی : بیمه مطلقا حرامه ده، که د هر شئ بیمه وی.ځکه یا خو به ته مال د قرض په شکل د بیمی کمپنئ ته ورکوی، نو بیا د قرض نه فائده اخستل حرام دی.(کل قرضٍ جر نفعًا فهو ربًا) اتفاقی مسئله ده.

اوکه ته دا مال هغوئ ته د بیع په شکل ورکوی نو بیا خو دوه قِسمه سود شو، یو پکښی نسیئه راغله، او دویم په کښی زیادت راغی.

نو دَ بیمه د حلالولولپاره چی بعضی خلق حیلی جوړوی نو دا مفسدان دی.دی باره

کښې د مفتی محمد شفیع صاحب کتاب (بیمه زندګی) مطالعه کړئ۔
مولانا مبشر احمد ربانیؒ فرمائی :
((بیمه مطلقا ناجائز او حرامه ده، برابره خبره ده که دَ زندګۍ وی، یا د مکان او ګاډی وغیره وی۔ ځکه چی دا دَ سود او جوارئ نه جوړ شوی صورت دی۔
(آپ کے مسائل : ۱/ ٤۰۰).
احسن الفتاوی (۷/ ۲٤) کښیی مفتی رشید احمد صاحبؒ فرمائی :
((بیمه دَ ګنهو ګناهونو مجموعه ده))۔
مولانا ګوهر رحمٰن صاحبؒ په تفهیم المسائل (۲/ ۳۵۳، ٤/ ۳۸۳) کښې فرمائی :
((دَ بیمه کمپنیانو موجوده نظام په سود او قمار باندی مشتمل دی))۔

دی باره کی دویم جواب:

جواب : دا خبره ډیره واضحه ده چی (بیمه) ټول په ټول ناروا او حرامه ده، برابره خبره ده که د ژوند وی اوکه د مکان یعنی کور، دکان یا پټی وی، که د ګاډی وی اوکه د بل څۀ وی۔ ځکه دا د قمار او سود نه مرکب ده۔ او په اسلام کښې سود او قمار دواړه حرام دی۔ ځکه که د مقرری نیټی نه مخکښی بیمه کونکی کس مړشی یا د هغۀ د املاکو او مالونو نقصان اوشی نو کمپنۍ ته نقصان رسیږی، اوکه چیری بیمه کونکی خپل ټول قسطونه ورکړی، نوکمپنۍ ته فائده رسیږی، او ددی معلومات هیچاته هم نۀ وی چی قسطونه به پوره کړی شی اوکه نه ؟ بیمه کونکی شخص چی خپل ټول قسطونه جمع کړی نو دۀ ته د هغه روپو سره سره سود هم ورکولی شی۔
۲ – د بیمی په وجه د وراثت شرعی نظام ختمیږی، ځکه د بیمی روپۍ بیمه کونکی کس د مرګ نه پس ددۀ نومول شوی او متعین شخص ته ورکولی شی، حال دا چی ددۀ د مرینی په صورت کښیی هر شرعی وارث ددۀ د ترکی یعنی میراث حقدار وی۔ کوم شی چی قرآن او سنت نظام ګډود کوی، نو هغه به څرنګه روا شی ؟
۳ – په تقدیر باندی د ایمان او عقیدی تقاضا داده چی د جائز او شرعی اسبابو پوره کولو او تیارولو نه پس په مستقبل کښیی راتلونکی حوادث او مصیبتونه الله تعالیٰ ته

اوسپارل شی، او بیمه ددی عقیدی نه تیښته ده، ځکه دی د مخکښیی نه د راتلونکو حوادثو او مشکلاتو مخنیوی په ناروا لارو چارو سره کوی.

هر کله چی ثابته شوه چی دا سود دی، نو ددی اخستل هم صحیح نهٔ دی، دی باره کښیی الهی حکم دادی چی: ﴿ يـا أيهـا الذين آمنوا اتقوا الله و ذروا ما بقی من الربا إن كنتم مؤمنين ﴾. (البقرة : ۲۷۸).

د تفصیل دپاره اوګوره : (ستاسو مسئلی او دَ هغی حل، د مبشر أحمد ربانی).

محرم الحرام : ۲٦/۰۳/۱٤۳۰هـ

د ګاونډی په زمکه کښی داوبو تیرولو حکم

سوال : زمونږ په کلی کښی دوه ګاونډیان دی، په دوئ کښی د یو کس دَ کور نه دَ بارانهٔ او بیت الخلاء اوبهٔ دَ بل کس خالی میدان(پټی) ته دَ پخوا نه راوتلی دی.اوس دَ زمکی مالك ګاونډی ته وائی چی زما په زمکه به دَ باران او نوری اوبهٔ نه تیروی، حال دا چی ددی کس دپاره د اوبو تیرولو بله لاره نشته.دی باره کښی شرعی فتویٰ راکړئ !!

جواب : په اسلام کښی څومره چی کیدی شی دَ ګاونډی سره دَ حُسنِ سلوك، اکرام او احسان کولو ډیر زیات تاکید راغلی، تردی پوری چی حدیث کښی راځی، رسول الله ﷺ فرمایلی : ما زال جبريل يوصينی بالجار، حتی ظننتُ أنهُ سيورِّثُهُ.

(جبریل ماته همیشه د ګاونډی په باره کښی – د خیر خواهئ او احسان کولو – نصیحت کوی، تردی چی زما دا خیال راغی چی ګاونډی به دَ ګاونډی په مال کښی میراث خور جوړ کړی).

(رواه زيد بن ثابت، وعائشة، وأبو أمامة، وأبو هريرة – رضی الله عنهم – وأخرجه البيهقی : ۱۱/۸، رقم : ۱۵۵۷۹، وابن أبی شيبة : ۳۵۸/۸، ۲۵٤۱۱، والخرائطی فی المكارم، ص : ۸۹، رقم : ۲۲۱، والطبرانی، وأحمد : ۹۱/٦، كما فی صحيح الترغيب والترهيب والجامع الصغير للسيوطی ومجمع الزوائد).

دارنګه ګاونډی ته ضرر ورکول هم سخته ګناه ده، حدیث کښی راځی : لا يدخل رجل الجنة لا يأمن جاره بوائقه. (أخرجه أحمد والبزار وأبو يعلی، وابن حبان، والحاكم).

(هغه سړی به جنت ته داخل نشی چی دَ هغهٔ دَ تکلیفونو نه گاونډی په امن نهٔ وی)۔

دَ یو گاونډی په بل گاونډی باندی د حقونو نه یو مثال واوره، هغه دا چی کهٔ یو گاونډی وغواړی چی د بل گاونډی په دیوال دَ ضرورت له وجی نه د خپلی کوټی بَش (تیر، لرگی) کیږدی نو دا بل گاونډی ئی نشی منع کولی۔ اگرکهٔ دائی خپل دیوال هم نهٔ وی، بلکه دَ گاونډی دیوال ئی دی۔

عن أبی هريرة رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ قال : لا يمنع أحدكم جاره خشبة يغرزها فی جداره، ثم يقول أبو هريرة : مالی أراكم عنها معرضين ؟ والله لأرمين بها بين أكتافكم. (رواه مالك والبخاری ومسلم وغيرهم واللفظ لمالك فی الموطأ).

(ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلی : پتاسو کښی دی څوك خپل گاونډی په دیوال کښی دَ موگی ټك وهلو نه نهٔ منع کوی۔ بیا ابو هریره رضی الله عنه وائی : څهٔ وجه ده چی زهٔ تاسو ددی خبری نه مخ گرځونکی وینم ؟ قسَم په الله ! چی دا خبره به زهٔ ستاسو دَ اوږو ترمینځه در اوولم – یا دا موگی به زهٔ ستاسو دَ اوگو ترمینځه در اوولم)۔

نو اوگوره دلته دَ بل گاونډی په مِلك کښی دَ ضرورت په وجه تصرف کړی شوی۔ نو د گاونډی په بل گاونډی باندی ډیر حقونه دی چی دیته (**حقوق الارتفاق**) ویل کیږی، په حقوق الارتفاق کښی **حق المجری، حق المسیل او حق الجِوار** هم شته، چی گاونډی ته په خپله زمکه باندی د اوبو تیرولو لاره ورکړی، او دا حق د یو گاونډی په بل گاونډی باندی دَ راجح قول مطابق وجوبی حق دی۔ کهٔ یو گاونډی بل گاونډی ته ددی حق نهٔ ورکوی، نو هغه ئی په زوره هم دا اوبهٔ تیرولی شی۔ خو په دی شرط چی دَ گاونډی ئی بله متبادله لاره دَ اوبو تیرولو نهٔ وی۔ کهٔ هغهٔ ته د اوبو تیرولو بله لاره بغیر دَ ډیر زیات مشقت نه پیدا کیږی نو بیابه په متبادله لاره اوبهٔ تیروی۔ او ددی وجه داده چی دا اصلاً په پردی ملکیت (زمکه) کښی بی ضرورته تصرف کول دی۔ نو ځکه د هغهٔ اجازت او رضا هم ضروری ده۔

دی باره کښی د امیر المؤمنین عمر فاروق – رضی الله عنه – فیصله واوره :

امام مالك رحمه الله او نورو محدثینو د هغهٔ نه په صحیح سند سره نقل کړی چی :

أن الضحاك بن خليفة ساق خليجًا له من العُريض فأراد أن يمرّ به فی أرض محمد بن مسلمة

فـأبـیٰ مـحمد، فقال له الضحاك : لم تمنعنی وهو لك منفعة تشرب به أولاً وآخرًا، ولا یضرك. فـأبـی مـحـمـد فـكلّمَ فیه الضحاكُ عمرَ بن الخطاب فدعا عمرُ بن الخطابِ محمَّدَ بنَ مسلمةَ فأمره أن یخلیَ سبیله، فقال محمد : لا، فقال عمرُ : لِمَ تمنعُ أخاك ما ینفعه وهو لك نافع تسقی بـه أولاً وآخـرًا وهـو لا یـضـرك ؟ فـقال محمد : لا، واللّٰه. فقال عمرُ : واللّٰه لیمرّنَّ به ولو علی بطنك. فأمره عمرُ أن یمرَّ به ففعل الضحاك.

(أخـرجـه مـالك : ۷٤۷/۲، بـاب الـقضاءِ فی المرفق، والشافعی : ۲۲٤/۱، والبیهقی : ۱۵۷/٦، وسعید فی سننه، وابن أبی شیبة بسند صحیح كما فی الإرواءِ، وكنز العمال : ۹۱٤۵).

دَ سبل السلام مصنفؒ لیکی :

وعمّمهُ عمرُ فی كل ما یحتاج الجار إلی الانتفاع به من جاره وأرضه.

دارنګه امام مالك رحمه الله په الموطأ کښې روایت نقل کوی :

عـن عـمـرو بـن یـحیـی المازنی عن أبیه أنه قال : كان فی حائط جدّه ربیع لعبد الرحمن بن عوفٍ، فأراد عبد الرحمن بن عوفٍ أن یحوّله إلی ناحیة من الحائط هی أقرب إلی أرضه، فمنعه صاحبُ الحائطِ، فكلّم عبدُ الرحمن بن عوفٍ عمرَ بنَ الخطاب فی ذلك، فقضیٰ لعبد الرحمن بن عوف بتحویله.

(رواه مـالك وانـظر : تهذیب الآثار للطبری : ۲۳٦۳، وجامع الأصول من أحادیث الر سول لأبی السعادات ابن الأثیر، ومسند الصحابة فی الكتب التسعة).

دَ مذکوره دلائلو نه معلومه شوه چی کۀ یو کس ته دَ ګاونډی دَ زمکی نه علاوه بله لاره د اوبو تیرولو نۀ وه، نو دَ ګاونډی په زمکه به ئی تیروی، او دۀ ګاونډی ددی تصرف نه نشی منع کولی۔

په الموسوعی الفقهیی الکویتیی کښې دی :

ذهب الفقهاء إلی أنه إذا كان لجار حق المسیل علی ملك جاره فلیس لمن علیه حق المسیل أن یمنع جاره من هذا الحق.

(فـقهـاؤ دیتـه تګ کړی چی کله دَ یو ګاونډی لپاره دَ خپل ګاونډی په مِلك کښې دَ اوبو تیـرولـو حق شته دی نو بیا دغه بل ګاونډی نشی کولی چی دَ خپل ګاونډی دغه حق منع کړی)۔

او دَ مسلمانانو په امیر لازم دی چی دهٔ ته دَ ګاونډی نه د اوبو تیرولو لاره ورکړی، خو ددی سره په اوبو تیرونکی باندی هم لازم دی، چی په داسی طریقه به اوبهٔ تیروی چی دَ زمکی مالك ته په کښی ضرر نهٔ وی۔ مثلاً ښهٔ پوخ یا مضبوط لښتی جوړ کړی، یاکه دَ پائپونو په طریقه کیدی شی نو پائپونه ولګوی۔ مطلب دا چی د دواړو ګاونډیانو په دی طریقه لحاظ وکړی شی چی یو اوبهٔ تیری کړی نو بل ته څهٔ خاص ضرر نهٔ وی۔ ځکه حدیث کښی راځی : لا ضرر ولا ضرار .

(رواه ابن ماجه، والشافعي، والبيهقي، وأحمد، والحديث صحيح).

دارنګه که اوبهٔ تیرونکی وائی چی ما په دی زمکه دَ پخوا نه اوبهٔ تیری کړی، نو د (القديم يترك على قدمه) دَ وجی نه دِ اوس هم په دی باندی تیریږی۔ نو دا استدلال په هغه صورت کښی صحیح دی چی ددهٔ متبادله بله لاره دَ اوبو تیرولو نهٔ وی، نو دا خبره به په استدلال کښی پیش کول صحیح وی۔ لیکن ددی قاعدی سره دا هم راغلی چی (الضرر لا يكون قديمًا)۔ وګوره : الفقه الإسلامي : ٤٦٧٥/٦ .

نو ستاسو په مسئله کښی کهٔ ددی کس بله لاره دَ اوبو تیرولو نهٔ وی، نو ددی پورتنی دلائلو او دَ (القديم يترك على قدمه) قاعدی له مخه ئی د ګاونډی په زمکه کښی دَ اوبو تیرولو حق شته، خو حتی الوسع به ددی اوبو دَ ضرر مخه هم نیسی۔ اوکهٔ متبادله لاره دَ اوبو ورته حاصله شوه نو بیا دی په هغه لاره اوبهٔ تیری کړی، او ګاونډی ته دی وریاندی ضرر نهٔ ورکوی۔ ځکه داپه ارض الغير (پردئ زمکه) کښی بی ضرورته تصرف کول دی۔ والله اعلم وعلمه اتم واحکم۔

دګاونډی د کور طرفته دکړکئ جوړولوحکم

سوال : زمونږ دَ کورسره خواکی یو ګاونډی ډیر دَ پخوا نه ئی زمونږ کورطرفته کړکئ جوړی کړی وی، څو ورځی مخکی مونږ په خپل کور کښی څهٔ آبادی شروع کړه او ددی ګاونډیانو د کور خواته مو کړکئ جوړی کړی، هغوئ زمونږ سره لانجه واچوله چی زمونږ د کور خواته به کړکئ نهٔ پریږدئ، په دی کښی خبره حکومت ته لاړه، حکومت یوه جرګه او وفد – چی په هغی کښی علماء هم وو – زمونږ ځای ته را ولیږله، هغی جرګی دا

فیصله وکړه چې تاسو به کړکۍ نهٔ جوړوئ۔ مونږ ورته وویل چې بیا دی دی هم کړکۍ بندې کړې، نو هغوئ وویل : دهٔ پخوا جوړې کړې۔او دا مشهوره فقهي او اسلامي قاعده ده چې (القديم يترك على قدمه) اوس ستاسو نه زمونږ سوال دادی چې دی باره کښې زمونږ صحيح لارښوونه وکړئ او ددې سره ددې خبرې وضاحت هم وکړئ چې آیا په رشتیا هم دَ (القديم يترك على قدمه) قاعدې په وجه زمونږ ګاونډیان مونږ ته کړکۍ جوړولې شي او مونږ ئې نشو جوړولی، مسئله ډیره ضروري ده، د قرآن او حدیث په رڼا کښې ددې تفصيلي جواب ولیکئ۔ وجزاكم الله خيرا!

(ضياء الحق کنړ، لیچلام)۔

جواب : د مسئلې بیانولو نه مخکې دا خبره یاده لرئ چې دا دَ علماؤ تر مینځه اتفاقي قاعده ده چې انسان په خپل مِلکیت کښې هر قِسم شرعي تصرف کولی شي، په دې شرط چې غیر ته په کښې (ښکاره) ضرر نهٔ وي۔ لکه په فتاوی الشبکۀ الاسلامیۀ او فتاوی الازهر او نورو کتابونو کښې راځي : أن للإنسان أن يتصرف في ملكه ما شاء من التصرفات مالم يضر بغيره ضررًا ظاهرًا.

البته کهٔ ددهٔ تصرف له وجې بل مسلمان ته ښکاره ضرر وي نو بیا د اسلامي اصولو له مخې دغه کار کول حرام دي، لکه حدیث کښې راځي :

۞ إن رسول الله ﷺ قال : لا ضرر ولا إضرار.

(رواه ابن ماجه والبيهقي والشافعي وأحمد والدارقطني وغيرهم وسنده صحيح).

په بل روایت کښې دي داسې الفاظ دي :

۞ عن جابر بن عبد الله قال : قال رسول الله ﷺ : (لا ضرر ولا ضرار في الإسلام)

(أخرجه الطبراني والنووي في الأذكار ۳۵۱/۱، والزيلعي ۴۴۵/۴، والحاكم نحوه، وحسنه الحافظ ابن حجر).

(یعنې : په اسلام کښې نهٔ ځانته ضرر ورکول شته اونهٔ بل چا ته ضرر ورکول)۔

د مذکوره حدیثو نه معلومه شوه چې داسې کار کول چې په هغه کښې د ځان یا بل مسلمان دپاره یقیني او ښکاره ضرر وي، دهغه کول ناروا دي۔

اوس راشه ستاسو مسئلې ته، نو شرعي دلائلو ته په کتو سره دارنګه د مخکښې

اتفاقی قاعدی له مخی معلومیږی چی انسان په خپل مال کښی هر قِسم شرعی تصرف کولی شی، نو کور هم د انسان یو مال دی په دی کښی هم هر قِسم شرعی تصرفات کولی شی، لکه خپل کور ته کړکۍ، روشندان وغیره ورکول۔

ددی نه اګرچی د بل چا کور، کوټه ښکاری، خو ددی جوړول به جائز وی۔البته ددی نه به پردی کور ته قطعاً نۀ ګوری، نبی کریم ﷺ د داسی کس سترګی ایستل جائز کړی دی چی هغه پردی کورونو ته ګوری۔ کۀ د چا سره ویره وی چی هسی نۀ چی کور ته می وګوری نو اول خو به هغۀ ته دَ نۀ کتلو تاکید وکړی شی، ددی سره دی د خپل ځان د حفاظت دپاره اوچت دیوال یا پرده جوړه کړی۔

لیکن ګاونډی د کړکۍ په بندولو نشی مجبورولی، مګر کۀ خامخا ګوری نو بیا ئی بندولی شی۔کۀ څوك دَ نۀ کتلو سره سره بیا هم په ګاونډی باندی دَ هغۀ کړکۍ یا روشندان بندوی، نو دا داسی مثال لری لکه یو کس راپاڅی، د خپل کور خواته په یوه مباحه لاره خلك تللو ته نۀ پریږدی، دلیل دا وائی چی دَ لاری نه زما کور ښکاری !!

نو آیا دلته به ددۀ دَ وجی نه خلق د تللو نه منع کیږی ؟ ظاهره خبره ده چی لاره به نۀ بندیږی، بلکه د کور مالك ته به – په دیوال یا بل څۀ سره – دَ پردی کولو حکم کولی شی او لاروُو ته به هم ویلی شی چی ددۀ کور ته مۀ ګورئ۔

امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښی دا مسئله لیکلی چی یو کس د خپل کور نه کړکۍ یا روشندان بهر طرفته جوړولی شی (اګرکۀ ددینه د چاکور وغیره ښکاری)۔

لکه هغه لیکی :

(باب الغرفة والعلية المشرفة وغير المشرفة فی السطوح وغيرها).

حافظ ابن حجر رحمه الله د بخاری شریف په مشهوره او معتبره شرح (فتح الباری) کښی لیکی :

وحكم المشرفة الجواز إذا أمِن من الإشراف على عورات المنازل، فإن لم يؤمن لم يجبر على سدّه بل يؤمرُ بعدم الإشراف، ولِمَن هو أسفل منه أن يتحفظ.

علامه بدر الدین العینی رحمه الله په عمدۀ القاری شرح صحیح البخاری کښی لیکی :

أی هذا باب فی بیان جواز استعمال الغرفة، وقال ابن بطال الغرفة على السطوح مباحة ما لم

يطلع منها على حرمة أحدٍ.
(یعنی : اوچتی بالا خانی اوکړکۍ جوړول جائز دی په دی شرط چی ددی نه پردی کورونو ته نۀ ګوری)۔
پاتی شوه دَ (القديم يترك على قدمه) قاعده، نو دا قاعده ددی مسئلی سره هیڅ تعلق نۀ لری چی ستاسو په مسئله کښی د یو کس کړکۍ د بل کور ته پریښودل صحیح دی اودویم ګاونډی به ئی نۀ جوړوی !! ددی قاعدی د عدمِ صحت وجه په دی ځای کښی داده چی یابه دَ یو ګاونډی د کړکیو جوړول بل ګاونډی ته ضرر ورکوی اویابه ئی نۀ ورکوی ؟ کۀ نۀ وی نو بیا ولی په چا باندی یو مباح کاربند کړی شی ؟ اوکۀ ضرر وی نو بیا خو په اولنی ګاونډی باندی هم د کړکیو بندول پکار دی، او د هغۀ په باره کښی دَ القديم يترك على قدمه قاعده باندی عمل نشی کیدی، ځکه ددی قاعدی سره خو دا خبره هم راغلی چی (الضرر لا يكون قديمًا) یعنی که یو شی د هر څومره پخوا نه موجود وی، لیکن چاته په کښی ضرر وی، نو دا داسی حیثیت لری لکه نن چی نوی ضرر وی۔
په الدر الحکام فی شرح مجلۀ الاحکام المادۀ : ۷) کښی راځی :
الضرر لا يكون قديمًا يعني : لا يعتبر قدمه ولا يحكم ببقائه. وفيه : أما القديم المخالف للشرع الشريف فلا يترك على قدمه مهما تقادم عهده، لأن الضرر لا يكون قديمًا.
وفي المادة، ٦ : القديم يترك على قدمه، يعني : أن القديم الموافق للشرع يجب أن يترك على حال القديم مالم يثبت خلافه.
(یعنی : مذکوره قاعده هله ده چی کوم پخوانی شی دَ شریعت موافق وی نو هغه به په خپل پخوانی کیدو باندی باقی پریښودلی شی، اوکۀ خلافِ شرع وی او یا په کښی چاته ضرر وی، نو بیا دا قاعده نۀ جاری کیږی)۔
دارنګه فقهاءِ کرام دَ ((قدیم)) تعریف داسی کوی :
ماهو القديم ؟ هو الذي لا يعرف أوله أما إذا كان أوله معروفًا فلا يعد قديمًا.
(درر الحكام في شرح مجلة الأحكام).
(قدیم دیته وائی چی دَ هغی ابتداء نۀ وی معلومه، او کله چی د یو شئ ابتداء معلومه وی نو دا قدیم نۀ ګڼلی کیږی)۔

د مسئلې حاصل داشۀ: چې هر ګاونډی د هواء او رڼا یا بل څۀ جائز مقصد دپاره دَ بل ګاونډی کور طرفته کړکۍ او روشندان جوړولی شی۔

البته ددینه د بل ګاونډی کور ته کتل حرام او ناروا دی، کۀ د یو کس سره دا ویره وی چې هسې نۀ زما ګاونډی ماکره اونۀ ګوری نو خپل ځان ته دی پرده وکړی، ګاونډی ته دی دَ نۀ کتلو وصیت وکړی، ګاونډی ته دی داسې شیشې ورکړی چې د ننه طرفنه بهر څوك نۀ ښکاری۔ خو دا ورته نشو ویلی چې تۀ کړکۍ مۀ جوړوه۔ دې کښې قدیم اوجدید یو شان حکم لری۔ یعنې کۀ اول ځل دا کار جائز وی نو بیا خو دَ قدیم او حادث خبره نشته، اوکۀ صحیح نۀ وی نو د مخکښې قاعدې (الضرر لا یکون قدیمًا) له مخه، دَ اولنی کس دَ پخوا نه جوړې کړې کړکۍ به هم بندیږی۔

۲۰/ جمادی الثانیة: ۱۴۲۹ھ۔

د دویم نمبر شی جوړولو حکم

سوال: نن صبا په بازار کښې دوه قِسمه شیان خرڅیږی، **یو** اصلی شی وی، **دویم** داسې شی وی چې هغه ئې د اصلی شئ په شکل او صورت جوړ کړی وی، معیار، اجزاء او حیثیت ئې شاذ او نادر په ځینو شیانو کښې دَ اصلی شئ سره برابر او یو شان وی، لیکن غالبًا د اصلی شئ نه کم وی۔ البته قیمت ئې د تاجر او خرڅوونکی دپاره ډیر کم وی، ولې غالبا اُستعمالونکی ته کم نۀ وی، او نۀ هغه په دې خبر وی چې دا دَ اصلی کمپنۍ نۀ بلکه دَ بل چا له طرفه جوړ شوی، نو په دې صورت کښې زمونږ یو څو سوالونه دی:

اول: آیا دَ پردی نوم او تجارتی نښې بې اجازته استعمالول څرنګه دی؟

دویم: په پردی نوم شی خرڅول څۀ حکم لری؟

دریم: آیا په دې باره کښې د کافرو د کمپنۍ او مسلمانانو دَ کمپنۍ فرق شته؟

جواب: الحمد لله والصلاة والسلاة علی رسول الله ، امابعد:

دې باره کښې موږ ته د ډیر تحقیق نه پس معلومه شوه چې په بې اجازې او غلا سره پردی نوم استعمالول او په هغې باندې شیان خرڅول حرام، ناروا او غلط کار دی۔

په داسې عمل سره اصلی اولنی مالك او جوړونکی ته، دویم نمبر په غلا او بې اجازې

سره جوړونکی ته، ددی شیانو اخستونکی ته، ددی استعمالونکی ته، ټولو ته ضرر دی، چاته دینی او چاته دنیوی۔

دا کار د دروغو، خیانت، دهوکی، د پردی حق په باطله طریقه خوړلو او استعمالولو، ځان او بل ته د ضرر ورکولو، بد اخلاقئ، بی وعدګئ، په خوراکی شیانو کښی د خلقو په صحت او ژوند باندی د لوبو کولو او د داسی نورو بی شماره غلطیانو او محرماتو نه مرکب او جوړ دی۔

چی **ددی تفصیل** په لاندی ډول دی :

اول : د پردی نوم بی اجازته استعمالول د (حق الایجاد، حقِ اسم التجاری، حق عنوان التجاری، حق علامیہ التجاریہ او حق الطبع) د حکم سره تعلق لری۔ چی آیا په بی اجازته او غلا باندی په پردی نوم سره شی جوړول جائز دی اوکهٔ نه ؟

نو حق التالیف والایجاد ته په عرف کښی (ادبی حق، فنی حق، او معنوی حق) ویلی شی،

په اوسنی عرف کښی دا شیان ټول قیمتی او مال ګرځیدلی، په دی وجه دا شیان په عام بازار کښی خرڅیږی۔

هر کله چی دا شیان مال شو نو پردی مال څرنګه بی اجازی او په غلا سره استعمالول جائز دی ؟ حدیث کښی راځی، رسول الله ﷺ فرمائی :

لا يحل مال امرئ مسلمٍ إلا بطيب نفس منه.

(دَ مسلمان مال دَ هغهٔ دَ خوشحالئ نه بغیر – اخستل – جائز نهٔ دی)۔

(أخرجه البيهقي في شعب الإيمان ٣٨٧/٤، رقم: ٥٤٩٢، وأخرجه أيضًا في السنن الكبرى : ١٠٠/٦، رقم: ١١٣٢٥، وأحمد وأبو يعلىٰ، قال الألباني : وسنده صحيح).

دویم : دا چی پردی نوم بی اجازته استعمالولو سره خلقو ته دهوکه ورکول راځی، هغه په دی طریقه چی: مثلاً یو کس غواړی په یوه کمپنئ باندی د اعتماد یا بل غرض په وجه د هغی جوړ شوی شی (دوا، ټیپ، شیمپو، موټر) واخلی ، اوس چی بل چا په غلا او پټه باندی د هغهٔ په نوم او شکل سره هم داشیان جوړ کړل، نو خلك به د داسی چانه د دهوکی په وجه داسی شی واخلی چی هغه ددهٔ پکار نهٔ وو۔

حال دا چې د الله رسول ﷺ - دَ چا په تابعدارئ چې مونږ مکلف یو - هیڅ کله هم غدر نۀ کولو، لکه حدیث کښې راځي :
وماخادع محمد ﷺ إنسانًا قطُّ.
(رسول الله هیڅ کله هیڅ یو انسان سره دهوکه نۀ ده کړې)۔
بل روایت کښې دي : وكذلك الرسل لا تغدر.
(دغه شان رسولان دي هیڅ کله تګی نۀ کوي)۔
دارنګه هغۀ خپل امت ته فرمایلي دي چې دَ کافر سره به هم غدر او تګی نۀ کوئ۔ د مسلمان سره خو دَدې د کولو قطعاسوال هم نۀ پیدا کیږي۔
حدیث کښې راځي :
أخرجوا باسم الله تقاتلون فی سبیل الله من کفر بالله لا تغدروا، ولا تمثلوا ولا تغلوا ولا تقتلوا الولدان ولا أصحاب الصوامع.
(رواه أحمد وأبو یعلیٰ والبزار والطبرانی فی الکبیر والأوسط وغیرهم).
(دَ الله په نوم ووځئ چې تاسو به د الله په لاره کښې دَ هغه چاسره جنګیږئ چا چې په الله کفر کړې، خو تګی به نۀ کوئ، نۀ به شکلونه بد رنګوئ، نۀ به په مالِ غنیمت کښې خیانت کوئ اونۀ به ماشوم او ګیرجو والا (راهبان) وژنئ)۔
دریم : په دې کښې (غش) یعنی خیانت هم راځي، ځوك چې دا کار کوي نو د هغوئ نه مونږ په خپله پښتنه کوو چې آیا تاسو یا دوکانداران دا دَ اخستونکي نه نۀ پټوئ چې دا اصلي شي دی یا اصلي نۀ دی ؟ حال دا چې دَ الله رسول ﷺ په اخستلو او خرڅولو کښې د غش او خیانت کولو متعلق فرمائي :
لیس منا من غش.
(مسلم : ٩٩/١، رقم : ١٠٢، ابو یعلیٰ : ٣٩٩/١١، رقم : ٦٥٢٠، ابن حبان : ٢٧٠/١١، رقم : ٤٩٠٥، ابن منده : ٦١٦/٢، رقم : ٥٥١، البیهقی : ٣٢٠/٥، رقم : ١٠٥١٤).
(هغه ځوك زمونږ نه نۀ دی چې هغه دهوکه کوي)۔
علامه مبارکفوريؒ او علامه سنديؒ یو ځائې کښې دَ (غش) معنیٰ داسې کوي : غش خیانت ته وائي او دا دَ نصیحت خلاف څیز دی، او غِش دَ خړو اوبو ګودر ته وائي۔

علامه مناويؒ په فيض القدير کښې ليکلي : غش خيانت او دَ يو څيز حالت پټولو ته وائي۔
نو څوك چې دا شيان په غلا او بې اجازې جوړوي، نو هغوئ په (غش) کښې داخل دي۔
او دا هم هغه وخت چې کله د اصلي شئ په معيار ئې جوړ کړې وي۔ اوکۀ چيرې دَ اصلي شئ په معيار او مقدار ئې نۀ وو جوړ کړې، او د اخستونکې نه دَ اصلي شئ په قيمت روپئ اخلي، نو هغه به څرنګه جائز شي ؟
ژ **په دې سره** دَ خيانتونو، دهوکو او دروغو لارې پرانستلې کيږي، ځکه کوم خلق چې دا دويم نمبر کارونه کوي آيا هغوئ نۀ پوهيږي چې ددې شيانو دَ اصلي مالکانو نه حکومت – اګرکه کافر حکومت ولې نۀ وي – ددې د معيار او اجزاؤ پوښتنه نۀ کوي ؟ او هغوئ په معيار او ددې په موادو ورپوره کولو باندې اصلي مالکان مجبوروي ؟
څوك چې په غلا او بې اجازې شيان جوړوي، آيا د دوئ نه چا کله پوښتنه کړې ؟ کۀ چيرې کړې ئې نۀ وي او دا يقيني ده چې نۀ ئې ده کړې، نو آيا دوئ به د هغه معيار، موادو او اجزاؤ ورپوره کولو خيال وساتي ؟ کۀ نۀ ئې ساتي نو بيا ولې دَ اصلي او معياري شئ قيمت اخلي ؟ آيا دوئ اخستونکو ته همداسې وائي چې دا مونږ دويم نمبر شي پتاسو خرڅوو؟ کۀ بالفرض ووائي نو آيا اخستونکې به ئې د اصلي شئ په قيمت همداسې واخلي ؟
ژ **په دې سره** دروغ ويل راځي مثلاً يو شي تۀ دَ ځانه جوړ کړې او نسبت ئې بل چاته کوي چې دا دَ فلانئ کمپنئ له خوا جوړ شوي !! او د دروغو حرمت خو زمونږ په دين کښې د لمر پشان واضحه دي۔
ژ په دې کښې عامو خلکو ته ضرر دي، تۀ فکروکړه چې يو کس په ډيره سختئ سره يو څو روپئ پيدا کړې، په هغې باندې ځانته دوا، يا د ژوند بل ضروري شي اخلي، نو دوکانداران ورباندې اصلي شي نۀ بلکه دويم نمبر شي ورخرڅ کړي، چې هغه د دوا په ځاى د مرض سبب شي، د فائدې رسولو په ځاى ضررې شي، کم از کم فائده خوئې ضرور ناقصه شي۔
ژ په دې کښې اکثره وخت دَ سودا د پاسه سودا هم راځي، هغه په دې طريقه چې مثلاً

یوه کمپنۍ د څو تاجرانو سره قرار داد وکړي چې تاسو به زمونږ مصنوعات خرڅوئ یا داشې مونږ په تاسو باندې مثلاً په سل روپۍ در خرڅوو، نو پدې مینځ کښې جعلي او په غلا مال جوړونکې کسان تاجرانو ته ووائي چې دا زمونږ مصنوعات واخلې . . .!! دَ سلو په ځای ئې په پنځوسو درکوو !! حال دا چې په حدیث کښې راځي : رسول الله ﷺ فرمایلي :

لا يحل لمؤمن أن يبتاع على بيع أخيه حتى يذر.

(هیڅ یو مؤمن ته جائز نهٔ دي چې د خپل ورور په سودا باندې سودا وکړي تردې چې هغه ئې پریدي)۔

ژ په دې سره د عام بازار د تاجرانو او اتحادیې سره بې وعدګي راځي، ځکه په عامو بازارونو کښې دوکاندارانو څهٔ کمیټۍ او مشر ټاکلي وي، نو دې کښې کمیټۍ د حکومت سره – که هغه مسلمان حکومت وي او کهٔ کافر – او نور عامو بازارونو د تاجرانو د اتحادیو او کمیټو سره دا معاهده او لوظنامه کړې وي چې مونږ به پردې نوم بې اجازته نهٔ استعمالوو، اونهٔ به په پردې نوم څهٔ شی جوړوو۔

او حدیث کښې راځي چې :

المسلمون على شروطهم.

(مسلمانان به دَ په خپلو شرطونو وفاداري کوي)۔

که یو کس ووائي چې ما خو د چا سره وعده نهٔ ده کړې، نو جواب دادې چې ستا د کمیټۍ او اتحادیې مشر ورسره کړې ده، نو په دې وجه دا ستا له طرفه لوظ او معاهده هم شماریږي۔

دوکتور عبد الله الفقیه لیکي :

وقد قرر مجمع الفقه الإسلامي في دورة مؤتمره الخامس بالكويت (١٤٠٩ هـ ١٩٨٨م) ما يلي : أولًا : الاسم التجاري والعنوان التجاري (العلامة التجارية والتأليف والاختراع أو الابتكار) هي حقوق خاصة لأصحابها، أصبح لها في العرف المعاصر قيمة مالية معتبرة لتمول الناس لها، وهذه الحقوق يعتد بها شرعًا، فلا يجوز الاعتداء عليها.

ثانيًا : حقوق التأليف والاختراع أو الابتكار مصونة شرعًا، ولأصحابها حق التصرف فيها،

ولا يجوز الاعتداء عليها، انتهى نقلًا عن كتاب الاقتصاد الإسلامي والقضايا الفقهية المعاصرة : ٨٤٨/٢، للدكتور على السالوس، وللإطلاع على مزيد من التفصيل فيما يتعلق بهذه الحقوق، ننصح بالرجوع إلى (فقه النوازل) للعلامة الدكتور بكر بن عبد الله أبو زيد : (١٠١، ٢/١٨٧) والله أعلم. انظر فتاوى الشبكة).

هبة المشاع

سوال : زمونږ د نيكۀ په ژوند كښې د هغۀ په مشوره او امر سره زمونږ يو ترۀ د حكومت نه په بغلان ولايت دَ بوركي په ولسوالئ كښې ديرش جريبه زمكه واخسته، د نيكۀ د وفات نه پس زما پلار را ولګيدۀ هغۀ هم په بغلان كښې دَ حكومت نه ديرش جريبه زمكه واخسته، په دې كښې زمونږ مشر ترۀ زما د پلار سره لانجه واچوله چې زۀ هم لاړم او تۀ هم خپلې زمكې ته ځې، دا كور او خويندې چاته پريږدې ؟ داسې وكړه چې خپله ديرش جريبه زمكه پريږده او ددې خويندو خدمت كوه، مونږ چې كومه زمكه په بوركي ولسوالئ كښې د حكومت نه اخستې ده، نو په هغې كښې زما برخه ستا شوه، زما پلار په دې باندې راضي شو۔ اوس ډير زيات كلونه پس د ترۀ زامنو راسره دعوىٰ شروع كړه چې زمونږ د پلار هبه ستا لپاره نۀ صحيح كيږي، ځينو مُلايانو ورته ويلې دي چې د كومې زمكې چې حدودِ اربعه معلوم نۀ وي، بلكه مشتركه وي، نو ددې هبه كول نۀ صحيح كيږي، دې باره كښې مونږ ته د قرآن اوسنت په رڼا كښې تفصيلي فتوىٰ وليكئ چې زمونږه لانجه حل شي، الله تعالىٰ دې تاسو ته اجر دركړي۔ (جنت گل، كندوز)۔

جواب : ستاسو دا مسئله دَ **هبة المشاع** د مسئلې سره تعلق لري، په دې وجه ځينې ملايانو درته دا ويلې چې دا قِسم هبه نۀ صحيح كيږي۔

د (هبۀ المشاع) په باره كښې د جمهورو علماؤ مذهب دادې چې دا قِسم هبه بالكل صحيح ده، په دې كښې شرعاً هيڅ مانع نشته، بلكه ددې په جواز باندې صحيح احاديث دلالت كوي۔

په الموسوعۀ الفقهيۀ كښې راځي :

ذهب جمهور الفقهاءِ إلى جواز هبة المشاع سواء فى ذلك ما أمكن قِسمته، ومالم يمكن

قسمته، وسواء وهبه لشريكهي أو لغيره.

(دَ جمهورو فقهاؤ مذهب دادی چی په مشرك شی کښی خپله حصه چاته هبه کول صحیح دی، برابره خبره ده چی ددی تقسیمول ممکن وی اوکهٔ ممکن نهٔ وی، دارنګه کهٔ خپل شریك ته ئی هبه کړی وی اوکهٔ بل چاته)۔

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښی لیکی: والجمهور على صحة هبة المشاع للشريك وغيره سواء انقسم أولا. (فتح الباری: ۱۷۲/۵).

په احنافو کښی د امام محمدؒ او امام ابو یوسفؒ هم دغه مذهب دی۔ البته امام ابو حنیفهؒ ته ددی نسبت شوی چی هغهٔ ویلی دی: اشیاء **په دوه** قِسمه دی، یو هغه چی قابلِ تقسیم وی، بل هغه چی تقسیم نهٔ قبلوی، د کومو شیانو چی تقسیم ممکن نهٔ وی لکه غلازم، حیوان، جامه، حمام او داسی نور، نو ددی هبیہ المشاع صحیح ده، اوکوم شیان چی تقسیم قبلوی نو د هغی هبیہ المشاع صحیح نهٔ ده۔ لکه امام عینیؒ حنفی په عمدة القاری شرح صحیح البخاری کښی لیکی:

اختلف العلماء فى هبة المشاع فقال مالك وأبو يوسف ومحمد والشافعي وأحمد وإسحاق وأبو ثور: تجوز، ويتأتى فيها القبض كما يجوز فيها البيع وسواء كان المشاع مما يقسم كالدور والأرض أو ممالا يقسم كالعبد والثياب والجواهر، وسواء مما كان يقبض بالتخلية أو مما يقبض بالتحويل. وقال أبو حنيفة: إن كان المشاع مما يقسم لم تجز هبة شئ منه مشاعًا، وإن كان مما لا يقسم تجوز هبته.

(فتاوى قاضى خان على هامش الهندية: ۲۶۷/۳، الهداية: ۲۸۵/۳، الفقه على المذاهب الأربعة: ۲۹۱/۳).

ستاسو د مسئلی په هکله چی د علماؤ کومه فیصله کړی نو دا ئی دَ امام ابو حنیفه رحمه الله ددی قول په بنیاد سره کړی۔ لیکن امام ابو حنیفهؒ ته ددی خبری مطلقاً نسبت کول هم صحیح نهٔ دی، چی هغه هبیہ المشاع (فیما یحتمل التقسیم) مطلقاً صحیح نهٔ ګنی۔ ځکه هغه په دی کښی هم فرق کوی، لکه علامه عینیؒ لیکی:

العبرة فى الشيوع وقت القبض لا وقت العقد حتى لو وهب مشاعًا وسلم مقسومًا يجوز.

(عمدة القارى شرح صحيح البخارى للعلامة بدر الدين العينى: ۱۴۳/۲۰، الجوهرة النيرة

کتابی الهبة : ۲۶۲/۳).

دَ هبیِ المشاع په هکله د جمهورو علماؤ مذهب صحیح او راجح دی، ځکه ددی قِسم هبی نه شریعت هیڅ منع نهٔ ده کړې، بلکه ددی په جواز باندی صحیح احادیث دلالت کوی، لکه ځینی دلائل په لاندی ډول دی :

ژ ۱ - قرآن کریم کښی راځی : ﴿ وإن طلقتموهن من قبل أن تمسوهن وقد فرضتم لهن فريضةً فنصف ما فرضتم إلا أن يعفون أو يعفو الذى بيده عقدة النكاح ﴾.(البقرة : ۲۳۷).

په احکام القرآن دَ ابن العربیؒ کښی راځی : هذه الآية حجة على صحة المشاع، لأن الله تعالىٰ أوجب للمرأة بالطلاق نصف الصداق، فعفوها للرجل عن جميعه كعفو الرجل ولم يفصل بين مشاع ومقسوم.

دارنګه په احکام القرآن دَ عماد الدين بن محمد الطبری المعروف بالكيا الهراسیؒ کښی دی :

قال الشافعی فی هذا دلالة على جواز هبة المشاع فيما ينقسم وفيما لا ينقسم، لإباحة الله تعالىٰ تمليك نصف المفروض الثابت بعد الطلاق، ولم يفرق بين ما كان منها عينًا أو دينًا، وما يحتم القسمة وما لا يحتملها، فوجب اتباع موجب الآية فی جواز هبة المشاع.

په البدائع والصنائع (۱۱۹/٦) کښی راځی :

عند الشافعی رحمه الله ليس بشرطٍ وتجوز هبة المشاع فيما يقسم وفيما لا يقسم عنده، واحتج بظاهر قوله عز جل : ﴿ فنصف ما فرضتم إلا أن يعفون ﴾ أوجب سبحانه وتعالىٰ نصف المفروض فی الطلاق قبل الدخول إلا أن يوجد الحط من الزوجات عن النصف من غير فصلٍ بين العين والدين والمشاع والمقسوع، فيدل على جواز هبة المشاع فی الجملة.

ژ امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح (۳۵۵/۲) کښی باب تړلی :

باب الهبة المقبوضة وغير المقبوضة، والمقسومة وغير المقسومة.

امام ابن بطالؒ د بخاری په شرح کښی لیکی : غرض البخاری فی هذا الباب والبابين بعده الرد على أبی حنيفة فی إبطاله هبة المشاع.

دارنګه وګوره : فتح الباری : ۱۸۷۲/۵.

امام بخاریؒ ددی نه پس دا حدیث راوړی :

ژ ۲ – حديث کښې راځي : أن رسول الله ﷺ قام حين جائه وفد هوازن مسلمين فسألوه أن يرد إليهم أموالهم ونسائهم فقال لهم رسول الله ﷺ : معىَ من ترون وأحب الحديث إلىّ أصدقه فاختاروا إحدى الطائفتين : إما السبى وإما المال وقد كنتُ استأنيتُ بهم.

په الفقه الاسلامی (۵/۵۱) دارنګه فقه المعاملات کښې دی :

وهذا هبة المشاع هي هبة الشخص ماله من حصة غير معينة فى شئ أو هبة ما يملكهى من شئ لاثنين أو أكثر.

ژ ۳ – عن عبد الله بن قرط رضى الله عنه عن النبى ﷺ قال : إن أعظم الأيام عند الله يوم النحر ثم يوم القر، قال ثور : وهو اليوم الثانى، قال : وقرب لرسول الله ﷺ بدنات خمس أو ست فطفقن يزدلفن إليه بأيتهن يبدأ قال : فلما وجبت جنوبها، قال : فتكلم بكلمة خفية لم أفهمها فقلت : ما قال ؟ قال : من شاء اقتطع. (رواه أبوداود).

ملا علی قاریؒ د مشکاۍ په شرح مرقاۀ کښې ددې حديث لاندې ليکي :

قال الخطابی : فيه دليل على جواز هبة المشاع.

دا خبره په عون المعبود او مرعاۀ شرح مشکوٰۀ کښې هم ذکر شوی.

ژ ٤ – وعن عائشة أنها قالت : إن أبا بكر الصديق نحلها جاد عشرين وسقًا من ماله بالغابة فلما حضرته الوفاة قال : والله يا ابنتى ما من الناس أحد أحب إلى غنى بعدى منك، ولا أعز على فقرًا بعدى منك، وإنى كنت نحلتك جاد عشرين وسقًا فلو كنت جددتيه واحتزتيه كان لك وإنما هو اليوم مال وارث وإنما هما أخوال واختال فاقتسموه على كتاب الله عز وجل، قالت عائشة : فقلت : يا أبتِ ! والله لو كان كذا وكذا لتركته إنما هى أسماء فمن الأخرى قال أبو بكر : ذو بطن بنت خارجة أراها جارية.

علامه ابن عبد البرؒ په الاستذکار کښې ليکي : وفى هذا – حديث عائشة هذا – جواز الهبة المجهول عينها إذا علم مبلغها وجواز هبة المشاع أيضًا.

ژ ۵ – يو حديث کښې راځي : بينما نحن نسير مع رسول الله ﷺ بين أثاية والروحاءِ وهم حرم، إذا حمار وحشى معقور، فقال رسول الله ﷺ : دعوه فيوشك صاحبه أن يأتيه، فجاء رجل من بهز، هو الذى عقر الحمار، فقال : يا رسول الله ! شأنكم هذا الحمارُ، فأمر رسول الله ﷺ فقسمه بين الناس.

ددی حدیث لاندی علامه ابن البرّ په الاستذکار کښی لیکی :
وقد استدل قوم بهذا الحديث أيضًا على جواز هبة المشاع لقول البهزى للجماعة : شأنكم به ثم قسمة أبو بكر بينهم بأمر رسول الله ﷺ.
(په دی حدیث باندی هم بعضو علماوو استدلال کړی چی هبی المشاع جائز ده، ځکه دغه سړی ټول جماعت ته وویل : تاسو پوهه شئ او دا خر پوهه شه، بیا دَ رسول الله ﷺ په حکم باندی ابو بکر صدیق رضی الله عنه تقسیم کړو)۔
ژ ۶ – دَ جابر رضی الله عنه په اوږد حدیث کښی راځی :فلما قدم رسول الله ﷺ المدينة، قال لبلال : زن له أوقية وزده قيراطًا.
امام بغویؒ ددی په شرح کښی لیکی : وفيه دليل جواز هبة المشاع، لأن زيادة القيراط هبة غير متميزة من جملة الثمن.
دارنګه وګوره مرقای شرح مشکوٰی۔
ژ ۷ – عن عائشة قالت : لما حضرت أبو بكر الوفاة أى بنية إنه ليس أحد أحب إلى غنى منك ولا أعز على فقرًا منك وإنى قد كنتُ نحلتك جداد عشرين وسقًا من أرضى التى بالغابة وإنك لو كنت حزتيه كان لك فإذا لم تفعلى فإنما هو للوارث وإنما هما أخوال وأختال قلت هل هى إلا أم عبد الله، قال : نعم وذو بطن ابنة خارجة قد ألقى فى نفسى أنها جارية فأحسنوا إليها فولدت أم كلثوم.
(أخرجه عبد الرزاق : ۱۰۱/۹، رقم : ۱٦٥۰۷، وابن سعد : ۱۹٥/۳، والبيهقى ۱٦۹/٦، رقم : ۱۱۷۲۸، ومالك : ۷٥۲/۲، رقم : ۱٤۳۸، كنز العمال : ۳٥٥۹٤).
د بخاری شارح ابن بطالؒ لیکی : لأنه وهب لها جداد عشرين وسقًا من أوساق كثيرة، وهذا مشاع بينهم، فدل على جواز هبة المشاع، لأنه لو لم يجز لم يفعله.
ژ ۸ – عن سويد بن قيس قال : جلبت أنا ومخرفة العبدى بزًا من هجر أو البحرين، فلما كنا بمنى أتانا رسول الله ﷺ، فاشترى منا سراويل قال : وثم وزان يزن بالأجر، فدفع إليه رسول الله ﷺ الثمن ثم قال : زن وأرجح.
امام بیهقیؒ په معرفی السنن والآثار کښی ددی حدیث په فائدو کښی لیکی :فيه دلالة على جواز هبة المشاع، فإن الرجحان يجرى مجرى الهبة، والله أعلم.

ژ ۹ – په یو اوږد حدیث کښې راځي چې رسول الله ﷺ وفرمایل :
أيها الناس والله ما لي من قبلكم ولا هذه الوبرة إلا الخمس والخمس مردود عليكم فأدوا الخياط والمخيط فإن الغلول عار ونار وشنار على أهله يوم القيامة. فجائه رجل من الأنصار بكبة من خيوط شعرٍ فقال : يا رسول الله أخذتُ هذا لأخيط به برذعة بعير لي دَبِرٍ فقال رسول الله ﷺ : أما حقّي منها لك. فقال الرجل : أما إذا بلغ الأمر هذا فلا حاجة لي بها فرمى بها من يده.
بدائع الصنائع (۶/۱۲۰) کښې ددې حدیث لاندې لیکي : شافعي رحمه الله وائي : وهذا هبة المشاع فيما يقسم.
امام سرخسیؒ په خپل مبسوط کښې لیکي : ويستدل الشافعي رحمه الله تعالىٰ بالحديث في جواز هبة المشاع فقد وهب رسول الله ﷺ نصيبه من الرجل وكان مشاعًا.
بدائع الصنائع (۶/۱۲۰) کښې دي : وقد روي أن رسول الله ﷺ نزل على ابي أيوب الأنصاري رضي الله عنه فنظر إلى موضع المسجد فوجده بين أسعد بن زرارة وبين رجلين من قومه فاستباع أسعد نصيبهما ليهب الكل من رسول الله ﷺ فأبيا ذلك فوهب أسعد نصيبه من النبي ﷺ فوهبا أيضًا نصيبهما من رسول الله ﷺ فقد قبل النبي ﷺ الهبة في نصيب أسعد وقبل في نصيب الرجلين أيضًا ولولم يكن جائزًا لما قبل لأن أدنى حال فعل النبي ﷺ الجواز.
تلك عشرة كاملة.
چونکه په دې موضوع دا یوه فتوه ده، رساله نۀ ده، نو ځکه مونږ په دې دلائلو اکتفاء کوو، ګنې د هبې المشاع (قابلِ تقسیم وی اوکۀ غیر قابلِ تقسیم) په جواز باندې بې شماره دلائل شته۔
حاصل دا چې : ستا تره ستا پلار ته کومه زمکه هبه کړې نو دا هبه بالکل صحیح ده، ستا سره دَ ترۀ د ځامنو او لمسو دعویٰ کول غلط کار دی۔
تاته چې مُلایانو کومه خبره کړې چې دا هبه نۀ صحیح کیږي، نو دا ئې د (هبې المشاع) په بنیاد درته ویلی، او هغوئ غریبانان په دې باندې هم نۀ پوهه شوي چې فقه حنفي کښې کوم ډول هبې المشاع صحیح او کوم ډول غیر صحیح ده ؟ تاسو وکتل چې امام ابو حنیفهؒ هم دوه ډوله (هبې المشاع) صحیح ګڼي، جمهور علماء سره دَ امام محمد او امام ابو یوسفؒ نه هر قِسم هبې المشاع صحیح ګڼي۔ او په دې خبره دَ دوئ سره صحیح دلائل

موجود دی، لکه ځینی د هغی پورته ذکر شول۔ فقط۔

لا تسمع تلک الدعوی

سوال: زمونږ مور مړه شوه ، دی ته چی د خپل پلار نه کوم میراث پاتی شوی وو نو هغه ددی د ورنو سره ده، اوس مونږ دخپلو ماماگانو نه زمونږ د مور برخه غواړو هغوی ئی نه راکوی ، زمونږ جګړه قضاء ته لاړه ، ماماگانو قاضیانو ته په جواب دعوه کښی د بعضی ملایانو فتوی راوړی چی دوی((زمونږ خور او خوری یونو) چونکه دا ډیر وخت د خپل حق مطالبه نده کړی نو لهذا ددوی حق ساقط دی ،دوی اوس دعوه نشی کولی۔

محترم شیخ القرآن والحدیث علامه ابومحمد امین الله (حفظه الله) او جناب مفتی صاحب ابوخالد لائق احمد غزنوی، ستاسونه زمونږ پوښتنه داده چی آیاپه رشتیا هم دعوه نشو کولی ځکه مونږ ډیر وخت د خپل حق مطالبه نده کړی۔زمونږحق د ((تقادم))، ((مرور الزمان)) ((پنځلس،((دیرش)) او ((شپږ دیرش)) کلونوتیریدو په وجه ساقط شو؟۔

جواب : الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله، أما بعد :

ستاسو په مسئله کښی د بیان نه مخکښی دا خبره یاد ساتئ چی د ځینو فیصلو دوه اړخه وی : (۱) قضاء،(۲) دیانۃ۔

قاضی چونکه ظاهر ته گوری، نو په دی وجه ځینی وخت داسی فیصله وکړی چی په هغی سره حق، حقدار ته ونۀ رسیږی۔

په فقه کښی د ځینو مسئلو په هکله لیکلی شوی دی (لا یسمع تلك الدعوی) دا دعویٰ قضاء نۀ آوری۔

څرنګه چی داسی مسئلی مختلفی دی، نو په دی وجه ددی علتونه هم بیل بیل ذکر شوی، کله لیکی، دا دعویٰ د (ترک القیام بالدعوی بلا عذر، تقادم، او حیازة) په وجه قابلِ سَماع نۀ ده۔ کله د (تناقض الدعوی) په وجه هم دعویٰ د آوریدو قابله نۀ گڼی۔ دارنګه دوئ (دعوی بعد الابراء من جمیع الحقوق) هم قابلِ سَماع نۀ گڼی۔

د دوئ ددی قاعدو لاندی ډیری زیاتی مسئلی راځی، چی په هغی کښی یوه دغه مذکوره مسئله دَ میراث هم شامله ده۔

لکه فقهاء لیکی : لا تسمع دعوى الإرث فيما لا تسمع دعوىٰ مورثه فيه.
(تكملة حاشية رد المحتار).
په مجلۍ الاحکام کښی راغلی :
إذا ترك أحد الدعوى بلا عذرٍ، على الوجه الآنف ووُجدَ مُرور الزمن فكما لا تسمع الدعوىٰ في حياته لا تُسمع من ورثته بعد مماته أيضًا. (المادة : ١٦٦٩).
په فقه حنفی کښی د مرور الزمان لپاره پنځلس، دیرش او شپږ دیرش کاله لیکلی شوی۔ وګوره : (تكملة حاشية رد المحتار، مجلة الأحكام العدلية، درر الحكام شرح مجلة الأحكام، المحيط البرهاني، الفتاوى الهندية).
ددی قِسم مسئلو په هکله فقهاؤ دَ (سد الذرائع) او (ظاهر الحال) په بناء دَ (لا تسمع تلك الدعوى) خبره لیکلی۔ والله اعلم۔
لیکن ددی قطعاً دا مطلب نۀ دی چی ګنی یو مسئله قضاء وانۀ وری، نو په دی سره پردی حق اخستل حلال شو !! پردی حق د شرعی اسبابو نه بغیر په بل هیڅ یو صورت سره نۀ رواکیږی، اګرکۀ یو انسان د بل انسان مال ډیر زیات وخت استعمال او په خپله قبضه کښی اوساتی۔
دی باره کښی چی ځینی خلق دا حدیث پیش کوی چی :
من حاز شيئًا عشر سنين، فهو له. (أخرجه عبد الله بن وهب في موطئه).
(چاچی یو شی تر لسو کلنو پوری ځان سره وساتل نو دا ددۀ شو)۔
دا حدیث ضعیف دی، په دی سره احکام نۀ ثابتیږی۔ ددی حدیث د سند تفصیل په (سلسلۍ الاحادیث الضعیفۍ : ٤٨٥٣) کښی وګورئ۔
بلکه که یو کس ته قاضی د (ظاهر الحال) په وجه د بل چا مال ورکړی نو بیا هم د هغۀ دپاره دا مال نۀ جائز کیږی۔
حدیث کښی راځی، رسول الله ﷺ فرمایلی :
عن أم سلمة قالت : قال رسول الله ﷺ : إنكم تختصمون إلى ولعلّ بعضكم أن يكون ألحن بحجته من بعض، فأقضي له على نحو ما أسمع منه، فمن قطعت له من حق أخيه شيئًا فلا يأخذه، فإنما أقطع له به قطعة من النار. (متفق عليه).

ددی حدیث نه ډيره عجيبه مسئله معلوميږی، هغه داچی که څوك د خپلی چالاکئ په وجه د بل کس نه څۀ شی د رسول الله ﷺ په فیصله او قضاء وګټی، نو بیا هم هغۀ لپاره نۀ جائز کیږی، نو د بل چا په فیصله او قضاء به څرنګه جائز شی !!

پاتی شوه دا خبره چی آیا په (تقدم) او (مرور الزمان) سره واقعی هم مسئله دَ عدمِ سَماع قابل ګرځی ؟ نو دی باره کښی شیخ سفر الحوالی حفظه الله فرمائی :

ومن المخالفات الشرعية فی نظام الشركات أنه يسقط الدعوی بالتقادم.. ومعنی سقوط الدعوی بالتقادم أنه إذا مرت مدة زمنية سقط حقك فی الإدعاءِ.. وهو أيضاً حكم مخالف للشريعة، وما عرفه المسلمون بهذا الشكل إلا عند ما استوردوا القوانين الوضعية. (دروس للشيخ سفر الحوالی).

ددی مسئلی نور تفصيل په ابحاث هيئة كبار العلماء عدد : ۷، ۱۳۹۸/۱۰/۲هـ کښی وګوره۔

نو ستاسو په مسئله کښی کۀ تاسو سره په دی خبره ګواهان او ثبوت وی چی د دوئ په مال کښی زمونږ دمور حق شته، نو قاضی ته تللی شئ، قاضی به ددی تحقیق وکړی، د مدعیٰ علیه دعویٰ او د مدعیٰ علیه (جواب دعویٰ) به واوری، قرائنو، ظاهر الحال، ګواهانو او ثبوتونو ته به وګوری، نو د شریعت مطابق به یا ستاسو په هکله فیصله وکړی، او یا ستاسو د (مدعی علیهم) په هکله۔

صفر المظفر : ۱٤۳۰/۲هـ

د بُوی معلومونکو سپو په واسطه تحقیق کول او مجرم معلومول

سوال : زمونږ وطن داران دی، په پنجاب کښی ئی هوټل دی، د دوئ دَ هوټل سره خواکښی یو کورکښی وادۀ وو، طبعی خبره ده چی وادۀ ته ښځی سرۀ سپین زر ډیر اچوی، د شپی په وخت دی کور ته غلۀ راغلل، ټولی ښځی ئی یرغمال کړی، د هغوئ نه ئی د ټوپك په زور ټول سرۀ زر وويستل، غلۀ اوتښتیدل، حکومتی پولیس راغلل، ځان سره ئی سپی هم راوستی وو، سپی ئی د غلو په لټه پسی خوشی کړل، سپی لاړل او دغه هوټل ته ننوتل، حکومت د هوټل مالك، مزدوران، ټول ونیول۔

ژ بـله واقعه په خپله زمونږ په علاقه کښې راپېښه شوه، هغه دا چې یو کس چا د شپې ووژل، سهار وختې د مړي خپل خپلوانو دا سپي راوستل، هغوئ ددې ځایه یو ځای ته بیا بل ځای ته لاړل، آخر یو کور ته ننوتل، چې دوئ وکتل، دا د دوئ د مخالف کس کور وو.
هغه کس د قتل نه انکار وکړو، لیکن څۀ زمانه پس د مړي خپلوانو پټ په پټه ددې کور مالك ووژل.
دارنګـه نـن سبـا ډیر آورو، امـریـکـایـان ځـان سره د تـحقیق دپاره سپي ګرځوي، نور مـلـکـونـوکښـې هـم مـجـرمـان، لکه غلۀ، قاتلان او داسې نور خلق د دغه سپو په واسطه معلوموي.
اوس سـوال دادی چې د سپـو په واسطه تحقیق کول او مجرم معلومول څۀ حکم لري ؟ عـام خـلـق هـم ورته حیران دي، چې سپي به څرنګه مجرم معلوم کړي ؟ ډیر خلك وائې دا درغ دی سپې څه ډول مجرم پیژندلی شي، لیکن پولیس وائې چې د سپي په ذریعه مونږ مجرم معلومولی شو.
آیا د بـوی پـه واسطـه امـکـان لـري چې مـجـرم مـعلوم کړل شي؟ دوی پـه بوی څرنګـه مـعـلـومـول کـولی شـي؟پـه قـرآن او سـنـت کښـې دداسې مسئلې څه اشاره شته او کنه، تفصیلي فتوه راکړئ.
جواب : پـه دی هـکـله دا خبره واورئ چې دا ډول سپي خلق دَ بُوی په ذریعه معلوموي، ځکه د انسان بوی یو داسې شی دی چې تر ډیر وخته پاتې کیږي.
پـه قرآن کریم کښې د یوسف علیه السلام په واقعه کښې راځي چې د هغۀ پلار یعقوب علیه السلام وویل : ﴿ إني لأجد ريح يوسف ﴾. (يوسف : ٩٤).
(په ما باندې د یوسف بُوی لګیږي).
په تفسیر الشعراوی کښې ئې ددې آیت لاندې لیکلي :
إن يعقوب والد يوسف عليهما السلام كان يملك حاسة شم قوية، فعندما خرجت القافلة من مـصـر، قـال والـده : إنـي أشـم رائـحة يوسف... ولماذا استخدم هنا كلمة الرائحة ؟ لقد ثبت حـديثًـا فقط أن الرائحة هي أبقى الآثار بالنسبة إلى الكائن الحيّ، بدليل أن الذين عندهم حاسة الشمّ قوية من الكائنات كالكلاب البوليسية يستدلون برائحة الجاني على مكان وجوده، كأن

الـجـانـی یتـرك أثرا لرائحته فی مکان الجریمة، و کل ما هو مطلوب أن یوجد من له حاسة شمّ قویة لیستدل علیه.

دارنګه په قرآن کریم کښې راځی چی یوسف علیه السلام وفرمایل :

﴿ اذهبوا بقمیصی هذا فألقوه علی وجه أبی یأت بصیرًا ﴾.

دکتـور فـاضـل صـالـح السامرائی په خپل کتاب (لمسات بیانیی) کښې ددی آیت لاندی لیـکی : کـانـت بشـری لـوالـده وسـب لـردّ بـصره بینة صحیحة فی قمیص یوسف.. ولیس بالضرورة أنه القمیص الأول لکن یعقوب علیه السلام یعرف رائحة ابنه.

دارنګـه همدغه نوموړی لیکی : هـنـاك مسـألة لما فصلت العیر قال أبوهم إنی لأجد ریح یوسف لولا أن تفندون، إذن رائحة یوسف فی القمیص وهذا أمر ثابت أن لکل إنسان له رائحة خـاصة لـکـن لا یمیزها کل الناس وإنما تمیزها الکلاب البولیسیة ثم من الناس من إذا عصبت عینیه تعطیه قمیصًا تسأله لمن ؟ یقول لفلان ویعرفه من الرائحة.

بیا دغه مذکوره دکتوریوه قیصه هم لیکلی :

وأذکر أن أحجهم أخبرنی أن زورجة أخیه یغسلون ملابس العائلة کلها فی الغسالة ویعصبون عیونها ویقولون استخرجی ملابس زوجك تشتمها وتجمع ملابس زوجها بعد غسلها. وقالوا : هـی أشـد مـن الکلاب البولیسیة إذن إنی لأجد ریح یوسف وهذه مسافة طویلة وهذا یحصل التـمسـاح یشـم رائـحة الـفـریسة من کیلومترات، فإن هذا أمر إشارة إلی أن لکل إنسان رائحة تصح تصلح للحکم والاستدلال ونحن نستعملها للاستدلال.

مـذکـوره آیتـونه او شواهد په دی خبره دلیل دی چی انسان د ځۀ سره ولګیږی ، یا په یوه لاره باندی لاړ شی، نو دا هیڅ بعیده نۀ ده چی ددۀ بوی دی د هغۀ شی سره پاتی شی۔

لیکن دی بـاره کښـی دا خبره یاد ساتل پکار دی، چی د اسلامی دین قضاء ډیره په احتیاط او دقت بـانـدی ولاړه ده۔ د جـنـایـاتـو خـصـوصـاً د قصاص او حدودو په ثبوت کښی خو ډیر زیات احتیاط او سختی کوی۔

علامه ابن القیم رحمه الله په اعلام الموقعین (۱۱۹/۲) کښی لیکلی :

وکـان مـن تمام حکمته ورحمته أنه لم یأخذ الجناة بغیر حجة، کمالم یعذبهم فی الآخرة إلا بـعـد إقـامة الـحـجة عـلیهم، وجعل الحجة التی یأخذهم بها، إما منهم وهی الإقرار، أوما یقوم

مقامه من إقرار الحال وإما أن تكون الحجة من خارج عنهم، وهى البينة. واشترط فيها العدالة، وعدم التهمة، فلا أحسن فى العقول والفطر من ذلك، ولو طلب منها الاقتراح لم تقترح أحسن من ذلك، ولا أوفق منه للمصلحة.

دَ اسلامی دین د حکمتونو او برکتونو نه یو برکت دادی چی مجرم خلق (د سزا ورکولو دپاره) بغیر د مضبوط دلیل نه نهٔ رانیسی، لکه دا قانون په آخرت کښی هم دی۔

بله خبره دا هم واوره، چی سپی ته الله تعالیٰ ډیره زیاته قوتِ شامّه ورکړی۔

ژ دی باره کښی یو متخصص لیکلی :

والثابت أن الكلب ذو قدرة فائقة فى الشمّ تفوق الإنسان بملايين المرات.

(ندوة القضاء الشرعى فى العصر الحاضر الواقع). (دا خبره ثابته شوی چی سپی په انسان باندی په قوتِ شامه کښی په ملیونو ځلی زیات قوی دی)۔

لیکن ددی سره سره، دا ډول سپی صرف قرینه غیر قاطعه جوړیدی شی، تحقیق کونکو ته په یوه معامله کښی د مسئلی رُخ ورکولی شی۔

په دی باندی د یو کس په یو جرم کښی د ککړیدو یا پاکیدو حکم نشی کیدی۔ ددی وجه داده چی ددی قِسم سپو کار ټول په بُوی بناء وی، ددی وجی نه په بُوی کښی د ځینو خوراکونو، عطرو، او داسی نورو کیمیکل شیانو په وجه تغیر او تبدیل راتلی شی۔

دارنګه کوم کس چی څهٔ جُرم وکړی، هغه په نورو طریقو هم کولی شی چی دغه سپو ته دهوکه ورکړی، ځکه بُوی انتقال هم قبلوی، مثلاً: یو کس سګریټ، چلم اوڅکی، دا کس د بل داسی کس سره ولګیږی چی هغهٔ نهٔ وی څکلی، نو ددهٔ د لګیدلو په وجه دا بُوی دَ هغهٔ نه هم ځی۔ په عطرو کښی هم دا مسئله ده۔

مجرم کولی شی چی د ځینو نورو خلقو سره ولګیږی نو ددهٔ بوی ددی انسان سره هم پاتی شو، دا سپی دا انسان هم رانیسی حال دا چی مجرم نهٔ دی۔

دارنګه د سپو په قوتِ شامه کښی هم کله نا کله د لوږی، تندی، او ستړی والی په وجه ضعف او تغیر راتلی شی۔

دارنګه ددی فن ماهرین وائی: سپی ډیر ډولونه لری، هر سپی جرم کونکی نشی معلومولی، اوکوم چی بوی معلوموولی شی نو هغه هم ډیر زیات تربیت غواړی، ځینی

په بوی معلومولو کښې ډیر ماهره وی ځینی کم۔
په دی وجه دا د مجرم او متهم انسان د اقرار یا په هغۀ باندی د ګواهانو په شان دلیل نشی جوړیدی۔ **البته** صرف د تخمین او کمزوری قرینی په ځای کار ورکوی، یو کس ددی په وجه د اشتباه لاندی راتلی شی۔
لکه څرنګه چی مخکښی ذکر شو، دا ډول سپی تر ډیره حده د تحقیق کوونکو او د امنیت پولیسو سره مرسته کولی شی، هغوئ ته د قضیی په طرفته رُخ ورکولی شی، ډیر ځلی د داسی سپو په وسیله تحقیق ته ورسیږی۔
ځینو معاصرینو علماؤ ویلی دی چی دا ډول سپی د قائف (قیافه دان) حکم لری، نو په دی وجه د دوئ عمل (بویول) دلیل جوړیدی شی۔
ددی علماؤ خبره خطاء ده، ځکه **اول** خو ذکر شو چی دا ډول سپی کله په خپله کله د مجرم کس د دهوکی په وجه په بوی کښی خطا کیږی۔
دویم : د قائف او قیافی لپاره خپل شرطونه دی، لکه د فقهی په کتابونو کښی تفصیلاً ذکر شوی دی۔ نو هغه شرطونه په دغه سپو کښی نشی راتلی۔
دریم : دا چی د اسلام نه سیوا اوسنی جوړ شوی قوانین او نظامونه هم یوائحی ددی ډول سپو بوی هم حجت او دلیل نۀ ګرځوی، دارنګه په دی سپو ډول ډول جرمونه معلومولی شی لکه قتل، غلا، اوداسی نور چی هغو کښی حد او قصاص لازمیږی۔ نو زمونږ اسلامی شریعت خو د دوئ د دینونونه څوکرته ډیر په احتیاط او دقت ولاړ دی۔ زمونږ په دین کښی په حدودو قصاص کښی د ښځو او فاسقانو ګواهی معتبره نۀ ده، نو د حیواناتو ګواهئ ته به څرنګه اعتبار ورکړی شی ؟
وګوره : (فتاوى ورسائل محمد بن إبراهيم آل الشيخ).
پاتی شوه په دی سپو باندی د جرمونو معلومولو حکم
نو که چیری تحقیق کونکی او امنیتی پولیس دا ډول سپی یوائحی په جرم معلومولو کښی د مرستی او د قضیی دَ رُخ معلومولو دپاره کاروی، د مجرم اوجرم په هکله ئی یوه نښه او (کمزوری) قرینه ګرځوی، نو په دی کښی هیڅ مانع نشته۔ سپی او نور مخلوقات د انسان د فائدی لپاره پیدا شوی۔ نو دا هم داسی فائده ده چی شریعت ورنه منع نۀ ده

کړی۔
په دی ډول استعمال سره علماء کرامو هم د جواز فتویٰ ورکړی۔
علامه ابن باز رحمه الله هم ددی د استعمالولو د جواز فتویٰ ورکړی۔
(مـجـمـوع فتاویٰ العلامة عبد العزيز بن باز رحمه اللّٰه، مجلة التوعية الإسلامية، العدد الرابع بتاريخ: ۲۰/۱۱/۱٤۰۰هـ).
دکتور عبد الله الفقيه په فتاویٰ الشبکۍ کښی ليکی:
وعـلى هذا فلا مانع من الاستفادة من الكلاب البوليسية فى مجال القضاءِ، وخاصة فى جرائم تهـريـب الـمـخـدرات وما أشبهها وننبه إلى أنه يجب أن تبقىٰ الاستفادة من هذه الكلاب فى حدود القرائن، فلا يرتقى بها إلى درجة البينات المثبتة التى تترتب عليها الأحكام، فلا يمكن أن تقوم هذه الكلاب مقام إقرار المتهم ولامقام الشهود. واللّٰه أعلم.
دارنګـه دکتـور سعيد بن درويش الزهرانی په خپل کتاب (طرائق الحکم المتفق عليها والمختلف فيها فی الشريعۍ الاسلاميۍ: ۳٤۹، کښی ليکی:
لا مـانـع من استعانة القاضى المسلم بهذه القرينة والاستفادة من الكلاب البوليسية فى مجال الـقـضـاءِ أمـر مبـاح، ويـقـاس عـلـى الاستفادة منها واقتنائها للصيد والحراسة ولذلك أجازته الشريعة الإسلامية.
پـه فتـاوی الازهر کښی راځی: وروى أبـوداود والـنسـائى وابن حبان فى صحيحه أن النبى ﷺ قال: لا تدخل الملائكة بيتا فيه صورة ولا كلب ولا جنب.
يـؤخذ من هذا: حرمة اقتناء الكلاب التى لا فائدة فيها، كما نصت الأحاديث على استثناء ما فيـه فـائـدة، وهى كلاب الصيد، وكلاب حراسة الزروع، وكلاب حراسة الماشية، وقد يقاس عليها الكلاب البوليسية لأن لها منفعة.
پـه الـمـوسـوعۍ الـجنائيۍ الاسلاميۍ المقارنۍ بالانظمۍ المعمول بها فی المملکۍ العربيۍ السعـوديۍ، تـاليف سعود بن عبد العالی البارودی العتيبی کښی راځی؛ وتجوز الاستعانة بالكلاب البوليسية للتعرف ولا يؤخذ باستعرافها كدليل للاتهام.

//////

کتاب الحظر والاباحه

جائز او ناجائز کارونه

ډوډۍ ښکلول څه حکم لري؟

سوال : د بعضی خلکو عادت داوی چې ډوډۍ ښکلوی، زمونږ سوال دادی چې ډوډۍ ښکول څه حکم لری ؟ آیا دا کار جائز دی که ناجائز ؟ دی باره کښې شرعی فتوٰی د قرآن او سنت په رڼا کښې راکړۍ۔ وجزاکم الله خیرا۔

جواب : دی باره کښې یوه شرعی قاعده داده چې د یوشی ښکلول د تعظیم او احترام په نیت تر شرعی حکم او اجازې پورې موقوف دی، لکه حدیث کښې راځی چې خلیفه راشد عمر فاروق – رضی الله عنه – حجرِ اسود ته راغی او وی ویل :

إنی أعلم أنك حجر، لا تضر ولا تنفع، ولولا أنی رأیت رسول الله ﷺ یقبلك ما قبلتك. (رواه البخاری).

یعنی زه ښه پوهیږم چې ته یو کاڼړی ئی، نه چاته ضرر ورکولی شی او نه نفع، که چیری ما رسول الله ﷺ ستا په ښکلولو نه وای لیدلی نو مابه تۀ نه وی ښکول کړی۔

حافظ ابن حجرؒ د عمر رضی الله عنه ددی قول لاندی لیکی :

قال شیخنا فی شرح الترمذی : فیه کراهة تقبیل مالم یرد الشرع بتقبیله.

یعنی ددی حدیث نه دا مسئله معلومه شوه چې د کوم شی په باره کښې شریعت د هغه د ښکلولو اجازت(د تعظیم او احترام په نیت) نه وی کړی، نو د هغه ښکلول مکروهه دی۔

(فتح الباری ٢٥٥/٥، وفی نسخة ٤٦٣/٣).

دا ډوډئ خو پخوا هم موجوده وه، د دواعيو سره سره د ډوډئ د ښكلولو په باره كښې د رسول الله ﷺ نه هيڅ نه دى نقل شوى، اونه د هغوئ صحابه كرامو (رضى الله عنهم) چيرته دا ښكول كړى دارنګه دسلف صالحينو(رحمهم الله)نه هم ددى ښكلول نه دى نقل شوى، نو عدم نقل هم ددى په كراهت باندى دليل دى۔

په منار السبيل شرح الدليل (۱٤۲/۲) ابن ضويانؒ ليكى :

ولا يشرع تقبيل الخبز، لحديث عائشة : دخل على رسول الله ﷺ فرأى كسرة ملقاة فأخذها فمسحها ثم أكلها وقال : يا عائشة أكرمى كريمك فإنها ما نفرت عن قوم فعادت إليهم.

(رواه ابن ماجه، ورواه ابن ابى الدنيا فى كتاب الشكر له بنحوه، ولفظه :

أحسنى جِوار نعم الله عليك. فى الآداب : فهذا الخير يدل على عدم التقبيل، لأن هذا محله كما يفعل فى هذا الزمان. وتكره إهانته ومسح يديه به ووضعه تحت القصعة نص عليه لما تقدم، وكره أحمد الخبز الكبار وقال : ليس فيه بركة.

يعنى د ډوډئ ښكلول جائز ندى ځكه حديث كښې راځى : عائشه رضى الله عنها فرمائى : رسول الله ﷺ زما كورته تشريف راوړو نو د ډوډئ يوه ټكړه ئى په زمكه پرته وليده، نو ماته ئى وفرمايل : د خپل عزتمند شى عزت كوه ځكه داچى د چانه تللى ده نو بيا بيرته ورته نده راغلى ۔

ددى حديث په وجه د ډوډئ سپكاوى هم نه دى جائزچى په دى باندى لاسونه پاك كړى شى يا د كاسى لاندى كيښودلى شى۔ امام احمد(رحمه الله) هم ديته مكروه ويلى دى۔

دا حديث په دى مسئله دليل دى چى د ډوډئ ښكلول نشته، ځكه دا ئى د ښكلولو موقع وه، او ښكول ئى نه كړه۔

په كشاف القناع كښې راځى : د ډوډئ او نورو جماداتو ښكلول (د تعظيم او احترام په نيت) نه دى جائز، سيوا د هغه څه نه چى شريعت ئى استثناء كړى ده لكه حجرِ اسود چى په شريعت كښې ددى ښكلول راغلى دى۔

ولا يشرع تقبيل الخبز ولا الجمادات إلا ما استثناه الشرع، كتقبيل الحجر الأسود وتقدم فيه كلام فى الحج. (كشاف القناع عن متن الإقناع ١٥٩٤).

علامه سیوطی (رحمه الله) په الحاوی للفتاوی (۲۷۱/۱) کښې لیکی :
وقد قال ابن النحاس فی تنبیه الغافلین ومنها - أی من البدع - تقبیل الخبز وهو بدعة لا تجوز.

په المعیار المعرب کښې دی :
قال العلامة ابن حجر رحمه اللّٰه :لا أعلم أحدًا من العلماءِ قال بجواز إهانة الخبز بالقائه تحت الأرجل، وطرح ما تناثر منه فی المزبلة مثلا، ونحو ذلك، ولا نص أحد علی المبالغة فی تکریمه وتقبیله مثلا، بل نص أحمد رضی اللّٰه عنه علی کراهة تقبیله... وفی الجملة لا ینبغی مع ورود هذه الأحادیث إهانة الخبز احتیاطًا، وأما تعظیمه بأن یجعل فوق الرأس ویقبل فلا یشرع. (المعیار المعرب ۸/۱۱).

دارنګه دی باره کښې وګوره : (مطالب أولی النهی فی شرح غایة المنتهی والاقناع، دلیل الطالب لنیل المطالب، غذاء الألباب لشرح منظومة الآداب، شرح زروق ۳۸۵/۲، المعیار المعرب ۸۱۱-۹، للحنابلة، الآداب الشرعیة ۲۲۱/۳، الإنصاف ۲٤۷/۸، والموسوعة الفقهیة الکویتیة، حرف التقبیل وفتاوی الشبکة الإسلامیة.

۱٤۲۸/۱۱/۵هـ

د ټائی په غاړه کولو حکم

سوال : ټائی په غاړه کول څه حکم لری ؟

جواب : د ټائی په هکله د جواب کولو لپاره اول مونږ د ټائی تاریخ لیکو۔

دویم : آیا د ټائی په تړلو باندی دکافرو او فاسقانو سره مشابهت راځی اوکه نه ؟ دارنګه دا خو به په (من تشبه بقوم فهو منهم) کښې نۀ راځی ؟

دریم: د کافرو سره د مشابهت کولو حکم او ضررونه :

څلورم: دَ فتوی خلاصه :

د ټائی تاریخ : د ټائی په تاریخ او ددی په غاړه کښې د اچولو په هکله د علماؤ مختلف نظرونه دی، چی د ټائی اصل د څۀ نه شروع شوی؟

چی د دویٔ د نظرونو حاصل په لاندی ډول دی :

۱ - دا د صلیب علامه ده، ځکه صلیبیانو به په اصل کښی صلیب په غاړه ګرځولو، لیکن د هغه ګرځول په غاړه کښی همیشه ورته تکلیف وو، نو په دی وجه ئی یوه ټکړه جامه د صلیب د علامی په شکل په غاړه کښی واچوله۔

إن أصلها عند الكفار الأوائل: أنها كانت من جملة الصلبان، فلما تقدم بهم الزمن وثقل عليهم الصليب لأنه كان من المعدن، حولوه إلى هذه الربطة التى من تمعنها يرى فيها صورة الصليب.

وهذه الحقيقة مذكورة فى كتب الكفار وقواميسهم.[أرشيف ملتقى الحديث].

۲ - دیته نزدی قول دادی چی دا د صلیب علامه او شعار دی، دوی وایی: کله چی ((انسائکیلو پیډیا برنیکا)) په اول ځل چاپ شوه، نو په هغی کښی ئی د ټائی متعلق لیکلی وو، چی: ددی نه مراد هغه نښه ده، چی صلیبیان (نصاریٰ) ئی د صلیب مقدس د علامی په ډول په غاړه کښی اچوی۔

۳ - دریم قول دادی چی ټائی په اصل کښی په یورپ کښی د سړی له طرفه خپلی ښځی ته د تابعداریٔ راز او علامه ده، څهٔ زمانه پس دَ یورپیانو تهذیب جوړ شو۔

(فتاوى الشبكة للدكتور عبد الله الفقيه).

٤ - بعض علماؤ لیکلی چی ټائی ته په انګریزیٔ کښی کریویټ هم ویلی شی، او کریویټ د بوسنیا سره نزدی د یو مشهور ښار نوم دی، او ټائی ته کریویټ ځکه ویلی شی چی د دویٔ جنګیالو به چی کله د خپلو دښمنانو سره په واورو کښی جنګونه کول، نو د خپلی مرو (غاړو) نه به ئی د مالوچو(پنبه وو) یا نورو جامو ټکړه تاووله، نو کله چی دوی په خپلو دښمنانو فتح حاصله کړه، نو دائی د کامیابیٔ شعار شو۔ بیا څهٔ وخت ورسته په یورپ کښی عام رواج شوه، ددی نه پس نوره دنیا کښی ددی په غاړه کښی اچول شروع شو۔ والله اعلم۔

۵ - چا لیکلی: الحقيقة أن هذه تعود إلى الجنود الكروات نسبة إلى كرواتية الحالية الذين كانوا فى جيش الملك الفرنسى لويس الرابع عشر (١٦٣٩ - ١٧١٥) وكانوا يضعون هؤلاء الجنود فى عنقهم قطعة قماش على شكل ربطة عنق، وكان الفرنسيون يسمون الكرولتين بالكروات أو الكرفات، عندما تتحول الواو إلى فاء، نسبة إلى هؤلاء الجنود الذين كانو

يسيرون فى شوارع باريس ولحد الآن تسمى ربطة العنق فى شمال أفريقيا فى لبييا باسم كرواتا وفـى مـصر كرفتا نسبة إلى الكلمة الفرنسية، وقد أصبحت هذه الظاهرة موضة فى القرن الثانى عشـر، و لـكـن كـان فـى البداية عبارة عن قطعة قماش تعقد عند العنق وتنزل على الصدر على شـكـل أشرطة ولكن فى نهاية القرن الثامن عشر أصبحت الرابطة أكثر عرضًا وأصبحت تغطى مـؤخـرـة الرقبة وفى القرن التاسع عشر أخذت ياقة القميص تغطى العنق التى تلف الرقبة ولكن حتـى الـقـرن التـاسـع عشـر فان ربطة العنق لم تكن طويلة حتى وصلت إلى شكلها الحالى فى القرن العشرين وبدأت تتغير حسب الموضع اتساعًا وضيقًا.

٦ – څـوك وائـى : دا د يورپيانو د كورنيو جګړو په وخت كښى را پيدا شوه، دابه ساحرانو او جادوګرو پـه فـوجيانو باندى پدى عقيده او ګمان ورخرځوله چې دوى ته فتحه حاصله شى، او د مـرګ څخه بچ شى۔ بيا ددينه پس د دوئ عادت او زينت وګرځيدله۔ او د زمانى پـه تيـريـدو سره ددى پـه شكل كښى هم ځۀ ناځۀ تغير راپيدا شو۔ (وګـوره : شبكة السحاب السلفية).

دويم بحث : د تشبه معنىٰ او كوم قسم تشبه حرامه ده ؟

استـاذ جميل اللويحق د تشبه په موضوع د ماجسترئ لپاره يو كتاب ليكلى، هغۀ پدى كتـاب كښى د تشبه معنىٰ داسى كوى : ويـمـكن القول فى تعريف التشبه بعبارة موجزة أنه تكلف الإنسان مشابهة غيره فى كل ما يتصف به غيره أو بعضه.

بيـا ددى تـعـريف تشـريح داسى كوى : فـقـولـه (تـكلف الإنسان) أى أن يقصد ذلك ويتـعـمـده، فيـخـرج بـذلك ما يقع بدون قصد، كمشابهة الرجل للمرأة فى الحركة والصوت بـطبيـعة الـخـلقة بدون نية، كما يخرج كذلك ما يقع من التشبه على سبيل الاضطرار، أو لدفع مـفسدة عظمى، وذلك كالمكره، وكتشبه المسلم المقيم فى بلاد الكفار المحاربة بالكفار فى صفاتهم الظاهرة، ليسلم من أذاهم.

وقـولـه (مشابهة غيره) يدخل فيه جميع الأجناس المتشبه بها، سواء كان التشبه بها مباحًا أو غيـر مبـاح. وسـواء كـانـت مـمايعقل من الناس كالكفار والأعاجم والمبتدعة، ومما لا يعقل كالحيوانات،

وقـولـه : (فـى كل ما يتصف به غيره أو بعضه) : أى فى صفاته المعنوية والحسية جميعها فيما

یعرف ویری، أو فی بعض الصفات دون بعض وأکثر إطلاق التشبه علی الأمور الظاهرة من أقوال وأفعال دون الأمور الباطنة.

یعنی : په مختصر ډول د تشبه معنیٰ داسی کولی شو چی تشبه دیته وائی چی انسان یو عمل کوی او په دی سره ئی غرض او قصد په مکمله توګه او یا په ځینو صفاتو، خویونو او عاداتو کښی د بل چا مشابهت کول وی۔ د مسلمان لپاره۔ برابره خبره ده که دا مشابهت د کافر سره وی اوکه د فاسق او مبتدع سره وی، دارنګه که دا مشابهت د انسان سره وی اوکه د حیوان سره وی، دا مشابهت که په صفاتو معنویه ووکښی وی اوکه په صفات ظاهرهٔ کښی وی، که په جائز او مباح کارونو کښی مشابهت وی اوکه په حرامو کارونو کښی۔ غرض دا چی دا شان هر ډول مشابهت کول حرام دی۔

وګوره : (التشبه المنهی عنه فی الفقه الإسلامی، تألیف جمیل اللویحق).

اوس راشه چی آیا د ټائی استعمالول په تشبه کښی راځی اوکه نه ؟ نو ددی جوړول، په غاړه کښی اچول د غلامانه ذهنیت او د غرب نه د متاثر کیدو غمازی کوی، ځوك چی ټائی غاړی ته اچوی نو د دوئ نه پوښتنه پکار ده چی دا عمل خو نهٔ زمونږ او ستاسو اسلافو کړی اونهٔ د اسلامی تهذیب یوه برخه ده، نو تهٔ ئی ولی غاړی ته اچوی ؟!

آیا په دی کښی څهٔ ډول ښائست شته ؟ اوکه په دی باندی ګرمی یا یخنی لری کیږی ؟!

دوئ ددی خبری نه سیوا د بل څهٔ جواب لری، چی صرف او صرف غربیان او د هغوئ راندهٔ مقلدین او د هغوئ نه متاثره خلك ئی اچوی !!

دا بیله خبره ده چی دی به په خوله دا خبره نهٔ کوی چی زهٔ ئی د غرب او فاسقانو نه تاثر اخستلو په وجه غاړی ته اچوم۔

بلکه شیخنا ابومحمد امین الله حفظه الله وایی : که چیری ټائی غاړی ته اچول د اسلامی تهذیب یوه برخه وای نو ډیرو فاسقانو او د دین نه لری خلقو به ویلی چی دا څهٔ حیوانان او غویان مو رانه جوړ کړی، په غاړه کښی مو راته تړتی او پړی اچولی !!

لیکن کله چی ئی فاسقان او غربیان په غاړه کوی، زمونږ بی عمله مسلمانان ئی په آمنا او سلمنا سره خپلی غاړی ته آچوی۔

د کافر، فاسق او بل ناکاره مخلوق سره د مشابهت حکم او ضرر:

نو د دوئ سره مشابهت کول خو په اتفاق د علماؤ حرام کار دی، لکه حدیث کښې دی : من تشبه بقولم فهو منهم.

دارنګه دی باره کښې د اسلامي دین دا اصول او مزاج پیژندل ضروري دي چې اسلام همیشه دا کوشش کوی چې د مسلمان او کافر ترمینځ دی فرق وی، د مسلمان عقیده، عمل، ناسته پاسته، اخلاق به د کافر نه بیل وی، د شریعت اسلامی هم دا مقصد دی چې لکه څرنګه د کافر او مسلمان ترمینځ په حقیقت یعنی په باطن کښې فرق دی، نو همدغه شان باید په ظاهر کښې هم فرق وی، ددی وجې نه مونږ ته په ډیرو اعمالو کښې حکم شوی، چې دا کار مهٔ کوئ څکه دا د کافرو عمل دی۔ د هغوئ نه مخالفت وکړئ۔ کله حکم شوی دا جامه مه استعمالوئ، کله حکم شوی دا جامه پدی طریقه مه استعمالوئ څکه دا د کافرو لباس دی۔

د مثال په ډول حدیث کښې راځی :

عن ابن عمر قال : قال رسول الله ﷺ أو قال : قال عمر : إذا كان لأحدكم ثوبان فيصل فيهما فإن لم يكن له إلا ثوب فليتزر به ولا يشتمل اشتمال اليهود. (رواه أبوداود وغيره بإسناد صحيح).

(کله چې در سره دوه جامې وی نو په دواړو کښې لمونځ کوئ، اوکه دوه جامې نهٔ وی نو بیا په یوه جامه کښې لمونځ کوئ خو د یهودو پشان ئې لڅانه مهٔ تاووئ)۔

بل حدیث کښې دی، صحابه کرام فرمائی : فقلنا : يا رسول الله ! إن أهل الكتاب يتسرولون ولا يأتزرون فقال رسول الله ﷺ : تسرولوا وائتزروا وخالفوا أهل الكتاب.

(أخرجه أحمد : ٥/٢٦٤، ٢٢٦٣٩، والطبرانی کمافی المجمع : ٥/١٦٠٣١، وقال الشيخ شعيب الأرناؤوط : إسناده صحيح).

(مونږ عرض وکړو ای د الله رسوله ! یهود او نصاریٰ پرتوګ آغوندی او لنګ نهٔ آغوندی، رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسی دواړه آغوندئ او د یهود او نصاریٰ وو خلاف کوئ)۔

بل حدیث کښې دی : عن عبد الله بن عمرو أن رسول الله ﷺ رأى عليه ثوبيه معصفرين فقال إن هذه من ثياب الكفار فلا تلبسها.

(رواه مسلم : ٦/١٤٤، وأحمد : ٢/١٦٢، و ٢٠٧، ٢١١، ابن سعد : ٤/٢٦٥).

رسول الله ﷺ په ما باندې په زیړ رنګ کښې رنګ شوی جامې ولیدې، نو راته وی فرمایل : دا مه آغونده ځکه دا د کافرو جامې دی)۔

شیخ البانی رحمه الله ددې حدیث په شرح کښې فرمائی :

وفی الحدیث دلیل علی أنه لا یجوز للمسلم أن یلبس لباس الکفار وأن یتزیا بزیهم، والأحادیث فی ذلك کثیرة، کنت قد جمعت منها قسما طیبا مما ورد فی مختلف أبواب الشریعة، وأودعتها فی کتابی حجاب المرأة المسلمة، فراجعها فإنها مهمة، خاصة أنه قد شاع فی کثیر من البلاد الإسلامیة التشبه بالکفار فی ألبستهم وعاداتهم حتی فرض شئ من ذلك علی الجنود فی کل أو جل البلاد الإسلامیة، فألبسوهم القبعة، حتی لم یعد أکثر الناس یشعر بأن فی ذلك أدنی مخالفة للشریعة الإسلامیة، فإنا لله وإنا إلیه راجعون.

(دا حدیث په دې مسئله دلیل دی چې مسلمانو ته دا جائز نۀ دی چې د کافرو لباس واغوندی، او یا د هغوئ پشان شکل صورت جوړ کړی، دې باره کښې ډیر زیات احادیث راغلی، ما په حجاب المرأۃ المسلمۃ کښې د مختلفو قسمونو مشابهت په باره کښې ډیر ښۀ دلائل او بحثونه ذکر کړی، نو هلته ئې کتل پکار دی، خاصکر په ډیرو اسلامی ملکونو کښې په عمومی توګه د کافرانو سره په لباس او عاداتو کښې مشابهت عام شوی۔ (وګوره: الصحیحة : ٤/٢٨٠).

دارنګه بریتونه کمول او ږیره نۀ پریښودل، د ګیری سپینوالی، وختی روژه ماتی کول، ناوخته پیشمنی کول، په څپلو کښې لمونځ کول، د لمر ختو او لمر پریوتو په وخت د لمونځ کولو نه منع کیدل، په لمانځه کښې په لاس تکیه کولو سره لمونځ کول، امام چې ناست وی او مقتدیان ولاړ وی، په قبر کښې د مړی د کیښودلو نه مخکې کیناستل، د سلام په وخت کښې اشاره کول، او داسې نور بې شماره مثالونه شته چې په هغو کښې شریعت مونږ د کافرو سره د مشابهت دَ وجې څخه منع کړی یو۔

د کافرو سره د مشابهت کولو په منع یو څو نور دلائل :

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په اقتضاء الصراط المستقیم فی مخالفۃ اصحاب

الجحیم (: ۴۳ مخ) کښې ددې آیت په تفسیر کښې لیکلي :
﴿ ألـم يأن للذين آمنوا أن تخشع قلوبهم لذكر الله ومانزل من الحق ولا يكونوا كالذين أوتوا الكتاب من قبل فطال عليهم الأمد فقست قلوبهم و كثير منهم فاسقون ﴾.
فـقـوله : (ولا يكونوا) نهى مطلق عن مشابهتهم وهو خاص أيضًا فى النهى عن مشابهتهم فى قسوة قلوبهم وقسوة القلوب من ثمرات المعاصى.
عـلامـه ابـن کثیررحمه الله لیکلي : ولهـذا نهـى الله المؤمنين أن يتشبهوا بهم فى شئ من الأمور الأصلية والفرعية. (٤/٣١٠).
دارنګه حدیث کښې راځي : خالفوا المشركين. (متفق عليه).
شیخ الاسلام ددې حدیث په تشریح کښې لیکي :
فـلـفـظ مخالفة المشركين دليل على أن جنس المخالفة أمر مقصود للشارع، وإن عينت هنا فـى هـذا الـفـعـل فـإن تـقـديم المخالفة علة تقديم العام على الخاص كما يقال : أكرم ضيفك أطـعـمـه وحـادثه فأمرك بالإكرام أولا دليل على أن إكرام الضيف مقصد ثم عينت الفعل الذى يكون إكرامه إكرامًا له فى ذلك الوقت. (إقتضاء الصراط المستقيم).
بیا ددې حدیث په تشریح کښې لیکي چې : من تشبه بقوم فهو منهم۔
وهـذا الحديث أقل أحواله أنه يقتضى تحريم التشبه بهم وإن كان ظاهره يقتضى كفر المشبه بهم كما فى قوله : ومن يتولهم فإنه منهم.
بـلـه خبـره دا واوره چې د کافرو سره د ظاهري مشابهت په وجه ډیر زیات نقصانات راځي، یـو حدیث کښې راځي۔ د نعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روایت دی چې : كان رسول الله ﷺ يسـوى صـفـوفـنـا حتى كأنما يسوى بها القداح حتى رأى أنا قد عقلنا عنه ثم خرج يومًا فقال : عباد الله ! لتسون صفوفكم أو ليخالفن الله بين وجوهكم. وفى رواية : قلوبكم.
(رسـول الله ﷺ بـه زمـونـږ صفونه داسې نیغول لکه یو غشی چې برابرولی شي۔ تردې چې هغه ولیدلو چې مونږ صف برابرول زده کړل، نو یوه ورځ را ووتل او وې فرمایل : د الله بـنـدګانو ! یا خوبه خامخا صفونه برابروئ اویابه قسَم دی چې الله تعالیٰ ستاسو په مخونو کښې – یا ستاسو په زړونو کښې – اختلاف او بدلون راولي۔
شیخ البانی رحمه الله ددې روایت په تشریح کښې لیکي :

قلت : وهذا الارتباط بين الظاهر والباطن مما قرره ﷺ. فأشار إلى أن الاختلاف فی الظاهر ولو فی تسوية الصف، مما يوصل إلى اختلاف القلوب فدل على أن الظاهر له تأثير فی الباطن ولذلك رأيناه ﷺ ينهى عن التفرق حتى فی جلوس الجماعة.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په خپل یو ډیر مفید او قیمتی کتاب (اقتضاء الصراط المستقیم مخالفیِ اصحاب الجحیم) کښې ددې متعلق ډیر په تفصیل سره بحث کړی، چې د هغې بعضې اقتباسات دلته ذکر کولی شی۔

هغه فرمائی : إن المشابهة فی الظاهر تورث نوع مودة ومحبة وموالاة فی الباطن كما أن المحبة فی الباطن تورث المشابهة فی الظاهر وهذا أمر يشهد به الحس والتجربة حتى إن الرجلين إذا كانا من بلد ثم اجتمعا فی دار غربة كان بينهما من المودة والموالاة والائتلاف أمر عظيم وإن كانا فی مصرهما لم يكونا متعارفين أو كانا متهاجرين. وذلك لأن الاشتراك فی البلد نوع وصف اختصا به عن بلد الغربة لو اجتمع رجلان فی سفر أو بلد غريب وكانت بينهما مشابهة فی العمامة أو الثياب أو الشعر أو المركوب ونحو ذلك لكان بينهما من الائتلاف أكثر مما بين غيرهما، وكذلك تجد أرباب الصناعات الدنيوية يألف بعضهم بعضًا مالا يألفون غيرهم حتى إن ذلك يكون مع المعاداة والمحاربة إما على الملك وإما على الدين، وكذلك تجد الملوك ونحوهم من الرؤساءِ وإن تباعدت ديارهم وممالكهم بينهم مناسبة تورث مشابهة ورعاية من بعضهم لبعض، وهذا كله بموجب الطباع ومقتضاها إلا أن يمنع عن ذلك دين أو غرض خاص فإذا كانت المشابهة فی أمور دنيوية تورث المحبة والموالاة فكيف بالمشابهة فی أمور دينية فإن إفضائها إلى نوع من المولاة أكثر وأشد والمحبة والموالاة لهم تنافی الإيمان. (ص : ١٠٥).

(د یو بل سره دا ظاهری مشابهت د یو باطنی دوستیٔ او محبت سبب ګرځی، لکه څرنګه چې باطنی محبت په انسان باندی د ظاهری مشابهت باعث او سبب جوړیږی، دا خو یو داسی خبره ده چې په دی باندی زمونږ حس او تجربه دواړه ګواهی کوی۔

تردی پوری چې که چیری دوه داسی کسان په مسافریٔ او پردی وطن کښې سره مخامخ شی چې په خپل وطن کښې ئی نه یو بل پیژندلی او نهٔ ئی تعلق وو، خو کله چې په پردی وطن کښې سره مخامخ شی نو د دویٔ به خامخا خپل مینځ کښې تعلق، دوستی او یو بل

تـه میـلان راځـی۔ دا ځـکه چی د وطن شراکت د دوئ ترمینځ یو مشترکه وصف ده چی د دوئ دواړو امتیـاز د بـل وطن د خلکو څخه راولی۔ بلکه که چیری دوه کسان په سفر یا بل لـری وطـن کښـی سره یو ځای شی او د دوئ په مینځ کښی یا پټکی یا جامو یا ویښتانو یا سـورلـئ یا بل څۀ کښی مشابهت وی، نو دوئ به خامخا خپل مینځ کښی د نورو خلقو په نسبت ډیر تعلق او میلان لری۔

دغه شان د دنیا کسب ګر په خپل مینځ کښی په نسبت د نورو خلقو ډیر تعلق ساتی۔

نـوکـلـه چی پـه دنیـوی شیـانـو کښـی د مشـابهت پـه وجه د یو بل سره تعلق، دوستی او میـلان پیـدا کیـږی، نـو پـه دینـی کارونو کښی خو مشابهت ډیر زیات د یو بل سره تعلق، دوستی او میلان سبب او باعث جوړیږی۔ چی هغه د ایمان سره منافات لری)۔

یو بل ځای لیکی :

إن المشاركة فى الهدى الظاهر تورث تناسبًا وتشاكلًا بين المتشابهين يقول إلى الموافقة فى الأخـلاق والأعـمال وهذا أمر محسوس فإن اللابس لثياب أهل العلم مثلاً يجد من نفسه نوع انـضـمـام إليهم واللابس لثياب الجند المقاتلة مثلاً يجد فى نفسه نوع تخلق بأخلاقهم ويصير طبعه مقتضيًا لذلك لولا أن يمنعه من ذلك مانع.

(د یـو بـل سـره ظـاهـری مشـابهـت، یـو بـل د اعـمالو او اخلاقو مشابهت ته راکاږی، او دا مـحسـوسه خبره ده، مثلا څوك چی د علماؤ جامی او لباس واچوی نو په خپل ځان کښی ئـی ددوئ طرفته یو شان میلان وی ، د جنګ کونکی فوجی په شان لباس اغوستونکی د دوئ د خـویـونو پشان یو خوی په ځان کښی محسوسوی، او طبیعت ئی ددی تقاضا کوی ،که چیری ددی نه کوم مانع ورته پیدا نشی)۔

دارنـګـه پـه ظـاهـر کښـی مشـابهـت د یو بل سره اختلاط راولی، تردی چی دا ددی سبب ګرځی چی د مسلمان او کافر په مینځ کښی په ظاهر کښی تمیز کول ختم شی۔

(إقتضاء : ۲۰۸).

دی باره کښی ډیر زیات دلائل راغلی، چی د عجمو (چی دوی په هغه وخت کښی کافران وو) سره مشابهت مه کوئ۔

ابـن عـمر – رضی الله عنهما – نه روایت دی چی : إن الـنبی ﷺ نهی عن التشبه بالأعاجم

وقال : من تشبه بقوم فهو منهم. (ذكره القاضي أبو يعلى).

(نبی کریم ﷺ د کافرانو سره د مشابهت کولو نه منع فرمائیلی، او فرمائیلی ئی دی چی څوك چی د چا سره مشابهت کوی، هغه به د هغوئ نه حساب وی).

سلفِ صالحینو به هغه شیان هم مکروه ګڼل په کومو کښی چی به د کافرانو سره مشابهت راتلو، اګرکه په احادیثو کښی به د هغو په حرمت باندی تصریح نهٔ وه راغلی.

په اقتضاء الصراط المستقيم مخالفی اصحاب الجحیم کښی راځی :

ولهذا لما فهم السلف كراهة التشبه بالمجوس فى هذا وغيره كرهوا أشياء غير منصوصة بعينها عن النبى من هدى المجوس.

(یعنی کله چی سلف صالحینو د مجوسو (کافرو) سره د مشابهت په منع پو هه شو، نو ځینی نور داسی شیان ئی هم بد وګڼل چی په هغی کښی صریح دلیل نهٔ وو راغلی. (البته علت د منع په کښی وو).

وقال المروزی : سألت أبا عبد الله يعنى أحمد بن حنبل عن حلق القفا فقال : هو من فعل المجوس ومن تشبه بقوم فهو منهم).

(ما د امام احمد رحمه الله نه دَ څټ خرئیلو په باره کښی تپوس وکړو، نو وی فرمایل : دا د مجوسو عمل دی، او څوك چی د چا سره مشابهت کوی، نو هغه د هغوئ حکم لری).

مطلب دا کار روا نهٔ دی.

وروى الخلال عن أحمد بن إبراهيم الدورقى قال : سألت سعيد بن عامر عن لباس النعال السبتية فقال : زىّ نبينا أحب إلينا من زِىّ باكهن ملك الهند ولو كان فى مسجد المدينة لأخرجوه من المدينة.

دَ ټائی صِحّی ضررونه :

ځینی معاصرینو علماؤ دا هم ویلی چی ټائی صحت ته هم ضرر ورکوی، لکه په هغوی کښی د بعضو تصریحات دادی :

إن ربطة العنق تحبس الدم فى الرقبة العائد من الرأس إلى القلب وبالتالى يؤثر على مستوى السائل داخل العين فيزيد من ضغطه، لكن إذا ارتفع ضغط السائل لأىّ سبب مدة طويلة فقد

يؤدى إلى العمى الدائم بسبب دمار العصب البصرى فى العين.

يو بل ځای کښې راځي :

إرتـداء ربـطة عـنق محكمة يمكن أن تزيد الضغط على مقلة العين وتؤدى إلى حال عمى غير قـابـل لـلشـفـاءِ حـذرت شركة تأمين صحى ألمانية كبرى من أن إحكام ربطة العنق بشدة من الممكن أن يؤثر بدرجة خطيرة على البصر بل ويعرض لخطورة الإصابة بالعمى.

وأشـارت شـركة تـكنيكر كرانكينكاس إلى دراسة حديثة لمستشفى نيويورك للعيون والاذن أجـريـب عـلـى (٤٠) رجلا وأظهرت أن ارتداء ربطة عنق محكمة يمكن أن تزيد الضغط على مـقـلة الـعيـن وتؤدى إلى حالة تسمى الجلوكوما وهى أكثر الأسباب شيوعًا للعمى غير القابل للشفاءِ.

ونـقـلـت الشـركة عن الدراسة أن ارتداء ربطة عنق محكمة لمدة ثلاث دقائق يزيد من ضغط مـقـلة الـعيـن. وقال الشركة : إن ارتداء ربطة عنق محكمة بشكل يومى لفترات طويلة يزيد من مخاطر الضغط المزمرز فى العين.

يو بل خبر (آرام نيوز) کښې راځي :

أعـلن أطباء ماليزيون أن أربطة العنق تنطوى على مخاطر صحية وطالبوا وزارة الصحة بالكف عن الزام الأطباءِ بارتدائها.

(د مـاليزيا ډاكټرانو دا خبره اعلان كړه چې ټائى صحت ته ضرر وركوى، دوى د وزارت نه وغـوښـتـل چـې ډاكټـران دى د حـكـومـت لـه طـرفـه ددى پـه غاړه كښې اچولو باندى نـهٔ مجبوريږى)۔

وقـالـت صـحيفة استار : إن الرابطة الطبية الماليزية تقول مستشهدة بدراسات تظهر أن أربطة الـعـنـق غيـر صـحية ويمكن أن تنقل العدوى أن أربطة العنق عادة لا تغسل وتحمل جراثيم قد تسبب الإصابة بأمراض رئوية والعدوى بأمراض الدم.

(يـعـنـى دَ استـار پـه نـوم اخبـار ليـكـلى چې د ماليزيا ډاكټرانو د تحقيق له مخى دا خبره ښكاره شوى چې ټائى صحت ته نقصان رسوى)۔

ونـقـلـت الـصـحـيفة عـن رئيـس الرابطة الدكتور تيوه سيانج شين القول عندما يقوم الأطباء بـجـولاتهم الطبية فإنها تتدلى عبر كل المكان لكن الصحيفة نقلت عن مسؤول بوزارة الصحة

القول أن هناك حاجة لأدلة أخرى على أن أربطة العنق تشكل مخاطر صحية قبل أن تخفف من نظام زى الأطباءِ بالمستشفيات.

دارنګه دغه اخبار د ډاکټرانو د مشر (تیو سیانج شین) له خولی لیکلی چی ډاکټران په خپلو معاینه خانو کښی دَ مریضانو کتلو په ځایونو کښی مصروفه وی، نو دا دَ هر ځای سره لګیږی۔

ولتأكيد نظريته، عرض نيركن ربطات عنق لاثنين وأربعين طبيبًا ومن عمال المختبرات فى المستشفى إلى الفحص الخبرى، حيث كشف عن (٢٠) منهم، أى بواقع (٤٨) فى المائة، تحمل نوعًا واحدًا على الأقل من الجراثيم.

(یعنی د نیرکن په نوم ډاکټر ددی د ثبوت لپاره د دوه څلویښتو ډاکټرانو ټائیانی پیش کړی چی په دی کښی (٤٨) فیصده جراثیم او میکروبونه وو)۔

نوی تحقیق دا خبره ثابته کړی چی ډاکټران (او نور خلك) چی کومی ټائیانی غاړی ته اچوی نو دا د ډیرو میکروبونو او جراثیمو سبب ګرځی، اګرکه دا په ظاهره هر ډول ښائسته ولی نۀ وی۔

بلکه په مغرب کښی د ټائی په خلاف مستقل تنظیم جوړ شوی، چی د هغی نوم دی :

People Against Suite And Ties

او ددی مخفف دی : Past یعنی هغه خلق چی دَ ټائی او سوټ خلاف دی۔

دټائی متعلق د حرمت دا فتویٰ هغه وخت ده چی صرف د مشابهت سبب ته وکتل شی۔که چیری ټائی د صلیب علامه وبلل شی [لکه ډیرو علماؤ د صلیب علامه ګرځولی ده] نو بیا خو ټائی په غاړه کول د کفر سبب جوړیږی، لکه شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ لیکی

هذا إذا لم يكن ذلك الهدى الظاهر إلا مباحًا محضًا، لو تجرد عن مشابهتهم فأما إن كان من موجبات كفرهم فإنه يكون شعبة من شعب الكفر، فموافقتهم فيه موافقة فى نوع من أنواع ضلالهم ومعاصيهم فهذا أصل ينبغى أن يتفطن له، والله أعلم.

(إقتضاء الصراط المستقيم، ص : ٢٠٨).

دی باره کښی د ځینو علماؤ فتوی :

محدث العصر شیخ البانی رحمه الله په یو کیسټ (پیته) کښی ویلی دی :

ولقد أصبح التشبه بالكفار أمرًا سهلًا جدًا، فضربت لكم مثلًا: البرنيطة ولننزل درجة فنأخذ وضع العقدة هذه التى يسمونها الكرفتة، هذه ما المقصود منها يا ترى ؟ لا شئ أبدًا إلا أن هذا زى كافر نقله الكفار حينما استحلوا بلادنا، فزين الشيطان لنا ذلك الزىّ فقلدناهم وتشبهنا بهم، وإلا يكفى أن يستحضر العاقل الوقت الذى يضيعه هذا إن صح التعبير عندما يقف أمام المرآة ويضيع كذا من الدقائق بل الساعات حتى يزينها، ثم هو يتضايق فعلًا كما يتضايق كل واحد منكم مبتلى بلباس هذا البنطلون وأمثاله. فالخلاصة : هذا أيضًا لا يراد به إلا التشبه فقط، وإن هذا الذى يلبس الكرفتة تشبهه بالكفار ليس كالذى تشبه بوضع البرنيطة ، وكما كنا نسمع بعض المشائخ هنا من بنى قومى كانوا يقولون : إن هذا الذى وضع البرنيطة على رأسه معناه وضع الغطاءِ وانتهى الأمر، أى أعلن أن ليس مسلمًا ، ثم ننزل إلى مراتب أخرى، هذا اللباس الذى ابتلى به جماهير الشباب اليوم فى لبس البنطلون والقميص، لا سيما البنطلون كالمنخدعين بالموضات كما يسمونها، وقد ذكرت نكتة كانت تقال فى النساءِ فأصبحت تقال فى الرجال : قرأت ذات مرة أن رجلاً رأى صديقه يحمل فى ذراعه شيئًا وهو يركض، فقال له : إلى أين ؟ لماذا تستعجل ؟ قال : هذا فستان أهديه لزوجتى، وأنا ذاهب لأسلمها إياه قبل أن تطلع موضة جديدة وسأضطر أن اشترى لها غيره! أصبحت الموضة وتجددها أمرًا ليس خاصاً بالنساء فقط، بل تعدى حتى إلى الشباب، وهذا كله يدل ويؤكد لنا أن المسلمين أصبحت عقولهم مع غيرهم، وليس هناك مسلمون أمثالهم.

ژ **د علامه فوزان فتویٰ :**

دده نه پوښتنه شوی: آیا ښځی ته جائز دی چی وړوکی لستوڼو والا قمیص واغوندی ؟ دارنګه ښځه پتلون آغوستلی شی ؟ او که نه دا د کفارو سره مشابهت دی ؟ دارنګه غاړی ته چی کومه ټائی تړلی کیږی، آیا ددی همدغه حکم دی ؟ او کله چی دَ ټائی حکم کافرو سره د مشابهت وی۔ بیا په یو ځای کښی ځوك کار کوی او په هغهٔ باندی دغه کار کولو ته ټائی اچول ضروری ګڼی، نو مسلمان به څهٔ کوی ؟

جواب : دَ ټائی په باره کښی زما رایه داده چی دا د نصاریٰ وو دَ صلیب زوړندولو سره مشابهت لری۔ ځکه نصاریٰ خپلو غاړو ته صلیب زوړندوی، نو بعض مسلمانانو د دوئ تقلید وکړو، او دا ټائی ئی غاړی ته واچوله۔ دا دکافرو سره مشابهت دی۔ دا د مسلمانانو په لباس کښی نشته۔ دا خو د کفارو له طرفه موږ ته راغلی ده۔پدی وجه مسلمان ته جائز نهٔ

دی چی دا زوړنده کړی۔ اوکه دَ چا سره کار کوی او هغه ئی ددی زوړندولو ته مجبوره کوی، نو دغه کار دی پریدی، نور کارونه هم ډیر دی۔

ژ د علامه عباد حفظه الله فتویٰ :

سوال : ټائی اچول څهٔ حکم لری ؟ خاصکر کله چی انسان په داسی ښاریه کښی وی چی هلته دا عادت خور شوی وی او خلق دا ناشنا نهٔ ګنی ؟

جواب : ددی اچول جائز نهٔ دی۔ ځکه چی دا د کافرانو لباس دی، او د دوئ مخالفت کول مطلوب دی۔دارنګه پتلون اچولو کښی ئی هم مخالفت کول پکار دی۔ چی په دی کښی د انسان اندامونه بیل بیل معلومیږی۔ او کله چی انسان پتلون اچولو ته محتاج شی نو هغه دی بیا تنګ نه وی بلکه ازاد وی، ددی لپاره چی د کافرانو سره ئی مشابهت رانشی۔
(موقع أهل الحديث والأثر).

ژ د شیخ ناصر الفهدفتویٰ :

سوال : د ټائی څهٔ حکم دی ؟

جواب : ددی استعمال جائز نهٔ دی، ځکه دا د کافرو سره مشابهت کول دی، (بیا د مشابهت په حرمت باندی د دلائلو ذکر کولو نه پس فرمایی) دی باره کښی د هغه چا خبری ته هیڅ اعتبار نشته څوك چی دا خبره کوی چی اوس دا په مسلمانانو کښی هم رواج شوی، نو په دی وجه دا ترکافرانو پوری خاص نشوه۔ ددی خبری د خطائی څلور وجی دی :

۱ – دا د کافرانو د لاری په مسلمانانو کښی خوره شویده۔

۲ – که چیری دیته مونږ جائز ووایو نو بیا هغه احادیث بی معنیٰ پاتی کیږی، په کومو کښی چی د کافرانو سره په لباس وغیره کښی دَ مشابهت کولو څخه منع راغلی۔

۳ – دکافرانو سره د مسلمانانو مخالفت کول په لباس، شکل او صورت کښی شرعاً مطلوب دی۔ لکه چی په دی باندی ګڼ نصوص دلالت کوی۔ مسلمان به د اهلِ ذمه وو نه په شکل، صورت او لباس کښی بیل وی۔ همدا وجه ده چی خلفاءِ راشدینو – رضی الله عنهم – به په اهلِ ذمه کافرانو باندی دا خبره ضروری ګڼله چی دوئ به د مسلمانانو سره په لباس کښی مشابهت نهٔ کوی۔

٤ - اهـلِ حـق، اهـلِ سـنت او اهلِ خیرِ پدی زمانه کښې هر ځای چې وی، د کفارو لبـاس نـهٔ آغـونـدی بـلکه د مسلمانانو لباس اغوندی، او اعتبار دوی لره ده ، نهٔ فاسقانو فا جرانو لره۔

ژ د شیخ عبد الرحمن بن عبد الخالق فتویٰ :

سوال : ټائی اچول څهٔ حکم لری ؟

جـواب : ټـائـی اچـول د کافرانو شعار او جامه ده، مسلمان لره ددی استعمالول په دی وجه صحیح نهٔ دی چې په دی سره ددهٔ مشابهت د هغویٔ سره راځی ۔

د فتوی خلاصه :

د پورتنی تحقیق نه موږ ته دا خبره معلومه شوه چې ټائی په غاړه کول غلط کار دی۔

اولـه وجه داده چې ډیرو عـلـماؤ دا د صـلیـب نښـه ګڼلی۔ نوکـه چیری د دویٔ دا خبره صحیح شی، نو بیا خو انسان ددی په غاړه کولو باندی کافر کیږی۔

اوکـه بـالـفـرض ددوی داخبـره صـحیـح نـهٔ وی۔ نـو په ټائی کښې خو شك او شبهه ضرور راغـلـه۔ الله مکړه که د دویٔ خبره صحیح وخیژی نو مسلمان ئی په غاړه کښې اچولو سره چیرته ورسیدو ؟

د متقی مسلمان صفت به داوی چې هغه به د مشتبه شیانو نه ځان ساتی۔

من اتقی الشبهات فقد استبرئ لدینه وعرضه.

دا مسئله هم ددی حدیث شریف مصداق ده۔

دویمه وجه : کـه دا د صـلیـب نښـه ونه ګڼل شی ،نو بیا هم ددی په غاړه کول غلط کار دی ځکـه د دی پـه غـاړه کـولـو بـانـدی د کـافـرانـو سره پـه لباس کښې مشابهت راځی۔ مـخـکښـې ذکـر شـو چـې د دویٔ سره پـه هـر څـهٔ کښې مخالفت کول د اسلامی شریعت مطلوب دی، هغه که مباح کار ولی نهٔ وی۔

دریمه وجه : دا د غـلامانه او د غربیانو نه د متاثر ذهنیت نښه ده۔پدی خبره هرکس نا کس نه پو هیږی ۔

څلورمه وجه : دا په لباس الشهرۃ کښې داخلیږی۔ کوم چې په شریعت کښې حرام کار دی۔ تـهٔ فـکر وکړه چې یو سړی دا په غاړه کړی او کلی، اطرافو ته لاړ شی، نو هلته به دی

خلکو ته حڅنګه ښکاری ؟
پنځمه وجه : دا صحت ته هم ضرر رسوی۔ لکه مخکښی د معتبرو ډاکټرانو تحقیق ذکر شو۔ والله اعلم۔ رمضان المبارك : ۱٤۲۹هـ

د حجامت کسب

سوال : آیا د حجامت (نائی توب) کسب جائز دی اوکه نه ؟ چی په دی کښی د ګیری خرئیل او انګریزی قِسم ویښتان هم جوړیږی، او په دی کار مزدوری هم اخستلی شی، ددی مسئلی وضاحت د قرآن او حدیث په رڼا کښی تفصیلا ولیکئ۔ جزاکم الله خیرا۔

جواب : ددی مسئلی د حکم ذکر کولو نه مخکی دا خبره ذکر کول ضروری دی چی الله رب العزت انسان ته بهترین شکل ورکړی، لکه الله رب العالمین فرمایلی دی :

﴿ ولقد خلقنا الانسان فی أحسن تقویم ﴾.

بیشکه چی موږ انسان په ډیر ښائسته انداز پیدا کړی۔

د ښائسته انداز یو نمونه داده چی سړی ته ئی ګیره ورکړی او ګیره د سړو زینت دی، او دا داسی زینت دی چی په دی با ندی ئی تمام انبیاء او رسولان ښائسته کړی، که چیری ګیره بدصورتی او بد شکلی وی، نو هیڅ یو نبی او رسول لره به ئی دا نه وی ورکړی۔

تا سی فکر وکرئ چی یو سړی بالغ اومشرشی او دده ګیره رانشی (کوڅه شی) نو هغه کس څومره بد رنګ ښکاری؟

ګیره په اسلامی فطرت کښی داخله ده، لکه د عائشی رضی الله عنها نه روایت دی :

قال رسول الله ﷺ : عشر من الفطرة : قص الشارب وإعفاء اللحية.

یعنی رسول الله ﷺ فرمائی : لس خویونه د فطرت څخه دی، بریتونه پریکول او ګیره غټول۔ (صحیح مسلم ۱/۲۲۳، کتاب الإیمان).

د اعفاء اللحیه معنیٰ داده، ګیره په خپل حالت پریښول چی هیڅ کټ کوټ پکښی ونشی۔

امام نووی ؒ په شرح د مسلم (۱/۱۲۹) کښی د ګیری په باره کښی:

(اعفوا، أوفوا، أرخوا، ارجوا، وفروا) پنځه الفاظ نقل کړی او فرمایلی ئی دی چی ددی ټولو معنیٰ ده : (ترکها علی حالها) یعنی ګیره په خپل حالت پریښودل۔

قاضی شوکانیؒ فرمائی :

إن هذه الأشياء اذا فعلت اتصف فاعلها بالفطرة التی فطر الله العباد عليها وحثهم عليها واستحبها لهم ليكونوا على أكمل الصفات وأشرفها صورة. (نيل الأوطار ١/١٣٠).

ددی نه روسته فرمائی : هی السنة القديمة التی اختارها الأنبياء واتفقت عليها الشرائع فكأنما أمر جبلی يفطرون عليها.

یعنی : دا پخوانی سنت دی چی ټول انبیاءِ کرام علیهم السلامو غوره کړی دی او ټول شرائع(دینونه) په دی باندی متفق دی، ځکه دا پیدائشی او طبعی شی دی چی په دی باندی ټول راجمع شوی دی۔ (نيل الأوطار ١/١٣٠).

د صحیح مسلم ددی روایت نه معلومه شوه چی ګیره پریښودل فطری او طبعی کار دی، د ګیری خرئیل یا لنډول د فطرت بدلول او یو شیطانی عمل دی۔ ځکه کله چی د الله رب العزت له طرفه شیطان لعنتی او وشړلی شو، نو شیطان د انسان د ګمراه کولو طریقی ذکر کړی، په هغو کښی ئی یوه خبره دا هم ذکر کړی چی شیطان ووئیل :

﴿ ولآمرنهم فليغيرن خلق الله ﴾.

(او زه به خامخا دوئ ته حکم وکړم نو دوئ به د الله پیدائش بدل کړی)۔

ددی نه علاوه دا کار کول د ښځو سره مشابهت دی۔ او رسول الله ﷺ په داسی خلکو لعنت ویلی چی د ښځو سره مشابهت (ځان یو شان) کوی۔

او شریعت کښی چی په کوم کار باندی لعنت وویل شی، هغه کبیره ګناه وی۔ ځکه علامه ابن حجر هیثمی رحمه الله په خپل کتاب (الزواجر عن اقتراف الكبائر ١/١٥٥) کښی ګیره خرئیل په کبیره ګناهونو کښی شمارلی ده۔

د رسول الله ﷺ په ډیرو مبارکو حدیثونو کښی د ګیری د غټولو امر موجود دی، او ګیره خرئیل او ګیره کمول د اهلِ کتابو (یهودو، نصاراؤ) علامه ښودلی شوی ده، لکه د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دی، رسول الله ﷺ فرمائی :

خالفوا المشركين، أوفروا اللحى وأحفوا الشوارب، وفی روايةٍ : انهكوا الشوارب وأعفوا

اللحی. (متفق علیه).

مشرکانو نه خلاف کوئ (هغه داسې چې) ګیرې غټې کړئ او بریتونه کم کړئ۔

دارنګه مسند احمد (٢٦٤/٥) کښې دي چې رسول الله ﷺ صحابه کرامو (رضی الله عنهم) ته د اهلِ کتابو داسې ذکر وکړو:

فقلنا: یا رسول الله! إن أهل الکتاب یقصون عثانینهم ویوفرون سبالهم، قال: فقال النبی ﷺ: قصوا سبالکم ووفروا عثانینکم، وخالفوا أهل الکتاب.

ابو امامه رضی الله عنه فرمائي: مونږ عرض وکړو، یا رسول الله! اهلِ کتاب خپلې ګیرې لنډوي او لوی لوی بریتونه پریدئ، نو دې وائي: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایل: تاسو خپل بریتونه اخلئ او خپلې ګیرې پوره پریدئ او د اهلِ کتابو خلاف کوئ۔

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (٣٥٤/١٠) کښې او علامه عینیؒ په عمده القاری (٥٠/٢٢) کښې دې حدیث ته حسن ویلې دي۔

نیل الأوطار کښې دي:

وکان من عادة الفرس قصُّ اللحیة. (١٣٢/١).

ګیره لنډول کول د فارس والو (مجوسیانو) عادت وو۔

ابن ابی شیبه کښې دي: یو مجوسي د رسول الله ﷺ خواته په داسې حالت کښې راغې چې ګیره ئې خرئیلې وه او بریتان ئې غټ پریښي وو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دا دِ څرنګه شکل جوړ کړې دې؟ نو هغه ویلې:

هذا فی دیننا، قال: فی دیننا أن نجز الشارب وأن نعفی اللحیة.

چې دا زمونږ په دین کښې دي، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: زمونږ په دین کښې خو دادې چې بریتونه واړۀ کړو او ګیرې غټې کړو۔ (٣٧٩/٨).

په دې احادیثو کښې د ګیرې د غټولو امر شوی او شرعي قاعده داده چې:

الأمر للوجوب. امر د وجوب (فرضیت) لپاره وي۔

نو په دې وجه ګیره غټول واجب دي، او د هغې خرئیل یا لنډول د الله او د هغه د رسول ﷺ د امر مخالفت دی۔

د الله او د هغه رسول ﷺ د امر مخالفت کول حقیقت کښې د الله عز وجل عذاب ته

دعوت ورکول دی۔ الله رب العزت فرمائی :

﴿ فلیحذر الذین یخالفون عن امره أن تصیبهم فتنة او یصیبهم عذاب الیم ﴾. (النور : ٦٣).

(هغه خلك چی هغویٔ د رسول الله ﷺ د حکم مخالفت کوی، هغویٔ دِ ددی خبری نه ویریږی چی دوی ته به (په دنیا کښی) فتنه او (په آخرت) کښی دردناك عذاب ورسیږی)۔

اوس دا مسئله چی یونائی (حجام) د یو کس ګیره لنډوی یا ئی خریئی او یا هغه ته انګریزی شکل باندی ویښتهٔ جوړوی، آیا دا کار نائی ته جائز دی اوکه نه ؟ او نائی چی په دی کار مزدوری اخلی آیا دا ورته جائز دی اوکه نه ؟

نو په دی خبره د ټولو فقهاؤ او محدثینو (رحمهم الله) اتفاق دی چی ګیره خرئیل او یا لنډول (چی برش ورځخه جوړ کړی) حرام دی۔ که چیری یو کس د بل ګیره لنډوی د هغه ګیره خریئی یا د هغه ویښتان په انګریزی شکل باندی جوړوی، نو دا د هغه سره په ګناه باندی مدد کول دی، چی په شریعت کښی موږ ددی نه منع شوی یو۔

الله رب العزت فرمائی :

﴿ وتعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الإثم والعدوان، واتقوا الله ان الله شدید العقاب ﴾ (المائدة : ٦).

(د نیکیٔ او تقویٰ په کارونو کښی یو بل سره مرسته وکړیٔ ، او د ګناه او زیاتی په کارونو کښی د یو بل مدد مه کویٔ، او الله نه ویریږیٔ بیشکه الله تعالیٰ سخت عذاب ورکونکی دی)۔

نو ګیره خرئیل یا لنډول حرام او ګناه کبیره شوه، نو په دی باندی تعاون هم په ګناه باندی تعاون کول دی چی شرعا دا هم سخت جُرم دی۔

شریعت اسلامیه کښی چی کوم کار حرام وی په هغی اجرت اخستل هم حرام وی۔

لکه په ابن ابی شیبه ،مسند احمد ،ابن حبان کښی د ابن عباس – رضی الله عنهما – نه روایت دی :

إن الله اذا حرم شیئًا حرم ثمنه. (وسنده صحیح)۔

(کله چی الله تعالیٰ یو شی حرام کړی نو د هغه روپیٔ (ګټه) هم حرامه کړی)۔

ددی بل مثال دادی چی حدیث کښی رائحی :

عن أبی مسعود قال : نهی النبی ﷺ عن ثمن الکلب وحلوان الکاهن ومهر البغی.

(۲/۸۰۵، ۱/۳۰۵، ابوداود ۳/۲٦۷، مسند احمد ۱/۱٤۷).

(دَ ابومسعود رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ د سپی د قیمت، د نجومی د مزدورئ او د زناکاری ښځی د مزدورئ نه منع فرمائیلی ده)۔

بل روایت کښی دی: مهر البغی خبیث.

(د زناکاری ښځی اجرت او مزودوری پلیته ده)۔

(ابوداود ۳/۲٦٦، رقم ۳٤۲۱، مسلم ۳/۱۹۹، ترمذی رقم ۱۲۷۰، مسند احمد ۳/٤٦٤، دارمی رقم ۲٦٦٤).

دارنګه نور مثالونه هم شته چی کوم کار حرام وی د هغی مزدوری هم حرامه ده۔

د تفصیل لپاره وګوره (آپ کے مسائل کا حل قرآن وسنت کی روشنی میں، د شیخ مبشر احمد ربانی صاحب).

دارنګه فتاویٰ حقانیه (٦/۲٥۹) کښی دی:

حجامت (نائتوب) پیشه غوره کولو کښی شرعا هیڅ قباحت نشته، البته د شریعت خلاف ویښتان جوړول او ګیره خرئیلو مزدوری اخستل حرامه دی۔ لهذا ددی قِسم حرام کارونو نه دی پرهیز وکړل شی۔

فتاویٰ ثنائیه (۲/٤۳۱) کښی مولانا ابو الوفاء ثناء امرتسری رحمه الله لیکی:

(ګیره خرئیل او خرول دواړه ګناه ده)۔

نو محترمو! څوك چی نایتوب کوی او د خلکو ګیری لنډوی یائی ورته خریئی یا ورته انګریزی ویښتان جوړوی، نو ددی کارونو مزدوری حرامه ده۔ د الله د حکم د وجی نه ددی کار نه توبه ایستل پکار دی، او بل کار شروع کول پکار دی۔ الله رب العزت فرمائی:

﴿ ومن يتق الله يجعل له مخرجا ويرزقه من حيث لا يحتسب ﴾.

(څوك چی د الله نه ویریږی نو دهغه لپاره به لاره را اوباسی او د داسی ځای نه به ورته رزق ورکړی چی په وهم او ګمان کښی به ئی هم نه وی)۔

اللهم أرنا الحق حقًا وارزقنا اتباعه، وأرنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه.

//////

د حیض په حالت کی د قرآن کریم تلاوت

سوال : زمونږ په مدرسه کښې بعضې ښځې د قرآن کریم حفظ کوی، بعضې ښځې د قرآن کریم ترجمه کوی، پدی دوران کښې ښځو ته حیض ورځې، د چا (٧) ورځې، د چا (٨، ٩، ١٠) ورځې حیض وی۔
سوال دادی چې آیا حائضه ښځه قرآن کریم لوستلی شی اوکه نه ؟ قرآن کریم ته لاس وروړلی شی اوکه نه ؟ سره ددی نه چې دومره وخت کښې که دِ قرآن کریم درس لکه حفظ یا ترجمه اونه کړی شی نو د ښځو استاذانو او شاګردانو لپاره ډیر د تکلیف او د تاوان سبب جوړیږی۔ مونږ ته ددی په باره کښې د قرآن او سنت نه لاره وښیاست۔
وجزاکم الله خیرا۔

جواب : دی باره کښې د علماء کرامو اختلاف دی۔ امام بخاری، ابن جریر طبری، ابن المنذر، امام مالك، امام شافعی، ابرهیم نخعی، شیخ الاسلام ابن تیمیه او امام ابن حزم – رحمهم الله – ددی تولو علماؤ په نیزد حائضه ښځه د قرآن کریم تلاوت کولی شی۔ او مونږ ته هم دا خبره غوره ښکاری۔ په دی مسئله دلائل دادی :
١ – په دی باندی خو د تول امت اتفاق دی چې کومه ښځه حائضه نه وی نو دیته د قرآن کریم لوستل جائز دی۔ نو کله چې یوه پاکه ښځه حائضه شوه، اوس چې د هغی لپاره د قرآن کریم تلاوت منع او حرام ګڼل کیږی، نو په دی باندی به دلیل راوړل ضروری وی چې کومه حائضه نه وی هغه به قرآن لولی، اوکومه چې حائضه وی هغه به ئی نه لولی۔ حال داچې په دی خبره هیڅ صریح او صحیح دلیل نشته چې حائضه ښځه به قرآن کریم نه لولی۔
حاصل داچې : قرآن کریم هر څوك لوستلی شی اوس چې مونږ ددی نه بعضې کسان منع کوو، یا د هغوئ لپاره د قرآن کریم تلاوت حرام ګڼو، لکه حائضه شوه، نو په دی باندی به صحیح او صریح دلیل ته ضرورت وی۔ او ددی لپاره هیڅ صریح او صحیح دلیل نشته چې په حائضه ښځه باندی د قرآن کریم تلاوت منع کړی۔
ددی وجی نه شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله لیکی :

وقد كانت النساء يحضن على عهد رسول الله ﷺ، فلو كانت القرائة محرمة عليهن كالصلاة لكان هذا مما بينه النبى ﷺ لأمته وتعلمه امهات المؤمنين. وكان ذلك مما ينقلونه إلى الناس. فلما لم ينقل أحد عن النبى ﷺ فى ذلك نهيا لم يجز أن تجعل حراما مع العلم بأنه لم ينهه وإذا لم ينه عنه مع كثرة الحيض فى زمنه، علم أنه ليس بحرام.

(مجموعة الفتاوى ١٩١/٢٦).

(يعنى د رسول الله ﷺ په زمانه كښې هم ښځى حائضى كيدلى، كه چيرى په حائضو ښځو باندى د قرآن كريم لوستل د لمانځه (او روژې) پشان حرام وى، نو د الله رسول ﷺ به هغوئ منع كړى وى لكه څرنګه چى ئى هغوئ د لمانځه څخه منع كړى وى۔ نو هر كله چى د حيض د كثرت او ډير والى سره سره يو صحابى يا امهات المومنين(رضى الله عنهن) هيڅا د رسول الله ﷺ نه دا ندى نقل كړى چى د حائضى لپاره د قرآن كريم لوستل حرام دى، نو زموږ لپاره څرنګه دا خبره جائز كيدى شى چى په خلكو باندى يو حلال كار حرام كړو؟ سره ددى نه چى مونږ دى باره كښې پدى مسئله پوهه يو چى رسول الله ﷺ حائضى ښځى د قرآن كريم د لوستلو نه ندى منع كړى، نو كله چى هغوئ ندى منع شوى نو د حائضى لپاره د قرآن كريم تلاوت حرام ګڼل هم صحيح نه دى)۔

دى باره كښې دا خبره ياد ساتل پكار دى چى د حائضى لپاره د قرآن كريم لوستلو نه د منع په باره كښې چى كوم احاديث راغلى دى، هغه ضعيف دى، لكه ورسته به راشى (ان شاء الله)۔

٢ - دويم دليل : امام بخارى رحمه الله په خپل صحيح كښې باب راوړى :

باب تقضى الحائض المناسك كلها إلا الطواف بالبيت. (٤٤/١، ٢٢٣، رقم ٣٠٥، ١٦٥٠).

(باب دى په بيان ددى كښې چى حائضه ښځه به د حج ټول اعمال اداء كوى سيوا د بيت الله د طواف نه)۔

ورسته حديث راوړى : عن عائشة أنها حاضت فى سفر الحج، فقال لها النبى ﷺ : افعلى كما يفعل الحاج غير أن لا تطوفى بالبيت حتى تطهرى.

(د عائشى رضى الله عنها نه روايت دى چى دا د حج په سفر كښې حائضه شوه، نو نبى كريم ﷺ ديته وفرمايل : ټول هغه كارونه كوه چى حاجى ئى كوى، البته د بيت الله

طواف به هله کوی کله چی ته پاکه شوی).
دلته رسول الله ﷺ عائشی رضی الله عنها ته وفرمایل چی ته هر هغه کار کوه کوم چی ئی حاجی کوی، نو حاجی سړی خو د قرآن کریم تلاوت هم کوی، بلکه د حاجی لپاره د قرآن کریم تلاوت ډیر غوره عمل دی، نو که چیری په حائضه ښځه د قرآن کریم تلاوت حرام وی، نو رسول الله ﷺ به عائشه رضی الله عنها د طواف پشان د قرآن کریم لوستلو نه هم منع کړی وی. نو هر کله چی ئی منع ونه کړه، نو دا دلیل دی ددی چی د قرآن کریم تلاوت د حائضی لپاره جائز دی. ځکه دا دَ بیان ځای وو، او رسول الله ﷺ د قرآن کریم د لوستلو نه منع ونه کړه.
٣ – دریم دلیل : عن أم عطية قالت : كنا نؤمر ان يخرج الحُيَّضُ فيكبرن بتكبيرهم ويدعون.
(اخرجه البخاری ١/٤٤).
(یعنی ام عطیه رضی الله عنهافرمائی : مونږ ته به حکم کیدلو چی حائضی ښځی دی هم د اختر لمانځه ته ووځی او د مسلمانانو د تکبیرونو سره به تکبیر وائی او دعاګانی به غواړی).
ددی حدیث نه د استدلال طریقه داده چی کله د حائضی لپاره تکبیرونه، دعاګانی ویل جائز دی، نو قرآن کریم ویل هم جائز دی. سره ددی چی ځوك د حائضی لپاره د قرآن کریم تلاوت منع ګڼی، هغوئ هم قرآنی دعاګانی د حائضی لپاره د دعاء په نیت لوستل جائز ګڼی.
٤ – څلورم دلیل : کوم علماء – لکه احناف – چی د قرآن کریم تلاوت د حائضی لپاره حرام ګڼی هغوی په خپله هم خپل مینځ کښی سره اختلاف لری. چا مطلقا حرام ګڼلی، چا یوه یوه کلمه ویل جائز ګڼلی. لیکن دوه دوه یو ځای کول ئی حرام ګڼلی. چا نیم آیت ویل جائز ګڼلی، چی نیم آیت به ولولی، بیابه وقف وکړی. بیابه نیم آیت ولولی، بیابه وقف وکړی.
وګوره : (شرح الوقایة ١/١٢٠، البحر الرائق ١/٢١٠، رد المحتار ١/٢٩٣، طحطاوی حاشية الدر المختار ١/١٥٠).
مطلب دا چی : دا اختلاف ددی خبری دلیل دی چی دی باره کښی څه اصل نشته.

دارنګه که چيرې د حائضې لپاره د قرآن کريم د لوستلو منع د قرآن کريم تعظيم وي، نو بيا لکه څرنګه چې د ټول قرآن کريم تعظيم فرض اوضروري دی، نو دارنګه د يوې يوې کلمې، يا نيم نيم آيت تعظيم هم فرض او ضروري دی۔

د مسئلې حاصل داشو چې : د حائضې ښځې لپاره د قرآن کريم تلاوت کول جائز دي، ځکه دې باره کښې هيڅ صحيح حديث کښې منع نه ده راغلې چې حائضه ښځه دې قرآن نه لولي۔ سره ددې نه چې د رسول الله ﷺ په زمانه کښې ښځې حائضې کيدلې۔ دارنګه په دې باندې دليل (افعلي ما يفعل الحاج) او (فيكبرن بتكبيرهم ويدعون)او د علماؤ مذکوره اختلاف دا ټول ددې مسئلې دپاره دليل دی چې حائضه ښځه د قرآن کريم تلاوت کولې شي۔ خصوصا هغه حائضه ښځې چې استاذانې يا شاګردانې وي، ځکه دې کښې د ضرورت او اضطرار صورت هم جوړيږي۔

البته راجح داده چې حائضه ښځه قرآن کريم ته لاس نشي وروړلې۔ د حائضې د قرآن لوستلو په باره کښې چې د منع کوم احاديث راغلي دي، نو هغه ټول ضعيف دي، لکه زۀ په مختصره طريقه هغې ته اشاره کوم۔

١ - لا تقرأ الحائض والجنب شيئا من القرآن. (رواه الترمذی ١/٣٤، وابن ماجه، والطحاوی ١/٦٩، والدارقطنی ١/١١٧، والبيهقی فی السنن الکبری ١/٢٠٩).

(حائضه ښځه او جنب سړی به د قرآن کريم هيڅ حصه نه لولي)۔

نو دا حديث ضعيف دی، ددې په سند کښې ((اسماعيل بن عياش)) راوي دی، او هغه چې کله د حجازينو نه روايت نقل کړي، نو دده روايت ضعيف وي۔ او دا روايت ئې د حجازينو نه نقل کړی دی۔ دې حديث ته ګڼو علماؤ ضعيف وئيلې۔ لکه حافظ ابن حجرؒ فرمائي :

أما حديث ابن عمر فضعيف من جميع طرقه. (فتح الباری ١/٣٢٤).

(د ابن عمرؓ حديث په ټولو سندونو سره ضعيف دی)۔

امام احمدؒ فرمائي : إنه حديث باطل دا باطل حديث دی۔

شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائي : ضعيف باتفاق أهل العلم. په اتفاق د علماؤ سره دا حديث ضعيف دی۔ دارنګه امام ترمذی ، امام بيهقی، امام نووی، امام البانی، امام ابن

ابی العز الحنفی (رحمهم الله)۔ دی تولو علماؤ ورته ضعیف وئیلی دی۔
وګوره: (سنن الترمذی ١/٣٤، السنن الکبری للبیهقی ١/٣٠٩، معرفة السنن والآثار للبیهقی ١/٣٢٥، نصب الرایة ١/١٩٥، تلخیص الحبیر ١/١٣٨، فتح الباری ١/٤٢٤، التنبیه علی مشکلات الهدایة ١/٤١٠، فتاوی الدین الخالص ٢/٤٠٨، نیل الأوطار ١/٤٤٦).

١- دارنګه یو بل حدیث دی:
عن جابر قال: لا یقرأ الحائض ولا الجنب والنفساء القرآن. (رواه الدارقطنی ١/١٢١، والبیهقی ١/٣٠٩).
دا روایت هم ضعیف دی، ددی په سند کښی ابن ابی انیسه راوی دی او دا ضعیف کذاب دی۔ دارنګه دا روایت مرفوعا هم روایت شوی، لیکن د هغه په سند کښی محمد بن الفضل راوی دی، او هغه متروك دی، او د هغه نسبت وضع ته هم شوی دی۔ وګوره:
(فتاوی الدین الخالص ٢/٤٠٧، لشیخنا ابومحمدامین الله حفظه الله، آپ کے مسائل اور انکا حل ١/٨٨، لمبشر احمدحفظه الله، نیل الأوطار ١/٤٤٦، فتاوی هیئة کبار العلماء ١/١٨٧، تفیهم المسائل للشیم ګوهر رحمٰن ٣/٢٦٩ رحمه الله، المحلی لابن حزم ١/٩٤، فتاوی حقانیه ٢/٥٥١١).

د سرو زرو ګوته یا بنګړی جوړول

سوال: د سرو زرو په ګانه کښی ګولائی کول څه حکم لری؟ مثلا د هغی نه ګوته یا بنګړی جوړول، دیته بعضو علماؤ ناجائز وئیلی دی، او استدلال ئی په بعضی هغه احادیثو باندی کړی چی په هغی کښی (حلقه) لفظ راغلی۔ لکه: (من أحب أن یحلق حبیبته حلقة من نارٍ فلیحلقه حلقة من ذهبٍ... الحدیث).
دا مسئله د قرآن او حدیث په رڼا کښی واضحه کړئ۔
جواب: د سرو زرو په کالی کښی ګولائی کول جائز دی، څوك چی دیته حرام وائی، د هغوی قول غلط دی۔ ددی په جواز باندی ډیر دلائل دی۔ الله تعالیٰ فرمائی:
﴿أومن ینشأ فی الحلیة وهو فی الخصام غیر مبین﴾ قال مجاهد المفسر الکبیر تلمیذ ابن عباس رضی الله عنه: رخص للنساءِ فی الحریر والذهب، ثم قرأ هذه الآیة.
(یعنی مجاهد ددی آیت په تفسیر کښی فرمائی چی ښځو ته په وریښمو او سرو زرو

کښې اجازت ورکړې شوې دی۔
وګوره مصنف ابن أبی شیبه رقم (٤٨٣٨)۔
او حدیث کښې دی:
عن علی رضی الله عنه قال: إن نبی ﷺ أخذ حریرًا فجعله فی یمینه وأخذ ذهبا فجعله فی شماله ثم قال: إن هذین حرام علی ذكور أمتی، حل لاناثهم. (والحدیث صحیح بمجموع طرقه). (أخرجه النسائی رقم ٥١٤٤، ٨/١٦٠، وأحمد ١/١١٥، وابن ماجه رقم ٣٥٩٥، وهو فی السلسلة الصحیحة رقم ١٨٦٥، والمحلی لابن حزم ١٠/٨٦).
نو دلته جواز د ښځو دپاره ذکر شو او مطلق دی، که ګولائی والا وی اوکه غیرِ ګولائی والا۔
٢ – عن ابن عباس قال: شهدت الصلاة یوم الفطر مع رسول الله ﷺ .... وفیه: قال رسول الله ﷺ للنساءِ: فتصدقن، وبسط بلال ثوبه فجعلن یلقین الفتخ والخواتیم فی ثوب بلال، وفی روایة: فجعلت تلقی الخاتم والخرص. وفی روایةٍ: فجعلت تلقی خرصها وسخابها. (أخرجه البخاری مع الفتح ٨/٦٣٨، ومسلم ٦/١٧١، وأبوداود رقم ١١٤٦، وابن ماجه ١٢٧٣، والنسائی ٣/١٩٢).
مطلب دا چې: رسول الله ﷺ چې کله دی ښځو ته په صدقه باندې حکم وکړو نو دوی د بلال رضی الله په جامه کښې خاتم (ګوته)، فتخ (غټې ګوتې) او خرص (وړوکې حلقې) اچولې وې۔
تشریح: خاتم، عامه ګوته، فتخ: غټه ګوته، کما فسره عبد الرزاق والبخاری فی صحیحه (٢/٤٦٧)، خرص: وړوکې حلقه چې د سرو نه وی یا د سپینو نه۔ (فتح الباری ١٠/٣٣٠)۔ قرط: هغه شې چې غوږ ته اچولې شی، د سرو وی که د سپینو اوکه ددې نه د علاوه نه وی۔ (فتح الباری ١٠/٣٣١، شرح مسلم للنووی ٦/١٧٦).
٣ – عائشه رضی الله عنها به د سرو زرو ګوته په لاس کوله۔ ابن سعد په الطبقات (٨/٧٠) کښې ذکر کړې دی۔
عن عمرو بن أبی عمرو قال: سألت القاسم بن محمد قلت: إن ناسًا یزعمون أن رسول الله ﷺ نهی عن الأحمرین العصفر والذهب، فقال: كذبوا والله، لقد رأیت عائشة تلبس

المعصفرات وتلبس خواتم الذهب.

حاصل دا چې قاسم بن محمد رحمه الله فرمائي : ما عائشه رضی الله عنها ليدلی چې د هغې د سرو زرو گوته په لاس وه۔

دارنګه امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح کښې باب راوړی : باب الخاتم للنساءِ.

او بيا روسته فرمائي : و كان على عائشة خواتيم الذهب.

(فتح الباری ١٠/٣٣٠، كتاب اللباس).

نو دا حديث دليل دی چې گولائي والا سره زر او گاڼه استعمالول جائز دی، ځکه چې گوتې گول(گردی) وی۔

٤ – رسول الله ﷺ خپلی نمسۍ (امامه) ته د سرو زرو گوته ورکړی۔

عن عائشة أم المؤمنين قالت : أهدى النجاشي إلى رسول الله ﷺ حلقة فيها خاتم من ذهب فيه فص حبشي.... وفيه : ثم دعا – أي رسول الله ﷺ – بابنة ابنته أمامة بنت أبي العاص فقال : تحلي بهذا يا بنية. (ابن ابی شيبة ٨/٤٦٥، رقم : ٥١٩٣، وأخرجه ابوداود رقم ٤٢٣٥، واحمد ٦/١١٩، وابن ماجه رقم : ٣٦٤٤).

نو دلته رسول الله ﷺ دی خپلی ماشومی لمسۍ ته (چې د زينب رضی الله عنها لور وه) د سرو زرو گوته ورکړه۔ او معلومه خبره ده چې گوته د حلقې په شکل وی۔

٥ – دارنګه د ابن مسعود رضی الله عنه نه هم ددی جواز نقل دی۔ هغه فرمائي : إنما هن لعبكم فزينوهن بما شئتم. (ابن أبي شيبة رقم ٤٨٣٧).

٦ – سعيد بن جبير رحمه الله يو ځوان سره د سرو زرو گوته وليده نو هغه ته ئې وفرمايل : أما لك اخت ؟ قال : بلىٰ، قال : فأعطيه إياها.

آيا ستا خور شته ؟ هغه وويل، هو۔ ورته وی ويل : دا دی خپلی خور ته ورکړه۔

(ابن أبي شيبة رقم ٥١٩٩).ددی روايت سند صحيح دی۔

دارنګه د قتاده رحمه الله نه هم ددی جواز نقل دی۔

وګوره مسائل احمد لأبی داود ص (١٠٩)۔

او کوم روايتونو کښې چې منع راغلی هغه محمول دی په هغه صورت باندی چې د تکبر لپاره واچولی شی، يائی زکات نه ورکوی، او بعضی روايتونه ضعيف دی۔

د زیات تحقیق دپاره په دی باندی مستقل کتاب (المؤنق فی اباحه تحلی النساء بالذهب المحلق وغیر المحلق) وګوره، تالیف أبی عبد الله مصطفیٰ بن العدوی ـ.ـ

د سر ویښتانو خرئیل او دویښتانو احکام

سوال : د سر ویښتانو خرئیل یا کمول څه حکم لری ؟ د سر د ویښتانو پریښودل افضل اوغوره دی اوکه ئی خرئیل ؟ بعضی خلك وائی چی د سر د ویښتانو خرئیل یا کمول بغیر د حج نه نشته او دا دخوارجو عمل دی۔ آیا واقعی د سر ویښتان خرئیل یا کمول ندی جائز، او دا د خوارجو طریقه او عمل دی ؟

موږ ته ددی مسئلی وضاحت د قرآن او حدیث په رڼا کښی وکړئ۔ الله دی ستاسو په عمر او علم کښی برکت واچوی۔

جواب : ددی مسئلی بیانولو نه مخکی دوه خبری بیانولی شی۔

١ – د ښځو او سړو د ویښتانو ترمینځ فرق۔

٢ – د سړو د ویښتانو د خرئیلو اقسام او د هریو قِسم جدا جدا حکم۔

١ – نو د ښځو لپار سر خرئیل بغیر د سختی مجبورئ نه حرام دی، او دلیل ددی په حرمت باندی دا حدیث دی۔

عن عائشة رضی الله عنها أن النبی ﷺ نهی أن تحلق المرأة رأسها. (رواه الترمذی رقم ٩٢٤، ١/٢٧٢، صحیح الترمذی والحدیث صحیح، ونحوه فی النسائی والمحلی لابن حزم ٩/٢٢٩، باب أحکام حقوق الزوجین).

٢ – د سړو لپاره د سر د ویښتانو خرئیلو حکم او اقسام۔

١ – نو په حج کښی د سر خرئیلو حکم دادی چی دا سنت دی۔

٢ – په مصیبت او غم کښی د سر خرئیل حرام دی۔

٣ – د ضرورت په وخت د سر ویښته خرئیل جائز او سنت دی۔

٤ – بغیر د ضرورت نه جائز دی۔

٥ – د سر ویښتان په دی نیت خرئیل چی په دی کښی ثواب دی۔ دا بدعت دی۔

٦ – د ماشوم د سر ویښته خرئیل د عقیقی په ورځ۔ دا مستحب دی۔

اوس د هريو په حکم باندې د الله په توفيق سره دليل ذکر کولی شي۔
دَ مصيبت او غم په وخت د سر ويښته خرئيل ځکه حرام دي چې رسول الله ﷺ فرمائيلي دي :

★ أنا برئ ممن حلق، وخرق، وسلق.
(رواه النسائي بسند صحيح، انظر صحيح النسائي ٢/٤٠٢).
(زه د هغه چانه بيزاره يم چې د مصيبت په وخت سر اوخرئي۔
بل حديث کښې دي :
★ ليس منا من حلق وسلق وخرق. (رواه النسائي بسند صحيح).
هغه څوك زمونږ نه نه دي چې د غم په وخت د سر ويښتان خرئي۔۔۔۔
بل حديث کښې دي :
★ لعن من حلق. (رواه النسائي).
(رسول الله ﷺ په هغه چا لعنت وئيلي چې د مصيبت په وخت د سر ويښتان خريئي)۔
دويم قِسم : په حج يا عمره کښې د سر خرئيل سنت دي۔ ددې دليل دادې :
عن ابن عمر أن رسول الله حلق رأسه في حجة الوداع وأناس من أصحابه وقصّر بعضهم.
(متفق عليه، المشكاة ١/٢٣٢).
(ابن عمر رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله ﷺ په حجه الوداع کښې سر وخرئيلو دارنګه بعضې صحابو رضي الله عنهم هم وخرئيلو)۔
مشکات کښې پدې مسئله ډير احاديث ذکر شوي دي۔
دريم او څلورم قِسم چې د ضرورت د وجې نه يا بغير د ضرورت نه سر خرئيل دا هم جائز دي۔
★ په وخت د ضرورت کښې ځکه جائز دي چې د ضرورت په وخت کښې په حج کښې سر خرئيل جائز شو، سره ددې نه چې په وخت د حج او عمره کښې چې يو کس په حالت د احرام کښې وي نو دده لپاره سر خرئيل منع دي۔ الله رب العزت فرمائي : ﴿ولا تحلقوا رؤوسكم حتى يبلغ الهدى محله﴾ (مجموعة الفتاوى لشيخ الاسلام ٢١/١١٧).
ليکن فرق صرف دومره دي چې که يو کس په حالت د احرام کښې د ضرورت په وجه

سر وخرئیلو نو فدیه به ورکوی، ځکه دهٔ د الله حکم مات کړو چې ده داسې کار وکړو چې هغه د احرام د حالت سره منافي دی۔ نو حدیث کښې راځي چې : کعب بن عجره رضی الله عنه په سر کښې سپږې شوې وې نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

قد أذاك هوامُّ رأسك ؟ قال : نعم، فقال النبي ﷺ احلق، ثم اذبح شاة نسكا أو صم ثلاثة أيام أو أطعم ثلاثة أصع من تمر على ستة مساكين. (رواه أبوداود بسند صحيح).

نو ددې حدیث نه دا خبره معلومه شوه چې په حالت د احرام کښې یو کس د ضرورت په بناء سر خریلی شي، لیکن فدیه به ورکوي۔

بعضې جاهلان دا وائي چې یو کس بغیر د احرام نه سر وخرئیلو نو بیا به هم فدیه ورکوي۔ نو دا خبره سراسر جهالت دی، ځکه په سرخرئیلو باندې موږ ته دا نه دی ویل شوي چې که یو کس په عامو وختونو کښې سر وخرئیلو نو هغه به فدیه ورکوي۔

★ پنځم قِسم سر خرئیل بغیر د ضرورت نه، نو دا هم جائز دی۔ او پدې ډیر دلائل دي چې دلته تفصیلا ذکر کولی شي۔ دارنګه د سر ویښته خرئیل یا کمول بغیر د ضرورت نه هم جائز دي۔

دلته زه اول د سر د خرئیلو او کمولو دلائل ذکر کوم، او ورسته هغه دلائل ذکر کوم چې د هغې په وجه بعضې خلك د سر خرئیل منع کښي، او سر خرئیلو ته ناجائز او حرام وائي۔

نو دې کښې هیڅ شك نشته چې د سر د ویښتانو پریښودل افضل او مسنون عمل دی، ځکه د رسول الله ﷺ نه ثابت دي چې د هغه به د سر ویښتان وو، چې کله به (١) جمه (٢) کله وفره (٣) او کله به لمه وو۔

کوم ویښتان چې تر اوږو پورې رسیږي هغو ته په عربئ کښې ((جُمه)) وائي، کوم چې غوږو تر نرمو پورې وي هغې ته ((وفره)) وائي اوکوم چې د غوږونو نه ښکته وي، او اوږو ته نه وي رسیدلي هغو ته ((لمه)) وائي۔

لکه ابو داود (٧٨٨/٢، للألباني، دارنګه صحیح النسائی ١٠٣٩/٣) کښې دي۔

١ – عن البراءِ قال : ما رأيتُ من ذي لمة أحسن في حلة حمراء من رسول الله ﷺ، له شعر يضرب منكبيه. (رواه أبوداود والنسائي وابن ماجه).

٢ – وعن أنس قال : كان شعر رسول الله ﷺ إلى انصاف أذنيه. (رواه النسائي وابن ماجه

وابوداود).

په دی موضوع ډیر احادیث شته دی چی د رسول الله ﷺ په سر مبارك ویښتان وو.

لیکن دی کښی هم شك نشته چی د سر خرئیلو اجازت رسول الله ﷺ ورکړی. بلکه کله ئی په خرئیلو امر هم کړی، چی بعضی کسان ئی لیدلی او هغوی ته ئی فرمائیلی چی سر وخریه.

په دی خبره دلائل دادی:

١ – عن ابن عمر رضی الله عنه أن النبی ﷺ رأی صبیا قد حلق بعضه وترك بعضه، فنهاهم عن ذلك فقال: احلقوه كله او اتركوه كله. (أخرجه ابوداود والنسائی بسند صحیح).

(نبی کریم ﷺ یو ماشوم ولیدلو چی د هغه د سر بعضی حصه خرئیلی شوی او بعضی ناخرئیله وه، رسول الله ﷺ خلك ددی کار نه منع کړل او وی فرمایل: یا خو ټول سر اوخری یاست او یا ټول پریدئ).

نو دا حدیث صریح دلیل دی په دی خبره چی د سر خرئیل جائز دی، او رسول الله ﷺ د خرئیلو اجازت ورکړو. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی:

تخصیصه بالصبی لیس قیدًا.

(دا حکم تر ماشوم پوری خاص نه دی، بلکه حکم عام دی).

او څوك چی د تخصیص دعویٰ کوی نو هغه به دلیل پیش کوی.

٢ – وعن عبد الله بن جعفر أن رسول الله ﷺ ...... آل جعفر ثلاثا أن یأتیهم ثم أتاهم فقال: لا تبكوا علی أخی بعد الیوم، ثم قال: ادعوا لی بنی أخی، فجیٔ بنا كأنا أفرخ فقال: أدعوا لی الحلّاقَ فأمره فحلق رؤوسنا.

(عبد الله بن جعفر رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ د جعفر د کور خلکو ته دری ورځی وخت ورکړو چی زه به راځم، بیا راغی نو رسول الله ﷺ هغوئ ته وفرمائیل: تاسو په جعفر رضی الله عنه باندی د نن نه پس ژړا مه کوئ. او بیائی وفرمایل: زما وریرونه ماته را ولئ، نو مونږ راوستی شو په داسی حال کښی چی مونږ لکه د مرغئ بچی وو. او بیائی وفرمایل: ماته نائی را وغواړئ نو (د راتللونه پس ئی) هغه ته وفرمایل: د دوئ سرونه اوخرییه، نو هغه زمونږ سرونه وخرئیل).

دا حديث هم دليل دی په دی خبره چی سر خرئيل جائز دی۔
(أخرجه النسائی، وانظر صحيح النسائی، وصحيح ابی داود).
٣ – وعن وائل بن حجر قال : أتيت النبی ﷺ ولی شعر طويل فلما رآنی رسول الله ﷺ قال : ذَباب، ذَباب، قال : فرجعتُ فجوزته ثم أتيته من الغد فقال : إنی لم أعِنك وهذا وأحسن.
(أخرجه أبوداود بسند صحيح، انظرصحيح أبی داود).
د وائل بن حجر رضی الله عنه نه روايت دی چی زه رسول الله ﷺ ته راغلم او زما د سر ويښتان اوږدهٔ وو، نو رسول الله ﷺ وفرمائيل : داښه ندی دابد دی !!
نو وائل رضی الله عنه وائی : زه واپس شوم او خپل ويښتان می پريکړل، بيا صبا د رسول الله ﷺ مجلس ته حاضر شوم، نو رسول الله ﷺ وفروفرمائيل : ٠٠٠ دا دِ ښه کار کړی۔
(رواه ابوداود والنسائی، وابن ابی شيبة ٨/٢٦٠، وانظرصحيح أبی داود ٢/٧٨٩، وابن ماجه ٢/٢٩٠).
نو دا حديث هم دليل دی د سر په خرئيلو او کمولو باندی، ځکه (جوز) قطع او پريکولو ته وئيلی شی۔ چی ددی نه خرئيل هم مراد کيدی شی۔
٤ – وعن أبی سلام قال : دخلت علی عائشة وفی رأسی قزع فأمرت به فجز أو حلق.
(رواه ابن أبی شيبة ٨/٣١٣).
٥ – عن أسامة قال : كان عمر بن عبد العزيز اذا كان يوم الجمعة بعث الأحراس فيأخذون بأبواب المساجد ولا يجدون رجلا موفر الشعر يعنی مبذر الشعر الا جزوه. (رواه ابن أبی شيبة ٨/٢٦٧، طبقات ابن سعد ٥/٢٨٢، اخرجه من طريق عبد العزيز ابن أبی حازم عن أسامة).
(عمر بن عبد العزيز رحمه الله به د جمعی په ورځ څوكيداران ليږل او هغوئ به د جوماتونو په دروازو باندی كيناستل، او د كوم سړی ويښتان به چی كله لوی لوی وو نو هغه به ئی ور پريكول)۔
٦ – قال حنبل : كنت أنا وأبی نحلق رؤوسنا فی حيات أبی عبد الله فيرانا ونحن نحلق فلا ينهانا، وكان هو يأخذ رأسه بالحملين ولا يحفيه ويأخذه وسطا.
(انظر المغنی لابن قدامة ١/١٠٤).
٧ – اووم دليل : عمر رضی الله عنه د نصر بن حجاج سر خرئيلی وو۔ نصر بن حجاج يو ښائسته سړی وو او د هغه غټ غټ ويښتان وو، نو عمر رضی الله عنه د هغه سر وخرئيل

ددې لپاره چې لږ بدرنګ شي۔ لیکن کله چې دهغه سر وخرئیل شه نو هغه نور هم ښائسته شو۔ نو بیا عمر رضی الله عنه دغه کس وشړل۔
(مجموعة الفتاوى لابن تیمیة ٣٧٠/٢٨).
نو که سر خرئیل منع وی نو عمر رضی الله عنه د دی کس سر ولی وخرئیل ؟
دارنګه دا حدیث دلیل دی په دی مسئله باندی چې کله د یو هلك یا یو سړی ویښته وی او د هغو په وجه خلق په فتنه کښې پریوزی نو د هغه ویښتان لری کول پکار دی۔ خصوصا هلکانو کښې دا فتنه ډیره واقع کیږی۔
٨ – دلیل : عن نافع أن ابن عمر ضحی مرة بالمدینة .... وفیه : نحلق رأسه حین ذبح کبشة. (موطأ امام محمد ص : ٢٧٩).
د سر خرئیلو په جواز باندی د علماؤ اجماع ده :
په اجماع نقلولو کښې مُو غرض دادی چې د ټولو علماؤ ذهن دیته رسیدلی چې سرخریئل څه پروا نکوی۔
لکه دا خبره ابن عبد البر رحمه الله نقل کړی، هغه فرمائی : ۔
وقد أجمع العلماء علی إباحة الحلق کفی بهذا حجة.
(انظر اللباس والزینة فی الشریعة الإسلامیة ص : ٤٢٥، والمفصل فی أحکام المرأة ٣٧٣/٣).
(یعنی د علماؤ په دی خبره اجماع ده چې سر خرئیل جائز دی، او همدا هم پوره دلیل دی)۔
او کوم حدیث کښې چې راغلی چې : (سیماهم التحلیق)) نو دا صحیح دی۔
لیکن دی کښې (سیماء) لفظ راغلی، او سیماء علامې او شِعار ته وائی، چې ددی خلکو (خوارجو) شِعار به دا وی چې سر خرئیل به لازم ګڼی، همیشه به سر خریئی، او دَ همیشه خرئیلو معنیٰ د (سیماء) لفظ نه معلومیږی۔ او دا ښکاره خبره ده چې سر خرئیل لازم ګڼل حرام دی۔ بلکه سنت خو دادی چې د سر ویښته پریښودل شي۔ خو خرئیل ئې هم جائز دی۔
دویم : دا چې سرخرئیل د هغوئ علامه شي نو بیا هم دا حدیث دلیل نه دی په حرام والی د سرخرئیلو باندی، ځکه بعضی وخت د چا علامه حرامه وی او بعضی وخت جائز وی۔ لکه دا خبره امام نووی (شرح مسلم ٣٤٢/١) کښې کړی۔ دارنګه حاشیه النسائی

کښې دي: استدل بعضهم علی کراهیة التحلیق ولا دلالة فیه، فإن العلامة قد تکون بحرام، وقد تکون بحلال.

زه وایم چې ددې یو مثال چې ډېر ښکاره دی هغه دادې چې: رسول الله ﷺ لکه څرنګه چې د خوارجو دا علامه بیان کړې چې دوئ به سرونه خروي، نو د هغوئ دا علامه ئې هم بیان کړې چې (یقرؤون القرآن) (قرآن به لولي) دارنګه اوږدۀ اوږدۀ لمونځونه به کوي، ډېرې روژې به نیسي، کما فی الحدیث الصحیح۔ سره ددې چې قرآن لوستل، یا اوږدۀ اوږدۀ لمونځونه کول، یا ډېرې روژې نیول جائز څه چې مستحب دي۔ حال دا چې دا ئې د خوارجو علامه ښودلې !!

حاصل دا چې: سر خرئیل جائز دی او ددې نه منع نه ده ثابت، لیکن مستحب او سنت طریقه داده چې یو کس په سنت طریقه ویښتان وساتي۔

پنځم قِسم سر خرئیل: که یو سړی سر خرئیل لازم ګڼي، یا سر خرئیلو ته مستحب وائي، یا سر پریښودل ورته بد ښکاري، لکه بعض صوفیه، یا بعضې بوډاګان سر پریښودل بد ګڼي، یا بعضې صوفیه سر خرئیل تقوٰی او صوفیت ګڼي، چې یو کس سر خرئیلی وي نو دا ښه سړی ګڼي او دا د بزرګۍ او دینداریٔ نښه ګڼي۔ لکه د بعضو صوفیه ؤ نه نقل ده چې هغوئ د زهد او عبادت په طور سر خرئیل ثواب ګڼل۔ نو دا بدعت دی۔

(معجم البدع ص: ٢٠٥، حرف الحلق، فتاوی شیخ الاسلام ابن تیمیه ١١٧/٢١، فتاوی الدین الخالص ٥٤٠/١ تفصیلاً)

دارنګه د استحباب په نیت هم سر خرئیل بدعت دی، لکه د فقه حنفي په بعضې کتابونو کښې دي: ویستحب حلق الرأس فی کل جمعةٍ.

(فتاوی عالمگیری ٣٥٧/٥، باب ١٦).

(په هره جُمعه کښې سر خرئیل مستحب دی)۔

صحیح خبره داده چې په دې نیت سر خرئیل سو چه بدعت دی۔ ځکه مخکې تېر شو چې سر خرئیل صرف جواز لري، مستحب نه دی۔ نو ځوك چې د جواز نه استحباب ته خبره بوزي، او بیا هره جمعه، نو دا خو بیشکه بدعت دی۔

شپږم قِسم: دَ عقیقې لپاره د ماشوم سر خرئیل دی۔ نو دا قِسم سر خرئیل دغه ماشوم

لره، مستحب دی۔ ځکه نبی ﷺ نه د عقیقی په حدیث کښی نقل دی۔
ویسمی ویحلق.
(رواه الترمذی والحاکم کما فی صحیح الجامع الصغیر ٢/ ٧٧٠، رقم ٤١٨٤).
بل روایت کښی دی: (أمیطوا عنه الأذی). (رواه الطبرانی فی الأوسط وقال الحافظ فی الفتح ٥٨٩/٩، وسنده حسن). او گوره (تحفة المودود فی أحکام المولود، لابن القیم ص ٦٧، تربیة الأولاد فی الإسلام، آداب استقبال المولود فی الإسلام ص ٦٤، للشیخ یوسف بن عبد الله العریفی).
ددی مسئلی د تفصیل دپاره وګوره:
(فتاوی اللجنی ١٧٦/٥، فتاوی نذیریه ٣٦٤/٣، اللباس والزینی فی الشریعة الإسلامیة ص: ٤٢٤، إحیاء العلوم: ٢٤٩/١، المفصل فی أحکام المرأة المسلمة: ٣٧٣/٣، زاد المعاد ٣١٧/١، ابن ابی شیبة: ٢٦٧/٨، ٣١٣، ١٠/ ١٣ المحلی لابن حزم: ٢٢٩/٩، المغنی ١٠٣/١، تحفة المودود فی أحکام المولود ص: ٦٧، مجموعة الفتاوی: ٣٧١/٢٨، ١١٦/٢١، فتاوی الدین الخالص: ٥٤٠/١، الغنیة: ١٥/١، للجیلانی رحمه الله).

د حیض په حالت کی جماع

سوال: کله چی یو کس خپلی ښځی سره د حیض په حالت کښی جماع وکړی، دی کس لره څه کول پکار دی؟ د قرآن اوسنت په رڼا کښی جواب راکړئ!

جواب: د حیض په حالت کښی د خپلی ښځی سره جماع کول لویه ګناه ده۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فاعتزلوا النساء فی المحیض ﴾.
(د حیض په حالت کښی د ښځو نه ډډه کوئ)۔
او رسول الله ﷺ فرمائی: من أتی حائضا او امرأةً فی دبرها، أو کاهنًا فصدّقه بما یقول، فقد کفر بما انزل علی محمد ﷺ. (رواه الترمذی ٤٤/١، وابن ماجه ١٠٥/١، والدارمی، کما فی المشکاة ٥٦/١، وسنده صحیح وصححه الشیخ الألبانی رحمه الله).
(چاچی د حیض په حالت کښی ښځی سره جماع وکړه، یائی ورسره په دُبر کښی جماع وکړه، اویا ترویتی (مداری) ته راغی او د هغه خبری ئی رښتینی وګڼلی، نو دی سړی په

هغه شئ باندی کفر وکړو، چې هغه په محمد ﷺ باندی نازل شوی دی)۔
که څوك دَ حائضی ښځی سره جماع وکړی، نو دا کس به دوه کارونه کوی۔
(۱) الله ته به توبه وباسی۔ او د الله نه به د خپلی ګناه مغفرت او بخښنه وغواړی۔
(۲) دا کس به مالی کفاره ورکوی، لکه حدیث کښی راځی۔
عن ابن عباس عن النبی ﷺ فی الذی یأتی امرأته وهی حائض، قال: یتصدق بدینارٍ، أو نصف دینارٍ. (رواه أبوداود ۱/۰ ٤، والترمذی ۱/٤٤، وابن ماجه، کما فی المشکاة ۱/٥٦، وسنده صحیح، انظر إرواء الغلیل ۱/۱۹۷، للألبانیؒ).
(ابن عباس رضی الله عنه دَ رسول الله ﷺ نه د هغه کس په باره کښی حدیث نقل کوی چې هغه خپلی ښځی سره د حیض په حالت کښی جماع کړی وی، چې رسول الله ﷺ فرمائی: یو دینار یا نیم دینار به صدقه کوی)۔
ابن عباس رضی الله عنه ددی حدیث تفسیر داسی کوی۔
إذا أصابها فی أول الدم فدینار، و إذا أصابها فی انقطاع الدم فنصف دینارٍ. (وسنده صحیح فی غایة الصحة. انظر ارواء الغلیل ۱/۱۹۷).
(کله چې دَ حائضی ښځی سره د حیض په اولنو ورځو کښی جماع وکړی نو پوره دینار به ورکوی، او که د حیض په آخرنو ورځو کښی ورسره جماع وکړی، نو نیم دینار به ورکوی۔
او په دی حدیث کښی امر د وجوب لپاره دی۔
دی باره کښی یو بل روایت هم راغلی، او هغی کښی داسی الفاظ دی: (آمرُهُ أن یتصدق بخمس دینار.
لیکن دا روایت ضعیف دی۔ وګوره: ضعیف أبی داود ص: ۲٦۔ امام ابوداود رحمه الله هم وئیلی چې دا معضل دی۔ صحیح روایت هغه دی کوم چې مخکی ذکر شو۔
او دَ یو دینار (أشرفۍ) اندازه به د نصاب د اندازی نه معلومولی شی۔ ځکه شل دیناره سرۀ زر دَ زکات نصاب دی۔ او د شل دینارو نه اووه نیمی (۱/۲ : ۷) تولی سره زر جوړیږی۔
نو کله چې مثلاً دَ اووه نیمو تولو سره زرو قیمت څلویښت زره شی، نو دَ یو دینار قیمت به دوه زره کالداری شی، او دَ نیم دینار قیمت به زر کالداری شی۔

د تفصیل دپاره وګوره : آداب الزفاف للإمام الألبانی ص : ٢٥، فتاوی الدین الخالص ٤٨٤/٢ لشیخنا ابی محمد، فتاوی المرأة المسلمة ٢٧٩/١، فتاوی هندیه : ٣٩/١، مراقی الفلاح علی صدر الطحطاوی ص ١١٦، تفهیم المسائل ٤٢٨/٦، للشیخ ګوهر رحمٰن رحمه الله).

آیا د ښځی آواز عورت دی ؟

سوال : آیا د ښځی آواز عورت دی ؟

جواب : دَ ښځی آواز عورت نه دی، مګر په یو شرط. په دی خبره د قرآن او سنت نه ډیر دلائل دی :

١ – الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ یا نساء النبی لستن کأحد من النساءِ ان اتقیتن فلا تخضعن بالقول فیطمع الذی فی قلبه مرض وقلن قولا معروفا ﴾ الأحزاب : ٢٣.

(ای د نبی بیبیانو! تاسو د نورو ښځو پشان نه یاست، که چیری تاسو تقویٰ اختیار کړئ نو په وینا کښی نرم والی مه پیدا کوئ، ګنی هغه کس به طمع وکړی چی د هغه په زړهٔ کښی مرض دی، او تاسو ښه خبره کوئ).

په دی آیت کښی الله رب العزت ټولو ښځو د امت ته – خصوصا د رسول الله ﷺ بیبیانو ته – یو ادب بیانوی. هغه دا چی کله د یو نامحرم سړی سره د خبرو کولو حاجت راپیښ شی، نو په داسی طریقه ورسره خبری کول پکار دی چی د دوئ په خبرو کښی ناز، نزاکت او خوږوالی نه وی، او نه په بد رد او کنځل او بد اخلاقئ سره وی. بلکه له نامحرمو سره په داسی طریقه دی خبری کوئ چی د شریعت موافقی وی چی خپل دینی یا دنیوی مقصد پوره شی.

ددی آیت کریمه نه دا مسئله معلومه شوه چی یوه ښځه د غیر محرم سره خبری کولی شی. لکه مفسرینو لیکلی دی.

تفسیر ابن کثیر (٤٨٢/٣) کښی ددی آیت لاندی لیکی :

١ – قال السدی وغیره : یعنی ترقیق الکلام إذا خاطبن الرجال.

٢ – ابن العربی رحمه الله په تفسیر أحکام القرآن (١٥٢٥/٣) کښی ددی آیت لاندی لیکی : چی دلته الله عز وجل ښځو ته امر کړی چی خبری دی د غیر محرمو سره صفا

صفا او واضحی وی، او د خبرو ژوول دی نه کوی.
٣ – زمخشری لیکلی چی د زنا کارو او بدچلنه ښځو پشان خبری دی نه کوی، بلکه داسی خبری دی کوی چی شك نه پیدا کوی. (٥٣٧/٣).
٤ – تفسیر قرطبی کښی هم د ابن العربی پشان خبره شوی ده. (١٧٧/١٤).
٥ – آلوسی رحمه الله په روح المعانی کښی لیکی چی دا حکم ښځو ته هغه وخت متوجه کیږی چی د غیر محرم سره خبری کوی، او فرمائی چی بعضی امهات المؤمنین رضوان الله علیهم اجمعین به د غیر محرمو سره خبری کولی، نو په خوله به ئی لاس ایښودلو چی آواز بدل شی او نرم نازك نشی. (٥/٢٢).
دارنګه خبره په (فی ظلال القرآن) کښی سید قطب رحمه الله هم لیکلی. (١٣/٦).
٢ – قال الله عز وجل: ﴿ واذا سألتموهن متاعا فاسئلوهن من وراءِ حجاب ﴾.
(کله چی تاسو ددی امهات المؤمنین رضوان الله علیهم اجمعین نه څه شی غواړئ نو د پردی آخوا ئی غواړئ).
او دا ظاهره خبره ده چی سوال جواب کښی د پردو زنانو سره خبری کول جائز دی.
(وګوره: احسن الکلام ١٢١/٧، لشیخنا ابی زکریا عبد السلام حفظه الله.
په تفسیر معارف القرآن کښی مفتی محمد شفیع رحمه الله (١٣٢/٧) لیکی:
مسئلہ: اس آیت اور حدیث مذکورسی اتنا تو ثابت ہوا کہ عورت کی آواز ستر میں داخل نہیں لیکن اس پر بھی احتیاطی پابندی لگادی... کہ عورتوں کا کلام جہری نہیں جو مرد سنیں۔
احادیث په دی باب کښی ډیر زیات دی، چی زه دلته دوه حدیثونه ذکرکوم.
١ – امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښی دَ ام عطیی رضی الله عنها روایت ذکر کوی. په هغه کښی دی:
بایعنا النبی ﷺ فقرأ علینا ألا نشرك بالله شیئا الخ. ونهانا عن النیاحة فقبضت المرأة منا یدها وقالت .... قال ابن حجر فی شرح هذا الحدیث: وفی هذا الحدیث: أن كلام الأجنبیات مباح سماعه وأن صوتها لیس بعورة. (فتح الباری ٢٠٣/١٣).
٢ – امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کښی د عائشی رضی الله عنها دا حدیث ذکر کړی:
أنها قالت: كان رسول الله ﷺ اذا اقررن بذلك من قولهن قال لهن رسول الله ﷺ:

انطلقن فقد بايعتكن، ولا والله ! ما مست يد رسول الله ﷺ يد امرأة قط، غير أنه بايعهن بالكلام.

مطلب دا چې رسول الله ﷺ د پردۍ (غير محرمی) سره صرف په خوله بيعت کولو۔

امام نووی رحمه الله ددی حديث په شرحه کی ليکی :

وفيه : أن كلام الأجنبية يباح سماعه عند الحاجة، وأن صوتها ليس بعورة.

(يعنی دا حديث شريف دليل دی په دی چې د غير محرمو ښځو سره د ضرورت په وخت خبری کول مباح دی، او د غير محرمو آواز عورت نه دی۔ (مسلم بشرح النووی ۱۰/۱۳).

دی باره کی د علماؤ اقوال :

۱ - امام غزالی په احياء العلوم (۲۴۸/۲) کښی ليکی :

وصوت المرأة فی غير الغناءِ ليس بعورةٍ، فلم تزل النساء فی زمن الصحابة يكلمن الرجال فی السلام، والإستفتاءِ، والسوال، والمشاورة وغير ذلك.

يعنی د ښځی آواز د سرورد نه بغير عورت نه دی، ځکه د صحابه کرامو رضی الله عنهم په زمانه کښی به ښځو د سړو سره خبری کولی۔ لکه سلام شو، فتویٰ تپوسل شو، نور تپوسونه او مشوری شوی۔

۲ - فقه اسلامی (۵۹۵/۱) کښی دی :

وصوت المرأة عند الجمهور ليس بعورةٍ، لأن الصحابة كانوا يستمعون إلى نساءِ النبی ﷺ لمعرفة أحكام الدين، لكن يحرم بالتطريب والتنعيم ولو بتلاوة القرآن بسبب خوف الفتنة.

(دَ جمهورو علماؤ په نيز د ښځی آواز عورت نه دی، ځکه صحابو کرامو رضی الله عنهم به د رسول الله ﷺ د بيبيانو نه د دين په باره کښی تپوسونه کول۔ ليکن د نغمی او خوش آوازۍ په شکل د هغی آواز آوريدل جائز نه دی اګرکه تلاوت هم وی، ځکه چې په دی کښی فتنه ده۔

دارنګه خبره ئی په (۵۸۴/۱) کښی کړی : والصوت على الراجح ليس بعورةٍ.

۳ - دکتور عبد الکريم زيدان په (المفصل فی أحكام المرأة والبيت المسلم) **کښی ليکی :**

المرأة تكلم الأجنبي عند الحاجة. المراد غير ممنوعة من الكلام مع الرجل الأجنبي عند الحاجة كأن تباشر معه البيع والشراء وسائر المعاملات المالية الأخرى، لأن هذه المعاملات تستلزم عادة الكلام من الجانبين المرأة والرجل الخ. (۲۷٦/۳).

حاصل دا چی: یوه ښځه د غیر محرم سره د حاجت په وخت خبری اتری کولی شی، لکه خرڅول اخستل، دینی تپوسونه، یا نور د ضرورت خبری۔

بیا روسته لیکی: صوت المرأة ليس بعورة ۲۷۷/۳.

چی دَ ښځی آواز عورت نه دی۔

٤ – فتاوى المرأة المسلمة (۱/٤۳۳) کښی دی۔

وسئل فضيلة الشيخ محمد بن صالح العثيمين حفظه الله: هل يجوز للرجل الأجنبي مخاطبة المرأة في التليفون أو صبورة مباشرة؟ فقال: لا بأس به ولا مانع أن تتكلم في التليفون ولكن لا يحل لأحد أن يتلذذ بهذا الصوت لأن هذا محرم. لكن لو أنها اتصلت بأحدٍ لتخبره بخبر أو تستفتيه عن مسألةٍ أو ما اشبه ذلك: فلا بأس به. وأما مخاطبة المرأة مباشرة فهذا لا بأس به، إن كان محجبة وأمنت الفتنة.

مطلب دا چی: یوه ښځه د یو پردی سړی سره په ټلیفون یا مخامخ خبری کولی شی چی مثلا د چا یو سوال جواب ورسوی، یا یوه دینی مسئله تپوسی۔ لیکن سړی ته دا حرام دی چی د هغی په خبرو خوند واخلی۔

نو ځکه به ښځه خبره نه ژوئی او نه به د ناز خبری کوی۔دارنګه سړی به هم داسی خبری نه کوی لکه څرنګه چی د خپلی ښځی سره خبری کوی۔

په دی هکله دَ ائمه اربعه رحمهم الله مذهب:

۱ – وصوت المرأة ليس بعورة. (مغنى المحتاج ۱۲۹/۳، احياء العلوم للغزالى ٤٤٨/۲، النووى بشرح مسلم ۱۰/۱۳).

د امام شافعی رحمه الله مذهب دادی چی د ښځی آواز عورت نه دی۔

۲ – د امام احمد رحمه الله مذهب: وصوت الأجنبية ليس بعورة. (۱۱/۳، شرح منتهى الأرادات ۱۱/۳).

۳ – د امام مالك رحمه الله مذهب: صوت المرأة ليس بعورة حقيقةً. (حاشية الصاوى

علی الشرح الصغیر للدردیر ٩٣/١، وحاشیة الدسوقی ١٩٥/١، مواهب الجلیل بشرح مختصر الخلیل للحطاب ٤٣٥/١).

٤ – د امام ابو حنیفه رحمه الله مذهب: وصوتها لیس بعورة علی القو الراجح.

(یعنی د ښځی آواز دَ راجح قول مطابق عورت نه دی)۔

(الدر المختار ورد المحتار ٤٠٥/١). **٢ – الفقه الاسلامی وأدلته کښی دی:**

وعبارة الحنفیة: الراجح أن صوت المرأة لیس بعورةٍ. (٥٩٥/١).

د احنافو مذهب دادی چی راجح او قوی خبره داده چی دَ ښځی آواز عورت نه دی۔

٣ – دَ کنز په حاشیه کښی دی: (لکن الأشبه أن صوتها لیس بعورة. (٢٠/١، حاشیه ٩).

٤ – کفایه المفتی (٤١/٢) کښی دی:

سوال: شریعت ښځی ته د خیر یا رفاهِ عامه په کارونو کښی د برخی اخستلو کولو اجازت ورکوی که نه؟ نبی ﷺ د تعلیم یافته ښځو باره کښی ارشاد فرمایلی دی۔ لهذا عرض دی چی په پنجاب کښی لوی لوی قابل ترینی ښځی شته؟

جواب: دښځوسره چی کوم خدمت لائق او مناسب دی نو اسلامی شریعتِ دوی ددینه ندی منع کړی، د پردی د پابندئ سره ښځه دَ سړو په مجمع کښی تقریر کولی شی۔

٥ – شیخ گوهر رحمٰن په تفهیم المسائل (٤٥٢/١) کښی لیکی:

((ابن حزم رحمه الله په خپل کتاب جوامع السیر کښی لیکلی چی شل داسی صحابیاتی وی چی هغوی نه یواځی داچی دَ دین د تبلیغ کار به ئی کولو، بلکه په فقهی او قانونی مسائلو کښی به ئی هم فتوی ورکولی۔ ددی صحابیاتو شاګردانی به یواځی ښځی نه وی، بلکه سړو به هم د پردی نه آخوا د هغوئ نه استفاده کوله۔ د خنساء بنت عمرو رضی الله عنها دَ ډیرو مؤثروتقریرونو سره دَ هغی د قبیلی ډیر خلك مسلمانان شوی وو۔ (٤١/١)۔

٦ – فتاوی اسلامیه کښی دی:

لیس صوت المرأة عورة باطلاق، فإن النساء کن یشتکین إلی النبی ﷺ ویسألنه عن شؤون الإسلام ویفعلن ذلك مع الخلفاءِ الرشدین رضی الله عنهم وولاة الأمور بعدهم ویسلمن علی الأجانب ویردون السلام، ولم ینکر ذلك علیهن أحد من أئمة الاسلام الخ.

(الفتاوی الاسلامية، لأصحاب فضيلة العلماءِ ابن باز وابن عثيمين وابن جبرين : ١/٢٥٠).
(دَ ښځی آواز مطلقا عورت نه دی، ځکه ښځو به نبی کریم ﷺ ته شکایت کولو او د اسلام دخبرو تپوسونه به ئی تری کول او دغه شان د خلفاء راشدینو رضی الله عنهم او نورو حاکمانو سره به ئی دا کار کولو، دارنګه په پردو خلکو باندی به ئی سلام اچولو او هغوئ به ورته جواب ورکولو او په دوئ باندی هیڅ یو عالم او امام رد نه دی کړی).

د سر د ویښتانو په مینځ کښی لاره جوړول

سوال : د سر ویښتانو په مینځ کښی لاره جوړول سنت طریقه ده اوکه نه ؟ دارنګه د سر ویښتانو کښی کږه لاره جوړول یا په انګریزی طریقه ویښتان جوړول جائز دی اوکه نه ؟ د قرآن او سنت په رڼا کښی دا مسئله واضحه کړئ.

جواب : د سر ویښتانو کښی سنت طریقه داده چی د سر په مینځ کښی لاره واړولی شی. د سر ویښته په یو طرف اړول، یا کږه لار اړول، یا ټول ویښته شا طرفته اړول خلافِ سنت او د کافرانو عمل او شِعار دی. دارنګه د ټول سر ویښته پریښودل سنت عمل دی، یا ټول سر خرئیل جائز عمل دی. څه ویښته لنډ کمول یا خرئیل او څه ډیر پریښودل دا هم خلافِ سنت دی. په هر مسلمان لازم دی چی خپله عقیده، عمل او شکل د محمد رسول الله ﷺ د عقیدی، عمل او شکل موافق جوړ کړی. کوم کارونه عقائد او شکلونه چی د کافرانو علامه او شِعار دی، خصوصا د بیزوګانو (انګریزانو)، نو ددی نه ځان ساتل فرض دی، لکه په دی مسئله دلته دلائل ذکر کولی شی.

اول : د سر ویښتان په سنت طریقه د جوړولو دلائل :

د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی :

كان النبی ﷺ يحب موافقة أهل الكتاب فيما لم يؤمر فيه و كان أهل الكتاب يسدلون اشعارهم، و كان المشركون يفرقون رؤوسهم، فسدل النبی ﷺ ناصيته، ثم فرّق بعده. (رواه البخاری، كما فی فتح الباری ١٠/٢٩٧).

يعنی د نبی کریم ﷺ عادت مبارك دا وو، چی کوم کارونو کښی به د الله رب العزت لهَ طرفه څه امر د کولو یانه کولو نه وو شوی، نو نبی کریم ﷺ به د اهلِ کتابو سره موافقت

خوښول، اهلِ کتابو به ویښته ټول شاته اړول او مشرکانو به دَ ویښتانو په مینځ کښې لاره اړوله، نبی کریم ﷺ هم ویښته ټول شا طرفته اړول، لیکن ورسته ئی په مینځ کښې لاره واړوله۔

حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی : قال القاضی عیاض : والفرق سنة لأنه الذی استقر علیه الحال، والذی یظهر أن ذلك وقع بوحی، لقول الراوی فی أول الحدیث : إنه کان یحب موافقة أهل الکتاب فیما لم یؤمر فیه بشئ فالظاهر فرق بأمر من الله الخ. (۱۰/۲۹۸).

یعنی دَ سر په مینځ کښی لاره اړول سنت طریقه ده۔ ځکه نبی کریم ﷺ په مینځ کښی لاره اړولی، او بیا په دی باندی باقی پاتی شوی۔او د حدیث نه معلومیږی چی د ویښتو ترمینځه لار اړول د الله په امر سره وو، ځکه چی په حدیث کښی (فیما لم یؤمر فیه) مطلب دا چی کله به امر د خلاف ورته وشو نو بیا به ئی خلاف کولو۔

د عمر رضی الله عنه په روایت کښی دی :(ثم أمر بالفرق ففرّق)

(مصنف عبدالرزاق،عون المعبود، مرقات (اللباس والزینة ص ٤٢٨).

(یعنی بیا ورته دَ الله له طرفه په ویښتانو کښی د لاری اړولو حکم وشو نو لاره ئی پکښی واړوله)۔

۲ – حدیث : عن عائشة رضی الله عنها قال : کأنی أنظر إلی وبیص الطیب فی مفارق النبی ﷺ وهو محرم. (رواه البخاری).

(ګویا زه اوس هم دَ خوشبوئی هغه رڼائی چی دَ رسول الله ﷺ دَ ویښتانو په مینځنئ لیکه کښی وه وینم)۔

ددی حدیث نه هم دا مسئله معلومه شوه چی د نبی کریم ﷺ سنت دا وو چی ویښتان به ئی په مینځ کښی اړول۔ددی خلاف دَ سر ویښتان په چپه اړول، یا کږه لاره ورکول، یا بل قِسم انګریزی شکل جوړول دا ټول حرام او ناروا کارونه دی۔ او په دی خبره ډیر دلائل دی۔

۱ – دا شان ویښتان جوړول د کافرانو علامه او شِعار دی، او په دی باندی د ټولو اهلِ علمو اتفاق دی چی د کافرانو سره په داسی کارونو کښی مشابهت کول حرام دی، کوم چی تر دوئ پوری خاص دی۔ لکه حدیث کښی دی۔

۱ – عن ابن عمر قال : قال رسول الله ﷺ : من تشبه بقوم فهو منهم.

(رواه أبوداود ٤٠٣١).

(څوك چې د چا سره ځان مشابه کوی نو دی به د هغوئ څخه حسابیږی)۔

٢ – ترمذی (٩٩/٢) کښې دی۔(لیس منا من تبشه بغیرنا).

(هغه څوك زمونږ نه نه دی چې هغه زمونږ (یعنی د رسول الله ﷺ او د هغه د صحابو) نه علاوه د بل چا سره ځان مشابه کوی)۔

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائی :

وهذا الحدیث أقل أحواله أن یقتضی تحریم التشبه بهم، وإن کان ظاهره یقتضی کفر المتشبه بهم.

یعنی د کافرانو سره دَ ځان مشابه کولو کمه درجه داده چې دا کار حرام دی، اګرکه ظاهر د حدیث دا تقاضا کوی چې داسی انسان دی کافروی۔ (اقتضاء الصراط المستقیم ٢٣٧/١).

٣ – دَ امیر المؤمنین خلیفه راشد عمر بن خطاب رضی الله عنه نه نقل دی چې هغهٔ فرمایلی : وایاکم والتنعم وزیّ أهل الشرك.

بل روایت کښې دی : وذروا التنعم وزیِّ العجم.

(بخاری، مسلم ٢٠٦٩، کما فی الفتح ٢٨٤/١٠، واحمد ٤٣/١، وعبد الرزاق ٨٥/١١).

یعنی ځان وساتئ د خوش عیشئ او دَ مشرکانو دَ هیئت (شکل او شباهت) نه، په بل روایت کښې دی د عجمو لفظ راغلی۔او عجم هم په هغه وخت کښې مشرکان وو۔

نو دَ سر په ویښتانو کښې کږه لاره ویستل، یا انګریزی طرز او طریقی سره ویښته جوړول دَ ډیرو وجهو نه جائز نه دی۔

١ – دا کار د رسول الله ﷺ د سنت خلاف دی، مخکښې ذکر شو چې هغه به په مینځ کښې لار اړوله۔دارنګه هغه فرمائی : احلقوا کله أو اترکوه کله.

(أخرجه النسائی باسناد صحیح).

یعنی نبی کریم ﷺ یو ماشوم ولیدل چې دَ سر څه حصه ئې خرئیل شوی او څه ئې پریښودل شوی وه، نبی کریم ﷺ هغه خلك ددی کار څخه منع کړل او ورته وی فرمایل : یا ټول وخرایاست یا ټول پریږدئ۔

٢ – دی کار سره انسان د کافرانو سره مشابه کیږی، او د کفارو سره مشابهت حرام دی۔

رسول الله ﷺ په ډيرو احاديثو كښې فرمائيلي : خالفوا أهل الكتاب، خالفوا المشركين، لا تشبهوا باليهود، خالفوا اليهود.

رسول الله ﷺ به دَ اهلِ كتابو دومره مخالفت كولو چې يهود او نصاراؤ خپله د هغه نه داسې تعبير كړې، حديث كښې دي چې يهودو وويل :

ما يريد هذا الرجل أن يدع من أمرنا شيئًا إلا خالفنا فيه... الحديث.

(صحيح مسلم ١٤٣/١، المشكاة ٦١/١).

(دا سړی – يعنی رسول الله ﷺ – مونږ سره زمونږ په هر كار مخالفت كوي).

فتاوى الدين الخالص كښې فضيلۀ الشيخ ابومحمد امين الله (حفظه الله و رعاه) يونوي (٩١) داسې مسائل راجمع كړې چې په هغوكښې د يهودو نه د مخالفت حكم شوی. په هغو كښې يو دَ سر ويښتان هم دي.

٣ – دا قِسم ويښته جوړول ځكه حرام دي چې دا دَ كافرانو شِعار او علامه ده. لكه بيهقي په سنن كبرى (/٩) ابن قيمؒ په أحكام أهل الذمه (٢٥٩/٢) شيخ الاسلام ابن تيميهؒ په اقتضاء الصراط المستقيم (٣٢٠/١) او ابن قدامهؒ په المغنى (٨٩/١) كښې ذكر كړې چې عمر رضى الله عنه په اهلِ الذمه وو دا شرط لګولی وو چې دَ مسلمانانو پشان ويښتان به نه جوړوي. يعنی مينځ كښې به لاره نه اړوي.

د روايت الفاظ داسې دي.

أن لا يفرقوا شعورهم لئلا يتشبهوا بالمسلمين .

يعنی مينځ كښې به لاره نه اړوئ، ددی لپاره چې د مسلمانانو سره د دوی مشابهت رانشي.

مطلب دا چې دَ سر د ويښتو په مينځ كښې لاره اړول د مسلمانانو علامه ده، او په سر كښې كږه لاره اړول د كافرانو شِعار او علامه ده.

٤ – دا قِسم ويښتو كښې د ښځو سره مشابهت راځي، خصوصا زناكارو ښځو سره. لكه علماؤ ددی حديث په تشريح كښې ليكلي : (مائلات مميلات) (رواه مسلم).

چې زناكاري ښځې په سرونو كښې كږې لاري اړوي، او نورو ښځو ته هم دغه قِسم سر ورجوړوي. كما فى المرقاة (/٧).

دارنګه فتاوی المرأه المسلمه (٥٢٩/٢) کښې لیکي : والفرق علی الجنب لا یجوز، لأنه تشبه بالنصاریٰ وتشبه بالنساءِ الزوانی، ملخصاً.

خلاصه دا چې : دا قِسم ویښتان جوړول ځکه حرام دي چې په دې کښې :

١ – مخالفت د سنت راځي۔

٢ – دَ فاسقانو او کافرانو سره مشابهت راځي۔

٣ – دا دَ کافرانو علامه او شِعار دی۔

٤ – دا دَ زنا کارو ښځو عمل دی۔

د تفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص (٣/٦) وګوره۔ چې په دې کښې د تشبیه اقسام او صورتونه، د تشبیه نقصانات، د تشبیه په باره کښې قواعد، او دَ تشبیه اختیارولو اسباب ذکر شوي دي۔

١٤٢٦/٤ هـ

آیا دا قسَم دی ؟

سوال : بعضې سي، ډي ګاني چې کله په کمپیوټر خلاصولی شي یا پکښې حفظ کولی شي نو په هغو کښې دداخلیدو سره به په داسې ځای بټن کلیك کوي چې په هغه کښې قسَم لیکلی شوي چې قسَم دی زهٔ به ددې نه نقل نهٔ کوم یابه ددې نه بل چاته (کاپي) نه ورکوم، که څوك دا بټن کلیك کړي او بیا ددینه چاته نقل یا (کاپي) ورکړي آیا په هغه قسم اوړي؟

جواب: کومو سي، ډي ګانو کښې چې قسَم لیکلی شوي چې قسَم دی زهٔ به ددې نه نقل نهٔ کوم یابه ددې نه بل چاته ریکارډ نهٔ کوم، نو دې باره کښې دوه مسئلې دي :

١ – دا خبره چې هغوئ لیکلي نو دائي د « حق ایجاد » او « حق الطبع » په بناء کړي، یعنې دا په دې وجه چې دا سي، ډي کښې چې څهٔ دي نو دا ما ایجاد او جوړ کړي۔

په حقوق الطبع کښې د علماؤ اختلاف دی چې آیا حقوق الطبع څهٔ اصل لري اوکهٔ نه ؟

راجح داده چې حقوق الطبع شته او ثابت دي، چې ددې خبرې ډیر وجوه دي :

١ – د تالیف، ایجاد او چاپ کولو حقوق په قانوني لحاظ سره په ټوله دنیا کښې منلی

شوی حق دی۔دا حقوق هم د مال حیثیت لری، دی سره ډیر مالی منفعتونه متعلق دی۔
۲ – حق الطبع او حق الایجاد ته ((حق اسبقیت)) ویلی شی۔رسول الله ﷺ فرمائیلی :
من سبق إلى مالم يسبقه مسلم فهو له. (رواه أبوداود).
(څوك چی هغه شی ته ورورﺍندی شی کوم ته چی بل مسلمان وړاندی والی نۀ وی کړی، نو دا دَ دغه اول مسلمان حق دی)۔
۳ – کله چی څوك دا شان سی، ډی وغیره جوړوی یائی طبع کوی نو په دی باندی دَ هغۀ ډیر مصرف رائحی۔نو اوس کۀ بل څوك په تیاره ددی نه نقل او طبع کوی، نو اولنی کس ته ډیر ضرر دی۔ او رسول الله ﷺ فرمائیلی :
لا ضرر ولا ضرار في الإسلام.
(په اسلام کښ نۀ خپله ځانته ضرر رسول شته او نۀ بل ته ضرر ورکول شته)۔
البته کومه خبره چی د قسَم ده، نو په دی باندی قسَم نۀ رائحی، ځکه په قسَم کښ نیت، انشاء او تلفظ ضروری دی۔او په دی قسَم کښی نیت نشته، مثلاً یو کس چی دا بټن کلیك کړی، نو ددۀ نیت نۀ وی اونۀ ئی انشاء اونۀ ئی الفاظ ویلی۔صرف د بل چا لیکل په شیشه را ښکاره شو۔نو دا څرنګه قسَم وګرځیده ؟!
الغرض : دا قسَم نۀ دی، لیکن ددی نه نقل کول هم صحیح نۀ دی، ځکه ددی حقوق محفوظ دی۔ اوڅوك چی دا خبره کوی چی کۀ یو کس نقل ونکړی نو بل نقل کوی، نو دا څۀ شرعی عذر نۀ لری۔

په عباداتو اُجرت اخستل

سوال : په عباداتو اجرت اخستل څۀ حکم لری ؟
جواب : په دی مسئله کښی دَ تفصیل نه مخکښی دوه خبری ذکرکول ضروری دی :
اول دا چی : عبادات په یو څو قِسمه دی :
(۱) اذان (۲)امامت (۳) د قرآن کریم تلاوت، ختم وغیره (٤)درس او تدریس (٥ دَم اچول۔
نو دا ټول عبادات یو حکم نۀ لری، بلکه په دی کښی فرق دی۔
دویمه خبره دا چی په مذکوره عباداتو لکه اذان، امامت، درس او تدریس باندی یو دَ

حکومت له طرفه اجرت اخستل دی، بل د یو شخص یا یو کلی له طرفه دی۔
نو په اول صورت کښې کۀ د حکومت له طرفه مؤذن، امام یا مدرس ته اجرت او تنخواه ورکړی شی، نو په دی کښې هیڅ منع او حرمت نشته۔ ځکه دَ حکومت، اوقافو او اسلامی مؤسسو په مال کښې د ټولو مسلمانانو حق شته ۔(توضیح الاحکام ۱/۴۷۹)
او امام، مؤذن او مدرس هم ددی مسلمانانو دَ ډلی څخه دی۔ په دی کښې د علماؤ اتفاق دی۔(وګوره : الحق الصریح : ۳/۳۸۶)۔
دویم صورت : دادی چی په مذکوره عباداتو اجرت اخستل د یو شخص یا یو څو کسانو د طرفه وی، نو په دی کښې تفصیل دی۔
(۱) **په ختم اجرت اخستل** : نو ددی حکم دادی چی دا کار ټول په ټوله بدعت دی۔ یعنی په مروجه طریقه ختم کول هم بدعت، او په دی باندی اجرت اخستل هم بدعت دی۔ ځکه دا طریقه نۀ د صحابه کرامورضی الله عنهم نه ثابته ده، او نۀ دَ سلفو صالحینوؒ نه۔ نو عدم نقل دلیل دی ددی په بدعت کیدو باندی۔
مطلب دا چی : نۀ د رسول الله ﷺ په سیرت مبارکه کښې دا خبره راغلی چی هغویٔ (ﷺ) دی دَ چا په کور، دکان، مسجد وغیره کښې دا شان ختم کړی وی۔ اونۀ د یو صحابی رضی الله عنه نه دا ترتیب ثابت دی۔
فقه حنفی کښې هم ددی په حرمت باندی فتویٰ راغلی۔
ویمنع القارئ للدنیا والآخذ والمعطی آثمان، فالحاصل أن ما شاع فی زماننا من قرائة الأجزاءِ بالأجرة لا یجوز.
(یعنی د دنیالپاره چی د قرآن کریم ختم کولی شی نو دا کار حرام دی، په دی کار باندی مزدوری ورکونکی او اخستونکی دواړه ګنهګار دی)۔ رد المحتار : ۵/۳۵.
احسن الفتاویٰ (۱/۳۶۱) کښې مفتی رشید احمد صاحب هم په دی مسئله تفصیلا رد کړی چی مروجه قرآن خوانی، د بیماریٔ لپاره ختم، د کور، دُکان یا مړی دپاره قرآن خوانی او خوراك کول ټول په ټول بدعت دی۔
دارنګه رد المحتار (۳/۳۵) کښې دی :
إن القارئ إذا قرأ لأجل المال فلا ثواب له، فأی شئ یهدیه إلی المیت ؟ وإنما یصل إلی

المیت العمل الصالح.

(که یو قاری دَ مال لهَ وجی د مړی لپاره د قرآن ختمِ کوی، نو ددهٔ ثواب نشته، نو مړی ته دَ څهٔ شیٔ ثواب ببښی ؟ مړی ته خو عمل صالح رسیږی)۔

دی کښی بعضی کسان خپل ځان او بل خطاء کوی، او وائی چی زهٔ ئی د ثواب لپاره وایم، پیسی او خوراکونه خو دغه بل سړی هسی د خپل ځانه راکوی !!

نو ددی جواب داده چی دا ځان خطاء کول دی، که په رشتیا سره دا کس تاته څهٔ درنکړی، نو تهٔ په دریم او څلورم ځل قطعاً هغهٔ ته ختم نهٔ کوی۔ اوکهٔ هغه روپیٔ درکوی نو لس ځله ئی هم ورته کوی۔ دارنګه کهٔ تهٔ دغه سړی ته ختم ونهٔ کړی نو دا کس تاته روپیٔ نهٔ درکوی۔ معلومه شوه چی دا روپیٔ ورکول او اخستل صرف او صرف د ختم او قرآن خوانیٔ په وجه درکوی۔

رد المحتار کښی دی : ولولا الأجرة ما قرأ أحد لأحدٍ فی هذا الزمان، بل جعلوا القرآن العظیم مکسباً ووسیلة إلی جمع الدنیا، إنا للّٰه وإنا إلیه راجعون. (رد المحتار : ٣٩/٥).

(کهٔ مزدوری ورته نهٔ ورکوی نو هیچا به دَ چا لپاره پدی زمانه کښی هیڅ نهٔ لوستلی، اصل خبره داده چی دی خلکو قرآن کریم نه ذریعهٔ معاش جوړه کړی او په دی سره دنیا جمع کوی، ډیره دَ تعجب خبره ده !)۔

شیخ البانی رحمه الله لیکی :

من بدع التعزیة إعطاء الدراهم لمن یقرأ القرآن علی روح المیت أو یسبح أو یهلل.

(د مړی د روح لپاره چی قرآن ویونکی یا ذکر اذکار کونکی ته کومی پیسی ورکولی کیږی، نو دا هم د تعزیت د بدعاتو نه یو بدعت دی)۔(أحکام الجنائز وبدعها).

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په خپله فتاویٰ (٣٢٢/٢٤) کښی هم په دی بدعت رد کړی۔

په تراویحو او لمانځه کښی په دی طریقه ختم کول بدعت دی، چی قاری ته پیسی ورکولی کیږی یا دَ هغهٔ لپاره اجرت مقررول کیږی۔

وګوره : فتاوی اللجنة : ٩٠/٤، شرح العقیدة الطحاویة ص : ٢٥٤، السنن والمبتدعات : ١٦٠/١، الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح : ٣٨٦/٣).

(۲) **په آذان باندی اجرت اخستل** :

په دی کښی اکثر اهلِ علم وائی چی په آذان باندی اجرت اخستل حرام دی، او راجح همدغه خبره ده۔دی باره کښی دلائل دادی :

عن عثمان بن أبی العاص رضی اللّٰه عنه قال : قلتُ : یا رسول اللّٰه ! اجعلنی إمام قومی، قال : أنت إمامهم، واقتد بأضعفهم، واتخذ مؤذنًا لا یأخذ علی أذانه أجرًا. (رواه أحمد وأبوداود والنسائی، کما فی المشکاة وسنده صحیح).

(عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه وائی : ما عرض وکړو، یا رسول اللّٰه ! ما د خپل قوم امام مقرر کړه، وی فرمایل : څه ته د هغوی امام شوی، تۀ د هغوی نه د ډیر ضعیف او کمزوری اقتداء کوه – یعنی د کمزورو مقتدیانو لحاظ او رعایت کوه – او یو داسی مؤذن ونیسه چی په خپل اذان باندی اجرت نۀ اخلی)۔

(اقتد باضعفهم) کښی دیته اشاره ده چی لکه څرنګه چی ضعیف شخص د امام تابعداری او لحاظ کوی، نو امام ته هم پکار دی چی د کمزورو تابعداری وکړی او لحاظ ئی وساتی۔

مذکوره حدیث په دی دلیل دی چی مؤذن به داسی کس نیولی کیږی چی هغه په خپل اذان باندی څۀ مزدوری او اجرت نۀ اخلی۔

بل دلیل : یحیی البکاء وائی : ما د یو سړی نه واوریدل چی ابن عمر رضی اللّٰه عنه ته ئی ووئیل – په داسی حال کښی چی هغه په طواف کښی روان وو – :

إنی أحبُّکَ فی اللّٰه !

یعنی زۀ تاسره د الله لپاره مینه کوم۔ابن عمر رضی الله عنه ورته وفرمائیل :

إنی أبغضك فی اللّٰه !فقال : سبحان اللّٰه ! إنی أحبك فی اللّٰه وأنت تبغضنی فی اللّٰه ؟ قال : نعم، إنك تسأل علی

أذانك أجرًا. (أخرجه ابن حبان وابن أبی شیبة : ۲۲۸/۱، وابن عدی فی الکامل : ۲٦٤۹/۷، کما فی نصب الرایة ونیل الأوطار : ٤٤/۲، وسنده حسن).

(یعنی : زۀ تاسره د اللّٰه لپاره بغض کوم، هغه سړی ورته په تعجب سره وویل : سبحان اللّٰه

! زهٔ تاسره د الله لپاره مینه کوم او تهٔ ماسره د الله لپاره بُغض لری ؟ ابن عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل : هُو، (زهٔ خبر شوی یم چی) تهٔ په اذان باندی اجرت اخلی)۔

ددی حدیث نه معلومه شوه چی په اذان باندی اجرت اخستل ناجائز دی۔

علامه خطابی رحمه الله فرمائی :

أخذ الأجرة على الأذان مكروه فی مذاهب أكثر العلماءِ، وقال الأوزاعی : مكروهة، ولا بأس بالجُعل، و كره ذلك أهل الرأی، ومنع منه إسحاق بن راهويه.

(عون المعبود : ٢٠٩/١، مرعاة المفاتيح : ٣٧٥/٢، تحفة الأحوذی : ١٨٤/١).

(یعنی په اذان باندی د اکثرو علماؤ په نزد اجرت اخستل مکروه (حرام) دی)۔

٣ - په تعلیم القرآن او تدریس باندی اجرت اخستلو حکم :

په دی کښی د علماؤ اختلاف دی۔ راجح داده چی د قرآن کریم په تعلیم او درس او تدریس باندی اجرت اخستل جائز دی۔او په دی خبره باندی ډیر دلائل دی چی بعضی د هغی نه دلته ذکر کولی شی :

١ - حدیث کښی راځی : إن أحقَّ ما أخذتم به كتاب الله.

(بیشکه ډیر لائق هغه شی چی تاسو په هغی باندی اجرت اخلئ، دَ الله کتاب دی)۔

دا حدیث اګرکهٔ په یوه خاصه واقعه کښی وئیلی شوی چی هغه د دَم خبره وه، لیکن د حدیث الفاظ عام دی۔ ځکه چی د حدیث په نورو الفاظو کښی دَ (اجرت) تصریح راغلی۔لکه صحیح بخاری کښی راځی :

إن أحقَّ ما أخذتم أجرًا كتابُ الله.

(ډیر غوره شی چی تاسو پری اجرت اخلئ نو هغه د الله کتاب دی)۔

امام بیهقیؒ په معرفۃ السنن والآثار (٣٨١/٥) کښی فرمائی :

وهو عام فی جواز أخذ الأجرة على كتاب الله بالتعليم وغيره.

(دا حدیث عام دی او د تعلیم وغیره په ذریعه د الله په کتاب باندی د اجرت اخستلو جواز ته شامل دی)۔

٢ - دویم دلیل : په صحیح بخاری وغیره کښی دَ سهل بن سعد رضی الله عنه نه

روایت دی چی رسول الله ﷺ یو صحابی ته وفرمایل :
فقد زوجتكها بما معك من القرآن.
(یعنی : ما دا ښځه تاته په دی وجه په نکاح درکړه چی تهٔ به دیته قرآن کریم ورزده کوی).
نو په دی حدیث کښی د قرآن کریم تعلیم مهر واقع شوی۔ معلومه شوه چی د قرآن کریم د تعلیم په مقابله کښی عوض اخستل او ځانته دنیوی فائده حاصلول درست اوصحیح کار دی۔
امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښی په ترجمۃ الباب کښی فرمائی :
قال الحكم : لم أسمع أحدًا كره أجر المعلم.
(حکمؒ فرمائی : ما دَ هیڅ چانه نهٔ دی اوریدلی چی هغهٔ دَ معلم او استاذ اجرت ته مکروه ویلی وی).
دارنګه امام بیهقیؒ په خپل سنن کښی فرمائی : وكان ابن سيرين وعطاء وأبو قلابة لا يرون بتعليم الغلمان بالأجر بأسًا، وبه قال الحسن البصري. (السنن الكبرى : ١٢٤/٦، معرفة السنن والآثار : ٣٨٢/٥).
دارنګه د ابن سیرینؒ، معاویه بن قرهؒ وغیره نه هم ددی جواز نقل دی۔وګوره : (فتح الباری : ٣٥٨/٤، السنن الكبرى للبيهقي : ١٢٤/٦، الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح : ٤٠٠/٣، فتاوى اللجنة الدائمة : ١٩٠/٤، الفتاوى الإسلامية : ٤٠/١، توضيح الأحكام : ٤٧٠/١، تفسير الجامع لأحكام القرآن للقرطبي : ٣٣٥/١).

٤ – په دَم اچولو باندی اجرت اخستل :

په دَم باندی اجرت اخستل جائز دی، ځکه په دی کښی د قرآن کریم د لوستلو نه غرض علاج وی، ثواب مقصد نهٔ وی۔په دَم باندی دَ اجرت اخستلو په جواز باندی دَ بخاری وغیره صحیح احادیث دلیل دی۔
یو دلیل هغه حدیث دَ لدیغ (لړم خوړلی) دی کوم چی بخاری او مسلم او نورو روایت کړی چی ابو سعید الخدری رضی الله عنه د کافرانو په یو مشر باندی په دی شرط دَم اچولی وو، چی دهٔ ته به یو کنډك ګډی بزی ورکوی۔ هغه خلکو دا شرط ومنل، ابو سعید

خدری رضی الله عنه وریاندی دَم واچول، سردار جوړ شو۔ ګډی بزی ئی ورکړی۔ کله چی ئی دا قیصه رسول الله ﷺ ته وکړه، نو رسول الله ﷺ د دوئ دی کار ته صحیح وویل، بلکه د دوئ د طیبِ نفس او زړۀ خوشحالولو لپاره ئی دا هم ورته وفرمایل:

اضربوا لی معکم سهمًا.(زما دپاره هم په کښی څۀ حصه مقرره کړئ)۔

دارنګه بل حدیث کښی رائحی: خارجه بن صلت رضی الله عنه د خپل ترۀ نه روایت کوی چی هغه د اسلام راوړلو په غرض رسول الله ﷺ ته حاضر شو، واپس کورته د تلو په وخت په لاره کښی په یو داسی قوم ورتیر شو چی هغوئ خپل لیونی کس په زنځیرونو تړلی وو۔ د لیونی خپل خپلوانو ددۀ نه مطالبه وکړه چی مونږ ته معلومه شویده چی ستا ملګری (رسول الله ﷺ) خیر راوړی، نو آیا تاسره د هغۀ نه څۀ شته ؟ چی په هغی سره ددی لیونی علاج وکړی شی ؟ هغه وائی: ما ددی خلکو لیونی په سورتِ فاتحه سره دَم کړو۔ نو هغه پوره طور سره ښۀ شو، نو هغوئ ماته سل ګډی بزی راکړی۔

کله چی زۀ د رسول الله ﷺ په خدمت کښی حاضر شوم او دا واقعه می د هغه په خدمت کښی پیش کړه، نو ماته ئی وفرمائیل: دَ سورتِ فاتحی نه سیوا بل څۀ دی لوستلی وو ؟ ما ورته وویل: نه!۔

رسول الله ﷺ راته وفرمایل: لعمری لمن أکل برقیة باطل، لقد أکلتَ برقیة حقٍ.

(دا قبول کړه، یقیناً څوك چی په باطل دَم خوراك کوی، نو تا په حق دَم باندی خوراك کړی)۔(رواه أحمد: ٢٠١/٥، وابن حبان: ٦٢٦/٧، والنسائی: ٢٤٩/٨، وغیرهم والحدیث صحیح).

دَ مذکوره احادیثو نه معلومه شوه چی په دَم اچولو باندی اجرت اخستل جائز دی۔ په دی مسئله د علماؤ کرامو اتفاق دی، البته په دی کښی ئی اتفاق نشته چی څوك ددینه کار، کسب جوړ کړی دَم خپله ذریعه معاش جوړ کړی۔ ددا سی دم په اجرت باندی په لاندینو کتابونو کښی رد راغلی:

(١) کیف تعالج مریضك بالرقیة الشرعیة، للشیخ عبد الله بن السدحان (٢) فی کل بیت راقی، للشیخ خالد ثامر السبعی (٣) التفرغ للرقیة للعلامة: مجدی محمد الشهاوی (٤) الفرق بین الرقیة الشرعیة والرقیة التجاریة وبیان وجوب تعظیم واحترام ذکر الله عز وجل، للشیخ عبد الکریم بن

صالح الحمید (٥) التداوی بالقرآن الکریم بن الالتزام والتجاوز، للشیخ أحمد إسماعیل (٦) الرقی وأحکامها، للشیخ صالح عبد العزیز آل الشیخ (٧) العلاج بالقرآن من أمراض الجان، ص : ١٥٢، للدکتور عبد المنعم القصاص، الاستاذ بکلیة الدراسات، وعضو لجنة الفتاوی بالأزهر (٨) برهان الشرع فی إثبات المس والصرع، ص : ١٩، للشیخ علی بن حسن عبد الحمید (٩) فتح المبین فی علاج الصرع والسحر والعین، ص : ١٠٥). (١٠) مجلة الأسرة، ص : ٩، العدد : ٧٥). (١١) الدلیل والبرهان علی بطلان أعرض المس ومجاورة الجان، ص : ٤٤، تألیف مدحت عاطف).
(١٢) فتاوی أصحاب الحدیث : ٢/٤٥٠، للشیخ أبو حماد حافظ عبد الستار حماد).(١٣) الرُّقیٰ علی ضوءِ عقیدة أهل السنة والجماعة واتخاذها حرفة، ص : ٩٠للشیخ **نفیع علیانی رحمه الله**، (١٤) **فتاویٰ یسئلونك (١٥)** (التشافی بالقرآن ندوة الکویت، ص : ١٨٠).(١٦) التداوی بالقرآن الکریم بین الالتزام والتجاوز، للشیخ أحمد إسماعیل، (١٧)القول المعنی فی مرتکزات معالجی الصرع والسحر والعین، ص ٣٤٥ **شیخ عبد الله بن عبد الرحمن الجبرین**(١٨) النذیر العریان، ص : ٤(١٩).(٢٠) لقاء الباب المفتوح **دعلامه ابن عثیمین**، **(٢١)** (تحریم آلات الطرب، ص : ١٦٦، سلسلة الأحادیث الصحیحة المجلدالتاسع للا**مام البانی رحمه الله**، (٢٢) مجلة الدعوة، ص : ٢٣، العدد : ١٦٨٣، ذی القعدة : ١٤١٩هـ).

٥ - په امامت باندی اجرت اخستل :

امامت په دوه قِسمه دی : صرف امامت یعنی چی ددی سره نۀ خلکو ته درس او تدریس کوی اونۀ ماشومانو ته سبق وائی۔نو په داسی امامت باندی اجرت اخستل صحیح ندی ددی تفصیل په الحق الصریح ٣٨٦/٣ کښی تفصیلا ذکر شوی۔

دویم قِسم هغه امامت دی چی د هغه سره خلکو ته درس او تدریس کوی او ماشومانو ته سبق وائی نو په دی صورت کښی که دا ډول امام ته څه اجوره مقرره شی نو دیکښی ګنجائش شته ځکه پدی صورت کښی د امامت په ضمن کښی اجرت علی التعلیم راغی او اجرت علی التعلیم جائز دی، لکه ددی مسئلی وضاحت مخکی تفصیلا ذکر شو۔

//////

اوږده ګیره پریښودل څرنګه دی؟

سوال : زما ګیره اوږده ده، دَ قبضی نه زیاته ده، څۀ ملګری راته وائی چی د قبضی نه اخوا اووهه همدا غوره ده۔ستاسو نه زما تپوس دادی چی آیا د ګیری په خپل حالت پریښودل پکار دی اوکه دَ قبضی نه زیاته وهل ئی پکار دی ؟ دی باره کښی تفصیلاً فتویٰ راکړئ۔ ځکه ما خپل ملګری ډیر تنګوی۔

جواب : الحمد للّٰه والصلاة والسلام علی رسول اللّٰه وعلی آله وصحبه أجمعین أما بعد :

ګیره غټول، ګڼول او په خپل حالت پریښودل سنت طریقه ده، که هغه د قبضی نه زیاته اوږده شی اوکه کمه وی۔ همدا سنت طریقه ده۔ څوك چی وائی چی د قبضی نه دَ زیاتی ګیری لری کول پکار دی نو د هغوی خبره ضعیفه ده۔راجحه او غوره مسئله همداده چی ګیره دی په خپل حال پریښودی شی۔ دا د جمهورو علماؤ مذهب هم دی، لکه په طرح التثریب (۸۳/۲) کښی راځی : الجمهور علی أن الأولیٰ ترك اللحیة علی حالها.

امام نووی رحمه الله هم دَ صحیح مسلم په شرح کښی لیکی :

والمختار ترك اللحیة علی حالها وألا یتعرض لها بقصیر شئ أصلًا.

(شرح النووی : ۱۲۹/۱).

وفی التوضیح : وترکها أولیٰ اهـ

دی باره کښی اول د رسول الله ﷺ ارشادات، بیا دَ هغۀ عمل مبارك، د پخوانو انبیاء کرامو سیرت، د خلفاء راشدینو عمل او په آخر کښی د سلف صالحینو عمل وګوره :

نبوی ارشادات :

❁ عن ابن عمر عن النبی ﷺ قال : خالفوا المشرکین وفروا اللحی وأحفوا الشوارب.

(متفق علیه).

(دَ مشرکانو خلاف وکړئ۔ ګیری غټی پریدئ او بریتونه وارۀ کړئ)۔

❁ عن ابن عمر قال : قال رسول اللّٰه ﷺ : خالفوا المشرکین أحفوا الشوارب وأوفوا اللحی.

(رواه مسلم).

(د مشرکانو مخالفت وکړئ: بريتونه ووهئ او ګيرې غټې پريدئ)۔

❁ عن أبى هريرة قال: قال رسول الله ﷺ: جزوا الشوارب وأرخوا اللحى خالفوا المجوس. (رواه مسلم).

(بريتونه ووهئ او ګيرى زوړندې کړئ، د مجوسيانو مخالفت وکړئ)۔

په عون المعبود کښې ددې داسې معنىٰ کوی:

وإعفاء اللحية توفيرها من قولك عفا اللبث إذا طال، ويقال: عفا الشئ بمعنى كبُر، قال الله تعالىٰ: حتى عفوا أى كثروا، انتهى.

يعنې په حديث کښې دَ (اعفاء) نه مراد ګڼول او زياتول دَ ګيرې دي۔

امام نوویؒ فرمائى: فحصل خمس روايات:

((أعفوا)) و ((أوفوا)) و ((أرخوا)) و ((أرجوا)) و ((وفروا)) ومعناها كلها: تركها على حالها. هذا هو الظاهر من الحديث الذى تقتضيه ألفاظه، وهو الذى قاله جماعة من أصحابنا وغيره من العلماءِ.

يعنې په احاديثو کښې دَ ګيرې په باره کښې پنځه قِسمه الفاظ راغلى، ((أعفوا)) و ((أوفوا)) و ((أرخوا)) و ((أرجوا)) و ((وفروا)) ددې ټولو مقصد دادې چې ګيره په خپل اصلى حالت پريدئ۔ د حديث ظاهر هم ددې تقاضا کوى، دا زمونږ د شوافعو او نورو علماؤ مذهب دى۔ (شرح النووى: ١٢٩/١).

دَ ګيرې په باره کې دَ رسول الله ﷺ مبارک عمل:

❁ عن نافع بن مطعم عن على بن أبى طالب – رضى الله عنه – أنه وصف النبى ﷺ فقال: كان عظيم الهامة أبيض مشربًا بحمرة عظيم اللحية. (وروى نحوه ابن عباس وابن مسعود).

أخرجه أحمد وأبو يعلى ٣٠٣/١، رقم: ٣٦٩، وابن عساكر: ٢٥٤/٣، وابن أبى شيبة وابن حبان: ٢١١٧، والبيهقى فى دلائل النبوة: ١٦٣/١، وسنده حسن كما قال الألبانى وشعيب الأرناووط).

(د جابر رضى الله عنه نه روايت دى چې د رسول الله ﷺ د سر کوپړئ غټه، سور سپين او ګڼې ګيرې والا وو)۔

❁ وعن جابر بن سمرة يقول: كان رسول الله ﷺ قد شمط مقدم رأسه ولحيته وكان إذا

ادهن لم يتبين وإذا شعث رأسه تبين و كان كثير شعر اللحية.
(رواه مسلم وأبو يعلىٰ والبيهقى فى شعب الإيمان، وابن أبى شيبة وأحمد : ١٠٢/٥، ٢١٢٨٨، ١٠٧/٥، ٢١٣٤٥).

يعنى د رسول الله ﷺ د ګيرى مبارکى ويښتان ډير وو۔

❁ وفى رواية : كان كث اللحية. (كنز العمال ١٨٥٦٦، أخرجه ابن عساكر ٢٦٠/٣، ونعيم بن حماد فى الفتن ٣٦٦/١، رقم : ١٠٧٣، وعبد الرزاق ع: ١٥٦/١٠، وأحمد).

يعنى په بل روايت کښى دى چى ګيره مبارکه ئى ګڼه وه۔

❁ وعن أنس قال : كان رسول اللهﷺ أحسن الناس قوامًا وأحسن الناس وجهًا، وأحسن الناس لونـاً، وكانت لحيته قد ملأت من ههنا إلى ههنا، وأمر يديه على عارضيه. (أخرجه ابن عساكر ٢٧٨/٣، كنز العمال : ١٨٥٥٥، فيض القدير ومجموعة مصنفات أبى جعفر ابن البخترى : ٦٨/١، رقم : ٢٧١، التيسير بشرح الجامع الصغير للمناوى).

(انس رضى الله عنه فرمائى : رسول الله ﷺ دَ ټولو خلکو نه ښۀ قد لرونکى وو، دَ ټولو خلکو نه ښائسته مخ لرونکى وو، دَ ټولو خلکو نه ښائسته رنګ لرونکى وو، او دَ هغۀ ګيره ددى ځاى نه تر دى ځاى پورى ځاى ډك کړى وو۔ او انس رضى الله عنه خپل لاسونه د مخ په دواړو طرفونو راښکل۔

د سيرت په يو بل روايت کښى راځى چى :

❁ كان ﷺ كث اللحية تملأ صدره.

(د رسول الله ﷺ دومره ګڼه ګيره وه چى سينه مبارکه ئى وربا‌ندى ډکه وه)۔

(الشفاء بتعريف حقوق المصطفىٰ، نور اليقين فى سيرة سيد المرسلين، الإعلام بما فى دين النصارى من الفساد والأوهام، إظهار محاسن دين الإسلام وإثبات نبوة نبينا محمد عليه الصلاة والسلام، تأليف الإمام القرطبى، حاشية البيجورى على الخطيب).

دَ رسول الله ﷺ د ګيرى په غټ والى باندى بل دليل دا حديث هم دى چى صحابه كرام رضى الله عنهم فرمائى : مونږ به د رسول الله ﷺ قرأت دَ ماسپښين او زمازيګر په لمونځونو کښى (د ورسته صف نه) په دى پيژندلو چى د هغۀ ګيرى مبارکى به حرکت کول۔

لکه په صحیح حدیث کښې راځي :

عن أبي معمر قال : قلنا لخباب : أكان رسول الله ﷺ يقرأ في الظهر والعصر ؟ قال : نعم، قلنا : بم كنتم تعرفون ذاك؟ قال : باضطراب لحيته.

(أخرجه البخاري وعبد الرزاق ١٠٥/٢، رقم : ٢٦٧٦، وابن أبي شيبة ٣١٨/١).

دَ رسول الله نه په هیڅ صحیح کښې نۀ دي ثابت چې هغه ګیره کمه کړې وي، او یائې په دې امر کړې وي، لکه علامه البانی رحمه الله لیکي :

واعلم أنه لم يثبت في حديث صحيح عن النبي ﷺ الأخذ من اللحية، لا قولًا ولا فعلًا.

(السلسلة الضعيفة والموضوعة : ٣٧٥/٥).

دَ پخوانو انبیاء کرامو علیهم السلام عمل :

علامه آلوسیؒ او امام سیوطیؒ په خپلو تفسیرونو کښې لیکلي :

قال كعب : كان داود عليه السلام أحمر الوجه سبط الرأس أبيض الجسم طويل اللحية.

(داود علیه السلام سور مخ والا، نیغو ویښتانو والا، سپین پوستي او اوږدې ګیرې والا وو).

دارنګه دوئ دواړه ددې آیت په تفسیر کښې لیکي :

﴿ وزادكم في الخلق بسطة ﴾ : وأخرج إسحاق بن بشر وغيره عن ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنهما أن هودًا عليه السلام كان أصبحهم وجهًا وكان في مثل أجسامهم أبيض جعدًا بادي العنفقة طويل اللحية ﷺ.

دَ هارون علیه السلام باره کښې راځي چې هغه موسی علیه السلام ته وویل : ﴿ يا ابن أم لا تأخذ بلحيتي ولا برأسي ﴾.

شیخ عثیمین رحمه الله ددې په تفسیر کښې فرمائي : وهذا دليل على أن لهارون لحية يمكن الإمساك بها.

په تفسیر طبری، تهذیب الآثار للطبری، تفسیر القرآن لعبد الرزاق الصنعانی، تفسیر القرطبی او الشریعی دا جرې کښې راځي چې رسول الله ﷺ فرمائي :

ثم مضينا إلى السماء الخامسة فإذا أنا بهارون المحبب في قومه، حوله تبع كثير من أمته، فوصفه النبي ﷺ : طويل اللحية تكاد لحيته تمس سرته.

د نوح عليه السلام په باره کښې راځي :

ويقال لنوح عليه السلام شيخ المرسلين وآدم الثانى وكان دقيق الوجه فى رأسه طول عظيم العينين غليظ العضدين كثير لحم الفخذين ضخم السرة طويل اللحية والقامة جسيمًا.

(روح المعانى، الإتقان فى علوم القرآن للسيوطى، التحرير والتنوير، سمط النجوم العوالى فى أنباءِ الأوائل والتوالى للعصامى).

امام سيوطيؒ په الدر المنثور کښې ددې آيت لاندې ليکلي :

﴿ وإلى عاد أخاهم هودًا ﴾ وكان هود من قبيلة يقال لها الخلود، وكان أوسطهم نسبًا وأصبحهم وجهًا، وكان فى مثل أجسادهم أبيض بعد أبادى، العنفقة، طويل اللحية.

دَ ږيرې په باره کې د خلفاءِ راشدينو عمل :

د خليفه راشد عثمان بن عفان رضى الله ږيره :

عن عبد الله بن شداد الهاد قال : رأيتُ عثمان بن عفان رضى الله عنه يوم الجمعة على المنبر، عليه إزار عدنى غليظ، ثمنه أربعة دراهم أو خمسة، وريطة كوفية ممشقة، ضرب اللحم، طويل اللحية، حسن الوجه.

(ما عثمان رضى الله عنه دَ جُمعې په ورځ په منبر وليدهٔ چې د عدن علاقې نه جوړ شوې لنګ ئې آغوستې وو، چې دَ څلورو يا پنځو روپو قيمت ئې لرلو، او يو کوفي څادر ئې اچولې وو، نرى قد والا، اوږدې ږيرې او ښائسته مخ والا وو).

(رواه الطبرانى، والحاكم فى المستدرك : ١٠٣/٣، والبيهقى فى شعب الإيمان كما فى المجمع ومعرفة الصحابة لأبى نعيم الأصبهانى والزهد والرقائق لابن المبارك، وإحياء علوم الدين، قال الألبانى فى صحيح الترغيب والترهيب : وسنده صحيح، كما فى المجمع ومعرفة الصحابة لأبى نعيم الأصبهانى).

دَ امير المؤمنين على رضى الله عنه ګيره :

د على رضى الله عنه په باره کښې راځي چې د هغه هم غټه ږيره وه لکه په البدايه والنهايه دَ ابن کثيرؒ کښې دي : وكان عظيم اللحية قد ملأت صدره ومنكبيه.

اسد الغابۍ کښې راځي قال أبو رجاء العطاردي : رأيتُ عليًا ربعة، ضخم البطن، كبير اللحية قد ملأت صدره، أصلع شديد الصلع.

په التفسير والمفسرون کښې امام ذهبیؒ لیکي : كان عظيم اللحية قد ملأت صدره من منكب إلى منكب. (سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد، وذكر فضائله وأعلام نبوته وأفعاله وأحواله في المبدأ والمعاد، تاريخ دمشق لابن عساكر، مقتل أمير المؤمنين على بن أبي طالب لابن أبي الدنيا، قوت القلوب لأبي طالب المكي).

د نورو سلفِ صالحینو ګیرې:

کله چې په صحیحو احادیثو کښې دارنګه دَ خلفاءِ راشدینوؓ نه یو عمل ثابت شي، نو بیا د نوروسلفو عمل ذکر کولو ته ضرورت نۀ وي۔ البته دلته د زیات معلومات لپاره صرف د یو څو سلفِ صالحینوؒ سیرت ذکر کوو، ګنې د سلف صالحینو په سیرت کښې خو بې شماره داسې کسان شته چې د هغوئ په باره کښې دَ (عظیم اللحیۍ)، (طویل اللحیۍ)، (کبیر اللحیۍ) او ددې پشان نور الفاظ استعمال شوي۔

امام مالک رحمه الله:

دَ امام مالك رحمه الله په باره کښې راځي : وكان رحمه الله طويلًا جسيمًا عظيم الهامة أصلع أبيض الرأس واللحية أبيض شديد البياض إلى الصفرة حسن الصورة أشم عظيم اللحية تامها تبلغ صدره.

(مقدمة مواهب الجليل في شرح مختصر الشيخ خليل، الديباج المذهب في معرفة أعيان علماءِ المذهب لابن فرحون، ترتيب المدارك وتقريب المسالك، للقاضي عياض رحمه الله).

يزيد الرشک:

دَ صحیح بخاري او صحیح مسلم او نورو بې شماره احادیثو راوي (یزید الرشك) په باره کښې راځي : وسمى به لأن العقرب دخلت في لحيته فمكثت ثلاثة أيام وهو لا يدرى لعظم لحيته جدًا.

یزید الرشك ته (یزید الرشك) په دې وجه وائي چې ددۀ په ګیره کښې لړم ننوتې وو، درې ورځې ئې تیرې کړې وې لیکن دې وربانــدې نۀ وو پو هه شوې ځکه چې ددۀ ګیره ډیره

زیاته غټه وه)۔

(فتح الباری، عون المعبود، الدیباج علی مسلم، عمدة القاری، شرح السیوطی علی مسلم).

شمس الدین محمد بن یوسف الحلاوی:

دَ قاضی شمس الدین محمد بن یوسف بن صلاح الدمشقی المعروف بالحلاوی په باره کښې راځی : و کان کبیر اللحیة جدًا، یضرب بطول لحیته المثل. (النجوم الزاهرة فی ملوك مصر و القاهرة).

أبو یزید یوسف بن عمرو:

په ترتیب المدارك وتقریب المسالك کښې قاضی عیاض لیکی : یوسف بن عمرو بن یزید بن یوسف بن خرخسن الفارسی و کنیته أبو یزید، سمع من مالك و سمع ابن وهب وغیره من أصحابه، و کان من فضلاء أصحاب مالك ذا زهد وفضل،قال غیره و سنه قریب من سن هؤلاءِ وفی طبقتهم، ذکره ابن حبیب روی عنه ابن عبد الحکم قال سعید الأدم : هو ثقة صالح، قال الکندی : کان فقیهًا مفتیًا أحد أوصیاءِ الشافعی و کان مصابًا بعینه، و کانت لحیته قد ملأت صدره.

(یعنی دده ګیره دومره اوږده وه چې دسینې سره ئی لګیدله)۔

محمد بن عمرو بن حزم:

په تذکرۃ الحمدنیۃ کښې راځی محمد بن عمرو بن حزم، وهو والی المدینة و کان عفیفًا حدیدًا، کبیر اللحیة، له جاریة مو کلة بلحیته.

فضل بن غانم:

په تاریخ الاسلام للذهبی کښې راځی : الفضل بن غانم أبو علی المروزی الخزاعی توفی قضاء مصر عامًا وعزل، وذلك فی ثمان وسبعین ومائة، و کان کبیر اللحیة جدًا.

یوسف بن عمر:

په البدایۃ والنهایۃ کښې امام ابن کثیرؒ د یوسف بن عمر په باره کښې لیکی کان کبیر اللحیة جدًا، ربما کانت تجاوز سرته و کان قصیر القامة.

الملك الظاهر:

په النجوم الزاهرۃ کښې راځی ۇ کان الملك الظاهر رحمه الله سلطانًا جلیلاً عظیمًا، عاقلاً

مهـابـاً، عـارفًا صبورًا، مدبرًا سيوسًا، حشمًا متجملاً فى ملبسه ومركبه وشأنه إلى الغاية بحيث إنـه كـان لا يعجبه من البعلبكى الأبيض إلا ما تزيد قيمته على ثلاثين دينارًا، فما بالك بالصوف والسـمـور وغيـر ذلك،وكـان يـقـتـنـى من كل شئ أحسنه، وكان مع هذا التأنق لانقًا فى شكله ومـلبسـه ومـركبه، نشأ على ذلك عمره كله أعرفه جنديًا إلى أن صار سلطانًا، وهو متجمل فى مـلبسـه عـلـى ما حكيناه. وكان مليح الشكل للطول أقرب، أعنى معتدل القامة، نحيف البدن، أبيـض اللون، تعلوه صفرة ذهبية حسنة، كبير اللحية، تضرب إلى شقرة قد شاب أكثرها، حسن فيها.

عباد بن يزيد:

په وفيات الاعيان وأنباء أبناء الزمان كښې راځي : وكـان عباد بن يزيد بن أبى سفيان كبير اللحية كأنها جوالق.

أبو بكر القصرى المقرى:

په الوافى بالوفيات للصفدى كښې ليکى : أبـو بكر القصرى المقرئ محمد بن منصور بن إبـراهيـم الـقـصرى أبو بكر المقرئ المفسر... كان حافظاً للتفسير عالماً بالقراء ات وله حلقة بجامع المنصور يورد فيها التفسير كل جمعة، وكان طويل اللحية إذا جلس تصل إلى حجره.

احمد بن الحارث بن المبارك:

دارنـګـه دَ احـمـد بـن الـحـارث بـن الـمبـارك الخراز ابو جعفر راويې أبى الحسن المدائنى والـعـتابى په باره کښې راځي : كـان كبيـر الرأس طويل اللحية كبيرها حسن الوجه كبير الفم ألثغ، خضب قبل موته بسنة خضابًا قانئًا. (الوافى بالوفيات للصفدى).

مغيرة بن زياد:

په تهـذيب الكمال کښې دى : قـال يـحـيـى بـن عبد الملك الموصلى : رأيتُ مغيرة بن زياد حسن الوجه، طويل اللحية، جيد القامة.

على بن أحمد بن محمد:

په الـضـوء اللامع للسخاويؒ کښې دى : عـلـى بـن أحـمد بن محمد بن شعيب الغمرى ثم المحلى الماضى أبوه، قرأ القرآن وصحب القراء، وهو طويل اللحية.

موسى بن أحمد الغرابلى السوسى:

قاضی عیاض رحمه الله په المدارك وتقریب المسالك کښې دَ موسی بن أحمد الغرابلی السوسی په باره کښې لیکی : قال أبو عبید الله : کان رجلاً صالحاً، فقیهًا، ثقة، ذا ورع وسکینة، مصفر اللون، طویل اللحیة، سمع من أبی الغصن، ومحمد بن بسطام، ویحیی بن عمر، وعیسی.

عریف مولیٰ لیث بن فضل:

دارنګه قاضی صاحب د عریف مولیٰ لیث بن فضل لورفی، أبو المطرف په باره کښې لیکی : وکان طویل اللحیة. (المدارك وتقریب المسالك).

مامون:

په مآثر الانافۍ فی معالم الخلافۍ کښې دَ مامون په باره کښې لیکی :

کان أبیض وقیل أسمر أجنأ أعین أقنی طویل اللحیة. (ومثله فی سمط النجوم العوالی فی أنباء الأوائل والتوالی للعصامی).

أبو اسحاق محمد بن هارون الرشید:

په مآثر الانافۍ فی معالم الخلافۍ کښې د المعتصم بالله په حقله لیکی :

وهو أبو إسحاق محمد بن هارون الرشید وقد تقدم نسبه وهو أول من أضیف فی لقبه اسم الله تعالیٰ من الخلفاءِ وأمه أم ولد اسمها ماردة، وکان ابیض اللون مشربا بحمرة ٠٠٠ مربوعا طویل اللحیة،شجاعا۔

المهتدی بالله:

دارنګه په مآثرالانافۍ کښې د المهتدی بالله په باره کښې لیکی :

کان أسمر عظیم البدن مرفوعًا أجلح طویل اللحیة وکان ورعًا.

محارب بن دثار:

په اخبار القضاۍ کښې ابو بکر الضبی البغدادی الملقب بوکیع المتوفی : ٣٠٦ ھ لیکی : چې سفیان رحمه الله وئیلی دی : رأیتُ محارب بن دثار یقضی فی جانب مسجد الکوفة بین الناس فی زمان القسری شیخاً طویل اللحیة أشهب اللحیة لا یخضب.

د ګیرۍ دَ قبضې نه د زیاتې پرېښودلو په باره کښې لاندینی کتابونه مطالعه کړئ:

❁ شعار الحریص علی عدم جواز التقصیص من اللحیة لمخالفة التنصیص، للشیخ عبد الکریم

الحميد.

- وجوب إعفاء اللحية، لمحمد زكريا الكاندهلوى، بتعليق الإمام ابن باز رحمه الله
- حكم إعفاء اللحية وخبر الآحاد للإمام ابن باز رحمه الله
- دلائل الأثر على تحريم التمثيل بالشعر، للشيخ حمود التويجرى رحمه الله.

تاريخ : ٨ رمضان المبارك ١٤٢٩ هـ

غير محرمی ښځې ته د سترې مشی په وخت لاس ورکول

سوال : آيا غير محرم سړی پردۍ ښځې ته د سترې مشی په وخت کښې لاس ورکولی شی ؟ دی باره کښې مدلله فتوی راکړئ. جزاكم الله خيرا.

جواب : غير محرمی ښځې ته په سترې مشی کښې لاس ورکول حرام دی، ځوانه او بوډۍ يو شانته حکم لري، دی باره کښې ډير زيات دلائل دی، چې د هغو نه يو څو دلته ذکر کولی شی:

١ - عن عائشة رضى الله عنها : والله ما مست يد رسول الله ﷺ يد امرأة قط، غير أنه يبايعهن بالكلام. (رواه البخارى ومسلم).

(قسم په الله رسول الله ﷺ د هيڅ يوی (غير محرمی) ښځې د لاس سره خپل لاس نۀ دی لګولی. په بيعت کښې به ئی صرف په خوله د دوئ سره خبره کوله.

٢ - عن أميمة ابنة رقيقة قالت : قال رسول الله ﷺ : إنى لا أصافح النساء.

نبی کريم ﷺ فرمايلی : بيشکه چې زۀ د (پردو) ښځو سره مصافحه(په لاس سترې مشی) نۀ کوم.

(رواه النسائى : ٣١٨١، وابن ماجه : ٢٨٧٨٤، والحديث صححه الشيخ الألبانى فى صحيح الجامع : ٢٥١٣).

٣ - عن عبد الله بن عمرو بن العاص - رضى الله عنهما - أن رسول الله ﷺ كان لا يصافح النساء فى البيعة. (رواه أحمد وقال الهيثمى : إسناده صحيح).

(رسول الله ﷺ به ښځو ته په بيعت کښې لاس نۀ ورکول.

٤ - عن معقل بن يسار أن رسول الله ﷺ قال : لأن يطعن فى رأس أحدكم بمخيط من

حديد خير له من أن يمس امرأةً لا تحل له.

(أخرجه الطبراني في الكبير: ٢٠/٢١١، رقم: ٤٨٦، والروياني في مسنده: ٢/٣٢٣، رقم: ١٢٨٣، والبيهقي، قال المنذري: ورجال الطبراني ثقات رجال الصحيح [الترغيب والترهيب: ٣/٣٩].

(که پتاسو کښې د یو کس په سر کښې د اوسپنې میخ ننوځی، نو دا ورته ددې نه بهتر دی چې د داسې ښځې سره لاس ولګوی چې هغې ته (دده لاس وروړل) جائز نهٔ وی.

٥ - ددې نه هم دا خبره معلومیږی چې زمونږ په دین اسلام کښې پردو ښځو ته کتل حرام کړی شوی، نو هغوئ ته لاس وروړل خو په طریقه اولیٰ سره حرام دی. ځکه د کتو په نسبت، لاس وروړل ډیر د شهوت او فتنې سبب ګرځی.

یو حدیث کښیې راځی: عن جرير بن عبد الله - رضي الله عنه - قال: سألت رسول الله ﷺ عن نظر الفجأة: فقال: اصرف بصرك. رواه مسلم.

(جریرؓ وائی: ما رسول الله ﷺ نه دَ ناګهانه نظر لګیدو باره کښیې تپوس اوکړو، وی فرمائیل: خپل نظر دی بیا اړوه).

بریده - رضي الله عنه - نه روایت دی چې نبی کریم ﷺ علی رضی الله عنه ته وفرمائیل: يا علي لا تتبع النظرة النظرة، فإنما لك الأولىٰ وليست لك الآخرة.

(رواه أحمد وأبوداود والترمذي).

(ای علی! اول ځل نظر لګیدو پسې دویم ځل نظر مه ورپسې کوه، ځکه تاته ناساپی نظر لګیدل معاف دی، نهٔ دویم نظر).

٦ - عن يسار بن أبي سليمان، مولى بني عامر أن عائشة العذرية أتت الحسن فرحب بها وأدنى مجلسها، وقال: لولا أن رسول الله ﷺ نهى عن مصافحة النساءِ لصافحتك.

(اعتلال القلوب للخرائطي).

(د بنو عامر قبیلې غلام یسار رحمه الله وایی چې: عائشه عذریه حسن رضی الله عنه ته راغله، نو حسن رضی الله عنه ورته په غیر راغلی وویل او هغه ئې خپل خوا کښې کینوله، او وی فرمایل: که چیرې رسول الله ﷺ ښځو ته د لاس ورکولو منع نهٔ وای کړی، نو مابه تاته لاس درکړی وو).

۲ ځینې خلك ددې په جواز باندې په راتلونکو روایتونو دلیل نیسی:

لکه صاحبِ هدايه ليکلی :
وقد روى أن أبا بكر رضى الله عنه كان يدخل بعض القبائل التى كان مسترضعًا فيهم و كان يصافح العجائز، وعبد الله بن الزبير رضى الله عنه استأجر عجوزًا لتمرضه و كانت تغمز رجليه وتفلى رأسه. [فتح القدير : ۹۸/۸).
دارنګه په الجوهرة النيرة کښې ليکي: روى أن امرأة مدت يدها إلى إبراهيم النخعي لتصافحه فقال لها اكشفى عن وجهك فكشفته فإذا هى عجوز فصافحها.
ليکن دا روايتونه ثابت نۀ دی، ځوك چې ددی روايتونو نسبت ابو بکر، او عبد الله بن زبير – رضی الله عنهم – ته کوی، نو په هغوئ لازم دی چې ددی سند پيش کړی، ځکه الاسناد من الدين۔
علامه زيلعي حنفي په نصب الرايه (۲۴۰/۴) کښې ددی روايتونو متعلق ليکی :
حديث : أن أبابكر كان يصافح العجائز : لم أجده أيضاً.
حديث : أن عبد الله بن الزبير استأجر عجوزًا لتمرضه و كانت تغمز رجليه وتفلى رأسه : لم أجده أيضًا.
د جرح تعديل ماهر علامه حافظ ابن حجر رحمه الله ليکی :
لم أجده. الدراية فى تخريج أحاديث الهداية : ۲۲۵/۲).
دارنګه د بيعت او ستړی مشی په باره کښې د لاس نۀ ورکولو روايتونه صريح راغلی، او کوم روايتونه چې ځينی خلك د جواز لپاره پيش کوی، نو هغه يو هم په دی موضوع کښې صريح نۀ دی، اوکوم چې صريح راغلی، نو هغه صحيح نۀ دی۔ اکثره مرسل ،منقطع او ضعيف روايتونه دی، لکه بعض روايتونه په لاندی ډول دی :
ﯿ روى أبوداود فى المراسيل عن الشعبى أن النبى ﷺ حين بايع النساء التى ببرد قطرى فوضعه فى يده وقال : لا أصافح النساء.
(وعند عبد الرزاق من طريق إبراهيم النخعي مرسلا نحوه، وعند سعيد بن منصور من طريق قيس بن أبى حازم كذلك).
★ عن معقل بن يسار أن النبى ﷺ كان يصافح النساء من تحت الثوب.
(رواه الطبرانى فى الأوسطى : ۲۸۵۵، قال الهيثمى : رواه الطبرانى فى الكبير والأوسط وفيه

عتاب بن حرب، وهو ضعيف. مجمع الزوائد : ٦/٣٩).
شیخ البانیؒ په الضعیفه کښې لیکی : وهذا إسناد ضعيف جدًا. وقد أخرج الطبرانی أنه بـايعهـن بـواسـطة عـمر وقد جاء فی أخبار أخرى أنهن كن يأخذن بيده عند المبايعة من فوق ثوب.(١٨٥٨).
عـمر رضی الله عنه ته منسوب روایت کلبی راوړی، ددۀ په هکله ابو حاتم لیکی : الكلبی هذا مذهبه فی الدين ووضوح الكذب فيه أظهر من أن يحتاج إلى الإغراق فی وصفه.
امـام نسـائـی ورتـه متـروك الـحـديـث ويـلـی. عـلامه ذهبی رحِمه الله په الضعفاء کښې فرمائی : كذبه زائدة وابن معين وجماعة.

دی باره کی د علماؤ اقوال:

دی باره کی د علماؤ ډیر زیات اقوال دی چی د هغو نه بعضی دادی :
په مسائل د امام احمدؒ کښې راځی :
قـلـتُ : تـكـره مـصـافـحة الـنسـاء ؟ قـال : أكرهه قال إسحاق : عجوزًا كانت أو غير عجوز [مسائل الإمام أحمد بن حنبل وإسحاق بن راهويه رقم : ٣٣١٨).
عـلامـه ابـن نـجـیـم مشهـور په ابو حنیفه ثانی لیکی : ولا يـجـوز له أن يمس وجهها ولا كفها وإن أمن الشهوة لوجود المحرم ولانعدام الضرورة. (البحر الرائق : ٨/٢١٩).
امام نوویؒ لیکی : ولا يجوز مسها فی شئ من ذلك. (المجموع : ٤/٥١٥).
ابن مفلحؒ فرمائی : وسئل أبو عبد الله – أی الإمام أحمد – عن الر جل يصافح المرأة قال : لا، وشـدد فيـه جـدًا، قـلـت : فيـصافحها بثوبه ؟ قال : لا. (الآداب الشرعية : ٢/٢٥٧، فتاوى الإسلام سؤال وجواب، للشيخ محمد صالح المنجد).
شیخ عبد العزیز بن باز او شیخ ابن عثیمین د یو سوال په جواب کښې فرمائی :
لا تـجـوز مـصـافـحة الـنسـاء غيـر المحارم مطلقاً سواء كن شابات أو عجائز، وسواء أكان المصافح شابا أم شيخا كبيرًا، لما فی ذلك من خطر الفتنة، لكل منهما، وقد صح أن رسول الله ﷺ قال : إنی لا أصافح النساء. وقالت عائشة رضی الله عنها : ما مست يد رسول الله ﷺ يد امرأة قط، ماكان يبايعهن إلا بالكلام. (فتاوى العلماء للنساء : ص ٥٠).

دکتور عبد الکریم زیدان په دی هکله د ډیر تفصیل نه پس لیکی :
ومن عرض أقوال الفقهاء وأدلتهم وذكر ما جاء في السنة النبوية الشريفة بشأن المس والمصافحة بين الرجل والمرأة الأجنبية : يترجح عندى عدم جواز المصافحة بين الرجل والمرأة الأجنبية سواء بدأ بالمصافحة الرجل أو بدأت بها المرأة، سواء شابين او عجوزين، أو كان أحدهما شابا والآخر عجوزًا، لأن الأحاديث التى ذكرنا وأفادت حظر المصافحة بين الرجل والمرأة الأجنبية جائت مطلقة دون أن يرد فيها ما يقيد عدم الجواز بالشاب والشابة وجوازها بالنسبة للعجوز. (المفصل فى أحكام المرأة : ٣/٢٣٩).
په كشاف القناع (١٥٥/٢) كښى راځى : والتحريم مطلقا اختيار الشيخ تقى الدين.
پدی مسئله کښی د تفصیل لپاره لاندینی کتابونه وګوره :
(السلسلة الصحيحة : ١/٣٩٥، ٢/٥٢، ٦/٧٢٠، فتح البارى : ٨/٤٨٨، باب إذا جائكم المؤمنات مهاجرات، أيسر التفاسير للجزائرى، الآداب لابن مفلح : ٢/٢٥٧، مجموع فتاوى ومقالات متنوعة للشيخ ابن باز : ٦/٢٨٠، إعلام الراغب بحكم مصافحة النساء الأجانب، المفصل فى أحكام المرأة : ٣/٢٣٩، روائع البيان : ٢/٢٦٤، للصابونى، أضواء البيان للشنقيطى : ٦/٦٠٢، التعليق المغنى على سنن الدارقطنى : ٤/١٤٧، للعظيم آبادى، الأدلة الشرعية على تحريم مصافحة المرأة الأجنبية للدكتور حسام الدين موسى عفانه.
په دی روستنی کتاب کښیی په دی موضوع باندی ډیر ښهٔ لیکل شوی۔

دَ ښځی او خاوند د یو بل عورت ته دکتلو حکم

سوال: دَ ښځی او خاوند ترمینځ دَ کور والی په موضوع می یو کتاب کتلو، په هغی کښی ئی یو روایت لیکلی، چی رسول الله ﷺ فرمائی : إذا جامع أحدكم زوجته أو جاريته فلا ينظر إلى فرجها، فإن ذلك يورث العمى.
(کله چی په تاسو کښی څوك د خپلی ښځی یا وینځی سره کور والی کوی نو د هغی شرمګاه ته دی نهٔ ګوری ځکه دا دَ سترګو دَ ړوند والی سبب ګرځی۔ آیا دا حدیث صحیح دی ؟
جواب : دَ جماع په وخت بیشکه چی رسول الله ﷺ ځینی آداب بیان کړی، لیکن په

هغوکښې دا چيرته په صحيح سند سره نۀ دی ثابت چې ښځه او خاوند دی د يو بل عورت ته نۀ ګوری، ځکه دا دَ سترګو دَ ړوند والی سبب ګرځی۔ او تاسو چې کوم حديث په سوال کښې ذکر کړی، نو دا حديث چا دَ ځانه جوړ کړی، لکه ددی تفصيل په الضعفاء دَ ابن حبان (١/٢٠٢) او العلل دَ ابن ابی حاتم (٢/٢٩٥) رقم (٢٣٩٤) کښې ذکر دی۔

الله تعالیٰ چې دَ انسان لپاره خپلی ښځی سره جماع حلاله کړی نو کتل خو په طريقه اولیٰ ورته جائز دی، بلکه ددی حديث په بطلان لاندينی حديث هم واضح دليل دی کوم چې د ام المؤمنين عائشی رضی الله عنها نه روايت دی چې:

كنتُ أغتسل أنا ورسول الله ﷺ من إناءٍ بيني وبينه واحدٍ، فيبادرني حتى أقول: دع لي، دع لي. (أخرجه الشيخان).

(ما او رسول الله ﷺ دواړو به دَ يو لوښی نه چې زمونږ ترمينځ به پروت وو غسل کولو، نبی ﷺ به زمانه تادی کوله تردی چې مابه ورته ويل چې ماته اوبۀ پريده، ماته اوبۀ پريده)۔

ددی حديث تائيد د ابن حبان هغه روايت هم کوی چې په هغی کښې دا راغلی:

عن سليمان بن موسىٰ أنه سئل عن الرجل ينظر إلى فرج امرأته؟ فقال: سألت عطاءً فقال: سألتُ عائشة، فذكرت هذا الحديث بمعناه.

(سليمان بن موسیٰ نه دَ يو سړی په باره کښې تپوس اوشو چې سړی دَ خپلی ښځی شرمګاه ته کتلی شی؟ هغه وويل: ما دَ عطاء نه تپوس وکړو، عطاء وويل: ما دَ عائشی رضی الله عنها نه تپوس وکړو، نو بيائی دَ پورتنی حديث په شان حديث ذکر کړو۔

حافظ ابن حجر رحمه الله ددی په شرح کښې ليکلی:

وهو نصٌّ في جواز نظر الرجل إلى عورة امرأته وعكسه.

(ددی حديث نه په ډاګه معلوميږی چې سړی د خپلی ښځی او ښځه دَ خپل خاوند عورت ته کتلی شی۔

د ښځی او خاوند د يو بل عورت ته کتل او ځينی نور احکام

سوال: آيا د ښځی او خاوند په مينځ کښې د يو بل عورت ته کتل، د يو بل عورت ته لاس وروړل جائز دی؟ دارنګه که ښځه او خاوند د يو بل خاص اندام ښکول کړی نو آيا دی

باره کښې شرعا څه مانع شته اوکه نه ؟
دی باره کښې تفصیلا جواب راکړئ۔ وجزاکم الله خیرا۔
جواب : په مذکوره مسئله کښې یو څو صورتونه دی:
١ – د ښځې او خاوند خپل مینځ کښې د یو بل عورت ته کتل۔
٢ – د یو بل عورت ته لاس وروړل۔
٣ – د لاس نه بغیر بل یو اندام ورسره لګول، خصوصا مخ یا خوله۔ که هغه هسې وی یا د ښکلولو په طریقه وی۔نو په دی صورتونو باندی د حکم کولو نه مخکې یوه خبره واورئ۔ هغه دا چې د انسان عورت هم دده د بدن یوه حصه ده، لکه څرنګه چې د انسان ورون، غوږ، سینه وغیره ده۔
په احادیثو کښې هم دا دَ یو اندام په څیر ګڼل شوی، اوس که څوك ددی په مینځ کښې د ښځې او خاوند لپاره د کتلو، لاس لګولو اوښکلولو بیل بیل حکم را وباسی نو هغوئ به دلیل راوړی، هسې په قیاسونو او عقلیاتو به حلال او حرام نه جوړوی۔
د قرآن او حدیث د مطالعې نه معلومیږی چې ښځې او خاوند ته خپل مینځ کښې د یو بل نه هر قِسم او په هره طریقه سره خوند او فائده اخستل جائز دی۔سیوا د هغه کارونو نه چې د هغې نه شریعت منع کړی، لکه وطی فی الدبر وغیره۔
دی باره کښې اول دلائل بیا د علماؤ تصریحات وړاندی کیږی۔
الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ والـذین هم لفروجهم حافظون إلا علی ازواجهم او ما ملکت ایمانهم فإنهم غیر ملومین. الآیة ﴾ (سورة المؤمنون : ٥–٧).
ترجمه : او هغه کسان چې دوئ د خپلو عورتونو ساتنه کوی، مګر په خپلو ښځو یا هغه وینځو چې مالکان دی ښی لاسونه د دوئ، پس یقینا دوئ نه دی ملامته کړی شوی۔
په دی آیت کښې دا مسئله ذکر شوی چې د خپلې ښځې او وینځې نه د عورت حفاظت(ساتل) نشته۔
حفاظت عام دی، ددی د استعمالولو، لیدلو، مسه کولو وغیره هر څه ته شامل دی۔
دارنګه حدیث کښې رائځی۔

عن بهز بن حكيم قال : حدثنى أبى عن جدى قال : قلتُ : يا رسول الله ! عوراتنا ما نأتى وما نذر ؟ قال : احفظ عورتك إلا من زوجتك أو ماملكت يمينك.. الحديث. (الترمذى).

يعنى : مورږ په خپلو عورتونو سره چاته راشو او څوك پريدو ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپل عورت حفاظت او ساتنه كوه، سيوا د خپلى ښځى او وينځى نه.

د بل چانه د خپل عورت حفاظت دادى چى نه به ئى استعمالوى، نه به ئى وينى اونه به لاس وغيره ورسره لګوى.

همدا شان په ډيرو احاديثو كښى راغلى چى انسان ته خپل عورت دده د نورو اندامونو پشان حيثيت لرى.او ښځه هم د انسان لباس او جزء دى، تردى چى په فقه كښى راځى چى كه ضرورت او حاجت نه واى نو د خپلى ښځى سره به د يو ځل وطى (جماع) كولو نه پس دوباره وطى جائز نه وى، ځكه دا دده جزء ګرځيږى او د خپل جزء نه (په خاصه طريقه د استعمال سره) فائده پورته كول جائز نه دى.

عن طلق بن على قال : قال رجل : مسستُ ذكرى أو قال : الرجل يمس ذكره فى الصلاة أعليه الوضوء ؟ فقال النبى ﷺ : لا، إنما هو بضعة منك. (رواه الخمسة).

٤ – عن قيس بن أبى حازم قال : سئل سعد عن مسّ الذكر، فقال : إن كان نجسًا فاقطعه لا بأس به. (رواه الطحاوى ٦٢/١).

٥ – عن قيس بن أبى حازم قال : قال رجل لسعد : إنه مس ذكره وهو فى الصلاة، فقال : اقطعه إنما هو بضعة منك. (طحاوى : ٦٢/١).

٦ – وعن عطاء عن ابن عباس قال : ما أبالى إياه مسستُ أو أنفى. (طحاوى : ٦٢/١).

٧ – ونحوه عن حذيفة رضى الله عنه. (طحاوى ٦٣/١).

٨ – وعن إبراهيم أن ابن مسعود سئل عن الوضوءِ فى مس الذكر، فقال : إن كان نجسًا فاقطعه. (جامع المسانيد : ٢٤٩/١).وفى رواية : أفلا قطعته ؟ ثم قال : وهل ذكرك إلا كسائر جسدك. (كشاف النقاب : ٢٥٧/٢).

٩ – وجاء رجل إلى سعد بن أبى وقاص رضى الله عنه قال : يحل لى أن أمسّ ذكرى فى الصلاة ؟ قال : إن علمت أن منك بضعة نجسة فاقطعها. (اخرجه عبد الرزاق ١١٩/١، ٤٣٤، وابن ابى شيبة : ١٦٤/١، والطحاوى : ٤٠/١).

د مذکوره ټولو احادیثو مطلب دادی چې د انسان عورت دده لپاره د بدن د نورو اندامونو پشان حیثیت لري. چې دده لپاره د بدن د نورو برخو پشان حیثیت لري نو دده د ښځې لپاره هم دغه حکم لري.
په پورتنو بعضو احادیثو کښې اګرکه د سند په بناء کلام شته، ولې مجموعه احادیث په دې مسئله واضح دلیل دی چې عورت هم د نور بدن پشان دی.
دَ یادونې وړ ده چې دَ عورت په مسه کولو باندې د اودس د ماتیدو ثبوت د نورو صحیحو احادیثو په وجه کولې شي، چې د هغې تفصیل په اولنې جلد کښې وګوره.

دې باره کې د علماؤ اقوال :

١ – الاقناع او د هغې په شرح کشاف القناع کښې دي.
ولكل واحدٍ من الزوجين نظر جميع بدن الآخر، ولمسه بلا كراهة حتى الفرج.
یعنې : ښځې اومیړه د یو بل ټول بدن ته کتل او د ټول بدن سره لاس لګول جائز دي تردې چې عورت ته ئې هم همدغه حکم شامل دی. (كشاف القناع : ١٦/٥).
٢ – په تحفة المنهاج شرح مغنى المحتاج كتاب النكاح کې راځي:
ولم أر أحدًا قال بتحريم مسّ الفرج له.
ما د هیڅ قول نه دې لیدلې چې هغوئ د خاوند لپاره د خپلې ښځې اندام ته لاس وروړل حرام ګڼلې وي.
امام نووی په المجموع شرح المهذب (١٣٤١٦) کښې لیکي :
وهل يجوز النظر إلى الفرج فيه وجهان ... الثاني : يجوز، وهو الصحيح.
یعنې : صحیح قول همدغه دی چې دَ خپلې ښځې عورت ته کتل جائز دي.
بلکه امام ابو حنیفه رح نه خو نقل دي چې د ښځې او خاوند د یو بل په عورت باندې د لاس وهلو سره زه دا امید لرم چې دوی ته به په دې سره اجر او ثواب ورکړې شي، لکه فتاوئ بزازیه کښې راغلي:
وإذا مسّ فرج امرأته أو مست فرجه قال الإمام : أرجو أن ينال الأجر.
(فتاوى البزازية على هامش الهندية : ٣٦٧/٦).

په مغنی المحتاج ٤/٣٢٩ کښې دی:

وقال سأل أبو يوسف أبا حنيفة عن مسّ الرجل فرج زوجته وعكسه ؟ فقال : لا بأس به وأرجو أن يعظم أجرهما.

(د امام **ابو حنیفه** ؒ نه ابو یوسف ؒ تپوس وکړو چې سړی د خپلې ښځې په عورت لاس وهی یا ښځه د سړی په عورت ؟ امام صاحب ؒ وویل : هیڅ باك نه لری، بلکه زه امید لرم چې الله به ډیر اجر ورکړی).

دا بحث خو د کتلو او لاس وهلو په باره کښې وو.

پاتې شو د ښکلولو مسئله : نو د پورتنو احادیثو د کتلو نه معلومه شوه چې دا هم د نورو اندامونو پشان یو اندام دی، نو که دَ ښځې ورون، سینه، خیټه وغیره ښکلول صحیح وی (او دا خو صحیح دی) نو د فرج او ذکر په ښکلولو کښې هم څه مانع نشته.

قال القاضی : یجوز تقبیل فرج المرأة قبل الجماع ویکره بعدها، وذکره عن عطاء.

(یعنی د حنبلی مذهب قاضی وائی : د ښځې عورت ښکلول د جماع نه مخکې جائز دی، او د جماع نه پس مکروه دی، دا خبره ئې د عطاء نه نقل کړی).

(کشاف القناع : ١٦/٥، شرح منتهى الإرادات : ٧/٣).

وقال ابن قطان : وروی عن مالك أنه قال : لا بأس أن ينظر إلى فرج فی حالة الجماع، و زاد فی رواية ويلحسه بلسانه.

(النظر فی أحكام النظر بحاسة النظر، لأبی الحسن علی بن القطان، ص : ٣٠٢، الأحكام الشرعية فی العلاقات الجنسية، ص : ٣٥، للدكتورة نزيه حماد).

تفسیر قرطبی کښې دی :

وقد قال اصبغ من علمائنا : يجوز له أن يلحسه بلسانه. (١٢/٢٣٢).

په فتاوی الشبکه الاسلامیه کښې د کتور عبد الله الفقیه لیکی :

إن لمس أحد الزوجين لفرج الآخر وتقبيله إياه لا حرج فيه، لأنه من الاستمتاع به، و لأنه لما جاز الوطء وهو ابلغ أنواع الإستمتاع فغيره أولىٰ بالجواز، إلا ما نص الشارع على حرمته كالوطی فی الدبر أو فی الفرج أثناء الحيض أو النفاس.

البته دی کښې دا کارکول چې ښځه د سړی عورت په خوله کښې اونیسی یا ددی

برعکس نو دا کار کول صحیح نه دی، اګرکه هسی ښکلول ئی جائز دی۔ ددی وجه داده چی په دی سره د ښځی او سړی خوله په مذی باندی ګنده کیږی۔ او مذی نجسه ده، نو د خولی د نجس کیدو په وجه ددی نه ځان ساتل ضروری دی۔

دارنګه په طبی لحاظ سره هم ددینه نقصانات پیدا کیږی، بعضو طبیبانو لیکلی چی په دی سره خولی ته (H، P، 61 V) وائرس (جراثیم) راځی چی دا د خولی د سرطان (کینسر) مرض سبب ګرځی۔ نو که چری دا خبره صحیح وی نو بیا ددی کار د ناجائز کیدو یوه بله وجه هم پیدا شوه، چی هغه ضرر دی۔

ولا ضرر ولا ضرار (الحدیث). ﴿ولا تلقوا بأیدیکم إلی التهلکة﴾.

اګرکه بعضی احنافو ددی اجازه هم ورکړی لکه فتاوی عالمګیری (دَ پنځه سوه حنفی علماؤ معتبر تصنیف) کښی دی:

فی النوازل: إذا أدخل الرجل ذکره فی فم امرأته قد قیل یکره، وقد قیل بخلافه، کذا فی الذخیرة. (عالمگیری: ٥/٣٧٢).

(یعنی: که یو سړی د خپلی ښځی په خوله کښی ذکر ورکړی، نو بعضی احناف علماء وائی، دا مکروه دی او بعضی وائی مکروه نه دی)۔

حاصل داچی دَ ښځی او خاوند د یو بل عورتونو ته کتل، د هغی سره لاس لګول او د هغی ښکلول جائز دی۔ البته دیته ژبه وروړل په داسی طریقه چی ژبه په مذی باندی لمده شی یائی ښځه د سړی عورت په خوله کښی اونیسی نو دا کار صحیح نه دی۔ علت او دلیل ئی مخکی ذکر شو۔

اوبهٔ، تیل، یا بل څهٔ دَمول

سوال: د مریض لپاره اوبهٔ، تیل، یا بل شی دَمول څهٔ حکم لری؟

جواب: دی باره کښی لاندینی روایتونه راغلی دی:

عن محمد بن یوسف بن ثابت بن قیس بن شماس عن أبیه عن جده عن رسول الله ﷺ أنه دخل علی ثابت بن قیس قال أحمد: وهو مریض فقال: اکشف البأس رب الناس. عن ثابت بن قیس ثم أخذ ترابًا من بطحان فجعله فی قدح ثم نفث علیه بماء وصبه علیه.

(ثابت بن قیس رضی الله عنه مریض وو، رسول الله ﷺ ئی بیمار پُرسئ ته ورغی، نو رسول الله ﷺ (اکشف البأس رب الناس) دعا وروباندی وویله، بیا ئی د بطحان (خوړ) نه خاوره را واخسته او هغه ئی په یوه غټه پیاله کښې (د اوبو سره) واچوله، بیائی په هغی باندی ئی دَم وویل، بیائی هغه باندی ور واړولی)۔

(أبوداود، ٣٣٧/٢،والنسائی فی عمل الیوم واللیلة وقال محققه اسناده حسن ،و ابن حبان : ١٣٠، ٤٣٢، رقم ٦٠٦٩، ابن عساکر : ١٧٣/٥٢، وقال الألبانی : وسنده ضعیف.

٢ - عن علی قال : لدغت النبی عقرب وهو یصلی، فلما فرغ قال: لعن الله العقرب لا تدع مصلیا ولا غیره، ثم دعا بماء وملح وجعل یمسح علیها ویقرأ بـ (قل یا أیها الکافرون) و (قل أعوذ برب الفلق) و (قل أعوذ برب الناس).

(نبی کریم ﷺ د لمانځه په حالت کښې لړم وچیچل، نو کله چې دلمانځه نه فارغه شو، لړم ته ئی ښیری وکړې، او وی فرمایل : دۀ خو نۀ لمونځ کونکی پریښودل او نۀ بل څوک۔ بیائی اوبۀ او مالګه را اوغوښتله، او هغه ئی په چیچلی ځای باندی اومږل، او سورتِ الکافرون، سورۀ الفلق او او سورۀ الناس ئی وروباندی ولوستل)۔

شیخ البانیؒ په سلسۀ الصحیحۀ (٨٠/٢) کښې لیکی :

أخرجه الطبرانی فی المعجم الصغیر، ص : ١١٧، وأبو نعیم فی أخبار أصبهان : ٢٢٣/٢، وأبو محمد الخلال فی فضائل قل هو الله أحد، ق : ١/٢٠٢).

لیکن پدی روایت کښې ددی ذکر نشته چې اوبۀ یا مالګه په مستقل طور سره دم کړې شوی ۔

٣ - عن عائشة أن رسول الله ﷺ کان إذا اشتکی الإنسان الشئ منه أو کانت به قرحة أو جرح قال النبی ﷺ بإصبعه هکذا ووضع سفیان سبابته بالأرض ثم رفعها : باسم الله تربة أرضنا بریقة بعضنا، لیشفیٰ سقیمنا بإذن ربنا. قال ابن أبی شیبة : یشفی وقال زهیر : لیشفیٰ سقیمنا.

(ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی : د رسول الله ﷺ عادت مبارك داوو چې کله به یو انسان څۀ تکلیف لرلو یابه وروباندی څۀ دانه او زخم وو، نو هغه ﷺ به خپله ګوته مبارکه په لاړو ککړه کړه او په خاورو به ئی راښکله او دا دم به ئی ورسره وئیلو : باسم الله

تربة أرضنا بريقة بعضنا، ليشفىٰ سقيمنا بإذن ربنا.

ترجمه: په نوم د الله، خاوره دَ زمکی زمونږ، چی ملګری شويده دَ ځينو لاړو زمونږ سره، ددی لپاره چی زمونږ دَ رب په حکم سره زمونږ بيمار روغ شی)۔

(رواه البخاری فی الطب: ٥٤١٣، ومسلم: ٢١٩٤، واللفظ له، وأبوداود فی الطب: ٣٨٩٥، وأحمد: ١٨٥/٦، رقم: ٢٥٥٦١، ابن حبان: ٢٣٨/٧، رقم: ٢٩٧٣).

حافظ ابن حجرؒ ددی حديث لاندی ليکی:

قال النووی: معنى الحديث أنه أخذ من ريق نفسه على اصبعه السبابة ثم وضعها على التراب فعلق به شئ منه ثم مسح الموضع العليل أو الجريح قائلا الكلام المذكور فی حالة المسح.

(يعنی ددی حديث مطلب دادی چی رسول الله ﷺ به په مسواکۍ ګوته خپلی لاړی مبارکی پوری کړی په زمکه به ئی راښکله

څۀ خاوره به ورسره کړه، بيا به ئی په درمند، مريض او زخمی ځای باندی کيښودله او مذکوره دَم به ئی ورسره لوستلو)۔

امام نوویؒ ليکی: فيه استحباب النفث فی الرقية، وقد أجمعوا على جوازه، واستحبه الجمهور من الصحابة والتابعين ومن بعدهم.

(ددی حديث نه معلوميږی چی په دم کښی په لاړو سره پوکی کول مستحب دی، ددی په جواز باندی د علماؤ او جمهورو صحابو کرامو او تابعينو او ورستنو علماؤ اتفاق دی)۔

٤ - عن عائشة أنها كانت لا ترى بأسًا أن يعوذ فی الماء أی يقرأ التعوذ وينفث فی الماءِ ثم يعالج به المريض.

(عائشی رضی الله عنها نه روايت دی چی هغی به په اوبو دمولو کښی څۀ باك نۀ ګڼلو)۔

مطلب دا چی اوبۀ دم کړی شی او مريض ته ئی ورکړی۔

(ابن أبی شيبة، والبغوی فی شرح السنة كما فی الروضة الندية).

ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد کښی ليکی:

ولقد مر بی وقت بمكة سقمت فيه وفقدت الطبيب والدواء فكنت أتعالج بها (أی الفاتحة) آخذ شربة من ماء زمزم، وأقرؤها عليها مرارا، ثم أشربه، فوجدت بذلك البرء التام، ثم صرت أعتمد ذلك عند كثير من الأوجاع فانتفع بها غاية الانتفاع.

(یعنی په ما باندی ځینی وخت په مکه کښی داسی حالت راغلی چی زۀ مریض شوی وم، نه طبیب وو، نۀ دوائی، نو ما به په فاتحی باندی د خپل ځان علاج کولو، په داسی طریقه چی د زمزم لړی اوبۀ به می را واخستلی، په هغو به می بار بار فاتحه ویله، نو ددی په وجه به پوره روغ شوم، بیا می دا عادت جوړ شو په ډیرو مرضونو کښیی به می په دی اعتماد کولو، په دی باندی به می پوره فائده اخستله)۔ (زاد المعاد : ٤/١٧٨،مدارج السالکین١/٦٩).

په فتاویٰ ورسائل محمد بن ابراهیم آل الشیخ کښیی راغلی :

أما النفث فی الماءِ ثم یسقاه المریض فلا بأس.

(په اوبو کښیی چُف کول او بیا هغه په مریض څکل جائز دی)۔

ددی پشان فتویٰ په فتاوی الشیخ ابن عثیمین (١٠٧/١) او سلسلی لقاء ات الباب المفتوح للعثیمین، فتاوی الشبکی للدکتور عبد الله الفقیه کښیی هم ذکر شوی۔ په معاصرینو علماؤ کښیی شیخ محمد بن ابراهیم آل الشیخ، شیخ عبد العزیز بن باز، شیخ محمد بن صالح العثیمین، شیخ صالح الفوزان، شیخ عبد العزیز آل الشیخ، دارنګه شیخ ابن جبرین هم د جواز فتویٰ ورکړی۔

وګوره : (فتاوی الشبکة الإسلامیة، مجلة البحوث الإسلامیة : ٦٣/٦٠،القرآن الکریم ومنزلته بین السلف ومخالفیهم ١/٢٦٦ـ٢٦٨للدکتورابی صلاح محمدهشام (حفظه الله).

د انسان نه سیوا بل څۀ لکه حیوان او داسی نورو شیانو دمول

سوال : د انسان نه سیوا بل څۀ لکه حیوان، باغ، موټر او داسی نور شیان د نظره کیدو یا بل څۀ په وجه دمول صحیح دی ؟

جواب : په سوال کښی چی کوم شیان ذکر شوی، نو په دوئ هم نظر لګیدلی شی، حدیث کښیی راغلی :

عن جابر وأبی ذر رضی الله عنهما مرفوعًا : العین تدخل الرجل القبر والجمل القدر.

(سترګی لګیدل انسان قبر ته رسوی او اوښ کټوئ ته۔ یعنی وژنی ئی)۔

(أخرجه ابن عدی وأبو نعیم، الحلیة : ٧/٩٠، وأبو بکر الشیرازی فی سبعة مجالس من الأمالی :

٨/٢، والخطیب فی تاریخه : ٩/ ٢٤٤، کما قال الألبانی فی السلسلة الصحیحة : ٣/ ٢٥٠).
شیخ ابن باز رحمه الله فرمائی : ومن نظر فی أحادیث الرقیة وجدها عامة، لم تقید بجنس بنی آدم، والأصل العموم.
(که دَ دم احادیث وکتل شی نو هغه عام او مطلق راغلی، په هغو کښې د انسان تخصیص نشته، او اصل عموم دی).
بل دا چې دم دَ دعاء پشان دی، نو که د انسان د بیمارئ او مرض نه الله تعالیٰ ته سوال کیدی شی نو دی نورو شیانو ته په مصیبت رسیدلو سره هم د هغوئ لپاره الله تعالی ته توجه، زاری او دعاء کیدی شی۔
دی باره کښیې یو څو نور خصوصی روایتونه دادی :
عن سحم بن نوفل، قال : کنا عند عبد الله نعرض المصاحف، فجائت جاریة أعرابیة إلی رجل منا فقالت : إن فلانًا قد لقع مهرك بعینه، وهو یدور فی فلك، لا یأکل ولا یشرب، ولا یبول ولا یروث، فالتمس له راقیًا، فقال عبد الله : لا نلتمس له راقیًا، ولکن ائته فانفخ فی منخره الأیمن أربعًا، وفی الأیسر ثلاثًا، وقل : لا بأس أذهب البأس رب الناس، اشف أنت الشافی، لا یکشف الضر إلا أنت. فقال الرجل فانطلق، فما برحنا حتی رجع، فقال لعبد الله : فعلت الذی أمرتنی به، فما برحت حتی أکل وشرب وبال وراث.
(سحیمؒ وائی : مونږ دَ عبد الله بن مسعودؓ سره وو، چې په هغه مو خپل مصحفونه پیشول، نو دی کښې زمونږ یو کس ته یوه بانډه چېئ ښځه راغله ،ورته وی ویل : فلانی سړی ستا دَ اوښ بچې نظر کړیدی، او هغه په خپل پنډغالی کښې تاویږی راتاویږی، نهٔ خوراك څکاك کوی، نهٔ متیازی کوی او نهٔ غاشنهٔ کوی۔ نو تهٔ ورته چیرته دم کونکی وګوره۔ نو ابن مسعود رضی الله عنه وفرمایل : مونږ ورته دم ګری نهٔ ګورو، خو تهٔ لاړ شه او دَ هغهٔ دَ سپیږمې په ښئ سُوری کښې څلور ځله او چپ سُوری کښې دری ځله(پدی الفاظو ویلوسره) پُوکی(چُپ) وکړه، چی : لا بأس، أذهِبِ البأس ربَّ الناسِ، اشْفِ أنت الشافی، لا یکشف الضرَّ إلا أنتَ.
هغه سړی لاړ او لږ ساعت ئی لانهٔ وو تیرکړی چی بیا را واپس شو او ابن مسعود رضی الله عنه ته ئی وویل : تا چی دَ کوم کار حکم ماته کړی وو، هغه ما وکړو، نو لږ ساعت پس

هغه اس خوراك څكاك وكړو، او متيازى اوخاشئ ئى وكړل)۔
(أخرجه كذلك ابن أبى شيبة فى المصنف قال : فى الدابة يصيبها الشئ بأىّ شئ تعوذ به. وذكره ابن عبد البر فى التمهيد : ٢٣٨/٦، والاستذكار : ١١/٢٧، ١٣).
په مصنف عبد الرزاق كښى رائحى :
أخبرنا عبد الرزاق عن معمر عن أبان أن النبى ﷺ ركب بغلة نفرت به، فقال لرجل : اقرأ عليها: قل أعوذ برب الفلق.
(ابان وائى : نبى ﷺ په يوه قچره باندى سپور شۀ نو هغه اوتريدله، نو نبى ﷺ يو سړى ته وفرمايل : په دى
باندى (قل أعوذ برب الفلق) سورت ولوله)۔
په يو بل روايت كښيى رائحى :
من ساء خلقه من إنسان أو دابةٍ، فأذنوا فى أذنيه.
(دَكوم انسان يا ځناور خوى چى خراب شى نو دَ هغۀ په غوږ كښى اذان وكړئ)۔
(أخرجه الديلمى : ٥٥٨/٣، رقم : ٥٧٥٢، كما فى الضعيفة وكنز العمال : ٤١٦٦٥، مرقاة : ١٤٩/٢، إحياء العلوم للغزالى : ١٩٥/٢).
مذكوره حديث په دى الفاظو هم راغلى :
إذا استصعبت على أحدكم دابته أو ساء خلق زوجته أو أحد من أهل بيته فليؤذن فى أذنه.
(كله چى پتاسو كښى دَ چا ځناور اوتريږى او يائى دَ خپلى ښځى يا په كور كښى دَ يو بل چا خوى خراب شى نو دَ هغۀ په غوږ كښى دى اذان وكړى)۔
دى حديث ته شيخ البانیؒ ضعيف وئيلى دى۔ (سلسلة الأحاديث الضعيفة : ١٣٠/١).
څوك چى يو باغ ووينى چى هغه ئى ډير خوښ شى نو هغۀ ته : ما شاء الله لا قوة إلا بالله. وئيل پكار دى۔ قرآن كريم كښى رائحى : ﴿ولولا إذ دخلت جنتك قلتَ ما شاء الله لا قوة إلا بالله﴾. (كهف).
(تۀ چى كله خپل باغ ته داخل شوى نو داسى دى ولى نۀ ويل چى ما شاء الله، طاقت وركونكى خو صرف الله تعالىٰ دى)۔
د مذكوره روايتو نه معلومه شوه چى د انسان نه سيوا په حيوان، باغ، ګاډى او داسى

نوروشیانو هم دَم اچول جائز دی، ددی په دمولو کښی به ان شاء الله څۀ حرج نۀ وی ـ
وګوره : الفتاوی الذهبية فی الرقی الشرعية، ص : ۱۱۱.

رقية الزنا څۀ ته ویلی شی

سوال : رقیی الزنا څۀ ته ویلی شوی، یو ځای می دا خبره ولیدله، ډیرئی په تعجب کښی واچولم ؟

جواب : ددی روایت نسبت فضیل بن عیاض رحمه الله ته شوی۔

عن فضيل بن عياض قال : الغناء رقية الزنا. (رواه ابن أبی الدنيا فی ذم الملاهی وابن كثير فی البداية والنهاية وابن القيم فی إغاثة اللهفان، والبيهقی).

په در منثور (٥٠٦/٦) کښی ئی ددی آیت لاندی لیکلی چی : ﴿ ومن الناس من يشتری لهو الحديث ﴾.

ومثله فی معالم التنزيل للبغوی وتلبيس إبليس لابن الجوزی، والمفصل فی أحكام الهجرة لعلی نايف الشحود، والنهاية فی غريب الأثر لابن الأثير، وإحياء العلوم للغزالی، مرعاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح فی باب صلاة العيدين، الباب الأول، والنور الكاشف فی بيان حكم الغناء والمعازف وتنبيه اللاهی على تحريم الملاهی لفضيلة الشيخ إسماعيل بن محمد الأنصاری.

په دی ټولو کتابونو کښیی (سرود، ټنګ ټکور) ته د زنا دَم ویل شوی۔

دی باره کښی یو حدیث هم راغلی، لیکن هغه موضوعی روایت دی۔

(كما قال الملا على القاری، الأسرار المرفوعة فی الأخبار الموضوعة، المعروف بالموضوعات الكبرى. اللؤلؤ المرصوع فيما لا أصل له أو بأصله موضوع، لمحمد بن خليل بن إبراهيم المشيشی الطرابلسی، حديث رقم : ۳٥۱، كشف الخفاء ومزيل الالباس عما اشتهر من الأحاديث على ألسنة الناس للعجلونی).

ډکیری خرئیلو حکم

سوال : ګیره خرئیل څه حکم لری۔ ؟ (ملاخیل، باړه)۔

جواب: ګیره ساتل فرض دی، او ګیره خرئیل یا (د قبضی نه زیاته) کمول په اتفاق د علماؤ سره حرام او ناروا کار دی۔

په فتاوی اللجنۃ الدائمۃ (١٣٣/٥) کښې راغلی: حکی ابن حزم الإجماع علی أن قص الشارب وإعفاء اللحية فرض واستدل بجملة أحاديث.

یعنی امام ابن حزم رحمه الله په دی باندی د علماؤ اجماع رانقل کړی چی ګیره ساتل او بریتونه کمول فرض دی۔

(الإقناع فی مسائل الإجماع :٣٩٥٢/٢، مراتب الإجماع لابن حزم : ١٨٢).

دی باره کښی بی شماره احادیث راغلی، چی رسول الله ﷺ د ګیری په ساتلو ډیر امرونه کړی او په خپله ئی هم ګیره مبارکه اوږده، لویه او ګڼه وه۔

ګیره خرئیل په ډیرو وجهو سره حرامه دی:

١ - **اوله وجه**: د ګیری په پریښودلو (ساتلو) او اوږدولو رسول الله ﷺ امر کړی۔

عن ابن عمر أن رسول الله ﷺ قال: خالفوا المشركين وفروا اللحی، وأحفوا الشوارب. وفی رواية: أحفوا الشوارب وأعفوا اللحی (متفق عليه).

بل حدیث کښی راځی: (خالفوا المجوس لأنهم كانوا يقصرون لحاهم ويطولون الشوارب) . رواه مسلم.

امام نووی رحمه الله د صحیح مسلم په شرح (١٢٩/١) کښی فرمائی: فحصل خمس رواياتٍ: أعفوا، وأوفوا، وأرخوا، وأرجوا، ووفروا. ومعناها كلها: تركها علی حالها.

(د ګیری په باره کښی پنځه قِسمه طریقو سره امرونه راغلی چی د هغه ټولو همدا یو مطلب دی چی په ګیرو کار مهٔ لرئ په خپل حال ئی پریږدئ)۔

٢ - **دویمه وجه**: د ګیری خرئیلو نه منع راغلی:

یو حدیث کښی راځی چی رسول الله ﷺ ته دوه ګیر خرئیلی کسان راغلل، نو رسول الله ﷺ هغوی ته ښیری وکړی، ورته وی فرمایل:

ويحكما من أمركما بهذا؟ قالا: أمرنا ربنا (يعنيان كسری)، فقال رسول الله ﷺ: لكن أمرنی ربی أن أعفی لحيتی وأحفی شاربی.

(تباه شئ تاسو ته دَ ګیری خرئیلو حکم چا کړی ؟ هغه کسانو وویل :مونږ ته زمونږ رب یعنی کسری بادشاه حکم کړی۔ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ماته خو خپل رب دا حکم کړی چی ژۀ ګیره وساتم او خپل بریتان کم کړم)۔

(أخرجه ابن سعد : ٤٤٩/١، والحارث بن أبی أسامة قال الألبانی : فی فقه السیرة : وسنده حسن).

★ عن ابن عباس مرفوعًا : من مثل بالشعر فلیس له عند الله خلاق.

(أخرجه الطبرانی کما فی المجمع : ١٢١/٨).

وروی ابن أبی شیبة : أن رجلاً من المجوس جاء إلی النبی ﷺ وقد حلق لحیته وأطال شاربه، فقال له النبی ﷺ ما هذا ؟ قال : هذا دیننا، قال رسول الله ﷺ : لکن فی دیننا أن نحفی الشوارب وأن نعفی اللحیة.

(یو مجوسی سړی رسول الله ﷺ ته په داسی حال کښی راغی چی ګیره ئی خرئیلی وه او بریتونه ئی غټ کړی وو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دا څۀ دی ؟ هغۀ وویل : دا زموږ په دین کښی دی۔ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : لیکن زموږ په دین کښی خو دا خبره ده چی بریتونه کم کړو، او ګیره غټه کړو)۔

یو بل حدیث کښی راځی : خالفوا المشرکین ووفروا اللحی وأحفوا الشوارب. (بخاری، مسلم).

(د مشرکینو خلاف کوئ، ګیره پوره ساتئ او بریتونه کموئ)۔

٣ - دریمه وجه : د ګیری په خرئیلو سره د رسول الله ﷺ د طریقی او سنت خلاف راځی۔

دارنګه د صحابه کرامؓ، تابعینورضی الله عنهم او تبع تابعینو رحمهم الله د سیرت او مشابهت نه خلاف راځی، ځکه د رسول الله ﷺ ګیره مبارکه غټه او اوږده وه۔

په احادیثو کښی راځی : کان ﷺ کث اللحیة تملأ صدره.

(د رسول الله ﷺ ګیره مبارکه دومره ګڼه وه چی سینه ئی ورته ډکه کړی وه)۔

وګوره : (الشفاء بتعریف حقوق المصطفیٰ، نور الیقین فی سیرة سید المرسلین، الإعلام بما فی دین النصاری من الفساد والأوهام، وإظهار محاسن دین الإسلام وإثبات نبوة نبینا محمد علیه الصلاة والسلام، تألیف الإمام القرطبی، حاشیة البجیرمی علی الخطیب).

وعن أنس قال : كان رسول الله ﷺ : أحسن الناس قوامًا وأحسن الناس وجهاً، وأحسن الناس لونًا، وكانت لحيته قد ملأت من ههنا إلى ههنا وأمر يديه على عارضيه.

(أخرجه ابن عساكر : ٢٧٨/٣، كنز العمال : ١٨٥٥٥، فيض القدير، مجموعة مصنفات أبيجعفر ابن البختري : ٦٨/١ ، رقم : ٢٧١، التيسير بشرح الجامع الصغير للمناوى).

په دى حديث كښى دا خبره بيان شوى چى د رسول الله ﷺ ږيره مباركه دومره وه چى مخ مبارك ئى ښۀ وربانـدى پټ وو۔

عن نافع بن جبير بن مطعم عن على بن أبى طالب – رضى الله عنه – أنه وصف النبى ﷺ فقال : كان عظيم الهامة أبيض مشربًا بحمرة عظيم اللحية.

په دى حديث كښى دا خبره بيان شوه چى د رسول الله ﷺ لويه ږيره وه۔

وروى نحوه ابن عباس وابن مسعود.

(أخرجه أحمد وأبو يعلى : ٣٠٣/١، رقم : ٣٦٩، وابن عساكر : ٢٥٤/٣، وابن أبى شيبة وابن حبان : ٢١١٧، والبيهقى فى دلائل النبوة : ١٦٣/١، وسنده حسن، كما قال الألبانى وشعيب الأرناؤوط).

٤ – څلورمه وجه : د ږيرى په خرئيلو باندى د كافرانو سره مشابهت راځى۔ لكه حديث كښى راځى :

خالفوا المشركين وفروا اللحى، وأحفوا الشوارب. وفى رواية : أحفوا الشوارب وأعفوا اللحى. (متفق عليه).

يو بل حديث كښى راځى : خالفوا المجوس لأنهم كانوا يقصرون لحاهم ويطولون الشوارب. (رواه مسلم).

دارنګه د ابو هريره – رضى الله عنه – روايت دى :

إن أهل الشرك يعفون شواربهم ويحفون لحاهم فخالفوهم فأعفوا اللحى وأحفوا الشوارب. (رواه البزار بسند حسن).

په ابن حبان او نورو كتابونو كښى راځى :

عن ابن عمر قال : ذكر رسول الله ﷺ المجوس فقال : إنهم يوفرون سبالهم ويحلقون لحاهم، فخالفوهم.

٥ - **پنځمه وجه** : د ګیری په خرئیلو باندی د ښځو سره مشابهت راځی : شیخ البانی رحمه الله په تمام المنۍ کښی لیکی :ثانیا : وحلق الرجل لحیته فیه تشبه بالنساءِ فیما هو من أظهر مظاهر أنوثتهن.

د ګیری په خرئیلو سره د ښځو سره مشابهت راځی چی دا ښکاره د ښځو علامه او نښه ده)،په آداب الزفاف (١٢٢) کښی ئی هم داسی خبره کړی۔

امام غزالیؒ په احیاء العلوم کښی لیکلی : وبها أی اللحیة یتمیز الرجال من النساءِ.

(د سړو فرق د ښځو نه په ګیره باندی راځی)۔ (إحیاء العلوم : ٢/٢٥٧).

همدا خبره امام ابن القیم رحمه الله هم لیکلی۔ (التبیان فی أقسام القرآن ، ص : ٢٣).

او په اسلام کښی د ښځو سره تشبه حرام او د لعنت سبب دی، حدیث کښی راغلی :

عن ابن عباس – رضی الله عنهما – قال : لعن رسول الله ﷺ : المتشبهین من الرجال بالنساءِ والمتشبهات من النساءِ بالرجال. (أخرجه البخاری والطبرانی : ١١/٢٠٤، رقم : ١١٥٠٢، وأحمد : ١/٣٣٠، رقم : ٣٠٦٠، وأبوداود والترمذی وابن ماجه).

٦ - **شپږمه وجه** : د ګیری په خرئیلو سره انسان په اسراف کښی پریوځی، ګیره خریونکی چی د خرئیلو لپاره هر وخت اسباب آخلی نو دا پوره اسراف دی، اګرکۀ یوه روپۍ ولی نۀ وی۔

٧ - **اوومه وجه** : د ګیری په خرئیلو سره د انسان صحت ته نقصان رسیږی، دی باره کښی د تفصیل لپاره (اللحیة فی نظر الدین) دارنګه ((سنت نبوی اور جدید سائنس)) وګوره۔

٨ - **آتمه وجه** : ګیره خرئیل د فطرت خلاف کار دی:

عن أبی هریرة أن رسول الله ﷺ قال : إن فطرة الإسلام الغسل یوم الجمعة والاستنان وأخذ الشارب وإعفاء اللحی، فإن المجوس تعفی شواربها وتحفی لحاها فخالفوهم، خذوا شواربکم واعفوا لحاکم.

(أخرجه ابن حبان : ٤/٢٣، رقم : ١٢٢١، کما فی الصحیحة رقم : ٣١٢٣، وکنز العمال : ٢١١٣٠١).

٩ - **نهمه وجه** : د ګیری په خرئیلو سره د الله په پیدا کړی شوی شکل کښی تغیر

راوستل دی:
شیخ البانی رحمه الله په تمام المنۍ کښې لیکي وهو فی ذلك یغیر خلقة الله تعالیٰ.
دارنګه امام شاه ولی الله رحمه الله په حجۍ الله البالغۍ (١٨٢/١) کښې هم ویلی دی۔
دشیطان کار دادی چی په انسانانو باندی تغیر د خلق الله وکړی، قرآن کریم کښې راغلی :
﴿ ولآمرنهم فلیغرن خلق الله ﴾.
په احادیثو کښې په داسی انسان لعنت راغلی چی هغه تغیر خلق الله کوی، لکه بخاری کښې راغلی : عن ابن مسعود – رضی الله عنه – قال : لعن الله الواشمات، والمستوشمات، والمتنمصاتِ والمتفلجات للحُسن، المغیرات خلق الله، مالی لا ألعن من لعنه رسول الله ﷺوهو فی کتاب الله.
١٠ – لسمه وجه : دګیری په خرئیلو سره د انسان شکل مُثله کیږی۔لکه د عمر بن عبد العزیز رحمه الله نه نقل دی :إن حلق اللحیة مثلة وإن رسول الله ﷺ نهی عن المثلة. (أخرجه ابن عساکر).
امام ابن حزم رحمه الله په مراتب الاجماع کښې لیکلی : واتفقوا أن حلق جمیع اللحیة مثلة لا تجوز. (مراتب الإجماع : ١٨٢).
دارنګه ابو الحسن ابن القطان المالکی فرمائی : واتفقوا أن حلق اللحیة مُثلة لاتجوز. (الإقناع فی مسائل الإجماع : ٣٥٣/٢).
شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله هم داسی فرمایلی۔ (شرح العمدة : ٢٣٦/١).
په الموسوعۍ الفقهیۍ کښې د یوی مسئلی په هکله لیکیقال البهوتی : یحرم التعزیر بحلق لحیته لما فیه من المثلة.
١١ – یُولسمه وجه : دګیری په خرئیلو سره د الله تعالی د نعمت بی قدری او ناشکری راځی۔ لکه ډیرو مفسرینو ددی آیت کریمه لاندی دی خبری ته اشاره کړی چی الله تعالیٰ فرمایلی : ﴿ ولقد کرمنا بنی آدم ﴾. (الإسراء).
(وګوره: أدلة تحریم اللحیة، : ٤٤ مخ).

//////

دَ ګیرې خرئیلو دَ حرام والی په باره کی دَ علماؤ اقوال:

شیخ علی محفوظ رحمه الله فرمائی: وقد اتفقت المذاهب الأربعة علی وجوب توفیر اللحیة وحرمة حلقها. (الإبداع فی مضار الابتداع، ص: ٤٠٩، والجامع فی أحکام اللحی، للرازحی).

امام ابن عبد البر رحمه الله په التمهید کښی فرمائی:

یحرم حلق اللحیة ولا یفعله إلا المخنثون من الرجال.

(ګیره خرئیل حرام کار دی، او ګیره د هیجړا ګانو (نرښځیانو) انسانانو نه سیوا بل هیڅوك نۀ خریئی).

ګرانو لوستونکو! تاسو وکتل چی امام ابن عبد البر رحمه الله ګیره خرئیونکی په مخنثینو (نرښځیانو، هیجړاګانو) کښی داخل کړی.

اوس راشئ د مخنثینو په هکله د الله د رسول ﷺ فرمان واورئ:

عن ابن عباس قال: لعن النبی ﷺ المخنثین من الرجال، والمترجلات من النساءِ.

(أخرجه البخاری وأبوداود، رقم: ٤٩٣٠، والترمذی، رقم: ٢٧٨٥).

دارنګه د دوئ په باره کښی ئی داسی فرمان صادر کړی۔ أخرجوهن من بیوتکم.

(دا نر ښځیان تاسو د خپلو کورونو څخه وباسئ)۔

(أخرجه أحمد: ١/٢٢٥، رقم: ١٩٨٢، والبخاری، رقم: ٥٥٤٧، وأبوداود).

امام بخاری رحمه الله د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړی چی ددی فرمان نه پس فلانی فلانی د کورونو نه وویستل شو، او عمر فاروق – رضی الله عنه – هم فلانی وویستل۔

ابن عابدین فی رد المحتار کښی لیکی: ویحرم علی الرجل قطع لحیته.

(د سړی لپاره ګیره خرئیل او وهل حرام دی)۔

دارنګه فرمائی:

وأما الأخذ منها وهی دون القبضة کما یفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم یبحه أحد.

(یعنی: د قبضی نه کمه ګیره لنډول لکه ځینی مغربیان او نر ښځیان چی ئی کموی نو دی ته خو هیچا هم جائز نۀ دی ویلی)۔ (تنقیح الفتاوی الحامدیة: ١/٣٢٩).

امام قرطبی فرمائی : لا یجوز حلقها ولا نتفها ولا قصها.
(د ګیره خرئیل، ویستل او کمول هیڅ یو هم روا نهٔ دی)۔
په الاقناع کښې راځی : ویحرم حلقها.
شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په شرح العمدۀ کښې فرمائی :
فأما حلقها فمثل حلق المرأة رأسها وأشد لأنه من المثلة المنهی عنها وهی محرمة.
دارنګه په فتاوی الکبری کښې فرمائی : ویحرم حلق اللحیة ویجب الختان.
علامه حطاب المالکی په شرح خلیل کښې فرمائی :
وحلق اللحیة لا یجوز وكذلك الشارب وهو مثلة وبدعة ویؤدب من حلق لحیته أو شاربه، إلا أن یرید الإحرام بالحج ویخشی طول شاربه، انتهی.
په الموسوعۀ الفقهیۀ الکویتیۀ کښې راځیوفی حاشیة الدسوقی المالکی : یحرم عل یالرجل حلق لحیته ویؤدب فاعل ذلك.
(سړی ته د ګیری خرئیل حرام دی، او ددی کونکی ته به سزا ورکولی شی)۔
دی باره کښې لاندینی کتابونه مطالعه کړئ۔
١ – أدلة تحریم حلق اللحیة، للشیخ محمد بن إسماعیل.
٢ – تحریم حلق اللحی، للعلامة عبد الرحمن الحنبلی.
٣ – وجوب إعفاء اللحیة وتحریم حلقها وتقصیرها، للشیخ عبد العزیز بن باز.
٤ – وجوب إعفاء اللحیة، لمحمد کاندهلوی.
٥ – أدلة تحریم حلق اللحیة. لحمد بن أحمد بن إسماعیل.
٦ – الجامع فی أحکام اللحی، للرازحی.
ربیع الأول : ٣/١٤٣٠هـ

د نفاس په حالت کښې د خپلې ښځې سره جماع کول

سوال : د نفاس په حالت کښې د خپلې ښځې سره جماع کول څه حکم لری ؟ دلته یو کس دی د خپلې ښځې سره ئیی د نفاس په حالت کښې جماع کړی، اوس څوك ورته وائی : تا زنا کړی، څوك ورته وائی : پتا ښځه طلاقه ده، څوك څه وائی او څوك څه وائی۔ دی

باره کښې مونږ ته صحیح فتویٰ راکړئ۔ الله تعالیٰ دې اجر درکړي۔

جواب : د نفاس په حالت کښې د خپلې ښځې سره جماع کول حرام دي، په دې مسئله د ټولو علماؤ اتفاق دی۔ ځکه د حیض او نفاس د وینو یو حکم دی۔ امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښې دا خبره ثابته کړې، لکه هغه لیکي : باب من سمى النفاس حيضًا.

ددې نه پس ئې حدیث راوړی۔

عن أبي سلمة أن زينب ابنة ام سلمة حدثته أن أم سلمة حدثتها قالت : بينا أنا مع النبي ﷺ مضطجعة في خميصة اذ حضت، فانسللتُ فأخذتُ ثيابَ حِيضتي قال : أنفست ؟ قلتُ : نعم. فدعاني فاضطجعت معه في الخميلة. (بخاري رقم ٢٩٨، اطرافه ٣٢٢، ٣٢٣، ١٩٢٩).

أم المؤمنين ام سلمه رضی الله عنها وائي : زه د رسول الله ﷺ سره ملاسته وم چې پدې وخت کښې په ما باندې حیض راغې، نو زه پاڅیدم او د حیض جامې مې را واخستې۔ رسول الله ﷺ راته وویل : آیا په تا نفاس راغې ؟ ما ورته اوویل : هُو۔

ددې حدیث نه امام بخاری رحمه الله دا استدلال کړی چې حیض او نفاس یو حکم لري۔(فتح الباري)۔

که چا د خپلې ښځې سره د نفاس په حالت کښې جماع وکړه نو ده ګناه کړیده، په ده باندې توبه کول لازم دي۔ بله دا چې هغه مالي کفاره به هم ورکوي کومه چې د حیض په حالت کښې په جماع کولو لازمیږي، چې هغه نیم دینار او یا یو دینار دی۔ شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په مجموعه الفتاوی (٢٤٠/١٩) کښې لیکي :

وحكم دم النفاس حكم دم الحيض.

یعنې د نفاس د وینې حکم بعینه د حیض د وینې پشان دی۔

دارنګه صالح المنجد په فتاوی الاسلام سوال او جواب کښې راځي :

والحائض والنفساء سواء، لأن دم النفاس هو دم الحيض، وحكمه حكمه.

فتاوی اللجنه کښې دي:

وحكم جماع النفساء والدم نا زل حرام كجماع الحائض، ومن فعل ذلك فعليه أن يستغفر الله ويتوب اليه وعليه أيضًا أن يتصدق بدينار أو نصفه كفارة لما حصل منه، لما رواه أحمد وأصحاب السنن باسناد جيد عن ابن عباس رضي الله عنهما أن النبي ﷺ قال فيمن يأتي

امـرأتـه وهـى حائض : (يتصدق بدينار أو نصفه). ومقدار الدينار أربعة أسباع الجنيه السعودى مثـلا سبـعـين ريـالًا، فـعـليـه أن تـخرج أربعين ريالا أو عشرين ريالا سعوديا، تتصدق بها على الـفـقـراءِ، أمـا وطؤك زوجتك النفساء فى فترة انقطع فيها الدم، وكان بعد أن اغتسلت فلا شئ عليك ولو لم تكمل الأربعين يومًا.

(اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والإفتاء).

آيا دا ښځه يتيمه شمار يږى ؟

سوال : کلـه چې يـوه ښـځۀ طلاقه کړې شي، د پلار په کور کښې هغې ته هيڅ قِسم ميراث ورنه کړې شي، آيا مذکوره ښځه د يتيم په حکم کښې راځي اوکه نه ؟

د پښتـنـو د مـخصوص ماحول په وجه هغې ته د کار (مزدورئ) کولو هيڅ اجازه نشتـه، نـوکـه ديتـه د يتيمانانو د فنډ نه څه مال ورکړې شي، نو آيا دا خو به د يتيمانانو حق ضائع کول نه وي ؟ د قرآن او حديث په رڼا کښې ددې مشکل حل بيان کړئ۔

(ډاکټر روح الأمين، مدير الشفاء ماډل سکول پيښور)

جواب : دا ښـځـۀ به يا بالغه وي او يا نابالغه۔ که چيرې بالغه نه وي نو بيا خو يتيمه ده، دې کښـې هيـڅ اختـلاف نشتـه۔ اوکـه بـالـغه وي نو بيا يتيمه نه ده، ځکه يتيم په عربي لغت کښې هغه چاته وائي :

من مات أبوه قبل الحلم. (لسان العرب، حرف يتيم، رد المحتار : ٥/٤٤٠).

چې دَ بلوغ نه مخکښې ئې پلار مړ شي۔

د رسول الله ﷺ نه على بن ابى طالب رضى الله عنه روايت نقل کوي چې هغۀ فرمايلي : (لا يتم بعد احتلام) وفى رواية (بعد حُلم).

(يعنى : د بلوغ نه پس يتيم والى نشته)۔

(رواه أبوداود والبيهقى والطحاوى والطبرانى وغيرهم، كما فى الإرواءِ : ٧٩/٥و الحديث صحيح).

نو کله چې دا ښځه بالغه وي نو د يتيمانانو د مال نه هم ورباندې خرچه نشي کيدې۔

البتـه په داسې ښځو باندې د خير ښيګړې نور ډير زيات فضائل او ثوابونه راغلي۔ لکه

حدیث کښې راځي۔

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: الساعي على الأرملة والمسكين، كالساعي في سبيل الله، وأحسبه قال: كالقائم لا يفتر وكالصائم لا يفطر.

(متفق عليه كمافي المشكاة: ۲/۴۲۲).

دا حدیث په صحیح الجامع رقم (۳۶۸۰) کښې په دې الفاظو راغلی:

(الساعي على الأرملة والمسكين كالمجاهد في سبيل الله، أو القائم الليل، الصائم النهار).

(رواه أحمد والترمذي وابن ماجه والبخاري ومسلم وغيرهم).

یعنی: په کونډو یتیمانو باندې خرچې کونکې او د هغوئ د فائدې او خیر رسولو لپاره منډې ترړې وهونکې دومره ثواب لري، لکه د الله په لار کښې مجاهد یا هغه څوك چې د شپې لمونځونه کوي او د ورځې روژه نیسي۔

أرمله: فقیر او محتاج کس ته وائي، که هغه نروي او که ښځه، خصوصاً د هغې ښځې په باره کښې ډیر استعمالیږي کومه چې فقیره او محتاجه وي او خاوند ئې مړ وي او یائې طلاقه کړې وي، دارنګه هغه ښځه چې واده ئې نه وي کړې۔ لکه د لغت په کتابونو کښې راځي۔

الأرامل تقع على الذكور والإناث. (غريب الحديث لابن قتيبة: ۱/۴۸، تهذيب اللغة: ۵/۱۳۰، حرف رمل).

دارنګه تاج العروس او النهايه في غريب الحديث او لسان العرب کښې دي:

الأرامل المساكين من نساء ورجال، وكل جماعة من رجال ونساءٍ، أو رجال دون نساء او نساءٍ دون رجال أرملة بعد أن يكونوا محتاجين، ويقال للفقير الذي لا يقدر على شئ من رجل أو امرأةٍ: أرملة والأرامل المساكين، ولا يقال للمرأة التي لا زوج لها وهي موسرة أرملة.

د واده دهلك په غاړه کښې د ګلونو او روپو هارونو اچولو حکم

سوال: د واده او ولیمې په ورځ خلك د واده دهلك په غاړه کښې دَ روپو سیرې (د ګلونو او روپو هارونه) اچوي، ددې شرعاً څه حکم دی؟

جواب: اسلامی دین مونږ ته همیشه د سادګئ او اعتدال درس راکوی، داسی خرچی چی د انسان د ضروری
کارونو نه علاوه غیر ضروری بلکه په غلطو کارونو کښی وی، نو دا د نعمت ناشکری او بی قدری ده، چی ددی متعلق به د قیامت په ورځ تپوس کیږی۔ په قرآن کریم کښی ئی اسراف کونکو ته د شیطان ورونه ویلی دی۔

﴿ ولا تبذر تبذیراً ان المبذرین کانوا اخوان الشیطین ﴾ (بنی اسرایل : ۲۷).

(بی ځایه خرچی مه کوه، بیشکه بی ځایه خرچی کونکی د شیطانانو ورونه دی)۔

شیخ ابو زکریا (حفظه اللّٰهورعاه) په خپل تفسیر (۳٦۲/۵) کښی لیکی :

((تبذیر دیته وائی چی مال په ناحقه طریقه سره خرچ کړی اګرکه یوه روپئ وی، لکه په نذر د غیر الله کښی خرچ کول، او په بدعاتو او رسمونو کښی خرچ کول او په غیر ضروری ځیزونو کښی خرچ کول))۔

❁ نو د هلك د واده دارنګه په نورو خوشحالیو کښی د انسان په غاړه کښی د روپو هارونه اچول هم په دی کښی
داخل دی۔ چی دا هم اسراف او تبذیر دی۔ ددینه علاوه په دی کارونو کښی فخر، ریاء او ځان لوی ګڼل هم رائحی چی دا ټول په ټوله د اللّٰه تعالیٰ خوښ نه دی۔ ریاء کارئ ته شرك خفی او شرك اصغر ویلی شوی۔

حدیث کښی دی ((د کوم انسان په زړه کښی چی یوه ذره کبر وی، په هغه جنت حرام دی))۔ دارنګه په احادیثو کښی د فخر کولو نه هم منع راغلی۔

نو په دی بناء عقلمند انسان په داسی موقعو کښی هم د اعتدال نه تجاوز نه کوی۔ رسول الله ﷺ او د هغه پاکو صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین به دداسی قِسم نمائشونو نه نفرت کولو۔

مونږ تاسو او د واده هلك ته پکار دی چی خپلو دوستانو او ملګرو ته د داسی کارونو نه د ځان ساتلو تلقین اوکړو۔

که کوم جذباتی او لیونی دوست دده په غاړه کښی سیره او د ګلونو هار واچوی نو ده ته

پکار دی چی د غاړی نه ئی لری کړی، ځکه که اچول ئی غیر اختیاری ؤشو نو لری کول خو ئی په اختیار کښی شته ، د روپو دسیرو(هارونو) اخستل خو هسی هم په شرعی لحاظ سره صحیح نه دی۔

وګوره : فتاوئ أصحاب الحدیث : ١/٢٤٧، للشیخ ابی محمد عبد الستار حفظه الله).

ټوپئ (خولئ) په سر کول

سوال : زموږ سکول (مکتب) دی، په دی کښی د بعضی شاګردانو مور پلار وائی چه د سکول شاګردانو ته خولئ هم ورپه سر کړئ، آیا خولئ په سر کول ضروری دی ؟ او کوم قِسم خولئ ورپه سر کړی ؟

(ډاکټر روح الأمین، مدیر الشفاء ماډل سکول)۔

جواب : دَ خولئ پـه سر کولـو حکم دادی چی دا یو بهتر او افضل عمل دی چی د مستحب په حکم کښی راځی۔ سر تور ګرځیدل هم جائز دی، دی کښی شرعا هیڅ باك نشته۔ البته همیشه سر تور ګرځیدل صحیح کار نه دی، علماؤ همیشه سرتور ګرځیدل خلافِ سنت عمل ګڼلی۔ او دا ئی د غیر مسلمو فعل ګڼلی۔ کله ددی تفصیل شیخنا ابو محمد امین الله حفظه الله و رعاه په فتاوی الدین الخالص کښی ذکر کړی۔

د رسول الله ﷺ عادتِ مبارکه دا وو چی هغه به ټوپئ(خولئ) یا پټکی په سر کولو، دی باره کښی بی شماره احادیث راغلی۔

امام ابن القیم رحمه الله لیکی :

و کان ﷺ یلبس القلنسوة بغیر عمامةٍ، ویلبس العمامة بغیر قلنسوة.

یعنی نبی کریم ﷺ به دَ پټکی نه بغیر ټوپئ (هم) په سر کړی، او پټکی ئی (هم) دَ ټوپئ (خولئ)نه بغیر په سر کړی۔

د صحابه کرامو رضی الله عنهم او نورو سلفو صالحینوّ نه هم ټوپئ یا پټکی په سر کول ډیر زیات نقل شوی دی۔ لیکن کله نا کله رسول الله ﷺ په یوه جامه کښی (چی دی سره سر لوڅ پاتی کیږی) هم لمونځ کړی۔

نو پکار ده چی خپل ماشومان د مخکښی نه په ټوپئ او پټکی په سر کولو عادت کړی

شی۔ ځکه که اوس همداسی لوڅ سر عادت شی نو بیا چی کله لوی شی نو د ټوپۍ او پټکی په سر کولو سره به عادت نه وی، او ددی په سر کول به هسی یو لوی بوج ورته ښکاری۔

دا خبره صحیح ده چی په مستحب باندی عمل کول ضروری نه دی، لیکن په مجموعی طور چی ټول خلك یو مستحب عمل پریدی، نو دا کار صحیح نه دی، ځکه په دی سره د دین اسلام یوه شعیره او یو حکم د خلکو د مینځ نه ورکیږی۔

نو تاسو ته که څه خاص مشکل نه وی، پکار ده چی د ماشومانو لپاره ټوپۍ په سر کول هم مقرره کړۍ۔ دی سره به ماشومان عادت هم شی، او ښائسته به هم ښکاری۔ که د مغرب نه متأثر خلك د ټائی، پتلون او په سخته ګرمۍ کښی د بوټانو په پښو کولو نه نه ستړی کیږی اونه وربادی بوج کیږی، نو مونږ ولی یوه معمولی شان ټوپۍ په سر پیتی وګڼو ؟!!

بیا د لباس په باره کښی د رسول الله ﷺ حکم دادی چی :

والبس ماشئتَ (الحدیث).

څه چی دی خوښه وی، هغه آغونده۔ دی کښی د سړو لپاره صرف د هغه لباس نه منع راغلی چی بالکل تك سوروی، د ښځو یا کافرانو سره په کښی مشابهت راځی، یا د کافرانو شِعار (علامه) وی۔

نو تاسو چی د ماشومانو لپاره څه قِسم رنګ مناسب ګڼۍ هغه ورته ورکړۍ۔ لکه سپین، تور، خړ، برګ، نسواری، نیلی وغیره رنګونو کښی ورته یو رنګ منتخب کړۍ۔

سر تور ګرځیدل څه حکم لری ؟

سوال : سر تور ګرځیدل څه حکم لری ؟ یعنی که یو کس ټوپۍ(خولۍ)یا پټکی نه په سر کوی، نو آیا دی کښی شرعا څه مانع نشته ؟ د مسئلی ښه وضاحت وکړۍ۔

جواب : همیشه سر تور ګرځیدل خلافِ سنت عمل دی۔ بلکه علماؤ دا د غیر مسلمو شِعار ګڼلی۔ د رسول الله ﷺ او د هغه د پاکو صحابو رضی الله عنهم او د امتِ اسلامی د نورو سلفو صالحینوؒ معمول دا وو چی هغوئ به کله پټکی، کله ټوپۍ (خولۍ) په

سرکوله۔

مطلب دا چې د هغوئ عادت دا نه وو چې هميشه به سر تور گرځيدل۔

امام ابن القيم رحمه الله ليکي :

وكان ﷺ يلبس القلنسوة بغير عمامةٍ، ويلبس العمامة بغير قلنسوة.

(زاد المعاد ١/١٣٠٥، نيل الأوطار : ١٠٥/٢).

دَ رسول الله ﷺ نه د پټکي ثبوت :

عن جابر بن عبد الله قال : إن النبي ﷺ دخل يوم فتح مكة وعليه عِمامة سوداء. (أخرجه مسلم : ٤٣٩/١). وفي روايةٍ له : قال : كأني انظر إلى رسول الله ﷺ على المنبر وعليه عِمامة سوداء، وقد أرخى طرفيها بين كتفيه.

وعن ابن عمر قال : كان رسول الله ﷺ إذا اعتم سدل عِمامته بين كتفيه. (رواه الترمذي وغيره وسنده صحيح بمجموع طرقه، الصحيحة : ٣٧٣/٢، رقم : ٧١٧).

دارنگه د عبد الله بن عمرو او بلال رضي الله عنهم نه هم روايت شوی۔ (ابن ماجه : ٩١/١).

د مغيره بن شعبهؓ نه هم روايت شوی (مسلم ١٣٤/١، المشكاة : ٤٦/١).

د تفصيل دپاره فتاوى الدين الخالص وگوره (١/)۔

د صحابه کرامو ؓ نه د پټکي او ټوپۍ (خولۍ) ثبوت :

عن نافع قال : كان ابن عمر يعتم ويرخيها بين كتفيه قال عبيد الله تلميذ نافع : أخبرنا أشياخنا أنهم رأوا أصحاب النبي ﷺ يعتمون ويرخونها بين أكتافهم. (رواه ابن أبي شيبة : ٢٣٩/٨، واسناد صحيح، الدارقطني : ١٠٧/١).

نافعؒ وائي : ابن عمر رضي الله عنه به پټکي تړلو او شمله به ئې د اوږو تر مينځ پريښودله، د نافع شاگرد عبيد اللهؒ وائي زمونږ شيخانو (استاذانو) مونږ ته خبر راکړی چې دوئ (نور) صحابه هم ليدلي چې پټکي به ئې تړل او شملي به ئې د اوږو په مينځ کښې پريښودلي۔

دَ ټوپۍ ثبوت :

د راتلونکو ټولو صحابه کرامو – رضی الله عنهم – نه د ټوپۍ ثبوت راغلی دی۔
١ – أنـس رضی الله عنه۔(مسـند ابن الجعد : ١/١٣٧، شعب الإيمان : ٥/١٦٧، مصنف عبد الرزاق : ١/١٩٠، ٧٤٥، العيال لابن أبی الدنيا : ١/٤٥٥، تعظيم قدر الصلاة : ٢/٦٦٩).
٢ – زبیر رضی الله عنه۔(ابی شيبة : ٥/١٦٩، ١٨١، (٢٤٨٥٦) (٢٤٩٩١).
٣ – وابصه بن معبد رضی الله عنه۔
(صحيح أبی داود : ١/١٧٨(٨٣٥) إرواء الغليل : ٢/١٠٤.
٤ – عبد الله بن حسن۔(مصنف عبد الرزاق : ٣/٤٤٠ (٦٢٤٦) البداية).
په نورو سلفو کښی۔ابو اسحق۔(بخاری).
حسن۔(بخاری). ابراهیم۔(ابن ابی شيبة : ٥/١٧٠، ١٨١(٢٤٨٥٧، ٢٤٩٩٨).
ضحاك۔(ابن أبی شيبة : ٥/١٧٠، ١٨١، ٢٤٨٥٨، ٢٤٩٩٧).
قاسم بن محمد۔(حلية الأولياء : ٢/١٨٥). ربيعة۔(التمهيد : ١٤/٢٦٠).
عمر بن عبد العزیز۔(حلية الأولياء : ٥/١٧١، ٣٢٣، ٣٣٢، مدارج السالكين : ٢/٣٣١).
ددی ټولو ائمه کرامو نه ټوپۍ په سر کول نقل دی۔
الغرض: ټوپۍ یا پټکی په سرول د مسلمانانو شِعار دی، او همیشه سر تور ګرځیدل د غیر مسلمو شِعار دی۔

ګیره تورول څه حکم لري؟

سوال : ګیره تورول څه حکم لري؟ دا مسئله تفصیلا د قرآن او حدیث په رڼا کښی ولیکۍ۔ وجزاکم الله خيرا۔

جواب : ګیره سره کول، زیړ رنګ ورکول سنت او مستحب دی۔رسول الله ﷺ په خپله هم ګیره مبارکه سره کوله، او دی باره کښی ئی ترغیب هم ورکړی، دارنګه خلفاء راشدینو– ابو بکر صدیق رضی الله عنه – او نورو صحابه کرامو هم ګیری سری کړی۔
رسول الله ﷺ نه د ګیری سری کولو ثبوت :
١ – عن عثمان بن عبد الله بن موهب قال : دخلت على أم سلمة فأخرجت شعرًا من شعر النبی ﷺ مخضوبًا بالحناءِ والكتم. (أخرجه البخاری باب ما يذكر فی الشيب ٥٨٩٧).

عثمان بن عبد الله فرمائی : زه ام سلمه رضی الله عنها ته ورغلم نو هغی ماته د رسول الله ﷺ د ویښتو نه یو ویښته را وویستل چی هغه په نکریزو او وسمه باندی رنګ شوی وو۔

کتم (وسمه) یو داسی بوټی دی چی په نرمه زمکه راخیژی د هغی پانی د زیتون د پاڼو پشان دی، ددی پاڼی چی کله په اوبو کښی پخی کړی شی نو د هغی نه تور رنګ جوړ شی چی په دی باندی لیکل کولی شی۔(زاد المعاد : ٤/٣٦٦).

٢ – ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دی :

وأما الصفرة فإني رأيت رسول الله ﷺ يصبغ بها فأنا أحب أن اصبغ بها.

رواه البخاري : ١٦٦/١، ومسلم : ١١٨٧.

(ما نبی کریم ﷺ لیدلی چی هغه ګیره په زیړ رنګ رنګوله، نو زه هم دا رنګ خوښوم)۔

٢ – وعن أبی رمثة قال : أتيت النبی ﷺ و كان قد لطخ لحيته بالحناءِ. (أبوداود : ٤٢٠٨، احمد : ١٦٣/٤، نسائی : ١٤٠/٨).

ابو رمثه رضی الله عنه فرمائی : زه رسول الله ﷺ ته په داسی حال کښی راغلم چی هغوئ په خپله ګیره باندی نکریزی لګولی وی۔

دی باره کښی د رسول الله ﷺ حکم :

عن أبی هريرة رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ قال : اعفوا اللحی وخذوا الشوارب، غيروا شيبتكم، ولا تشبهوا باليهود والنصاری. (رواه أحمد : ٣٥٦/٢).

ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : ګیری غټی کړئ۔ بریتونه واخلئ (کم ئی کړئ)۔ خپل سپین ویښته بدل کړئ او د یهودو او نصاراؤ سره مشابهت مه کوئ۔

دا حدیث په دی الفاظو هم روایت دی :

إن اليهود والنصارىٰ لا يصبغون فخالفوهم. (بخاری : ٣٤٦٢، مسلم : ٨٠.

(یهود او نصاریٰ خپل ویښته نه رنګ کوی، نو تاسو د هغوئ مخالفت اوکړئ)۔

دَ نسائی په روایت کښی ((فاصبغوا)) (یعنی تاسو رنګ ورکړئ) الفاظ راغلی۔

(آپ کی مسائل اور ان کا حل: ١١٩/٢، لمبشر احمد ربانی حفظه اللّٰه).
دا ټول احادیث په دی مسئله دلیل دی چی ګیری ته رنګ ورکول یو سنت عمل دی۔
لیـکن دی سره دا خبره هم یاد ساتل پکار دی چی ګیری ته تور رنګ ورکول حرام او ناروا دی۔

د ګیری د تورولو د حرمت دلائل:

امـام مسـلـم پـه خپـل صحیح (١٩٩/٢) کښې ددی باب لاندی چی: بـاب استحباب خضاب الشیب بالصفرة والحمرة، و تحریمه بالسواد:
(یـعـنی ویښتانو ته دَ زیړ او سور رنګ ورکولو دَ مستحب والی او دَ تور رنګ ورکولو دَ حرمت بیان)۔
حدیث راوړی فرمائی:
عـن جـابر قال: أتی بأبی قحافة یوم فتح مکة ورأسه ولحیته کالثغامة بیاضًا فقال رسول اللّٰه ﷺ: غیروا هذا بشئ واجتنبوا السواد.
دَ مـکـی د فـتـحـی پـه ورځ (د ابـو بـکـر رضی اللّٰه عنه پلار) ابو قحافه راوستی شو چی دَ هغه سر او ګیره د ثغامه (سپین ګلونو والا ونی) پشان سپین وو۔رسول اللّٰه ﷺ وفرمایل: دده سپین والی بدل کړئ، خو دَ تورولو نه ئی وساتئ۔
دا حـدیـث أبـوداود ٤٢٠٤، بیهـقـی: ٣١٠/٧، ابـن مـاجـه: ١١٩٧/٢، ابن ابی شیبة: ٤٣٢/٨، نسائی: ٥٠٩١، حاکم: ٢٤٤/٣، عبد الرزاق: ١٥٤/١١ هم روایت کړی۔
مسند احمد (٣١٦/٣، ٣٢٢) کښې داسی الفاظ دی:
اذهبوا إلی بعض نسائه فلیغیره بشئ وجنبوه بالسواد.
(دی بـعـضی ښځو ته بو ځئ چی هغوئ دده سپین والی په څه شئ سره بدل کړی خو دَ تور رنګ نه ئی وساتئ)۔
امام نووی رحمه الله په شرح د صحیح (١٩٩/٢) کښې ددی حدیث لاندی لیکی:
ویـحـرم خـضـابـه بالسواد علی الأصح، وقیل: یکره کراهة تنزیهٍ، والمختار التحریم، لقوله ﷺ: واجتنبوا السواد.

(د تېولو نه صحيح قول دادی چې ګيرې ته تور رنګ ورکول حرام دی. بعضو ويلي چې تور رنګ ورکول مکروهِ تنزيهي دی، خو غوره قول دادی چې حرام دی، ځکه رسول الله ﷺ وفرمايل چې: د تور رنګ نه ئې وساتئ.

دغه شان امام نوویؒ په المجموع (۳۲۳/۱) کښې فرمائی:

اتفقوا على ذم خضاب الرأس واللحية بالسواد.

(د سر او ګيرې ويښتانو ته د تور رنګ ورکولو په بدئ او مذمت باندې د محدثينوؒ اتفاق دی).

بيا روسته فرمائی: والصحيح بل الصواب: أنه حرام.

(صحيح او حقه خبره داده چې ګيره تورول حرام دی.

علامه سفارينیؒ فرمائی:

ويكره بالسواد اتفاقًا نُصَّ عليه. (شرح ثلاثيات مسند احمد: ۵۳/۲).

د تور رنګ په کراهيت باندې اتفاق دی، په دې باندې تصريح کړې شوې.

تحفه الأحوذی (۵۷/۳) کښې مبارکفوریؒ فرمائی:

فقوله ﷺ: واجتنبوا السواد دليل واضح على النهي عن الخضاب بالسواد.

(دَ رسول الله ﷺ دا فرمان چې: ((د تور رنګ نه ئې وساتئ)) دَ تور رنګ په حرمت باندې ښکاره دليل دی).

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (۴۹۹/۶) کښې ليکی:

ثم إن الماذون فيه مقيد بغير السواد، لما أخرجه مسلم من حديث جابر أنه ﷺ قال: غيروه وجنبوه السواد.

(د تور رنګ نه علاوه د بل قِسم رنګ لګولو اجازت شته دی، ځکه امام مسلم د جابر رضى الله عنه روايت کړې چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سپين والی ئې بدل کړئ خو د تور رنګ نه ئې وساتئ).

۲ – دويم دليل: امام ترمذی او ابوداود (۲۲۲/۲) کښې د ابن عباس رضى الله عنه نه روايت نقل کړې چې نبی ﷺ فرمائی:

يكون قوم يخضبون في آخر الزمان بالسواد كحواصل الحمام لا يريحون رائحة الجنة.

(ورواه أيضًا أحمد ٢٧٣/١، والطبرانی فی الكبير، و البيهقی ٣١١/٧، والنسائی ١٣٨/٨، كما فی المجمع ١٦١/٥، وفتح الباری ٢٩١/١، وصححه الحافظ، والألبانی فی صحيح سنن أبی داود ٧٩٢/٢، ٣٥٤٨، وصحيح سنن النسائی ١٠٤٣/٢، ٤٦٩٩، والمشكاة ٤٤٥٢، وغاية المرام فی تخريج أحاديث الحلال والحرام ١٠٦، ص : ٨٤).

يعنی : په آخره زمانه كښې به يو قوم وی چې دَ كوترو دَ ججورو پشان به خپل ويښتان توروی، دوئ به د جنت خوشبوئی هم مونده نكړی.

دا حديث په دی مسئله واضحه دليل دی چې په ويښتانو باندی تور رنګ لګول حرام دی، ځكه دی حديث كښې ډير سخت وعيد ذكر شوی.

٣ – **دريم دليل** : عن أنس بن مالك رضی الله عنه قال : كنا يومًا عند النبی ﷺ فدخلت عليه اليهود فرآهم بيض اللحی، فقال : مالك لا تغيرون ؟ فقيل إنهم يكرهون، فقال النبی ﷺ : ولكنكم غيروا وإياىَ والسَّوادَ.

(رواه الطبرانی فی الأوسط، كما فی المجمع ١٦١/٥، وقال : هو حديث حسن).

(انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی : يو ځل موږ دَ رسول الله ﷺ سره ناست وو، چې د هغه خواته څه يهوديان راغله، رسول الله ﷺ د هغوئ سپينی ګيری وليدلی، وی فرمايل : تاسی ولی ګيرو ته رنګ نه وركوئ ؟ چا ورته وويل چې دا (يهوديان) خو دا بد ګڼی، نبی كريم ﷺ وفرمايل : (ای مسلمانانو) ليكن تاسو ئی رنګ كړئ، خو دَ تورولو نه ئی وساتئ).

ددی حديث نه معلومه شوه چې ګيره تورول يا ويښتان تورول جائز نه دی.

٤ – **دَ انس رضی الله عنه نه بل روايت كښې داسی نقل دی:**

قال رسول الله ﷺ : غيروا الشيب، ولا تقربوا السَّوادَ.

رسول الله ﷺ وفرمايل : د ويښتانو سپينوالی بدل كړئ خو تורوالی ته مه نزدی كيږئ.

(رواه أحمد ٢٤٧/٣، صحيح الجامع الصغير ٧٦٧/٢، ٤١٦٩).

٥ – عن ابن عباس أن النبی ﷺ قال : يكون فی آخر الزمان قوم يسودون أشعارهم لا ينظر الله إليهم.

(رواه الطبرانی فی الأوسط ٣٨١٥، کما فی المجمع ١٦٤/٥، وإسناده جید.

(نبی کریم ﷺ فرمائی : په آخره زمانه کښې به داسې خلك وی چی خپل ویښتان به توروی، الله به هغوئ ته (دَ رحمت په نظر) نه ګوری)۔

د مذکوره دلائلو نه معلومه شوه چی دَ سر ویښته یا ګیره تورول حرام او ناجائز دی۔

په (الزواجر عن اقتراف الکبائر ٣٦١/١) کښې علامه ابن حجر مکیؒ ګیره تورول په ګناهِ کبیره کښې شمارلی۔

دَ اول دلیل سره مخکی مونږ د امام نوویؒ، علامه سفارینیؒ او امام ابن حجر عسقلانیؒ اقوال ذکر کړل چی ټول محدثین د تور رنګ لګولو په حرمت باندی قائل دی۔

کوم خلق چی په دی باره کښې د ابن ماجه حدیث پیش کوی چی ګیره تورول جائز دی، نو هغه روایت د ډیرو

وجهونه ضعیف دی۔لکه د هغی سند داسی دی :

حدثنا ابو هریرة الصیرفی محمد بن فراس، ثنا عمر بن الخطاب بن زکریا الراسبی، ثنا دفاع بن دغفل السدوسی، عن عبد الحمید بن صیفی عن أبیه عن جده صهیب الخیر، قال : قال رسول الله ﷺ : إن أحسن ما اختضبتم به لهذا السواد أرغب لنسائکم فیکم وأهیب لکم فی صدور عدوکم. (ابن ماجه : ٣٦٢٥).

(یعنی : بهترین رنګ چی تاسو لګوئ هغه تور رنګ دی، ستاسو ښځی به ستاسو طرفته ډیر رغبت کوی، او ستاسو د دښمن په سینو کښې ستاسو رُعب پری باسی)۔

دا حدیث ضعیف دی۔ځکه ددی په سند کښې:

(١) دفاع بن دغفل سدوسی ضعیف راوی دی۔

(٢) عبد الحمید بن صیفی لین الحدیث دی۔

(٣) عمر بن خطاب الراسبی په باره کښې په تقریب کښې لیکی : مقبول دی۔امام ابن حجر د تقریب په مقدمه کښې لیکی چی :

السادسة : من لیس له من الحدیث إلا القلیل ولم یثبت فیه ما یترك حدیثه من أجله وإلیه الإشارة بلفظ مقبول حیث یتابع، وإلا فلین الحدیث.

(یعنی : شپږم قِسم هغه دی چی د هغویٔ روایت بلکل کم وی لیکن د هغه په باره کښی داسی جرح نه وی چی د هغی په وجه ئی روایت پریښودل شی نو د متابعت په صورت کښی به دده روایت قبول وی، اوکه متابعت نه وی نو بیا ((لین الحدیث)) یعنی کمزوری راوی دی۔
نو دلته د عمر بن خطاب سدوسی متابع نشته، نو دا هم ضعیف شو۔
(٤) د عبد الحمید پلار صیفی بن حبیب ته هم په تقریب کښی مقبول ویلی شوی دی، نو دده هم متابع نشته۔
(٥) په دی سند کښی انقطاع هم شته، لکه امام ذهبی لیکلی :
عبد الحمید بن زیاد صیفی بن حبیب عن ابیه عن جده قال البخاری : لا یعرف سماع بعضهم عن بعض. (میزان الاعتدال : ١٤/٢).
(یعنی : ددی سند په باره کښی امام بخاریؒ فرمائی چی بعضو راویانو د بعضو نه آوریدل ثابت نه دی)۔
نو دا ټول وجوه ددی دی چی دا روایت قطعا قابلِ قبول نه دی۔
دارنګه کوم روایت کښی چی راغلی چی حسن او حسین رضی الله عنهما به رنګ لګولو نو هغه خو اول ثابت نه دی چی د هغویٔ تك تور رنګ لګولی۔بل دا چی د صحیح او صریحو مرفوع احادیثو په مقابل کښی د صحابی عمل په اتفاق د علماؤ حجت نه دی۔
دا خبره فقه حنفی کښی هم ذکر ده لکه ابن عابدین شامی په رد المحتار (٥٥٠/١) باب الجمعه کښی لیکی :
قول الصحابی حجة یجب تقلیده عندنا إذا لم ینفه شئ آخر من السنة.
(دَ صحابی قول په دی شرط زمونږ په نیز حجت دی چی د سنت مخالف نه وی)۔
دا شان خبره امام ابن قیمؒ په تهذیب السنن (١٠٣/٦، امام البانیؒ په تمام المنه (ص ٧٧) نیل المرام فی تخریج أحادیث الحلال والحرام ص (٨٤) امام شوکانیؒ په نیل الأوطار (١٤٤/١)، امام ابن حجرؒ په فتح الباری (٢٣٢/١) دارنګه (٣٨٩/٦) کښی کړی۔
مولانا ګوهر رحمٰن رحمه الله په تفهیم المسائل (٢٠٦/٤) کښی لیکی :

((د صحابو او تابعینو عمل دَ رسول الله ﷺ د ارشاد په مقابله کښې حجت نشي جوړیدی، او کوم احادیث چې دَ جواز ورکونکو پیش کړی، هغه دَ عدم جواز دَ احادیثو په مقابله کښې ډیر کمزوری دی))۔

په (اللباس والزینة فی الشریعة الإسلامیة ص : ٤١٧) کښې دی :

ویحرم بالسواد عند أبی حنیفة ومحمد وهو الصحیح عند الشافعیة وصوّبه النووی.

(یعنی ویښتان تورول د امام ابو حنیفهؒ او محمدؒ په نزد حرام دی، او د شوافعو په نیزد هم دا صحیح خبره ده، لکه چې امام نوویؒ دا خبره حقه ګڼلی)۔

فتاوی اسلامیه (٤٢٤/٤) کښې د سعودی مفتی اعظم ابن بازؒ د یو سوال په جواب کښې فرمائی :

لا یجوز صبغ الشیب – سواء کان فی الرأس أو اللحیة – بالصبغ الأسود، لأنه ثبت عن النبی ﷺ فی الأحادیث الصحیحة النهیُ عن ذلك.

(ویښتان په تور رنګ رنګول – که د سر وی او که دَ ګیری – جائز نه دی، ځکه د نبی کریم ﷺ نه په صحیح احادیثو کښې ددی منع نقل شوی)۔

رشید احمد ګنګوهی صاحب فی فتاویٰ رشیدیه ص (٥٨٩) کښې لیکی :

((دَ تور رنګ نه علاوه ویښتان په هر قِسم رنګ باندی رنګول درست دی))۔

دَ نامحرمې ښځې یا سړی بیمار پښتنه

سوال : کله چې څوك بیمار شي نو آیا غیر محرمه خپلوانه یا ګاونډۍ ښځه د دغه کس د بیمار پښتنې لپاره ورتلی شي او که نه ؟ دغه شان سړی دَ نامحرمې ښځې بیمار پښتنې ته ورتللی شي او که نه، کله چې خپلوانه وی ؟ (ستاسو شاګرد : حنیف الله، دیر کوهستان، بریکوت)۔

جواب : دَ مریض عیادت (بیمار پښتنه) کول سنت طریقه ده۔ په عیادت د مریض کښې ډیر اجر او ثواب دی۔ ښځه هم کولی شي چې د شرعی حدودو لاندی د بیمار تپوس ته لاړه شي ۔ مثلاً پرده کښې د کور نه ووځی، که د سفر لاره وی نو محرم ورسره وی، د بیمار سره به خلوت نه کوی، که چیری نامحرم وی۔ دارنګه سړی ته هم جائز دی چې د ښځو بیمار

پرسی وکړی، که هغه محرمه وی اوکه غیر محرمه۔
په دی خبره دلائل دادی :
١ – عمومات د احادیثو، چی په هغو کښی دادی :
حق المسلم علی المسلم ستّ.. (وفیه) وإذا مرض فعده.
نو دا احادیث عام دی، سړو او ښځو دواړو ته شامل دی۔ددی نه تخصیص نه دی شوی۔
٢ – امام بخاریؒ په خپل صحیح ٨٨٤/٢، کښی باب راوړی۔ باب عیادة النساءِ الرجال، وعادت أم الدرداءِ رجلا من أهل المسجد من الأنصار.
٣ – وعن عائشة رضی الله عنها لما قدم رسول الله ﷺ المدینة وعك أبو بكر وبلال فدلخت علیها.. الحدیث. (رواه البخاری).
٤ – ودخل النبی ﷺ علی أم السائب (المشكاة : ١)، والتفصیل فی فتاوی الدین الخالص المجلد السابع لشیخنا ابی محمد حفظه الله و رعاه .

د غیر محرمی ښځی سره په لاس باندی سترې مشی کول

سوال : د پردۍ یعنی غیر محرمی ښځی سره په لاس باندی سترې مشی کول څه حکم لری ؟ بعضی خلکو کښی دا رواج هم شته چی که د پردۍ ښځی سره هم سترې مشی کوی نو ددی سره هغوۍ د یو بل ښکلول هم کوی۔ دا کار شرعا څنګه دی ؟ خصوصا دا کار د خپلو خپلوانو لکه د تره لور او ځوی، د ماما ځوی او لور په مینځ کښی کولی شی۔

جواب : پردۍ ښځی ته که د فتنی ویره نه وی په خوله سترې مشی اوویل شی، یا په هغی سلام واچولی شی نو څه باك نه لری۔په دی کښی څه ګناه نشته۔البته هغی ته لاس ورکول قطعا جائز نه دی، او د یو بل ښکلول خو ښکاره ګناه او ډیر غلط رواج دی۔
حدیث کښی راځی :
عن عائشة رضی الله عنها قالت : والله ما مست یده ید امرأةٍ قط فی المبایعة (متفق علیه).
(قسم په الله چی د رسول الله ﷺ لاس (د پردۍ) ښځی د لاس سره هیڅکله په بیعت کښی نه دی لګیدلی)۔

بل حدیث کښې دی: یوه صحابیه وائی چې زه د نورو ښځو سره رسول الله ﷺ ته راغلم چې بیعت ورسره وکړو، نو زموږ نه ئی بیعت واخسته، بیا موږ ورته وویل:
ألله ورسوله أرحم بنا من أنفسنا ألا تصافحنا ؟ قال: إنی لا أصافح النساء.
(یعنی: الله او د هغه رسول ﷺ په موږه زموږ د ځانونو نه ډیر مهربانه دی، نو ته موږ ته لاس نه راکړې؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: زه (د پردو) ښځو ته لاس نه ورکوم).
(ابن ماجه ٩٥٩/٢، النسائی ١٣٤/٧، وسنده صحیح کما فی صحیح الجامع ٢٥١٣، والصحیحة: ٢، ٥٢٩).
بل حدیث کښې راځی:
کان لا یصافح النساء فی البیعة (رواه احمد ٢١٣/٢، کما فی الصحیحة ٥٣٠، ٥٦/٢).
ددې احادیثو نه معلومه شوه چې رسول الله ﷺ به د پردو ښځو ته لاس نه ورکول.
سره ددې نه چې دا بیعت دی او دا د سترې مشی نه ډیر مهم او ضروری کار دی.
نو مذکوره دواړه حدیثونه په دې خبره مضبوط دلائل دی چې پردۍ ښځې ته لاس ورکول جائز نه دی.
دې باره کښې قولی حدیث داسې راغلی:
لأن یطعن فی رأس رجل بمخیطٍ من حدید خیر له من أن یمس امرأة لا تحل له.
(رواه الطبرانی والبیهقی کما فی الصحیحة ٣٩٥/١، ٢٢٦، وصحیح الترغیب والترهیب للمنذری).
(یعنی: که د یو سړی په سر کښې د اوسپنې میخ او ستن ننوځی نو دا ورته ددې نه غوره ده چې دداسې ښځې سره لاس ولګوی چې ده ته حلاله نه وی).
په دې حدیث کښې ډیر سخت وعید او زورنه راغلی،او په دې خبره دلیل دی چې د پردو ښځو سره لاس لګول سخت حرام دی.
شیخ البانی رحمه الله لیکی:
وفی الحدیث وعید شدید لمن مس امرأة لا تحل له ففیه دلیل علی تحریم مصافحة النساءِ، لأن ذلك مما یشمله المس دون شكٍ. (الصحیحة ٣٩٦/١، ومثله فی ٥٢/٢، ٥٦، ٥٢٧، ٥٢٩).
یعنی دا حدیث بیشکه بې شبهې سترې مشی ته شامل دی.

فتاوی اللجنه (٢٨٦/١٠) کښې دی:

تحرم مصافحة المرأة الأجنبية لقوله عليه السلام: إنى لا أصافح النساء، وقول عائشة رضى الله عنها: والله ما مست يدُ رسول الله ﷺ يدَ امرأةٍ قطُّ. ولأن المصافحة للأجنبية من أسباب الفتنة.

(یعنی: پردو ښځو سره ددی دوارو حدیثونو په وجه په لاس سره ستړی مشی کول حرام دی، او ددی وجی نه هم حرام دی چی دا دَ فتنی سبب جوړیږی)۔

په اللباس والزینه کښې دی۔

أجمع الفقهاء على أنه يحرم على الرجل أن يمس جسد المرأة الأجنبية عنه او يقبلها وإن كان يأمن على نفسه الشهوة، لقيام المحرم وانعدام الضرورة والبلوى.

(یعنی: په دی خبره د فقهاؤ اتفاق دی چی سړی ته د پردئ ښځی سره لاس لګول او د هغی ښکلول حرام دی، اګرکه په ځان باندی ئی د شهوت نه لرلو اعتماد وی، ځکه چی دا په ده حرامه ده او ضرورت او عمومِ بلویٰ هم نشته)۔

(اللباس والزينة فى الشريعة الإسلامية ص: ١٤٦).

دکتور یوسف القرضاوی په خپله فتاوی کښې د یو سوال په جواب کښې لیکی:

أما ذهاب المرأة إلى رجل أجنبى ليزينها فهو حرام قطعًا، لأن غير الزوج والمحرم لا يجوز له أن يمس امرأة مسلمة ولا جسدها، ولا يجوز لها أن تمكنه من ذلك. وفى الحديث: لأن يطعن فى رأس أحدكم بمخيطٍ من حديد خير له من أن يمس امرأة لا تحل له. و كثيرا ما يحدث أن تبقى المرأة وحدها فى محل الكوافير فترتكب حرامًا آخر وهو الخلوة بالأجنبى.

(فتاوى معاصرة ٤٥٢/١).

(د دکتور صاحب نه دا سوال شوی چی ښځه بازار ته د ځان ښائسته کولو لپاره دَ ((بیوتی پارلر، آرایشګاه)) دکان ته لاړه شی نو دا څه حکم لری؟ هغه ورته په جواب کښې لیکلی چی دا په دوو وجو سره ناروا کار دی، او دریم علت په کښې هم شته۔ یوه وجه دا چی ددی سره د پردی سړی لاس لګیږی، بله دا چی اکثر وخت ئی د پردی سړی سره خلوت یعنی یوائی والی هم رائی۔ چی دا دواړه کارونه سخت حرام دی۔

په اولاد باندی د مور پلار د خبری منلو، او د هغوئ د خدمت کولو حکم

سوال : په اولاد باندی د مور پلار خبره منل، د هغوئ خدمت کول څه حکم لری ؟ دی باره کښی که د قرآن او سنت نه څه دلائل ذکر کړی شی نو ډیره به ښه وی۔ وجزاکم الله خیرا۔

جواب : د مور پلار خدمت کول، د هغوئ خبره منل(په هغه څه کښی چی گناه نوی) په بچو باندی فرض دی، که بچی بالغ وی او که نابالغ۔ په دی خبره د قرآن او سنت ډیر لائل شته دی، بعضی دلائل دلته ذکر کیږی۔ چی اول خطاب بالغ ته دی۔

١ – الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ واعبدوا اللّٰه ولا تشركوا به شيئًا وبالوالدين إحسانا ﴾.

٢ – او الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ وقضىٰ ربك أن لا تعبدوا إلا إياه وبالوالدين احسانا ﴾.

امام قرطبیؒ لیکی :

وقضى ربك : أى أمر وألزم وأوجب.

(یعنی : الله امر کړی، دائی لازمه کړی او واجبه کړی چی خاص د الله عبادت وکړئ او دمور پلار سره احسان وکړئ)۔

امام شوکانیؒ لیکی : دلته الله رب العزت احسان د مور پلار د خپل توحید او عبادت سره یو ځای ذکر کړی، اشاره کوی زیات تاکید ته د مور پلار د حقوقو په باره کښی۔(فتح القدیر : ٢١٨/٣)۔

دَ احسان معنیٰ : احسان ((بِر)) یعنی نیکئ ته ویلی شی۔او حدیث کښی دی : (البر حسن الخلق).

(نیکی د ښائسته اخلاقو نوم دی)۔

حسن بصری رحمه الله ویلی :

البر أن تطيعهما فى كل ما أمراك به مالم تكن معصية والعقوق هجرانهما وأن تحرمهما خيرك. (الدر المنثور ٢٥٩/٥).

مطلب دا چې نیکی دیته وائی چې دمور پلار تابعداری وکړی شی په هر هغه څه کښی چې تاته حکم کوی ترڅو چې د ګناه کار نه وی)۔

امام قرطبی رحمه الله په خپل تفسیر کښی لیکی چې یو ځوی هغه وخت عاق ګرځی چې په یو حلال کار کښی دمور پلار مخالفت وکړی ۔او بیا ورسته فرمائی : کله چې پلار یا مور بچی ته د یو کار امر وکړی نو په بچی دا واجب دی چې دا اومنی هر کله چې دَ ګناه امر نه وی۔(۲۳۸/۶).

ابو بکر جصاص په احکام القرآن کښی لیکی :

قال أصحابنا : لا يجوز أن يجاهد إلا باذن الأبوين.

(زمونږ احنافو علماؤ ویلی چې بچی ته جائز نه دی چې جهاد ته لاړ شی بغیر دَ اجازت د مور پلار نه (کله چې جهاد فرضِ کفائی وی)۔(۴/۲۳۵)

امام نوویؒ د صحیح مسلم په شرح کښی لیکی چې محمد بن عبد السلام فرمائی : په بچی باندی دا حرامه ده چې د دمور پلار د اجازت نه بغیر جهاد وکړی۔

۳ – الله تعالیٰ فرمائی :﴿فلا تقل لهما أفٍ ولا تنهرهما ﴾.

مطلب دا چې مور پلار ته دَ ((اف)) لفظ ویل هم منع دی، چې دا دلالت کوی په ناراضتیا باندی او والدین پری خفه کیږی۔

نو که یو بچی پلار ته جواب ورکوی چې زه ستا خبره نه منم یا ستا خبره منل په ما ضروری نه دی، نو دا خو به په طریقه اولیٰ حرامه وی، ځکه په دی باندی خو والدین ډیر زیات خفه کیږی۔

دی باره کښی احادیث :

۱ – عن معاذ قال : أوصاني رسول الله ﷺ : لا تعق والديك وإن أمراك أن تخرج من أهلك ومالك. (رواه احمد والطبراني).

(معاذ رضی الله عنه فرمائی : ماته رسول الله ﷺ ددی خبری وصیت کړی چې د مور پلار نافرمانی به نه کوی اګر که هغوئ تاته حکم وکړی چې د خپل کور او مال نه ووځه)۔

۲ – ابو درداء رضی الله عنه فرمائی : ماته رسول الله ﷺ په نهه (۹) کارونو وصیت کړی۔په دی خبرو کښی یوه خبره داده چې :

وأطع والديك وإن أمراك أن تخرج من دنياك فاخرج لهما ... الحديث.
(البخاری فی الأدب المفرد).
(دَ خپـل مـور پـلار خبره منه اګرکه هغویٔ تاته حکم کوی چی ته د خپلی دنیا نه ووځه، نو د هغویٔ لپاره ووځه)۔
سبحان الله ! د مـور پـلار خبـره مـنـل دومـره ضروری دی چی د هغویٔ په امر به سړی خپـل اهـل او مـال پریږدی، نو آیا یو سړی ته که دده مور پلار ووائی چی مثلا فلانی ځای ته مه ځه نو په دی بچی به د مور پلار خبره منل ضروری نه وی ؟!!.
۳ – عـن ابن عمر رضی الله عنهما قال : كانت تحتی امرأة أحبها و كان عمر يكرهها فقال : طلقها، فأبيتُ فأتی عمرُ النبی ﷺ فقال : أطع أباك.
(رواه أحمد وأبوداود، روح المعانی ١٥/٦١).
(ابـن عـمر رضی الله عنه فرمائی : زما یوه ښځه وه چی زما ډیره زیاته خوښه وه، زما پلار عمر رضـی الـله عنه ماته حکم وکړو چی دی ښځی ته طلاق ورکړه، دی وائی : ما انکار وکړو، نو هغه رسول الله ﷺ ته ورغی، رسول الله ﷺ ماته حکم وکړو چی د پلار خبره وومنه)۔
دارنګـه ابو درداء – رضی الله عنه – ته یو سړی راغی، ورته وی ویل : زما ښځه ده او زما مور ماته وائی چی دا ښځه دی طلاقه کړه۔زه اوس څه وکړم ؟ ابودرداء رضی الله عنه ورته وفرمایل : سـمـعـت رسول الله ﷺ يقول : الوالد أوسط أبواب الجنة فإن شئت فاصنع ذلك الباب أو احفظه. (رواه الترمذی).
(مـا دَ رسـول الله ﷺ نه آوریدلی دی چی (مور) پلار د جنت مینځنیٔ دروازه ده، نواوس ستا خوښه ده چی که دا دروازی ځانته ساتی اوکه ئی ضائع کوی)۔
مطلب : دَ مور پلار په خبره نه منلو کښی درځخه جنت فوت کیږی۔
★ د مور پلار په خفه کولو الله خفه کیږی :
٤ – **حدیث شریف کښی دی :** رضا الرب من رضا الوالد، وسخط الرب من سخط الوالد.
(دَ الله رضا د پلار په رضا کښی، او د الله خفګان دَ پلار په خفګان کښی دی)۔
نـو اوس چی یـو بچی د پلار خبره نه منی آیا پلار ته به غصه نه ورځی ؟ آیا دده پلار به ددی ځوی په دی عمل باندی نه خفه کیږی ؟

۵ – دَ مور پلار دَ نافرمانئ په وجه د اولاد عمل نه قبلیږی۔
دَ الله رسول ﷺ فرمائی : د دری کسانو عمل نه قبلیږی اګرکه عمل ولی نه کوی، یو په هغوئ کښی هغه څوك دی چی د مور پلار خبره نه منی۔(طبرانی)۔
د مور پلار د پښو لاندی جنت دی :
٦ – رسول الله ﷺ ته یو سړی راغی او عرض ئی وکړو، زه جهاد ته ځم، تاسره مشوره کوم، رسول الله ﷺ ورنه تپوس وکړو :
هل لك من أمّ ؟ قال : نعم، قال : الزمها فإن الجنة عند رجليها. (رواه أحمد و النسائی).
(آیا ستا مور شته ؟ هغه وویل : هُو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ښه نو مور سره دی اوسه چی د هغی د پښُو لاندی جنت دی)۔
الله اکبر ! د الله رسول ﷺ یو سړی ته د جهاد لپاره اجازت نه ورکوی چی جهاد ته لاړ شی او فرمائی چی جنت ستا د مور دَ قدمونو لاندی دی۔په دی عنوان ډیر احادیث دی چی په دی باندی اکتفاء کوو۔

دَ سلفو صالحینو - یعنی زمونږ د دین دَ مشرانو - واقعات

چی هغوئ څومره دَ مور پلار خدمت کولو، او څومره خبره ئی منله ؟
۱ – **واقعه** دَ اسماعیل علیه السلام : دده قیصه زمونږ لپاره یو سبق دی، اسماعیل علیه السلام ته چی کله خپل پلار ابراهیم علیه السلام فرمائی :
﴿ یا بنیَّ إنی أری فی المنام أنی اذبحك فانظر ماذا تری ﴾.
(آی ځویه ! زه خوب وینم چی تا ذبحه کوم نو ستا څرنګه خوښه ده) ؟ نو اسماعیل علیه السلام داسی جواب ورکوی : ﴿ یا أبت افعل ما تؤمر ﴾
(ای زما پلاره ! تاته چی د الله له طرفه کوم حکم کیږی، په هغه عمل وکړه، یعنی زه امر ته تیاریم)۔
ذبحه (حلالول)څومره سخت کار دی، لیکن اسماعیل علیه السلام بیا هم د پلار خبری منلو ته تیار دی!!،پکار داده چی هر انسان اسماعیل علیه السلام د خپل ځان مقتدیٰ جوړ کړی او دَ پلار هره خبره (چی د دین خلاف نه وی) داسی قبوله کړی لکه اسماعیل علیه

السلام چې قبوله کړی وه۔

۲ – **مجاهد** رحمه الله – چې دا په لویو علماؤ کښې شمیر دی – فرمائی :

لا ینبغی للولد ان یدفع ید والده عنه اذا ضربه. (الکبائر ص : ٤١).

(مطلب : که پلار راپاځی او ځوی وهی نو زوئ ته پکار نه دی چې د خپل پلار لاس دَ ځانه آخوا کړی)۔دا خو ډیره لری خبره ده چې پلار سره جګړه یا نوره بد اخلاقی وکړی۔

۳ – **دَ فقیه الصحابه**، مُحسنِ امتِ مسلمه، د مدینی مفتی : ابو هریره رضی الله عنه د اِحسان واقعات د خپلی مور سره ډیر مشهور دی، ده به خپله مور قضاء حاجت ته پشا باندی وړله ځکه هغه بوډئ وه، دارنګه چې کله به کور ته داخلیده نو هم به ئی په مور باندی سلام اچولو او دعاء به ئی ورته کوله اوچې کله به د کوره وتلو نو هم به ئی داسی کول۔(البر والصلة لابن الجوزی ص : ۸۲، ورواه البخاری فی الأدب المفرد ص : ۱۸) .

٤ – **حیات بن شریح** چې د دین یو امام وو، ده خپلو شاګردانو ته درس ورکول نو ده ته به مور ویل چې پاځه چرګانو ته دانه واچوه، نو هغه به پاځیده او درس به ئی پریښود۔

(البر والصلة ص : ۷۹).

٥ – د **ابن عباس** رضی الله عنه نه نقل دی چې ((اهلِ اعراف)) هغه خلك دی چې جهاد ته د مور پلار د اجازی نه بغیر تللی وی، او هلته وژل شوی وی، نو دوئ به په ((اعراف)) کښې ایسار وی۔(الکبائر ص : ٤١).

د مور پلار په حق کښې د علماؤ فتوی هم ډیری دی چې د دین ټولو علماؤ دیته فرض او واجب وائی۔

په حدیث شریف کښې د مور پلار نافرمانی کبیره ګناه ګڼل شوی :

عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه مرفرعا : الکبائر الاشراك بالله وعقوق الوالدین، الحدیث.

یوه جینئ تر څه وخته پوری یتیمه ګڼل کیږی

سوال : یوه جینئ تر څه وخته پوری یتیمه ګڼلی کیږی، آیا تر واده کولو پوری اوکه تر وخته رسیدو پوری ؟

جواب : د یتیمی ښځی (انجلئ) او یتیم هلك دواړو په باره کښی قانون دادی چی دوی کله بالغان شی نو د دوئ نه د یتیم حکم لری کیږی۔رسول الله ﷺ فرمائی :

لا يُتم بعد احتلام.

(رواه أبوداود رقم : ٢٨٧٣، والبيهقى : ٥٧/٧، والطبرانى : ١٦/٤، والطحاوى فى مشكل الآثار : ٢٨٠/١، الارواء : ٧٩/٥، و الحديث صحيح).

(یعنی: د بلوغ نه پس یتیموالی نشته)۔

قرآن او حدیث چونکه په عربی لغت کښی راغلی نو په دی وجه دلته د یتیم لغوی معنی نقل کوو۔علامه جرجانی په التعریفات کښی لیکی :

اليتيم هو المنفرد عن الأب. (التعريفات : ٨٥/١، الصحاح للجوهرى : ٢٩٨/٢، لسان العرب).

فتاوی اللجنه (١٠٧/١٤) کښی دی۔

لأن اليتيم من الناس شرعًا : من مات أبوه.

(په شریعت کښی یتیم هغه چاته ویلی کیږی چی پلار ئی وفات شوی وی)۔

د حیوان نه د پری شوی اندام حکم

سوال : په یو سړك باندی موټر په تیزئ کښی روان وو، په دی وخت کښی ئی یوه غوا مخی ته راغله، هغه ئی اووهله، غوا را پریوته د الله فضل اوشو چی موټر وانۀ وښتو، د غوا یو ورون بیل شوی وو، خلقو غوا حلاله کړه۔ اوس سوال دادی چی ددی غوا دغه پری شوی ورون حلال دی که مردار؟ غوا خو حلاله کړی شوه۔(محمدعالم، کندوز)

جواب : ددی حیوان مذکوره اندام په مرداره کښی داخل دی، ځکه په شریعت کښی قانون دادی چی د کوم حیوان نه په داسی ژوند کښی اندام پری کړی شی چی هغۀ ته ددی اندام پریکیدو نه پس ژوندی ویل کیږی، نو ددۀ دا پری شوی اندام به مردار وی، لکه حدیث کښیی دی :

عن أبى واقد رضى الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : ما قطع من البهيمة وهى حية فهى ميتة.

(کوم اندام چی د یو حیوان نه په داسی حالت کښی پریکړی شی چی هغه ژوندی وی، نو دا (اندام) ئی مردار دی)۔

(رواه أحمد: ٥/٢١٨، وأبوداود: ٣/٢٧٧، رقم: ٢٨٥٨، والترمذی: ٤/٧٤، برقم: ١٤٨٠، والدارمی: ٢/٩٣، والدارقطنی: ٤/٢٩٢، وابن الجارود (غوث المكدود): ٣/١٦٧، رقم ٨٧٦، والطحاوی فی المشكل: ١/٤٩٦، ط الهند، وأبو یعلی: ٣/٣٦، رقم: ١٤٥٠، والحاكم: ٤/١٢٤، ٢٣٩، والطبرانی: ٣/٢٨٠، رقم: ١٤٥٠، والبیهقی: ١/٢٣، ٩/٢٤٥).

امام ترمذی رحمه الله په دی الفاظو سره روایت کړی: ما قطع من الحی فهو میت.

(د کوم ژوندی حیوان نه چی یو اندام پریکړی شی نو هغه – پری شوی اندام – مردار دی)۔

(ترمذی رقم: ١٤٠٠، كتاب الأطعمة، باب ما قطع من الحيّ فهو میت، وابن ماجه الصید: ٣٢١٧).

امام ترمذی رحمه الله ددی حدیث د روایت کولو نه پس ویلی:

والعمل علی هذا عند أهل العلم.

امام ابن حزم رحمه الله فرمائی: وما قطع من البهیمة وهی حیة أو قبل تمام تذكیتها فبان عنها فهو میتة لا یحل أكله، فإن تمت الذكاة بعد قطع ذلك الشئ اكلت البیهمة ولم تؤكل تلك القطعة وهذا مالا خلاف فیه، لأنها زایلت البهیمة وهی حرام أكلها فلا تقع علیها ذكاة كانت بعد مفارقتها لما قطعت منه. (المحلی: ٦/١٣٦، مسئله نمبر: ١٠٥٠).

یعنی په دی مسئله کښی د هیچا اختلاف نشته۔

په الموسوعۍ الفقهیۍ کښیی راغلی إذا رمی صیدًا فأبان منه عضوًا، وبقی الصید حیا حیاة مستقرة یحرم العضو المبان بلا خلاف بین الفقهاء.

په فتاوی اللجنۍ الدائمۍ للبحوث العلمیۍ والافتاء کښی هم دا قِسم د حرمت فتویٰ ورکړی شویده۔ وبالله التوفیق، وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه وسلم.

ربیع الأول: ١٢/١٤٣٠هـ

// //////

کتاب الحدود والقصاص

د گناه نه د بچ کیدو په خاطرخپل ځان وژل

سوال : زمونږ یو سوال دی چی د قرآن او سنت په رڼا کښی ددی جواب غواړو۔
مونږ د خپل پلار نه واړه یتیمان دوه خویندی او یو ورور پاتی یُو۔ مونږ د تره په کور کښی اوسیږو، لیکن دَ بد قِسمتیٔ نه زمونږ ترۀ زما یوه خور داسی کس ته دَ دنیا د لالچ په خاطر ورکړه چی هغه کس قاتل، ډاکو، بیلمازه او غټ بد معاش دی، زما خور خو دَ سر نه په دی نکاح باندی راضی نه وه، لیکن زما تره هغه کس ته په زوره په نکاح ورکړه۔ چونکه زه هم د عمر نه کشریم او هیڅ وَس می نه رسی اونه زما د خویندو څه وسع او قدرت شته۔ نو زما خور اوس د هغه په نکاح کښی ده۔د هغی خاوند هغه پردی کولو ته نه پریږدی، لمانځه ته ئی نه پریږدی، او ددی سره سره هر قِسم ظلمونه هم زما په خور باندی کوی۔ ماته می خور وویل چی زه ځان وژنم، او د یو عالِم دین نه تپوس وکړه چی یوه ښځه په داسی حالت کښی وی چی خاوند ئی نه لمونځ ته پریږدی او نه پردی او نه بل عبادت ته۔ آیا هغی ته جائز دی چی خپل ځان ووژنی ؟ تفصیلی جواب راکړئ۔
وجزاکم الله خیرا۔

جواب : دی ښځی سره چی څه شوی یا کیږی دا سخت ظلم دی۔د یوی ښځی په زوره ورکول په اسلام کښی حرام دی، د الله رسول ﷺ فرمائی :

لا تنکح البکر حتی تستأذن. (بخاری ٢/٧٧١).

(پیغله به تر هغه وخته پوری په نکاح نشی ورکولی چی اجازت تری اوغوښتلی شی)۔

دارنګه رسول الله ﷺ خپله دَ هغه ښځی نکاح ماته کړه چی هغی لره پلار یو سړی ته

په نکاح ورکړی وه، او دا په دی راضی نه وه۔ (بخاری ۲/۷۷۱).

خو دا ښځه ځان نشی وژلی، اګرکه هر قِسم ظلم په دی باندی کیږی، ځکه د خپل ځان وژل ډیره زیاته سخته ګناه ده۔ والعیاذ بالله۔رسول الله ﷺ فرمائی: ((دی دنیا کښی چی څوك ځان په څه قتل کړی، آخرت کښی به په اور د جهنم کښی ځان په همغه شئ وژنی، بیابه جوړیږی، بیابه ځان وژنی، بیابه جوړیږی، اودا به همیشه دپاره په جهنم کښی وی))۔ (متفق علیه، المشکاة ۲/۲۹۹).

((که دا په چاړه ځان ووژنی، جهنم کښی به په چاړه باندی ځان وژنی او بیابه جوړیږی، بیابه ځان وژنی، بیابه جوړیږی، داسی حال به همیشه دپاره دده وی۔ اوکه په بل څه ځان ووژنی نو په هغی به ځان وژنی))۔دا بخاری روایت کړی۔ مشکوة ۲/۳۰۰.

او دا ښځه چی ځان وژنی نو دا دَ اسلام نه ناخبره ده، دیته دَ رسول الله ﷺ دَ سیرت، او د هغه دَ اصحابو لکه بلال، آلِ یاسر، سمیه، خباب او داسی نورو سیرت نه دی معلوم۔که چیری دیته د دوئ سختئ او تکالیف معلوم شول۔ چی کافرانو به دوئ په سختو شګو ځملول، د کلی په لارو کو څو کښی به ئی پړی په غاړه راښکل او وهل ټکول۔نودا ښځه به دَ ځان وژلو سوچ هم اونه کړی۔دغه صحابه کرامو رضی الله عنهم هیڅ کله دا نه دی ویلی چی مونږ ځان وژنو او نه ئی ځانونه وژلی، اونه رسول الله ﷺ هغوئ ته دا ویلی چی که خلق تاسو د الله عبادت ته نه پریږدی، یا ظلم در باندی کوی نو ځانونه قتل کړئ۔بلکه د الله رسول ﷺ خو به هغوئ ته فرمایل: صبرا آل یاسر۔(ای دَ یاسر خاندانه! د صبر نه کار اخلئ)۔

فضیلۀ الشیخ ابو محمدامین الله حفظه الله ورعاه په فتاوی الدین الخالص نهم جلد کښی دا مسئله ډیره ښه په تفصیل سره ذکر کړی چی یوه مسلمانه ښځه د کافرانو نه په خپل عزت خرابولو، زنا، بندی کیدلو ویرړی آیا داښځه خپل ځان وژلی شی؟

فضیلۀ الشیخ ډیر په تفصیل سره ددی په نفی او حرمت فتویٰ ورکړی۔

نو هر کله چی ځان وژل حرام دی، دا ښځه دی یو څو کارونه وکړی۔

۱ – اول خو دی خپله ددی سرړی نه ځان خلاصه کړی، اوکه خپله ئی نشی کولی نو حکومت ته دی درخواست وکړی۔

٢ – کـه دا نشـی کولی او سړی زوروَر وی نو بیابه دا ښځه ځان داسی حسابوی لکه د یو کافر پـه بـنـدیـخانه کښی۔ مثلا دا ښځه په یو جیل کښی ده، د بندیخانی مشران دا ښځه لـمونځ ته نه پریږدی، نو ښځه به دا لمونځ په ناسته کوی، که په ناسته ئی نه پریږدی نو په مـلاستـه به ئی کوی، که نه وی نو په اشاره به ئی کوی۔خو په هیڅ یو صورت کښی به دا لمونځ نه پریږدی۔دارنګه په جیل کښی په دی باندی د جیل مشران د غلا مال خوری اوکه بل څه حرام مال، نو دا ښځه به ئی خوری او ښځه به ګنهګاره نه وی۔نو دا ښځه دی هم څه ډول پـه لـمـانـځـه کـولـو طاقت او قدرت لری، همغسی دی کوی۔رسول الله ﷺ فرمائی ((کـلـه چی زه درته دَ څه حکم وکړم نو دَ خپل وس مطابق په هغی عمل کوئ)) دارنګه الله فرمائی : ﴿ فاتقوا الله ما استطعتم ﴾۔(دَ الله نه دومره ویریږئ څومره مو چی وَس وی)۔

نـو چـی څـومـره قـدرت لـری هـغـه شان لمونځ به کوی، ځکه هر وخت خو دا سړی کور کښـی نـه وی، دَ هـغـه نه دی پټ لمونځ کوی، که په دی قدرت نه لری په ناسته اوکه نه وی پـه اشاره دی ئـی کـوی۔دارنـګـه دا سړی چـی حـرام خـوری نو که حلال مال دی ښځی ته مـلاویـږی، نـو حـرام بـه نـه خوری اوکه دی سړی په دی ښځی زور کولو، نو بیائی خوړلی شی او ښځه به ګنهګاره نه وی۔

٣ – دا ښـځـه بـه دی سړی سره داسـی مـعـامله کوی لکه څرنګه چی یو سړی په جیل کښی وی دَ جیل والاوو سره کـومـه معامله کوی، هغه دا چی کله د خلاصیدو قدرت پیدا کـړی ځان بـه خـلاصـوی اګـرکه په دی باندی ډیرکلونه هم تیر شی۔لکه د جیل سړی دانه وائـی چی خیر دی زما په دی جیل کښی ډیر وخت اوشو، زه نور ځان نه خلاصوم!!۔که دی سړی دا ښـځـه لـمـانـځـه تـه پـریښوده او نیك انسان تری جوړ شو، نو بیا د ځان خلاصولو کوشش ورته نه دی پکار۔

٤ – دی ښـځـی تـه پکار دی چی خپل میړه ته د هدایت دعاګانی وکړی۔دارنګه هغه ته نصیحت وکړی۔ځکه عام طور سره خاوند د خپلی ښځی خبره منی۔

که د ناپوه طبیب او ډاکټر د لاسه څوک مړ شی

سوال : کـه یـوه ښـځـه خپـل زوی ته افیون ورکړی، ددی لپاره چی اودهٔ شی، او ماشوم

ددی نه مړ شی۔نو په دی صورت کښی په دی ښځه باندی څه شی لازم دی ؟

جواب : په دی صورت کښی که واقعی دغه ماشوم د افیونو خوړلو د وجی نه مړ شوی وی، یعنی په دی باندی یقین یا غالب گمان وی، نو دا ښځه ضامنه ده۔په دی باندی د قتلِ خطاء دیت او کفاره دواړه لازمیږی۔رسول اللہ ﷺ فرمایلی دی :

من تطبب ولا یعلم منه طبّ فهو ضامن.

(رواه أبوداود ٣/٨٦٦، رقم ٣٨٣٤، وابن ماجه ٢/٢٥٧، رقم ٣٤٦٦).

(څوك چی طبابت – ډاکټری – کوی او په طبابت نه پوهیږی نو (که څه نقصان مریض ته ورسی) نو هغه ذمه وار دی)۔

په بل روایت کښی راغلی:ولم یکن بالطب معروفا فهو ضامن۔

امام خطابی رحمه الله لیکلی : لا اعلم خلافا فی ان المعالج اذا تعدی فتلف المریض کان ضامنا۔

علامه ابن رشد په بدایۀ المجتهد کښی لیکلی:

ولا خلاف انه اذا لم یکن من اهل الطب انه یضمن لانه متعد۔

په دی صورت کښی د قتلِ خطاء حکم جاری کیږی۔او قتل خطاء کښی به قاتل دیت ورکوی او کفاره به هم ورکوی۔دلته دیت دَ مړی د خپلوانو (پلار، ورونو، او نیکه) حق دی،که هغوئ ددی ښځی نه دیته اخلی نو په ښځه لازم دی چی دیت ورکړی۔خو غالبا خلك دَ خپلی ښځی نه دیت نه اخلی۔او کفاره په ښځی باندی لازم ده چی کفاره به ورکوی۔اوکفاره غلام آزادول دی، که غلام نه وی نو بیا دوه میاشتی پرله پسی روژی نیول دی۔او دَ روژو په ځای فدیه ورکول جائز نه دی۔ځکه په دی باندی هیڅ دلیل نشته۔بلکه داچی، روژه په خپله د غلام آزادولو بدل دی۔نو فدیه به څرنگه دَ بدل په بدل کښی جائز شی۔

(دَ تفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص ٥/١٥، ، الطب النبوی لابن القیم ،ص: ٢٦٤۔ ٢٦٦زاد المعاد٣/١٠٩وگوره)۔

د زنا په باره کښی یوه مسئله او د هغی حل

سوال : یوه ښځه به د خپل ماما کور کره تلله۔کله نا کله به ئی ماماځ هم د خپل

خدمت دپاره دَ دوه دری ورځو دپاره خپل کور کښی ایسارولـه۔پـه دی دوران کښی ددی جینئ(انجلنئ) خیټـه وشوه۔دشپږو میاشتو نه پس دَ ښځی مور د خپل کور والو په مرستی سره په هسپتال کښی ددی ماشوم اوغورزول۔
د جینئ دَ مور د بیان مطابق چی کوم ماشوم اوغورزولی شو نو هغه ماشوم ژوندی هلك وو۔بلکه دَ هغی په غیږ کښی هغه ساه ورکړه۔د جینئ کور والاوو د حمل ساقطولو نه پس د هغی د ماما په زوی باندی دعویٰ وکړه۔د ښځی د بیان مطابق د ماما زوی ورسره په زوره زنا کړی، هلك د دروازی بنده ددی نه پس ئی زما په خلی باندی لاس کیښودل او په زوره ئی راسره زنا وکړه۔ څه ساعت پس ما په ژړا ژړا سره خپلی مامئ ته شکایت وکړو۔خو مامئ را ته وویل چی ماما ته دا خبره مه ذکرکوه۔
مامئ دداسی واقعی نه بیخی انکار کوی۔ هغه په خپل انکار باندی قسَم کولو ته هم تیاره ده ،هلك ددینه انکاری دی۔ هلك دا اقرار هم کوی چی جینئ زما بستری ته راغلی وه۔اوزه ئی مجبوره کړم۔مونږ جامی هم اونه ویستلی، صرف ښکلول را ښکلول مووکړل۔او قسم کوی چی په ما باندی غسل هم نه دی واجب شوی۔اونه مونږ دواړو پرتوګونه ویستلی دی۔
۲ – د ښځی د کورنئ له طرفنه د هلك سره د جرګی په ذریعه رابطه وشوه، مګر هلك او د هلك پلار صفا انکار وکړو۔د جینئ د کور خلقو د اولنئ جرګی د ناکامئ نه پس په هلك باندی قاتلانه حمله وکړه او هغه ئی سخت زخمی کړو۔د دری ګولیو لګیدلو نه پس هم هلك ژوندی دی۔د جینئ وارثان وائی چی ددی جینئ سره دی یاخو دا هلك نکاح وکړی، یا دی خپل هلك قتل کړی۔مونږ به خپله جینئ قتل کړو۔اوس د دواړو فریقینو ترمینځه د صلحی دپاره جرګی د دوئ نه ضمانت او ښکاره واك اخستی ۔ هلك او جینئ دواړه د هر قِسم تسلئ او قسَم خوړولو دپاره تیار دی۔جینئ سره د زنا کولو شرعی ګواهان موجود نه دی۔ هلك وائی چی زه په مسجدکښی د زررونو خلکو مخامخ قسَم کولو ته تیاریم چی ما دی جینئ سره زنا نه ده کړی۔
۳ – نو مهربانی وکړئ۔د شریعت له مخه وضاحت وکړئ۔دی دپاره چی د جرګی مشرانو ته په صلح کولو کښی آسانی پیدا شی۔ځکه دواړه فریقین دَ غټو غټو

خاندانونو سره تعلق لری چی ددی په وجه د سختی خانه جنګۍ خطره ده۔
٤ – تاسی د جرګی د مشرانو سره تعاون وکړئ او ددی مسئلی د مستقل حل لپاره جواب ولیکئ۔۔ډیره ډیره شکریه !
مخلص : ممبران اصلاحی جرګه۔(خلیل عوامی اتحاد رجسټرډ تهکال بالا پشاور)۔

جواب : د جواب ورکولو نه مخکښی بطور مقدمه یوه خبره یاد لرل پکار دی۔او هغه دا چی موږ مسلمانان یو۔موږ ټولو باندی د دین په هر شعبه کښی د الله رب العزت او د محمد رسول الله ﷺ حکم منل ضروری دی۔

مذکوره مسئله کښی یو خو زموږ رسم، رواج، او پښتو ده۔بل طرفته قرآن او حدیث دی۔په موږ ټولو باندی د قرآن او حدیث تابعداری ضروری ده۔د خپل مزاج، رواج د دین موافق جوړول ضروری دی۔کنه د ایمان دعویٰ کول بی بنیاده دی۔

الله رب العزت ارشاد فرمائی :
﴿ وما كان لمؤمن ولا مؤمنة اذا قضى الله ورسوله امرا ان يكون لهم الخيرة من امرهم ﴾ . الآية، الاحزاب ٣٦.

(او کله چی الله او د هغه رسول (ﷺ) په څه معامله کښی فیصله وکړی نو هیڅ یو مسلمان سړی او ښځی له په دی باره کښی د بلی څه فیصلی قبلولو اختیار نشته دی)۔

او رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی :
﴿ لا يؤمن احدكم حتى يكون هواه تبعا لما جئت به. (المشكاة).

٢ – دویمه دا چی : دلته چی څه شوی دی، دا دَ پردی نه کولو دَ وجی نه شوی۔افسوس ! چی مونږ خپلو ښځو، خویندو، لونړو ته ښکاره رخصت ورکړی۔چیرته چی ځی او کله چی ځی، تللی شی۔

٣ – دریمه خبره اصل مسئله ده۔نو یاد ساتل پکار دی چی لکه څنګه چی زنا قبیح او شنیع فعل دی، او ددی سزاء او جزاء خرابه ده۔نو دغه شان د زنا د ثبوت دپاره اسلامی شریعت سخت شرائط لګولی دی۔

اول شرط : یو نارینه او زنانه باندی هله زنا ثابتیږی، کله چی په دوئ باندی څلور عاقل، بالغ، عادل او مسلمان سړی ګواهی ورکړی۔که چیری یو سړی او ښځه په زنا کولو

اوليـدلی شی او ګواهان دوه يا دری سړی وی۔ نو بيا هم په دی ښځه او سړی باندی د زنا حد نه جاری کيږی۔ تر څو پوری چی څلور سړی ګواهی ورنه کړی۔

الله رب العزت ارشاد فرمائی :

﴿ واللاتی يأتين الفاحشة من نسائكم فاستشهدوا عليهن اربعة منكم ﴾ (النساء).

﴿ والذين يرمون المحصنات ثم لم يأتوا بأربعة شهداء فاجلدوهم ثمانين جلدة ﴾.

﴿ لولا جاؤا عليه باربعة شهداء فاذ لم ياتوا بالشهداءِ فأولئك عند الله هم الكاذبون ﴾. (النور).

دويم شرط : يـو ښځه او سړی هغه وخت زنا کار شمارلی شی هرکله چی څلور عاقل، بالغ، عادل مسلمانان سړی داسی ګواهی ورکړی چی مونږ دا ښځه او سړی په داسی حالت کښی وليدل چی د سړی اندامِ مخصوصه (عضوِ تناسل) د ښځی په شرمګاه کښی وو۔

په دی شرط باندی دليل واقعه د ماعز رضی الله عنه ده۔ چی دده نه رسول الله ﷺ داسی تـصريح طلب کړه چی ((أَنِكْتَهَا ؟)) (آيا تا ددی پـه خاص اندام کښی خپل خاص اندام ننه ايستی دی ؟)۔

کـه چيری پـه يـوه مسـئـلـه کښـی څلوريا زيات سړی ګواهی ورکړی چی مونږ فلانئ ښـځـه او سړی په يوه بستره باندی وليدل۔ يا په يوه کټ کښی پراته وليدل۔ يا په يوه کمره کښی مو وليدل۔ تردی چی دوئ خپلی جامی هم ويستلی وی۔

نـو پـه دی ټولو صورتونو کښی به په نارينه او زنانه باندی حد نشی جاری کولی۔ البته تعزير به ضرور ورکولی شی۔

که چيری په نارينه او زنانه باندی داسی ګواهان موجود نه وی، ليکن هغوئ خپله اقرار وکړی چی مونږ زنا کړی ده، نو په دی صورت کښی به هم په دوئ حد جاری کولی شی۔

او پـه دی کښـی دا شـرط هم دی چی دا اقرار به بغير د څه زور يا تشدد نه وی۔ که چيری بغير د زور او تشدد نه نارينه او زنانه اقرار وکړی چی مونږ زنا کړی ده۔ نو که واده کړی وی نو په دوئ به حدِ زنا (رجم) جاری کړی شی۔ دَ دوئ وژل هرګز جائز نه دی۔

اوس چـونـکـه پـه مذکوره مسئله کښی د زنا د ثبوت دپاره نه شرعی ګواهان شته، اونه هلك اقـرار کـوی۔ نـو هـلك بـه زنـاکـار نـه ګـڼـلی کيږی، او دَ جينئ اقرار حجتِ قاصره (کمزوری دليل) دی، يعنی صرف دَ جينئ په وينا به په هلك باندی زنا نه ثابتيږی۔

او په دې باندې د بخاري شریف حدیث دلیل دی :
واغد یا أنیس علی امرأة هذا، فإن اعترفت فارجمها. (بخاری باب الاعتراف بالزنا).
د جینۍ والو د طرفنه په هلك باندې قاتلانه حمله کول، یا هغه قتلول هرګز جائز نه دي۔ دغه شان جینۍ وژل هم جائز نه دي۔
ځکه د انسان قتل په اسلام کښې انتهائي غټ جرم دی۔ الله تعالیٰ فرمائي :
﴿ ومن يقتل مؤمنا متعمدا فجزاؤه جهنم خالدا فيها ﴾. (النساء : ۹۳).
د صحیحینو په حدیث کښې دي : (وقتاله کفر).
بل حدیث کښې دي : لا یزال المؤمن فی فسحةٍ من دینه مالم یصب دمًا حرامًا. (رواه البخاری ٦٨٦٢).
چې د مؤمن همیشه په دین کښې زیادت راځي تر څو چې ناحقه وینه توی نه کړي۔
لیکن هلك باندې چې هر کله څه شرعي ثبوت اونشو، نو هغه ته تعزیر ورکول هم صحیح نه دي۔ او دَ جینۍ والو دا وینا هم درست نه ده چې هلك به یا د دغه جینۍ سره نکاح کوي یابه دواړه وژنو۔
خلاصه دا چې : په دې مسئله کښې هلك زنا کار نه شمارلې کیږي، او نه د هلك وژل یا وهل ټکول جائز دي۔ او د جینۍ والو له طرفه دا ویل هم جائز نه دي چې یابه تهٔ دې جینۍ سره نکاح کوې، یابه مونږ خپله جینۍ او تاسو خپل هلك وژنۍ۔
جرګې والو له پکار دي چې هلك برئ الذمه (خلاص) کړي او جینۍ ته څه تعزیر یعنی حد نه کمه سزا ورکړي۔ او ددې دواړو وژل هرګزجائز نه دي۔
١٤٢٦/٢/١٦هـ.

د قتل خطا مسئله

سوال : که یو سړي کاڼي (کمر) غورزوی او په دې باندې څوك مړ شي آیا په دې سړي دیت د قتل خطاء شته اوکه نه ؟
جواب : په دې کښې دوه صورته دي :
(۱) که دې کمر غورزونکي د طرفنه څه زیاتي نه وي شوې چې مثلا هغه بل کس ته

ئی خبر ورکړی وی، یا مثلا هغه سړی په ارام باندی لګیا وی، دا بل سړی یو دَم ناڅاپه د کمر مختی ته راشی او ووژل شی۔ نو په دی صورت کښی په دی سړی دیت د قتلِ خطاء نشته، ځکه دلته دده د طرفه نقصان نه دی شوی، بلکه نقصان د مقتول د طرفه دی۔

(۲) دویم صورت دادی چی د کمر غورزونکی د طرفه نقصان شوی وی، مثلا هغه بل سړی ته ئی خبر نه وی ورکړی، یائی په داسی حالت کښی خبر ورکړی وی چی کمر را غورزیږی ځکه په دی وخت کښی د کمر نه ځان بچ کول ګران دی۔ نو بیا په دی کمر غورزونکی باندی دیت د قتلِ خطاء شته دی۔ ځکه دلته دده د طرفه نقصان شوی او کفاره به ورکوی۔

اوس که دی کمر غورزونکی مخکښی خبر ورکړی وی او بیا هم یو سړی ددی لاندی راځی نو په دی صورت کښی ددی مقتول نقصان دی، په دی کمر غورزونکی هیڅ شی نشته۔

قال ابن عثيمين : أما اذا كان الحادث بغير قصدٍ ولا تفريطٍ، فإنه لا شئ عليه.

(فتاوی اسلامیه ۳/ ۳۵۱، ومثله قال ابن باز ۳/۳۵۹، فتاویٰ اسلامیة).

۲۰/ شوال، ۱۴۴۳ھ

ښځه وایی ما سره فلانی سړی زنا کړې، آیاپه دغه کس زنا ثابتیدی شی؟

سوال : د یوی بی وادهٔ ښځی سره زنا وکړی شوه، څهٔ وخت ورسته د هغی حمل را ښکاره شو، د ښځی خپل خپلوانو چی کله د زنا په باره کښی دَ دغه ښځی نه پوښتنه وکړه، نو ښځی وویل چی ما سره فلانی سړی زنا کړی!!

لیکن هغه سړی کلك انکار کوی، خو ددی سره سره، د ښځی خپل خپلوان دی مُتهَم هلك ته په قهر دی، او هغهٔ ته د قتل ګواښونه کوی، اوس د دوئ ترمینځ دا لانجه ډیره غټه شوی ده، دی باره کښی تاسو تفصیلاً دُ قرآن او سنت په رڼا کښی وضاحت وکړئ۔ کیدی شی چی الله تعالیٰ د دوئ ترمینځ ستاسو په فتویٰ سره دا لانجه حل کړی۔

جواب : ستاسو په مسئله کښی اول دا خبره واورئ چی په خپل ځان باندی د یو شئ اقرار کول بهترین او ډیر غوره دلیل دی، اقرار ته (سید الادلی) ویل کیږی۔

الله تعالیٰ فرمائی :﴿ بل الإنسان على نفسه بصيرة ﴾. (القيامة : ١٤).
(بلکه انسان په خپل ځان باندی ډیر زیات خبر دی)۔
په الفقه الاسلامی کښی راځی : والإقرار سيد الأدلة، لانتفاءِ التهمة فيه.
(الفقه الإسلامی : ٦/٦١١، فقه السنة).
بله دا چی اقرار په شریعت کښی (حجتِ قاصره) دی، ددی مطلب دا چی یوائحی اقرار کونکی به د خپل اقرار په بناء رانیول کیږی، که په خپل اقرار کښی ئی د بل چا متعلق وویل چی ما سره فلانی هم په دی جُرم کښی شریك وو، نو هغه دویم کس به تر هغی پوری مجرم نهٔ حسابیږی تر څو چی هغه په خپله اقرار نهٔ وی کړی او یا وریاندی گواهان تیر شوی نهٔ وی۔
ددی دلیل دادی چی اولنی کس که بل څوك د ځان سره شریکوی، نو دا به دعویٰ وی او یا به شهادت وی، که هریو شی، نو دداسی یو کس نهٔ شهادت صحیح کیږی او نهٔ دعویٰ۔ ځکه په دعویٰ کښی ثبوت او شهادت ته ضرورت وی، او ددهٔ سره شاهدان نشته، اوکه شهادت شی، نو د داسی کس گواهی هم نشی معتبر کیدی۔ (الفقه الإسلامی).
البته که د خپل ځان په باره کښی چی په خپل هوش او حواس سره د څهٔ اقرار وکړی، نو دا به معتبر وی، که د رانیول کیدو او سزا یو کارئی کړی وی، نو د خپل اقرار د وجی به رانیول کیږی۔
د مقر (اقرار کونکی) په هکله ددهٔ اقرار حجت گرځیدل په قرآن، سنت او اجماع ټولو سره ثابت دی۔ قرآن کریم کښی الله تعالیٰ فرمائی :﴿ وليملل الذی عليه الحق وليتق الله ربه ﴾.
(او په کوم یو کس باندی چی حق وی هغه دی بیان وکړی، او د الله نه چی ددهٔ رب دی، اودی ویریږی)۔
په دی آیت کښی سرِی ته ددی حکم شوی چی په دهٔ باندی د چا څهٔ حق وی، نو دادی ولیکی، چی لیکل ئی وکړل، نو دا داسی شو لکه اقرار ځکه که دا په دهٔ باندی دلیل نهٔ گرځیدلی نو دهٔ ته په لیکلو امر ولی کیدلو، او ددهٔ د لیکلو فائده څهٔ وه ؟
یو بل آیت کښی راغلی :
﴿ يا أيها الذين آمنوا كونوا قوامين بالقسط شهداء لله ولو على أنفسكم ﴾.

(ای ایمان والو! تاسو خاص د الله دپاره په انصاف سره دَ ګواهئ کولو اهتمام کوئ اګرکۀ هغه ګواهی ستاسو په خلاف هم وی)۔

په دی آیت کښی د (شهادت علی النفس) نه مراد په خپل ځان باندی دَ حق الغیر اقرار کول دی۔

په صحیحو احادیثو کښی راغلی چی: نبی ﷺ دَ ماعز بن مالك رضی الله عنه، دارنګه غامدیه رضی الله عنها اقرار قبول کړو، او په هغوئ ئی خپل اقرارونه حجت اوګرځول، په دی وجه ئی په هغوئ (حد) قائم کړو۔

د ماعز رضی الله عنه روایت په (مصنف عبد الرزاق: ٣٢٤/٧، رقم: ١٣٣٤٣، مسند أحمد: ٨٦/٥، رقم: ٢٠٨٢٢، صحیح مسلم: ١٣١٩/٣، رقم: ١٦٩٢، أبوداود: ١٤٦/٤، رقم: ٤٤٢٢، کنز العمال: ١٣٥٤٦، او مشکاة: ٣٥٦٥) کښی راغلی۔

او د غامدی رضی الله عنها روایت په (صحیح مسلم: ١٣٢١/٣، رقم: ١٦٩٥، أبوداود: ٤٤٣٣، ٤٤٤٢، دارقطنی: ٣٢٧، مسند أحمد: ٣٤٧/٥، مصنف ابن أبی شیبة او بیهقی) کښی راغلی۔

په خپله خوښه او هوش حواس سره د اقرار په حجت جوړیدو باندی دَ علماؤ اجماع ده۔ وګوره: (الفقه علی المذاهب الأربعة: ٥٨/٥، الفقه الإسلامی: ٦١١/٦).

ددی احادیثو نه معلومه شوه چی په خپله خوښه او هوس سره اقرار کول حجت دی۔

البته اقرار حجتِ قاصره دی، یواځی اقرار کونکی به په دغه اقرار سره رانیول کیږی، په بل کس باندی ددۀ اقرار ثبوت او دلیل نشی جوړیدی۔ وګوره: (تنقیح الفتاوی الحامدیة کتاب الدعویٰ، کتاب الطلاق، والأشباه والنظائر، البدائع: ٥١/٧، المغنی: ٢٠٧/٨، المهذب: ٢٦٨/٢، المبسوط: ١٨٤/١٧ ومابعدها، تکملة فتح القدیر: ٢٧٩/٦، اللباب: ٧٦/٢، مغنی المحتاج: ٢٣٨/٢، مجمع الضمانات، ص: ٣٦٤، وفی رد المحتار: إن الإقرار حجة قاصرة: ٢٠٣/٤، ٤٦٧).

په شرح مجلیِ الاحکام (ماده نمبر: ٧٨) کښی راغلی:

البینة حجة متعدیة والإقرار حجة قاصرة هذه القاعدة الشرعیة وردت فی کثیر من الکتب الفقهیة.

ددی مثال دادی لکه یو کس په غلا کښې اونیولی شی، دا کس اقرار وکړی چې ما فلانی شی غلا کړی او ما سره عبد الله هم په دغه غلا کښې شریك وو، نو اوس به په عبد الله باندی تر هغې پوری غلا نۀ ثابتیږی، تو څو چې هغۀ اقرار نۀ وی کړی، یا دوه عادلانو مسلمانانو وړباندی ګواهی نۀ وی کړی۔

د زنا مسئله هم داسی حکم لری چې که یوه ښځه اقرار وکړی چې ما زنا کړی، خو ماسره فلانی سړی زنا کړیده، نو ددی په اقرار به هغه کس نۀ رانیول کیږی، تر څو چې هغه کس خپله اقرار نۀ وی کړی، یا عادلانو مسلمانانو وړباندی ګواهی نۀ وی کړی۔

حدیث کښې راغلی: عن أبی هریرة وزید بن خالد الجهنی أنهما قالا : إن رجلا من الأعراق أتـى رسـول الله ﷺ فقال : یا رسول الله : أنشدك الله إلا قضیت لی بکتاب الله، فقال الخصم الآخـر، وهو أفقه منه : نعم، فاقض بیننا بکتاب الله وائذن لی، فقال رسول الله ﷺ : قل. قال : إن ابنی کان عسیفًا علی هذا فزنی بامرأته، وإنی أخبرتُ أن علی ابنی الرجمُ، فافتدیتُ منه بمائة شاةٍ وولیدةٍ، فسألتُ أهل العلم فأخبرونی أنما علی ابنی جلدُ مائة وتغریب عام، وأن علی امرأة هـذا الـرجـم، فـقال رسول الله ﷺ : والذی نفسی بیده ! لأقضین بینکما بکتاب الله : الولیدة والـغـنـم رد وعـلـی ابـنك جـلـد مـائةٍ وتـغریب عامٍ. واغدُ یا أُنیسُ إلی امرأة هذا، فإن اعترفت فارجمها. قال : فغدا علیها فاعترفت فأمر بها رسول الله ﷺ فرجمت.

ددی حـدیـث نـه دا مـسـئـلـه مـعـلـومـه شوه، چې یو کس د بل کس سره د زنا کولو اقرار وکـړی، نـو هـغـه به په خپل اقرار نیول کیږی، البته دۀ چې د چاسره زنا کړی نو هغۀ ته به ددۀ د اقـرار په وجه سزا نۀ ورکول کیږی، ځکه دی حدیث کښې رسول الله ﷺ ددی هلك د اقرار په وجه په ښځه باندی حد نۀ دی قائم کړی، بلکه انیس رضی الله عنه ته ئی وفرمایل، چې لاړ شـه د ښـځـې نـه ددی خبری تپـوس وکـړه، کـه هـغې په زنا باندی اقرار وکړو، (نو چونکه هغه محصنه یعنی وادۀ شوی ښځی ده) نو هغه رجم کړه۔

اوکه اقرار ئی اونۀ کړو، نو په هغې باندی څۀ سزا نشته۔

لکه په دی خبره ددینه بل زیات صریح حدیث دادی :

عن سهل بن سعدٍ عن النبی ﷺ أن رجلاً أتاه فأقرّ عنده أنه زنی بامرأة سماها له فبعث رسول الله ﷺ إلی المرأة فسألها عن ذلك، فأنکرت أن تکون زنت فجلده الحدَّ وترکها.

(رواه أبوداود، وقال الإمام الألبانی : صحیح).

(یوسړی نبی ﷺ ته راغی او دَ هغه خواته ئی اقرار وکړو چی دهٔ ما د فلانی ښځی سره زنا کړیده، نو نبی ﷺ هغه ښځی ته ثوك ولیږل او دَ هغی نه ئی ددی په باره کښی تپوس وکړو، نو هغی دَ زنا کولو نه انکار وکړو، نو نبی ﷺ په دغه سړی باندی حد جاری کړو (په دُروئی ووهلو) او ښځه ئی پریښودله).

په الفقه الاسلامی : (۵۹/۶) کښی راغلی :

إذا أقر أحد الشریکین فی الوطءِ بالزنا وأنکر الآخر، وجب علی المقر الحدُّ.

په الفقه علی المذاهب الاربعہ (۸۵/۵) کښی راځی :الإقرار بالزنا لا یتعدی صاحبه.

دی باره کښی دا خبره یاد ساتل پکار دی چی : د اقرار نه رجوع کول هم نهٔ صحیح کیږی. مګر په حدود الله کښی کهٔ د خپل اقرار نه رجوع وکړی شی، نو په اقرار کونکی باندی جرم نهٔ ثابتیږی.

(الفقه الإسلامی : ۳۸۷/٦، بدایة المجتهد : ۴۳۰/۲، مغنی المحتاج : ١٥٠/٤).

ددی ټول تفصیل نه ددی خبری وضاحت کیږی چی چا په خپل هوش او حواس سره په خپل ځان باندی د زنا کولو اقرار وکړو، نو په دی صورت کښی دا کس زانی حسابیږی، دهٔ به د زنا کولو سزا (حد، یا رجم) ورکولی شی. لیکن که دهٔ وویل چی ما سره فلانی زنا کړی نو هغه به ددهٔ د اقرار په وجه زانی نهٔ شماریږی.

ستاسو په مسئله کښی دا ښځه زانیه حسابیږی، او سړی تر هغه پوری زانی نهٔ حسابیږی تر څو چی هغهٔ اقرار نهٔ وی کړی یا ددهٔ په زنا کولو باندی شرعی ګواهان نهٔ وی تیر شوی.

ښځی ته به د زنا کولو سزا هغه وخت ورکولی شی، چی هغی په خپله رضا سره زنا کړی وی، که هغه وائی : ما سره په زور او زبردستئ سره زنا شویده، او یا داچی هغه کوم ځائی او طریقه بیانوی په هغی کښی د زور او زبردستئ صورت جوړیږی، نو په دی صورت کښی په هغی هم جرم او سزا نشته.

امام بخاری رحمه الله په دی مسئله په خپل صحیح کښی داسی باب راوړی.

باب إذا استکرهت المرأة علی الزنا فلا حد علیها لقوله تعالی : ﴿ ومن یکرههن فإن الله من

بـعـد إكـراهـهـن غـفـور رحيـم ﴾. (الـنـور: ٣٣). قال المهلب: قوله تعالىٰ: فإن اللّٰه من بعد إكـراهـهـن غـفـور رحيم: يعنى الفتيات المكرهات. قال الليث: حدثنى نافع أن صفية بنت أبى عبيـد أخبـرتـه أن عبـدًا من رقيق الإمارة وقع على وليدة من الخمس، فاستكرهها حتى افتضها، فجلده عمر الحدَّ، ونفاه ولم يجلد الوليدة من أجل أنه استكرهها. (البخارى: ٢/١٠٢٧).

يو بل روايت كښې راځي:

عـن الشـعبـى أن شـراحة الهـمـدانية أتـت عليًا فقالت: إنى زنيت، فقال: لعلك غيرى، لعلك رأيتِ فى منامك، لعلك استكرهتِ، كلّ ذلك تقول: لا.

(أخرجه أحمد: ١/١٤١، ١٥٣، وصححه الإمام الألبانى والشيخ شعيب الأرناؤوط).

په ابن أبى شيبه (٩/٥٥٠، رقم: ١٤٧١) كښې روايت دى:

عن نافع أن رجلاً أضاف أهل بيت فاستكره منهم امرأة، فرفع ذلك إلى أبى بكر، فضربه ونفاه، ولم يضرب المرأة.

پـه الـمـوسـوعـې الفقهيې الكويتيې كښې راځي: اتـفـق الـفـقـهاء على أنه لا حدّ على المرأة المكرهة على الزنى لقول النبى عَلَيْهِ السَّلَامُ: تجاوز اللّٰه عن أمتى الخطأ والنسيان وما استكرهوا عليه.

ابـن قـدامـه الـمـقـدسى، په المغنى (٩/٥٩) كښې فرمائى: ولا حـدَّ على مكرهةٍ فى قول عامة أهل العلم، روى ذلك عن عمر والزهرى وقتادة والثورى والشافعى وأصحاب الرأى، ولا نـعلم فيه مخالفًا، وذلك لقول رسول اللّٰه ﷺ: عفى لأمتى عن الخطأ والنسيان وما استكرهوا عليه.

//////

کتاب المیراث

آیا ذوی الارحام په میراث کی حق لری؟

سوال : یوه ښځه مړه شوه، ددی نزدی خپلوان هیڅوك نشته۔ددی نه صرف د لور له طرفه دوه لمسیان او یو لمسۍ پاتی شوی۔ آیا دا لمسی د خپلی نیا (انا) میراث وړلی شی اوکه نه ؟ ځکه دوئ ئی ذوی الأرحام کیږی۔

سائل : معاذ اللّٰه، ابو سیف اللّٰه پیښور

جواب : که صورت دَ مسئلی داسی وی څرنګه چی په سوالیه کښی لیکل شوی نو په دی صورت کښی ددی ښځی میراث ددی د لور له طرفه لمسو ته پاتی کیږی، ځکه دا ددی ذوی الارحام کیږی۔ حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښی لیکی :

وهم عشرة أصناف : الخال والخالة والجدّ للأم، وولد البنت، وولد الأخت، وبنت الأخ، وبنت العمّ، والعمة والعم للأم وابن الأخ للأم، ومن أدلى بأحد منهم، فمن ورثهم قال : أولاهم أولاد البنت، ثم أولاد الأخت وبنات الأخ، ثم العمّ والعمّة والخال والخالة، وإذا استوى اثنان قدّم الأقرب إلى صاحب فرضٍ أو عصبةٍ. (فتح الباری).

او دَ مړی چی کله نزدی خپلوان(عصبات، ذوی الفروض) نهٔ وی، نو په دی صورت کښی ددهٔ نه ذوی الارحام هم میراث وړلی شی۔لکه حدیث کښی راځی :

عن عائشة قالت : قال رسول الله ﷺ : الخال وارث مَن لا وارث له.

(رسول الله ﷺ فرمائی : ماما دَ هغه چا وارث دی چی دَ چاچی بل وارث نهٔ وی)۔

امام ترمذی رحمه الله ددی نه پس فرمائی :

واختلف فيه أصحاب النبی ﷺ فورّث بعضهم الخالَ والخالةَ والعمّةَ وإلى هذا الحديث ذهب أكثر أهلِ العلم فی توريث ذوی الأرحام. (رواه الترمذی والحديث صحيح).

(یعنی دی باره کښې دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم اختلاف دی چې ذوی الارحام میراث وړلی شی اوکه نهٔ ؟ خو ددی حدیث په بناء ډیرو علماؤ ویلی چې ذوی الارحام میراث وړلی شی)۔
علامه مبارکفوریؒ په تحفۃ الاحوذی کښې ددی په شرح کښې لیکی :
فیه دلیل لمن قال بتوریث ذوی الارحام وهو القول الراجح، وقد تعسّف القاضی أبو بکر بن العربی فی الجواب عن هذا الحدیث فقال : المراد بالخال السلطان.
(په دی کښې دَ هغه چا دپاره دلیل دی چې ذوی الارحام میراث خوارهٔ گڼی او همدا راجح قول دی۔او چا چې ددی حدیث نه دا جواب کړی چې دَ ماما نه مراد بادشاه دی، نو هغهٔ تکلف کړی، لکه قاضی ابو بکر بن العربی)۔
شیخ انور شاه کشمیری صاحب هم په العرف الشذی شرح سنن الترمذی کښې ددی حدیث نه د ذوی الارحامو په میراث وړلو استدلال کړی۔
دارنگه حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښې لیکی :
وأخرج بسند صحیح عن ابن مسعود أنه جعل العمة کالأب والخالة کالأم، فقَسَم المال بینهما أثلاثًا.(فتح الباری).
(د ابن مسعود رضی الله عنه نه په صحیح سند سره ثابت دی چې هغهٔ دَ ترور (دپلار خور) د پلار پشان او دَ مور خور دَ مور پشان گرځولی، او دوئ ته دی دریمه دریمه حصه ورکړی)۔
دارنگه ددی حدیث لاندی امام نوویؒ او حافظ ابن حجرؒ لیکی :
وابن الأخ منهم، واستدل بقوله : ابن الأخت منهم مَن قال بأن ذوی الأرحام یرثون کما ورث العصباتُ، (فتح الباری، التمهید والاستذکار لابن عبد البر).

چې پلار یوزوی ته څه ورکړی
بیا ئې ورسته نور بچې پیداشی آیا هغوی پدی مال کښې حق لری؟

سوال : زما پلار ماته پخوا څهٔ مال راکړی وو۔د مال راکولو څو کال ورسته هغهٔ بل وادهٔ وکړو، د هغی ښځی نه ئې څوی پیدا شهٔ۔په دی وخت کښې زهٔ د پلار نه بیل شوی ووم۔اوس چې کله پلار مړ شهٔ۔زما دغه کشر ورور وائی : ماته به هغه مال هم را تقسیموی، کوم چې پلار تاته پخوا درکړی وو۔زمونږ سوال دادی چې آیا ماسره می کشر

ورور په دغه مال کښې حق لري اوکه نۀ ؟

جواب : که صورت دَ مسئلې دغسې وي نو په دې صورت کښې ستا ورور تاسره د پلار په درکړې شوي مال کښې حق نۀ لري۔ ځکه دا مال چې کله تاته ستا پلار درکړو، نو دا ستا ملکیت کښې راغې۔نو ستا په مال کښې به څنګه ستا ورور تاسره شریك شي ؟ البته کۀ ستا ورور په هغه وخت کښې موجود وي – کله چې تاته ستا پلار مال درکولو– نو بیا ستا په پلار باندې دا لازمه وه چې دغه خپل دغه بل ځوی ته هم هومره مال ورکړې وای۔

په دې خبره دلیل دَ مسلم شریف حدیث دی، کوم ئې چې دَ نعمان بن بشیر – رضی الله عنه – نه روایت کړی۔

الغرض : کله چې تاته دَ پلار له طرفه مال درکړل شو، نو تۀ ددې مال مالك شوې۔نو په دې کښې ستا ورور تاسره دَ شراکت حق نۀ لري۔اوکه هغه دَ شراکت دعویٰ لري نو شرعي دلیل به پیش کوي۔

د میراث د تقسیم مسئله

سوال : دَ ډاکټر محمد دین په نوم یو کس مړ شۀ۔ددۀ نه یوه ښځه، درې زامن او یوه لور پاتې شوه۔دۀ څلویښت مرلې زمکه پریښې ده۔نو اوس ددې میراث خورو ترمینځه به دا زمکه څرنګه تقسیمیږي ؟

جواب : که چیرې صورت دَ مسئلې دغه شان وي څرنګه چې پورته ذکر شو، نو دَ مړي ډاکټر محمد دین میراث به په دې لاندې طریقه تقسیمولی شي۔

متوفیٰ : محمد دین ترکه : ٤٠ مرله زمکه

میــــــــــــــــــــــــــــــــت

ښځه	۳ زامن		لور
ثمن	عصبه	۷	عصبه
۱	——		۵ مرله زمکه
——	۱۰، ۱۰ مرله زمکه		
۵			

یعني : دښځې لپاره پنځه مرلې، دلور لپاره هم پنځه مرلې او دَ هر یو زوی لپاره لس، لس مرلې زمکه به په میراث کښې دوئ ته ورسیږي۔

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ ولهن الثمن مما ترکتم ان کان لکم ولد ﴾۔(دَ ښځو دپاره ستاسو په مال کښې آتمه حصه ده، په دې شرط چې ستاسو بچې وی)۔او الله فرمائي : ﴿ للذکر مثل حظ الانثیین ﴾۔(دَ سړی دپاره به دَ ښځې په مقابله کښې دوه حصې وی)۔

د وارث لپاره په خپل مال کې وصیت کول

سوال : یو سړی وائي : زهٔ مسافر خان دَ صفدر خان زوی دا اقرار کوم چې زما د فوت کیدو نه ورسته چې کومه زمکه پاتې کیږي، دا ټوله ما خپلې ښځې ته چې ((اولیاء جانه)) نومیږي چې دَ شهید صالح محمد خان مور ده، بخشش کړو۔نو ددې لپاره چې زما د وفات نه پس ورسره څوك زما په مال او جائیداد کښې دعویٰ اونهٔ کړي، دا یو تسلیمي خط مې ورته په حضور د لاندې مسلمانانو نوشته کړو۔نو په آینده کښې د ذکر شوې ښځې خوښه خپله ده چې مال او جائداد خوري اوکه بل چاته ئې بخشش کوي، دا اقرار زهٔ په حضور د لاندینو ګواهانو کوم، دې دپاره چې څوك پرې دعویٰ اونهٔ کړي۔

(بیائې په دغه کاغذ کښې دَ ګواهانو نومونه اچولي دي)۔

جواب : که چیرې صورت دَ مسئلې داسې وي کوم چې په سوالیه کښې ذکر شوی، نو د مسافر خان ټول ماد دده دَ ښځې حق نهٔ کیږي۔بلکه د مسافر خان ښځه به ددهٔ د مال نه صرف څلورمه حصه اخلي۔باقي مال به ئې عصبه ؤ ته پاتې کیږي۔ځکه د مسافر خان ددې خبرې مطابق چې (زما د فوت کیدو نه ورسته چې زما څهٔ مال او جائیداد پاتې وي نو دا ما خپلې ښځې اولیاء جانې ته بخشش کړو) نو مسافر خان چې (زما د مرګ نه روسته) وویل، دا دَ وصیت په حکم کښې راځي۔ځکه وصیت په شریعت کښې دیته وائي چې :

۞ تمليك مضاف إلى مابعد الموت بطريق التبرع. (الفقه الإسلامي : ٨٦/٤). ٢ – الوصية : وهي تصرف مضاف إلى ما بعد الموت. (أيضًا : ١١٣/٤).

نو کله چې دا دَ وصیت حکم لري، په دې وجه د مسافر خان له طرفه خپلې ښځې ته مال او جائیداد ورکول نهٔ صحیح کیږي۔البته که د مسافر خان نور وارثان ورته اجازه کوي نو

بیا صحیح ده۔

دلائل دادی :

ژ رسول الله ﷺ فرمائی : إن الله قد أعطیٰ کلَّ ذی حقٍ حقه، ألا لا وصیةً لوارثٍ. (رواه النسائی : ۱۳۱/۲، وأبوداود، کما فی المشکاة).

(الله تعالیٰ هر حقدار ته دَ هغهٔ حق او حصه ورکړی۔ خبردار ! دَ وارث دپاره وصیت کول جائز نهٔ دی)۔

بل حدیث کښی دی :

ژ لا تجوز الوصیة لوارثٍ، إلا أن یشاءَ الورثةُ. الدارقطنی).

(دَ وارث دپاره وصیت کول جائز نهٔ دی، مګر که نور وارثان اجازت وکړی)۔

یو بل حدیث کښی دی :

ژ لا وصیّةَ لوارثٍ، إِلَّا أن یُجیز الورثة. (الدارقطنی).

الفقه الاسلامی (۴۱/۸) کښی دی : یشترط لنفاذ الوصیة أن یکون الموصیٰ لهٗ وارثًا للموصِی عند موت الموصی، إذا کان هناك وارثًا آخرُ لم یجز الوصیة.

هدایه (۶۲۵/۴) کښی دی : ولا تجوز لوارثه.

(د خپل وارث لپاره وصیت کول جائز نهٔ دی)۔

دارنګه فقه السنۃ (۴۲۳/۳، بحث شروط الموصیٰ له)۔

فتاویٰ نذیریه (۲۳۱/۳، ۲۳۶، ۲۳۷)۔ کفایۃ المفتی : ۴۱۳/۶، ۴۲۷۔

البته مسافر خان ته جائز دی چی خپلی ښځی ته په خپل صحت کښی ټول مال هبه او بخشش کړی۔ دی باره کښی هیڅ منع نشته۔

د وارث لپاره په خپل مال کی وصیت کول

سوال : کهٔ یو سړی په خپل ژوند کښی ښه په هوش او حواس کښی یو زوی یا لور ته د خپل مال وصیت وکړو، او باقی میراث خوارهٔ ئی محروم کړل، آیا دهٔ د مرګ نه پس باقی میراث خوارهٔ دَ میراث طلب کولو حق لری اوکهٔ نه ؟

جواب : دَ وارث دپاره وصیت کول جائز نهٔ دی، مثلاً یو زوی ته پلار وصیت وکړی چی

زما د مرګ نه پس دې زما د مال دومره حصه ستا شي، یا صرف یوې لور ته دَ څهٔ مال وصیت اوکړي۔نو دا کار جائز نهٔ دی :

او په دې باندې دَ رسول الله ﷺ دا حدیث شریف دلیل دی :

ژ عن عمرو بن خارجة – رضي الله عنه – قال : خطب رسول الله ﷺ فقال : إنّ الله قد أعطى كلّ ذي حقٍ حقّهٗ، ألا لا وصيةَ لوارثٍ. (رواه النسائي : ١٣١/٢).

(عمرو بن خارجه ؓ وائي : رسول الله ﷺ تقریر وکړو او په هغې کښې ئې وفرمایل : بیشکه الله تعالیٰ هر حقدار ته د هغهٔ حق ورکړی، نو یاد ساتئ ! دَ وارث دپاره وصیت کول جائز نهٔ دي)۔

دارنګه بل حدیث کښې دي :

ژ عن أبي أمامة – رضي الله عنه – قال : سمعت رسول الله ﷺ يقول في خطبته عامَ حجة الوَداع : إن الله قد أعطى كل ذي حق حقه فلا وصية لوارثٍ. (رواه أبوداود، كمنا في المشكاة تفصيلاً). (ددې حدیث هم دغه معنیٰ ده).

الفقه الاسلامی (٨/ ٤١) کښې دي : يشترط لنفاذ الوصية أن يكون الموصىٰ لهٗ وارثًا للموصِي عند موت الموصي، إذا كان هناك وارثًا آخرُ لم يجز الوصية.

دارنګه هدایه (٤/ ٦٢٥) کښې دي : ولا تجوز لوارثه.

(خپل وارث دپاره وصیت کول جائز نهٔ دي)۔

دارنګه فقه السنۃ (٣/ ٤٢٣، بحث شروط الموصیٰ له)۔فتاویٰ نذیریه (٣/ ٢٣١، ٢٣٦، ٢٣٧)۔اوګوره۔

کفایۃ المفتی : ٦/ ٤١٣، ٤٢٧۔کښې دي : (دَ وارث په حق کښې دَ نورو وارثانو د رضامندۍ نه بغیر وصیت کول غیر معتبر دي)۔

په اولاد کښې یو بچي ته څه شی هبه کولو او نورو بچو ته د نه ورکولو حکم

سوال : آیالاندینی هبه او بخشش صحیح دی؟

زهٔ شمشی جانه دَ شیر حسن خان لور په خپل ژوند کښې دا فیصله کوم، چې زما د خاوند دَ مرګ نه را په دې خوا زما کشره لور ګل مرجانه چې دَ امان الله دَ سید ابراهیم دَ زوی

ښځه ده، زما ډیر قدرعزت کوی، مړه او ژوندئ زهٔ ددی لوریم، او د خاوند د مرګ نه ورسته ئی په ما باندی ډیر مصرفونه وکړل، نو له دی کبله ما ټول مال یعنی کور او پټی کشری لور ګل مرجانی ته هبه او بخشش کړو، او نوری لونی به زما دَ کور او پټی نه بیخی محرومی وی۔

زهٔ په خپل اقرار کښی صادقه یم او دا لاندینی کسان دَ شهادت په توګه ما په خپل ژوند کښی را وغوښتل او خبر می کړل۔(ګواهان : غلام حبیب، غلام محمد، وزیر خان، فراموزخان)۔

جواب : په دی صورت کښی چی شمسی جانی خپلی کشری لور ګل مرجانی ته ټول کور او پټی هبه او بخشیش کړی، او نوری لونړه ئی محرومی کړی۔نو ددی دا هبه او بخشش حرام دی۔دا هبه نه صحیح کیږی۔د خپل اولاد په مینځ کښی په ورکړه کښی عدل کول فرض دی۔

ځکه حدیث کښی دی :

ژ عن النعمان بن بشير – رضى الله عنه – أنه قال : إنَّ أباهٗ أتى به رسول الله ﷺ فقال : إنى نحلتُ ابنى هذا غلامًا كان لى، فقال رسول الله ﷺ : أكلَّ ولدِك نحلته مثل هذا ؟ فقال : لا، فقال رسول الله ﷺ : فارجعه. (رواه مسلم : ۳۶/۱، والبیهقی : ۱۷۷/۶، كما فى المشكاة : ۲۶۱/۱).

(نعمان بن بشیر رضی الله عنه فرمائی : زهٔ خپل پلار رسول الله ﷺ ته راوستم، زما پلار رسول الله ﷺ ته وویل : ما دغه زوی ته خپل یو غلام ورکړو۔(تهٔ ورباندی ګواه شه)۔رسول الله ﷺ زما پلار ته وفرمایل : آیا تا خپلو ټولو بچو ته داسی (غلام) ورکړی ؟ زما پلار ورته وویل : نه ! رسول الله ﷺ زما پلار ته وفرمایل : دغه غلام تری بیرته واخله)۔

ددی حدیث په نورو روایتونو کښی داسی الفاظ دی، چی رسول الله ﷺ وفرمایل :

ژ اتقوا الله واعدلوا فى أولادكم.

(د الله نه وویریږئ او د خپلو بچو په مینځ کښی عدل او برابری کوئ)۔

بل روایت کښی دی :

ژ فلا تشهدني إذاً، فإني لا أشهد على جورٍ.
(نو بيا ما په دې باندې ګواه مهٔ جوړوه، ځکه زهٔ په ظلم باندې ګواهي نهٔ کوم).
بل روايت کښې دي :
ژ اشهد على هذا غيري.
(دَ ظلم په دې فيصله باندې زما څخه علاوه بل څوك ګواه جوړ کړه).
بل روايت کښې داسې الفاظ دي :
ژ فليس يصلح هذا، وإني لا أشهدُ إلّا علىٰ حقٍ.
(دا هبه نهٔ صحيح کيږي او زهٔ دَ حق نه علاوه په بل څه ګواهي نهٔ کوم).
دا ټول الفاظ دَ حديث په دې خبره ښکاره دليل دې چې د اولاد ترمينځه په ورکړه کښې عدل او برابري کول فرض دي.
کهٔ چا د خپلو بچو په مينځ کښې څهٔ مال وغيره تقسيم کړو، او هغه تقسيم په غير شرعي طريقې سره وي.يا چا د خپلو بچو ترمينځه فرق وکړو چې مثلاً يو ته ئې څهٔ مال هبه کړو، او نور بچې ئې ترينه محرومه کړل، نو دا ټول کارونه (هبه، تقسيم) به حرام او غلط وي.په دې هبه او تقسيم باندې ګواه جوړيدل هم حرام دي.لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ په دې باندې د ګواه جوړيدلو نه انکار وکړې. هر مسلمان به په داسې هبې او تقسيم باندې دَ ګواه جوړيدو نه انکار کوي !! ځکه چې دا په ظلم او زياتي ګواه جوړيدل دي.
ژ الله تعالىٰ فرمائي :﴿ ولا تعاونوا على الإثم والعدوان ﴾.
(تاسو دَ يو بل سره په ګناه او ظلم او زياتي باندې مدد مهٔ کوئ).
الغرض : دَ شمسي جانې هبه او بخشش صحيح نهٔ دی.داسې بخشش حرام دی، په دې هبه باندې ګواه جوړيدل هم حرام دي.بلکه دَ شمسي جانې په مال کښې ټولې لورګانې پوره پوره حق لري.
شيخ ګوهر رحمٰن رحمه الله په تفهيم المسائل (٣٩٣/٤) کښې ليکي :
((خپل اولاد کښې بعضو ته هبه ورکول او بعضو ته نهٔ ورکول ظلم دی، حديث کښې ديته ظلم ويلې شوی.خاصکر زامنو ته جائيداد هبه کول او لونړه محرومول خو نور زيات

ظلم دی))۔
بیا لیکی: ((پاتی شوه دا خبره چی آیا عدالت داسی هبه فسخ کولی شی؟ نو ددی جواب دادی چی چونکه نن صبا دَ لوڼو محرومولو لپاره دَ زامنو په نوم د جائیداد منتقل کولو ظلم عام شوی، پدی وجه ددی ظلم دَ بندولو لپاره که چیری مسلمان او عادل قاضی دَ امام احمد رحمه الله او د بعضی نورو امامانو د تحقیق مطابق دا قِسم ظالمانه بخششونه فسخ (ختم) کړی نو ددی گنجائش شته دی))۔
مفتی کفایت الله محدث دهلوی صاحبؒ په کفایۃ المفتی (۸/۱۸۰، کښی لیکی:
((بعضی اولاد ته هبه ورکول او بعضو ته نۀ ورکول ناجائز دی، چی دیته رسول الله ﷺ ظلم او زیاتی ویلی، او د واپس اخستلو حکم ئی فرمایلی۔ د ښځو یا وړوکی اولاد محروم ساتلو په غرض سره غټو بچو ته هبه ورکول حرام او ظلم دی۔ او که چیری پلار داسی هبه کړی وی نو واپس اخستل به واجب وی۔ که چیری واپس ئی وانۀ خلی نو دَ قیامت په ورځ به رانیولی کیږی او دَ سخت عذاب حقدار به جوړیږی))۔
۱۴۲۵/۱/۳ هـ
د تفصیل دپاره وگوره:
(المحلی لابن حزم: ۸۶/۸، المغنی: ۲۹۸/۶، نیل الأوطار: ۱۰۹/۶، فتح الباری: ۵۶۳/۵).

وروڼه وایی مونږ ته خور خپله حصه معاف کړی!!

سوال: یوه خور ده، هغی ته وروڼو میراث ورکولو خو هغی انکار وکړو، چی زۀ ستاسو نه خپله حصه نۀ اخلم۔ اوس هغه مړه ده او دَ هغی بچی دَ خپلو ماماگانو نه دَ خپلی مور حصه غواړی۔ خو ماماگان ئی وائی چی ستاسو مور مونږ ته خپله حصه معاف کړی۔ ماماگانو سره په دی خبره څۀ لیکل یا گواهان نشته۔ نو آیا دَ خورئیونو دَ ماماگانو سره څۀ حصه رسیږی او کۀ نه؟ شرعی فیصله د قرآن او سنت مطابق څۀ ده؟
جواب: دی باره کښی اصول دادی چی کله پلار مړ شی، نو شریعتِ اسلامی په میراث کښی ځامنو او لوڼو تولو ته خپل خپل حق ورکړی۔ په دی مسئله کښی هم ددی کسانو خور ته دَ پلار په میراث کښی برخه (حصه) د قرآن او سنت نه ثابت ده۔ کۀ ددی

ښځی میراث سل کاله هم څوك څان سره وساتی، بیائی هم حق نهٔ ختمیږی.
په دی مذکوره صورت کښی چی کله ددی ښځی دَ میراث حق ثابت شو.نو اوس چی څوك دا وائی چی دی ښځی میراث مونږ ته معاف کړی، یا هبه کړی، نو دوئ به په دی دعویٰ باندی دلیل پیش کوی.څکه دَ دعوی دَ ثبوت دپاره ګواهان اصلی او بنیادی حیثیت لری، په اسلامی شریعت کښی دا قانون دی چی کله دَ دوو کسانو په مینځ کښی په یو څهٔ اختلاف او دعویٰ پیدا شی، نو ددی حدیث په بناء چی : البینة علی المُدَّعِی والیمین علی من أنکر.
(مدعِی به د خپلی دعوی د اثبات لپاره ګواهان پیشوی، که نهٔ وی نو د مدعِی په مطالبی باندی به مدعیٰ علیه قسَم کوی).
کهٔ چیری ددی ښځی ورونو ګواهان مسلمانان او عادلان پیش نهٔ کړل، نو بیا ددی ښځی ځامن (حلف علی العلم) وکړی، یعنی داسی قسَم به وکړی چی زمونږ دی قسَم وی چی مونږ ته دا معلومه نهٔ ده چی زمونږ مور تاسو ته خپله حصه میراث معاف کړی.
ددی کسانو په دعویٰ چی زمونږ خور مونږ ته خپله حصه میراث معاف یا هبه کړی، نو صرف په دی خبره او دعویٰ کار نهٔ کیږی.
رسول الله ﷺ فرمایلی :
ژ لو یُعطی الناسُ بدعواهم، لادَّعی ناس دماء رجالٍ وأموالهم، ولکن الیمین علی المُدَّعیٰ علیه. (رواه مسلم : ۷۴/۲).
(که چیری خلکو ته صرف په دعوو باندی څهٔ ورکیدلی نو ډیرو خلکو به د نورو انسانانو په وینو او مالونو دعوی کړی وی ، لیکن (قانون دادی چی) مدعیٰ علیه به قسَم کوی.(یعنی که مدعی ګواهان پیش نهٔ کړل).
حاصل د مسئلی داشو : چی په دی صورت د مسئلی کښی ددی ښځی د زامنو حق شته دی چی دَ ماماګانو نه د مور دَ میراث حصه واخلی.او د ماماګانو سره چی په دی دعویٰ ګواهان نشته، نو دَ دوئ د خپلی خور حق نشی منع کولی.

د مړی کورته چی حکومت مرسته ورکړی آیا داد میراث حکم لری؟

سوال : علماء کرام په دی مسئله کښی څۀ فرمائی؟ ، څرنګه چی تاسو ته معلومه ده چی دَ پاکستان په حالیه زلزلو کښی ډیر خلق وفات شوی وو۔نو اوس حکومت د هریو مړی په سر باندی یو لکھ روپیٔ ورکوی۔نو آیا دغه یو لکھ روپیٔ به ددی مړی په ورثهٔ کښی په طریقه د میراث سره تقسیمیږی، اوکهٔ نه دا روپیٔ به په بله طریقه سره ددی مړی ورثه وؤ ته ورکړی کیږی ؟ مهربانی وکړئ تاسی موږ ته ددی مسئلی په باره کښی د قرآن او حدیث په رڼا کښی جواب راکړئ !!

جواب : د حکومت له طرفه چی د مړو خپل خپلوانو ته څۀ روپیٔ دَ امداد په شکل ورکول کیږی، نو دابه دَ میراث په طریقه نۀ تقسیمیږی، بلکه دابه د شراکت په طریقه تقسیمیږی۔دَ میراث په طریقه به ځکه نۀ تقسیمیږی چی دا مال خو میراث نۀ دی چی دَ میراث احکام وربانډی جاری کړی شی، اونۀ دا دَ مړی په ملکیت کښی دی، اونۀ دَ هغۀ نه پاتی شوی چی میراث ورته وویل شی۔

قرآن کریم کښی میراث ته (الترکی) ویلی شوی۔لکه ددی تفصیل دارنګه دی :

١ – فلکم الربع مما ترکن.

٢ – ولهن الربع مما ترکتم إن لم یکن لکم ولد، فإن کان لکم ولد فلهن الثمن مما ترکتم.

٣ – ولأبویه لکل واحدٍ منهما السدسُ مما ترك.

٤ – فإن کنَّ نساءً فوق اثنتین فلهن ثلثا مما ترك.

٥ – فإن کانتا اثنتین فلهما الثلثان مما ترك.

٦ – إِن امرؤ هلك لیس له ولد ولهٗ أخت فلها نصف ماترك.

الغرض : میراث دَ مړی ((ترکی)) یعنی هغه مال ته ویلی کیږی چی مړی پریښی وی۔نو چی کله دا دَ مړی ترکه نشوه، نو بیا دَ میراث احکام وربانډی هم نۀ جاری کیږی۔او دارنګه په مړی باندی دَ مورِث حکم هم نشی کیدی۔

فقه اسلامی کښی دی (۲٤۸/۸) : المورث : هو المیت الذی ترك مالًا أو حقًا.

الموروث : هو الترکة ویسمی أیضًا میراثًا وإرثًا وهو ما یترکهی المورث من المال الخ.

(مورث مړی ته وائی چی مال یا بل حق ئی پریښی وی۔او موروث هغه ترکه، ارث او میراثی مال چی مورِث ئی پریږدی)۔

نو هر کله چی په دی مړو باندی ددی مال (کوم چی حکومت اوس ورکوی) دَ مورِث احکام نهٔ جاري کیږی، دغه شان په دی باندی دَ موروث تعریف نه صادقیږی، نو بیا څرنګه وریاندی دَ میراث احکام جاري کړی شی ؟

بله دا چی حکومت ئی مړو ته نهٔ ورکوی، بلکه حکومت ئی دَ مړو خپل خپلوانو ته ورکوی، چی په دی سره دَ دوئ کوم نقصان شوی هغه پوره شی، په دی سره چی ئی کوم کاروبار خراب شوی، هغه وریاندی بیرته روان کړی۔کومه پریشانی چی ورته رسیدلی هغه پریشانی ئی کمه شی۔

حکومت چی دَ مړی په سریو لاکهـ روپیٔ ورکوی نو دا مړو ته نهٔ ګوری بلکه دَ ژوندو نقصان ته ګوری۔نو د چا چی ډیر مړی شوی وی، دَ هغهٔ ډیر نقصان شوی، هغهٔ ته ډیری روپیٔ ورکوی۔اود چا چی لږ نقصان شوی هغویٔ ته لږی پیسی ورکوی۔

نو په دی وجه په دی مال باندی دَ میراث احکام نهٔ جاري کیږی۔اوس کهٔ یو کس مثلاً د پلار نه بیل اوسیږی، او بل زوی ئی دَپلار سره شریك اوسیږی او ددهٔ په کور کښی پلار مړ شو، نو دا مال صرف ددی کور والا د زوی رسیږی۔

۱۴۲۶/۳/۲ هـ الموافق : ۲۰۰۶/۴/۱ء

چی د مړی زامن وی ،لمسیان ئی په میراث کښی حق نلری

سوال : یو کس مړ شو، ددهٔ نه یوه ښځه، دوه زامن او څلور دَ بل مړ شوی زوی زامن (چی دده لمسی کیږی)پاتی شو۔دَ لمسو پلار یعنی ددی سړی زوی د خپل پلار په ژوند کښی مړ شوی۔دَ نیکهٔ د مرګ نه پس ددی کس لمسیان وائی چی دَ نیکهٔ په مال کښی مونږ ته هم دَ میراث حق راکړیٔ۔آیا د نیکهٔ په مال کښی چی کله دَ نیکهٔ خپل ځامن ژوندی وی لمسی حق لری ؟

جواب : که صورت دَ مسئلی داسی وی کوم چی په سوالیه کښی لیکل شوی، نو دَ مړی میراث به په دی طریقه تقسیمیږی :

۱۶/۸ فضل رحیم

میـــت

ښځه	زوی	زوی	لمسی
۲	عصبه		محروم
	۱٤		
	۷/۷		

په دی کښی لمسی حق نهٔ لری ځکه دَ مړی خپل زامن عصبه شته، نولمسی محروم دی، په دی مسئله کښی دَ ټولو علماؤ اتفاق دی، نو ځکه ډیر تفصیل ته ضرورت نشته،سراجی کښی دی :

ﮋ أولاهم بالميراث جزء الميت أی البنون ثم بنوهم. (ص : ١٤).

د تفصیل لپاره : المواریث للصابونی ص : ۸۲.

۱٤۲۷/۱/۲۹ هـ

د نیکه له طرفه لمسی ته څه شی په هبه کښی ورکول

سوال : ما عظیم ګل ته له خپل نیکهٔ نه دَ هدیی په طور زمکه راکړی شوی ده. په داسی حال کښی چی زما پلار ژوندی وو. هر کله چی زمونږ پلار مړ شهٔ نو دَ پلار د ترکی نه علاوه هغه زمکه چی نیکهٔ ماته رابښلی وه هغه زما حق رسیږی، اوکهٔ نه هغه به همغه شان تقسیمیږی په ورونو باندی لکه څنګه چی د پلار ترکه تقسیمږی ؟ واضحه دِ وی چی هر کله ماته نیکهٔ زمکه راکړه نو په هغه وخت کښی مونږ ورونه پلار ټول شریك وو. محترم شیخ او مفتی صاحب ! په دی مسئله باندی ښهٔ وضاحت واچوئ، او لیکلی ئی را واپس کړئ، دابه ستاسو مهربانی وی !!

جواب : دَ نیکهٔ د طرفه خپل لمسی ته څهٔ هدیه ورکول جائز دی، کهٔ هغه زمکه وی، کهٔ پیسی یا بل څهٔ وی. لیکن په زامنو کښی یو بچی ته څهٔ ورکول او نورو بچو ته نهٔ ورکول جائز نهٔ دی. لکه دَ نعمان بن بشیر – رضی الله عنه – په حدیث کښی راغلی چی دا فرمائی : ماته خپل پلار غلام راکړو، او نورو ورونو ته ئی نهٔ وو ورکړی. نو نبی کریم ﷺ

زما پلار ته وفرمايل : أكلَّ ولدك نحلته مثل هذا ؟ فقال : لا، فقال رسول الله ﷺ : فارجعه.
(آيا تا خپلو ټولو بچو ته داسي (غلام) ورکړی ؟ زما پلار ورته وويل : نه ! رسول الله ﷺ زما پلار ته وفرمايل : دغه غلام ترې بيرته واخله).
(رواه مسلم : ٣٦/٢، والبيهقي : ١٧٧/٦، كما في المشكاة : ٢٦١/١).
بل روايت کښې داسې الفاظ دي :
اتقوا الله واعدلوا في أولادكم.
(د الله نه ويريږئ او د خپل اولاد ترمينځه عدل کوئ).
نو دلته چې دَ نيکهٔ د طرفه خپل لمسی (عظيم ګل) ته زمکه ورکړې شوې، دا هديه جائز ده. ليکن که د عظيم ګل ترونه وائي چې زمونږ پلار تاته په هديه کښې زمکه نهٔ ده درکړې، او عظيم ګل وائي چې ماته ئې راکړې، نو عظيم ګل به په دې هديه باندې ګواهان راولي، ځکه عظيم ګل مدعي دی او ترونه ئې مدعیٰ عليهم دي. او رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلی : البينة على المدعي واليمين على من أنكر.
(رواه البيهقي : ٢٥٢/١٠، المشكاة : ٣٧٦/٢، المحلى : ٥٢٧/٨).
(ګواهان به مدعي راولي – کهٔ نهٔ وي – نو مدعي عليه به قسَم کوي).
صرف په دعویٰ باندې کار نهٔ کيږي بلکه ثبوت (شرعي ګواهان) ضروري دي.
رسول الله ﷺ فرمائي : لو يعطى الناس بدعواهم لادّعىٰ الناس دماء رجال وأموالهم. (متفق عليه).
(که چيرې خلکو ته صرف په دعوو باندې څهٔ ورکيدلی نو ډيرو خلکو به د نورو انسانانو په وينو او مالونو دعویٰ کړې وه).

که پلار زامنو ته مال ور تقسيم کړي ، لوڼه محرومي کړي آيا دده لوڼه ورسته خپل حق غوښتلی شي؟

سوال : يو سړي خپلو زامنو ته په خپل ژوند کښې ميراث تقسيم کړې او لوڼو ته

هیڅ هم ورثهٔ کړی۔یا دا لونه طلب ونکړی۔اوس دا خویندی د پلار دَ مرګ نه پس د خپلو ورونو نـه میـراث ورلـی شی کۀ نه ؟ یا د خویندو زامن دَ ماما ګانونه د خپلو میندو میراث ورلی شی اوکۀ نه ؟

ددی مسئلی وضاحت مونږ ته د قرآن او حدیث په رڼا کښی وکړئ۔ واجرکم علی الله !!

جواب : کۀ یـو کـس پـه خپـل ژونـد کښی خپلو بچو باندی مالِ میراث تقسیموی نو داکس به د خپل اولادو (نارینه او زنانه وو) په مینځ کښی په عدل او دَ شریعت موافق مال تقسیموی۔د اولاد ترمینځه عدل او انصاف کول فرض دی۔ ځکه حدیث کښی دی :

ۮ اعدلوا بين أولادكم. (خپل اولاد کښی برابری کوئ)۔

بل حدیث کښی دی :

ۮ أنا لا أشهد على جورٍ، اشهدوا على هذا غيرى.

(یـو کس رسول الله ﷺ ته راغی او عرض ئی وکړو، زۀ دی یو زوی ته یو غلام ورکوم، او نـورو ته می نۀ دی ورکړی نو تۀ په دی باندی ګواه شه۔رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : زۀ په ظلم باندی ګواه نۀ جوړیږم)۔

(مسلم : ٣٧/٢، بيهقى : ١٧٧/٦، مشكوٰة : ٢٦١/١).

کـه پـلار د بـچـو پـه مـیـنځ کښی په غیر شرعی طریقه مال تقسیم کړی، نو دا تقسیم به غلط وی، دابه رد کولی شی او بیرته به صحیح تقسیم کیږی۔

(فقه اسلامى : ٣٤/٥، مجلة الأزهر العدد الثالث من السنة الرابعة عشرة).

دارنـګه کله چی د پلار د مرګ نه ورسته میراث تقسیمیږی نودابه هم په شرعی طریقه تـقسیـمـولـی شی۔ څـومـره حـصـه چی د ښځو لپاره مقرر ده، هغه به ښځو ته پوره پوره ورکـولـی شـی۔ خـویـنـدو ته حصه دَ میراث نۀ ورکول یو غلط رسم او رواج دی۔خویندی د ورونـو نـه مـطـالـبـه کـولـی شـی اګـرکۀ په دی باندی ډیر کلونه تیر شی، په دی شرط چی : هـغـوئ پـه دی میراث تقسیمولو راضی نۀ وی۔کۀ چیری میراث تقسیمولو وخت کښی دوئ پـه دی راضی او خوشحاله وی چی دوئ ته میراث ور نکړی نشو۔یائی په خپله ویلی وی چی مـونـږ میراث نۀ غواړو۔او یا ډیره زمانه ساکته پاتی وی، نو دا دری واړه صورتونه دلیـل دَ رضـاء دی۔نـو په دی صورتونو کښی دا خویندی دعوىٰ دَ میراث نشی کولی، اونۀ

ددی خویندو ځامن ددیمطالبه کولی شی۔لأن المرء یؤخذ باقراره.

لیـکـن کـه خـویـنـدو – کله چی پلار میراث تقسیمولو – دا خبره کړی وی چی مونږ ته میـراث راکـړئ یائی ورونو ته ویلی وی، او هغوئ ئی نهٔ ورکوی نو بیا کهٔ سل کاله تیر شی هـم خویندی دَ میراث غوښتلو حق لری، دَ هغوئ زامن ئی هم کولی شی۔ ځکه دا میراث د دوئ حق دی، دوئ د خپل حق دعویٰ هر وخت کولی شی۔

لیکن دی کښـی هـغـه مـخـکـنی شرطونه معلومول ضروری دی۔ چی دا خویندی به د میـراث د مـطـالبـی نـه ډیر کاله ساکتی نهٔ وی پاتی شوی۔که یوه ښځه مثلا لَس شل کاله ورستـه دعـویٰ کـوی نـو ددی نه به دا پوښتنه کولی شی چی تا دا دومره زمانه ولی مطالبه نـهٔ کـوله ؟ ځکه دومره زمانه دَ حق نه سکوت کول دلیل دَ رضا وی۔په دی مسئله کښی دَ هـغـه علماؤ نه تپوس کول پکار دی کوم چی د هغه ځای اوسیدونکی وی، اوددی سړی او د هغهٔ دَ زامنو او لونو حال ورته معلوم وی۔

دَ جینکو دَ سکوت پوره وجوهات معلومول ضروری دی۔ هذا وبالله التوفیق .

۲۱/ جمادیٰ الثانیة ۱۴۲۴ھ۔

د میراث د تقسیم مسئله

سوال : یـوه ښـځـه مړه شوه، ددی اولاد نشته، ددی نه پس خاوند، مور، پلار، یوه خور، دوه زامن پاتی شو۔ دَ دوئ دَ میراث شرعی تقسیم څنګه دی ؟

(بذریعهٔ مقصود احمد سلفی، مدیر ماهنامه الاسلام).

جواب : ددی ښځی میراث به په راتلونکی شرعی طریقه تقسیم کړی شی :

فاطمه ٦

میـــــــــــــــــــــــــــــــــت

زوج	ام	اب	اخوی	اخت
۳	۱	۲	محروم	محروم
نصف	سدس	عصبه		

د میراث د تقسیم مسئله

سوال : یوکس مړ شۀ، ددۀ نـه یوه ښځه، یوه میرنه مور، او دَ ترۀ زامن پاتی شو۔ددی کس دَ میـراث تقسیمولو طریقه څنگه ده ؟ آیا په دی میراث کښی دَ ناسکه مور حق شته اوکۀ نه ؟ (محمد اعجاز آفریدی)۔

جواب : کـه چیـری صورت دَ مسئلی داسی وی کوم چی په سوالیه کښی دی، نو ددی کـس پـه میـراث کښـی ددۀ دَ ناسکه مور حق نۀ کیږی۔بلکه ددی مړ شوی کس په میراث کښی صرف ددۀ ښځه او دَ ترۀ زامن حق لری۔ددۀ ښځه څلورمه حصه دَ میراث حق لری۔

الله تعالی فرمائی :

ﮋ ﴿ ولهن الربع مماترکتم إن لم يکن لکم ولد ﴾. (سورة النساء : ۱۲).

(او ستـاسـو پـه متـروکـه مـال کښـی دَ ښـځـو دپاره څلورمه حصه ده، په دی شرط چی ستاسو بچی نۀ وی)۔

باقی مال ئی دَ ترۀ دَ زامنو کیږی۔رسول الله ﷺ فرمائی :

ﮋ الحقوا الفرائض بأهلها، فما بقی فلأولیٰ رجلٍ ذکرٍ.

(تـاسـو ذوی الـفـروضـو – حقدارو – ته د هغوئ خپلی خپلی حصی ورکړئ۔او کوم مال چی پاتی شی هغه به دَ هغه نارینه وی چی هغه مړی ته ډیر زیات نزدی وی)۔

نـو دلته ډیر نزدی خپلوان ددی مړی دَ ترۀ زامن دی۔مثلاً ددۀ کور په دوه لاکهه کیږی نو ددی نـه بـه پـنـځـوس زره ددۀ ښـځـه واخـلـی۔بـاقی مال به دَ ترۀ زامن په خپل مینځ کښی تقسیم کړی۔ او میرنه یعنی ناسکه مور ئی په میراث کښی حق نۀ لری۔

صورت دَ مسئلی دادی :

٤

میـــــــــــــــــــــــــــــــــــت

ښځه	ترۀ ځامن	د پلار ښځه (میره)
۱	۳	محروم

((عصبه بنفسه)) چې موجود وي نو ((عصبه بغیره)) میراث نشي وړي

سوال : دَ امیر زمان خان په نوم یو سړی دی، دا کلاله (میرات) دی۔دا سړی مړ شو، اوس په عصباتو کښې دوه کسان دي یو ابن العم (دَ ترۀ زوی) محمد نبی۔او بل ابن ابن العم (دَ ترۀ دَ زوی زوی) حضرت جلال دی ۔آیا اوس به دَ امیر زمان خان میراث محمد نبی اخلی اوکۀ حضرت جلال ؟ اوکۀ چیری محمد نبی مړ شي نو آیا دَ محمد نبی زامنو سره حضرت جلال حق لری اوکۀ نه ؟

(سائل : زبیرابو طلحه)۔

جواب : که چیری صورت د مسئلی داسی وی کوم چی سوالیه کښې لیکل شوی نو دَ امیرزمان خان میراث ټول دَ ترۀ زوی یعنی محمد نبی ته پاتی کیږی۔ او دَ ترۀ د زوی زوی یعنی حضرت جلال د امیر زمان په میراث کښې حق نۀ لری۔ اوکه محمد نبی مړ شی نو بیا دهغۀ زامنو ته پاتی کیږی۔ حضرت جلال په کښې حق نۀ لری۔ او د حضرت جلال زامن پکښې هم حق نۀ لری۔ دَ ترۀ زوی ته شریعت کښې ((عصبه بنفسه)) ویلی شی۔ او د ترۀ د زوی زوی ته ((عصبه بغیره)) وائی۔او قانون دادی چی کله عصبه بنفسه موجود وی، نو عصبه بغیره میراث نشی وړلی۔ رسول الله ﷺ شا هی فرمان صادر کړی :

الحقوا الفرائض بأهلها، فما بقی فلأولی رجل ذكرٍ. (رواه البخاری).

(تاسو ذوی الفروضو – یعنی د مقررو حصو خاوندانو – ته دَ هغوئ حصی ورکړئ۔ اوکوم مال چی پاتی شي نو هغه ډیر نزدی سړی ته ورکړئ)۔

نو په دی صورت دَ مسئلی کښې خو ذوی الفروض نشته، نو بیابه هغه سړی ته ورکولی شی کوم چی مړی ته ډیر نزدی وی۔او دلته ډیر نزدی خپلوان امیر زمان خان ته دَ ترۀ زوی دی او دَ ترۀ دَ زوی زوی ئی ددۀ په نسبت لری خپلوان دی۔

خُنثیٰ مشکل (نر ښځی) به دَ نر میراث وړی اوکۀ د ښځی ؟

سوال : ډیر خلك دا سوال کوی چی تاسی وایاست : هره مسئله په قرآن او حدیث کښې شته۔ نو مونږ ته د خنثیٰ مشکل (نر ښځی) مسئله بیان کړئ۔ چی کله مړ شی نو

دی به دَ نر میراث وړی اوکهٔ دَ ښځی ؟ دا مسئله د قرآن او سنت په رڼا کښی واضحه کړئ ؟ وجزاکم الله خیرا !!۔

جواب : دَ نر ښځی (خنثیٰ مشکل) دَ میراث بیانولو نه مخکښی دا خبره یاد ساتل ضروری دی چی الله رب العالمین انسان پیدا کړی، نو ددی دوه قِسمه دی :

(۱) سړی۔

(۲) ښځه۔

الله تعالیٰ فرمائی :﴿ فجعل منه الزوجين الذكر والأنثى ﴾ (القيامة : ۲۹).

(الله دَ انسان دوه جوړئ جوړی کړی دی : سړی او ښځه)۔

او دَ سړی او ښځی مسائل او احکام په قرآن او سنت کښی په ډیر تفصیل سره بیان شوی۔ د ولادت نه واخله مثلاً نوم، ختنه، عقیقه، اودس، لمونځ، نکاح، طلاق، اخستل، خرڅول، جنازه او میراث پوری ټول احکام بیان شوی۔

ژ بل دریم قِسم انسان نشته چی هغه سړی هم وی حقیقی او ښځه هم وی حقیقی۔

هُو، داسی کیدی شی چی یو انسان دَ نر او ښځی اندام مخصوصه (چی فرج او ذکر دی)ولری،لیکن په دی صورت کښی دا انسان نر او ښځه((حقیقی)) نهٔ وی۔

دابه یا سړی وی چی فرج به ئی عضوِ زائد (زیاتی اندام) وی۔یابه ښځه وی چه ذکر به ئی زیاتی اندام وی۔ ځکه صرف په فرج سره یو سړی نه ښځه کیږی۔

ځکه دا یو صفت دی چی په دی سړی کښی موجود دی۔ دارنګه په یوه ښځه کښی که ذکر موجود شی، نو دا هم په دی سره دَ ښځی توب نه نهٔ وځی۔

مثلاً د یو سړی ګیره نهٔ وی، یا د یو سړی سینی (تیونه) غټ وی۔نو دا خو په دی یو صفت دَ ښځی سره نهٔ ښځه کیږی۔یا مثلاً د یوی ښځی ګیره وشوه یائی سینی (تیونه) را ؤنه خیژی، نو دا خو په دی سره دَ ښځی توب دَ صفت نه نهٔ وځی۔او نهٔ به څوك دا سوال کوی چی دا خو نهٔ سړی ده اونهٔ ښځه۔

ځکه دی کښی نور داسی صفات شته چی د هغی نه معلومیږی چه دا ښځه ده۔

دغه شان که یو انسان په فرج سره معلوم نشی نو زمونږ په شرع کښ نور صفات د سړی او ښځی هم شته، چی په هغی سره سړی او ښځه معلومیدی شی۔ ددے لپاره چی

مونږ ته دَ یو انسان سړیتوب یا ښځه توب معلوم شی یو څو علامات دی چی دا په دوه قسمه دی:

(۱) قبل البلوغ

(۲) بعد البلوغ۔

علامات دَ ښځی دادی :

۱ – حیض: ځکه دا صرف د ښځی صفت دی، دَ سړی حیض نۀ راځی۔

۲ – حمل: داهم صرف د ښځی صفت دی، سړی حمل نۀ اخلی۔

۳ – ارتفاع الثدین: یعنی د سینو اوچتوالی هم دَ ښځو صفت دی۔(په خاص شکل سره)۔

٤ – خروج البول من الفرج: په دی باندی هم نر ښځه ډیر ښۀ معلومیږی چی ددی دلائل به ورسته ذکر شی۔

۵ – خروج المنی من الفرج: ځکه د سړی منی د ذکر څخه خارجیږی۔

اوس که یوپه خنثیٰ مشکل (نر ښځی) کښی دا صفات وی، نو ظاهره خبره ده چی دا ښځه ده، او سړی نۀ دی۔

اوکۀ په دۀ کښی د سړی صفات وی، نو دابه یقیناً سړی وی، اوښځه به نۀ وی۔

دَ سړو صفات دادی :

۱ – خروج البول من الذکر: لکه ورسته به په دی دلائل ذکر شی۔

۲ – ږیره او بریتونه راتلل: ځکه داپه ښځه کښی نۀ وی، مګر شاذ ونادر۔

۳ – خروج المنی من الذکر: ځکه داهم په ښځه کښی نشی راتلی، صرف د سړی د ذکر نه منی خارجیږی۔

ځینی نور فرقونه :

۱ – ددی انسان پوښتۍ دی وشمارلی شی ځکه دَ ښځی یوه پوښتۍ دَ سړی نه زیاته وی، دا خبره دَ علی رضی الله عنه او حسن بصری رحمه الله نه نقل ده۔

(وګوره: المغنی لابن قدامة: ۱۱٦/۷، تفسیر القرطبی: ۳۰۲/۱، ٦۵/۵).

البته ما (ابو خالد غزنوی) ددی پوښتنه ددوو معتمدو ډاکټرانو نه وکړه نو هغوی وویل دا خبره کمزوری ده د سړی او ښځی دواړو پوښتئ یوشان دی ددواړو دولس دولس پوښتئ دی۔

۲ – د وینی او متیازو ټیسټ دی وکړی، ځکه دَ سړی او ښځی وینه او متیازی فرق لری۔

۳ – دَ سړی متیازی دَ ذکر نه خارجیږی او دَ ښځی دَ فرج نه۔

حکیم محمدطارق چغتائی په خپل یو ډیر ښه علمی کتاب ((سنت نبوی اور جدید سائنس ٤ / ۲۹۹–۳۰٤)) کښی د ډاکټر ((ایڈن شینڈلر)) په حواله د ښځی او سړی ((۱۵)) پنځلس فرقونه ډیر په تفصیل سره ذکر کړی، چی کتل ئی پکار دی۔

اوس که دَ یو (نر ښځی) انسان سړی والی یا ښځه والی معلومول غواړی نو د نورو فرقونو معلومولو سره سره دی ته هم وګوره چی دَ فرج نه متیازی کوی، نو دا ښځه ده۔اوکه دَ ذکر نه ئی کوی نو دا بیا سړی دی۔اوکه ددی دواړو نه ئی کولی، نو اول چی د کوم نه متیازی خارجیږی نو هغه به شمارلی کیږی۔

دلائل من السنة :

۱ – عن ابن عباس – رضی الله عنه – أن النبی ﷺ سئل عن مولودٍ له قبل وذکر من أین یورث ؟ قال : یورث من حیث یبول.

(أخرجه البیهقی : ٦/۲٦۱، وهذا فی الکامل (۱/۱٤٥) لکن فی سند هذا الحدیث ضعف.

۲ – وروی أنه ﷺ أتی بخنثیٰ من الأنصار فقال : ورثوه من أول ما یبول منه. (انظر المغنی : ۷/۱۱٥، إرواء الغلیل : ٦/۱٥۲، المواریث فی الشریعة الإسلامیة للصابونی ص : ۱۹٥).

دَ خلفاء راشدینورضی الله عنهم فتویٰ :

۱ – دَ علی رضی الله عنه نه روایت دی چی متیازی د کوم ځای نه خارجیږی نو هغه صفت والا به وی۔مثلاً کهٔ دَ فرج نه متیازی خارجیدلی نو دابه ښځه وی، اوکهٔ د ذکر نه ئی متیازی خارجیدلی نو دابه سړی وی۔

(إرواء الغلیل فی تخریج أحادیث منار السبیل : ٦/۱٥۲، سنن الدارمی : ۲/۳٦٥، المغنی لابن قدامة : ۷/۷٦، مصنف عبد الرزاق : ۱۰/۳۰۸، السنن الکبری للبیهقی : ٦/۲٦۱،

مصنف ابن أبی شیبة : ۲۴۹/۱۶).

۲- دَ معاویه رضی الله عنه فیصله :

سعید قال حدثنا ..... أتی معاویة فی الخنثیٰ فسأل من قبله فأمر أن یورثه من قبل مباله.

(سنن سعید بن منصور : ۶۲/۱، المغنی : ۱۱۵/۷، المفصل فی أحکام المرأة ۳۶۴/۱۱).

۳- دَ امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضی الله عنه فیصله :

دی هم فرمائی چی دَ کوم ځای نه ئی متیازی خارجیږی نو هغه به شمارلی شی۔

(مصنف ابن أبی شیبة : ۳۵۰/۱۱).

د تابعینوؒ او نورو علماؤ فتوی :

جابر بن زیدؒ هم داسی فتویٰ ورکړی، لکه فرمائی : دیوال ته ئی ودرویٔ۔ که متیازی ئی دیوال ته وکړی نو سړی دی، اوکهٔ ښکته تری توی شوی، نو ښځه ده۔ (المغنی : ۱۱۵/۷، السنن الکبری للبیهقی : ۲۶۱/۶، سنن سعید بن منصور : ۶۲/۱).

دارنګه حسن بصریؒ، امام احمدؒ، شعبیؒ، سعید بن المسیبؒ، ابو جعفرؒ هم وئیلی بلکه ابن المنذرؒ په دی باندی اجماع نقل کړی۔ په المغنی (۱۱۵/۷) کښی دی :

قال ابن المنذر : أجمع کل من نحفظ من أهل العلم علی أن الخنثیٰ یورث من حیث یبول.

دارنګه امام اوزاعیؒ نه هم داسی فتویٰ نقل ده۔

د زیات تفصیل لپاره دا کتابونه کتل پکار دی :

(سنن الدارقطنی : ۲۶۴/۲، مصنف عبد الرزاق : ۳۰۸/۱۰، کشاف القناع : ۴۷۱/۴، السنن الکبری : ۲۶۱/۶، المفصل فی أحکام المرأة : ۳۶۴/۱۱، مصنف ابن أبی شیبة : ۳۴۹/۷، المغنی : ۱۱۴/۷، سعید بن منصور : ۶۲/۱، إرواء الغلیل : ۱۵۲/۶، **سنت نبوی اور جدید سائنس ۴/ ۲۹۹-۳۰۴**، المواریث فی الشریعة الإسلامیة للصابونی ص : ۱۹۵).

۱۴۲۳/۱۰/۱۱هـ

د میراث د تقسیم مسئله

سوال : نور الحق دَ احمد جان زوی وفات شو، ددهٔ نه یوه لور، ښځه او دوه وروڼه فضل

حق او گل محمد، او دوه خویندې پاتې شوې، د نور الحق خپل (۲٤) درې پتې پاتې شوې، لیکن ددهٔ نور کور او دغه پتې تقریباً (٤۰) کاله فضل حق خوړلې دي۔نو د لور حصه ئې چې مسمیٰ ده په مرجانه سره، څو مره کیږي ؟

(تپوس کونکی : محمد عبد الستیر)۔

جواب : که چیرې صورت دَ مسئلې داسې وي، کوم چې په سوالیه کښې لیکل شوې۔نو دَ نور الحق ټول مال به آتهٔ څلویښت (٤۸) حصې کړې شي۔ په هغې کښې به ددهٔ ښځې ته (٦) شپږ حصې۔او ددهٔ لور مروجانې ته څلیریشت (۲٤) حصې۔ او هر یو ورو ته شپږ شپږ (٦/٦) حصې۔ او هرې یوې خور ته درې درې (۳/۳) حصې ورکړې شي۔په دې شکل :

٤۸

میـــــــــت

خویندې	ورونه	لور	ښځه
٦	۱۲	۲٤	٦
(۳/۳)	(٦/٦)		

۱٤۱۵/۵/۲۵هـ الموافق : ۲۰۰۵/۱/۱ م

دَ پلار په ژوند کښې چې زوی مړ شي،

نو د مړه زوی بچې د خپلو ترونوسره د نیکه میراث نشي وړلی

سوال : یو پلار دی چې ددهٔ درې زامن وو، په دې کښې ددهٔ یو زوی مړ شو، او د هغهٔ نه یوه ښځه او دوه زامن پاتې شو۔ څهٔ موده پس پلار هم مړ شو۔نو ددهٔ زامنو دَ پلار میراث تقسیمولو، نو د دوئ وریرونو – چې د دوئ پلار مړ شوی – وویل : چې دَ نیکهٔ په مال کښې زمونږ هم دَ میراث برخه رسیږي۔لیکن د دوئ ترونه وائي چې زمونږ دَ مړي ورور دَ میراث حق راسره نشته۔مونږ ته دا مسئله واضحه کړئ۔ چې کوم زوی دَ پلار په ژوند کښې مړ دی، آیا د هغهٔ زامن دَ نیکهٔ په مال کښې دَ میراث حق لرې اوکهٔ نه ؟ وجزاکم الله خیراً!!

جواب : کله چی دَ پلار په ژوند کښی زوی مړ شی، بیا پلار ورسته مړ شی نو ددغه مړی میراث به ټول بل زوی ته پاتی کیږی، او د مړه زوی په کښی حق نشته۔اونهٔ د هغهٔ د بچو حق شته۔ ځکه چی زوی موجود وی نو دا عصبه وی، او لمسی په وخت د وجود د عصبه کښی میراث نشی وړلی۔دا مسئله اتفاقی ده۔

دَ بخاری په حدیث کښی راځی چی : زبیر رضی الله عنه دَ خپلو لمسو دپاره وصیت کړی وو۔او حال دا چی کهٔ چیری هغوئ وارثان وای نو بیا به دا وصیت باطل وو۔ ځکه نبی کریم ﷺ فرمائی : لا وصیة لوارثٍ.

(دَ وارث دپاره وصیت صحیح نهٔ دی)۔

(باب برکة الغازی من الصحیح، ریاض الصالحین ص : ۱۱۰).

نو دَ نیکهٔ په مال کښی دَ لمسو دعویٰ غلطه ده۔

۱۴۱۹/۱/۳هـ

د صحت په حالت کښی خپلی ښځی ته خپل ټول مال هبه کول څه حکم لری

سوال : یو سړی په خپل ژوند کښی خپلی ښځی ته خپل منقوله او غیر منقول جائداد هبه کړی او قبضه هم ورکړی۔شرعا دا کار څنګه دی ؟ وأحسن الله الیکم !!

جواب : سړی ته جائز دی چی خپلی ښځی ته ټول مال یا لږ مال دَ هغی دَ صبر او ښو اخلاقو په بدله کښی وربخشش کړی۔

امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښی باب تړلی :

باب هبة الرجل لامرأته والمرأة لزوجها (۳۵۲/۱).

(چی سړی خپلی ښځی ته یا ښځه خپل میړه ته څهٔ بخشش کړی نو دا کار جائز دی)۔

بیائی په دی خبره دلائل ذکر کړی۔دارنګه په دی مسئله باندی د ټولو علماؤ اتفاق دی چی کله سړی روغ وی، یعنی په مرض الموت کښی نهٔ وی او خپلی ښځی ته ټول یا بعضی مال ورکړی نو دا کار شرعا جائز دی۔

فتاوی اسلامیه (۲۸/۳) کښی دی :

یجوز للزوج فی صحته وحیاته : أن یهدی لزوجته ما یشاء مقابل صبرها وحسن خدمتها أو

ما دخل علیه من مالٍ أو صداق الخ.
(خاوند ته جائز دی چی په خپل ژوند او صحت کښې خپلی ښځې ته دَ هغې د صبر او ښائسته خدمت په بدله کښې ټول یا بعضی مال، مهر وغیره ورکړی)۔
فتاوی نذیریه (۲۹۷/۲) کښې دی : ((خپلی ښځې ته په حالت دَ صحت کښې – چی مرض الموت نهٔ وی – خپل ټول یا لږ مال هبه کول جائز دی۔ کله چی خاوند مړ شی نو بخشش کړی شوی مال به په میراث کښې نهٔ تقسیمیږی))۔
شیخ ګوهر رحمٰن رحمه الله په تفهیم المسائل (۳۸۸/۳) کښې لیکی :
((لیکن کهٔ چا د عقل او هوش او صحت په حالت کښې یا په هغه بیماریٔ کښې چی دَ هغې نه روغ شوی وی، خپل یو وارث ته هبه یا عطیه ورکړه، نو په دی باره کښې دَ جمهورو مسلك دادی چی دا دَ مکروه او ناخوښه کیدو باوجود به دا هبه نافذ کولی شی، اوکهٔ چیری ((موهوب له)) په هبه کړی شوی شی باندی قبضه کړی وی، نو هغه ددی مال مالك جوړیدی شی))۔
الغرض : خپلی ښځې ته په خپل ژوند کښې مال ورکول د هبې په طریقه، دیکښې هیڅ شرعی مانع نشته۔ البته زامنو ته هبه ورکول چی بعضو ته ئې ورکړی او بعضو ته ئې ورنهٔ کړی، دا کار ظلم او حرام دی او دا هبه واجب الرد ده۔
وګوره :
(صحیح مسلم : ۳۶/۲، المحلی لابن حزم : ۸۶/۸، المغنی : ۲۹۸/۶، نیل الأوطار : ۱۰۹/۶، فتح الباری : ۵۶۳/۵، کفایة المفتی : ۱۸۰/۸، تفهیم المسائل : ۴۹۲/۴، فتاوی إسلامیة : ۲۹/۳).

د وارث لپاره په خپل مال کی وصیت کول

سوال : د عبد الله په نوم یو کس دا وصیت وکړی چی زما دَ مرګ نه پس دی زما کشر زوی ته دومره مال ورکړی شی، آیا دا وصیت کول جائز دی ؟ او ددهٔ کشر زوی دا حق لری چی دا ووائی چی ماته پلار وصیت کړی نو ماته دَ وصیت حصه بیله راکړیٔ ؟
جواب : الله رب العالمین دَ وارثانو دپاره په میراث کښې حصی (برخی) مقرر کړی۔ په

میراث کښې دَ وارثانو حصې او برخې زیاتول یا کمول جائز نۀ دی. کۀ یو انسان دَ وارث دپاره وصیت وکړي، نو دا وصیت ئې باطل دی.او دغه په وصیت به عمل نۀ کیږي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

ألا إن الله قد أعطى كلَّ ذي حقٍ حقَّهُ فلا يجوز وصية لوارثٍ.

(رواه الدارمي: ٣٠٢/٢، ٣٢٦٢، والنسائي: ١٣١/٢، وأبوداود: ٣٥٦٥، والترمذي، وابن ماجة ٢٧١٣، والبيهقي: ٢٦٤/٦، وأحمد: ٢٦٧/٥، والطيالسي ١١٢٧، وسعيد بن منصور في سننه: ٤٢٧، كما في المشكاة: /١، والإرواء: ٨٨/٦، ١٦٥٥).

(خبردار! بیشکه چې الله تعالیٰ هر حقدار ته دَ هغۀ حق ورکړي، نو مړي ته جائز نۀ دي چې دخپل وارث لپاره وصیت وکړي).

ستاسو په مسئله کښې چې دغه کس د بعضې وارثانو لپاره د مال وصیت کړي، نو دا وصیت ئې باطل دی، او دغه وصیت به نۀ نافذیږي.(عمل به پرې نۀ کیږي).

د تفصیل دپاره وګوره: (المحلى: ٣٥٦/٨، الهداية: ٦٢٥/٤، فتاوى إسلامية: ٣٧/٣، فقه السنة: ٤٢٣/٣، الفقه على المذاهب الأربعة: ٣١٦/٣، فتاوى الدين الخالص، كتاب الميراث).

دا ښځه به د څو خاوندانو نه میراث وړي

سوال: کله چې دَ یوې ښځې خاوند مړ شي نو دا ښځه دویم واده وکړي، هغه دویم خاوند هم مړ شي، بیا دریم کس سره واده وکړي، هغه هم مړ شي. آیا دا ښځه به د درې واړو خاوندانو میراث وړي اوکۀ صرف دَ آخرنی خاوند میراث وړلی شي؟

جواب: کله چې د یوې ښځې خاوند مړ شي او بل خاوند وکړي، او هغه هم مړ شي او بیا دریم خاوند سره نکاح وکړي. نو دا ښځه د اول خاوند او دویم خاوند په میراث کښې حق لري، چې د هغې تفصیل دارنګه دی:

کۀ یو کس مړ شي او دهغۀ نه یوه ښځه او یو یا دوه یا ډیر اولاد هم پاتې وي. نو دَ خاوند په مال کښې به ددې میراث آتمه (٨) حصه وي.اوکۀ چیرې یو کس مړ شي او ددۀ نه صرف یوه ښځه پاتې شي او نور اولاد ئې نۀ وي پاتې شوي.نو ددې څلورمه حصه (٤) حق په میراث کښې کیږي.

او په دی دواړو مسئلو باندی دلیل دادی۔اللہ تعالیٰ فرمائی :

﴿ ولهن الربع مما تركتم إن لم يكن لكم ولد فإن كان لكم ولد فلهن الربع. (النساء : ١٢).

(یعنی : کۀ چیری ستاسو بچی نۀ وی نو ددی ښځو دپاره ستاسو په متروکه مال کښی څلورمه (٤) حصه ده۔اوکۀ چیری ستاسو بچی وی نو بیا د دوئ دپاره اتمه (٨) حصه ده)۔

(المواريث فى الشريعة الإسلامية ص : ٢٦، للشيخ محمد على الصابونى).

او ښځه دَ هغه ذوی الفروضو دَ جملی څخه ده چی په هیڅ صورت (حجبِ حرمان) نۀ قبلوی۔یعنی په هیڅ حالت کښی هم ددی حقِ میراث نۀ ساقطیږی۔

(المواريث فى الشريعة الإسلامية).

که ورونه د پلار په میراث کښی تجارت وکړی نو آیا پدی ګټه کښی خویندی ور سره شریکی دی؟

سوال : عبد الرحمن وفات شو، یوه ښځه، دوه لونړی او یو زوی ترینه پاتی شو۔دی وارثانو د عبد الرحمٰن میراث په شریکه باندی په تجارت وغیره کښی استعمال کړو۔او ددی مال په ګټه باندی ئی نوره زمکه واخسته، نو ددی نه ورسته د عبد الرحمٰن ښځه او یوه لور وفات شوه، نو سوال دادی : آیا ددی ژوندئ لور د خپل ورور سره په دی ګټلی شوی مال کښی حصه شته اوکۀ نه ؟

جواب : کله چی پلار وفات شی نوپه اتفاق د مسلمانانو سره ټول بچی د پلار په مال کښی شریك دی ، کۀ هلکان وی اوکه جینکئ۔د مشترکه مال په تجارت سره چی کومه ګټه شوی نو په هغه کښی ورسره دا ژوندئ خور شریکه ده۔او حصه به ورته ورکوی دَ خپل حق موافق۔دیته دَ شراکت مسئله وائی۔فقه حنفی کښی هم دا لیکلی ده۔لکه رد المحتار (٣٣٨/٣) کښی دی :

" إن أحدهم يموت فتقوم أولاده على تركته بلا قسمةٍ ويعملون فيها من حرث وزراعةٍ وبيع وشراء واستدانة ونحو ذلك. وقال فى (٣٤٩/٣) : وكذلك لو ا جتمع إخوة يعملون فى تركة ابيهم ونما الملك، فهو بينهم سوية ولو اختلفوا فى العمل والرأى إهـ.

نو ثابته شوه چې شرعاً دَ دغه ښځې حق شته، نصوص شریعیه د قرآن او حدیث ډیر موجود دی په باب دَ میراث کښې، دلته دَ هغې دَ لیکلو ضرورت نشته۔ ځکه مسئله معلومه ده۔

آیا دا مال په میراث کښې داخلیږي

سوال : زما خاوند دوه کاله مخکښې زۀ وادۀ کړم، د ډیرې بیمارئ نه پس هغه وفات شو۔ (الله دې وربانډې رحم وکړي)۔ زما خاوند ماته دَ مهر دَ حق په وجه څۀ سرۀ زر او د کور سامانونه راکړي وو۔اوس چې کله زما عدت تیر شو، زۀ غواړم چې د خپل پلار کور ته لاړه شم۔لیکن زما لیورونه وائي چې د کور سامانونه تۀ ځان سره نشې وړې، ځکه دا خو زمونږ ورور درته کړي وو۔اوس سوال دادی چې آیا زما لیورونه دا حق لري چې مانه د کور سامانونه (بستري ، کټ، کرسئ وغیره) وګرځوي ؟

جواب : کله چې یو سړې خپلې ښځې له په مهر کښې څۀ مال یا زمکه ورکړي او دښځې سره جماع وکړي، نو دا زمکه یامال ټول د دښځې حق شو، په دې مال کښې نۀ خاوند حق لري اونۀ د خاوند خپل خپلوان۔الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ فلا تأخذوا منه شيئًا ﴾. النساء.

(کۀ چیرې تاسو خپلو ښځو ته په مهر کښې لویه خزانه ورکړي وي نو بیا هم ستاسو دپاره جائز نۀ دي چې د هغې نه څۀ شې واخلئ)۔

او دا خبره الله رب العزت ددې ښځې خاوند ته کړې۔نو ددې سړي خپل خپلوان خو قطعاً دا حق نۀ لري چې ددې ښځې نه حقِ مهر واخلي۔دارنګه کۀ ددې ښځې دا خاوند مړ شي نو کوم مال یا زمکه چې دۀ خپلې ښځې ته ورکړي، داپه میراث کښې نۀ پاتې کیږي۔دارنګه ددې سړي خپلوان دا دعوئ نشي کولی چې دا کوم مال چې دې خاوند خپلې ښځې ته په حقِ مهر کښې ورکړي، زمونږ د میراث حق دی۔ ځکه کوم مال چې دۀ خپلې ښځې ته ورکړي، دا خو ددۀ د ښځې شو۔دا خو ددۀ نۀ دی چې ګڼې په میراث کښې ددۀ خپلوانو ته پاتې شي۔

حاصل دا چې : تاته خپل خاوند کوم حقِ مهر درکړي، په دې کښې د هغۀ د وارثانو هیڅ

حق نشته، په دی شرط چی تاسره دوه کسه داسی ګواهان موجود وی چی ستا خاوند تاته دا زمکه یا مال په حقِ مهر کښی درکړی۔
۸/ ذو القعده، ١٢٢٤ھ

قاتل میراث نشی وړی

سوال : (۱) یو کس خپل ورور قتل کړی، آیا دغه قاتل دَ مړ شوی ورور میراث وړلی شی اوکهٔ نه ؟
(۲) که چیری یقینی طور سره معلومه نهٔ وی چی دا دهٔ قتل کړی، لیکن عامو خلکو کښی دا مشهوره ده چی دهٔ خپل ورور وژلی نو آیا په دی صورت کښی څهٔ حکم دی ؟
جواب : کله چی یو کس بل کس قتل کړی، او قاتل د مقتول (خپلوان) وی، نو قاتل د مقتول دَ میراث نه محروم دی۔ په دی خبره دلیل احادیث دَ رسول الله ﷺ دی :
رسول الله ﷺ فرمائی :القاتل لا یرث.
(قاتل دَ مقتول په مال کښی دَ میراث حق نهٔ لری)۔
په یوبل حدیث کښی دی : لیس للقاتل میراث. (رواه الترمذی وابن ماج، صحیح الترمذی ٢١٥/٢، صحیح ابن ماجه : ٩٨/٢، إرواء الغلیل : ١١٥/٦ .
(قاتل دپاره میراث نشته)۔
دارنګه حدیث کښی دی :
لا یرث القاتل شیئًا. (ابوداود : ٤٥٦٤، نسائی).
(قاتل دَ میراث هیڅ حق نهٔ لری)۔او په دی مسئله اجماع دَ علماؤ هم ده۔
لیکن دا کس هغه وخت د میراث نه محرومیږی کله چی یقیناً ثابته شی چی دا کس ددهٔ دَ لاسه وژل شوی۔ چی دوه عادلان مسلمانان ګواهان په دی تیر شی چی مونږ دا کس ولیدل چی دا بل کس ئی قتل کړو۔او یا خپله قاتل اقرار وکړی۔
اوکهٔ دا نهٔ وی نو په صورت دَ شك کښی به دَ میراث نه نهٔ محرومیږی۔ ځکه ددی کس د میراث حق یقینی په قرآن کریم کښی ثابت دی۔او د قتل خبره شکی ده، نو شرعی قاعده داده چی : الیقین لا یزول بالشك . (یقین په شك سره نهٔ ختمیږی)۔

او په دې باره کښې به په قيل او قال باندې هم عمل نۀ کيږي چې مثلاً ډير کسان ووائي چې دا قتل د مړي خپلوانو کړي، او حقيقت کښې ګواهان نۀ وي، هسې دَ شك په بناء دا خبره کوي۔ نو په دې صورت کښې هم دغه کس دَ ميراث نه نۀ محروميږي۔ غرض دا چې : دَ دغه کس په قاتل جوړيدو کښې اقرار يا ګواهانو ته ضرورت دې۔

جمادى الثانية : ۱۴۲۴/۳هـ

غير شرعي وصيت به نه منل کيږي

سوال : کۀ يو کس په غير شرعي طريقه وصيت وکړي، آيا ددۀ وصيت به پوره کولی شي او کۀ بدلولی به شي ؟

جواب : مړي چې کله په غير شرعي طريقه وصيت وکړي، نو دا وصيت به نۀ منلی کيږي۔ په دې باندې دليل قرآن او سنت دې۔

۱ – الله تعالی فرمائي :

﴿ فمن خاف من موصٍ جنفًا او إثمًا فأصلح بينهم فلا إثم عليه إن الله غفور رحيم ﴾.

(البقرة : ۱۸۲).

(نو څوك چې دَ يو وصيت کونکي دَ جانبدارئ يا دَ ګناه دَ وصيت کولو نه يريږي او هغه دَ دوئ ترمينځه اصلاح وکړي نو په دۀ هيڅ ګناه نشته۔ الله تعالیٰ ښونکي مهربان دې)۔

دآيت کريمه نه معلومه شوه چې غلط وصيت به بدليدلی شي او غير شرعي وصيت به نه منل کيږي۔

//////

امين الفتاوی (۲) جلد ختم شو

//////

د امین الفتاوی د مضامینو فهرست

مضمون	مخ

//////